فتاویٰ دارالعلوم دیوبند

مکمل و مدلل

جلد اول

افادات

حضرت مفتی عزیز الرحمٰن عثمانی صاحب

ترجمانی

حکیم الاسلام حضرت مولانا محمد طیب صاحب

ترتیب

مولانا محمد ظفیر الدین صاحب

تحریر اردو

مولانا محمد یامین صاحب

مکتبہ رشیدیہ

سرکی روڈ کوئٹہ

0812-662263

042-37364516

شیش محل روڈ غزنی سٹریٹ لاہور

Maktaba Tul Ishaat. com

مکمل او مدلل

ددې پوښتنې ځواب دې پارلسم ټوک

ترتیب کوونکي

محمد امین پالنپوري

خپروونکي

ددې نوې کمپوټرې نسخې دچاپ اوکتابت ټول حقوق له رشیدیې کتابخانې سره خوندي دي.

دکتاب پیژندنه :

دکتاب نوم : **ددارالعلوم دیوبندفتاوی (دیارلسم ټوک)**

له افاداتو : دلوئ مفتی حضرت مولانامفتی عزیزالرحمن (عثمانی) صاحب

ترتیب کوونکی : مولانا محمدیامین پالن پوري صاحب.

پښتوژباړه : مولانا مفتی محمدابراهیم صاحب.

کمپوزر : مولوي سفرمحمد (عابد)

دیزائن اوسمون : مولوي سفرمحمد (عابد)

خپروونکې : رشیدیه کتابخانه سرکي رود کوټه.

چاپوونکی : الحاج محمدساجد

چاپ ځای : لاهورچاپ کال : ۲۰۱۱دجنوری میاشت.

یادونه : ددې کتاب په اړه ددوهم خل چاپولوپروخت تاسودهردول غوښتنې اومشورې په صورت کې له موږسره په دې تولونمبرونورابطه کولای شئ :

(۱) رشیده کتابخانه : (۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳)

(۲) محمدساجد: (۰۳۳۳۷۸۲۵۴۸۴)

Maktaba Tul Ishaat. com

سریزه ... ۳۶

کتاب الشرکة والقسمة ۴۱

دشراکت اووښ بیان .....

په سوداګري کې له نارښه ووسره دښځوشراکت صحیح دی ..... //

دشراکت په کارکې که کومه تېکه دیوه په نامه وي ۴۲

نوهم بل دنیمي ګټې حقداردی

که یوشریک کارنه کوي اماګټه برابره اخلي نوهم شراکت صحیح دی

دشراکت په کارکې لږکارکوونکی ګټه څومره جوړېږي اوهغه .....

له خپلې ګټې څخه زیات کارکوونکی ته څه ورکولای شي ..... //

دماشین دمالک سره دګنډلوپه کارکې شریکېدل ۴۳

په شراکت کې درانیول شوي جائداد حکم ۴۴

دشراکت روپۍ که لږیاډیروي نوګټه اوتاوان به څنګه تقسیموي ۴۵

تاوان پرټولوشریکانودخپلوبرخوسره سم راځي ..... //

دګټې اوتاوان په اړه دشریک بیان په قسم سره معتبردی ۴۶

دشراکت له مال څخه دیوه شریک دخپلې اړتیالپاره روپۍ

لګول اودلږروپۍ ورکوونکې برخه ۴۷

په مشترک جائداد کې دشریکانوبې اجازې تصرف کول ۴۸

دنوروشریکانوله اجازې پرته دسرای جوړول ..... //

دنوروشریکانوله اجازې پرته په مکان کې ودانۍ جوړول ۴۹

دنوروشریکانوپه اجازه سرای ودانول ۵۰

دځینې شریکانولپاره له ګټې پرته تنخاه مقررول صحیح نه دي ۵۱

له مشترکې ترکې څخه خوراک اومصرف کول څنګه دي ..... //

په مشترک تالاب کې داچول شویوماهیانوحکم ۵۲

په مشترک تالاب کې دځینوشریکانودپرېښوول شویوماهیانوحکم ..... //

په مشترکه مځکه کې پخپله دراشنې شویوونومالک څوک دی ۵۳

دوښل شوې مخکې په حاصل کې دشراکت حکم ..... //
دکارکوونکې شریک پرخیانت دخوشربکانونیوکې اودهغوئ جوابونه ۵۴
دښځې اوخاوندپه تجارت کې دښځې برخه ۵۸
ښځې اوخاوندپه ګډه کوم څه وګټل په هغه کې ښځه دنیمی برخې حق لري ۵۹
پلاراوزامنوپه ګډه تجارت وکړنودټولوبرخې به برابرې وي ..... //
دپلارپه روپوچې زوئ کومه ګټه وکړه هغه ټوله دپلارده ۶۰
په کارکې زوئ دپلارمرسته کوي نوټوله امدني دپلارده ..... //
دزامنوپه نامه دسرای درانیولواوددوئ له ځان سره په تجارت کې دلګولوحکم ۶۳
پخپلوروپورانیوونکې زوئ یواځې دجائدادمالک دی ۶۴
زوئ چې پخپله ګټه کوم کورجوړکړی دی پلارهغه نه شي په خالي کولای ..... //
پلاردزامنوترمینځ خپل مال وویشی بیازامنوپه ګډه کاروروباروکړنوددې حکم
دیوه وروړپخپل محنت ګټلې مال کې نوروورونه برخه لري ،که نه ؟ ۶۶
پخپله ګټه ګټنه اودکورسامان اخستوونکې وروړسره بل وروړحق لري ،که نه ؟ ۶۷
ددووورونوترمینځ په مشترک دوکان کې درېیم وروړونه نلري ۶۸
دیوه وروړدبل تجارت حکم ۶۹
دورونودبلومالونوحکم ..... //
دیوه وروړپه کارکې ګډون نه کول ۷۰
بله سرمایې اوشرطه دوروړپه تجارت کې عملا شریکېدل صرف احسان دی ۷۱
له پلاره دبل اوسېدوونکې زوئ ګټلی مال دپلارپه ترکه کې نه شمارل کیږي ۷۲
له پلارسره داوسېدوونکې زوئ ګټلی مال دپلارپه ترکه کې شاملیږي ۷۳
دمشروروړخپلې اودنابالغ وروړوپی په تجارت کې لګول ۷۴
دیوه وروړله مشترک مال څخه وخپل زوئ ته دکاروبارلپاره روپی ورکول ..... //
په مشترک کاروبارکې دوفات شوې وروړدبچیانوبرخه ۷۵
دفوت شوې شریک روپی په تجارت کې لګول ..... //
له مشترکې ترکې څخه چې کومه ګټه وشوه دهغې حقدارخوک دی ۷۶

Maktaba Tul Ishaat. com

دشرکت څوفاسدصورتونه ۷۷
دفاسدشراکت یوصورت اودهغه حکم ۷۹
له خیانت کوونکو شریکانوسره بایدخه وشي //
په شراکت کې له تهمت (تور) څخه ځان ساتل ۸۰
له ډمې سره په تجارت کې شراکت کول ..... //
دشرعې په خلاف قاعدې درلودوونکې کمپنۍ شیئرز (برخې) رانیول صحیح نه دي ..... //
آیاوندې نیوونکې دخپلوروپوغوښتلواواخستلوحق لري ۸۲
په مشترک آمدني رانیول شوی جائدادوپشل ..... //
دمشترکومکانونووپش څرنګه کیږي ۸۳
دپلاراوخینوزامنوګټلی مال څنګه ووپشل شي ۸۴
ددووورونوپه ګډه ګټلی مال به څنګه وپشل کیږي ۸۵
دورونوترمینځ شریک سامان څرنګه ووپشل شي ۸۶
دمشترکې ترکې اومشرورورپه نوم رانیول شوې جائدادوپش ..... //
له مشترکې ترکې څخه دچلبدوونکې دوکان دسامان وپش ۸۸
دټولوپه خوښه له وپش کولووروسته کومه ډله دعوی نشي کولای ..... //
که شریکان په وپش راضي نه وي نو ۸۹
دشرعي په خلاف وپش ماتولای شي ،که نه ؟ ۹۰
ناسم وپشل سمول ضروري دي ۹۲
له وپش وروسته دهرشریک پخپله برخه کې تصرف کول ..... //
کتاب المضاربة ۹۳
دمضاربت بیان
له چاڅخه دورکړیوروپوڅخه زیاتې اخستل سوددي اودمضاربت صحیح صورت //
دمضاربت څورواصورتونه ..... //
دڅوکسانوپه روپوپه ګډه دتجارت کولوحکم ۹۵

په مضاربت کې دګټې اوتاوان حکم ..... //
دمضاربت دصحیح کېدولپاره په ګټه کې دشراکت شائعوالی ضروري دی ۹۶
پرمضارب دنقصان شرط اچول باطل دی ۹۹
په مضاربت کې روپی ورکوونکی هم دمضارب سره کارکوي نومعامله ۱۰۱
په فاسد مضاربت کې مضارب داجرمثل اودمال مالک دټولې ګټې حقداردی ۱۰۲
دروپودمالک له اجازې پرته دمضارب وچاته یوشی ورکول روانه دي ..... //
په مضاربت کې دنقصان اودمضارب دخوراک ذموارځوک دی ؟ ..... //
دسفردخرڅ اوتاوان ایستلووروسته پاته ګټه به دشرط سره سمه وېشله کیږی ۱۰۳
که اصل مال غلاشي نوپرمضارب ضمان نشته ..... //
مضاربت په شرکت عنان بدلول ۱۰۴
دمضارب تروفات وروسته دده دبرخې ګټه به دده ووارثانوته ورکول کیږي ..... //
دمدرسوروپی په مضاربت ورکول ۱۰۵
کتاب الوقف
دوقف بیان
دوقف شرطونه اوحکمونه ۱۰۶
دوقف پېژندنه اودوقف دصحیح کېدوشرطونه ۱۰۶
په جائزوشرطونوسره وقف کول ۱۰۷
وقف کله تام (پوره) کیږي ۱۰۸
دخپل جائداددوقفولوصرف اراده کول ..... //
پرموجودشرط دوقف ترلوحکم ۱۰۹
دوقف معلق کول (په یوشی پوري ترل) صحیح نه دي ..... //
دوقف مسجّل پېژندنه ..... //
دوقف دصحیح کېدولپاره صرف دمالک اجازه اورضاکافي ده ۱۱۰
دوقف دصحیح کېدولپاره دوقف کوونکې قبضه خنډنه ده ..... //
دوقف دثبوت لپاره شرعي شهادت ضروري دی ۱۱۱

Maktaba Tul Ishaat. com

دمشاع (گډ) وقف صحیح دی ۱۱۲
دکورسامان وقف کول ۱۱۵
دوقف نه کولووعده (ژمنه) کول ۱۱۶
دوارثانودبې برخې کېدوپه نېت وقف کول ښه نه دي ۱۱۷
خپله مخکه اوباغ وقف کول جائزدي ..... //
دبزګرپه قبضه کې مخکه له مالک څخه ترراتیولووروسته وقفول ۱۱۹
په کومه مخکه کې چې دبزګرحق دی مالک هغه وقفولای شي ..... //
ښځه خپل جائداد خاوندله اجازې پرته وقفولای شي ۱۲۰
دوقف په آمدني دوقف کولولپاره مخکه رانیول صحیح دي ..... //
دوقف په آمدني رانیول شوې مکانونه هم وقف دي ۱۲۱
دمنقولې شیانووقف جائزدی ،که نه ..... //
دټول منقول اونامنقولې جائداددوقفولووصیت کول ۱۲۳
دوخت دباچاحکومتي شارې مخکه وقف کول ۱۲۴
دسلګونوخلګوترمینځ دمشترکې مخکې دوقف کولوطریقه ۱۲۵
له مشترکې ترکې څخه دیوارث روپی وقف کول اوحرامه ترکه ..... //
دوارث په هکله څه حکم لري ..... //
دوقف څوحکمونه ۱۲۶
دبل چاجائداد دخپل جائداد سره یوځای وقفول ۱۲۷
خپل اودخورجائداد دمرګ په ناروغي کې وقف کول ۱۲۸
دقرض له اداینې څخه دخلاصون لپاره خپل جائداد وقفول ۱۲۹
دبل په ذمه قرض روپی نشي وقفېدای ..... //
په حکومتي کاذونوکې دکومې مخکې په وقف لیکلوهغه مخکه نه وقف کیږي ۱۳۰
دبل په مخکه اوسېدوونکی هغه مخکه وقف کولای نشي ۱۳۱
ددرورږوآمدني وقف کېدای نشي ..... //

وښځې ته په مهرکې ورکړی مکان وقف کول صحیح نه دي ۱۳۲
وقف شوی جائداد څخه همېشه لپاره په کرایه ورکول ..... //
له وقف شوې مخکې څخه څه مخکه وحقدارته ورکوله شوه ۱۳۳
نودپاته مخکې وقف باقی دی
له وقف څخه دماشومانودخوراک ،څښاک واده اونوروپه اندازه ..... //
اخستلوشرط لګول
په وقف کې دخرڅولوشرط لګول ۱۳۴
په وقف کې ترمرګه دمالک پاتېدوقیدلګول ..... //
په ناروا آمدني رانیول شوی جائدادوقفول ۱۳۵
دوقف کوونکې شرطونه په پام کې نیول ضروري دي ..... //
دوقف کوونکې شرطونه عملي کول ضروري دي ۱۳۷
دوقف کوونکې داشرط لګول چې ترڅوزه ژوندی یم دوقف امدني به پخپل کارراولم ۱۳۸
دغیرشرعی اوجعلی وقف دپانې حکم ..... //
داوبووقف شوی نل (تاکی) که خراب شي نوڅه به کوي ۱۳۹
له وقف شویومالونوڅخه دغلا کړیوروپوضمان لازم دی ..... //
په تجارت کې لګول شوی داوقافوپه مال کې که نقصان وشي
نودګټې په ځیرنقصان هم په دې مال کې شمارل کیږي ،که نه ؟ ۱۴۰
دوقف مصرفونه بدلول ..... //
دوقف شوې مخکې ونې هم دوقف په حکم دي ۱۴۱
په وقف شوې جائدادکې دمالک په حیث تصرف کول ..... //
دوقف شویومخکوتقسیم صحیح نه دی ۱۴۲
دوقف کوونکې زوئ وقف شوی مکان بیرته نشي اخستلای ..... //
له وقف کولوورروسته رجوع کول صحیح نه دي ۱۴۳
دوقف انکاراعتبارنلري ۱۴۵

Maktaba Tul Ishaat. com

وقف شوی مکان ووقف کوونکې ته بیرته ورکول صحیح نه دي ..... //
وقف شوې کتابونه بېرته اخستل صحیح نه دي ..... /
دوقف ماتولوچاته اختیارنشته ۱۴۶
دغصې په حال کې دوقف کړې جائداد حکم ..... //
دمرګ په ناروغې کې خپل جائداد وقفول ۱۴۷
دمرګ په ناروغې کې دوقف کولوحکم ..... //
دمرګ په ناروغۍ کې خپل ټول جائداد وقفول ۱۴۹
دناروغۍ اوبې هوښۍ په حال کې وقف کول ..... //
دمرګ په ناروغۍ کې له مشترکې مځکې څخه خپله برخه وقفول ..... //
په وقف شوې مکان کې میراث نه جاري کیږي ۱۵۰
دنوې مسلمان په وقف کړې جائداد کې دده کافراولاددمیراث دعوی نشي ۱۵۲
دکافرحکومت دمسلمانانوپراوقافوقبضه کول ..... //
دوقف مصرفونوبیان
دوقف آمدني به په هماغه مصرفونوکې صرفیږي کوم چې دوقف
په پانه کې لیکل شوې وي ۱۵۴
دوقف شوې مځکې خاص آمدني دمصرفونوپرځای په نورو کارونوکې صرفول ..... //
که دوقف مصرف ختم شي نوجمع شوې آمدني چیرې ولګول شي ۱۵۵
که وقف کوونکی اوجهت دوقف یووي نودیووه وقف آمدني پربل صرفېدای //
دیوه وقف امدني دبل وقف په تعمیرکې لګول ۱۵۶
دیوه وقف په آمدني بل وقف ترمېمول ..... //
دیوه وقف آمدني دنورواوقافوپه حساب ،کتاب کې لګول صحیح نه دي ۱۵۷
وقف کوونکې هم دوقف په مصرفونوکې بدلون نشي کولای ..... //
دمتولي له قبضې مخکې که وقف کوونکی جهت دوقف بدلول ۱۵۸
دوقف کولوورسته دوقف کوونکې په شرطونوکې ..... //
کمښت یازیاتوب اوبدلون کول ..... //

وقف کوونکی که اړشي نودوقف له آمدني څخه مرسته صحیح ده ۱۵۹
دوقف کوونکې دوقف آمدني په ځاني لګښتونوکې لګول ۱۶۰
دوقف کوونکې په دربیمه اونوروکې دمتولي دوقف له مال څخه خرڅ کول ..... //
دوقف شویودوکانونوپه آمدني دوقف کوونکې داولادومرسته کول ۱۶۱
دوقف شوې جائداددآمدنۍ دخیرپه کارونوکې دلګولووصیت کول ..... //
دوقف په زیاتوب آمدني دمظلوم مرسته کول ۱۶۲
دمسجدونواواوقافوتراړتیاپه زیاتوروپودمجاهدینواومظلومانومرسته کول ..... //
دوقف روپۍ وحقدارته درسولولپاره مني آړه رکول ۱۶۳
اودهغه فیس دوقف له روپواداکول
دوقف دآمدنۍ کومه برخه دناوسوددواوولپاره خاصه کړله شي
هغه له دواووڅخه سوالګول صحیح نه دي ..... //
دمسکېنانودواوولپاره دوقف شوې جائدادلګښتونه ۱۶۴
دوقف کوونکې جائدادپخپل نامه راګرڅول دهغه آمدني دمسجد
، مدرسې اومسکېنانولپاره مقررول ۱۶۵
دوقف کوونکې له شرط سره سم وقف کړی جائدادخرڅول
دهغه قیمت دمسجدپه تعمیرکې لګول صحیح دي ..... //
وقف شوی ځیرې قرآنکریم دتلاوت لپاره چاته ورکولای شي
مالک جوړول یې روانه دي ۱۶۶
په کومه وقف شوې مځکه چې دوقف کوونکې غرض پوره نشي په هغه څه //
دشاهي اوقافودآمدنۍ مصرف ۱۶۷
په شاهی اوقافوکې دوقف دشرطونولحاظ ضروري نه دی ۱۶۸
داوقافودرانیولو،خرڅولو،بدلولواوباطلولوبیان
وقف شوې مځکه خرڅول کله روادي؟ ۱۶۹
وقف شوی جائدادخرڅول اوبدلول ۱۷۰
وقف کړی جائدادخرڅول اوهبه کول ۱۷۱

Maktaba Tul Ishaat. com

ووقف کوونکې ته هم دوقف کړې جائداد خرڅولوحق نشته ۱۷۲
وقف کړې مځکه خرڅول روانه دي ۱۷۳
دوقف کړې مځکې دخرڅولو ،رانیولواوپه هغه کې دمرستې کولوحکم ..... //
وقف کړی جائداد په پورخرڅول ..... //
دوقف کړې ځاه اوبه خرڅول صحیح نه دي ۱۷۴
دوقف په پاڼه کې دوقف خرڅولواوبدلولوشرط لګول ..... //
دکمیټی یامدرسې په نامه وقف شوې ببکاره اخبارونه خرڅول ..... //
دوقف په روپیورانیول شوی جائداد مسجد دتعمیرلپاره خرڅول صحیح دي ۱۷۵
وقف کړې خام مکانونه نړول اوپاخه جوړول ..... //
په وقف کړې مځکه کې دخپل کورنالی تېرول ۱۷۶
وقف کړې چیټایاني (سرتنجی) دخپل ځاني کارلپاره استعمالول ..... //
وقف کړې مځکه پرخپل نامه راړول ..... //
پروقف کړې مځکه دمیراثي په توګه قبضه اچول روانه دي ۱۷۷
وقف شوی ګروجائداد دوقف په روپیوراخلاصول ..... //
داوقافوله آمدني څخه وچاته قرض ورکول ۱۷۸
له سودڅخه دژغورولولپاره قرض ورکول ..... //
دقرض اداکولولپاره وقف کړی جائداد نیلامول ۱۷۹
دوقف کوونکی لمسې وقف نشی ختمولای ..... //
وقف کړې دکان اومکان وقف کوونکی بیرته نشي اخستلای ۱۸۰
دوقف کوونکی هیچ وارث وقف نشي باطلولای ..... //
دوقف بدلولوڅوصورتونه اودهغوئ حکم ..... //
صرف دوقف دنیت کوونکې لپاره وقف بدلول روانه دي ۱۸۱
دوقف کوونکې دشرط سره سم متولي وقف شوې شیان بل ځای نقل کولای شي ۱۸۲
دوقف دتولیت مسئلې ۱۸۵

متولي څوک کېدای شي ..... //
دوقف متولي جوړېدوحقدارڅوک دی ؟ ۱۸۶
دوقف دمتولي جوړېدوحقدارڅوک دی ؟ ..... //
دمسلمانانوڅله متولي تاکل صحیح دي ۱۸۷
آیاجمهوراهل اسلام دقاضی ځای ناستی دی ؟ ۱۸۸
دخانقاه اونوروتولیت دیوقوم اوکورنۍ سره ځانګړتیانلري ..... //
دوقف کوونکې اولاددمتولي جوړېدوزیات حقداران دي ۱۹۸
دمتولي اولادکه نه وي نوددده له وفات وروسته به دوقف متولي څوک وي ؟ ..... //
دوقف کوونکې دبچیانوپرځای بل څوک متولي تاکل ..... //
دوقف کوونکې دخپل زوئ پرځای داندېوال زوئ متولي جوړول ۱۹۰
دهدېرې دخرڅولولپاره دورکړې جائدادمتولي به څوک وي ؟ ۱۹۲
دوقف کوونکې نسخه متولي جوړول ..... //
نسخه هم داوقافومتولیه جوړېدای شي ۱۹۳
نابالغ متولي تاکل ۱۹۴
دورونوپه موجودیت کې خوریاخورېیی ،خرڅه متولیان کېدای شي ،که نه ؟ ..... //
چې دچاورونه فاسقان وي دهغه متولي جوړول ..... //
دارېکې پرېکوونکې متولي جوړولوحکم ۱۹۵
خپلې لورته واده نه ورکوونکی متولی جوړول ..... //
دنباردقاضی پخپله متولي جوړېدل صحیح نه دي ۱۹۷
کوم شخص دمتولي کېدودعوی له ځانه نشي کولای ..... //
دامام دنسخې اولورېخپله متولي جوړېدل ۱۹۸
موجوده متولي که نېک اوامانتداروي نوهم دی صحیح دی ..... //
دمتولي واکمني ..... //
دمتولی له شرعی واک څخه زیاتوب کول ..... //
فاسق ، فاجردمسجدمتولي کېدای شي ،که نه ؟ ۲۰۰

Maktaba Tul Ishaat. com

په محرم کې رقص کوونکی دمسجد متولي نشي کېدای ..... //
شیعه دسنیانومتولي نشي کېدای ..... //
سودخوراورشوت خوردا وقافومتولي یامهتمم جوړول ۲۰۱
جوارګر(خمارکوونکی) داوقافومتولي اوناظم ټاکل ..... //
شرابي اوزناکارمتولي اوپیشوا جوړول ۲۰۳
غصب کوونکی وشرابي اوخائن دمسجد متولي جوړول ۲۰۴
خائن سړی دوقف متولي جوړول صحیح نه دي ..... //
وقف کوونکی اومتولي داحق نلري چې خائن متولي وټاکی ۲۰۶
دخائن متولي په لیری کولوکې که فتنه اوفسادوي نوپته خوله غوره ده ۲۰۷
حکومتي خلګ دوقف متولیان ټاکل ..... //
دفاسق متولي کېدل صحیح نه دي ۲۰۸
دروغجن اوغصب کوونکی متولي اومهتمم ټاکل ..... //
دمتولي دځوتصرفاتو حکم ۲۰۹
دلوړې له تنګی متولي دوقف روپی پخپله مصرفولای شي ،که نه ؟ ۲۱۰
دوقف متولي دوقف له روپیو دخپل محنت حق اخستلای شي ،که نه ؟ ..... //
ببله کارکولومتولي ته مزدوري ورکول صحیح نه دي ..... //
متولي دوقف مال پخپله اړتیاکې لګولای شي ،که نه ؟ ..... //
دمتولي لپاره دمسجدآمدني پخپل ځاني اړتیاکې لګول ۲۱۱
دمتولي دوقف له مال څخه ومامورینوته پنشن ورکول ..... //
دمتولي اومهتمم لپاره دوقف یامدرسې روپی په قرض ورکول ۲۱۲
دوقف له آمدني څخه روژه مات اودقرآنکریم پرختم شېرینې وېشل ..... //
دوقف کوونکې له شرطونوسره سم دمتولي تصرف کول ۲۱۳
دوقف کوونکې له شرطونوسره سم دمتولي لپاره دبدلولواختیارشته ۲۱۴
متولي دچندې روپی پخپلواړتیاووکې ولګوي اوپه وخت دضرورت بېرته
اداکول ۲۱۵

وقف کوونکی ترمرګه متولي پاته کېدای شي ..... //
دمتولیانوتجوزیزکړی قانون دوقف کوونکې دقانون په څیردنفاذورنه دی ۲۱۷
وفات شوی متولي چې کومه تنخواه وانه اخسته دهغه حکم ..... //
په حق دتولیت کې میراث نه جاري کیږي ۲۱۸
دوقف کوونکې یامتولي دوقف دپاڼې پابندي نه کول
دمتولي داسي کارکول چې دوقف کوونکې دشرطونوپه خلاف وي ۲۱۹
دمتولي دوقف کوونکې دشرطونوسره سم عمل نه کول ۲۲۰
دیوه متولي دنورومتولیانوله مشورې پرته استاذمقررول .....
دشرعې په خلاف په کارکې درأیې ودېربښت ته اعتبارنشته ۲۲۱
دمتولي په ټاکلوکې که اختلاف وي نودېربښت ته اعتبارشته ..... //
دمسجدپه تولیت اوانتظام کې دبلې محلې والاوولاس وهنه ۲۲۲
دمزارپه څارنه اوانتظام کې دمتولي داکا (تره) اونورومداخله ..... //
داوقافوله متولیانوڅخه والی دحساب غوښتنه کولای شي ،که نه ؟ ۲۲۳
له امانتداره متولي سره حساب اوکتاب کول ۲۲۵
کوم فسق باعث دعزل (ایسته کېدو) دی ؟ ۲۲۶
لیکوونکی ضیاء احمدعفی عنه مفتی مظاهرعلوم سهارنپور ۲۲۷
بنده عبدالرحمن غفرله مدرس مدرسه مظاهرعلوم سهارنپور ..... //
دوقف مال په ناروامصرف کې لګوونکی متولی عزلول ۲۲۹
دفسادي متولي عزلول ۲۳۰
بدکاره متولي اومهتمم عزلول
بدخواه، بده غوښتوونکی، متولي عزلول ۱۳۱
خائن متولي عزل کول ..... //
پخپله متولي جوړشوی لیري کول ۱۳۳
چنده ورکوونکی متولي اومهتمم لیري کولای نشي ؟ ۱۳۴
وقف شوی جانداد پخپلوخانی کارونوکی استعمالوونکی متولی لیږی کولای // ..... //

Maktaba Tul Ishaat.com

تاریاک خوړوونکی عزلول ۱۳۵
له کوم متوي څخه چې خلک خوشحاله نه دي هغه باید لیري شي ..... //
که یومتولي بل متولي عزل کړي ۱۳۶
وقف کوونکی متولي ببله کومې وجې هم عزلولای شي ۲۳۷
دوقف کوونکې له وفات وروسته دده ډاکلی متولي جلاوالی ..... //
دمدرسې باني اومهتمم عزلول ۲۳۹
دوقف کوونکې ټاکلی امام اومتولي دمسجد باني نشي عزلولای ۲۴۰
دوقف کوونکې دبچیانو امام اومؤذن عزلول ..... //
دامام اومؤذن ډاکلو اولیري کولوحق دچادی ؟ ۲۴۱
دوقف کوونکې دشرطونوپه خلاف عمل کوونکی متولي عزلول ۲۴۲
دمسجد پرمتولي بدګماني کول ..... //
پربچیانودوقف کولوحکمونه ۲۴۴
پربچیانووقف کول شرعًا صحیح دی ..... //
پراولادودوقفولوشرعي طریقه ۲۴۷
پراولادوپه وقف کولوکې دشرعي قاعدي للذکرمثل حظ الانثیین
په پام کې نیول ضروري دي ..... //
پراولادودوقف دصحیح کېدومهم شرطونه ۲۴۸
دوقف آمدني دشرعي برخوسره سمه پراولادودوېشلوشرط لګول ۲۴۹
خپل جائداد پراولادووقفول اودآمدني دیوې دربیمې دخیر
په کارکې دلګولوشرط لګول ۲۵۰
پراولادودوقف شوې جائداد دآمدنې صرف به پرحقیقي اولادووېشل کیږي ..... //
پراولادودوقف دآمدنې مصرفونه ۲۵۱
دکوم جائداد دآمدنې چې دچالپاره وعده شوې وي هغه وقفول ..... //
پراولادوپه وقفولوکې دچاحق تلفي وي نووقف کوونکی به ګنهګارشي ، که ۲۵۲
په وقف علی الاولادکې دیوه زوئ لپاره ټوله آمدني مقررول ..... //

دیوه زوئ په نامه وقفول بل محرومول ۲۵۳
په وقف علی الاولاد کې ځینې وارثان محرومول ۲۵۴
پربچیانو په وقف کولو کې دچابرخه لرلو دچادازیاته مقررول ..... //
دښځې دبې برخې کولو په غرض دمرګ په ناجوړې کې خپل ټول جائداد پر اولاد
وقفول ۲۵۵
پراولادووقف کړی جائداد دښځې دمهرپه پورکې نیلامېدای شي ،که نه ؟ ... ۲۵۶
دوقف کوونکې ښځه خپل مهرله وقف شوې جائداد څخه اخستلای شي ،که ۲۵۷
دوقف کوونکې دزوئ ښځه یعنی مړورخپل مهردوقف کړې جائداد
له آمدنی څخه اخستلای شي ،که نه ؟ ..... //
دمرګ په ناجوړې کې پربچیانو کتابونه وقفول ۲۵۸
پربچیانو په وقف کړې جائداد کې میراث نه جاري کیږي ۲۵۹
دخپل یاوارث متولي جوړول ضروري نه دي ..... //
دوقف بېلابېلې مسئلې
وقف شوی جائداد دقبضه کوونکې
له لاس څخه خوندي کول دمسلمانانو دیني فریضه ده ۲۶۱
دقرآنکریم اوکتابونو دوقف کولوثواب ۲۶۲
دوقف ثواب ووقف کوونکې ته رسیږي ۲۶۳
دېلارله وفات وروسته دېلاررانیولې کتابونه زوئ وقف کړل ثواب یې چاته
رسیږي ؟ ..... //
دمهرد پورپه بدل دخاوند پرجائداد په قبضې کولو سره وقفول ۲۶۴
دوقف دځاروونکې دوقف له ځای څخه دیني تعلیم ورکوونکی لیږی کول ..... //
داواقافوومامورینوته درخصتی دورځو تنخواه ورکول اووظیفه مقررول ..... //
دوقف له آمدني څخه ومتولي ته تنخواه ورکول ۲۶۵
دمسافرخانې لپاره په وقف کړې ځای کې یتیم خانه جوړول ۲۶۶
دوقف له آمدني څخه دمریض خرڅ اخستل ..... //

Maktaba Tul Ishaat. com

په وقف شیانوکې رانیوونکی هرډول تصرف کولای شي..... ۲۶۷
برکتمن ځایونه وقف دي که دچاملک ؟..... //
له وقف شوې جائداد څخه دناروا قبضې دختمولولپاره ومحکمې ته رجوع کول.. //
دمسجد حکمونه
دمسجد اودهغه له مځکې سره ترلې مسئلې
دخپل ښاردمسجد لپاره وقف کول زیات دثواب باعث دي..... ۲۶۹
دشرعي مسجد لپاره دمځکې وقف کېدل ضروري دي..... //
دمسجد کېدولپاره دمکان وقف کېدل ضروري دي..... ۲۷۰
دمسجد په اراده رانیول شوې مځکه له مسجد جوړولویاوقفولومځکې مسجدنه وي..... //
دلمانځه لپاره خاص کړی ځای چې دمسجد اراده نه وي څه حکم لري ؟..... ۲۷۱
پرکومه مځکه له مسجد جوړولوورروسته هغه وقفول ضروري نه دي
بلکې هغه پخپله وقف ګرځي..... ۲۷۲
په کومه مځکه کې په جوړکړې مسجدکې په لمونځ کولوهغه مځکه مسجد ګرځي..... //
کوم ځای دمسجدجوړولولپاره بنیادونه ډکول دمسجدکېدولپاره کفایت کوي..... ۲۷۳
مسجد دالله رب العزت ملک وي دباني نه..... ۲۷۵
دمسجد کېږتعریف..... //
پرمسجد باندې دمسجد حکمونه کله جاري کیږي..... ۲۷۶
دمسجد جوړېدوسره دشرعي مسجدنه کېدویوصورت..... //
دمسجد په څلوردېوالی کې جوړه شوې مسافرخانه هم وقف وي..... ۲۷۷
دمسجد جوړولولپاره اتلس ، شل کاله مځکه په کرایه اخستل..... //
دمسجد تعمېرکه څه باقي پاته شي نوهغه وقف دی ، که نه ؟..... //
له حکومت څخه په قیمت یاعاریت اخستې مځکه کې مسجد جوړولو حکم.... ۲۷۸

کوم مکان مسجد ته په دې شرط وقفول چې فلانی سړی به پخپلوروپیو مسجد ۲۸۰
جوړوي ۲۸۱
دکمپنۍ سره دوعدې په شرط مسجد جوړول
په کومه مځکه کې چې دکښتګرحق وي مالک هغه دمسجدلپاره وقفولای شي ۲۸۲
دعاریت په مځکه کې دجوړکړې مسجد حکم ۲۸۳
داوړدې مودې لپاره په کرایه اخستې مځکه کې دمسجد جوړولوحکم //
پردوکان سربېره دوقف کړې مسجد حکم ۲۸۴
غصب کړې مځکه وقفول اومسجد پرجوړول ۲۸۵
دمسجد مځکه غصبول //
په غصب کړې مځکه اوهدېره کې دمسجد دتعمیراولمانځه حکم ۲۸۷
داجارې په مځکه کې دمسجد جوړولوحکم //
دهمېشه لپاره په کرایه اخستې مځکه وقفول اووربانديې مسجد جوړول ۲۸۸
دیوه مکان په اړه دوې لیکل شوي دوقف په پانوکې ددوهمې اعتبارنشته //
که په غلطۍ سره دحکومتې نالۍ ځای دمسجد په غولې کې راشي نوڅه حکم دی ۲۸۹
حکومتي سړک په مسجد کې ورکډول څه حکم لري ؟ ۲۹۰
پرمسجد که انګریزحکومت قبضه وکړي نوڅه حکم دی ؟ //
دمسجد په نامه درانیولې مځکې په مینځ کې که کوڅه وي نوڅه حکم دی ؟ //
دکورپه غولې کې دلمانځه لپاره دخاصې چوتړې (دکانچې) حکم ۲۹۱
دکورپه کونج کې دجوړکړې مسجد شرعي حکم //
دکورپه کومه چوتره چې دکورانسانانولمونځ کوي هغه شرعي مسجد نه دی //
دسربېره منزل (پوړ) په مسجد جوړولولاندې پوړهم مسجد ګرځي ۲۹۲
په کورکې يې مسجد جوړکړاماڵاره يې ورجلانکړه //
پخپل مینځ کې په خوښه په مشترکه مځکه کې مسجد

Maktaba Tul Ishaat. com

جوړول وروسته له هغه څخه رجوع کول او دملکیت دعوی کول صحیح نه دی ۲۹۳

مشترکه مځکه له مسجد جوړولو وروسته هیڅ شریک نشي خرڅولای ....

ځینو شریکانو مشترکه مځکه دمسجد یامدرسې لپاره وقف کړه ۲۹۴

داوقف روادی ،که نه ....

دځینو شریکانوله اجازې پرته په مشترکه مځکه کې مسجد جوړول ..... //

دمځکې دمالک له اجازې پرته دجوړکړې مسجد حکم .....

یوشریک په مشترکه مځکه کې مسجد جوړکړوروسته ۲۹۶

نوروشریکانو اجازه وکړه نوځه حکم دی .....

دچامځکه له اجازې پرته ومسجدته ورګډول ..... //

دشریکانوله اجازې پرته مشترکه ونې خرڅول دهغوئ په قیمت مسجد ۲۹۷

جوړول .....

په مشترکه مځکه کې دشریکانوله اجازې پرته مسجد جوړول ۲۹۸

دزیاتوشریکانوپه اجازه په مشترکه مځکه کې دجوړکړې مسجد حکم ..... //

له مسجد سره نښتی سرای په زورومسجدته ورګډول ۲۹۹

خاص لار په مسجد کې ورشاملول ..... //

دکمپنۍ دمشرپه اجازه دجوړکړې مسجد حکم ۳۰۱

دقبضې پرمځکه مسجد جوړول ..... //

دچاپه مځکه کې په زورمسجد جوړول ۳۰۲

دمالکانوله خوښې پرته ددوئ ځاه ومسجدته ورګډول ..... //

بل مسجد جوړول کله صحیح دی ۳۰۳

که مسجد ونړېږي نوبل ځای نوی مسجد جوړول څرنګه دی ۳۰۴

دناآبادې سیمې خوندی کول ،نوی مسجد جوړول ۳۰۵

که دارتیابه وجه دوهم مسجد جوړکړونوداول مسجد څخه

عیدګاه جوړول روادي ،که نه ..... //

دنوې تعمیرپروخت دزاړه مسجد ځای قصداپرېښوول ۳۰۶

کلپوال زوړمسجدنړولای اونوی مسجد جوړولای شي ،که نه ؟..... //
پردی سړی دپراخولوپه غرض مسجدنړولای اوله نوې سره جوړولای شي ،که نه
؟ //
دمسجدپه پراخولوکې که مخته مزاروي نوباید څرنګه وشي..... ۳۰۷
کومه مځکه چې مسجدته وړداخله شوې ده هغه له مسجد څخه نشي ایستلای// ۳۰۸
دویران مسجدخوندی کول دمسلمانانودیني فریضه ده..... ۳۰۹
دزاړه مسجدپه ودانۍ کې بدلون راوستل..... //
ببله ثبوته دمسجدپه مځکه دملکیت دعوی کول..... ۳۱۰
دمسجدپه اړه دملنګیانودملکیت دعوی باطله ده..... //
دباني دبچیانوپه مسجدکې دملکیت دعوی کول باطل دي..... //
وقف شوې مسجدونه اومدرسې دچاځاني ملکیت نه دي..... //
ښځې خپل مکان دمسجدپه نامه وقف کړنوپه دې کې به ددې دبچیانوبرخه وي
،که نه ؟..... ۳۱۱
دمسجدمځکه ببرته په ملک کې دراوستلوکوم صورت نشته..... //
دنوې مسجدپه جوړولوله زاړه مسجد څخه مدرسه جوړول..... ۳۱۲
دمسجدپه زیاتوب مځکه کې مدرسه جوړول..... //
دمسجدپه حدودوکې د واقع مدرسې حکم..... ۳۱۳
مسجدویرانول ، ورباندې هدېره جوړول روانه دي..... //
دمسجدپرځای مسافرخانه اودمسافرخانې پرځای مسجدجوړول..... ۳۱۴
دمسجددځلوردبوالي له یوه کونج څخه بل کونج ته مسجدانتقالول..... ۳۱۵
دمسجدیاکوم بل وقف خرڅول روانه دي..... //
مسجدبل ځای ته نقلول صحیح نه دي..... ۳۱۶
په بدل اخستلودمسجدمځکه وښاروالي ته ورکول..... ۳۱۸
دکومومسجدونوحال چې معلوم نه وي دهغوئ بل ځای ته نقلول روانه دي... ۳۱۹
دبدبوئ په وجه مسجدتبادله کول..... //

Maktaba Tul Ishaat. com

دټولولمونځ کوونکوپه اتفاق سره مسجدبل ځای ته نقلول ۳۲۰

دمسجدپه بدله کې بله مځکه اخستل صحیح نه دی .....

کوم ځای چې وقف شومسجدورباندې جوړشوهغه دهمېشه لپاره مسجد وګرځېدی ۳۲۱

دلارې دتکلیف په وجه مسجدنقل کول ۳۲۲

دکوم مسجدمخ چې قبلې ته برابرنه وي دهغه تبادله روانه ده //

دلمانځه لپاره دجوړې کړې کوټې تبادله صحیح نه ده ۳۲۳

دځه وخت لپاره په جوړکړې مسجدکې کښت کول صحیح دي //

دمسجددشهیدولواوله دې کارځخه دمنع کوونکوحکم //

دمسجدله ویرانېدوورسته هم دده درناوی لازم دی ۳۲۴

که دمسجددبې ادبۍ اندېښنه وي نوهغه په شاوخوادپوال خوندي کړئ ۳۲۵

په سېلاب کې نړېدلې مسجدپرځای کورجوړول ۳۲۶

دمسجددډنني اوبهرنۍ برخې حکم //

دمسجدپه غولې کې تالاب جوړول ۳۲۷

دمسجدغولې حکم //

دمسجدغولې حکم دبانې دنیت سره ترون لري ۳۲۸

دمسجدپه غولې کې داودس داوبونالۍ جوړول څرنګه دي ؟ ۳۲۹

دخپل کورپه غولې کې جوړکړی مسجدکه ویران شي نوبه څه کوي ؟ //

دمرداراوبوپرنالۍ دمسجدغولی جوړول ۳۳۰

ترمسجدلاندې یاپورته دکانونه اومکانونه جوړول //

دمسجدپه زاړه ځای کې داودس داوبونالۍ یالاره جوړول ۳۳۲

دمسجددغسل خانومځکه په حکومتې سړک کې ورکول //

دکلېوالودمسجدپرفرش برَنډه جوړول //

دمسجدپه مځکه کې حجره جوړول ۳۳۳

دمسجددهمسایه دمسجدپردېوالونوکړۍ اوګادرښوول ۳۳۴

۳۳۵
دمسجد پردبوال دخپل کوردبوال جوړول
۳۳۶
دمسجد پردبوال اوبنیادخپل دبوال جوړول صحیح نه دی
//
دمسجد په دبوال کې دهمسایه شراکت صحیح نه دی
//
دمسجد پرچت (بام) باندې دخپل کورسامان ښوول صحیح نه دی
۳۳۷
دمسجد په مځکه کې دتصرف کوونکې حکم
//
که څوک دځاه نیمه برخه پخپل کورکې ورګډه کړي دهغه کرایه ورکوي
۳۳۸
په کرایه ورکړی سرای دمسجد جوړولوپاره رانیول
۳۳۹
دمسجد په مځکه کې جوړه کړې هدیره برابرول ومسجد ته ورګډول
۳۴۰
لاندې دکانونه وسربیره وربانديې مسجد جوړول
۳۴۲
ترمسجدلاندې نوې دکانونه جوړول صحیح نه دي
//
دمسجددضروري خرڅولوپاره ترمسجدلاندې دکانونه جوړول
۳۴۳
دمسجددوهم ځل ودانولوپروخت ترمسجدلاندې دکانونه جوړول جائزنه دي
۳۴۵
ترمسجدلاندې ګودام ، تشې ، غسل خانه اونورجوړول صحیح نه دی
۳۴۷
دمسجدحجره ودکان ته ورګډول جائزدی
//
دمسجدله کوټې څخه دټبلوګودام جوړول اوپه کرایه ورکول
//
دمسجددمصالحولپاره په مسجدکې زېرخانه اونورجوړول صحیح دي
۳۴۹
دکلپوالووامام ته مسجدهبه کول صحیح نه دي
۳۵۰
دمسجدلپاره له مځکې وقفولووروسته خپلې لورته بخښل
//
دمسجدځای په قیمت یابېله قیمت چاته ورکول جائزنه دی
//
دمسلمانانوله مسجدڅخه لاس اخستل جائزنه دی
۳۵۱
مسجدشهېدول پرځای باندې بازارياودانې جوړول صحیح نه دی
۳۵۲
مسجدشهېدول ، کارخانه وربانديې جوړول
//
مسجدشهېدول ،وربانديې دامام حجره جوړول
۳۵۳
مسجدشهېدول په سړک ورګډول
//
دمسجدپه مځکه کې دغېږوځای جوړول

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجد پرمخکه مکان جوړول بیاپه کرایه ورکول جائزنه دی	۳۵۴
دمسجد په څلورد بوالی کې په کرایه ورکولولپاره مکان جوړول	۳۵۵
دمسجد په مخکه کې دامام دخپلې استوګنې لپاره کورجوړول	//
آیادنوې مسجد په جوړولوله زوړمسجد څخه کورجوړول جائزدي ؟	
دمسجد مخکه دشیعه ګانووامام باړې یاتعزیه خای ته ورکول جائزنه دی	۳۵۶
پرمسجد سربېره کچاری کول شرعًا صحیح نه دی	۳۵۷
دمسجد په لاندې برخه کې خپل قبرکښل جائزنه دی	//
دمسجد په څلورد بوالی کې مړې ښخول	//
دمسجد اوددہ له مخکې څخه ناروااستفاده کول	//
دمسجد کومه برخه دمندریاشیعه ګانوجلوس تیربدولپاره پرېښوول	۳۵۸
دمسجد مخکه دپولیسودخوکی جوړولولپاره په کرایه ورکول	۳۵۹
دمسجد کومه برخه په کرایه ورکول	//
دمسجد شاړه مخکه خرڅول	۳۶۰
دچادارتیاپه وجه دمسجد مخکه خرڅول	//
کوم ځای چې دمسجد نښې وې دهغه خرڅول څرنګه دی ؟	۳۶۱
ویران مسجد یادهغه وقف کړې مخکې خرڅول	//
دمسجد دوقف مخکې په بدل کې دوررسېدلې مخکې دخرڅولوحکم	۳۶۲
دمسلمانانودآبادی دنه کېدوپه وجه مسجد خرڅول ،بل مسجد جوړول	//
دمسجد خرڅوونکې شرعي حکم	۳۶۳
دمسجدلپاره وقف شوې حجرې ،دروازه دمسجد په غولې کې	
راخلاصول صحیح ذي	//
دمسجد په شاړه مخکه کې مکتب (ښوونځي) جوړول	۳۶۴
دوس دلودلوسره مسجدنه آبادول	//
دمسجد کېدولپاره چت اومناره ضروري نه دي	//
کومه مخکه چې دتعمیرورسته دمسجدله څلورد بوالی	۳۶۵

۳۶۵
څخه دباندې پاته شوه هغه خرڅول ۳۶۶
دمسجد وقف شوی مکان خوندي کول ضروري دی //
دمسجد په مځکه کې دتاجرد تصرفاتو حکم ۳۶۷
مسجد نړول دنبارو الی په خرڅ بل ځای مسجد جوړول
دجنازې دځای جوړولولپاره جمع کړې خښتې دمسجد دغولې
په فرش کې لګول //
دقبرونو په خښتو جوړکړې مسجد حکم ۳۶۸
له مسجد څخه ببل پرچوتره (تنګاچه) دلمونځ کولو حکم //
دمتولي له اجازې پرته مسجد ترمیمول //
په دوهم تعمیرکې دمسجد په زیاتوب مځکه کې حجره جوړول ۳۶۹
دمسجد دغسل خانې لرګي دمسجد پردپوال نبوول //
دبدچلندې نښې وقف کړی مسجد نړول پخپل تصرف کې راوستل ۳۷۰
دمسجد داوقافو په اړوند مسئلې
ددربیو مسجدونولپاره یومکان ۳۷۱
دمسجد په مځکه کې بل مسجد جوړول //
دمسجد په وقف کړې مځکه کې تعمیرشوې ودانۍ هم وقف دی ۳۷۲
دلمونځ کوونکودناستې لپاره دمسجد وځنګ ته جوړکړی
سرای دمسجد په حکم نه دی //
دمسجد لپاره دمسجد سره ننبتې حجره جوړول ۳۷۳
دمسجد حجرې په مسجد کې شاملول ۳۷۴
دمسجد اوقاف خرڅول جائزنه دی ۳۷۵
دمسجد اوقاف خرڅول ۳۷۶
دمسجد په زیاتوب آمدنې مدرسه خلاصول یاپه بل مسجد کې ۳۷۶
لګېدل څرنګه دي ؟
دمسجد دتعمیرلپاره دمسجد په نوم وقف کړې مځکه خرڅول ۳۷۷

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجد لپاره وقف شوی پتی خرڅول پرې نور جائداد اخستل ..... //
دوقف بیان
دمسجد وقف مکان خرڅول دهغه قیمت په مسجد کې لګول ۳۷۸
دمسجد وقف جائداد خرڅول اودهغه قیمت دمسجد په نښکلا خرڅول ..... //
دوقف شوې مځکې په خرڅولو دمسجد قرض اداکول څرنګه دي ؟ ۳۷۹
مسجد په حجره بدلول بیاپرطالبانووقف کول یاپه کرایه ورکول .....
دمسجد دمات کورمځکه وچاته په کرایه ورکول ۳۸۰
ترمسجد لاندې کوټه په کرایه ورکول ..... //
دمسجد وقف سرای په ګرووورکول جائزنه دي ۳۸۱
په یادشویوصورتونوکې دوقف جائداد بدلول روادي ..... //
دمسجد لپاره وقف شوی جائداد هبه کول ۳۸۳
دنیم مکان دمسجد لپاره اونیم دمدرسې لپاره دوصیت کولوحکم ..... //
وقف کوونکې دوقف دسرای پرځای دهغه قیمت ورکولای شي ،که نه ؟ ..... //

دمسجد اوقاف په سړک کې دشاملولوحکم ۳۸۴
دمسجد داوقافوله آمدني څخه داوقافوپه اړه دمقدمومصوفونه اداکول صحیح دي ..... //
دمسجد په وقف مځکه کې دمړې ښخولووهیڅاته حق نشته ۳۸۵
دمسجد په اوقافوکې پرحیوانانوجرمانه کول ..... //
دمسجد دوقف شوې مکان یاونې قیمت پرامام باړه لګول ..... //
دمسجد په نامه وقف شوې لونبې خرڅول اودهغه په قیمت مځکه رانیول ۳۸۶
دمسجد وقف شوې شیان دامام یابل چاپخپل کورکې کارول ..... //
دقرآنکریم دتعلیم په بهانه دمسجد له اوقافوڅخه استفاده کول ..... //
دمسجد دوقف شوې مځکې کومه برخه پخپل کورکې
شاملول اوددې په بدله کې بله مځکه ورکول ۳۸۷

دوقف کوونکې لګولی شرط عملې کول ضروري دي ۳۸۸
ومسجد ته دشاملولولپاره چې کوم مکان وقف شوپه هغه کې وارثان
هیڅ حق نلري ..... //
دمسجد پراوقافو قبضه کول جائزنه دي ..... //
دمسجد په وقف شوې مکان دملکیت دعوی کوونکو
له قبضې څخه ایستل ضروري دي ۳۸۹
دمسجد په وقف شوې مکان کې مدرسه جوړول ۳۹۰
دجامع مسجد دوقف شوې جائداد له آمدنۍ څخه مدرسه جاري کول ..... //
که دمسجد ورته اړتیانه وي نوده داوقافو آمدني چیري صرف کړله شي ؟ ۳۹۲
دوقف آمدني دمسجد په اړتیاکې صرفول ..... //
دیوه مسجد داوقافو آمدني په بل مسجد کې صرفول ..... //
دیومسجد په آمدنۍ دبل مسجد مکانونه اونورجوړول ۳۹۳
دمسجد داوقافو آمدني دسولاغې ،رسۍ اوغسل خانو په مصرف کې لګول ۳۹۴
دیوه مسجد په نوم دوقف شوی جائداد آمدني دبل خیرپه کارکې لګول ۳۹۵
دمسجد دواقافو په آمدني دمسجد په څلورد بوالۍ کې باغ لګول ..... //
دمسجد داوقافوله آمدنۍ څخه حکومتي ټیکس (مالیه) اداکول
اوماهرینوته پنشن ورکول ۳۹۶
دمسجد دواوقافو آمدني دبې وارثه پرتجهیزاوتکفین یامزارلګول ۳۹۷
دمسجد داوقافوله آمدني څخه وامام اومؤذن ته تنخواه ورکول ..... //
دمسجد وقف شوې مځکه چې دامام په نامه لیکل شوې ده
ددې دآمدنۍ حقدارڅوک دی ۳۹۸
نیلام شوې فقیرخانه دمسجد په روپیو دمسجد په نامه
راخلاصه کړله شوه نود چاملک دی ..... //
دفقیرخانې دنړېدلوکوټوخښتې په مسجد کې لګول ۳۹۸
دمسجد په حدودویاپه اوقافوکې دکان جوړول ۳۹۹

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجد په حدود و یا د مسجد په غولې کې دوکانونه جوړل روانه دي ۴۰۰
دمسجد له حدود و وتلې دکانونه یا کوټې جوړول چې کرایه یې ۴۰۲
په مسجد کې لګیږي صحیح دی
دمسجد دکان ونا روا تجارت کوونکې ته په کرایه ورکول ..... //
دمسجد دوقف شویو دکانونو په آمدني دمسافرو او علماؤ خدمت کول
او په روژه مبارکه کې روژه مات په راوړل ..... //
دیوه مسجد د دکانونو آمدني دبل مسجد په ودانۍ ،خانقاه
یا ښونځیو کې لګول ۴۰۳
دمسجد د دوکانونو په آمدني روژه مات او په تراویحو
کې د قرآنکریم ختم پرمهال شهرني وېشل ..... //
دمسجد د دکانونو آمدني دباغ په ښائست کې لګول ۴۰۴
د دکانونو پرسر په مسجد کې لمونځ دمسجد ثواب لري ،که نه ؟ ۴۰۵
دمسجد وقف شوې دکانونه دکفارو له قبضې
ایستلو وروسته پرنورو مصرفونو وقفول ..... //
دمسجد ونې دچادي ؟ ۴۰۶
دمسجد په څلورد بوالۍ کې راشنې شوې ونې دچادي ؟ ..... //
دمسجد وځنګوته دلګول شویو مېوه داره ونو حکم ۴۰۷
دمسجد دمېوه داره ونو دمېوې حکم ۴۰۸
دمسجد دوقف شوې مځکې دونو خرڅول صحیح نه دي ..... //
دمسجد لپاره دوقف شویو ونو لرګي پخپل تصرف کې راوړل ۴۰۹
دمسجد په څلورد بوالۍ کې دونو پرځای دکانونه جوړول روادي ..... //
دمسجد له ونو څخه د استفادې کولو صورت ۴۱۰
دشیعه ګانو د ماتمې جلوس د تېرېدو لپاره دمسجد
ونو راوتلې ځانګې پرېکول ..... //
دمسجد تولیه او حکمونه ۴۱۱

دمسجد دتولیې په اړه څوپوښتنې اودهغوئ ځوابونه..... //
دمسجد متولي اودمدرسې مهتمم بایدځرنګه وي ؟..... //
دمسجد دتعمیراوترمیم اونظم اوترتیب واک دچادی ؟..... ۴۱۲
له باني اووقف کوونکې څخه دمسجد دتولیت حقدارځوک دی ؟..... ۴۱۴
دمسجد دباني داولادپه موجودیت کې بل څوک متولي کیدای شي ،که نه ؟.... //
نامسلمان هم دمسجد متولي کیدای شي..... //
خائن ، فاسق اوبدکارشخص دمسجد متولي اوغړی نشي کیدای..... ۴۱۵
دروغجن اودلمونځ پابندي نه کوونکی دمسجد دکمیټی غړی اوانتظام کوونکی جوړول صحیح نه دی..... //
بدژبی متولي دتولیت وړنه دی..... ۴۱۶
سودخورمسلمان دمسجد متولی کیدای شي ،که نه..... //
دمسجداونورولپاره څومره متولیان پکاردي ؟..... ۴۱۷
دانګریزانوسره دمینې څرګندونه کوونکی دمسجد متولي جوړیدل..... //
دمسجد دمتولیانوعمل بایدځرنګه وي..... ۴۱۸
دمسجدومتولیانواوقوم ته په اتفاق سره کارکول پکاردی..... //
دښاردقاضی دمسجد دتولیت دعوی کول دکمیټی دموجودیت په صورت ومتولي ته اړتیانشته..... ۴۱۹
ځیني وقف کوونکونوی مسجد جوړکړنوپه زاړه مسجد کې ددوئ تولیت پرځای پاتي دی ،که نه ؟..... ۴۲۰
کوم څوک چې پخپله مځکه کې مسجد جوړکړي دهغه له تولیت څخه دایستلوهیڅوک حق نلري..... //
په چنده دمسجد جوړوونکې دمسجدبانی اووقف کوونکی نه دی..... ۴۲۱
دمسجد دنړولواختیارومتولی ته کله وي ؟
په چنده دجوړشوی مسجد متولی به څوک وي ؟..... //
دسنیانواوشیعه ګانودواړوپه استعمال کې مسجد انتظام به دچاوي ؟..... ۴۲۲

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجد په وقف سرای کي دمتولي ببله کرايې هستوګنه کول ۴۲۳

دمسجد په څلورد بوالی کي دمتولی سرای جوړل ۴۲۴

دمسجد ګړی دمتولي دخپل ځان لپاره استعمالول ..... //

دمسجد شيان که متولي پخپله استعمالوي .....

متولي دمسجد روپی په قرض اخستلای شي ،که نه ؟ ۴۲۵

دمتوليانو دمسجد داوقافوله آمدنی څخه پخپله خوړل اوقوم پرې خورول ..... //

دمتولي په ذمه چي دمسجد کومې روپی واجبې دي

دهغه دمعافولوحق هيڅوک نلري ۴۲۶

دمسجد دد کانونو په آمدني دمسجد اړتياوې نه پوره کوونکي متولي حکم ..... //

دمتولي لپاره دمسجد دد کان کرايه کمول روادي ،که نه ؟ ۴۲۷

متولي مصلحةً دمسجد دکان وکمې کرايې اداکوونکې ته ورکولای شي ..... //

دمسجد وقف شوی مکان که متولي خرڅ کړي نوڅه حکم دی ۴۲۸

داړتيا پرمهال متولی دیومسجد آمدني پربل مسجد لګولای شي ،که نه ؟ ۴۲۹

دمسجد دوقف شوې جائداد له آمدني څخه متولي .....

وچاته څه روپی ورکولای شي ،که نه ؟ ۴۳۰

دموجود متولي په رأيه عمل کول ضروري دی ..... //

دمسجد دکمپټی دمسجد په محکه کې له مدرسې جوړولو څخه منع کول ۴۳۱

متولي کلپوال دمسجد له تعمیرڅخه نشي منع کولای ..... //

دڅوکسانو دمسجد له متولي څخه حساب غوښتل ۴۳۲

دمسجد له متولي څخه دخيانت روپی اخيستل ..... //

دمسجد دآمدنی (عائد) اودهغه دمصرفونوبيان

دمسجد دآمدنی اومصرفونوڅوحکمونه ۴۳۳

دمسجد روپی په مسجد کې لګول پکاردي ۴۳۵

که چادمسجد لپاره په دې ويناروپی ورکړې چي په غوره مصرف کې

يې ولګوي نودغه روپی بايد چيري ولګول شي ۴۳۶

دمسجد له آمدني څخه ولمونځ کوونکوته روژه مات ورکول یاپه روژه
کې د قرآنکریم پرختم شیریني وېشل ..... //
دیوه وقف آمدني په بل وقف کې لګول ۴۳۷
دیوه مسجد روپۍ په بل مسجد کې لګول ۴۳۹
دیوه مسجد چنده په بل مسجد کې لګول ۴۴۰
دیوه مسجد پیره زیاته آمدني په بل مسجد یامدرسه کې
دضرورت پرمهال لګول ..... //
دمسجد له آمدني څخه وامام ، مؤذن ،مفتی اونصبحت کوونکې
اونوروته تنخواه ورکول ۴۴۱
دمسجد دمال خرڅول اودهغه قیمت وامام ته ورکول ..... //
آیادمسجد په مال دمسجد لپاره تجارت کول روادي ؟ ۴۴۲
دمسجد په روپیو خپل کاروبارکول ..... //
دمسجد مال دجلسې په رڼااونورکې کارول ۴۳۴
دلمونځ کوونکودسامان دخوندي کولولپاره دمسجد
په آمدني چوکیدارمقررول ۴۴۴
دمسجد په آمدني دوعظ اونصبحت اونورولپاره کوم عالم مقررول ..... //
دمسجد مال په تعزیه اودرېیمه اونوروکې لګول روانه دي ۴۴۶
دمسجد په آمدني دمسجد ښکلا اونقشونه کول ۴۴۷
دوقف په آمدني اوبه ګرمول ..... //
دمسجد په روپوورځپانې اورسالي رانیول ۴۴۸
دمسجد داوقافو دمقدمو مصرفونه پرمسجد دي ،که نه ؟ ..... //
دمسجد مال دمسجد په مقدمه کې صرفول څرنګه دی ؟ ..... //
دمسجد په آمدني دمسجد ګرشوې مځکه راخلاصول ۴۴۹
دمسجد دودانۍ لپاره ورکړې روپۍ دمسجد په نوروکارونوکې لګول ..... //
دمسجد په روپیو درانیول شوې دکان حکم ۴۵۰

Maktaba Tul Ishaat. com

پربل وقف لګېدلې دمسجد مال ومسجد ته بېرته ورکول ضروري دي
دمسجد په روپیو دمسجد لپاره مکان رانیول ۴۵۱
دمسجد دونوزیاتوب آمدني داسلام په خپرونه اودفتنو په مخنیوي کې لګول
دمسجد ونوداوقافو آمدني دمسلمانانو په پېښو . جګړو اومرسته کې صرفول ۴۵۳
دمسجد زیاتوب آمدني دماشومانو په زده کړه یاتبلیغ کې لګول ۴۵۵
دمسجد په زیاتوب روپو څاه تیارول ۴۵۶
دمسجد په زیاتوب آمدني مدرسه جوړول ۴۵۷
دمسجد په زیاتوب آمدني مدرسه قائمول
دمسجد په آمدني دمسجد دمدرسې پوراداکول ۴۵۹
دمسجد روپې پرمدرسه لګول //
دمسجد په روپو دمسجد اړونه مدرسه ترمېمول ۴۶۰
دمسجد روپې وامام ته په قرض ورکول ۴۶۱
دمسجد روپې وکوم عزتمن مسلمان ته په قرض ورکول ۴۶۲
دمسجد په روپو دعاموخلګو دفائدې لپاره رسۍ ،سولاغه اونورانیول //
په مسجد کې دنل لګولو په غرض دورکړیورو پوپه مسجد کې دوکان جوړول //
دمسجد روپې خوړل ۴۶۳
دمسجد پرآمدني زکوة واجب نه دی //
دمسجد روپې له خائن څخه اخستل وامانتداره سړی ته یې ورکول //
دامانتدارهندوسره دمسجد روپې ښوول څرنګه دي؟ ۴۶۴
دمسجد دتعمیرروپې دمدرسې پرتعمیرلګول //
دمسجد دزړواوماتوشیانوبیان
دامام لپاره دمسجد قرآنکریم کښېښودل اوزیاتوب قرآنونه ومدرسوته ورکول
یاخرڅول چې قیمت یې په مسجد کې صرف کړي ۴۶۶
دمسجد په نامه وقف شوې کتابونه مدرسې ته ورکول ۴۶۷
دمسجد اودهغه دسامان په اړه څوحکمونه //

د آباد مسجد سامان بل مسجد ته ورل صحیح نه دي ۴۶۸
دیوه مسجد پوزې اونور بل مسجد ته ورل ۴۶۹
دیوه مسجد مصلی بل مسجد ته ورکول ..... //
د مسجد صفونه اونور سامان عبدګاه ته ورل او کارول یې ۴۷۰
دیوه مسجد زیاتوب سامان بل مسجد ته ورکول څنګه دي ؟ ۴۷۱
دیوه مسجد سامان وبل مسجد ته ورکول کله صحیح کیږي ۴۷۲
د مسجد دناکاره سامان حکم ..... //
د مسجد دزاړه سامان حکم ۴۷۳
د مسجد زاړه شیان په مدرسه کې لګول صحیح نه دي ..... //
دیوه مسجد تیرپربل مسجد ښوول ..... //
د مسجد دزړو تیرانو اونورپه خرڅولونې رانیول ۴۷۴
د مسجد مات شوې تیران خرڅول قیمت یې پر مسجد لګول صحیح دي ..... //
د مسجد زاړه لرګي رانیول پخپل کورکې بې کارول صحیح دي ۴۷۵
د مسجد زړې پنکې یابورۍ وبل مسجد یامدرسې ته ورکول ۴۷۶
دیوه مسجد کوزې اوبورۍ دارتیاپرمهال وبل مسجد ته
په عاریت (خواست) ورکول ..... //
دیوه مسجد تراړتیازیاتې کوزې اوصفونه بل مسجد ته ورل ..... //
د مسجد له ودانۍ دزیاتوب سامان حکم ۴۷۷
د مسجد له نړولو وروسته دهغه دبام اودیوالونو خاوره په لاره کې اچول ..... //
د مسجد تراړتیازیات شیان رانیول ، خرڅول اونېلامول ۴۷۸
د مسجد شیان استعمالول اوپه هغوئ کې ناروا تصرف کول ..... //
دکوم خاص کارلپاره ورکړې روپۍ په بل مصرف کې صرفول ..... //
آیا امام د مسجد شیان پخپل کارکې لګولای شي ؟ ۴۷۹
د مسجد دخاروونکې لپاره د مسجد شیان دخان لپاره استعمالول صحیح نه دي ..... //
د مسجد په سولاغه اورسۍ دکوراوبه دکې کې کورته ورل څنګه دي ؟ ..... //

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجد زیاتوب تبل دامام دتنخواداداکولولپاره خرڅول روادي ۴۸۰

دمسجد چادرونه بل ځای ته انتقالول څنګه دي ؟ ..... //

دمسجد دشیانو خرڅول دچاحق دی ..... //

دنړول شوې مسجد سامان خرڅول اوقیمت یې پرهمدې مسجد
لګول صحیح دي ۴۸۱

دمسجد دنړول شوې برنډې اوحجرې سامان خرڅول اومسجد پوخ په جوړول
داوبووړې مسجد سامان کوم ځای صرف کړو ۴۸۲

ددریاب داوبووړې مسجدلرګي اوخښتې استعمالول ۴۸۳

دنړېدلې مسجد سامان بل مسجد ته وړل .....

دنړېدلې مسجد تعمیرضروري دی ،که نه ؟ ۴۸۴

دمسجد مات شوې جاروګان اوزاړه فرشونه خرڅول ۴۸۵

دمسجد په زیاتوب خښتومدرسه جوړول ..... //

دمسجد دخښتواوتیرانوحکم ..... //

دمسجد خښتې په خپل کورکې لګول اودمسجد پرمخکه قبضه کول ۴۸۶

دمسجد دتعمیرلپاره تیارکړیوخښتودخرڅولوحکم ..... //

دنړېدلې مسجد دخښتواوسامان حکم ۴۸۷

دمسجد تراړتیادزیات سامان څوحکمونه ۴۸۹

دویران مسجد خښتې په بل مسجد کې کارول صحیح دي ۴۹۰

په خاص صورت کې دمسجد خښتې په مدرسه کې لګول روادي ..... //

دوقف کوونکې دغرض په خلاف خښتې لګول ۴۹۱

دمسجد ډبرې په مکان کې لګول ..... //

دمسجد ډبرې په امام بارګاه کې لګول ۴۹۲

دمسجد تراړتیازیاتې شمعې خرڅول ..... //

دمسجد دچندې په اړه مسئلې ۴۹۳

ومسجد ته چنده ورکوونکې ددې مالکان دي ،که نه

دزوئ په واده کې ومسجد ته دورکړیوروپوثواب شته ،که نه ؟..... //
۴۹۴
دمسجد لپاره په زور او جبر چنده اخستل
۴۹۵
په چنده کولو پوخ مسجد له نوې سره ودانول..... //
ددوو مسجدنو چنده یوځای غونډول..... //
دمسجد په چنده کې دشلورو پووعده کولوورو سته پنځه روپۍ ورکول..... //
۴۹۶
دیوه مسجد دپسې لپاره جمع کړل شوې روپۍ دبل مسجد په اړتیاکې صرفول
دمسجد دد بوال لپاره راجمع کړلې شوې چنده
دمسجد په غسل خانو او حماموکې لګول.....
۴۹۷
دمسجد دد روازولپاره په ورکول شویوروپوباندې منارې جوړول.....
۴۹۸
ومسجد ته دروپوورکولوترارادە وروسته دمسجد پرځای په څاه کې لګول.....
دیوه مسجد چنده دبل مسجد دد وکان په جوړولوکې ورکول..... //
دمسجد دودانۍ لپاره کړې چنده ومسکښانوته ورکول..... //
دمسجد لپاره دوراوالوورکړې روپۍ په هدبره کې لګول..... //
۴۹۹
دمسجد چنده په نورو کارونوکې لګول.....
دمسجد چنده په خیرات ،نذر، مدرسواونوروکې ورکول..... //
ومسجد ته چنده ورکوونکې خپلې روپۍ بیرته اخستلای شي ،که نه ؟..... //
۵۰۰
دامام لپاره دمسجد له چندې څخه څه روپۍ په خپله اړتیاکې کارول.....
په مسجد کې دورکول شویوروپوحقدارڅوک دی..... //
دکافرومسجد ته دصدقې ورکولوشرعًا څه حکم دی..... //
۵۰۱
دمسجد دمبوولیلام اودمشرک دچندې حکم.....
دکمښتۍ آمدني دمسجد په ودانولوکې لګول..... //
۵۰۲
دمسجدلپاره وقف کړې روپۍ بیرته اخستل.....
دانګریزې زدکړه کوونکوومسجد ته چنده ورکول..... //
دغربیانولپاره راغونډه کړې چنده په مسجد کې لګول..... //
په مسجد کې دنامناسبه مال دلګولوبیان..... //

Maktaba Tul Ishaat. com

له خپل اومشترک مال څخه دودان کړې مسجد حکم ۵۰۳

دحج لپاره په جمع کړیوروپوباندې مسجد جوړول

دسرسایې اونوروواجبوصدقوروپۍ دمدرسې په ودانولوکې لګول

دقربانۍ اوعقیقې دځرمنوقیمت اونورې واجبې صدقې په مسجدکې لګول ۵۰۴

دزکوة روپۍ دمسجد په ودانۍ کې لګول .....

دقربانۍ دځرمنوروپۍ په مسجدکې لګول ۵۰۵

دقربانۍ دځرمنوروپۍ دمسجد په اړتیاووکې لګول ..... //

دحکومت په روپومسجد جوړول ..... //

دفوج په سرمایه دجوړشوې مسجد حکم ۵۰۶

دکوم پیرپه نامه دوقف شوې جائدادآمدنې په مسجد یامدرسه کې لګول ..... //

دریااونامه لپاره ورکړې روپۍ په مسجدکې لګول ..... //

دبېلمانځه یاکافردجوړکړې مسجد حکم ۵۰۷

دمزارونوپه آمدنې مسجد جوړول څنګه دی ؟ ..... //

دناروغه پرلاس ترلې اودنذرروپۍ په مسجدکې لګول .....

دقصابانودحلا لولومزدورې په مسجداوهدبره کې ورکول ..... //

دقرض په روپومسجد جوړول ۵۰۸

دجربمې روپۍ په مسجدکې دلګولوحکم ..... //

دنکاح ترلودمزدورې په مسجدکې ورکول ..... //

دبائسکوب (سینما) اوسرکښ په آمدنې مسجد جوړول ..... //

که پرچا دبدکارشک وې دهغه روپۍ په مسجدکې لګول څنګه دي ؟ ..... //

دجاروووهوونکې مسلمان روپۍ په مسجدکې لګول ۵۰۹

دغیږوپه ټکټونولاس ته راتلوونکې روپۍ په مسجدکې لګول ۵۱۰

دشوره دآمدنې روپۍ په مسجدکې لګول څنګه دي ..... //

دهډوکودتجارت په روپوپه ودان کړې مسجدکې لمونځ صحیح دی ۵۱۱

دهندواومسلمان ګډه چنده په مسجدکې لګول ..... //

په حرامورو پورانیولې شیان په مسجد کې ورکول مکروه دي..... ۵۱۲
دګډوډ اوشکمن مال په مسجد کې کارول صحیح نه دي..... //
دحلا لواوحرامورو پودمالک په ودان کړې مسجد کې لمونځ کول..... ۵۱۳
دوهم ځل په حلالورو پودمسجدودودانولوسره مخکښ مرداري لیري کیږي... //
دګډې ،وډې آمدنۍ مالک دااقرارکول چې ما له حلا ل ماله چنده ورکړې ده
اعتبارلري ،که نه..... ۵۱۴
دحرامو ګټه کوونکې روپۍ دمسجد په چنده ورګډول څه حکم لري ؟..... ۵۱۵
په حرامه ګټه رانیولی جائداد دخیرپه کارکې لګول..... //
دمسجد په غسل خانو ، نالۍ ، اونورو کې دحرام دلګولو حکم..... //
دسود په روپو په ودان کړې مسجد کې لمونځ کول..... //
دسود خورپه چنده په مسجد کې جادرونه درول..... ۵۱۶
دسود په قرض له کارکوونکو څخه دمسجد لپاره ډبرې رانیول..... //
دمسجد جائداد درانیولو لپاره دبینګ څخه سود اخستل..... //
دګروپه بدل یادسود په قرض مسجد جوړول..... //
دمسجد په ودانۍ کې دسود دروپو دلګولو حکم..... ۵۱۷
دشرابو په آمدني (عائد) مسجد ودانول..... //
دشرابو دتهکې اخستوونکې دمسجد لپاره خښتې ورکول..... ۵۱۹
دخنزیراونوروتهکه اخستوونکې په روپو دمسجد لپاره پردې جوړول..... //
دغلا حکومتي سامان په مسجد کې لګول..... ۵۲۰
دجرېمې روپۍ په مسجد کې لګول صحیح نه دي..... ۵۲۱
شراب خرڅوونکې چې دکوم مسجد تعمیرنېمګړی پرې اینبی وو
نودده له مړینې وروسته که دده وارثان ومسجد ته هبه کړي..... ۵۲۲
دډمې خپل جائداد و مسجد ته وقفول..... ۵۲۳
دډمې په مال مسجد جوړول..... ۵۲۳
دډمې مال په مسجد اونورود خیرپه کارونو کې لګول..... ۵۲۴

Maktaba Tul Ishaat. com

دډمې پخپله ګټه رانیولی سرای دمسجد دارتیاوولپاره وقف کول..... //

دډمې ودودان کړې مسجد حکم..... ۵۲۵

دزناپه آمدني رانیولی جائداداوګټه مسجدته وقف کول..... ۵۲۷

دزناپه آمدني په ودان کړیومسجدونوکي لمونځ کول څنګه دي..... //

دزناله آمدني اداکړې کرایه په مسجدکې لګول..... ۵۲۸

دنرښځي روپۍ په مسجدیاعیدګاه کې لګول..... ۵۲۹

دهندویابنګي مال په مسجدکې لګول..... //

په مسجدکې دصرف شوې مال مردارکېدل په شاهدانوثابتیږي..... //

دمندر(بتخاني) چنده په مسجدکې لګول..... ۵۳۰

دمسجددکوترو قېمت په مسجدکې لګول..... //

ببله پخولودمردارد څرمنورانیول ،خرڅول اوددا سي تجارت ګټه
په مسجدکې لګول..... //

دبل خښتې ببله اجازې په مسجدکې لګول روانه دي..... //

تمت بالخیر

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد :

دفتاوی دارالعلوم دیوبند دوولس جلده (ټوکه) له ډیروخت څخه شائع اوچاپیریې چې پکې دکتاب الطهارة نه ترکتاب اللقطة پورې مسائل موجوددي خودکتاب اللقطة نه بیامخته دترتیب کاردډیروورځوځخه موقوف (ولاړ) اوبندوو.

اوس حضرت اقدس مولانابدرالدین اجمل صاحب دامت برکاتهم څوک چې ددارالعلوم دیوبند دمجلس شوری رکن اوغړی دی دده دتحریک اودمجلس شوری دنورومعززه غړودتجویزاومشورې په سبب دکتاب للقطة نه مخته دفتاوی دترتیب کاربیاشروع کړل سوچې دهغه تفصیل په لاندي ډول دی ترټولومخکې دحضرت مولانابدرالدین اجمل صاحب دامت برکاتهم په زړه کې داغوښتنه اوطلب پیداسو چې ددارالعلوم دفتاوویونیم سل کلنه ذخیره چې په سلهاووشمېرپه غټو،غټو رجسترونوکې دلبکلوسره ،سره هم محفوظ اوخوندي نه وو،ځکه چې دهغه کاغذونه بیخي زاړه اوخراب سوي دي اوپاڼې یې داسي دیوبل سره ننښتې اوپیوست سوي دي چې دخلاصون نه روسته یې توري اوحروف لوستل بیخي ګران کاردی اودنورخرابېدواودپاڼودخیربدویې یقیناانديښنه وه نوځکه اړتیاودې ته وه چې دنوې تېکنالوجی داسانتیاووپه کومک دغه فتاواوې دکمپوټر

Maktaba Tul Ishaat. com

اوسپډیانو په وسیله محفوظ اوخوندي کړل سي اودانټرنیټ په توسط ددغه فتاوی ګټه اوفائده په عامه خلګوکې دپراخولوهڅه اوکوشش وکول سي : دغه نومورې چې کله خپل دغه دفتاوی دترتیب تجویزاوکاردکومو حضراتواواکابرینوپه مخکې وړاندي کړونوهغو بزرګانوپې حوصله ماته نکړه بلکي دایې ورته وویل چې ورورد دومره غټ اومهم کاربه ته څنګه وکړې ؟ دغه خوډیرباریک ، ځنډمن ، محتاط اودپام لرنې وړکاردی ؟

خیربالآ خرحضرت مولانابدرالدین اجمل صاحب دکمپیوټردشعبې (څانګې) دذموار اومسئول مولاناعبدالسلام قاسمی صاحب اودهغه دشعبې سره ټرون لروونکونورو حضراتو په مخکې دفتاوی دترتیب په باره کې دغه خپل خیالات څرګندکړل اوددوئ نه یې دکومک غوښتنه وکړه څرنګه چې دهغوئ هنراوفن وونوځکه دوئ دمولاناپه دغه اراده اوتجویزباندي ډیرژرپوه سول اوسمدستي یې دهرډول معاونت اوکومک لپاره ډډې راونغښتلې.

ددې نه وروسته مولانا عبدالسلام قاسمی صاحب په ډیرکم وخت کې دنمونې په ډول دوې مجموعې تیاري کړې بیاحضرت مولانابدرالدین اجمل صاحب دغه نمونې مجلس شوری ته وړاندی کړې ددې نه وروسته بیامجلس شوری ددومره غټې منصوبې اجازه ورکړه (ماخوذازمیری مرشدمیری شیخ ص: ۱۲۸، ۱۳۲)

بیاحضرت مولاناغلا م رسول خاموش صاحب کارنده دمهتمم دارالعلوم دیوبنددامت برکاتهم دده په سرپرستي اومشرې اودمولانا عبدالسلام قاسمي صاحب په نګراني کې دوومفتیانودحضرت مولانامفتی عزیزالرحمن صاحب قدس سره پرټولوفتاواووکومې چې په پخوانورجسټرونوکې وي دفقهې دبابونوپه اعتبار یې وړباندي خاص کوډ اونمبرولګول

بیامولانا عبدالسلام قاسمي صاحب په خپله نګراني کې ابواب فقهیه دکوډ
اونمبرسره دفتاواووکمپوټري کتابت اودهغه تصحیح یې ترسره کړه بیاچې
پرکومواباب باندي موږکارکول غوښتل نودهغه ابواب فقهیه پرترتیب باندي
کتابت سوې فتاواوی به یې دکمپوټرڅخه راوایستلې اومورته به یې راحواله کړي.
بیامورږدغه فتاواوې په ځیراوغورسره مطالعه کړي کومې چې مکررې اویانیمګړې
وي هغه موختم کړي اوداشاعت ورفتاواوې موانتخاب کړي بیامودغه منتخب
کړي فتاواوې دزړورجسترونوسره دوهم واربیاوکتلې اوتصحیح مووکړه
اوداوسنیوچاپ سووکتابونوباب ،فصل ومخ ،نمبر،حوالې وغیره موپه تفصیل
سره په حاشیه کې درج کړي ،ځکه-چې دمفتی صاحب په فتاواووکې
دپخوانیومطبعونه دچاپ سوې کتابوحو الې لیکل سوې وي بل داچې په زیاتره
ځایوکې به فقط عربي عبارت وودهیڅ کتاب اوباب حواله به یکي نه وه لیکل سوې
اوهمدارازدمفتی صاحب په فتاواوی کې به زیاتره احادیث شریفه اوآیات کریمه
بیله حوالې درج سوې وومودغه حدیثواوآیاتوحوالې لاندي په حاشیه کې ولیکلې
بل داچې کوم احادیث یکي ناقص اونیمګړې لیکل سوې ووهغه مورږهم پوره
اوکامل په حاشیه کې رانقل کړل چې دعلم وخاوندانوته هیڅ قسم ستړیااو ستونزه
ورپیښه نسي.

ددغوټولوسختروا ومشکلومرحلونه دورتیربدوورسته موانتخاب سوې فتاواوې
په بابواوفصلوباندي مرتبې کړي اوپه کوم ځای کې چې به ضرورت ووهلته به موپه
حاشیه کې دهغه حوالې نقل کړي اوهمدارازدعنوناتواودترقیم

Maktaba Tul Ishaat. com

په علاماتولګولوسره موفتاوی نوره هم ښائسته کړه اوکومې فتاواوې چې په فارسي ،عربي ژبوکې وي هغه موپه اردوژبه ترجمه کړې اودنابلده (غیرمشهور) تورومو هم بین القوسین اویاپه حاشیه کې په مختصرډول وضاحت وکړددې لپاره چې عام لوستوونکې دمفتی صاحب دفتاوی څخه کامله استفاده وکولای سي.

همدارنګه دهرسوال په اخیرکې موبین القوسین سلسله نمبر(پرلیسې نمبر) اوهجري سنه ولیکله اوداڅکه چې دفتاوی دچاپډووروسته که بالفرض کوم ضرورت پېښ سي نوبه په پخوانورجسټرونوکې دغه فتوی په اسانۍ سره کټل کېدای سي.

تردې مخکې مولاناعبدالخالق صاحب سنبهلی اواحقردچاپ سووفتاوی پرځینې جلدو (ټوکو) باندې څه ضمیمې اوتحریرونه لیکلې وو په هغه وخت کې چې هم دځینوفتاواوود پخوانیورجسټرونوسره دکټلواویوځای کولوضرورت پېښ سوی ووخوله ډیرې پلټنې وروسته هغه فتاواوې موربه پخوانیورجسټرونوکې وموندلې چې بیاداسي ستړیاوچاته ورپېښه نسي نوځکه موربدهرسوال په اخیرکې سلسله نمبردسنه هجری سره ولیکل دغه ټول کارونه احقرمفتی مصطفی امین پالن پوري اومفتی محمدمبین حیدرآبادی په همکاری اومعاونت ترسره کړل ددې وروسته احقردغه منتخب کړل سوې ټولې فتاواوې ښه په ځیراوغورسره وکتلې چې په کومه فتوی کې به احقرته شک راتلی نوهغه به مولهپخوانورجسټرونوسره وکتله اوسمه به موکړه دادې لپاره چې په فتاوی کې څه کمبود اوتاوان پاته نسي الغرض احقراوداحقرهمکارانودفتاوی ددغه جلد(ټوک) تصحیح وکړه اودفتاوی دنورښه خوندورجوړولوکوشش موکړی دی

بیاهم که چیري کوم چاته څه غلطي پکي ښکاره سوه نومورډپي په هغه باندي خبروي چي په دوهم وارچاپ کې يې تصحيح وکولای سي ليکن داخبره دې هم په يادلري چي دکومونومطبوعه چاپ سووفتاواووحوالې مورډپه حاشيه کې ليکلې دي دهغوپه ځينوخايونوکې غلطياني سته نومورډقديمي (پخواني) نسخې اوداصل مراجع سره وکتل څوخايه مودعبارتونوتصحيح وکړه کله چي دفتاوی دغه ټوک تيارسونوزمادورور محترم حضرت مولانامفتی سعيداحمد پالنپوری صاحب شيخ الحديث اوصدرالمد ر سين ددارالعلوم دېوبنددامت برکاتهم په خدمت کې موړاندي کړکوم.څوک چي دفتاوی دترتيب علمي سرپرستي اومشري کوي هغه نومورې دامکمل ټوک په ډيرغورسره له اوله واخلي ترپايه پوري وکوت دنومورې دکتلواوتصويب کولووروسته اوس دغه ټوک شائع اوچاپيږي.

په اخيرکې مورډشوری دټولوغړواوارکانوخصوصادحضرت اقدس مولانامرغوب الرحمن صاحب مهتمم ددارالعلوم دېوبنداودحضرت مولانابدالدرين اجمل صاحب دامت برکاتهم دزړه له کومي شکريه اداکووچي ددغوحضراتومبارکوکوششونوپه برکت دفتاوی دترتيب کاربياپيل سوهمدارنګه مورډحضرت مولانا غلارسول خاموش صاحب کارنده (کارکوونکې) دمهتمم ددارالعلوم دېوبنداودحضرت مولاناعبدالخالق صاحب مدراسي نائب مهتمم ددارالعلوم ديوبندهم ډيرشکرويوونکې يو ،ځکه چي دفتاوی دترتيب په کارکې چي به کله هم څه انتظامي ستړيا اومشکل راتلونودغوحضراتوبه دهغه دليری کولوپوره هڅه اوهاندکاوو(الله تعالی دې ددوئ په عمرونوکې برکت واچوې اوددوئ دمهربانۍ اوسرپرستۍ په سايه کې دې دغه کارترتکميل کېدوپوري ورسوي امين يارب العالمين (محمدامين پالنپوری غفرله استاذحديث وفقه دارالعلوم دېوبند/ ۲۰ذی الحجة سنه ۱۴۲۹هج دجمعې ورځ

Maktaba Tul Ishaat. com

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب الشركة والقسمة

دشراكت اووښ بيان

په سوداګري کي له نارښه ووسره دښځوشراکت صحيح دی

سوال: (۱) دسوداګري په معامله کي له نارښه ووسره دښځوشرېکېدل څنګه دي ؟ (۷۲۵/ ۱۳۳۸هج)

خواب: صحيح دی(۱)

دشراکت دکارپه آمدني کي دواړه شرېکان برابره برخه لري

سوال: (۲) دوه کسان په لار کاس کوونکي اودوکاندارن دواړه شرېکان دي يوبل خای کارکوي اوبل يې پرکورکوي پرکوردکارکوونکی په آمدني کي څومره برخه جوړيږي(۲۸۵/۱۳۳۴هج)

خواب: ددواړوحصه برابره ده(۲) فقط.

---

(۱) اماالشرائط العامة فانواع منهااهلية الوكالة (بدائع ۵/ ۷۷شرائط الشركة) وفيه فی بيان شرائط الوكالة واماالذی يرجع الی الوكيل فهوان يكون عاقلا (بدائع ۵/ ۱۶كتاب الوكالة)

(۲) وحكمها الشركة فی الربح (الدرالمختارمع الرد۳/ ۳۶۹كتاب الشركة مطلب شركة العقدط رشيديه كوئٹه)

دشراکت په کارکې که کومه تېکه دیوه په نامه وي
نوهم بل دنیمي ګټې حقداردی

سوال : (۳) زیداوبکرپه شریکه کاروبارشروع کړاونیم ، نیم ددواړومقرر شوخویوه تېکه داسي وشوه چې دهغې اقرارصرف دبکرپه نامه شوی وواوزیدپه بکردباورکولوپه وجه دده په نامه تېکه پخه کړې وه اودزیداوبکر ترمینځ دااقراروچې ګټه به نیمه وي خودیادشوې تېکې نیمه ګټه بکروزید ته له ورکولوڅخه انکارکوي شرعًا زیددغې ګټې حقداردی ،که نه ؟ (۱۲۰۷/۱۳۴۰هج)

خواب : په دې صورت کې زید شرعًا دنیمې ګټې حقداردی(۱) فقط

که یوشریک کارنه کوي اماګټه برابره اخلي نوهم شراکت صحیح دی

سوال : (۴) دزیدسل (۱۰۰) روپۍ دي اودبکرشل دواړوویل چې فلانی تجارت کوو په ګټه اوتاوان کې سره نیمی یواوزیدوویل چې زه به په دغه تجارت کې هیڅ کارنه کوم دامعامله شرعًا څنګه ده ؟ (۱۲۲۴/ ۱۳۳۹هج)

خواب : داصورت دشراکت صحیح دی کمافی عامة کتب الفقه(۲) فقط.

دشراکت په کارکې لږکارکوونکي ګټه څومره جوړیږي اوهغه
له خپلې ګټې څخه زیات کارکوونکي ته څه ورکولای شي

سوال : (۵) زید ،عمر، اوبکردرې سره په ګډه تجارت پیل کړزید پنځویشت زره روپۍ په دې شرط وعمراوبکرته ورکړې چې تاسودواړه

---

(۱) وحکمها الشرکة فی الربح (الدرالمختارمع الرد۳/ ۳۶۹کتاب الشرکة مطلب شرکة العقدط رشیدیه .(۲) قوله : ومع التفاضل فی المال دون الربح ای بأن یکون لاحدهماالف وللآخر الفان مثلا واشترطاالتساوی فی الربح قلت : والظاهران هذامحمول علی مااذاکان العمل مشروطا علی احدهما (ردالمحتار۳/ ۳۷۳ کتاب الشرکة ، مطلب فی توقیت الشرکة روایتان .

تجارت کوي کومه ګټه یاتاوان که وشی هغه به پرځلوربرخې وي دوې برخې دزید ، یوه برخه دعمراویوه دبکردتجارت پرمهال دعمراوبکرترمینځ ددې خبرې هیڅ شرط

Maktaba Tul Ishaat. com

نه وومقررشوی چې دتجارت کاربه دواړه برابرکوي یاکم اوزیات عمرپوره درې کاله تجارت وکړاوبکرپه درې کاله کې صرف اووه میاشتې کاروکړنوبکردپوره څلورمې حقداردی ،که نه ؟ که بکرله خپلې برخې وعمرته څه ورکړي نوصحیح دی ،که نه ؟ خودبکرپخپله ټوله ګټه کې دانیت دی زماپه برخه چې څومره ګټه وي له هغوئ څخه له خپلواړتیاووپرته ټولې روپۍ په مکه معظمه کې صرف کوم نوپه دې صورت کې بکروعمرته له خپلوروپو څخه څه ورکولای شي ،که نه ؟ فقط (۱۲۱۰/ ۳۳ - ۱۳۳۴هج)

خواب : په دې صورت کې بکردپوره څلورمې برخې حقداردی خوکه دی پخپله خوښه وعمرته له خپلې حصې څه ورکړي نوصحیح دی اوددې نیت له امله چې به مکه معظمه کې به روپۍ لګوم دغه ما ل دبکرله ملکه خارج نه شوبکرچې څنګه وغواړي تصرف پکې کولای شي اوچاته چې وغواړي ورکولای یې شي(۱) فقط.

دماشین دمالګ سره دګنډلوپه کارګې شریکېدل

سوال : (۲) ابوخان دجاموګنډلوماشین له سنګرکمپنۍ څخه په یوسل اویارویې په پورواخست دمیاشتې دپنځوروپو په حساب ۹۰روپۍ یې وکمپنۍ ته وراداکړي نورې ده نه شوای اداکولای ،ځکه چې کارته راتلل بندشودمجبوریت له امله دیوتاجرسره په ۵۵روپۍ ماشین په ګروکیښودی زیداوعمرده ته وویل چې که ستاسوخوښه وي چې دجاموګنډلوکاربه موږاوتاسوتول په ګډه کووخوله آمدني څخه به په روپۍ کې شپږآنې په مزدوري کې موږته راکوئ نوموږبه ۵۵روپۍ ورکړوماشین به راخلاص کړودهغه خوښه شوه زیداوعمردروپوپه ورکولوماشین راخلا ص کړاوابوخان له دوئ سره دروپو دادینې په اړه دیوه کال وعده وکړه اوورسره یې داشرط کېښودچې که مې په یوه کال کې روپۍ درادانکړي نوماشین

---

(۱) لکن هذامقیدبان یشترط الاکثرللعامل منهمااولاکثرهما عملاامالوشرط للقاعد اولاقلهما عملافلایجوز(ردالمحتار۳/ ۳۷۳،کتاب الشرکة مطلب فی توقیت الشرکة روایتان)

به دزیداوعمرملک ګډل کیږي اوس دري سره کسان په ګډه دجاموګندلوکارکوي اوپه روپۍ کې شپږآنې دوعدې سره سم زیداوعمرپه مزدوري کې اخلي دغه اخستل روادي ،که نه / (۲۷۷/ ۱۳۴۰هج)

خواب : دارنګه شراکت کول صحیح دی چې ماشین دیوسړی وي بیاهغه دماشین مالک اونورخلګ په دې ګډلوکارکوي اوددوئ له ویناسره سم په ګټه کې ټول شریکان وي خو دغه خبرې کومې چې په دې کې شرط ګرزول شوې چې موږماشین په دې شرط درراخلا صووالخ یاداچې که دی تریوه کاله پورې روپۍ ادانکړي دماشین ستاسودی داباطل شرطونه دي داسي نه دي کول پکاراوددغوشرطونوله امله اصل معامله هم خرابیږي ،ځکه دغه شرطونه حذفول پکاردي(۱)

په شراکت کې درانیول شوې جائدادحکم

سوال : (۷) عمراوزیدپه ګډه یوجائدادرانیوی زیدښه شتمن اومالداردی اماعمرناوسه اوناداره دی دجائدادروپۍ زیدورکړي دزیدترمرګ وروسته دزیدوارثان له دغه جائداد څخه نیمه برخه دعمرځخه اخیستل غواړې عمروایې چې زیدبیشکه زماشریک ووخود جائدادروپۍ ماادا کړي دي ستاسوپه دې جائداد کې هیڅ حق نشته اودزیدوارثان وایې چې که روپۍ زموږمورث نه وي ورکړې نوهغه روپۍ اوس موږدرکوومورته نیم جائداد راکړه اودزیدله مړینې تراوسه پورې چې کومه ګټه شوې ده هغه تاسومورته راکړئ دشرعې له مخې څوک پرحق دی ؟ (۲۸۹/ ۱۳۳۵هج)

خواب : کله چې زیداوعمردواړه ددې جائدادرانیوونکي دي نودوئ دواړه نیم په نیمه شریکان دې اوله دوئ وروسته ددوئ وارثان ددوئ خای ناستي دي .ځکه نودزیدد وارثانووینااوغوښتنه شرعاً صحیح اوحق ده فی ردالمحتار(قوله ولزمه نصف الثمن)بناء علی ان مطلق الشرکة یقتضی التسویة الخ(۲) فقط واللہ تعالی اعلم.

---

(۱) حیاط ،وتلمیذاشترکافی الخیاطة علی ان یقطع الاستاذالثیاب ویخیط التلمیذوالأ جربینهما نصفان..... ینبغی ان تصح هذه الشرکة (فتاوی هندیة ۲/ ۳۳۱قبیل الباب الخامس فی الشرکة الفاسدة) وفیه : الشرکة تبطل ببعض الشروط الفاسده (هندیة ۲/ ۳۳۵) (۲) الشامی : ۳ / ۳۸۵، کتاب الشرکة ، فصل فی الشرکة الفاسده ط رشیدیه .

Maktaba Tul Ishaat. com

دشراکت روپی که لږیاډیروي نوګټه اوتاوان به څنګه تقسیموي

سوال : (۸) دوه کسان په تجارت کې شریکان دي یوشریک دنه خلا صون له امله دوه چنده روپی ورکوي اوبل شریک یوه حصه روپی اودیوې برخې په دبدل دتجارت دکارذمواري اخلي په داسي صورت کې که تاوان وشي نوشرعًا به څه حکم وي ؟(۱۳۴۱/۲۲۹۹هج)

ځواب : دشراکت روپی که کمې اوزیاتې وي اوله ګټې نه دلږوروپیوورکوونکې برخه زیاته اودزیاتوورکوونکې برخه لږمقرره شي نوداهم صحیح دی اوپه ګټه اوتاوان کې به دواړه شریکان وي دنقصان په صورت کې دزیاتوروپیوورکوونکې په ذمه زیات تاوان اودلږوورکوونکې په ذمه لږزیان راځي لنډه داچي تاوان داصل برخې سره سم راځي(۱)

تاوان پرټولوشریکانودخپلوبرخوسره سم راځي

سوال : (۹) عبدالغفورله فضل احمدځخه دپټاټو(الوګانو) دتجارت لپاره یوزرځلورسوه روپی اوله محمدیحیی ځخه اووه سوه روپی واخستې وروسته عبدالغفوردفضل احمداومحمدیحیی په اجازه خپل مامامحسن شریک کړاوپخپله عبدالغفوراویاروپی اومحسن ۲۱۵روپی په دې تجارت کي ولګولې ددووزرواووه سوه پنځه اتیا(۲۷۸۵) روپومال راوړل شودځه مال له خرڅبدووروسته محسن دنورمال دراوړلولپاره عبدالغفور ولیږی دسودالله روپوځخه یې ۸۱۵روپی ورکړي اودځلوهښتوپنځوسومنورانیولووینا یې ورته وکړه عبدالغفورفکروکړچي شپېته منه به واخلم هسي داورګاډي کرایه هم راځي اوروپی هم ډیرې دي عبدالغفورله فضل احمدځخه پوښتنه وکړه چې ستاځنګه خوښه ده ؟ هغه ورته وویل چې څومره مناسب وي اوچې په څومره ګټه وشي هغومره راوړه په هم دې وجه عبدالغفورشپېته منه راوړوخوله خرڅلووروسته ۳۹۹روپی .لس آنې اوشپږپیسې تاوان وشواوس محسن وایې چې دغه وروسته شپېته منه مال چې راغلی په دې کې زه شریک نه یم ،ځکه چې زمونږ

---

(۱) وفی الدرالمختار: والربح علی ماشرطا قال الشامی وقیدبالربح لان الوضعیة علی قدرالمال وان شرطاغیرذلک (۳/ ۳۷۵کتاب الشرکة مطلب : فی تحقیق حکم التفاضل ط رشیدیه) الشرکة روایتان .

له ورښوولې مقدار څخه زیات راوړل شوحال داچې محسن پخپله خوښه عبد الغفور لیږلی وواوس محسن ۵۷۸روپۍ نغدې وصول کړې تاوان پرتولوراځي ،که نه ؟ اوپرمحسن دهغه کورکرایه راځي په کوم کې چې مال خرڅ کړل شو ،که نه ؟ ،څکه چې له تاوان وروسته چې څومره ومحسن ته رسېدل پکارووذه له هغه نه دومره زیاته برخه اخستې ده چې دسرای کرایه اداشي شرعًا څه حکم دی ؟(۱۳۴۰/۸۱۱هج) څواب : دبرخوپه اندازه پرتولوشریکانوتاوان راځي (۱) اوددغه سرای تولې کرایه پرمحسن اچولای شي فقط.

دګټې اوتاوان په اړه دشریک بیان په قسم سره معتبردی

سوال : (۱۰) نورمحمداوابراهیم په برابره حصه دکپړویودوکان خلا ص کړی ، په پیل کې دنورمحمد۳۵۰روپۍ اودابراهیم صرف ۹۰ روپۍ وې ابراهیم به له تجارانوڅخه مال راوړی اودواړوبه خرڅاووروسته ابراهیم بل خای ته مال وړی اوهلته یې خرڅاوی څومره مال چې به یې یووړی په هغه کې به یې دخرڅ شوې مال روپۍ راوړې اودنورپه اړه به یې داوینا کوله چې هلته مال پروت دی ترڅوورځو پورې یې همداسي کول وروسته څه مال اوڅه روپۍ له هغه ځایه بیرته راوړې څلورنیم زره روپۍ ابراهیم پتې کړې دپوښتنې په څواب کې یې دنا ځبرتیاڅرګندونه وکړه له دې وروسته تجارانوله ابراهیم څخه دخپلوروپو غوښتنه وکړه ده په څواب کې ورته وویل چې زماسره هیڅ نشته ټول نقصان شووروسته یې له دوکان څخه دنورمحمددایستلوفکروکړ اوپرپاتې مال یې پخپله قبضه کول وغوښته کله چې نورمحمدپه خبرشونوهغه ددووتجارانوقرضه په پاتې مال اداکړه دنوروتجارانوتراوسه پاتې ده په دې صورت کې عندالله پردواړودروپیوبرابراداکول واجب دي ،که کم اوزیات ، یاکه یواځې پریوه دي ؟(۱۳۴۵/۸۵۱هج)

څواب : په شراکت کې شریک امین وي اوپه ګټه اوتاوان کې دده قول معتبروي کمافی الدرالمختار: وهوای الشریک امین فیقبل قوله بیمینه فی مقدارالربح والخسران والضیاع والدفع لشریکه(۲) ،څکه نودګټې اوتاوان په اړه چې دابراهیم کوم بیان دی هغه په

---

(۱) مخکنی حواله. (۲) الدرالمختارمع الشامی ۳/ ۳۷۹ کتاب الشرکة ، مطلب القرمقدارالربح ثم ادعی الخطاء .

Maktaba Tul Ishaat.com

قسم اخستلوسره معتبريږي اوتاوان پردواړوراځي اودقرضوورکوونکوغوښتنه صرف له ابراهيم څخه کيږي کله چې له دوئ سره معامله کوونکی ابراهيم وواوپه عقددشرکت کې يودبل کفيل نه وګرځېدلې بيابه ابراهيم ددې نيم له نورمحمد څخه اخلي قال فی الدرالمختاروالربح علی ماشرطا .....ويطالب المشتری بالثمن فقط لعدم تضمن الکفالة الخ قال المحقق الشامی :هذااذا لم يذکرالکفالة الخ (۱) فقط

دشراکت له مال څخه ديوه شريک دخپلې اړتيالپاره روپۍ لګول اودلږروپۍ ورکوونکې برخه

سوال : (۱۱) درې کسانوپه ګډه تجارت وکړاويوه شريک دنوروشريکانوپه رضاڅه روپۍ پرواده ولګولې آيادغه روپۍ ځيني وزي ،که نه ؟ دغه رنګه دنومورې وفات شوې برخه دشراکت په وخت خوکمه وه ،ځکه دميراث دوښ پرمهال داپه پام کې نيول ضروري دي که په برابره طريقه سره تقسيم شي ؟ (۱۳۴۵/۴۵۱هج)

ځواب : دشارکت له روپوڅخه چې کوم شريک زياتي روپۍ صرف کړې وي هغه ضرور ځيني وځي بياکه ټوله شريکان په ګټه کې برابرشريکان وونودرأس المال په کمښت دچادګټې په برخه کې کموالی نشي کېدای اوکه ګټه درأس المال په مقدارمقرره شوې وه نودهغه سره سم به عمل کيږي يعنی دوفات شوې چې ځومره وندې وه ګټه به هم په هماغه حساب شميرل کيږي لنډه داچې دشراکت عقدچې په کوموشرطونوشوی وواوس دتقسيم پرمهال به دهغه سره سم عمل کيږي (۲) فقط والله تعالی اعلم.

سوال : (۱۲) درې کسانودشرعي سره سم تجارت وکړاوله مشترک مال څخه يوه شريک دخپلې اړتيالپاره روپۍ مصرف کړې نودغه روپۍ به دده په حصه کې ورشميرل کيږي ،که نه ؟ که شميرل کيږي نودغه دين اودمهردين دواړه دترکې له تقسيم څخه مخکې دي ،که نه ؟ اوپه دغودواړوپورونوکې ددې وحقدارانوته ددوئ دبرخوسره سم چې کومه ګټه راځي هغه به هم ورکول کيږي که صرف ددوئ دپورپه اداکولوچې کومې روپۍ پاتې دي چې پکې ګټه هم شامله ده وارثان يې پخپل مينځ کې تقيسمولای شي ؟ (۱۳۴۵/۴۹۳هج)

ځواب : کوم څه چې دغه شريک دخپلې اړتيايعنی دلورپه واده کې ولګولې هغه دده په حصه کې شميرې کيږي

---

(۱) الدرالمختارمع الشامی ۳/ ۳۷۵ کتاب الشرکة ، مطلب فی تحقیق حکم التعاضل (رشيديه کوئته .

(۲) قاعده : الشرط لماصح وجب الوفاء به شرعًا (قواعدالفقه : ۸۵شرح السير۳/ ۲۹۶) وبه يلزم مراعاة الشرط بقدرالامکان (قواعدالفقه : ۱۴۳)

وکه په ګڼه کي دومره ګنجانش وي نودده دبرخې دګټې څخه به وزي اوکه په نفع اونوروشریکانوته به دومره ګټه ورکول کیږي ګواکي نفع به تقسیم شي اوکه په نفع کي دومره ګنجانش نشته نوله اصل څخه به کمول کیږي یعنی دده روپۍ به کمي شي او دادسې نه دی بلکي ده له خپلې ګټې یااصل څخه کم واخیست(۱) فقط

په مشترک جائدادکې دشریکانوبې اجازې تصرف کول

سوال: (۱۳) له نیکه نه په پاتي شوې جائدادکې څوکسان شریکان دي که له دوئ څخه کوم شریک دځاني اړیکوپربنسټ ویوغیرحقدارته ددغه جائدادکومه برخه ورکړي نوشرعاًڅه حکم دی ؟اودورکوونکې له وندې څخه به دغه حصه وزي ،که نه ؟(۱۵۸۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: بېله تقسیمه په مشترک جائدادکې ویوه شریک ته دهیڅ قسم تصرف اختیارنشته خوکه نوردې اجازه وکړي چي هغه خاص حصه ددغه شریک په برخه وروشمیري نوداتصرف رواکیږي اودغه حصه دده په تقسیم کې ورلګول کیږي.(۲)

دنوروشریکانوله اجازې پرته دسرای جوړول

سوال: (۱۴) بکروایي چي مادیوه سرای په جوړولوکې درې سوه روپۍ صرف کړي خوددغوروپولګول څرګندنه دي نه بکردنوروشریکانوپه اجازه دغه روپۍ لګولې دي په داسي حال کې بکردخومره روپیوله نوروشریکانوڅخه غوښتنه کولای شي ؟ آیادخپلې دعوی سره سم دټولوروپیو حقداردی که په موقع داندازې کولوچي ثابتي شي هغومره روپۍ ؟(۱۲۷/۳۵ - ۱۳۳۲هج).

---

(۱) وما اشتراه احدهم لنفسه یکون له ویضمن حصة شرکائه من ثمنه اذادفعه من مال المشترک (ردالمحتار۳/ ۳۷۰. کتاب الشرکة . مطلب: فیمایقع کثیراط رشیدیه) واعدالفقه

(۲) فکل منهمااجنبی فی نصیب الآخرحتی لایجوزله التصرف فیه الابأذن الآخرکغیر الشریک لعدم تصمنهاالوکالة (مجمع الانهرکتاب الشرکة۲/ ۵۴۳ .دارالکتب العلمیة ،بیروت).

Maktaba Tul Ishaat. com

دنوروشرېکانوله اجازې پرته په مکان کې ودانۍ جوړول

سوال: (۱۵) بوسرای چې پکې پنځه کسان پرابره وندې لري یوه شرېک دنوروځلورو په نه شتون کې دبام پرسرپخپلو پیسو یوه کوټه جوړه کړه شرعًا ددې څه حکم دی؟ (۸۸۵ ۱۳۴۲هج)

ځواب: په دې صورت کې چې کومه کوټه دغه شرېک دنوروشرېکانوله اجازې پرته جوړه کړې ده په دې کې ټول شرېکان حقداران دي اودغه دبام دسرکوټه هم داصل مکان په څیردپنځوسره ووشریکانوترمینځ شرېکه ده اومصرف کوونکې له نوروشرېکانوڅخه دهغوئ دحصې روپۍ هم نشي اخستلای بلکې دی متبرع (احسان کوونکی) بلل کیږي کمافی الشامی: ان الشریک اذالم یضطرالی العمارة مع شریکه الخ فهومتبرع الخ(۱) فقط.

سوال: (۱۲) نوې ودانۍ کومه چې یوه دنوروشرېکانوله اجازې پرته پخپلوروپوپه مشترک ځای کې ودانه کړې وي دچاده؟ دودانوونکې اوکه دټولوشرېکانو؟ (۱۰۰۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: نوې ودانۍ کومه چې یوه شرېک دنورولە اجازې پرته جوړه کړې وي دهغې په اړه په شامی کې داسې تفصیل راغلی دی والذی تحصل فی هذالمحل ان الشریک اذالم یضطرالی العمارة مع شریکه بان امکنیة القسمة فانفق بلا اذنه فهومتبرع وان اضطرو کان الشریک یجبرعلی العمل معه فلابدمن اذنه اوامرالقاضی فیرجع بماانفق والافهو متبرع وان اضطروکان شریکه لایجبرفان انفق باذنه اوبأمرالقاضی رجع بماانفق والافلا التوبمة الخ(۱) فقط (ددې عبارت حاصل دادي چې که یوشرېک دبل شرېک سره په وداني کولوکې مضطراومجبوره نه وي مثلا سرای دومره غټ دی چې تقسیم پکې کېدای شي) بیاهم یوشرېک دبل شرېک له اجازې پرته په سرای کې ودانې وکړه نوودانوونکی له خپل شرېک څخه هغه دونډې خرڅ نشي اخستلای ،ځکه چې دی متبرع اواحسان کوونکی دی اوکه یوشرېک ودانولوته اړاومجبوردی اودوهم شرېک دده سره پرودانولو شرعًا مجبورولای شي نوددې دوه صورته دي لومړی صورت دادی چې یوشرېک دبل په اجازه یاپه امردقاضی په مکان کې.

---

(۱) ردالمحتارعلی الدرالمختار ۳/ ۳۸۹ مطلب فی الحائط اذاخرب کتاب الشرکة ط رشیدیه

وداني کړې وي نوودانوونکی له خپل شړېک څخه دده دوندې خرڅ اخستلای شي
اودوهم صورت دادی چې یوه شړېک دبل له اجازې پرته یادقاضی له امره پرته په
سرای کې تعمیرکړی وي نوتعمیرکوونکی له خپل شړېک څخه دده دحصې خرڅ
نشي اخستلای ،ځکه چې ودانوونکی وقاضی ته په عرض کولوخپل شړېک
پرودانولومجبورولای شو بیاهم ده داسي ونکړل ،ځکه دی په دغه ودانولوکې
مضطرنه شوبلکي متبرع اواحسان کوونکی شو.
اوکه یوشړېک په تعمیرولومضطراودوهم شړېک شرعًا نشي مجبورولای نوددې
هم دوه صورتونه دي لومړی صورت دادی چې یوه شړېک دبل په اجازه یاپه
امردقاضی په سرای کې وداني کړې وي نوودانوونکی له خپل شړېک څخه دهغه
دوندې خرڅ اخستلای شي دوهم صورت دادی چې یوه شړېک دبل شړېک له اجازې
پرته یادقاضی له امره پرته په مکان کې وداني کړې وي نوودانووکی دبل شړېک
څخه دهغه دبرخې خرڅ نشي اخستلای بلکي دهغه دحصې قیمت به اخلي ،ځکه چې
دی متبرع اواحسان کوونکی نه بلکي دخپل مال دخوندي کولوپه خاطرپه
ودانولوکې مضطردی ۱۲محمدامین پالنپوری)

دنوروشړېکانوپه اجازه سرای ودانول

سوال : (۱۷) دیواراخانې بیعې مکان ووچې پکې درې کوټې اویوه کوچنی
اشپزخانه وه دریوکسانوپه کې وندې لرله وروسته یوه شړېک دنوروپه اجازه له نورې
سره دغه سرای ودان کړاوددروپرځای یې لس کوټې اویوه اشپزخانه جوړکړل اوس
هغه دواړه شړېکان خپله ، خپله وندې غواړې ایادواړه شړېکان به خپله ،خپله برخه
څنګه اخلي ؟ دمخکني حالت له حسابه که دموجوده حالت سره سم ؟ هغه دواړه
شړېکان بل ځای استوګنه کوي خوددوئ په اجازه سرای ودان شو(۱۲۷۱/ ۱۳۳۸هج
)

خواب : دغه سرای ددریوسره شړېکانودی اوکله چې دنوروشړېکانوپه اجازه ودان شوی
دی ،ځکه دودانولومصرف پرټولوشړېکانودخپلوونډوسره سم راځي کمافی
الدرالمختار: والضابط ان کل من اجبران یفعل مع شړېکه اذافعله احدهما بلا اذن
فهومتطوع والالا الخ(۱) اوپه شامی کې دي: بخلاف ماذاکان مرهبالانفاق

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۳۸۸) کتاب الشرکة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

غیر مضطر وکان صاحبه لایجبر کداریمکن قسمتها وامتنع الشریک من العمارة فانه لایجبر فلوانفق علیهاالآ خربلا اذنه فهومتبرع الخ (۱) نودبلا اذنه له قید څخه معلومه شوه چي که ودانول دنوروشریکانوپه اجازه وي نوخرڅ پردوئ هم راځي وټول شریکان به مالکان وي فقط.

دځینې شریکانولپاره له ګټې پرته تنخاه مقرروول صحیح نه دي

سوال: (۱۸) په یوه دوکان کې پنځوکسانوزید، بکر، خالد، جعفر، اوامین ونډه ونیوله چې پکې زیداوبکرغټې ونډې لري اونورکوچنۍ ونډې خوددغودریو شریکانویعنی خالد، جعفراوامین دونډوګټه چې ددوئ ومحنت ته وګورې کفایت نه کوي، ځکه زیدغواړي چې له ګټې پرته وخالدته دمیاشتې څلورسوه اووجعفراوامین ته دوه نیم، دوه نیم سوه روپۍ په میاشت کې له دوکانه ورکوي داسې کول شرعًا څنګه دي؟ (۲۴۳۳/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي: (وشرطها) ای شرکة العقدکون المعقودعلیه قابلا للوکالة الخ وعدم مایقطعهاکشرط دراهم مسماة من الربح (لاحدهما) الخ (۲) دذکرشوې عبارت له آخرنۍ جملې کشرط دراهم مسماة الخ څخه معلوم شوچې دغه صورت دځلوروسوو اونوروورکولوشرعًا صحیح نه دی اوپه دې سره شراکت پرځای نه پاتیږي اوشرکت فاسدیږي فقط.

له مشترکې ترکې څخه خوراک اومصرف کول څنګه دي

سوال: (۱۹) دوه ورونه دي یوبالغ اوبل نابالغ، مال ددواړوشریک دی له دې څخه خوراک اوخرڅ کول څنګه دي؟ (۱۸۱۲/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: مشرورورته پکاردي چې کوم څه له مشترک مال څخه پخپله مصرف کړي هغه ده پخپل حساب کې ولګولې اوحساب دي لیکي نوبیاله دې څخه دنورولپاره کوموته چې دی خوراک ورکوي خوراک صحیح دی فقط.

سوال: (۲۰) یوشخص دیوشرېفي کورنۍ څخه دی پلاربې وفات شوی دی دی

---

(۱) الشامی (۳/ ۳۸۸) کتاب الشرکة، مطلب مهم: فی ما اذا امتنع الشریک من العمارة ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختارمع الرد (۳/ ۳۶۹)، مطلب شرکة العقد، کتاب الشرکة ط رشیدیه.

درس ویل غواړي څه عربي کتابونه يې ویلې هم دي خوبشپړول غواړي اودهمدغه نومو ړي دوه ورونه دي کوچنیان یوددرهیو ،څلورو کالودوهم دځلور ،پنځو کالودی اوس دغه سړی شرعي فتوی غواړي چې له مشترک مال څخه کوم چې ددوئ له پلاره په میراث کې پاتې شوی دی چې ورپکې دغه دوه ماشومان ورونه هم وندې لري وړاندې له وېښه دخپلې زدکړې لپاره مصرفولای شي ،که نه ؟که يې وروسته له تقسیمه صرف کړي (۱۳۴۱/۳۲۲۰هج)

ځواب : دغه صورت روادی چې دی مخکې له وېښه دمعلم اونورودتنخوالپاره له ترکې څخه ترخپل خرڅ زیاتې واخلي خودغه حساب لیکل پکاردي ترڅوپه راتلونکې کې دحساب پرمهال دغه زیاتې روپۍ پرځان وشمېري پردغوماشومانوپسې يې حساب نکړي.

په مشترک تالاب کې داچول شویوماهیانوحکم

سوال : (۲۱) په یوه تالاب ډیرشریکان دي ټولوشریکانوماهیان رانیول یايې له کومه ځایه ونیول دټولوبرخې سره برابرې دي په دې تالاب کې يې واچول که کوم شریک له دغه تالاب ماهی ونیسي نودابه ټول وندې لروونکې دخپلوبرخوسره سم وېشي ،که نه ؟(۱۳۳۷/۲۵۸۵هج)

ځواب : ټول شریکان مالکان دي پرټولوبه يې برابروېشي (۱)

په مشترک تالاب کې دځینوشریکانودپرېښوول شویوماهیانوحکم

سوال : (۲۲) په یوه تالاب څلورشریکان دي دووپکي ماهیان اچولې دي نوکومودووچي پکي نه دي اچولې هغوئ که ماهیان ونیسي نودهغوئ لپاره خوراک جائزدی ،که نه ؟(۱۳۴۳/۱۴۵۲هج)

ځواب : کوم شریک چې ماهیان په تالاب کې اچولې دي دټولوماهیانومالک هغه دی.

---

(۱) فاذاکان سعیهم واحداولم یتمیزماحصله کل واحدمنهم بعمله یکون ماجمعوه مشترکابینهم بالسویة وان اختلفوافی العمل والرأی کثرة وصوابا (ردالمحتار (۳/۳۷۰) طرشیدیه ،کتاب الشرکة ، مطلب فیمایقع کثیرافی الفلاحین) وفی الشامی: والربح فی شرکة الملک علی قدرالمال (۳/۳۷۲) طرشیدیه ، کتاب الشرکة ، مطلب اشترکاعلی ان مااشتریامن تجارة.....)

Maktaba Tul Ishaat. com

نورشریکانوته ددوئ دنیولویاتصرف کولوحق په یادشوي صورت کې هیڅکله نشته کمامرفی الشرکة الفاسدة ففی الدرالمختارکمالودفع لرجل دابة لیوجرهاوالاجربینهما فالشرکة فاسدة والربح للمالک الخ (۱) هوکه نورشریکان په دې کې دماهیانووپالنې ته خندشي نوبایدپه راتلوکې په تالاب کې دماهیانواچوونکې ددوئ له اجازې پرته ماهیان ونه اچوي خودشریکانولپاره ددغه مملوکه ماهیانوخوړل په هیڅ ډول روانه دي (۲)

په مشترکه مځکه کې پخپله دراشني شویوونومالک ځوک دی

سوال: (۲۳) په مشترکه مځکه کې چې کومې ونې پخپله راشني شوې وي که مبوه داره وی اوکه نه ددوئ مالک به دمځکې خاوندوي که عام خلک؟ (۷۱۲/۱۳۴۰هج)

ځواب: دمځکوخاوندان ددغوونومالکان دي.

دوښل شوې مځکې په حاصل کې دشراکت حکم

سوال: (۲۴) زیداوعمرچې په یوه وخت کې یې ترخیل مینځ دمځکې وېش کړی وواواوس بیاشراکت کول غواړي دارنګه چې دمځکې په حاصل کې به نیم په نیمه ونډه لري اومځکه به دمځکې په څیرتقسم شوې وي که داصورت روادی نوډیره ښه کنې یوداسي غوره حیله ددا سي شراکت په اړه راته ولیکئ (۱۲۸/۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: کله چې زیداوعمرمځکه په خپل مینځ کې ووېشله اودهریوه مځکه بېله بېله شوه نوهریودهغه غلې اوحاصل مالک دی کوم چې دده په مځکه کې پیداشول دبل دمځکې دغلې دیوجزهم څښتن نشي کېدای اوددې ټولې مځکې غله مشترکه نشي کېدای ،ځکه چې کله مځکه دهریوه بېله ده نوپیداواربه هم دهریوه بېل وي که دوئ دواړه ددواړومځکوغله هم کډه ،وډه کړي نودابه شرکت ملک وي په دې کې هریودخپلې ، خپلې برخې مالک وي اوددې برخه هغومره ده څومره چې ددې دمځکې پیداواردی نه کمه اونه زیاته [وهی ضربان: شرکة ملک وهی

---

(۱) الشامی (۳/ ۳۸۳) ط رشیدیه فی اوائل الشرکة الفاسدة.

(۲) وکل منهما اجنبی فی نصیب الآخرحتی لایجوزله التصرف فیه الاباذن الآخرکغیر الشریک لعدم تضمنها الوکالة (مجمع الانهرکتاب الشرکة ۲/ ۵۴۳، دارالکتب العلمیة، بیروت)

ان یملک متعدداثنان فأکثرعینا.....اودینابارث اوبیع اوغیرهمابأی سبب کان جبریااوا ختیاریاالخ وکل من شرکاء الملک اجنبی فی مال صاحبه (درمختار۱) فقط والله تعالی اعلم.

دکارکوونکې شرېک پرخیانت دځوشرېکانونیوکې اودهغوئ جوابونه

سوال : (۲۵) زید ، عمر ، بکر ، خالداوفاروق پنځو مسلمانانوزر ،زرروپی راغونډې کړي چې دګوړې په رانیولو ، خرڅولوکې به شراکت وکړ ، خالدداصل مال امین اوکارکوونکی وټاکل شوخوپه ګټه اوتاوان کې به برابره برخه لري فاروق خوپه ګوړه جوړولوپوهیږي اوده عمل هم شرط کړل شوی وو ،ځکه په ګټه اوتاوان کې دده برخه به ځلورمه وي اوپه پاتي درې ځلورموکې ځلورکسان دځلورآنوشرېکان دي زید ،عمر ،اوبکرروپی ورکړي جلا شوخالدنری ګوړه رانیوه اوفاروق کاروکړدکال په پای کې چې کله ګوړه اونورټول خرڅ کړل شونوخالدځرګندونه وکړه چې په تجارت کې تاوان وشوچې اندازادوه زره روپی دی یوه شرېک هم حساب ورسره ونکړاودایې وفهمرله چې په بازارکې دبیعې په ټیټېدوتاوان وشوداڅه عجبه نه ده بل کال به ددې جبران وشي وخالدته یې وویل چې کومې روپی په اصل مشترک مال کې پاتي دي په هغوئ سره دوهم ځل بیاتجارت وکړي فاروق داونه منله اوپه روپی کې یې دځلورآنوپه تاوان ورکولوخپلې روپی بیرته واخستې ،ځکه اوس شراکت دځلورکسانوپاتي شواوخالدګوړه رانیوله خرڅه یې کړه داووسوروپیوتاوان اودرې سوه یې پاتي رأس المال ځرګندشواوداول اودوهم کال دتاوان په یوخای کولوپې داووسوروپیوتاوان اودرې سوه یې پاتي رأس المال ځرګندکړ نوشرېکانودحساب غوښتنه وکړه خالددداړوکلونوګوشواره یعنی دهرشی درانیولواو خرڅولوبیعې اودارازمصرفونه ټول ځرګندکړل اوتاوان یې ښکاره کړخوشرېکان پرخالدامین دغه اعتراضونه (نیوکې) لري.

(الف) ټوله سرمایه اول پنځه زره روپی وه اوله ګوشواری معلومه شوه چې دګوړې پر رانیولو ، تیارولوتقریبا پنځه زره یوسل دوې روپی لګېدلې دي یعنی دیوسل دوورپو زیاتوب خالدامین یې له اجازې دشرېکانوله خانه کړي دي داګډول دفاسد بدوباعث دی چې ورڅخه شراکت فاسدشوچې دشرېکانوله اجازې اوخبرتیاپرته په عمل راغلی.

(ب) په دوهم کال کې دتاوان روپی اول خومعلومې نشوې اوله حساب څخه که خبرتیاهم ومنله شي نوله فاروق څخه دتاوان ځلورمه اخستل غلط دي ده نه داصل مال روپی کمې ورسېدې ،ځکه دځلوروشرېکانو

---

(۱) الدرالمختار مع الشامی (۳۶۵/۳) ط رشیدیه فی اوائل الشرکة.

Maktaba Tul Ishaat .com

د سرمایې روپۍ مجهولې شوې چې اصل حقیقت یووواووفهمول شوبل اواړس که دې ته سمون هم ورکول شي نوزیات نه زیاتې روپۍ به دځلورشرېکانودوه نیم زره شي خودخالد له ګوشواری څخه معلومه شوه چې ده ګوره دشپږوزرورانیوله اوتاوان یې دتولوشرېکانو پرسرونوویشی پرته له دې چې له خپل خانه دروپیوپه زیاتوب کولوپرتولوتاوان اچول ظلم دی صرف دغه زیات زیاتوب دشرېکانود څرګندونې خلاف اوبې له اجازې هم نه بلکې داجازې په خلاف وشوچې اثریې پرلنډتجارت دمال دتیارولوپه ځنډاونوروپرېو وت اودتاوان باعث شو،ځکه دغه ګډول خان ته دشرکت فاسدوونکې اودضمان باعث شو.

(ج)په هرودواړوګوشواریوکې درانیول شوې اوخرڅ شوې مال دبیعې څرګندونه شوې ده شرېکان وایې چې ببله دلیله دې ترڅوچې دخرڅوونکې اورانیوونکې اسنادنه وي مورږپرمنلومجبورنه یوخالدامین شرېک وایې چې زه امین وم ،ځکه برمادبدګمانۍ کولوحق هیڅوک نلري اودرانیوونکې اوخرڅوونکې څخه دسنداخستلوقانون شته پاته شودروپیوزیاتوب نوهغه زمادځان وبولۍ تاوان دمال پرسرووېشی ددغوګډولواثردشرا کت پرباطلبدونه پرېوځي چې پرماضمان واجب شي.

(د) له ګوشواری څخه معلومه شوه چې په هرکال کې رانیول شوې ګوره دمثال په ډول ځلورسوه منه ده اوپه خرڅولوکې پاووباندې دري سوه منه ،ځکه شرېکان وایې چې پنځه اویامنه مال کم شوددې پوره کول یاقېمت ورکول پرتالازم دي امین شرېک وایې چې داپه نقصان کې ولاړي شرېکان وایې چې له کارکوونکوڅخه مورږمعلومات وکړل چې دګورې په تیارلوکې په سل کې له پنځواووبرخوکمودنه راځي اوهغه کمبودپه اوبوورګډولومورږ پوره کووحال داچې داخبره په ثبوت رسېدلې ده چې پرېمانه اوبه تاهم وراچولې دي بیاپه سل کې ددیرشوبرخوپه مال کې کمبودستاسوپه ځارنه کې که دکارکوونکوپه خیانت اوغلاسره هم وي نودهغه ضمان پرتاسودی چې دځارنې اوامانت حق موادانکړخالدوایې چې زماسره له دې پرته هیڅ جواب نشته چې کومه ځارنه ماوکړه هم هغومره زماپه وس کې وه اوزه نه شم ویلای چې داسي کمبودولي اوځله راغی خوپرماضمان هیڅکله واجب نه دی.

لنډه داچې خالدوایې چې زه امین وم اوپرماهیڅ تاوان نشته اوشرېکان وایې چې تازمورږدغوښتنې په خلاف دروپیوزیاتونه اوګډول اونورداسي تصرفات کړې دي چې په کومومورږهیڅ راضي نه یواوستاسوپه لاوبالي اوپرکارکوونکودکارپرېښوولوله املهدعرف په خلاف

دومره زیات تاوان وشو ،څکه نوداتول تجارت ستادخان وواوزمو باصل روپی به ته راکوې نوپوښتنه داده چې دغه شرکت کوم قسم دی ؟ اوصحیح دی ،که فاسد ؟ اوپه بې احتیاطی اوددواړودلوپه جګړه کې حق دچاملګري کوي ؟ اودنقصان اواصل مال په اړه اخیرشرعي فیصله څنګه ده ؟

(ه) له ګوشواری څخه داهم معلومه شوه چې خالدخپل ځانی مال هم په بیع قائمولوکې شریک کړاودارازدبازارپه بیع پخپله هم رانیولی دی په دې صورت کې رانیوونکی اوخرڅوونکی یوسړی شوداجائزدی ،که نه ؟ اوددې اثربه څه وي ؟ فقط (۱۰۲۳/۱۳۴۵هج)

ځواب : (الف) داشی دشراکت دفاسدېدوباعث نه دی لکه چې له مخته راتلوونکې فقهي عبارتونوڅخه به څرګندشي.

(ب) په دې شی هم شراکت نه فاسدیږي لنډه داچې دڅومره زیاتوروپیوګوړه یې رانیول شوې ده هغه خاص درانیوونکې په ذمه ده که داومنله شي چې شریکانودموجوده روپو څخه دزیاتوروپودګوړې رانیولواجازه نه وه کړې دفقهي له روایتونوڅخه څرګندیږي چې که کوم شریک دشرکت له موجودوروپوڅخه دزیاتوروپومال رانیسي اوقرض وکړي نوکه دنوروشریکانواجازه نشته نوددې ذموارخاص رانیوونکی دی ددې ګټه اوتاوان به پرهمده وي داشرکت نه فاسدیږي

قال فی الدرالمختار: وبیع بماعزوهان خلاصة بنقدونسیئة الخ قوله ینعقدونسیئة متعلق بقوله یبیع واماالشراء فان لم یکن فی یده دراهم ولادنانیرمن الشرکة فاشتری بدراهم اودنانیرفهوله خاصة لانه لووقع مشترکا تضمن ایجاب مال زائدعلی الشریک وهولم یرض بالزیادة علی رأس المال ولوالجیة ومفاده انه لورضی وقع مشترکالانه بملک الاستدانة باذن شریکه (۱) (ردالمحتار)

وفی الدرالمختار: ویطالب المشتری بالثمن فقط لعدم تضمن الکفالة ویرجع علی شریکه بحصته منه ان ادی من مال نفسه ای مع بقاء مال الشرکة والافالشراء له خاصة لئلا یصیرمستدیناعلی مال الشرکة بلااذن بحروفی الشامی قوله والاای وان لم یبق مال الشرکة ای لم یکن فی یده مال ناض بل صارمال الشرکة

(۱) ردالمحتار(۳/۳۷۷) ط رشیدیه ، کتاب الشرکة.

Maktaba Tul Ishaat. com

اعياناوامتعة فاشترى بدراهم اودنانيرنسئة فالشراء له خاصة دون شريكه لانه لووقع على الشركة صارمستدياعلى مال الشركة واحدشريكى العنان لايملك الاستدانة الاان يأذن له فى ذلك الخ بحر(۱) (شامى) وفى موضع آخرمن الدرالمختارفقال ذواليدفد استقرضت العاقالقول له ان المال فى يده لانه حينئذامين فقدادعى ان الالف حق الغير بخلاف مااذالم يكن فى يده لانه يدعى دينا عليه فلوقال لى فى هذاالمال الذى فى يدى كذايقبل ايضا كمايقبل انه للغيرتأمل وهى واقعة الفتوى وبه افتيت رملى على المنح وافتى ايضا فى الخيرية : فيمااذاقال الذى فى يده المال كنت استدنت من فلان كذااللشر كة ودفعت له دينه بأن القول قوله بيمينه الخ ويؤيده مافى الحامدية عن محيط السرخسى فى فصل مايجوزلاحدشريكى العنان : لواستقرض احدهامالا لزمهمالان الاستقراض تجارة ومبادلة معنى لانه يملك المستقرض ويلزمه ردمثله الخ وكذافى الخانية من فصل شركة العنان لكن فى الخانية : ايضا قال احدشريكى العنان انى استقرضت من فلان الف درهم للتجارة لزمه خاصة دون صاحبه لان قوله لايكون حجة لالزام الدين عليه الخ (۲) (ردالمحتار) له دغوعبارتونودامعلومه شوه چې که کوم شريک دشراکت له روپوڅخه دزياتومال رانيسي نوپه دې زيات مال کې دااختلاف دی چې هغه به پردواړوشريکانولازميږي اوکه يواخې درانيوونکې پرذمه وي کله چې دبل شريک څخه واخستل شوهغه دټولوشريکانوسره شريک دی په هرحال په دې سره شراکت نه فاسديږي.

(ج) دخالدکارکوونکې داويناصحيح ده ،ځکه چې دی امين دی اوپه ګټه اوتاوان کې دده قول معتبروي اوداقول هم دده صحيح دی هغه دپای خبره داچې زياتې روپۍ دده په ذمه ولګوله شي قال فى درالمختار: وتفرع على كونه امانة ماسئل قارى الهداية عمن طلب محاسبة شريكه فاجاب : لايلزم بالتفصيل (شامى ۳/ ۳۴۷) قوله فاجاب

---

(۱) الشامى (۳/۳۷۵) ط رشيديه . كتاب الشركة

(۲) ردالمحتار (۳/۳۸۲) ط رشيديه . كتاب الشركة.

الخ : حيث قال : ان القول قول الشريک والمضارب فی مقدارالربح والخسران مع يمينه ولايلزمه ان يذكر الامر مفصلا والقول قوله فی الصياع والردالی الشريک قلت : بقی مالوادعی علی شريکه خيانة مبهمة فهی قضاء الاشباه لابحلف (۱) (شامی) (د) ښکاره ده چې داشرکت عنان دی اودبیان شویوشیانوپه وجه داشرکت نه فاسدیږي اوخالدامین دی دګټې اوتاوان په اړه دده قول معتبردی اودشریکانوتفصیلي محاسبه کول پرامین دضمان راوستوباعث نه دی اوتفصیل ددې له پورته نقل شویوعبارتونوڅخه څرګندیږي.(ه) غالبامرادداسي دی چې خالد په رانیول شوي ګوړه کې خپله ګوړه هم ګډه کړه اوددې قیمت یې معلوم کړاووي لیکی نودلته رانیول اوخرڅول هیڅ شی نشته صرف دومره دی چې ده خپل مال هم په رانیول شوي مال ورګډ کړنوداشی ددغه شراکت دفاسدېدوباعث نه دی اوکه بالفرض بائع اومشتري (خرڅوونکی اورانیوونکی) یووي اودابیعه ناروا وي نودامال دخالدپه ملک پاتي شونودده ګډول هم دشرکت فاسدېدوباعث نه ګرځي کمامرفی العبارات فقط.

دښځې اوخاوندپه تجارت کې دښځې برخه

سوال : (۳۲) دزیدزوئ پیداشو ، دده خورهندې دهلک پیداکېدوپه خوشحالی له رواج سره سم وهلک ته غاړګی (امبل) ورکړی چې شپږروپی بیع یې درلوده زیدخپلې خور هندې ته دخپل زوئ په خوشحالی کې یادامبل ورکولوپه بدل کې دوې ګامبنې ورکړي هندې یوه ګامبنه خرڅه کړه دهغې روپی یې دخپل خاندسره دغلې په تجارت کې ولګولې اوګټه وشوه ددوهمې ګامبنې بچی هندې وساتی په کورکې اوګامبنه یې خرڅه کړه څه نورې روپی یې دخاوندله روپوسره یوځای کړې نورې ګامبنې یې له خاوندڅخه رانیولې حالادوې ګامبنې سره له یوه بچی ددې سره شته خوچاره اوخوراک ددوئ دخاوندپرذمه دي ببله کوم شرطه اوغوړې ، شیدي اونوردواړه ښځه اوخاوند کاروي اودامعلومه نه ده چې هغه غاړګی اوکړی دهندې په روپووواوکه دخاوندپه روپوجوړکړل شوي ووپه دې صورت کې

(۱) ردالمحتار (۳۸۰/۳) ط رشیدیه ، کتاب الشرکة.

Maktaba Tul Ishaat. com

دغه تجارت دمال سره دګټې اوددغه درپیوحیوانانومالک خاونددی که هنده ؟ (۲۹/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : دزید خورهنده چې دده وزوئ ته په خوشحالی کومه غارګی اوکړی ورکړې ده داعرفاددې له لورې هبه (بخښنه) ده اوزید چې دده له لورې ددې په بدل کې ودې نه ګامښې ورکړې دي هغه دهبې عوض (بدله) ده نوپه دې صورت کې داهبه په عوض سره ګډل کیږی اودې چې دخاوندسره کوم شراکت په تجارت کې کړی دی په هغه کې دخپلې برخې په اندازه دادخپل مال مالکه ده په شامی کې راغلې دي : واذااجتمع بعملهما اموال کثیرة فقیل هی للزوج وتکون المرأة معینة له الااذاکان لهاکسب علیحدة فهولهاوقیل بینهما نصفان(۱).

ښځې اوخاوندپه ګډه کوم څه وګټل په هغه کې ښځه دنیمې برخې حق لري

سوال : (۲۷) زیداوده ښځې دواړوپه ګډه کارکاوودزیدتروفات وروسته دده ښځه دنیم مال حقداره ده ،که نه ؟ (۱۲۴/۱۳۴۵هج)

ځواب : ده (۲)

پلاراوزامنوپه ګډه تجارت وکړنودټولوبرخې به برابرې وي

سوال : (۲۸) دزیددوه زامن عمراوبکرووزیددواړه دځان ملګرې کړل اوتجارت یې پیل کړخواصل روپۍ (رأس المال) دزیداوعمروي دبکرله لورې یواځې عمل وواصل مال نه وولە تجارت مخکې دواړه زامن دپلارپه عیال (پالنه) کې نه ووبلکې په حلاله ګټلویې خپل وخت تیراوواودپلاراومورلپاره یې هم دخوراک ،څښاک بندوبست کاوواوبکرچې کوم عمل کوي مزدوري اونورنه اخلي بلکې په تجارت کې یې لګوي اوس به دري سره کسان په تجارت کې برابرشریکان وي که به بکرمزدوروي ؟ (۲۲۹۴/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : قال فی الشامی : یؤخذمن هذاماافتی به فی الخیریة فی زوج امرأة وابنهما اجتمعا فی دارواحدة واخذکل منهما یکتسب علیحدة ویجمعان کسبهما ولایعلم التفاوت ولاالتساوی ولاالتمییزفاجاب بأنه بینهما سویة.

(۱) الشامی (۳/ ۳۸۳) ط رشیدیه فصل فی الشرکة الفاسدة.

(۲) مخکنی حواله.

وکذلک لواجتمع اخوة یعملون فی ترکة ابیهم ومالمال فهوبینهم سویة ولواختلفوافی العمل والرأی الخ ثم هذافی غیرالاس مع ابیه لمافی الغنیة الاب وابنه یکتسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهماشئ فالکسب کله لهما ان کان الاس فی عیاله لکونه معیاله الخ (۱) له دې عبارت څخه معلوم شوچې کله په دواړوکې هرزوئ دپلارپه عیال کې نه دی نوټول برابرشریکان دي فقط.

دپلارپه روپوچې زوئ کومه ګټه وکړه هغه ټوله دپلارده

سوال: (۲۹) زماپلارمرحوم زماوورورمرحوم ته څه روپی ورکړې وي هغه په دې کارکاووا وزماپلارهیڅ کارنه کاوواوس دی وفات شوی دی ،څکه نوپوښتنه داده چې څومره روپی زمادپلاردي اوڅومره چې زماوورورپکي زیاتوب راوستی دی دابه ټولې دپلارپه ترکه (میراث) کې شمېرلې کیږي که به اصل دده اوګټه زمادوروروي ؟ اوزما پلار په خپل ژوندکې څوواره زماله وروره خپلې روپی غوښتې دي ؟ (۳۲/۱۲۰۵-۱۳۳۳هج).

ځواب : دپلارپه روپوچې کوم کاروبارستاسووورکړی ووهغه ټول اصل سره له ګټې دپلاردی پرټولووارثانوبه دخپلو، خپلوبرخوپه اندازه وېشل کیږي(۲)

په کارکې زوئ دپلارمرسته کوي نوټوله امدني دپلارده

سوال: (۳۰) زوئ دپلارپه کوراوعیال کې له همېشه څخه استوګن دی دپلارسره دده په کارونوکې مرسته کوي جلا نه ، له کارکولومخکې دده سره هیڅ مال نه ووڅه چې ورسه ووېس صرف دپلارووا وپلارترا وسه دمعاش په ګټلومشغول دی ددواړوکاریودی همدغه زوئ وفات شونوکوم څه چې دده ګټه ده اوده سره ومونده له شي هرڅه چې وي نغدې وي اوکه حیوانان اونوروي کوم چې ددواړوپه کارحاصل شوې وي داټول دشریعت له مخې دپلارملک دی کوم چې ژوندی دی اوکه دهمدغه زوئ ترکه ؟ اوپه دې کې به دمیراث احکام جاري کیږي ،که نه ؟ اوکوم څه چې دده په قبضه اوقلف کې وي

---

(۱) الشامی (۳/۳۸۳) ط رشیدیه . کتاب الشرکة . فصل فی شرکة الفاسدة.

(۲) دسوال له آخیرنی جملې څخه معلومیږی چې پلارزوئ ته روپی په قرض ورکړي دي اوداهم اشاره ده چې دزوئ خان ته کاردی دپلارترخارنې لاندي کارنه کوي که واقعه همداسي وي نوګټه به دپوښتوونکي دوروروي اوڅومره روپی چې دپوښتوونکي پلار ورکړې وي هغه ترکه شمېرله کیږي ۱۲ سعید احمد پالنپوری.

Maktaba Tul Ishaat. com

هغه دچاملک دی ؟ په کوم دلیل سره ؟ دغه کوم چې په قبضه او قلف کې دی داهم له پورتنې کارڅخه دی دده دښځې مهرپرچااوله کوم جائداد څخه اداکول لازم اوواجب دي ؟ اوددې په کارراوړلې شوې فرشونه اوتلتکان دده ښځه مفت وړلای شي یاکه دکوم حق په بدل کې ورکول شي ؟ دداسي زوئ په یادشوې حالت اوصورت کې څه ترکه (میراث) شته ،که نه ؟

اودچامعاش چې په وسیله دنصبحت کولو،یافتوی ورکولو، یادمسجدونوپه امامت ،یاخدمت اویاپه پیري اومربدي جاري شوی وي په دې کې پورته بیان شوی صورت پیښ شي حکم ددوئ هم یودی که څه فرق لري ؟ په تجویزکې ددوئ برابرې ده که نورڅه ؟ دداسي پیښواوقضاؤپه اړه یې دعلماء داسلام اوفقهاء اعلام فتوی دفقهي په معتبرو کتابونوکې ثابته وي دهماغه په ورکولوموونازوئ.

دفتاوی خیرالدین رملي اوتنقیح فتاوی حامدیه دکتاب الدعوی اودردالمحتار شرح درمختاردشرکت فاسده په باب کې چې کومه فتوی دداډول قضاؤپه اړه ثابته ده هغه فتوی دپوښتل شوې صورت سره سمون خوري ،که نه ؟ په هغه کې چې کوم سوال اوجواب دی هغه ددې سوال اوجواب سره سمون لري ،که نه ؟ چې څه حق وي دهغه خبردې راکول شي حدیث : [کل احداحق بماله من والده وولده والناس اجمعین (السنن الکبری للبیهقی عن حبان الجمحی) اودجامع صغیرسیوطی المرأ احق بمکاسبه اونورروله عباراتوڅخه دیادوشویوکتابونوپرفتوی خوبه څه نیوکه نه راځي ؟ بیان شوی حدیث صحیح دی ،که نه ؟ حبان جمحی له صحابووڅخه دی ،که نه ؟ (۱۸۴۸/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : په ردالمحتارکې دفتاوی خیریه له سوال اوجواب رانقلولووروسته داسي لیکلي دي : ثم هذافی غیرالابن مع ابیه لمافی القنیة : الاب وابنه یکتسبان فی صنعة واحدة و لم یکن فماشئ فالکسب کله للاب ان کان الابن فی عیاله لکونه معیناله الاتری لوغرس شجرة تکون للاب الخ (۱) (۳/ ۳۴۹شرکة فاسدة) نودپوښتل شوې صورت سره سم داروایت دقنیه دی اوهمدغه دپوښتل شوې صورت جواب دی چې کوم څه دزوئ سره دي هغه هم دپلاردی دزوئ ترکه په دې کې هیڅ نشته نودهمدې سره سم به احکام مرتبیږي اوحدیث کل احد

(۱) الشامی(۳/ ۳۸۳) ط رشیدیه کتاب الشرکة فصل فی شرکة الفاسدة.

احق بماله الخ هم ددې قنيې درواېت مرسته کوونکی دی ،ځکه چې په سوال کې دادي چې کوم څه وودپلارووپه هماغه کې زوئ هم دپلارسره کاراوکسب وکړنوزوئ په دې صورت کې دپلارمرسته کوونکی شواومال ټول دپلارشولقوله علیه السلام کل احداحق بماله من والده وولده والناس اجمعین(۱) نوکله چې ګټل شوی مال دپلارملک دی نودزوئ دښځې اونوروواړثانوپه دې کې هیڅ حق نه راځي اودښځې مهربه له دې مال څخه نه اخستل کیږي امادنصیحت کولواودمسجددخدمت کولواونوروصورت له دې څخه بهل دی په هغه کې هریوه آمدني (عائد) دهغه چاملک وی چې ورته ورکول کیږي اودګډون اوفرق نه کېدوپه صورت به پربرابرې حمل کیږي په دې صورت کې هم په ذکرشوې حدیث سره دلیل نیول کیږي اوبیان شوی حدیث صحیح دی په جامع صغیرکې یې ودې ته دصحیح والي نسبه ورکړې ده اوپه سراج منیرشرح جامع صغیرکې یې دې ته صحیح ویلې دي

اوله اصابه اواسدالغابة څخه معلومیږي چې حیان جمحی ابن جبله تابعی دی صحابی نه دی په دې صورت کې به حدیث مرسل وي په هرحال ددلیل نیولووړضروردی فقط.

سوال (۳۱) دزیدزوئ عمردخپل پلارسره په کاروبارکښه اوخرڅ کې شریک وودقرضو داخستلوسندونه هم دشراکت موجوددي آیاهغه جائدادکوم چې له زیدوروسته وجودلري یواځې به دزیدوي که یې مشترک وګڼواوترشراکت ختمولووروسته چې کومه برخه دزیدوي هغه به وېشل کیږي(۱۳۴۲/۴۹۲هج)

خواب داټوله ترکه دپلارشمېرل کیږي اوله سوال څخه معلوم شوچې عمردخپل پلارسره دشراکت کارکاووا وخرڅ مشترک وولهدې څخه معلوم شوچې عمردخپل پلارپه عیال کې ووبهل نه وونوعمردخپل پلارمرسته کوونکی ګڼل کیږي اوترکه به ټوله دزیدوي اوپرتو لووارثانوبه دهغوئ له برخوسره سمه وېشل کیږي لکه چې دشامی ددرهیم توک په شرکت فاسده کې یې بیان کړی دی: ثم هدافی عبدالاب مع ابیه لمافی القنیة الاب وابنه یکتسبان فی صنعة واحدة و لم یکن لهماشئ فاکتسب کله للاب ان کان الاب فی عیاله لکونه معیناله الاتری لوغرس شجرة تکون للاب الخ (۲)

(۱) السنن الکبری للبیهقی ۷/۷۹۰، دارالکتب العلمیة بیروت.
(۲) الشامی (۳/۳۸۳) ط رشیدیه فی اوائل الشرکة الفاسدة.

Maktaba Tul Ishaat. com

سوال : (۳۲) زیددلرګوتجارت کاووکله چې دده بچیان وشونودووهلکانوبېله کومې معاهدې له ده سره کارکول پیل کړاوپه تجارت کې یې ترقي کوله اوهغه دواړه سره دخپلوښځواوبچیانودزیدپه عیال کې وله دې دواړوهلکانوڅخه یووفات شودهغه بچیان شته اوس زیددجګړې ختمولوپه غرض خپل جائداد .کورونه اودتجارت اسباب پرخپل موجودزوئ ،لمسی (دزوئ زوئ) اوښځه باندې ویشل غواړې دارنګه چې دالله رب العزت په دربارکې ګنهګارنشي نوهریوه ته څومره ورکړي ؟ دغه دواړه هلکان چې په عمل کې ورسره شریک ووپه تجارت کې هم ورسره شریکان ووکه مزدوران ؟ اودمال مالک یواځې زیددی که هلکان هم ؟ (۱۳۴۱/۲۸۱۰هج)

ځواب : دغه ټوله ترکه (۱) دزیدده هلکانوچې کوم کارکاووهغوئ په ترکه کې شریکان نه دي بلکه هغوئ دپلارمعاونین اومرسته کوونکې بلل کیږي لکه چې په شامی کې ځرګندونه راغلې ده : فی القنیة الاب وابنه یکتسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهماشئ فالکسب کله للاب ان کان الابن فی عیاله لکونه معیناله الخ (۲) (شامی درېیم ټوک) نوکله چې معلومه شوه چې دغه ټوله ترکه دزیدده نوده ته اختیاردی چې پخپل ژوندکې پرخپلووارثانواوخپلوانوڅرنګه غواړې هماغسې یې ووېشي خوچاته به ضرررسول مقصدنه وي اوداړتیاسره سم چې څوک څومره ورته اړینکاریږي هماغسې دې ووېشي دمیراث دقاعدې سره خوښکاره ده چې دزامنوپه موجودیت کې لمسیان اولمسي محروم وي اودلورله لوړې لمسیان اولمسی سره سم خوښکاره ده چې دزامنوپه موجودیت کې هم محرومیږي ،ځکه په ژوندکې دمیراث دقاعدې په پام کې نیولوته اړتیانشته چې به دې کې دلمسیانواونوروتاوان دی امادې ضرورت شته چې اضرار یعنی وچاته ضرررسول مقصدنه وي لکه چې په درمختارکې راغلې دي : ولاباس بتفصیل بعض الاولادفی اغبة لاهاعمل القلب وکذافی العطایاان لم یقصدبه الاضرارالخ (۳)

دزامنوپه نامه دسرای درانیولواوددوئ له ځان سره په تجارت کې دلګولوحکم

سوال : (۳۳) (الف) زیددوومامشوموزامنوپه نامه دوه داستوګنې کورونه رانیول اوترمېم اونور

---

(۱) دترکې لفظ یې مجازاپه معنی دمملوکه استعمال کړی ،ځکه چې اوس زیدژوندی دی.
(۲) الشامی (۳/ ۳۸۳) ط رشیدیه فی اوائل الشرکة الفاسدة.
(۳) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۵۷۳) کتاب الهبة وقبیل باب الرجوع فی الهبة.

پخپلوروپوکوی نوسرایونه دپلاردي که دزامنو؟
(ب) زیدخپل زامن له خان سره په تجارت کې لګولې وویوزوئ یې وفات شونودتجارت له اسبابودده ووارثانوته حق ورکول کیږي ،که نه ؟ (۷۴۴/ ۳۲۔ ۱۳۳۳هج)

خواب : (الف) دغه دواړه مکانونه دزیددي.
(ب) دغه ټول دتجارت اسباب اونوردپلاردي دوفات شوې زوئ دوارثانوپه دې کې هیڅ حق نشته(۱)

پخپلوروپورانیوونکې زوئ یواخي دجائدادمالک دی

سوال : (۳۴) پلاراوځلورزامن په یوه کورکې اوسېدل اوپلارته تنخواراته مشرزوئ چې کوم جائدادپخپل محنت رانیولی دی دهغه مالک څوک دی ؟ (۱۳۴۲/۳۰۲۸هج)

خواب : مشرزوئ که دغه جائدادپخپله ګټه اومحنت اودخان په روپواخستی وونوددې مالک یواخي دی دی دنورووړنوپه دې کې هیڅ برخه اوحق نشته (۲) فقط

زوئ چې پخپله ګټه کوم کورجوړکړی دی پلارهغه نه شي په خالي کولای

سوال : (۳۵) دزیدزوئ پخپله ګټه یوکورجوړکړی دی دزیدیوه روپۍ هم په دې ودانۍ کې نشته اوس زیدوخپل زوئ ته خبرورکړی دی چې تاکوم کورجوړکړی دی دهغه مالک زه یم .ځکه په دوې هفتې (اونیو) کې دننه زماکوررااخالی کړه کنې کوربه سره له سامانه خرڅ کړل شي داوینادزیدصحیح ده ،که نه ؟(۸۱۱/ ۱۳۴۳هج)

خواب : که ددغه مکان ځکه هم دزوئ په ملک کې وه اوودانې ورباندې زوئ وکړه دزیدپکې هیڅ شی صرف نشونوزیددې کورمالک نه دی اوپه زوئ دانشي خالي کولای اوهیڅ تصرف پکې درانیولواوخرڅولونشي کولای اوکه ځکه دزیدوه اوزیددغه ځکه وخپل زوئ ته دمکان

---

(۱) الاب والاس یکتسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهما شئ فالکسب کله للاب الخ ردالمحتار، (۳/ ۳۸۳) ط رشیدیه کتاب الشرکة فصل فی الشرکة الفاسدة.

(۲) وماحصله احدهماقه قال الشامی قوله وماحصله (احدهما)ای بدون عمل الآخر وقوله تحت قوله (مطلب)اجتمعافی دارواحدة ثم ذکر حلافافی شرکة مع ز وجهاکذاجمع بعضهما الی قوله الاذاکان لهاکسب علیحدة فهولهاالخ (ردالمحتار ۳/ ۳۸۳) کتاب الشرکة ، فصل فی الشرکة الفاسدة ط رشیدیه

Maktaba Tul Ishaat. com

جوړولولپاره ورکړي وه بياهم زيد دابيرته نشي ځينې اخستلای فقط.

پلاردزامنوترمينځ خپل مال وويشي بيازامنوپه ګډه کاروروباروکړنوددې حکم

سوال : (۳۲) زيددخپلوزامنويحيى ، خالد ،بکر،عمر،يونس اويوسف لپاره ،شريعت دحکم له امله يوه وصيت پاڼه وليکله چې پکې موجوده قرض اومال وويشي اودايې ورته وويل چې يحيى به خپل کارجلا کوي اونورځلوروونه به دخالدترخارنې لاندې داکارچلوي کوم چې ديحيى وخالداينډبرادرزپه نامه روان دی خوبياشپږوسره وروڼوپخپله مشوره سره وکړه چې ترخپله وسه به شپږسره وروڼه ګډکارکوو ،ځکه نوتردرېيوکلونوپورې خوکاروبارنېه پرله پورې روان ووواوپه همدغه درېيوکلونوکې موراوپلاراويحيى له قرض اودکورنيوچارونورو شيانوځخه هم ځانونه فارغ کړل ځلورم کال دغه کاريحيى ، يونس اويوسف ترسره کړ.

پرته له دې يوبل کاريحيى پخپلومتودتجارت پيل کړدهغه آمدنې يې په مشترکه کاروبار کې ورشامله کړه دځلورم کال په پای کې خالدراغی اوهمدغه مشترک کاريې پرخپله غاړه واخست يونس يې پربل کاروګماری اويحيى اويوسف بل ځای ديوې کارخانې بنيادونه يې واچاوی ،ځکه نوخالدټول کال دغه کاريواځې دبل چاله مرستې پرته پخپل قوت وکړدپنځم کال په پای کې زيددموجوده حالت په لحاظ دوصيت دپاڼې نوی کول اودمنقوله اونامنقوله جائدادوېشل يې وغوښت نوخالدکوم چې ددې کاروبارمالک جوړشوی وودځلوروکلونودګټې حساب يې ورکړزيددپنځم کال په اړه ورته وويل نوخالدپه دې عذرله حساب ورکولوځخه نټه وکړه چې دمخکنې وصيت پاڼې له مخې جلا شوې يودوهم داچې په دې کال کې زماسره چامرسته نه ده کړې ،ځکه داخاص زماملک دی په مشترک حساب کې ورګډول نه غواړم اويحيى دهغه کارله ګټې وېشلوځخه انکاروکړکوم تجارت چې خاص ده پخپله ذمه اخستی ووآيادخالداويحيى عذرونه داوربدووړې ،که نه ؟ شرعي فيصله په دې اړه څنګه پکاره ده ؟ (۱۳۴۳/۳۱۱هج)

ځواب : زيدچې کله وخپلوشپږوزامنوته موجودمال ورووېشی اوهبه يې کړنوکه دغه هبه په شرعي قاعده صحيح اونافذه وه يعنی هبه دمشاع نه وه بلکې موجودمال يې وويشی جلا ، جلا يې وهرزوئ ته پرخپله برخه قبضه ورکړه اوبيادغه زامنوپخپل شراکت

تجارت وکړنوپه اوس وخت چې څومره مال اوسامان موجوددی هغه ټوله پرزامنوبرابر وبشل کیږي اوکه دغه هبه دشرعي دقاعدې له مخې صحیح اونافذه نه وي دمشاع کیدواو دبرخودمشترک والي په وجه لکه چې له ظاهرحال اوقرینوڅخه معلومیږي نوبیازامن دهبه شویوبرخومالکان نشول اودغه سامان اومال دزیدله ملکه وتلی نه دی اوتراوسه دټول موجودمال اوسامان مالک زیددی اواوس دده اختیاردی چې څرنګه غواړې تقسیم دي کړي اوکه دی بې نه تقسیموي یادغه تقسیم شرعًا صحیح نه دی منل شوی نوله زیدوروسته به ټول زامن په برابروبرخودزیددترکې مالکان اووارثان ګرځي لکه چې لاندینی روایت کوم چې په شامي کې راغلی دی ، دلومړی اودوهم صورت دلیل دی.

تنبیه یؤخذمن هذامافتی به فی الخیریة فی زوج امرأة وابنهااجتمعافی دارواحدة واخذکل منهمایکتسب علیحدة ویجمعان کسبهماولایعلم التفاوت ولاالتساوی ولاالتمییزفاجاب : بأنه بینهماسویة وکذلک لواجتمع اخوة یعملون فی ترکة ابیهم وغاالمال فهوبینهم سویة ولواختلفوافی العلم والرأی آه وقدمناان هذالیس شرکة مفاوضة مالم یصرحابلفظهما اوبمقتضیاتهامع استیفاء شروطهاثم هذافی غیرالابن مع ابیه لمافی القنیة الاب وابنه یکتسبان فی صنعة واحدة و لم یکن لهماشئ فالکسب کله للاب ان کان الابن فی عیاله لکونه معیناله الاتری لوعرس شحرة تکون للاب الخ (۱) فقط

دیوه ورورپخپل محنت ګټلې مال کې نورووړونه برخه لري ، که نه ؟

سوال : (۳۷) یوه شخص صرف یوسړی پرېښوو ،وفات شودده دوه زامن بکراوعمرو یوځای اوسېدل بکرپخپل محنت څه روپی وګټلې اوس دواړه وړونه بېلېدل غواړې ، عمردټول مال نیمه برخه غواړې بکرله ورکولوڅخه انکارکوي چې داټول مال ماپخپل محنت ګټلی دی صرف دکورنیمه برخه درکوم اوس عمرشرعًا دبکرپه جائدادکې دنیمې برخې حق لري که صرف په مکان کې ؟ (۱۵۷۸/ ۱۳۳۷هج)

(۱) الشامی (۳/ ۳۸۳) کتاب الشرکة ، فصل فی الشرکة الفاسدة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب : په شامی درېیم ټوک ، کتاب الشرکة کې راغلي دي: کذا لواجتمع اخوة یعملون فی ترکة ابیهم وغالمال فهو بینهم سویة ولواختلفوافی العمل والرأی الخ ص: ۳۴۹(۱)

نوکه دواړوورونو ګډون داسي شوی دی چي په یادشوي روایت کي یې یادونه شوې ده نودواړه ورونه به برابرویشي اوکه داسي نه دی بلکي پلارله کورپرته هیڅ ترکه نه وه پرېښنې اوګټل ددواړونه ووبلکي صرف یوه ورورکاروکړاومال یې وګټی اودبل ورورورسره ګټه اوکارشامل نه شونوبیادغه ګټل شوی مال ټول دهغه دی چي پخپل محنت یې حاصل کړی دی اودوهم ورورصرف په هغه ترکه کې ورسره شریک دی کومه چي پلارپرې اینبې ده فقط.

پخپله ګټه ګټه اودکورسامان اخستوونکي ورورسره بل ورورحق لري ، که نه ؟

سوال : (۳۸) دخالددري زامن زید ،عمر،بکردی دهلکانومورد جائدادمالکه ده زیددکوراونورکارونه کوي ،عمراوبکرملازمت کوي لیکن بکردخپلې ښځې ګټه اودکور منقوله سامان پیداکړعمرغواړي چي موروڅې جائداددموراوپلارپه ژوندکې ووېشل شي اودبکرپیداکړی دکورمنقوله سامان هم ووېشل شي په داسي حالت کې عمردبکردکورپه سامان کې شرعًا څه حق لري ؟ (۳۲/۹۷۵-۱۳۳۳هج)

ځواب : بکرچي کومه ګټه اودکورسامان دخپل ملازمت له آمدنی څخه حاصل کړی دی

---

(۱) ردالمحتار (۳/۳۸۳) کتاب الشرکة ، فصل فی الشرکة الفاسدة ط رشیدیه.

هغه دده دي د... عمر هيڅ حق په دې کې نشته (۱)

ددوورونو ترمينځ په مشترک دوکان کې درېيم ورورونډه نلري

سوال (۳۹) زيد، عمر، بکر، درې سکه وروڼه دي چې ورسره دمور او پلار له ترکې ځخه داستوګنې له مکان پرته هيڅ جائداد نه ووزيد او عمر پخپل شناخت له يوتاجر ځخه څه خوراکې شيان په قرض راوړل اودوا روپه ګډه ددې تجارت کاوودرېيم ورور بکر ددوئ په تجارت کې ورګډ نه ووبلکې ځان ته يې پخپله يو دکان کاووامابه کورکې درې سره وروڼه سره دبچيانو يوځای او سېدل او دمصرف صورت يې داسې ووچې دکورغټې ،غټې خرچې لکه خوراکې شيان ،جامې ،لرګې اونوردزيد او عمر له دوکانه صرفېدل دبکر له دوکانه هم سپکې خرچې لکه مالګه . مرچ ، بوره (چېنې) اونورکورته راتلل ځوکاله دارازتبرشول چې دزيد او عمر دوکان نه کافي ګټه وکړه خوبکر چندانې ګټه ونکړه اوس دادرې سره وروڼه جلا کېدل غواړي اوزيد او عمر وايي چې زمونږ دوکان ګټه نيم په نيمه بايدزمونږ دد واړو ترمينځ ووېشل شي ،ځکه چې بکر په دې کې نه عملا شريک ووا ونه نور په کوم رنګه ده پکې برخه اخستې ده نه شرکت عقدا ونه شرکت ملک ،ځکه چې دپلار له ترکې ځخه په دې کې يوه دنه هم نه ده لګېدلې اونه پلارکوم جائداد دنغدواوشيانو پرې اېښې ووخوبکر په دې دوکان کې هم ددرېيمې برخې غوښتنه کوي اووايي چې زه دغټ دوکان په تجارت کې په هيڅ رنګه شريک نه وم اما استوګنه اوعيال ددريو سره وروڼو خو په يوه کورکې ووا وماهم له خپل کوچنې دوکان ځخه دکورد مصرفونو لپاره ځه ناڅه ورکول شرعي حکم څه دی ؟ (۱۸۱۵/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

ځواب په دې صورت کې له لوئ دوکان ځخه دبکر د درېيمې برخې غوښتنه صرف بې ځايه او غلطه ده په دې دوکان کې شرعًا دده په هيڅ ډول شرکت نشته (۲) فقط.

---

(۱) لقوله عليه السلام : كل احداحق بماله من والده وولده والناس اجمعين (السنن الكبرى للبيهقى ۷/ ۷۹۰ دارالكتب العلمية ،بيروت)

(۲) وكذا لواجتمع اخوة شامى (۳/ ۳۸۳) كتاب الشركة فصل فى الشركة الفاسدة ط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دیوه ورور دپل تجارت حکم

سوال: (۴۰) دځلورو سکه ورونو تجارت یوځای وي جائداد ملکیت اونور ټول شریک دي خوراک ،څښاک هم یوځای کوي په دوئ کې یوه ورور له چاڅخه قرض واخست له نورو ور نو جلا تجارت هم کوي او دخپلو ورونو سره هم سم په تجارت کې برخه اخلي په زیاتوب وختونو کې دخپل تجارت چارې ترسره کوي نو په دې صورت کې په دغه خاص تجارت کې چې کومه ګټه یا تاوان وشي دابه یواځي دده وي که به ټولو ورونه په دې کې شریکان وي؟ (۱۳۳۵/۸۱۵هج)

ځواب: ددې ځان ته تجارت دګټې او تاوان هیڅ و رور شریک او ذموارنه دی (۱) فقط

دورونو دپلومالونو حکم

سوال: (۴۱) دیوه سړی په وارثانو کې دوه زامن اویوه ښځه دي ترشلو کلونو پورې یې خوراک یوځای وکړاماکاراوګټه دواړوزامنوبپله ،بپله کوله اودګټې مال یې بپل ،بپل ښووی جائدادونه ،کورونه ،تالابونه اونورې رانیول اوجوړول اوس دوئ جلا کېدل غواړي نودغه جائدادونه ، مکانونه ، تالابانواونوربه ددوئ ترمینځ څرنګه وېشل کیږي ؟ آیاهغه جائداداومکانونه اونوربپل ، بپل چې چارانولې یاجوړکړې دي دهماغه به وي که به پروارثانوددوئ له برخوسره سم برابروېشل کیږي؟ (۱۳۴۵/۹۴۲هج)

ځواب: کله چې دغودواړوزامنوجلا ، جلا ګټلې دي اودخپلې ګټې په مال هریوه بپل ،بپل جائدادونه رانیولې دي اوسرایونه اونورجوړکړې دي نوهریودخپلې ، خپلې ګټې اورانیولې جائدادمالک دی دنوروواړثانوپکې هیڅ حق اوبرخه نشته

قال فی ردالمحتار: یؤخذ من هذا : مافتی به فی الخیریة فی زوج امرأة وابنهااجتمعافی دارواحدة واخذکل منهمابکتسب علیحدة ویجمعان کسبهماولایعلم التفاوت والاالتساوی ولاالتمیزفاجاب بأنه بینهما سویة الخ (۲) په دې عبارت کې دویجمعان کسبهما الخ له قید څخه معلوم شوه

---

(۱) وفی الدرر: لایستحق الربح الاباحدی ثلث: بمال اوعمل اوتقبل (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار. (۳۸۲/۳ کتاب الشرکة مطلب فی شرکة التقبل.

(۲) ردالمحتار (۳۸۳/۳) کتاب الشرکة بعد فصل فی الشرکة الفاسدة ط رشیدیه.

چې که دوئ دواړه خپل ګټلی مال په خپل مینځ کې سره غونډ نکړي نو هریو د خپل خپل ګټلې مال اوجائداد څښتن دی لاخفاء فیه فقط.

دیوه ورور په کارکې ګډون نه کول

سوال: (۴۲) کلاه محمد، وصی محمد، نورمحمد اوعبدالرحیم څلور سکنې ورونه وودتو لوخوراک، څښاک یوځای وواماکاروبارصرف درپیوورنوپه ګډه کاوونورمحمد خپل وخت په سیلونواولاوبالی کې تیراوودتقدیرفیصله وه چې یوتاجرراغی اوپه چل اودوکه یې دکورتول سامان سره دګنې بلکې له بهرڅخه هم چې څومره مال په لاس ورغی تول یې یووړی چې شمیریې انداز۴۲زره وولهدې څخه یوه روپی هم وصول نه شوه چې له املهیې دري سره ورونه په سخت زیان اوتاوان کې ولوېدل اخیرپای مایوس شول دري سره ورونو په ډیرکوشش بیاکاروبارپیل کړاوپه ډیره ګرانه یې ۱۸زره قرضه اداکړې وه چې عبدالرحیم وفات شوپه دې وخت ۲۴زره قرضه پاتې وه اوسرمایه هیڅ نه وه عبدالرحیم یوزوئ عبدالرحمن ،یوه لورنوربی بی ،یوه ښځه مریم اودري ورونه پرېښودل.

له دې وروسته کلاه محمداووصی محمد کاروبارپرمخ بوتلی اودخدای جل جلا له په فضل پاته توله قرضه یې اداشوه اوڅه سرمایه هم جمع شوه چې پکې داستوګنې لپاره یوکورهم واخستل شولس کاله وروسته وصی محمدوفات شوهغه دوه زامن محمدایوب، محمدعثمان، یوه ښځه نوربی بی، اودوه ورونه پرېښوول نوربی بې دوصی محمدله ترکې څخه خپله برخه دخاوندزامنومحمدعثمان اومحمدایوب ته هبه کړه دتجارت کاروبارپر مخ روان ووکلاه محمدوفات شوهغه دوه زامن محمداسماعیل، عبدالغفار،دوې لونې رحمت، زینب اویوه ښځه عائشه پرېښودل بیارحمت وفات شوه دې یوزوئ عبدالقدوس یوه لورزبیده اوخاوند عبدالغنی پرېښوول بیازینب وفات شوه دې یوزوئ ابوالقاسم ،دوې لونې آمنه اوسکینه اوخاوندمحمدرفیق پرېښوول بیامحمدعثمان مړشوده دوې لونې جمیله اوجنت ،یوه ښځه سائره اویوسکه ورورمحمدایوب پرېښوول بیامحمدایوب انتقال شوده یوه ښځه سکینه دري زامن اکرام، محمد، اولقمان اوځلور لونې رابعه، اسیه ،سلمی اواسماء پرېښوول.

اوس پوښتنه داده چې په دغه کاروبارکې چې درپیوورونوکلاه محمد، وصی محمد، اوعبدالرحیم په ګډه کارکاوواویوه ورورنورمحمدهیڅ نه کول هریوه ورورد څومره، څومره برخوحقداردی؟ دنورمحمدهم څه برخه شته، که نه؟ که شته نوڅومره؟ اوعبدالرحیم چې کله

Maktaba Tul Ishaat.com

وفات شوی ووهغه وخت پرته له قرض نورهیڅ نه وونوده هم برخه په دې کاروبارکې شته ،که نه ؟ که شته نوڅومره ؟ بیاددې څلورووروڼوبرخې به ددوئ پروارثانوڅرنګه وېشل کیږي ؟ (۱۳۴۱/۹۹هج)

ځواب په شامی فصل شرکة فاسده کې راغلې دي : وکذالواجتمع اخوة یعملون فی ترکة ابیهم وعماالمال فهوبینهم سویة ولواختلفوافی العمل والرای الخ(۱) (شامی: ۳/ ۳۴۹)

له دې روایت څخه معلومه شوه چې که دپلار په ترکه کې څوورونه کاروبار اوتجارت وکړي اوهغه پرمخ بوزي نوهغه ټول ورونه په داسي کاروبارکې برابره برخه لري که څه هم ددوئ عمل اوکوشش ببل ،ببل وي خوکوم ورورچې یومخ له دې کاره جلا وواوهغه هیڅ ډول مرسته له ورونوسره په کارکې ونکړه اوهیڅ ډول کاربې ونکړنودپورتني روایت له مفهوم څخه معلومه شوه چې دی په دغه زیاتوب کې ونډه نلري صرف له اصلي ترکې څخه چې څه ده ته ورسیږي دی دهغه مالک دی اووروسته چې کله هغه مال ټول ضایع شونوبیاله نوې سره چې کوموورونوکارپیل کړی اوکاربې پرمخ بوتلی اودپلارترکه هیڅ شی پاتي نه شونوهغه ددوئ دی یعنی کوموورونوچې قرض واخست سرمایه یې زیاته کړه اوګټه یې وکړه نوداصرف ددوئ حق دی اوله دوئ وروسته ددوئ بچیانوته ددوئ برخه رسیږي فقط.

بېله سرمایې اوشرطه دوروړپه تجارت کې عملا شریکېدل صرف احسان دی

سوال (۴۳) دزیددرې زامن عمر، بکر، خالد ، دزیدپه ژوندکې عمرنوکري کوله خوزید ته یې څه نه ورکول آن تردې چې زیددعمردکورواالاونورخرچه هم کوله څوورځې وروسته عمردملازمت په روپوتجارت پیل کړدزیدله وفات وروسته بکرپه تجارت کې ببله کوم شرطه اوبې دروپوله ورکولوورشریک شواوترڅلورو کلونوپورې عمراوبکردواړوکارونه کول له دې وروسته له یوبل څخه جلا شول په دې صورت کې دتجارت له مال څخه وبکرته څه برخه رسیږي ،که نه ؟ اوخالدهم دکومې برخې حقداردی ،که نه ؟ (۱۳۴۵/۹۲۱هج)

(۱) ردالمحتار (۳/ ۳۸۳) کتاب الشرکة ، بعدفصل فی الشرکة الفاسدة ط رشیدیه.

خواب : عمرچی کله دخپل پلار(زید) څخه دده په ژوند کې اړیکې ختمې کړې دي نوده چې پخپل کسب کوم تجارت وکړهغه ټول دده دی دپلار یاددهٔ دنوروورونیو په دې کې هیڅ حق نشته بکرچې دخپل ورورعمرسره کوم شراکت وکړاودده سره یې شرکت کوم شرعي شراکت نه دی چې وربانډي شرعي حکمونه جاري شي نودتجارت په دې مال کې دعمرهیڅوک شریک نشته دادپلارپه ترکه کې نه شمارل کیږي چې خالدیانوروارثان په دې کې شریک شي (۱) خوپه دې کې هم شک نشته چې دعمردغه فعل شرعًا روانه ووچې ده دکوروالا اوبچیانونفقه دخپل پلارپرغاړه اړولې وه په دې دی ګنهګاردی اوپه دې لحاظ که دی په دغوروپوکې خپل نورورونه هم شریکان کړي نودنفقې دخرچوبه څه ناڅه جبران وشي.

له پلاره دپل اوسېدوونکې زوئ ګټلي مال دپلارپه ترکه کې نه شمارل کیږي

سوال : (۴۴) زیدچې خاوند دعلم اوپه یوه کلي کې امام وولهٔ اولنۍ ښځې څخه یې یوزوئ(عمر) پیداشوزیدوخپل زوئ عمرته واده وروکړپه امامت کې یې خپل ځای ناستی وټاکی اوڅه جائداداوګڼه کوم چې دعمردموروودعمرسره بیله هبې کولوپربښوول په بل کلي کې امام شواوداولې ښځې تروفات وروسته زیدپه بل کلي کې دوهمه نکاح وکړه له هغې څخه یې کوچنیان ونشوبیایې له درېیم واده څخه څوکوچنیان وشوکوم چې موجود دي اوزیدته په دوهم کلي کې څه جائداداوګڼه په لاس ورغلواوعمرپه اول کلي کې څه پرمختګ دامامت له آمدنۍ څخه وکړوروسته زیدوفات شواوس عمروایې کوم جائداد اوګڼه چې زماسره دي هغه زمادي اوپه دوهم کلي کې چې کوم جائداداوګڼه دي هغه دزیدترکه ده ،ځکه نوزمابه هغه کې برخه پکاردهٔ اودوهمه ډله وایې چې ټول جائداداو ګڼه دزیدترکه ده په دې صورت کې شرعي فیصله څنګه ده ؟(۱۳۴۵/۸۷۳هج)

---

(۱) ثم هذا فی غیرالابن مع ابنه لمافی القنیة الاب وابنه یکتسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهماشئ فالکسب کله للاب ان کان الابن فی عیاله الخ (ردالمحتار(۳/ ۳۸۳) کتاب الشرکة ، فصل فی الشرکة الفاسدة ط رشیدیه) له پورته بیان شوې روایت څخه معلومه شوه چې زوئ جلا وي نودهغه مال دپلارمال نه بلل کیږي والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : ددې پېښې په اړه مخکې پوښتنه شوې وه له هغه څخه معلوم شوې ووچې عمرجلا اوسېدی دزید په عیال یعنی پالنه کې نه وواوعمردخپل امامت په کسب جانداد واخست اوپرمخ یې بوتلی نوپه دې صورت کې دشامي درواېت سره سم چې دعمرسره کوم څه ګټلې دي هغه دزید په ترکه کې نه شمارل کیږي اوکومه ترکه چې دزید په دوهم کلي کې ده په هغه کې دنوروواړثانوسره عمرهم برخه لري الاب وابنه یکتسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهماشئ فالکسب کله للاب ان کان الابن فی عیاله لکونه معیناله الخ (شامی عن القنیة ص: ۳۴۹) نودان کان الابن فی عیاله له قید څخه معلومه شوه چې که زوئ ببل اوسیږي اودپلارسره یوځای شامل نه وي نوددې سره چې کوم ګټلی مال دی هغه دپلارترکه نه شمارل کیږي(۱) فقط.

له پلارسره داوسېدوونکې زوئ ګټلي مال دپلارپه ترکه کې شاملیږي

سوال : (۴۵) *زیددوپسرداشت بکې ازانهادرحالت پیری پدرخوراز عیال پدرعلیحده گردیده قدری اموال فراهم گردانیدوپسردیگردرعیال پدربوده ازکسب خودبرپدرخود نفقه گردانیدوقدری اموال حاصل گردانید،بعدمرگ پدرپسریکه علیحده بوازاموال پسریکه درعیال پدربودحصه می طلبدواموال مکسوبه خودرابوجه علیحدگی ملک خاص خودقرارداده برادرخودرامحروم می گرداند؟ فقط (۱۵۳۴/۴۲-۱۳۴۷هج)*

جواب : *پسریکه درعیال پدربودمکسوبه اوکه شامل مکسوبه پدرشدملک پدراست وبعدازمرگ پدردرترکه اش شامل است وپدروپسردران بحصه مساوی حق دارندومالک اندپسریکه درعیال پدرنبودمکسوبه اوخالص ملک اوست پسردیگررا دران حصه نمی رسدکذافی الشامی(۲) فقط.*

سوال (۴۵م) ترجمه: دزیددوه زامن دي په هغوئ کې یوه دپلارپه سپین ږیرتوب کې دده له عیاله ببل شوځه مال یې جمع کړاودوهم زوئ دپلارپه عیال کې ووچې څه به یې ګټل په پلاربه یې لګول اوسامان یې هم حاصل کړدپلارتروفات وروسته کوم زوئ چې جلا شوی وودپلارپه عیال کې اوسېدوونکی زوئ په مال کې دبرخې غوښتنه کوي اوخپل

(۱) الشامی (۳/۳۸۳) کتاب الشرکة، بعد فصل فی الشرکة الفاسدة.
(۲) الشامی (۳/۳۸۳) کتاب الشرکة، فصل فی الشرکة الفاسدة.

ګټلی مال اوسامان دبلوالي له املې خپل دځان بولي دوهم وروربې برخې کوي ؟

خواب: کوم زوئ چې دپلارپه عیال کې وودهغه ګټلی مال اواسباب دپلارپه ګټه کې دشاملیدوپه وجه دپلارملک دی اودپلارله مړینې وروسته په ترکه کې شمارل کیږي .ځکه نودواړه زامن به په دې کې دبرابروبرخوحق لري اوکوم زوئ چې دپلارپه عیال کې نه وودهغه ګټلی مال دهغه ملک دی ،ځکه په هغه کې دوهم زوئ هیڅ برخه نلري.

دمشرورورخپلې اودنابالغ وروررویې په تجارت کې لګول

سوال: (۴۶) حسیني نابالغ مرحوم دخپل مشرورورنبی صاحب سره یوځای اوسیدی اونبی صاحب خپلې اودخپل وروررویې په تجارت کې ولګولې نوکومه ګټه چې وشوه هغه دچاده ؟ (۴۴/۲۲۴-۱۳۴۵هج)

خواب: هغه ګټه ددواړوده (۱) فقط.

دیوه وروراله مشترک مال څخه وخپل زوئ ته دکاروبارلپاره روپۍ ورکول

سوال: (۴۷) امین الدین ، کریم الدین ، اوقسیم الدین درې سره وروڼه له همېشه څخه په مال اوسامان سره ګډدي دامین الدین یوزوئ له خپل پلارڅخه څه روپۍ وغوښتې چې زه جلا کاروبارکوم امین الدین ودغه زوئ ته دروپووركولوپرمهال داوویل چې کله زه وروپوته اړشم دغه روپۍ به زه اخلم چې کله ستاکارپرمخ ولاړشي رابې کړه نوموړې زوئ کاروبارو کړبحمدالله پرمخ ولاړی اودپلارروپۍ یې وراداکړې کومې روپۍ چې امین الدین ودغه زوئ ته ورکړې وي هغه یې له مشترک مال څخه ورکړې وي یعنی دټولو وروڼو وي اودروپووركولوپرمهال یې له نوروشریکانواجازه نه وه اخستې خوټول په دې پوره خبروواماقسیم الدین اوکریم الدین په دې نه ووخبرچې دبرته ورکولوپه وعده یې روپۍ ورکړې دي نوپه دې صورت کې قسیم الدین اوکریم الدین دنوموړې هلک اکاګان دهلک په ګټلې مال کې دبرخې حق لري ،که نه ؟ (۴۱/۲۱۳-۱۳۴۱هج)

---

(۱) وكذا لواجتمع اخوة يعملون فى تركة ابيهم ونماالمال فهوبينهم سوية ولواختلفوا فى العمل والرأى (الشامى ۳: ۳۸۳) كتاب الشركة فصل فى الشركة الفاسدة ط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat. com

ځواب : په دې صورت کې قسیم الدین اوکریم الدین ددغه هلک په ګټلی مال کې برخې موندلو حق نلري فقط.

په مشترک کاروبار کې دوفات شوې ورور دبچیانو برخه

سوال : (۴۸) دزید له وفات وروسته دزید له نغدې ترکې څخه دده ددرې یو سره زامنو کاروبار دتجارت یوځای ووبیاله دوئ څخه عمروفات شواودهغه بچیان هم خپلو دواړو اکاګانو سره یوځای دي اودرأس المال (اصل مال) دتجارت دزید ترکه وه چې دري سره ورونهوورباندي یوځای کاروبار کولو خودواړو اکاګانو دعمر تروفات وروسته چې څومره کورونه جائداداونورپه دغه مشترک مال حاصل کړی دی یا یې حاصلوي هغه ټول پرخپلو نومونورانیسي اودوفات شوې ورورزامن تراوسه له دوئ سره دي په داسي صورت کې دعمربچیان په ټول جائداداودتجارت په سامان کې دخپلو برخو سره سم برخې لري اوشرعًا شریکان دي ،که نه ؟ (۸۹۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : کله چې دعمرترکه اوحصه دواړوورونهوپه تجارت کې ورګډه دخپلو برخو په رنګه وساتله نوپه ګټه کې دعمربچیان دنوروورونهوپه خیرمالکان اوشریکان دي ترڅوچې شراکت باقي دی په ګټه کې ټول حق لري یعنی دعمربرخه به هم دنورو دووورونهوپه خیروي اودعمربچیان ددې حقداران دي(۱) فقط.

دفوت شوې شریک روپۍ په تجارت کې لګول

سوال : (۴۹) زیدوفات شوجائداداونغدې روپۍ یې پاتې شوې نغدې کمې وي له زیدوروسته دزید شریکانودزید نغدې روپۍ په تجارت کې ولګولې تجارت یې په وکړ داجائزدي ،که نه ؟ اوګټه اوتاوان دزیدوروپوته لګیږي ،که نه ؟ (۱۰۷۷/ ۱۳۳۹هج)

---

(۱) وکذا لواجتمع اخوة یعملون فی ترکة ابیهم ونماالمال فهوبینهم سویة ولواختلفوا فی العمل والرأی (الشامی ۳۸۳/۳) کتاب الشرکة فصل فی الشرکة الفاسدة ط رشیدیه.

ځواب : دزید تروفات وروسته تجارت ختم شواودشریکانوسره معامله پوره شوه نوکه شریکانودزید روپی په تجارت لګېدلې وساتي نوتاوان دزید پرروپونه راځي په ګټه کې اختیاردی که یې پراچوي ،که نه ؟(۱) فقط

له مشترکې ترکې څخه چې کومه ګټه وشوه دهغې حقدارڅوک دی

سوال : (۵۰) دزید په ترکه کې ۲۷۰۰ روپی نغدې وي اودده دوفات پرمهال داوارثان پاته شول یوه ښځه عائشه ، یوه لورفاطمه ، درې زامن ، زیدخوتاجروو ،څکه دده دغه روپی په تجارت کې لګېدلې وي دده په ژوندکې اوله دې وروسته هم وارثانوخپلې ،خپلې برخې نه دي اخستې، بلکې دتجارت لرې همداسي روانه وه نژدې لس کاله تیرشوخوددغو روپوله آمدنی څخه دریوسره زامنوخپلې خرچې اخستې خوفاطمي اوعائشې ترننه یوه آنه هم نه ده اخستی بلکه پرټول جائدادکه نغدې وي که سامان ددغودرېیوورونوقبضه اوتصرف وودفاطمي اوعائشي خوراک ،ځښاک هم له ترکې څخه نه دی راوتلی.

اوس دغه ترکه وېشل کیږي اوپه کاته کې دلیکل شوې حساب له مخې درې سره هلکانواووه زره روپی په لس کاله کې مصرف کړې دي اونژدې یوولس زره روپی اوس هم موجودي دي چې پکې اصل روپی ۲۷۰۰ هم شاملې دي چې ورڅخه دګټې په توګه دغه اتلس زره روپی حاصلې شوې دي اوس پوښتنه داده چې دفاطمي اوعائشي برخه به صرف دموجوده یوولس زروروپوڅخه اداکیږي که له اتلس زروڅخه ولي چې فاطمه اوعائشه دعوی کوي چې دغه روپی زمونږپلرڅووارثانوترمینځ په شرکت ملک سره مشترکې وي چې ورڅخه درې سره ورونوزمونږله اجازې پرته اووه زره روپی مصرف کړې دي اومونږیوشی هم نه دی اخستی ؟(۱۸۱۵/ ۴۶ - ۱۳۴۷هج)

ځواب : په پوښتنه کې په بیان شوې صورت کې شرکت عقدنه خوپه څرګنده تیاسره منعقدشوی دی اونه دفقهې قواعدله مخې کېدای شي ،څکه چې دزید ترکه زیاتره عرض تجارت یعنی سامان اونوردي اوپه دې کې شرکت عقدنشي کېدای لکه چې په خلاصة الفتاوی کې راغلې دي: الشرکة انماتصح بالدراهم والدنانیروالتبرلایصلح رأس مال

(۱) وتبطل الشرکة بموت احدهما (تنویرالابصارمع الشامی (۳/ ۳۸۴) فصل فی الشرکة الفاسدة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

الشركات فی ظاهرالرواية وفی روایة كتاب الصرف التبركا لنقودوالمتعرفيه العرف الخ (۱)
ځکه نودزيدترکه دزيددوارثانوترمينځ په شرکت ملک سره مشترکه ده اوپه
شرکت دملک ويوه شريک ته دبل شريک په برخه کې دتصرف کولوشرعًا هيڅ حق
نشته لهذادې سره زامنوچې ترلسوکلونوپورې دعائشی اوفاطمي پربرخوددوئ له
اجازې پرته کوم تاجرانه تصرفات کړې دي هغه ترعقدشرکت لاندي نه شي راتلای
اوکومه گټه چې په دغه موده کې شوې ده هغه به داصل مال په خيرپروارثانوددوئ
دبرخوسره سم وېشل کيږي يعنی په ذکرشوې صورت کې به اتلس زره روپی اصل
وگرځوددې اتمه ،اتمه برخه به وعائشه اوفاطمي ته ورکول کيږي ، علامه شامی
رحمه الله ددې مسئلې په اړه په يوه مستقله جزئيه کې هم حکم ليکلی دی.

تنبيه : يقع كثيرافی الفلاحين ونحوهم ان احدهم يموت فتقوم اولاده على تركته بلا قسمة ويعملون فيهامن حرث وزراعة وبيع وشراء واستدانة ونحوذلک وتارة يكون كبيرهم هوالذی يتولى مهماتهم ويعملون عنده بأمره وكل ذلک على وجه الاطلا ق والتفويض لكن بلا تصريح بلفظ المفاوضة ولابيان جميع مقتضياتهامع كون التركة اغلبها او كلهاعروض لاتصح فيهاشركة العقدولاشک ان هذه ليست شركة مفاوضة خلافالماافتى به فی زماننامن لاخبرة له بل هی شركة ملک كماحررته فی تنقيح الحامدية ثم رأيت التصريح به بعينه فی فتاوی الحانوتی فاذاكان سعيهم واحداولم يتميزماحصله كل واحدمنهم بعمله يكون ماجمعوه مشتركابينهم بالسوية وان اختلفوافی العمل والرأی كثرة وصواباكمافتی به فی الخيرية الخ (شامی كتاب الشركة دربيم توک) (۲)

دشرکت خوفاسدصورتونه

سوال : (۵۱) زيداوبکرمسلمانان اوموهن نامسلمان دوئ دري سره په يوه تهکه کې شريکان دي صورت داسي دی چې پردولتي سړک شکه اچول دي په دوئ کې يواځي زيد روپی لګوي اواړوندکارزياتره دمزدورانوپرغاړه دی چې دهغوئ لګول اوبندوبست کول اونورهم زيدکوي.

(۱) خلاصة الفتاوی ۴/۲۹۴ كتاب الشركة الفصل الاول مطبوعة نول كشورلكنو.
(۲) الشامی (۳/۳۷۰) كتاب الشركة ، مطلب فی مايقع كثيرافی الفلاحين ط رشيديه .

څه ناڅه څارنه هریوکوي پخپل مینځ کې داسي پریکړه کړې ده چې خاص له ګټې څخه به دوې برخې زیداویوه یوه برخه بکراوموهن اخلي آیادامعامله رواده ؟ (۳۲/۱۰۷۵-۱۳۳۳هج)

ځواب : دیادشوې شرکت معامله دشریعت له مخې سمه نه ده ځکه چې په شراکت کې باید روپۍ دټولوشریکانووي(۱) اوکه مضاربت دې ته وویل شي نوپه مضاربت کې عمل دبل چایعنی دمضارب پکاردی رب المال (دمال څښتن) یعنی دزید عمل شرط ګرځول عقدفاسدوونکی دی کمافی ردالمحتاروغیره(۲).

سوال : (۵۲) زیداسپه رانیوله اوبکرته یې وویل چې حکومت داسپوپه نوم څلورمه دمځکې ورکوي اوزمازوئ خالدشاهددکم عمردی اوپاللې اسپه حکومت منظوره نکړي که زماپه نوم اسپه قبوله کړي بیاهم ستاسواوزمانیمه برخه ده اوکه ستاسوپه نامه یې کومه اسپه قبوله کړه نوبه هم برخه برابره شي اونیم قیمت داسپې بکروزیدته ورکړدخالد اسپه قبوله نه شوه اودبکرپاللې اسپه قبوله شوه داشراکت روادی ،که نه ؟ اودمځکې حاصل دچاحق دي کله چې اسپه دبکرپه نامه قبوله شوه اودخالدپه نامه نشوه قبوله(۱۰۱۲/۱۳۴۵هج)

ځواب : دغه شرکت صحیح نه دی اوپه ظاهره دشراکت په قسمونوکې په یوه قسم کې هم داخل نه دی ،ځکه نوکوم څه چې دداسي ورکولوپه وجه دبکرپه نامه مځکه ورکوله شوه دهغه ګټه صرف دبکرده که هغه احساناڅه وزیدته ورکړي نودارواديي په درمختارکې راغلي دي: بخلا ف شرکت دلالین ومغنین الخ ووعاظ وسوال لان التوکیل بالسؤال لایصح قوله لان التوکیل بالسؤال لایصح ومالاتصح فیه الوکالة لاتصح فیه الشرکة (شامی ۳/ ۳۴۸) (۳) فقط.

---

(۱) قال فی البدائع اماالاول وهوالشرکة بالاموال فهوان یشترک اثنان فی رأس مال الخ (بدائع ۵/ ۷۳فی اوائل الشرکة)

(۲) وعبارة الشامی: واشتراط عمل رب المال مع المضارب مفسدللعقدلانه یمنع التخلیة فیمنع الصحة (الشامی (۵۴۴/۴ ،ط رشیدیه) وفی الهندیة فان شرط ان یعمل رب المال مع المضارب تفسد المضاربة (هندیه ۳۸۷/۴)

(۳) الدرالمختاروالرد (۳۸۱/۳)مطلب فی شرکة التقبل ، کتاب الشرکة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

سوال : (۵۳) زیدوعمرته وویل چې که ته په تجارت کې روپۍ راکړې نو په ګټه کې به دوې درېیمې زماوي اویوه درېیمه ستااوتاوان به هم داسي وي له دې معاملې وروسته زیدوعمرته څه روپۍ ورکړي دما ل درانیولولپاره یې ولیږلې عمرخپل وطن ته ولاړی روپۍ یې بېرته ورکړې داسي یې ورته ولیکل چې اوس دمال رانیولوموقع نشته له دې وروسته زیدوعمرته ولیکل چې مادوعدې سره سم مال رانیوی که ته راسزه شراکت کوي نوروپۍ راولیږه عمردوه زره وروليږلې نوعمرپه دې صورت کې شرېک شو،که نه ؟ اوداشراکت صحیح شو،که نه ؟ (۱۱۵۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : داشراکت فاسددی چې په دې کې خواول دروپیومقدارنه دی بیان شوی اونقصان په هرصورت کې درېیمه دعمرپه ذمه شوی دی ،ځکه نوداشراکت فاسددی اودفاسدشراکت حکم دادی چې څومره دهریوه روپۍ وي دهغومره ګټې اوتاوان به هغه ته ورکول کیږي(۱) فقط.

له خیانت کوونکو شرېکانوسره بایدڅه وشي

سوال : (۵۴) په یوه دوکان زیداونورځوکسان شرېکان شول ټولوپردې خبره وعده اوقسم واخست چې موږبه ددوکان له شراکته نه جلا کیږواونه به دکوم شرېک حق خورواودېرپه اېمانداری سره به کارترسره کوواوس دد ې په خلا ف دده ځیني شریکان دنوروشرېکانو سره خیانت اودهغوئ حق خوري زیدله دې ویریږي چې دوعدې په مالونوکومه مواخذه ونه شي په دې صورت کې بایدڅه وشي ؟ (۱۲۰۲/ ۱۳۳۵هج)

ځواب : په دې حال کې که زیدله شراکته جلا شي نوپرده هیڅ مواخذه نشته بلکې دداسي خائنانوخلګوسره په شراکت کولوکې دمواخذې اندېښنه ده ،ځکه نودزیدلپاره ضروري ده چې دی شراکت پرېږدي(۲) فقط.

---

(۱) والربح فی الشرکة الفاسدة بقدرالمال ولاعبرة بشرط الفضل (الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۳۸۳) کتاب الشرکة فصل فی الشرکة الفاسدة ط رشیدیه) وفی الشامی: والوضیعة بینهماعلی قدررأس مالهماابدا (ردالمحتار (۳/ ۳۷۴) کتاب الشرکة ، مطلب فی توقیت الشرکة روایتان ط رشیدیه)

(۲) قال رسول الله صلی الله المرء علی دین خلیله فلینظراحدکم من یخالل (مشکوة ص: ۴۲۷ ، باب الحب فی الله ومن الله).

په شراکت کې له تهمت (تور) څخه ځان ساتل

سوال: (۵۵) زمادیوې مېرمنې سره په زراعت (کښت) کې شراکت دی ددې کورنۍ په سلګونو ډوله تهمتونه لګوي څه حکم دی؟ (۱۲۵/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: کله چې ددې مېرمنې په شراکت سره تهمتونه لګیږي نو له داسې تهمت څخه ځان ساتل پکاردي ولي چې دتهمت له ځایونو څخه ژغورنې حکم په شریعت کې راغلی دی(۱) فقط.

له ډمې سره په تجارت کې شراکت کول

سوال: (۵۶) دحلال لې آمدنۍ درلودوونکې له ډمې سره په تجارت کې شراکت کول روادي ،که نه؟ (۲۵۸/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: داصورت له شکه وتلی نه دی اواحتیاط په دې کې غوره دی(۲) فقط.

دشرعې په خلاف قاعدې درلودوونکې کمپنۍ شیئرز (برخې) رانیول صحیح نه دي

سوال: (۵۷) یوه کمپنۍ قائمه شوې ده دهغې شئرز(برخې) راایستلې کیږي داخلګ رانیسي په داسې کمپنۍ کې شراکت روادی ،که نه؟ (۱۵۲۲/ ۱۳۳۸هج).

ځواب: ددادول کمپنیانو قواعددشرعې په خلاف دي شراکت په دوئ کې صحیح نه دی.

سوال: (۵۸) نن ، صبا چې تاجرانه کمپنیانې څرنګه قائمې دي چې ډیروخلګوروپۍ په دې کې شاملې وي اوهغوئ په کال کې مقرره نفع مثلا څلوېښت په سل کې یاله دې کم اوزیات پرونده نیوونکووېشي اوونده نیوونکې خپله ونده خرڅولای هم شي که دکمپنۍ کارېنه روان وي نوددې دبرخوقیمت زیاتیږي اوهمدارنګه دتاوان په حالت کې دبرخوپه قیمت کې کمی هم راځي نوپه دغوحالاتوکې ایاکوم مسلمان هم په داسې کاروبارکې برخه اخستلای شي؟ (۲۲۸/ ۱۳۳۸هج)

Maktaba Tul Ishaat. com

ځواب: قواعداومعاملات ددغوکمپنیانوزیاتره دشرعي په خلاف اوحرام وي مثلا په سل کې څه مقداردګټې معلومول داهم دشرکت اونورومعاملوفاسدوونکی دی دغه رنګه زیاتره قواعداوشرطونه دشرعي په خلاف وي اوخرڅول دکوم وندې لروونکي خپله برخه په کمواوزیاتوروپوهم حرام دی نوپه داسي معاملاتوکې دمسلمانانولپاره شراکت صحیح نه دی فقط.

سوال: (۵۹) زمونږپه زمانه کې دټراموي اوریلوی کمپنیانواونوروکارخانوبرخې چې ددې ځای په اصطلاح ورته شیئروایې رانیول کیږی ددې صورت داسی وي چې یوه کمپنۍ درخت یعنی جاموجوړولویااوسپینې جوړولومقرره شي اودهغه سرمایه مقرره شي دهغه برخې خرڅول کیږی اوددې کارکوونکې هم تنخواخستوونکې وټاکل شي اودخپلې برخې پرسرګټه هم وېشل کیږي اوځه روپۍ له ګټې څخه جمع کوي چې په سودورکول کیږي اوسوددې په ګټه کې ورګډیږي پروندې نیوونکووېشل کیږی اوددغوبرخوقیمت دکمپنۍ دګټې اوتاوان په اعتبارپورته اوکښته کیږي وندې نیوونکې خپلې برخې خرڅوي دسوداصورت داسي وی چې بائع (خرڅوونکې) ودلال ته وایې چې زه دخپلې فلانۍ کمپنۍ برخه خرڅول غواړم دلال یې خرڅوي دلته مشتری (رانیوونکی) پرکوم شی قبضه نه کوي بلکې دیوه پرځای دبل نوم لیکل کیږي دغه برخې رانیول روادي ،که نه ؟ (۵۳۴/۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: په داسي کمپنۍ کې شرېکېدل شرعًا روانه دي چې شرطونه اومعاملې ددې ټول دشریعت خلاف دي اوحرام دي اودسودمعامله په دې کې داخله ده بیادکوم بل چاکومه برخه له کوم شریک څخه اخستل اورانیول هم صحیح نه دي ،ځکه چې دپیرلواوپلورلوشر طونه په دې کې نشته اوکه داپربیع اوشراء حمل نکړوبلکې دافکروکړوچې یوشریک پرخپل ځای بل څوک دکمپنۍ شرېک جوړوي اوپخپله جلا کیږي نوداهم صحیح نه دی ،ځکه چې ددې کمپنۍ شراکت صحیح نه دی

آیاونډه نیوونکې دخپلوروپوغوښتلواواخستلوحق لري

سوال : (۲۰) یوه سړی څه روپۍ ویوې کمپنۍ ته ورکړي پکې ونډه یې ونیوله اودکمپنۍ داقانون دی چې روپۍ بیاهیڅکله په هیڅ زمانه بېرته نه ورکول کیږی یواځې ګټه به وروکول کیږي آیاداقانون روادی ؟ اوسره ددې قانونه ونډه نیوونکې دخپلوروپیود غوښتنې اواخستلوحق لري ،که نه ؟(۱۹۲/۱۳۴۱هج)

خواب : داقانون شرعًا صحیح نه دی وونډه نیوونکوته دخپلوروپودغوښتلو اواخستلو حق شته فقط .

په مشترک آمدني رانیول شوی جائدادوېشل

سوال : (۲۱) عمراوزیددووسکني ورونوپخپله خوښه دخپلواړوندوخوراک ،څښاک په شریکه کاوواودنوکري په وسیله چې کومې روپۍ ګټلې له خوراک ،څښاک څخه چې به زیاتې شوې عمربه په هغه جائدادرانیوی دسوداپانه به ددواړوورونوپه نوم لیکله کېده اوپه برابروبرخوبه جائدادرانیول کېدی اوس قبضه دعمراودزیددوارثانونیمه ،نیمه ده له دې رووسته دوه ځایونه عمرداسي رانیول چې دیوځای دسوداپانه دخپل ورورزیدپه نوم ولیکله اودبل ځای دسوداپانه دخپل زوئ په نامه ولیکله اودسوداپانې ترلیکلوورو سته تردوولسوکلونوپورې ددواړوقبضه وه بیادزیدپه زړه کې بدنیتی پیداشوه اوپرخپل ورورعمریې په محکمه کې عارضه وکړه چې دغه جائدادکوم چې عمردخپل زوئ په نوم رانیولی وودایې زماپه آمدني اوروپورانیولی ووومانه دي ځینې راواخستل شي له عدالت څخه دواړولومقدمه جرګې ته رابدله کړه اوزیددجرګې ومشرانوته رشوت ورکړی دخان ملګرې بې کړل اودعمرحق دعمرله لاسه ووت بیازیدمړشواوس عمرداپوښتنه کوي چې عمزچې کوم دغه جائدادد خپل زوئ اوزیدپه نامه رانیولی ووزیدپه بدنیتی سره هغه هم ناحقه پخپله واخست بیازیدمړشواوس دده دوارثانوپه قبضه کې هغه دعمرحق دی دوارثانولپاره دده حق ښوول څنګه دي ؟ (۸۹۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج

خواب : قال فی ردالمحتار: وان لم یعرف مقدارماکان لکل منهماصدقه کل واحدمنهما الی النصف لانهما استویافی الاکتساب وکان المکتسب فی ایدیهما فالظاهرانه بینهما نصفان الی ان قال وکذلک لواجتمع اخوة یعملون

Maktaba Tul Ishaat. com

فی ترکة ابیهم وعماالمال فهوبینهم سویة ولواختلفوافی العمل والرأی الخ (۱) له دې څخه معلومه شوه چې په داسې صورت کې دواړه ورونه برابرشریکان دي ددواړوترمینځ بایدجائدادنیم ، نیم ووېشل شي زیدچې کوم څه ناحقه اخستې دي داده لپاره روانه دي اودده دوارثانوپه هکله هم روانه دي ببرته ورکول پکاردي یادې په وبخښي اومورث چې کوم مال په حرامه وسپله ګټلی وي هغه دوارثانولپاره هم حرام دی کله چې دوئ ددې په حرام والي خبروی فقط.

دمشترکومکانونووېش څرنګه کیږي

سوال: (۲۲) دمشترکوسرایونووېش شرعًا څنګه کیږی ؟ (۲۰۹/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: کوم کورونه چې مشترک دي دهریوه تقسیم به جلا جلا کیږي کمافی الدر المختاردوَرمشترکة اوداروضیعة اوداروحانوت قسم کل وحدها (۲) وفی الکنز: دورمشترکة اوداروضیعة اوداروحانوت قسم کل علیحدة (۳) فقط.

سوال: (۲۳) که څوګڼه مخکه دخوکسانوسره شریکه وي اوځینې شریکان موجودوي اوځینئ نه وي نوموجودشریکان آیاشرعًا دااختیارلري چې له دغې مشترکې مخکې څخه دخپلې برخې په اندازه تقسیم جلا کړی په هغه کې تصرف وکړي اوپاته نوره مخکه دنوروشریکانولپاره پرېږدي داسې روادي ،که نه ؟ اوکه له نبسواوقربنوڅخه معلوم وي چې نورشریکان ددې اجازه کوي نوڅه حکم دی اوکه ځینې نابالغ وي نوڅه حکم دی ؟ (۳۲/۱۳۹۴-۱۳۳۳هج)

ځواب: په اوس زمانه کې چې قاضی ته دمرافعې کولوتصورنشي کېدای دموجودوشریکانولپاره دارواډي چې دعادله کلېوالوپه حضورکې خپله برخه بېله اوتقسیمه کړي په هغه کې تصرف وکړي.

---

(۱) ردالمحتار (۳۸۳/۳) ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختارمع الرد (۱۸۴/۵) کتاب القسمة ط رشیدیه)

(۳) البحرالرائق شرح کنزالدقائق: ۹ / ۲۷۲ کتاب القسمة.

اودغائب یانابالغ برخه خوندي کړی اوکله چي له قرینودغائب رضامعلومه شي نوجائز کیدل په اولی درجه دی لکه چي دلاندیني روایتونو څخه فهمیږي.

وان لغیرالوصی التصرف لخوف متغلب وعلیه الفتوی (درمختار) وفی الشامی واعلم ینحصرالتصرف فی الوصی اشارة الی جوازتصرف غیره کمااذاخاف من القاضی علی ماله ای مال الصغیرفانه یجورلواحدمن اهل السکة ان یتصرف فیه ضرورة الخ (۱) وفی العالمغیریة ایضا : والکرم والارض اذاکانابین رجلین واحدهما غائب اوکان الارض بین بالغ ویتیم یرفع الامرالی القاضی فان لم یرفع الحاضروزرع الارض خصته طاب له فتاوی قاضی خان (۲) ویناسبه روایات جوازاخذالدین من جنس الدین من مال مدیونه ومن خلاف الجنس ایضا ففی الدرالمختارواطلق الشافعی رحمه الله اخذخلاف الجنس للمحانسة فی المالیة قال فی المجتبی وهواوسع فیعمل به عندالضرورة (درمختار) قال القهستانی وفیه ایماء الی ان له ان یأخذمن خلاف جنسه عندالمحانسة فی المالیة وهذااوسع فیجوزالاخذبه وان لم یکن مذهبنافان الانسان یعذرفی العمل به عندالضرورة کمافی الزاهدی انتهی قلت وهذاماقالوا: انه لامستندله لکن رأیت فی شرح نظم الکنز للمقدسی ..... ان عدم جوازالاخذمن خلاف الجنس کان فی زمانهم الخ والفتوی الیوم علی جوازالاخذعندالقدرة من ای مال کان الخ (ردالمحتارج : ۳ کتاب السرقة) (۳)

دپلاراوځینوزامنوګټلي مال څنګه ووېشل شي

سوال : (۲۴) دزید پنځه زامن بالغ دي اودوه زامن یوه لوریې نابالغ دي زید پخپل محنت سره دزروروپونغدوسامان اونوروګټل بیابې دبالغوزامنوپه ملګرې دځلورزرومال وګټی حالادزیدسره دپنځوزرومال موجوددی په مشترکو مالونوکې چاځومره وګټی اوځومره محنت یې وکړدې معلومول مشکل دي یوه زوئ ولیدنژدي تراتوکلونوپورې طالبي وکړه

(۱) ردالمحتار (۵/۵۰۴) کتاب الوصایافی آخرباب للوصی وهوالموصی الیه ط رشیدیه.
(۲) هندیه: ۲/ ۳۴۱، ۳۴۲ کتاب الشرکة فصل فی المتفرقات.
(۳) الشامی کتاب السرقة (۳/ ۲۱۹، ۲۲۰) مطلب یعذربالعمل بمذهب الغیرعندالضرورة ط رشیدیه

Maktaba Tul Ishaat. com

اوله مشترکورو پوځخه ډیري روپۍ مصرف کړي دطالبۍ څخه ترفارغېدوورو سته څه لږموده په کارکې شریک ووددوهم زوئ ولی احمدلاتراوسه واده نه دی شوی اوس زید اوزامن له یوبل څخه جلا کېدل غواړي نودمال وېش به ددوئ څرنګه کیږي ؟اوونابالغ بچیانوته به هم برخې ورکول کیږي ،که نه ؟(۲۰۴۹/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : په دې صورت کې دغه ټول مال دزیدملک دی که زیددغه مال پربچیانووېشل غواړي نوپرټولوبچیانوبالغواونابالغودې برابرووېشي اوکه زیدپخپل ژوندکې تقسیم ونکړنودزیدتروفات وروسته به ټول وارثان دشرعي برخوسره سم برخې وړي لکه چې په شامي کې راغلې دي: [ثم هذافی غیرالابن مع ابیه لمافی القنیة الاب وابنه یکتسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهماشئ فالکسب کله للاب ان کان الابن فی عیاله لکونه معیناله الاتری لوغرس شجرة تکون للاب الخ(۱) فقط.

ددوورونوپه ګډه ګټلي مال به څنګه وېشل کیږي

سوال : (۲۵) دوه ورونه له پنځلس ، شل کلونوځخه یوځای ژوندتیروي اودواړویوځای جائداداوسامان کسب کړل اوس دواړه ورونه بېل شول په دې صورت کې ګټلی مال اوجائدادبایدځنګه تقسیم شي ؟ آیادواړه خپل ،خپل ګټلی مال واخلي که ټول مشترک وبولي تقسیم یې کړي ؟(۳۵/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : په دې صورت کې دې ګټلی مال اوجائداداونورپردواړونیم په نیمه ووېشل شي کمافی ردالمحتارللشامی : فی زوج امرأة وابنهااجتمعافی دارواحدة واخذکل منهما یکتسب علی حدة ویجمعان کسبهماولایعلم التفاوت ولاالتساوی ولاالتمیزفاحاب بانه بینهماسویة وکذا لواجتمع اخوة یعملون فی ترکة ابیهم

(۱) ردالمحتار (۳/ ۳۸۳) کتاب الشرکة: فصل فی الشرکة الفاسدة ط رشیدیه.

وعائلان فهو بينهم سوية ولواختلفوافي العمل والرأى الخ (۱) (شامی دریم لټارک) فقط.

دورونوترمینځ شریک سامان څرنګه ووېشل شي

سوال: (۲۲) زید، عمر، بکرسکه ورونه دي دموراوپلارله ژوند څخه زید دملازمت کولوسره دکوردتولوخرچواونوروذموراوکفیل دی اواوس ترمرګ وروسته هم دی نودبیلبدوپه صورت به شرعًا دهریوه څومره برخه جوړیږي؟ (۷۲/۳۵-۱۳۳۲هج)

خواب: که ټول ورونه ګټي اوټول شریکان دي اودکم اوزیات حال معلوم نه دی نوکوم څه چي په کورکې شته دجلاکېدوپرمهال دي ټول برابر، برابرووېشي اوکوم څه چي پلارپرې اینبې دي هغه دې هم ټول برابرتقسیم کړي (۲) فقط.

دمشترکې ترکې اومشرورورپه نوم رانیول شوې جائدادوېش

سوال: (۲۷) یوه مېرمن وفات شوه ددې ترکه ددې ددووزامنومحمدحسن اوعبدالغفارپه قبضه کې راغله اوله دې وروسته ددې ددوولونومریم اوبي بی برخې هم کومې چي دپلارله ترکې څخه ورکول شوې وي دهغې دپاڼې په وسپله په نامه دمحمدحسن اوعبدالغفارپه ګډه دواړوورنوته منتقلې شوې تراوسه کاروبار، خوراک، څښاک یوځای وواوپه دې مینځ کي چي کوم نامنقوله جائداداونورانیول شوې دي دهغوئ پراسنادو دمشرورورمحمدحسن نوم لیکل شوی دی اوس دواړه ورونه غواړې چي سره جلا شي نوشرعًا به ددواړوورونوبرخې جلا وي یعنی برابرې به وي که کمې اوزیاتې؟ (۱۱۸۹/۱۳۴۱هج)

خواب: په دې صورت کې به ټول جائداددمحمدحسن اوعبدالغفارترمینځ نیم په نیمه ووېشل کیږي نیم جائدادبه وعبدالغفارته اونیم جائدادومحمدحسن ته ورکول کیږي پراسنادودمشرورورد نوم کېدل یاپه ټولوکارونوکې دعبدالغفارمشرکېدل هیڅ اغیزنه کوي کمافي الشامي: يقع كثيرافي الفلاحين ونحوهم ان احدهم يموت فتقوم اولاده على تركته بلاقسمة ويعملون فيهامن حرث وزراعة وبيع وشراء واستدانة ونحوذلك وتارة يكون

(۱) ردالمحتار (۳/۲۸۳) كتاب الشركة، بعد فصل في الشركة الفاسدة.

(۲) فاذاكان سعيهم واحداولم يتميزماحصله كل واحدمنهم بعمله يكون ماجمعوه مشتركابينهم بالسوية وان اختلفوافي العلم والرأى كثرا وصوابا (ردالمحتار، كتاب الشركة، مطلب فيمايقع كثيرا (۳/۳۷۰) طرشيديه).

Maktaba Tul Ishaat.com

کبیرهم هوالذی یتولی مهماتهم ویعملون عنده بامره فاذاکان سعیهم واحداولم یتمیزما حصله کل واحدمنهم بعمله یکون ماجمعوه مشترکابینهم بالسویة وان اختلفوافی العمل والرأی کثرة وصوابا الخ (۱) (۳ ۳۴۸) فقط.

سوال : (۲۸) دیوه سړی څلورزامن دي څه مځکه ، کوراودکورسامان یې پرېښود ،وفات شودکورسامان څه ده پخپله رانیولی دی اوڅه یې له پلاراونیکه ورپاته شوی دي اوڅه مشرزوئ دکورخپل سامان امانت دپلارسره اینبی وواودرېیم زوئ چې به څه رانیول پلارته به یې ورکول ده داپرېکړه نه وکړې چې دازمامملک دی اوکه دپلاراوکوم هلک چې په مشرپسې دی هغه هیڅ شی نه دی رانیولای هغه چې به څه نغدې راوړې وپلارته به یې ورکړي اومشراودرېیم زوئ څه ناڅه وپلارته هم ورکولې اودڅان لپاره به یې هم سامان رانیوی څلورم زوئ وپلارته هیڅ شی ورنکړاودپلارپه مرګ کې یې په تجهیزاوتکفین کې هم برخه وانه اخسته اوس دغه هلک جلا کېدل غواړي نوشرعًا به مځکه ، سرای ، دکورسامان اونورڅرنګه وېشل کیږي ؟ (۱۳۴۲/۱۵۹۴هج)

خواب : په شامی کې راغلې دي: یؤخذمن هذاماافتی به فی الخیریة فی زوج امرأة وابنهااجتمعافی دارواحدة واخذکل منهما یکتسب علی حدة ویجمعان کسبهماولایعلم التفاوت ولاالتساوی ولاالتمیزفاجاب بانه بینهماسویة وکذلک لواجتمع اخوة یعملون فی ترکة ابیهم ونمالمال فهوبینهم سویة ولواختلفوافی العمل والرأی الخ ثم هذافی غیرالابن مع ابیه لمافی القنیة : الاب وابنه یکتسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهماشئ فالکسب کله للاب انکان الابن فی عیاله لکونه معیناله الاتری لوغرس شجرة واحدة تکون للاب الخ (۲) له دې څخه معلومیږي چې پرته له هغه سامانه کوم چې مشرزوئ رانیولی اودامانت په توګه له پلارسره اینبی وونورټول سامان ، سرای اومځکه دپلارترکه شمارل کیږي پرټولوزامنوبه برابره وېشل کیږي فقط.

(۱) ردالمحتار (۳/۳۷۰) کتاب الشرکة ، مطلب فی مایقع کثیرافی الفلاحین.
(۲) ردالمحتار (۳/۲۸۳) کتاب الشرکة: اجتمعافی دارواحدة واکتسبا.

سوال : (۷۹) زیدیوه ښځه یوه موردوه هلکان یوبالغ بل نابالغ وارثان پریښودل دزیدتروفات وروسته ټولوواړثانویوخای استوګنه سره کوله په مهراث کې ورپاتي شوی جائدادویش ونشودشراکت په حالت کې څه جائدادنورانیول شواودهغه په اسنادوکې دمشربالغ زوئ نوم ولیکل شوپه داسي صورت کې دویش پرمهال نابالغ هلک په دې جائدادکې برخه لري ،که نه ؟ (۵۸۱/ ۱۳۴۳هج).

ځواب : کوم جائدادچي دشراکت په حال کې رانیول شوکه دغه جائدادپه مشترکه آمدني رانیول شوی دی که څه هم نوم دمشرهلک دده دکارکولواونورولهاملهلیکل شوی دی په دې کې هم دزیدټول وارثان ونده لري نابالغ زوئ دبالغ زوئ په څیربرخه وړي په شامي دربیم ټوک کې راغلې دي :وکذلک لواجتمع اخوة یعملون فی ترکة ابیهم ونماالمال فهوبینهم سویة(۱) (کتاب الشرکة) فقط.

له مشترکې ترکې ځخه دچلېدوونکې دوکان دسامان وېش

سوال : (۷۰) عمروخالددواړوورونوپه شراکت دوکان وکړاوعمرخپله اودخپلوبچیانوخر چه له بل ځایه کوله اوخالددخپلوبچیانوخرچه له دوکان ځخه کوله اودغه دوکان له مشترکې ترکې ځخه جاري شوی وواوس پوښتنه داده چې ددوکان دسامان وېش به څرنګه وي ؟ ایاددوکان هغه سامان به وېشل کیږي کوم چي دمورث دوفات پرمهال موجودووکه ټول سامان اواوس چي کومه ګټه شوې ده هغه به هم وېشله کیږي ؟ خالدوفات شوددهواړثان شته (۱۰۹۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : ددوکان ټول سامان کوم چي تراوسه سره له ګټې موجوددي پردواړوورونو عمراو خالدبرابروېشل کیږي دخالدنیمه برخه به دده ووارثانوته ورکول کیږي اوعمردخپلې نیمې پخپله مالک دی(۱) فقط.

دټولوپه خوښه له وېش کولووروسته کومه ډله دعوی نشي کولای

سوال : (۷۱) دوکسانودیوې مشترکې مځکې ټهکه واخسته وروسته یې پخپله خوښه ووېشله چې پنځوس کاله وشواوس چې مځکې بیعه پیداکړې ده نودکومې ډلې سره چې مځکه څه کمه ده هغه وایي چې ماته مځکه پوره برابره راکړه په دې صورت کې شرعًا څه حکم دی ؟ (۲۲۱۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : کله چې مځکې دټولوپه خوښه دغه مځکه ووېشله شوه نواوس هیڅ یوه ډله

(۱) الشامی (۳/ ۲۸۳) بعد فصل فی الشرکة الفاسدة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

پربله ډله دهیڅ شی دعوی نشي کولای(۱) فقط.

که شرېکان په وېش راضي نه وي نو

سوال : (۷۲) دلته څوکسان مځکه لروونکی دی اومځکې ددې ځای وېشل شوې دی ددې ځای رواج اودواجب العرض (۲) شرط دادی چې کوم څوک پرکومه شاړه مځکه قبضه وکړي هغه دده شوه اوس که ټول شرېکان له زړه راضي وي وي اوکه نه وي خودده څخه مځکه نشي اخستلای دزیدهم پریوه داسي مځکه قبضه ده اوهغه مځکه دومره ده چې که وېش وشي نووزیدته له دې څخه زیاته برخه رسیږي خوپه بېلابېلو ځایونوکې نوداقبضه شرعًا رواده ،که نه ؟ که نارواده نوپه کوم صورت خپل حق ولاس ته کړي ؟ ،ځکه که په حکومت تقسیم وکړي نونن ،صبا بې ایماني دومره ده چې دمځکې له قیمته به زیاتې صرف کړي نوبیابه هم په ډیره ګرانه خپل حق ولاس ته شي اوپردې هم ضروري نه ده چې ټول شرېکان دې له زړه په دې وېش خوښ وي اوپخپله تقسیم کول خوتقریبًاامکان نلري په داسي حال کې څه کول پکاردي یعنی داسي قبضه پرکومه مځکه دخپلې برخې په اندازه رواده ،که نه ؟ که نه ده نوکوم دجائزوالې صورت دخپل حق ولاس ته کولوکېدای شي ؟ (۳۸۴/ ۱۳۳۷هج)

خواب : په شرعي طریقه دمشترک جائداد ،مځکواونورووېشلواودوه صورتونه دي چې یادحاکم په وسیله وېش وشي یادټولوپه خوښه پخپله تقسیم وکړي خوکه شرېکان پخپله خوښه وېش نه کوي اودحکومت په وسیله هم وېش کول ستونزمن وي اوخپل حق نه ولاس ته کیږي نوپه داسي وخت کې دمجبوریت کې دخپل حق په اندازه قبضه کولای شي

---

(۱) قال صاحب البدائع : ومنهااللزوم بعدتمامها فی النوعین جمیعاحتی لایحتمل الرجوع عنهااذاتمت ..... بیان ذلک ان الداراذاکانت مشترکة بین قوم فقسمهاالقاضی اوالشرکاء بالتراضی فخرجت السهام کلهابالقرعة لایجوزلهم الرجوع (بدائع الصنائع : ۵/ ۴۷۸کتاب القسمة بیان اوصاف القسمة) وفی الشامی : تنبیه اذاقسم القاضی الی ان قال ولارجوع بعدتمام القسمة (۵/ ۱۸۴) کتاب القسمة ، مطلب: فی الرجوع عن القرعة . ط رشیدیه)

(۲) هغه شرطونه کوم چې دقانوني بندوبست په پای کې دمالکانواوکښتګروپه مینځ کې دکښت اونوروپه اړه ولیکل شي.

لکه چې فقهاؤ دخپل حق اخستلو په هکله فتوی ورکړې ده (۱)

دشرعي په خلاف وښې ماتولای شي ، که نه ؟

سوال : (۷۳) دزید بالغ اونابالغ وارثان دوې ښځې ، اودهرې ښځې برابربچیان نارینه اوښځینه اووهرطرفته بالغ اونابالغ دي بالغودوښې لپاره درییمان وتاکل دریمانووښې دشرعي سره سم ونکړیوه ډله ته زیات اوبلې ته کم ورکړکومې ډلې ته چې کمه برخه ورسېده هغوئ درېیمانوعذروکړی خووروسته په پوهولوددې وښې سره سم عمل وشواوهره ډله پرخپله برخه قبضه کوونکې اوتصرف کوونکې شوه بیع اونورتول تصرفات یې پخپلوبرخوکې وکړوځه زمانه وروسته ددواړوډلونابالغان هم بالغ شول سره له دې چې دوئ په کمښت اوزیاتوب خبروووبیاهم دوئ هیڅ انکارونکړبلکې پرلپسې یې مالکانه تصرفات بیع ، اجاره اونورکول تریوې ډیرې زمانې تېرېدووروسته یعنی کلونه تیرشوپخپل مینځ کې دځه خوابدتیاراتلوله امله نابالغوعارضه وکړه چې جائداددې بیا ووښل شي.

اوس دپوښتنې ورځېره داده چې کله شرېکان په دغه تقسیم راضي شول اوتول په کمښت اوزیاتوب له اوله خبروونواوس تړراضي کېدووروسته هم دغه وښې ماتولای شي ،که نه ؟ که کولای شي نودهغوروایتونوځه مطلب دی چې پکې صفابیان شوی دی چې تړراضي کېدووروسته فسخ نشته داخوپه ښکاره دصلحې صورت دی چې یوه ډله ددرېیمانوپه پوهولویانه پوهولویادکوم مصلحت په وجه په خپلې کمې برخې باندې راضي شو.بیاکه داکارددرېیمانوناجائزاوغیرنافذووبیاهم چې دی بغیردشرعي زوریاقانون پرهغه راضی سصوپه کلونوپه هغه باندې دمالک په شان تصرف والاوونووس دهغه فسخ حکم څرنګه حاصلیږي ؟ (۱۹۳۵/ ۱۳۳۳هج)

جواب : قانون دادی چې دقاضی اوحاکم حکم دشریعت مخالف نه نافذکیږي په میراث اوشرعی کې دقاضی یاحاکم لپاره کمی یازیاتوب جائزنه دی اوداتقسیم چې متفرع دی پردغه حکم باندې دوارثانوپه مینځ کې په رضاسره په ویشلوسره نه دی ددرېیمانویاله درېیمانوپرته په پټه

(۱) فکانت القسمة منهمابالتراضی اوبطلبهمامن القاضی رضامن کل واحدمنهما بزوال ملکه الخ (بدائع الصنائع: ۵/ ۴۲۲ . کتاب القسمة . فی الفصل الاول) وفی الشامی : ان عدم جوازالاخذمن خلاف الجنس کان فی زمانهم لمطاوعتهم فی الحقوق والفتوی الیوم علی جوازالاخذعندالقدرة من ای مال کان لاسیمافی دیارنالمداومتهم للعقوق (رد المحتار(۳/ ۲۳۰) . کتاب السرقة . مطلب یعذربالعمل بمذهب الغیرعندالضرورة.)

Maktaba Tul Ishaat.com

خوله کېدل دحق باطلولوباعث نه دی لکه چې کوم ځای فقهاء پردعوتصرفاتوپته خوله اوخاموشه کېدل ددعوې نه اوربدوسبب لیکي ، هلته داځرګندونه هم شته چې دانه اوربدل دحېلواودوکې کولوله وېرې دي نه داچې دحق دځنبتن حق په دې سره ساقطیږي.

[باع عقارالوحیواناالونوباوانه اوامرأته اوغیرهما من اقاربه حاضریعلم به ثم ادعی الابن مثلا انه ملکه لاتسمع دعواه الخ (درمختارمسائل شتی) (۱)

پردې علامه شامی رحمه الله لیکي: ثم اعلم ان عدم سماعهالیس مبنیاعلی بطلان الحق حتی یردان هذاقول مهجورة لانه لیس ذلک حکمابېطلان الحق وانماهوامتناع من القضاة عن سماعهاخوفامن التزویرالخ والافقدقالواان الحق لایسقط بالتقادم کمافی قضاء ، الاشباه ، فلا تسمع الدعوی فی هذه المسائل مع بقاء الحق للآخرة ولذالواقربه الخصم یلزمه(۲) (شامی ج: ۵ مسائل شتی)

اوپه باب التحکیم کې راغلي دي: الاتری ان البیع قدینعقدابتداء بالتعاطی لکن اذاتقدمه بیع باطل اوفاسدوترتب علیه التعاطی لاینعقدالبیع لکونه ترتب علی سبب آخر فکذاههناولهذاقال السلف القاضی النافذحکمه اعزمن الکبریت الاحمر(۳) وفی الدرالمختار: من باب القسمة ولوظهرغبن فاحش لایدخل تحت التقویم فی القسمة فان کانت بقضاء بطلت اتفاقالان تصرف القاضی مقید بالعدل ولم یوجدولووقعت بالتراضی تبطل ایضا فی الاصح لان شرط جوازهاالمعادلة ولم توجدفوجب نقضهاالخ(۴)

نوفعلا بایددرېیمان لومړی وېش باطل اونارواوبولي له نوې سره دشرعي سره سم وېش وکړي مخکنی تقسیم کوم چې دبالغواونابالغوترمینځ ووهغه ټول باطل دي اودځینیوپه قبضه اوتصرف کولودنوروځینوحق باطل نه شواوهغه ټول تصرفات دبناء الفاسدعلی الفاسدله قبلې دي اودهرې یوې دلې مالکانه تصرفات دبیع اواجاري اوپه سرکاري اسنادوکې ددې سره سم عملي کېدای اوهیڅ عذرنه کول دحق ساقطېدواودخپل حق پرپرېښوولودراضي کېدوسبب نه دی اوکه رضاراغلې هم وي بیاهم مخکی وېش باطل دی اوماتېدای شي کمامرّمن قوله: ولو

(۱) الدرالمختارمع ردالمحتار (۵/۵۲۴) مسائل شتی ط رشیدیه.
(۲) ردالمحتار(۵/۵۲۴) مسائل شتی ط رشیدیه.
(۳) ردالمحتارعلی الدرالمختار (۴/۳۸۲) کتاب القضاء فی اوائل باب التحکیم ط رشیدیه.
(۴) الدرالمختارمع الشامی(۵/۱۸۷) کتاب القسمة ،قبیل فروع ط رشیدیه.

وقعت بالتراضی تبطل ایضا.

ناسم وښل سمول ضروري دی

سوال: (۷۴) هندې دعمرپه چالاکې اوپخپله عمرچې دنیکه له ترکې څخه کومه ګټه حاصله کړه اوله خپلې شرعې برخې څخه یې زیاته واخسته ددې اداینه اوبېرته ورکول پرهنده اوعمرلازمي دی ،که نه ؟اوددا سي تقسیم په اړه څه حکم دی ؟(۷۵/ ۳۵-۱۳۳۲ه)

خواب: په درمختارکې راغلې دي: وصحت برضاء الشرکاء الااذاکان فیهم صغیراو مجنون لانائب عنه الخ(۱) وفیه ایضا : ولوظهرغبن فاحش لایدخل تحت التقویم الخ فان کانت بقضاء بطلت اتفاقا الخ ولووقعت بالتراضی تبطل ایضا فی الاصح لان شرط جوازها المعادلة و لم توجدفوجب نقضهاالخ (۲) له دغوروایتونوځرګنددي چې په پوښتل شوې صورت کې تقسیم صحیح شوی نه دی داوښ مات کړئ صحیح وښ وکړئ اوچاته چې زیاته برخه رسېدلې ده هغه بایدبېرته ورکړی هنده دې هم بېرته ورکړي اوعمردې هم بېرته ورکړي فقط.

له وښ وروسته دهرشریک پخپله برخه کې تصرف کول

سوال: (۷۵) یوپیرصاحب چې خانقاه هم لري دده دبچیانوجګړه په دې وجه ده چې یوه ډله وایې چې کوم خالي میدان دخانقاه په اړوندپروت دی کوم چې دموجوده جګړه کوونکو بزرګانوپه ګډه رانیولی وودده دهمداسي خالي والي هیڅ ګټه نشته اوزیارت کوونکوته ښېله مکانه تکلیف وي ،ځکه دخپل ،خپل نوم مکان دې جوړکړل شي دوهمه ډله ددې په خلاف ده په دې صورت کې شرعي حکم څه دی ؟(۱۱۷۸/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دغه مځکه دټولوده داووښئ په خپله برخه کې چې هرشریک څنګه غواړي هماغسي تصرف دي وکړي اوداهغه وخت دی چې دامځکه وقف نه وي که وقف ده نوپه دې کې دهیڅالپاره مالکانه تصرفات صحیح نه دي کمافی الدرالمختاروغیره : الوقف لایملک ولایملک الخ(۳).

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۵/ ۱۸۰) کتاب القسمة بعدبیان اوصاف القاسم ط رشیدیه.
(۲) الدرالمختارمع الرد (۵/ ۱۸۷) .کتاب القسمة ط رشیدیه.
(۳) تنویرالابصارمع الرد (۴۰۲/۳) کتاب الوقف بعدمطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

کتاب المضاربة

دمضاربت بیان

له چاځخه دور کړیوروپوځخه زیاتې اخستل سوددی اودمضاربت صحیح صورت

سوال : (۱) دیوه مسلمان روپۍ دیوه هندوتاجرسره جمع دي په دغوروپیوهندوتجارت کوي اوګټه یې ولاس ته کوي له دغې ګټې څخه څه معلومې روپۍ په میاشت کې ودې مسلمان ته ورکوي داسي ګټه له هندوڅخه اخستل روادي ،که نه ؟ (۲۳۵۳/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : دارازاخستل نه دي پکاربلکي که مسلمان ګټه اخستل غواړي نودهغه دجوازصو رت دادی چي ودغه هندوته ووایې چي ته تجارت کوه چي کومه ګټه وشوه په هغه کې نیمه ستاونیمه زماده یایوه درېیمه زماده اودوې درېیمې ستادي لنډه داچي ګټه دې مقرره شي اوکه ګټه ونه شوه نودروپومالک ته هیڅ نه رسیږي داصورت دمضاربت (معاملې) دی که معامعله صحیح کوي اوله روپوڅخه ګټه اخستل غواړي نودشرعې سره سم بایدمعامله صحیح کړله شي یعنی دبیان شوې طریقې سره سم معامله صفاکړله شي کنې همداسي روپۍ ورکولوباندي له هغه څخه څه زیاتوب اخستل سوددی(۱) فقط.

دمضاربت څوروا صورتونه

سوال : (۲) نبی بخش خان اته زره روپۍ والهی بخش خان ته دسوداګرۍ لپاره دارازورکړې چې په تجارت کې به دغه اصل روپۍ زماوي اوله ګټې څخه به یوه برخه زماویوه نیمه برخه ستاوي الهی بخش ورسره داخبره ومنله اوس دوکان کوي دامعامله شرعًا روااده ،که دنبی بخش لپاره ګټه اخستل سوددی ؟ (۹۹۹/ ۱۳۳۸هج)

---

(۱) هی ..... شرعًا عقدشرکة بمال من جانب رب المال وعمل من جانب المضارب .....وکون الربح بینهما شائعافلوعین قدرافسدت(الدرالمختارمع الشامی(۴/ ۵۳۸-۵۴۰) کتاب المضاربة ط رشیدیه.

خواب : داصورت شرعًا صحیح دی اودامضاربت دی کوم چې یوشرعي عقد دی نودنبی بخش لپاره له دوه نیمویرخوڅخه یوه برخه دڅان لپاره مقررول اویوه نیمه برخه و مضارب (کارکوونکې) الهی بخش ته ورکول روادي داسودنه دی لکه چې په درمختارکې راغلې دي هی عقدشرکة فی الربح بمال من جانب رب المال وعمل من جانب المضارب الخ (۱) (درمختارکتاب المضاربة) له دې وروسته یې دمضاربت دصحیح کېدوشرطونه بیان کړې دي حیث قال : وشرطهاامورسبعة کون رأس المال من الاثمان وکونه مسلما الی المضارب الخ وکون الربح بینهماشائعاالخ وکون نصیب کل منهمامعلوماعندالعقدالخ (۲) اودمضارب له شرطونوداهم دي چې دنقصان کېدوپه صورت تاوان پرمضارب (کارکوونکې) نه راځي اوکه داسي شرط ولګول شونوداسي شرط باطل دی اوداهم شرط دی چې درب المال یعنی دروپودمالک محمل (کارکول) شرط نه کړل شي فقط.

سوال : (۳) زیدوبکرته سل روپۍ دتجارت لپاره دارازورکړې چې څومره ګټه وشوه هغه به نیم په نیمه ویشوداسي روادی ،که نه ؟ (۳۰۰ / ۱۳۳۹هج)

خواب: داصورت دمضاربت دی اوروادی کماصرح به فی کتب الفقه (۳)

سوال : (۴) که کوم شخص ویوه دوکاندارته روپۍ اوله خپل لورې یویازیات مزدوران هم ورکړي نوددغوروپوګټه به حلاله وي ،که به سود ؟ (۱۸۵/ ۱۳۴۳هج)

خواب : داصورت دمضاربت دی ددې دجوازصورت دادی چې په دغوروپوپه تجارت کولوسره چې څومره ګټه ودوکاندارته وشوه ددغې دي دمضارب اورب المال (دمال مالک) ترمینځ دوېشلوبرخې معلومې شي دمثال په ډول داسي چې څومره ګټه وشي دهغه نیمه به کارکوونکی اخلي اونیمه دمال مالک اوداسي روانه دی چې دګټې یومعلومداره روپۍ وي داسوددی (۴)

---

(۱) الدرالمختارمع الرد(۴، ۵۳۸) ط رشیدیه (۲) الدرالمختارمع الرد(۴/ ۵۳۹—۵۴۰) شرائط المضاربة ط رشیدیه.

(۳) امانفسیرهاشرعًا فهی عبارة عن عقدعلی الشرکة فی الربح بمال من احدالجانبین والعمل من الجانب الاخر هندیه ۴/ ۲۸۵) وفی الدرالمختارمع الردهی عقدشرکة فی الربح بمال من جانب رب المال وعمل من جانب المضارب(الدرالمختارمع الرد (۴/ ۵۳۸) ط رشیدیه.

(۴) وکون الربح بینهماشائعا فلوعین قدرافسدت (الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۵۴۰) شرائط المضاربة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دڅوکسانوپه روپوپه ګډه دتجارت کولوحکم

سوال: (۵) زید دمضاربت اومعاملې په توګه له څوکسانوروپی واخلي په نیمه ګټه تجارت په کوي څوک چي وزید ته څومره روپی څه وخت دمضاربت په غرض ورکړي زیدهغه روپی واخلي سمدستي مال رانیسي اودنوروخلګوروپی نغدې ورکړي له میاشتې ،دوویازیاتوتیربدووروسته مال رانیسي دټولوخلګوروپی یوځای مشترکې وي اویوځای په ګډه ما ل رانیسي ، دکال په پای کې وهریوه ته دخپلوروپوپه اندازه ګټه ورکوي اونیمه پخپله اخلي داصورت روادی ،که نه ؟ (۱۳۳۹/۱۴۲۵هج)

ځواب: دمضاربت په مسئلوکې دیوه رب المال (دمال دخاوند) روپی دبل رب المال له روپوسره یادخپلوروپوسره ګډول اصلا ناروا ،منع اودضمان باعث دي خوکه په تجارانو کې دامشهوره ده اودعرف سره سم دهرمال دځښتن له لورې دګډولواجازه شته نوبیاروادي اوپه دې ګډولوپرمضارب ضمان نه راځي خودهرځښتن دمال دروپواوګټې حساب دي جلا ، جلا په صحیح توګه کوي اوکوم کمښت یازیاتوب چي وشي اودیوه مالک دمال له ګټې څخه وبل ته ورسیږي لکه چي په پوښتل شوې ځینې صورتونوکې چي همداسي دي نوددې دمعافی اوله مواخذې څخه دخلاصون صورت داکېدای شي چي دمالونوپه څښتنانودې وبخښي په درمختارکې راغلې دي: لایملک المضاربة والشرکة والخلط بمال نفسه الاباذن اواعمل برأیک الخ وفی الشامی : (قوله بمال نفسه) وکذابمال غیره کمافی البحروهذااذالم یغلب التعارف بین التجارفی مثله الخ(۱) فقط.

په مضاربت کې دګټې اوتاوان حکم

سوال: (۶) که یوسړی دتجارت لپاره روپی وبل چاته ورکړي نوشرعًا به دروپی ورکوونکې برخه څومره وي اوڅومره به دتجارت کوونکې وي ؟ اوتاوان به دبرخوپه اندازه وي که به ټول دمال پرمالک راځي ؟(۱۳۴۲/۸۸۰هج)

ځواب: که یوسړی دتجارت لپاره څه روپی وبل چاته ورکړي نوشرعي حکم په دې کې دادی چي څرنګه ددوئ دواړوترمینځ دګټې په اړه خبره وشي دهغه سره سم به عمل کوي دمثال په ډول که دنیم

(۱) الدرالمختاروالشامی(۵۴۱/۴) فی اوائل کتاب المضاربة ط رشیدیه.

په نیمه گته وېشلوخبره شوې وه نونیم په نیمه به یې وېشي اوکه ددربیمې اودوودربیمو ېشلوفیصله یې کړې وه نودارازبه عمل کوي لنډه داچی شرعي ودوئ نه اختیارورکړی دی چي څرنګه غواړې دګتې په اړه دي پرېکړه وکړي خوداضروري ده چي درپومقداراواندازه دچالپاره معلومداره نکړي یعنی داسي نه وی چي لس . شل روپی دیوه لپاره معلومې کړي بلکي دنیمې یادرېیمې شراکت دی وي یعنی څومره ګته چي وي دهغې وېشل دي دواړه له شرط سره سم مقررکړي اوکه یومخ ګته ونشي یاتاوان وشي نودروپی دمالک په ذمه دی اودتجارت کوونکې تاجرمحنت به بې ځایه شي فقط.

دمضاربت دصحیح کېدولپاره په ګته کې دشراکت شانعوالي ضروري دی

سوال : (۷) داولې دلې په کاروبارکې دوهمه دله مثلا سل (۱۰۰) روپی لګوي اوګته مثلا داسي وتاکله شوه چي په سلوکې په یوه آنه ګته درکول کیږي دارازشراکت کول اوګته معلومول صحیح دي ،که نه ؟ (۳۲/۱۲۱۲-۱۳۳۳هج)

خواب : دارنګه معامله کول په شریعت کې روانه ده بلکي به ګته کې بایداسي شرکت وشي چي څومره ګته په تول مال کې وي یاددوئ پرسل روپی وي دهغه نیمه یادرېیمه یاخلورمه به داول سړی لپاره مثلا کېدل پکاردي دغه صورت کوم چي په سوال کې بې یادونه شوې ده شرعًا فاسددی(۱) فقط.

سوال : (۸) پنځوکسانوپنځلس سوه روپی دځرمنودتجارت لپاره داډول راغونډې کړی چي دچاپنځه سوه دچادرې سوه دچادوه سوه اوداخبره وشوه چي په یوه روپی کې به دلسوآنودګټې اویاتاوان برخه اخلي اوپه یوه روپی کې به دګټې اوتاوان شېرآني کارکوونکی برخه اخلي داصورت روادی ،که نه ؟ (۱۹۵۴/۱۳۴۲هج)

خواب : داډول شراکت روادی اودمضارت دصحیح کېدولپاره داضروري دی چي په ګته کې به ددواړو(مضاربت کوونکو) برخه مشترکه مقرره وي اونقصان پردوئ وانه اچول شي تاوان به صرف دروپودمالک وي دمضارب به محنت ضائع شي(۲) فقط.

---

(۱) وشرطها کون الربح بینهما شائعافلوعین قدرافسدت (الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۵۴۰) کتاب المضاربه . شرائط المضاربة ط رشیدیه.

(۲) واذاالسوی رأس المال فان فضل شئ کان بینهما لانه ربح وان نقص فلاضمان علی المضارب (هدایه ۳/ ۲۲۷)

Maktaba Tul Ishaat. com

سوال: (۹) زید یو تجارت پیل کړچي پکي عمر، بکر اونور وهم برخې واخستې اوس زید ونور ووئیده نیوونکو ته په دې شرط روپۍ ورکوي چې دوولس روپۍ اته انې په سل کې به هرکال ګټه درکول کیږي اودغه ګټه به دروپو سره جمع کیږي ددې تجارت نه شرطونو سره سم به اصل اوګټه پروئیده نیوونکو وېشل کیږي اودغه روپۍ دوئیده نیوونکو څخه پرته بل څوک نشي اخستلای آیا په داسي تجارت کې برخه اخستل اودخپلې اړتیا پرمهال دهندوله سود څخه خان ژغورل روادي، که نه؟

اوددې وبندد مدرسې دوه زره روپۍ چې دمدراس په تجارت کې دي اودهغه ګټه همیشه دوه سوه روپۍ راځي ددې څه صورت دی؟ (۱۴۸۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دغه صورت چې روپۍ په تجارت کې ورکړي ګټه معلومداره کړي فقهاؤ فاسد لیکلی دی اودمضاربت معامله په داسي معلومولو فاسد ګڼي لکه چې دفقهې په عاموکتابونو: درمختار، شامی، هدایه اونورو کې ددې څرګندونه شته.

اوددې وبندد مدرسې چې کومې روپۍ دمدراس په تجارت کې دي دهغوئ ګټه معلومداره نه ده کله کمه اوکله زیاته وي اوکه هغه خلګ معلومې روپۍ راولیږي نودحساب پرمهال چې کومه په ربښتیاګټه وي هماغه په حساب کې وشمیرې فقط.

سوال: (۱۰) زید وخالدته کوم چې سوداګردی پنځه سوه روپۍ په دې وعده په قرض ورکړې چې په دغوروپودې خالدچې کوم کارمناسب بولي دهغه تجارت دې په وکړي اوپه تجارت چې څومره ګټه وشي په هغه کې دي صرف په روپۍ کې یوه انه وزیدته ورکوي نوره ټوله ګټه دې خالددخپل محنت په بدل اخلي اوکه په تجارت کې تاوان وشوپه هغه کې ترحساب اوکتاب وروسته په روپۍ کې یوه انه دزیدتاوان وي نورټول تاوان به پرخالدراځي دامعاهده روادہ، که نه؟ (۱۲۹۸/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: په مضاربت کې داشرط لګول چې پرزیدبه په روپۍ کې یوه انه تاوان راځي الخ دمضاربت فاسدوونکی دی په دې شرط مضاربت فاسدشواودامعامله ناروا شوه اودا صورت دمضاربت دی ددې دصحیح کېدوصورت دادی چې زید په ګټه کې چې څومره غواړي خپله فاضلې برخه دې مقرره کړي: نیمه یادربیمه یاځلورمه، شپارسمه برخه مثلا په یوه روپۍ ګټه کې یوه انه دزیدده اوکه نقصان وي نوهغه ټول پرزیدراځي.

سوال: (۱۱) یوه سړی وتاجرته څه روپۍ دلرګودرانیولولپاره دارازورکړي چې که دلرګوپه

تجارت کې گټه وشوه کمه وي که زیاته وي نوتاجربه دروپوو څښتن ته پریوه لرګي یوه انه گټه ورکوي اوکه نقصان وشوکم وي ،که زیات نودروپوپرمالک به په یوه لرګي کي یوه انه نقصان راځي داصورت روادی ،که نه ؟(۱۳۴۲/۱۵۸۹هج)

ځواب په داډول دتجارت لپاره روپۍ ورکول په بیان شوې شرط سره ناروادي دفاسد مضاربت دی اوصحیح طریقه ددی داده چې دریومالک دتجارت لپاره وچانه روپۍ ورکړي نوداسي صورت دې وکړل شي چې څلورمه گټه وي په هغه کې دي دواړه نیم په نیمه ،په درېیمه شریکان وي یعنی نیمه گټه دروپوورکوونکې اونیمه دتجارت کوونکې یایوه درېیمه یاځلورمه دروپوورکوونکې اونوره پاته دبل ،یاددې عکس وي لنډه داچې څومره گټه وي هغه دې ددواړووي اوکه تاوان وشي نوهغه به دروپوورکوونکې وي.

سوال : (۱۲) زه یودوکاندارېم یوصاحب داوایې چې زماسره زرروپۍ دي داته پخپل تجارت کې ولګوه ماته ددې دومره گټه راکوه چې زماګذاره په وشي ددومره روپو حساب ببل ساتل ناممکن دی زمارایه داده چې په میاشت کې اته روپۍ به زه ده ته ورکوم داسي روادي ،که نه ؟(۱۳۴۷-۴۶/۲۲۳هج)

ځواب : داصورت دمضاربت دی په دې کې دگټې مقدارخاصول مضاربت فاسدوي بلکې داسې بایدوشي چې کومه گټه په رښتیاوشي دهغه نیمه یادرېیمه اونورکېدل پکاردي نوپه دې صورت کې اته روپۍ دمیاشتې دهغه چالپاره مقررول چاچې زرروپۍ په تجارت کې شاملې کړې دي صحیح نه دي بلکې دجوازصورت بې دادی چې کومه گټه واقعتاد زرروروپوله کاله وشي دهغه نیمه مثلا وهغه ته ورکوله شي اونیمه وکارکوونکې یعنی دوکاندارته یاچې پرکوم مقداردوئ سره خلاصه کړې وي مثلا یوه درېیمه گټه دروپودمالک اودوې درېیمې ددوکانداریاددې عکس لنډه داچې بایدروپۍ معلومداره نکړي خودجوازصورت داکېدای شي چې په راتلوونکې کم دحساب کولوپه شرط باندې وده ته اته روپۍ دمیاشتې ورکړي اوبیادې دکال په پای کې وگټه ته حساب وکړي څومره گټه چې ددوئ دبرخې وي په هغه کې دې دغه روپۍ وشمیري وکمښه اوزیاتوب ته دې حساب وکړي [فلوعین قدرافسدت (درمختار) (۱) فقط.

(۱) الدرالمختار مع الرد [illegible]

Maktaba Tul Ishaat. com

پرمضارب دنقصان شرط اچول باطل دی

سوال : (۱۳) څلورو کسانوزرروپی په یوه تجارت کې ولګولې اووشپږو کسانوته یې دکارکولولپاره ورکړي خوټولوداشرط کښښودچي دروپوومالکانوته په روپی کې لس لس آنې اووکارکوونکوته شپږآنې ورکوواوپه تاوان کې به هم ونډه ځی دا صورت روادی .که نه ؟ (۱۲۷۱/۱۳۴۲هج)

خواب : په مضاربت کې داصورت صحیح دی چي درپووځښتنانوته په روپی کې لس اني اوشپږاني وکارکوونکوته ورکولې شي خوپرکارکوونکودتاوان شرط لګول باطل دي بلکي نقصان په مضاربت کې صرف دروپوپرمالک وي اوګټه به له شرط سره سمه وېشله کیږي قال فی الشامی : الابطل الشرط کشرط الخسران علی المضارب الخ (۱) فقط.

سوال : (۱۴) زیدوځلورو کسانوته ته روپی ورکړي چي داموباغ رانیسي په ګټه کې یوه برخه زماده که تاوان وشونویوه برخه په تاوان کې پرماده داصورت روادی ،که نه ؟ (۱۰۵۷/ ۱۳۳۹هج)

خواب : په مضاربت کې په ګټه کې کارکوونکې اودروپومالک دواړه ونډه لري اونقصان صرف دروپوپرمالک راځي نوکه کارکوونکی هم په تاوان کې ورشریک شي نومعامله فاسده کذافی عامة کتب الفقه (۲) فقط.

سوال : (۱۵) زیدمال رانیسي وعمرته یې دخرڅولولپاره ورکوي اوشرط دنیم په نیمه ګټې دی خوداشرط یې هم لګولی دی چي په تاوان کې به هم دواړه شریکان وي آیادتاوان شرط روادی ،که نه ؟ (۳۰۷/۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب : په دې صورت کې دعمرپه تاوان کې ورشریکول روانه دي ،ځکه چي داصورت دمضاربت دی په مضاربت کې په ګټه کې دواړه شریکان وي له شرط سره سم اوتاوان صرف دمال پرځښتن وي دکارکوونکې به محنت بېخایه شي فقط.

سوال : (۱۲) زیدوبکرته سل روپی دتجارت لپاره ورکړې اوګټه ددواړو معلومه شوه خوزیدوایې چي که تاوان وشونودهغه ذموواره زه نه یم دارواډی ،که نه ؟ (۴۷۱/۴۴-۱۳۴۵هج)

---

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۵۴۰/۴) کتاب المضاربة ، شرائط المضاربة ط رشیدیه.

(۲) وماهلک من مال المضاربة یصرف الی الربح لانه تبع فان زادالهالک علی الربح لم یضمن لانه امین (الدرمع الرد(۵۴۲/۴) کتاب المضاربة ط رشیدیه.

خواب : داصورت دمضاربت دی په دې کې ضروري ده چې په ګټه کې دواړه شریکان وي لکه چې په پوښتنه کې لیکل شوې دي خوداشرط چې دمال مالک یعنې زیدبه دتاوان ذموارنه وي ناروادی اومضاربت فاسدوونکی یعنی په دې سره مضاربت فاسدیږي (۱) شرعًا دتاوان ذمواردروپومالک وي اودمضارب یعنی کارکوونکې محنت ضایع کیږي لنډه داچې دتاوان په صورت کې درب المال یعنی دروپو پرځښتن هغه ټول تاوان راځي اودکارکوونکې محنت ضائع کیږی (۲)

سوال : (۱۷) خالد پنځه زره روپۍ وعمر، زیداوبکرته په دې شرط دتجارت لپاره ورکړې چې دکال په پای کې چې څومره ګټه وي هغه به څلوربرخې کیږي یعنی یوه برخه به وعمرته یوه وزیدته اویوه وبکرته دمحنت کولوپه بدل کې ورکولې کیږي اویوه برخه به خالدته دروپوپه بدل کې ورکوله کیږي له پورته بیان شوې ګټې څخه پرته وهیڅ شریک ته نورڅه نه ورکول کیږي خوعمرددغه تجارت له روپو څخه وخت ناوخته په دې اقراردتجارت له پل څخه دحساب تروخته پورې پرلپسې روپۍ اخستې دحساب پرمهال په تجارت کې هیڅ ګټه ونشوه بلکې دوه زره تاوان وشوخوداقرارهم شوی ووچې که تاوان وشونوپه هغه کې به یوه ،یوه څلورمه ټول شریکان اداکوي نواوس عمرپه ټول تاوان کې دیوې څلورمې اداکولوشرعًا ذمواردی .که نه ؟ اوکومې روپۍ چې له تجارت څخه په قرض اخستل شوې دي دهغودورکړې ذمواردی ،که نه ؟ (۲۲۲/۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب : دامعامله دمضاربت ده اوپه مضاربت کې مضارب دتاوان ذمواړنشي کېدای ،ځکه نوپرعمراونوردتاوان ذمواړنشته تاوان دخالددروپودمالک وشودکارکوونکو محنت ضائع شو (۳) فقط.

---

(۱) پرمضارب دتاوان په شرطولومضاربت نه فاسدیږي اماشرط پخپله باطلیږی : کل شرط یوجب جهالة فی الربح اوینقطع الشرکة فیه یفسدهاوالابطل الشرط وصح العقد (الدرالمختار) قوله بطل الشرط کشرط الخسران علی المضارب (ردالمحتار (۵۴۰/۴) کتاب المضاربة ، شرائط المضاربة ط رشیدیه)

(۲) واجارة فاسدة ان فسدت فلاربح للمضارب حینئذبل له اجرمثل عمله مطلقاربح اولاالخ (الدرالمختارمع الرد(۴/ ۵۳۹) کتاب المضاربة ط رشیدیه.

(۳) اوعمرچې څومره روپۍ له دغه تجارت څخه په شمېراخستې دي هغه به بیرته ورکوي ،ځکه چې په تجارت کې هیڅ ګټه ونشوه ۱۲ سعیداحمدپالنپوری.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال : (۱۸) یوه سړی ویوچاته زر(۱۰۰۰) روپی دتجارت لپاره ورکړې اووکارکوونکې ته یې وویل چې زه ستاسره ددغه تجارت دګټې اوتاوان په درېیمه شریک یم اوپورورکوو نکی پخپله تجارت هم نه کوي بلکې صرف پوروړی یې کوي نوپه دې صورت کې دپورورکوونکې لپاره ګټه یاتاوان اخستل روادي ،که نه یامحض په یوه کې شریک دی په ګټه کې یاپه تاوان کې ؟(۴۴/۱۴۴۳-۱۳۳۵هج)

ځواب : دامعامله دمضاربت شوه اودمضاربت په معامله کې دما لځښتن په ګټه اوتاوان دواړوکې شریک وي خودابنکاره ده چې رأس المال (اصل مال) له دغې ګټې اوتاوان څخه بهل بلل کیږي اماکه دومره تاوان وشوچې ګټه خوپرېږده په خپله په اصل مال کې هم کمی راغلی نودابه یواځې درب المال یعنی درپودمالک پرذمه وي کارکوونکی (مضارب) په تاوان کې نه شریکیږي لنډه داچې درب المال (روپی ورکوونکې) شراکت لکه څرنګه چې په ګټه کې دی په تاوان کې هم دی اومضارب یعنی کارکوونکی په ګټه کې ونډه لري په تاوان کې شریک نه دی.

په مضاربت کې روپی ورکوونکي هم دمضارب سره کارکوي نومعامله فاسده ده

سوال : (۱۹) زیداوعمرپه یوه تجارت کې په دې شرط شراکت وکړچې روپی به ټولې دزیداودتجارت کاربه دواړه په ګډه کوي خوزیدبه په سلوکې پنځه پنځوس ګټه اخلي اوعمربه کوم چې ببله روپوشرېک دی په سلوکې پنځه څلوېښت ګټه اخلي داصورت روادی ،که نه ؟(۱۳۴۰/۲۲۳۰هج)

ځواب : داعقددمضاربت دی اوپه مضاربت کې درب المال (دمال دځښتن) عمل دمضارب (کارکوونکې) سره ګډېدل فاسدوونکی دی نوداعقدفاسدشوپه درمختارکې راغلې دي [واشترطواعمل رب المال مع المضارب مفسدللعقدالخ (۱) اودفاسدمضار بت حکم دادی چې دی دفاسدې اجارې په څیرګرځي اوپه هغه کې وعامل (کارکوونکې) ته اجرمثل ورکول کیږي په درمختارکې دي واجارة فاسدة ان فسدت فلاربح للمضارب حينئذبل له اجرمثل عمله مطلقا ربح اولاالخ (۲)

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۵۴۴) کتاب المضاربة ،باب المضارب یضارب ط رشیدیه.
(۲) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۵۳۹) فی اوائل کتاب المضاربة ط رشیدیه.

په فاسدمضاربت کې مضارب داجرمثل اودمال مالک دټولې ګټې حقداردی

سوال: (۲۰) زیدوعمرته په دې وعده سل روپۍ دمضاربت لپاره ورکړې چې که ګټه وي اوکه تاوان ته پوه شه زه خوخپلې ټولې روپۍ سره دیوې آنې ګټې دروپۍ پرسردکال په پای کې غواړم نومضاربت فاسددی ،که نه ؟ اودمنعقدبدوپه صورت کې دناپوهۍ په وجه یاسره له پوهۍ اوعلم مات نکړل شواواویا(۷۰) روپۍ ګټه وشوه اوپنځه روپۍ دمیاشتې دعمراجرمثل دی نودپاته لسوروپوحقدارڅوک دی زید ،که عمر؟ (۱۳۳۷/۱۲۲۳هج)

خواب: له اجرمثل ایستلووروسته چې څه پاتې شوهغه دزیددي په درمختارکم راغلې دي [وکون الربح بینهماشائعافلوعین قدرافسدت الخ (۱) وفیه ایضا واجارة فاسدة ان فسدت فلاربح للمضارب حینئذبل له اجرمثل عمله مطلقاربح اولاالخ(۲) فقط.

دروپودمالک له اجازې پرته دمضارب وچاته یوشي ورکول روانه دي

سوال: (۲۱) زیدله یوه سړی سره دامعاهده وکړه چې زه اوته دواړه به تجارت وکړوروپۍ به زماوي اومحنت ددواړواوګټه نیم په نیمه کوم سړی چې به روپوشریک دی که دی کوم شی وبل چاته ددوهم شریک په مخکې ببله پوښتنه ورکړي نوروادی ،که نه ؟ (۱۳۳۷/۱۳۰۴هج)

خواب: داعقددمضاربت دی اوپه مضاربت کې دمال دمالک عمل ورشریکبدل فساد راوړي نوداعقدفاسدشواودمضاربت صحیح کېدوپه صورت کې دروپوورکوونکې له اجازې سره دکارکوونکې بل چاته دکوم شی ورکول روانه دي اودورکړې وروسته که مالک اجازه وکړي نو خبره ده کنې ضمان ددې دورکوونکې په ذمه دی دده په حساب کې به شمیرل کیږي(۳) فقط.

په مضاربت کې دنقصان اودمضارب دخوراک ډموارڅوک دی ؟

سوال: (۲۲) زیدوعمرته څه روپۍ دتجارت لپاره ورکړې چې ګټه نیم په نیمه ده که تاوان وي نوزیدله عمرڅخه تاوان هم اخستلای شي ،که نه ؟ که عمردتجارت لپاره بهرته ولاړشي نودا به دتجارت له ماله خوري که له خانه ؟ (۱۳۳۹/۷۸۰هج).

---

(۱) الدرالمختارمع الرد (۴/۵۴۰) کتاب المضاربة ،شرائط المضاربة طرشیدیه.

(۲) الدرالمختارمع الرد(۴/۵۳۹) کتاب المضاربة طرشیدیه.

(۳) ولایملک المضاربة والشرکة والخلط بمال نفسه الاباذن اواعمل برایک ولاالاقراض والاستدانة الی قوله ...فان فعل ضمن ماله الدرالمختارمع الرد(۴/۵۴۱) فی اوائل المضاربة طرشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : زیدپه دې صورت کې تاوان له عمرڅخه نشي اخستلای اودډوډی خرڅ عمرمضارب ددغه مضاربت له روپو څخه کولای شي(۱)

دسفردخرڅ اوتاوان ایستلووروسته پاته ګټه به دشرط سره سمه وېشله کیږی

سوال : (۲۳) زیدوعمرته دتجارت لپاره روپی ورکړي په ګټه کي یې برخې وټاکلې په اول ځل په تجارت کې تاوان وشوبیاپه همدغه روپومال رانیول شوګټه وشوه دارازاتجارت روان ووکله ګټه ،کله تاوان دمضاربت ترمعاملې ختمېدووروسته به اول دګټې اوتاوان حساب څنګه وي دمال په رانیولوکې چی کومه خرڅه راځي دسفراونوروخرڅ دادچاپرذمه دی؟(۱۳۳۷/۱۴۵۰هج)

خواب : دمضاربت له پیل څخه تراوسه چي کومه ګټه اوتاوان وشواوچي کوم خرڅ دسفر اونورووشودټولوحساب وکړي چي څه باقي پاته شي هغه دې دخپل مقررشوې شرط سره سم ووېشل شي(۲) فقط.

که اصل مال غلاشي نوپرمضارب ضمان نشته

سوال : (۲۴) دووکسانوتجارت وکړیوه روپی ورکړې اوبل تجارت کول غوښت چي ناڅاپه روپی غلاشوې اوس به شرعًا دغه روپی دچاپه ذمه وي؟(۹۳۰/۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب : هغه روپی ددغه ورکوونکې ولاړې ،ځکه چي مضارب کوم چي تجارت کوونکی ووهغه امین دی پرده ضمان نشته فقط واللہ تعالی اعلم.

---

(۱) قال فی البدائع: ومافیه النفقة فالنفقة فی مال المضاربة ..... واماتفسیرالنفقة التی فی مال المضاربة فالکسوة والطعام والادام والشراب الخ(بدائع: ۵/ ۱۴۹کتاب المضاربة.

(۲) واذاسافرولویومافطعامه وشرابه وکسوته وکل مایحتاجه عادة فی مالهالو صحیحة (الدرالمختارمع الرد(۴/ ۵۴۷) کتاب المضاربة و فصل فی المتفرقات ط رشیدیه) فان استوفاه وفضل شئ من الربح اقتسماه علی الشرط الخ(الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۵۴۷) کتاب المضاربة فصل فی المتفرقات ط رشیدیه).

مضاربت په شرکت عنان بدلول

سوال : (۲۵) دزیدروپی اودعمرمحنت دواړودافیصله وکړه چې ګټه اوتاوان مونیم په نیمه دی نوبیامال ورکوونکې که دخپلوروپوڅه حصه ومحنت کوونکې ته وبخښله چې دشراکت عنان صورت اختیارکړي داسي به څنګه وي ؟ (۱۲۰۹/ ۱۳۴۳هج)

خواب : داصورت دمضاربت دی چې دیوه سړی روپی اودبل محنت وي ددې حکم دادی چې په ګټه خوله شرط سره سم دواړه وڼډه لري اماپه تاوان کې دواړه نه شریکانیږي بلکې تاوان صرف دروپوورکوونکې په ذمه دی پرمضارب دتاوان شرطول باطل دي (قوله بطل) الشرط کشرط الخسران علی المضارب (۱) (شامی: ۳/ ۵۰۲) اوکه رب المال څه مال ومضارب ته وبخښی دارنګه چې بخښ کړي مال ببل کړي دده ملک یې وګرځوي اوجلا یې ده ته په قبضه کې ورکړي اوبیاله ده سره دشرکت عنان معامله (۲) وکړي نوداسي شرکت صحیح کیږي اوپه ګټه اوتاوان کې دواړه شریکان کیږي فقط.

دمضارب تروفات وروسته دده دبرخې ګټه به دده ووارثانوته ورکول کیږي

سوال : (۲۶) خالدوزیدته پاوباندي پنځه سوه (۵۲۵) روپی دتجارت لپاره په نیمه ګټه ورکړې په څوکاله کې پاوباندي دیارلس (۱۳۲۵) روپی شوې مګرتولې قرض زیدوفات شوحساب چې وکتل شونویوه روپی یې هم جمع ونه مونده داصل روپوترجمع کېدوورو سته چې کومې روپی وصولې شوې هغه نیم په نیمه ووېشله شي که وخالدته ورکولې شي ؟ (۳۲/۲۳۷۹ - ۱۳۳۳هج)

---

(۱) الشامی (۵۴۰/۴) کتاب المضاربة ، شرائط المضاربة ط رشیدیه.

(۲) شرکت عنان: دخوکسانوپه برابره وڼډه یاکمه اوزیاته روپی راغونډول دهرشی چې تجارت په وکړي دې ته شرکت عنان ویل کیږي واماشرکة العنان ..... وهی ان یشترک اثنان فی نوع بز اوطعام اویشترکان فی عموم التجارات وبصح التفاضل فی المال للحاجة الیه (هدایة ۲/ ۲۲۹، کتاب الشرکة)

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : داصل روپوترپوره کېدوورسته چې کومې وصولې شي هغه بایدنیم په نیمه شي نیمه برخه خالدواخلي اونیمه برخه دزیدووارثانوته ورورسوي(۱)

دمدرسوروپۍ په مضاربت ورکول

سوال : (۲۷) دمدرسې دمهتمم لپاره دمدرسې روپۍ په مضاربت ورکول صحیح دي ،که نه ؟(۱۲۲۱/ ۱۳۳۷هج)

خواب : دمدرسې دمهتمم لپاره دمدرسې روپۍ په مضاربت ورکول صحیح نه دي (۲) فقط.

---

(۱) فالربح فی الصحیحة یکون بینهما علی الشرط (بدائع ۵/ ۱۱۷ کتاب المضاربة شرائط المضاربة) وقال الله تعالی [ان الله یأمرکم ان تؤدوا الامانات الی اهلها (سورة النساء آیت: ۵۸)

(۲) په مدرسوکې دچنده ورکوونکومقصدپه عامه توګه همدادی چې ددوئ روپۍ پرطالبانوصرفې شي ،خکه دمهتمم لپاره ددغوروپوپه نورومعاملولګول روانه دي داراز کله په مضاربت کې تاوان هم راشي اودهغه جبران نشي کولای په شامی کې راغلې دي : صرحوابأن مراعاة غرض الواقفین واجبة وصرح الاصولیون بأن العرف یصلح مخصصا (ردمختار(۳/ ۴۲۴) کتاب الوقف : مطلب مراعاة غرض الواقفین واجبة الخ ط رشیدیه) وفی الدرالمختار: لان المعلوم بدلالة الحال کالمشروط بالمقال (الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۳۷۰) کتاب الشرکة ط رشیدیه).

کتاب الوقف

دوقف بیان

دوقف شرطونه اوحکمونه

دوقف پېژندنه اودوقف دصحیح کېدوشرطونه

سوال : (۱) دوقف څه تعریف اوڅه شرطونه دي ، اودوقف متولي به څوک وي ؟ (۱۳۴۱/۳۷۹هج)

خواب : دوقف تعریف معروف اومشهوردی اودامام صاحب اوصاحبینو(امام ابویوسف اوامام محمد) رحمهم الله اختلا ف هم رانقل شوی دی (۱) اودوقف دصحیح کېدوشر طونه دادي چي وقف کوونکی ددغه وقف کړې شي مالک وي په درمختارکې راغلې دي: وشرط شرط سائرالتبرعات الخ (قوله وشرطه الخ) افادان الواقف لابدان یکون مالکه وقت الوقف ملکاباتاالخ (۲) (شامی) اودوقف متولي پخپله وقف کوونکی وي اوددہ کوچنیان یاچي کوم څوک دی متولي جوړکړي.

سوال : (۲) دوقف علی الاولاد(پراولاددوقف کولو) څه تشریح ده اوحکمونه ددې څه دي ؟ اودمطلق وقف څه تعریف دی ؟ (۱۳۴۱/۱۳۳۰هج)

---

(۱) هولغة الحبس وشرعًا : حبس العین علی حکم ملک الواقف والتصدق بالمنفعة ولوفی الجملة والاصح انه عنده جائزغیرلازم کالعاریة وعندهماهوحبسهاعلی حکم ملک الله تعالی وصرف منفعتهاعلی من احب ولوغنیا فیلزم فلایجوزله ابطاله ولایورث عنه وعلیه الفتوی(الدرالمختارمع الرد (۳۹۱/۳) فی بدایة کتاب الوقف ط رشیدیه)

(۲) الشامی (۳۹۴/۳) کتاب الوقف ، شرائط الوقف.

Maktaba Tul Ishaat. com

ځواب: دوقف تعریف دادی: هوحبس العین علی ملک الواقف والتصدق بالمنفعة (۱) یعنی بندول دیوه شی دوقف کوونکې پرملک باندې اودهغه ګټه اوفائده صدقه کول صاحبینو(امام ابویوسف اوامام محمدرحمهماالله) داسې تعریف کړی دی پوشی دالله رب العزت پرملکیت بندې کول اودهغه منافع پرهغوخلګولګول پرکوموچې پکاردې وعلي الفتوی الخ (درمختار) پرکوچنیانوهم وقف روادی ودوقف کوونکې له شرط سره سم په دې کې عمل کول واجب دي کمافی لدرالمختار: جعل ریعه لنفسه ایام حیاته ثم وثم جازعندالثانی وبه یفتی کجعله ولده الخ(۲) اودوقف کوونکوپه بېلابېلوالفاظود دې حکمونه هم بدلیږي.

په جائزوشرطونوسره وقف کول

سوال: (۳) زیددوفات پروخت دوقف دمخکې څوتوتې له خپل ملیکت اوترکې څخه پرېښووې دوقف په پانه کې یې داسې لیکلې دي چې دمسجددمسکېنانواومسافردخرڅ لپاره داوقفیږي اودوقف په پانه کې یې لاندې خبرې هم لیکلې دي ؟ دارواډي ،که نه ؟(الف) که دمخکې له توتو ،توتوڅخه کومه برخه چې شاړه اوبېکاره وي اوله هغه څخه هیڅ ډول آمدني هم نه راځي په مسجد کې شامله کړئ.

(ب) که دپورته مخکې په یوه برخه کې څه وداني په دې غرض تعمیرشي چې ددې آمدني به دمسجدپه خرڅوکې پکارراشي یادفرش اونورونبوولولپاره یادامام ، مؤذن اونورو دمسجددخادم داستوګنې لپاره وي داشیان روادي ،که نه ؟ اومتولی خوبه شرعًا مجرم نه وي ؟(۴۲۹/۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: په سوال کې بیان شوې اموروااوصحیح دي ، اودوقف کوونکې له شرط سره سم دي دبیان شویو اموروپه کولومتولي شرعًا هیڅ مجرم نه دی.

---

(۱) تنویرالابصارمع الشامی(۳۹۱/۳) فی ابتداء کتاب الوقف ط رشیدیه.

(۲) الدرمع الرد (۳۷۸/۳) کتاب الوقف ، فصل فیمایتعلق بوقف الاولاد ط رشیدیه.

وقف کله تام (پوره) کیږي

سوال: (۴) دوقف لپاره شرعًا دکوموخبوروجودضروري دی ،ترڅووقف بشپړشي ؟(۱۳۴۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: صرف دلفظ ، موقوفه اونوروپه ویلودمفتی به مذهب سره سم وقف تامیږي اوکاملیږي [واکتفی ابویوسف رحمه الله بلفظ موقوفة قال الشهید: ونحن نفتی به للعرف(۱) (درمختار)

دخپل جائداددوقفولوصرف اراده کول

سوال: (۵) یوه سړی دخپلې ناروغۍ په حال کې دخپل جائداددوقفولواراده وکړه دکوم خیرپه مصرف کې اودکوم څرګندونه چې ونوروکسانوته یې وکړه اودی پخپله لوستی ووخوتحریک ددې دکوم شخص په وسپله دهغه په اشاره وشوګواکي دی دومره ناروغ نه ووچې ددې تحریک پخپله ونکړای شي بیایوه یوه نیمه میاشت وروست وفات شونوددہ جائدادوقف شوکه ووارثانوته رسیږي ؟

ځواب: که دغه وفات شوی شخص دوقف کولودارادې څرګندونه کړې وه اوکوم پروقف دلالت کوونکی لفظ یې نه ووویلی مثلا دومره خپل جائدادمې وقف کړنوکه داسي کوم لفظ ده نه وي ویلی صرف اراده یې ښکاره کړې وه نوددہ دجائدادهیڅ برخه وقف نشوه ټول جائدادبه دمیراث تروښ مخکې حقونواداکولووروسته پروارثانوددوئ له برخوسره سم وېشل کیږي (۲) اوکه ده کوم داسي لفظ چې پروقف دلالت کوونکی وي ویلی وي که څه هم دکوم بل شخص په وسپله دهغه څرګندونه دوفات شوې په اشاره شوې وي نوڅومره اندازه جائدادچې ده وقف کړی دی هغه وقف شواوپاته پروارثانوتقسیمیږي فقط.

---

(۱) الدرالمختارمع ردالمحتار(۳/ ۳۹۳) فی اوائل کتاب الوقف ط رشیدیه.

(۲) وركنه الالفاظ الخاصة ..... (الدرمع الرد (۳/ ۳۹۳) کتاب الوقف ، مطلب قدیثبت الوقف بالضرورة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

پرموجودشرط دوقف ترلوحکم

سوال: (۲) په موجودشرط سره وقف ترل روادي ،که نه ؟ اوداویل چي دغه مځکه دمسجددوقف لپاره رانیول کیږي نوداصرف په رانیولووقف کیږي ،که نه ؟ (۳۵۳/ ۱۳۴۷هج)

خواب: معلق (ترلی) وقف روانه دی مگرپه حالا موجودسره ترلی وقف صحیح دی ددي مثال يې دالیکلی دی چي دمثال په ډول داسي ووايې [ان کانت هذه الارض فی ملکی فهی صدقة موقوفة فان کانت فی ملکه وقت التکلم صح الوقف والافلا الخ (۱) خودچاداویناچي دامځکه دمسجددوقف لپاره رانیول کیږي دانه وقف منجز(حالاوقف) دی اونه معلق (په شی پوري ترلی) بلکي له دې څخه دوقف اراده معلومیږي نوکه له رانیولووروسته مالک یعنی رانیوونکې داوقف کړنووقف کیږي کنی نه لنډه داچي په دې صورت کې صرف په رانیولوبهله وقفولودامځکه نه وقف کیږي اومسجدنه ګرځي.

دوقف معلق کول (په یوشي پوري ترل) صحیح نه دي

سوال: (۷) یوسړی څه مځکه داسي وقف کړه چي زه خپل فلانی جائداددخپل زوئ وښځې ته ورکوم که له ښځې وروسته زمادزوئ کوچنیان وي نوداجائداددهغوئ دی کنې دفلانی ومسجدته دې ورکول شي نوپه دې صورت کې داوقف صحیح دی ،که نه ؟ اوله ښځې وروسته که دزوئ اولادنه وي نودغه مځکه به دوارثانووي که وقف ده ؟ ۳۲/۱۱۸-۱۳۳۳هج)

خواب: درازوقف نه صحیح کیږی وان یکون قربة فی ذاته معلوما منجزالامعلقاالخ (۲) (درمختار) ،ځکه نودغه مځکه پرشرعی وارثانووېشل کیږي.

دوقف مسجّل پېژندنه

سوال: (۸) وقف مسجل څه ته وایې ؟ (۴۴۷/ ۱۳۳۸هج)

---

(۱) الفتاوی لابن عابدین (۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف . قبل مطلب فی وقف المرتد الخ ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختارمع الرد (۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف . شرائط الوقف ط رشیدیه.

خواب: له وقف مسجل (۱) څخه مراد دادي چي حاکم ددې وقف دصحیح والې حکم کړی دی فقط.

دوقف دصحیح کېدولپاره صرف دمالک اجازه اورضاکافي ده

سوال: (۹) یوکلی دټپکداردی په دې کې څه مځکه خالي پرته وه چي وربانډی کلیوالو یوجولاکښینولی وواوس دغه جولابل کلی ته تللی دی ځای خالي دی هلته دمسجد جوړو لواراده ده دټپکه داراجازه ده امادجولانه ده خوښه په داسي ځای کې مسجد جوړول روادي؟ (۱۵۳۷/۱۳۴۱هج)

ځواب: دمځکې دمالک په اجازه اوخوښه په دې مځکه کې مسجد جوړول صحیح دي یعنی که مالک مسلمان دی نودی پخپله دغه مځکه وقف کولای شي اوکه مالک هندودی نودهغه وقفول صحیح نه دي ددې صورت داکېدای شي چي مالک دغه مځکه وکوم مسلمان ته ورکړ یاوهغه مسلمان داله خپل لوري وقف کړي وقف صحیح کیږي وشرطه شرط سائرالتبرعات الخ (۲) (درمختار) اودجولاوناخوښی ته په دې اړه هیڅ اعتبارنشته.

دوقف دصحیح کېدولپاره دوقف کوونکې قبضه خنډنه ده

سوال: (۱۰) زید یوجاندادوقف کړدوقف په پاڼه کې یې ولیکل چي دغه جائدادماله خپل ملکه وایست دالله رب العزت په ملک کې مې ورکړاوس ماته اوزماووارثانوته هیڅ ډول دعوی دوقف شوې جاندادپه هکله نشته اوددې وقف متولی به ترمرګه زه یم اوس دوقف دصحیح کېدو په هکله دخالداوبکرترمینځ اختلاف دی دخالددعوی ده چي په موجوده صورت کې دامام محمدرحمه الله له قول سره سم تسلیم الی المتولی (ومتولي ته سپارل) نه دي شوې په دې وجه وقف صحیح نه شوبکروایي چي کله زیدوقف کړی جائدادله خپل ملکه وایست دالله رب العزت په ملکي کې یې ورکړپه لیکنه یې اقرارورکړاوورسته تردې دمتولي کېدودحق په وسیله قبضه وربانډي وکړ نودتسلیم الی المتولی عمل په وجودکې راغی چي دقبضې صورت بدل شوچي مخکې زیددمالک والي په توګه قبضه کوونکی وواوس دمتولي والی په حیث قبضه وربانډي لري پا دې صورت کې دخالدقول صحیح دی ،که دبکر؟ اووقف صحیح دی ،که نه ؟ (۳۲/۱۳۴۶-۱۳۳۳هج)

خواب: په دې صورت کې دبکرقول حق اوصحیح دی صحیح اومفتی به مذهب دادی چي

(۱) وقف مسجل: هغه وقف چي په حکومت کې درج (لیک) شوی وي.
(۲) الدرالمختارمع الشامی (۳۹۴/۳) شرائط الوقف ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

صرف په لفظ موقوفة ويلووقف صحيح كيږي په درمختاركې راغلې دي وجعله بويوسف رحمه الله كالاعتاق واختلف الترجيح والاخذبقول الثانى احوط واسهل بحر وفى الدرروصدرالشريعة وبه يفتى واقره المصنف وقال فى الشامى: لكن فى الفتح ان قول ابى يوسف رحمه الله اوجه عندالمحققين (۱) قوله وجعله ابويوسف رحمه الله كالاعتاق فلذلک لم يشترط القبض والافرازاى فيلزم عنده بمجردالقول الخ(۲) وفى القهستانى ان التسليم ليس بشرط اذاجعل الواقف نفسه قيماالخ (۳)

دوقف دثبوت لپاره شرعي شهادت ضروري دى

سوال: (۱۱) زيديومكان اويوڅاه جوړكړل وروسته زيدوفات شودزيدزوئ وايې چې سراى اوڅاه زمناپلاروقف كړې دي اودمكان كرايه دزيدزوئ پخپله خوري داسې حلال دي ،كه نه ؟ (۵۵۴/ ۱۳۴۳هج)

خواب: صرف دزيدزوئ په دې ويناوقف نه ثابتيږي ،ځكه وشرعي شهادت ته اړتياده خوكه شرعًا وقف ثابت شي نوبياددە لپاره دوقف له مال څخه خوراک روانه دى بلكي دوقف له شرطونوسره سم عمل كول ضروري دي (۴) فقط.

سوال: (۱۲) هنده مړه شوه داكازامن يې وارثان پاته شول ددې دعمه (دپلاردخور) زوئ عمركوم چې ددې په تركه كې برخه نلري دادعوى كوي چې هندي دغه جائداد وقف كړى دى ددې متولي يې زه تاكلى يم دواقف صحيح كيږي ،كه نه ؟ (۱۰۲۲/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب: كه په شرعي شهادت يعنى ددووعادلانوشاهدانوپه شاهدي دهندې ددغه جائداد وقفول دروغتياپه حال كې ثابت شي نودغه وقف شرعًا صحيح كيږي اودمتولي اونورو

---

(۱) ردالمحتار(۳/۴۰۱) ،كتاب الوقف ، بعدالبحث عن مطلب مهم فرق ابويوسف رحمه الله بين قوله الخ ط رشيديه.

(۲) ردالمحتار(۳/۴۰۰) كتاب الوقف ، قبيل مطلب: التأبيد معنى شرط اتفاقاط رشيديه.

(۳) ردالمحتار(۳/ ۳۹۹) كتاب الوقف قبيل مطلب فى الكلام على اشتراط التأبيد ط رشيديه

(۴) ذكرفى الخانية والاسعاف ادعى على رجل فى يده ضيعة انهاوقف .....قالواليس للقاضى ذلک لان القاضى انمايقضى بالحجة والحجة انماهى البينة اوالاقرار(ردالمحتار (۳/ ۴۴۳) كتاب الوقف ، مطلب احضرصكافيه خطوط العدول ط رشيديه) مراعاة غرض الواقفين واجبة(الشامى(۳/ ۴۲۴) كتاب الوقف ط رشيديه).

کوم شرطونه چې وقف کوونکې اینبې دې هغه ثابتیږی(۱).

دمشاع (گډ) وقف صحیح دی

سوال: (۱۳) .... (الف) دسید محبوب علی جائداد الف دمیراث وواوجائداد ب دده خپله گټه وونوموړې ټول جائداد وقف کړپه دې کې یوه ټوټه اوبرخه دبل چاهم شامله ده آیادبل دبرخې دورشاملپدوله امله ټول وقف باطلیږی که دبل برخه اونورخینی وزې پاته وقف صحیح کیږي؟

(ب) دجائداد الف په اړه که وقف نارواوي نودجائداد ب په اړه وقف صحیح کیږي .که نه؟ (۱۳۴۰/۱۹۲۸هج)

ځواب: (الف) څومره برخه چې دبل چاده هغه نه وقف کیږي اوپاته برخه کومه چې دوقف کوونکې .ملک ده هغه شرعًا وقف شوه دادې بېله کړي کذافی الدرالمختار(۲)

(ب) دجائداد ب دوقف په صحیح کېدوکې هیڅ شک نشته کذافی الدرالمختار والشامی(۳)

سوال: (۱۴) زیاتره داسې رواج دی چې دمشترکومخکومالکان پخپل مینځ کې مخکې ووېشي اوقبضه وربانډی وکړي خوپه اسنادواوکاغذونوکې وېش ونکړي اودحکومت په کورکې دې ته وېش نه ویل کیږي کله چې په سرکاری توګه په وېش کولوکې ډیرتکلیف اواوږدوالی دی که څوک سمدستي هبه یاوقف کولوته اړوي نوددغواړتیاووپه مخکې نیولوپه خاطردصاحبینو

---

(۱) وان ادعی وقفا اوشهدوا علی وقف ولم یذکروا الواقف ذکر الخصاف رحمه الله تعالی ان دعوی الوقف والشهادة علی الوقف تصح من غیر بیان الواقف (الفتاوی الخانیة مع الهندیة ۳۴۱/۳، فصل فی دعوی الوقف والشهادة علیه)

(۲) فیقسم المشاع وبه افتی قارئ الهدایة قوله به افتی قارئ الهدایة حیث قال: نعم تجوز القسمة ویفرز الوقف من الملک ویحکم بصحتها (الشامی (۴۰۴/۳) کتاب الوقف مطلب اذاوقف کل نصف علی حدة ط رشیدیه.

(۳) فلایجوز وقف مشاع بعد خلافاللثانی .. واختلف الترجیح والاخذبقول الثانی احوط واسهل ،بحر،و فی الدرر..وصدر الشریعه وبه یفتی (الدرالمختارمع الرد (۳۹۹/۳) کتاب الوقف ط رشیدیه) وفی الشامی: افتی قارئ الهدایه حیث قال: نعم تجوز القسمة ویفرز الوقف من الملک الخ (شامی (۴۰۴/۳) کتاب الوقف مطلب اذاوقف کل نصف علیحدة ط رشیدیه).

Maktaba Tul Ishaat. com

(امام ابویوسف اوامام محمدرحمهماالله) په قول عمل کېدای شي کوم چې دهبه مشاع ، وقف اواجاره مشاع دصحیح کېدوپه هکله دی ؟ (۱۳۹۷/ ۱۳۴۷هج)

خواب : دشرېکانوپه خوښه چې کوم تقسیم کیږي هغه ویش شرعًا صحیح دی که څه هم دحکومت په قانون هغه وېش عارضي بلل کیږي لکه چې په درمختار، باب القسمة کې دي : وصحت برضاالشرکاء الخ (۱) نوددغه درضاله وېش وروسته که څوک خپله وېشل شوې برخه هبه کړی اووموهوب له (چاته چې هبه شوې ده) ته په قبضه کې ورکړي نوداسي هبه صحیح ده مشاع هبه نه ده اوددې وقفول اتفاقاصحیح دي اودمشاع هبه دظاهرالروایة سره سم صحیح نه ده اوپردې اتفاق دی اماوقف مشاع امام ابویوسف رحمه الله روابولي دده په نزدوروسته دې وېش وکړي وقف شوې حصه دې ببله کړي(۲)

سوال : (۱۵) یوه ټوټه مځکه چې پکې څلور،پنځه کسان شرېکان دي اوله وېش مخکې یوسړی خپله برخه وقف کړه نوآیادحنفی مذهب دمفتی به قول سره سم داوقف صحیح دی ،که صحیح نه دی نوددې خرڅول صحیح دي ،که نه ؟ (۱۱۸۴/ ۱۳۳۸هج)

خواب : دحنفی مذهب دمفتی به قول سره سم دمشاع وقف صحیح دی نوددغه وقف کوونکي شخص برخه دې جلا کړله شي اوددغه وقف شوې برخې رانیول ،خرڅول روانه دي لقول الفقهاء : الوقف لایملک ولایملک (درمختاراونور) قال فی الشامی : والخلاف فی وقف المشاع مبنی علی اشتراط التسلیم وعدمه لان القسمة من تمامه فابویوسف رحمه الله اجازه لانه لم یشترط التسلیم ومحمدرحمه الله لم یجزه لاشتراطه التسلیم الخ (۳) وفی الدرالمختار: فیقسم المشاع وبه افتی قارئ الهدایة وغیره (۳) وفی الدرالمختارایضا واختلف الترجیح والاخذبقول الثانی احوط واسهل بحروفی الدرر وصدرالشریعة وبه یفتی وفی الشامی: قوله اختلف

---

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۵/ ۱۸۰) کتاب القسمة بعدباین اوصاف القاسم.

(۲) په فتاوی هندیه کې راغلي دي چې دمتاخرینوپه اندمختارقول دامامابویوسف رحمه الله دی [وقف المشاع المحتمل للقسمة لایجوزعندمحمدرحمه الله وبه اخذمشائخ بخاری وعلیه الفتوی والمتاخرون افتوابقول ابی یوسف رحمه الله انه یجوزوهوالمختار کذافی خزانة الفتیین(الهندیة۲/ ۳۶۵فصل فی وقف المشاع)

(۳) الشامی(۳/ ۴۰۹) کتاب الوقف ، مطلب فی وقف المشاع المقضی به ط رشیدیه.

(۴) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۰۴) کتاب الوقف ، مطلب: فی قسمة الواقف مع شریکه ط رشیدیه.

الترجیح مع التصریح فی کل منهمابأن الفتوی علیه ، لکن فی الفتح ان قول ابی یوسف رحمه الله اوجه عند المحققین(۱) (شامی ۳/ ۳۶۲ ، کتاب الوقف) فقط.

سوال : (۱۶) په یوه ټوټه مځکه کې شپږشرېکان دي دوه په راندیرکې دي اوځلورپه رنګون کې دراندیردووشرېکانوخپله برخه ومسجدته وقف کړه نورشرېکان چې کله په خبرشونو دوئ هم یوپه بله پرلپسې خپلې ،خپلې برخې ومسجدته وقف کړي آن تردې چې ټولوشرېکانوټوله مځکه وقف کړه دوقف پاڼه یې ومتولي ته وسپارله نوداوقف شرعًا صحیح شو ،که نه ؟(۲۰۵/ ۱۳۴۵هج)

خواب : دغه وقف صحیح شولکه چې په درمختارشامي اونوروکې راغلې دي [قوله وجعله ابویوسف رحمه الله کالاعتاق الخ فلذلک لم یشترط القبض والافرازای فیلزم عنده بمجردالقول الخ (۲) اودارازپه درمختارکې دي چې امام ابویوسف رحمه الله وقف دمشاع هم روابولي اوهمداصحیح دي [فلایجوزوقف مشاع یقسم خلافاللثانی الخ واختلف الترجیح والاخذبقول الثانی احوط واسهل بحروفی الدرر وصدرالشریعة وبه یفتی وفی الشامی لکن فی الفتح ان قول ابی یوسف رحمه الله اوجه عند المحققین(۲) فقط.

سوال : (۱۷) وقف مشاع روادی ،که نه ؟اوځاه مشاع دی ،که نه ؟(۳۵۳/ ۴۶ - ۱۳۴۷هج)

خواب : په وقف شوې مشاع کې اختلا ف دی امام محمدرحمه الله ورته نارواوایې په درمختارکې راغلې دي [فلایجوزوقف مشاع یقسم خلافاللثانی (۳) اوپه شامي کې دي وفیه ایضا وقفت دارهاعلی بناتهاالثلاث ثم علی الفقراء ولامال لها غیرهاولاوارث غیرهن فالثلث وقف والثلثان میراث لهن وهذاعندابی یوسف رحمه الله خلافالمحمدرحمه الله الخ (۴) والاخذبقول الثانی احوط واسهل بحروفی الدرر وصدرالشریعة وبه یفتی(۵) (درمختار) له دې څخه معلوم شوچې مفتی به قول دامام ابویوسف رحمه الله دی اودمشاع وقف صحیح دی اوځاه که ټیل دچاله شراکت پرته وې نوبیا

---

(۱) الدرالمختارو الشامی(۴۰۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه.

(۲) الدرمع الشامی(۴۰۰/۳) کتاب الوقف ، مطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه)

(۳) شرح تنویرالابصارمع الشامی (۳۹۹/۳) کتاب الوقف مطلب: شروط الوقف علی قولهما ط رشیدیه.

(۴) ردالمحتار(۳۹۹/) کتاب الوقف ، قبیل مطلب فی الکلام علی اشتراط التأبید ط رشیدیه.

(۵) الدرالمختارمع الرد(۴۰۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب مهم : فرق ابویوسف رحمه الله الخ ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

مشاع نه ده ددې وقفول په اتفاق سره صحيح دي اومالايقسم (هغه چې نشي وېشل کېدای) وقفول که مشاع هم وي بياهم صحيح دي وقدمناان محل الخلاف فيمايقبل القسمة بخلاف مالايقبلهافيجوزاتفاقاالخ(۱) (شامی)

دکورسامان وقف کول

سوال : (۱۸) زيددوقف په پانه کې دنامنقول جائداد سره دکورسامان (اثاث المنزل) هم وقف کړی دی آيادکورسامان وقف کول صحيح دي ؟ کله چې په درمختارکې داموجود وي [بخلاف مالاتعامل فيه كثياب ومتاع هذاقول محمدرحمه الله (۱۵۳۹/ ۱۳۴۳هج)

خواب : دنقل کېدوونکوشيانووقف که دنامنقول تابع وګرځول شي نوپه هغه ټولوشيانو کې روادی کوم چې قابل دوقف دي په شامي کې راغلې دي ولووقف دارابجميع مافيهاوحمامات يطرن اوبيتاوفيه كورات عسل يدخل الحمام والنحل تبعاللداروالعسل الخ (۲) وفی البزازية : جازوقف الاكسية على الفقراء الخ (۳) (درمختارفی بيان وقف المنقول قصدا) اوپه البحرالرائق کې راغلې دي وقف بستانابمافيه من البقروالغنم والرقيق يجوزانتهى (۴) نوردرمختارقول : بخلا ف مالاتعامل فيه الخ قول دقصداوقف منقول په اړوندی اوپه دې دصاحبينو(امام ابويوسف اوامام محمدرحمهماالله) ترمينځ اختلاف دی قال فی الخانية قال شمس الائمة السرخسی رحمه الله فی وقف المنقول مقصوداً خلا ف بين ابی يوسف رحمه الله ومحمدرحمه الله ذكره فی السيرالكبيرانتهى (۵) اوپه شامي کې درمختارترقول كل منقول قصدالاندي ليكلې دي اماتبعاللعقارفهو جائزبلا خلا ف عندهماالخ (۶) لنده داچې دهغومنقوله شيانووقفول کوم چې دوقف وړاوپاتېده لري دنامنقول په متابعت کې روادي اومستقلا يعنی ځانته ددوئ دوقفولو لپاره وتعامل ته اړتياده دکورله سامان څخه دځينوجامو

---

(۱) ردالمحتار(۳/ ۳۹۹) كتاب الوقف ، مطلب شروط الوقف على قولهما ط رشيديه.

(۲) ردالمحتار(۳/ ۴۰۸) كتاب الوقف ، مطلب فی وقف المنقول تبعاللعقارط رشيديه.

(۳) الدرالمختار (۳/ ۴۱۱) كتاب الوقف ، مطلب فی التعامل والعرف ط رشيديه.

(۴) البحرالرائق على كنزالدقائق ۵/ ۳۳۹كتاب الوقف.

(۵) الفتاوى الخانية على هامش الهندية ۳/ ۳۱۱كتاب الوقف ، فصل فی وقف المنقول ط رشيديه.

(۶) ردالمحتار (۳/ ۴۰۹) مطلب فی وقف المنقول قصداط رشيديه.

اولونبواونوروقف يواځي هم روادی لکه چې درمختارله بزازيې اونوروځخه نقل کړی دی فقط.

دوقف نه کولووعده (ژمنه) کول

سوال: (۱۹) زيد دخپل زوئ بکرسره ددې خبرې پخه وعده وکړه چې که بکرنکاح وکړي نوزيد خپل جائداد نه وقف کوي بکريواځي دزيدوارث دی اوبکرچې نکاح نه کول غوښت ددې سبب داووچې ده دکورني ژوندد خرڅووس نه درلوداونه يې لري نوپه دې وعده يې نکاح وکړه اوس زيددکومې خوابدتياپه وجه غواړې چې دغه وعده ماته کړي آيازيددا سي کولای شي؟ که زيددا سي وکړي نوداوقف به رواوي؟ که رادی نودالله رب العزت ومخته زيد دو عدې ماتولوله امله مجرم دی، که نه؟ داسي وعده کول بيايې ماتول شرعًا څنګه دي؟ (۷۳۶/ ۱۳۳۳هج)

خواب: زيد که خپل ټول ياځيني جائدادوقف کړي نووقف صحيح کيږي، ځکه چې دوقف دصحيح کيدوشرطونه موجوددي قال فی الدرالمختار[وشرطه شرط سائرالتبرعات قال فی الشامی افادان الواقف لابدان يکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتاالخ (۱) نورنوکه دزيدغرض په دې وقف کولودخپل زوئ بکربې برخې کول وي نوداګناه ده زيدپه دې ګنهګاريږي په حديث شريف کې راغلې دي: [من قطع وارثه قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة رواه ابن ماجه وغيره (۲) اوپه بل حديث شريف کې دي [انک ان تذرورثتک اغنياء خيرمن ان تذرهم عالة يتکففون الناس الحديث (۳) هم ځکه وصيت په يوه درېيمه کې جاري کيږي اوله درېيمې زيات وصيت صحيح نه دی نوپه وقف کې همداسي په پام کې نيول پکاردی

---

(۱) ردالمحتار (۳: ۳۹۴) شرائط الوقف ط رشيديه (۲) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم من قطع ميراث وارثه الحديث رواه ابن ماجه ورواه البيهقی فی شعب الايمان عن ابی هريرة رضی الله عنه (مشکوة ص: ۲۲۲، باب الوصايا)

(۲) عن عامربن سعدبن ابی وقاص عن ابيه رضی الله عنهم قال: کان رسول الله صلی الله عليه وسلم يعودنی عام حجة الوداع من وجع اشتدبی فقلت انی قدبلغ بی من الوجع واناذومال ولايرثنی الاابنة لی افاتصدق بثلثی مالی قال لافقلت فالشطر؟ فقال لاثم قال الثلث والثلث کبيراوکثيرانک ان تذرورثتک اغنياء خيرمن ان تذرهم عالة يتکففون الناس وانک لن تنفق نفقة تبتغی بهاوجه الله الااجرت بهاحتی ماتجعل فی فی امرأتک (الحديث) بخاری شريف ۱/ ۱۷۳، باب رثاء النبی صلی الله عليه وسلم سعدبن خولة)

Maktaba Tul Ishaat.com

چې وارث بې برخې نشي یوصحابی رضی الله عنه چې صرف یوه لوریې وه دخپل پول مال دوصیت کولواراده کړې وه پردې ده ته رسول کریم صلی الله علیه وسلم دمال دیوې دریمې دوصیت اجازه وکړه له دې څخه دزیات اجازه یې ونکړه نوزیددې هم له دې څخه زیات وقف نکوي اووارث ته دې دزیان رسولواراده نکوي چې داسخته ګناه ده اماکه وقف دارازوکړي چې بکرګرو (رهن) بیع (خرڅلاو) اوهبه (بخښنه) اونورنشي کولای نوپه دې کې که زید مصلحت ګڼې نوداسي صحیح دي.

اوڅرګندونه دې وي چې وقف اصلایونېک اودثواب کاردی ،ځکه نودوقف له شرطونو څخه داهم دي: وان یکون قربة فی ذاته (۱) (درمختار) نودزید دغه ژمنه چې زه نه وقفوم داسي دي لکه چې داسي ووایې چې خپل مال به نه صدقه کوم نوداسي وعده دترسره کولوورنه ده اوداسي وعدې په خلا ف کولوشرعًا مجرم نه ګرځي بلکې بایدداسي ووایې چې داسي وعده ماتول پکاردي ،ځکه نوددې وعدې له امله زیددوقف نه کولوپابندنشي کېدای خوهماغه تفصیل کوم چې پورته تیرشوپه دې کې په پام کې نیول کیږي فقط.

دوارثانودبې برخې کېدوپه نیت وقف کول ښه نه دي

سوال: (۲۰) یوسړی چې ښځه اویوزوئ لري که دی پخپل ژوند کې ومسجد ته خپل جائدادورکول وغواړې نووکولای یې شي اوکه نه؟ (۱۳۱۸/۴۲=۱۳۴۷هج)

خواب: پخپل ژوند کې دغه سړی خپل جائدادچې چاته وغواړې ورکولای شي که یې مسجدته وقف کوي اوکه یې کوم بل چاته ورکوي خودوارثانودبې برخې کولوپه نیت داسي کول ښه نه دي (۲)

خپله مځکه اوباغ وقف کول جائزدي

سوال: (۲۱) زید څه خپله ځاني مځکه وقفول غواړې ددې مځکې آمدني دوه ډوله ده څه نغدې روپۍ دي اودآمدنۍ زیاته برخه دونو ،خرماواونوروپه وسیله ده یعنی څومره خرماوي چې کال پرکال وعواموته ورکول کیږي عوام تریوې معلومې مودې پورې ځینې استفاده کوي

---

(۱) الدرالمختار مع الشامی (۳۹۴/۳) کتاب الوقف ، شرائط الوقف ط رشیدیه.

(۲) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة رواه ابن ماجه ،ورواه البیهقی فی شعب الایمان عن ابی هریرة رضی الله عنه (مشکوة ص: ۲۷۲ ،باب الوصایا)

اوددي مودي لپاره چي کوم څه مالک ورباندي مقررکړي وي اداکوي يې آياپه لېکل شوي صفت سره موصوفه مخکه زيوو قفولای شي ،که نه ؟(۱۰۲۰/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : په شامي کتاب الوقف کې راغلي دي: قوله وشرطه شرط سائرالتبرعات افاد ان الواقف لابد ان يکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتاولوبسبب فاسد الخ (۱) له دې څخه معلوم شوچي خپله ځای هره يوه مخکه ، مکان اوباغ وقفول صحيح دي نوثابت شوچي دوارې دوله مخکه اوباغ وقفول روااوصحيح دي فقط.

سوال : (۲۲) يوسړی څه جائداددخپل نابالغ زوئ په نامه دکوم دنياوي مصلحتونوپه وجه رانيوی وروسته تربلوغ دهلک واده وشووروسته څه موده هلک وفات شودښځې اولادپې نشته يوه څلورمه دده دکونډې په نامه اونورپاته دپلار په نامه په حکومتي کاغذانوکې وليکل شوه خوبياهم پرتوله قبضه دپلاروه که کونډه خپله څلورمه برخه وقف ياخرڅول ياپه ګروورکول وغواړي نوکولای شي ،که نه ؟ اوپلارپې منع کولای شي ،که نه ؟(۱۲۳۳/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : دنابالغ له لورې دپلارقبضه کافي ده دنابالغ وقبضې کولوته اړتيانشته ،خکه نوکوم جائدادچي دزوئ په نامه رانيول شوهغه دده شودده له وفات وروسته څلورمه وروسته دمهرترادينې دده دښځې ده دغه څلورمه دده ښځه وقف ياخرڅولای شي دخاوندپلاردمنع کولوهيڅ حق نلري بې دده له خوښې داڅلورمه برخه ومدرسې اومسجد اونوروته وقف کولای شي (۲) په درمختارکې دي: وهبة من له ولاية على الطفل الخ تتم بالعقد الخ لان قبض الولي ينوب عنه (۳).

---

(۱) ردالمحتار (۳ ۳۹۴) کتاب الوقف ، شرائط الوقف ط رشيديه

(۲) لان الملک مامن شانه ان يتصرف فيه بوصف الاختصاص (الشامی (۴/ ۳)، کتاب البيوع و مطلب فی تعريف المال والملک والمنقوم) ولوان رجلين بينهما ارض فوقف احدهمانصيبه جازفی قول ابی يوسف رحمه الله تعالى (هنديه ۲/ ۳۳۷ کتاب الوقف ، فصل فی وقف المشاع)

(۳) الدرالمختارمع الرد (۴: ۵۷۱—۵۷۲) کتاب الهبة ط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دبزګرپه قبضه کې مځکه له مالک څخه ترراانیولووروسته وقفول

سوال : (۲۳) زیویه داسي مځکه دوقف لپاره رانیسي چي له ډیرې مودې څخه دبکرکرو ندګرپه قبضه کې ده ،ځکه دزیدپوره قبضه پردې مځکه نشي کېدای صرف په حکومتي اسنادوکې به دمالک په خانه کې دزیدنوم ولیکل شي په دې حال کې که زید دامځکه رانیسي اووقف یې کړي نوداوقف شرعًاصحیح کېدای شي ،که نه ؟ (۱۴۱۲/ ۱۳۴۱هج)

خواب : داوقف شرعًا صحیح کیږي ،ځکه چي دوقف دصحیح کېدولپاره صرف دوقف کوونکې مالک والی شرط دی (کذافی الشامی) اوکله چي دامځکه وقف شي نودبزګرلپاره شرعًا ددې مځکې پربښوول اوخپله قبضه پورته کول واجبیږي اوترڅوچي دی خپله قبضه پورته نکړي ترهغوهغه خرڅ کوم چي دغه مځکه ورکوي دوقف په مصرفو نوکې به صرفیږي(۱) فقط.

په کومه مځکه کي چي دبزګرحق دی مالک هغه وقفولای شي

سوال : (۲۴) دبهارپه ولایت کې حکومت دکرنې اواستوګنې دمځکې په اړه دوه حقه اینبي دي یوحق دمځکودذات سره اړه لري ددې حق وحقداراومالک ته زمینداررویل کیږي اوبل حق له مځکه څخه داستفادې چي ورته حق داستوګنې اوحق دکرنې ویل کیږي اوددې حق ومالک ته بزګراوکرونده ګرویل کیږي دغه دواړه حقونه یوځای هم اوجلا ،جلا هم رانیول کیږي اوخرڅیږي دحکومت دقانون له کبله زمینداړهم له بزګرڅخه مځکه نشي اخستلای اوس په دې صورت کې زمینداړخپل حق کوم چي دمځکې دذات په اړه ووکه وقف کړي نوشرعًا دکرنې یااستوګنې حق کوم چي دبل وویادغه زمینداته ووباطل شو،که نه ؟ (۱۷۲/ ۴۴- ۱۳۴۵هج)

---

(۱) قوله بخلاف صحیح ای وقف مدیون صحیح فانه یصح ولوقصدبه المماطلة لانه صادف ملکه کمافی انفع الوسائل عن الذخیرة (الفتاوی الشامیة (۴۳۲/۳) مطلب: الوقف فی مرض الموت ط رشیدیه) وشرطه شرط سائرالتبرعات افادان الواقف لابدان یکون مالکا له وقت الوقف ملکاباتا(ردالمحتار(۳۹۴/۳) کتاب الوقف . شرائط الوقف ط رشیدیه.

ځواب: دمځکې دذات مالک چې کله خپله مملوکه مځکه وقف کړه نو داوقف شود اودبز گراونورو حق له دې څخه ختم شو(۱)

سځه خپل جائدادخاوندله اجازې پرته وقفولای شي

سوال: (۲۵) که میرمن خپل ځاني جائدادوکومې مدرسې یابل ځای ته دخپل خاوندله اجازې پرته وقف کړي نوپروقف کوونکې شرعًا څه جرم راځي؟ اوداوقف صحیح کیږي ،که نه؟(۷۰۲/۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: داسي وقف صحیح کیږی اوپروقف کوونکې شرعًا هیڅ الزام اوجرم نه راځي(۲) فقط.

دوقف په آمدني دوقف کولولپاره مځکه رانیول صحیح دي

سوال: (۳۲) یوه وقف کوونکې خپله دمځکې هغه برخه کومه چې په کورکې ده وقف کړه اوهغه مکان دده دجائدادیوه مشترکه برخه ده اوپه دې مکان کې بل سړی هم څلورمه برخه لري ،څکه چې دصحراء په جائداداوپه منډوارکلي کې دی دځلورمې برخې حق لري اوس دغه دوهم برخه درلوددوونکی دخپل کلي دجائدادسره دمکان دغه برخه هم خرڅول غواړي یواځي دکلی جائدادخرڅول نه غواړي په دې صورت کې دمکان دغه څلورمه برخه دصحرایې جائدادسره دوقف په روپورانیولای شي ،که نه؟ ،څکه چې په دې صورت کې به دوقف په آمدني کې هم ترقي وشي چې دشریعت کوم حکم وي خبرراکړئ؟(۲۸۵/۱۳۳۷هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي: وکذایفتی بکل ماهوانفع للوقف فیمااختلف العلماء فیه الخ(۳) نوکه دوقف په آمدني اوګټه هغه څلورمه برخه رانیسي بیاوقف شي نوداصحیح دی چې په دې دوقف فائده ده فقط.

---

(۱) وشرطه ..... افادان الواقف لابدان یکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتا الخ (الشامی (۳/۳۹۴) کتاب الوقف و شرائط الوقف ط رشیدیه) وفیه ایضا بخلاف صحیح ای وقف مدیون صحیح فانه یصح ولوقصد به المماطلة لانه صادف ملکه الخ کتاب الوقف (۳/۴۳۲) ، مطلب الوقف فی مرض الموت ط رشیدیه) وفیه لان الملک مامن شانه ان یتصرف فیه بوصف الاختصاص ردالمحتار (۴/۳) کتاب البیوع ، مطلب فی تعریف المال والملک والمتقوم ط رشیدیه

(۲) افادان الواقف لابدان یکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتا الخ (ردالمحتار (۳/۳۹۴) کتاب الوقف ، شرائط الوقف ط رشیدیه) وفیه لان الملک من شانه ان یتصرف فیه بوصف الاختصاص (الشامی (۴/۳) کتاب البیوع ، مطلب فی تعریف المال والملک والمتقوم ط رشیدیه)

(۳) الدرالمختارمع الشامی (۳/۴۴۰) کتاب الوقف ، مطلب سکن المشتری دارالوقف ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دوقف په آمدني رانيول شوې مکانونه هم وقف دي

سوال : (۲۷) محمد احمد يوسراى دمدرسې لپاره وقف کړاوس متولي دغه مکان خرڅ کړده په قيمت اوآمدني يې دوه ،درې سرايونه رانيول نودغه سرايونه هم وقف شول ،که نه ؟ (۱۲۳۴/ ۴۶ - ۱۳۴۷هج)

خواب : کوم مکانونه چې ددغه وقف شوې مکان په قيمت رانيول شول هغه ټول وقف دي ددوئ دآمدنۍ سره دې دوقف کوونکې له بيان سره سم عمل وشي فقط.

دمنقولي شيانووقف جائزدی ،که نه

سوال : (۲۸) زيد خپل منقولي اوغيرمنقولي جائداددوقف دپاڼې په وسپله دربيع الاول (لومړۍ خور) دمياشتې په دوولسمه په ۱۳۰۳ه کې وقف کړ: ليک دزيد په لاندي دول دی: املاک خودرابه ثبات عقل وهوش برطالب علمان محتاج ازقرابت خودوبعدآنهان بدبگر مساکين وقف نمودم بعدمن واقف توليت مدرسه طلبه مذکوره وانتظام املاک موقوفه تايک سال برادرم عبدالمجيدطال الله عمره قائم مقام شان تبرعانمايندورقم حق توليت يک ساله خودبفرزندانم ودخترانم تقسيم کنندد اخبره منل شوې ده چې دوقف کوونکې ترمرګه له ۱۳۰۳ه څخه تر۱۳۰۸هج ترپنځو کالوپورې پروقف شويومالونوقبضه وه وموقفوف عليه (چاته چې يې وقف کړې دي) ته په قبضه نه دي ورکړي وخپلوټولواو لادوته يې وقف کړي په اول کې تريوه کاله پورې دتوليت حق هم ورکړی آيادمنقولی مال لکه دپگ ، سطرنجي ، اولوښې ونورووقف روادی ،که نه ؟ په دغوحالاتوکې کوم ته چې موقوفه جائدادويل کيږي دوقف تعريف وربانديصادقيږي ،که نه ؟ آيا دوقف دپاڼې په وجه دغه جائداددوقف کوونکې تروفات روسوته په ترکه کې شمېرل کيږي ،که به وقف وي ؟ بينواتوجروا (۳۴۰/ ۳۳ - ۱۳۳۴هج)

خواب : په دې صورت کې دنامنقوله جائدادوقف لکه مکان اومخکه مطلقا اوقطعا صحيح شو،څکه چې دصحيح اومفتی به قول سره سم دوقف کوونکې صرف په دې ويناچې ماخپله مخکه اوجائدادپرمسکېنانووقف کړل وقف صحيح کيږي دمتولي په قبضه کې ورکول دامام ابويوسف رحمه الله له مذهب سره سم شرط نه دي اودامام ابويوسف رحمه الله پرقول فتوی ده اوهمدې ته محقيقينواوجه اواصح اواحوط ويلې دي لکه چې به له راتلوونکوروايتونوڅخه څرګندشي داراز

دوقف کوونکې پخپله متولي کېدل یاله خپلواولادوڅخه څوک متولي جوړېدل په کوم ترتیب چې دی متولي ګرځوي اودڅومره مودې لپاره چې متولي کړی صحیح دی دتولیت دمودې په تعیینولووقف موقت (تریوڅانګړې وخت پورې) نه ګرځي وقف مؤبد (دهمیشه لپاره) وي متولیان که څه هم بدلیږي اودوقف کوونکې دوقف دغلې دڅان لپاره یادخپلواولادولپاره مقررول هم په کوم شرط چې وقف کوونکې مقررکړی صحیح دی لنډه داچې په یاده شوې دوقف په پاڼه کې یوشی هم دوقف منع کوونکی وجودنلري پاته شودمتولي شیانووقفول په هغه کې داتفصیل دی چې دکومومتولي شیانوتعامل جاری دی لکه دېګ ، جامې ، کتابونه اوقرآنکریمونه اونورپه دې کې هم وقف صحیح دی لاندې لیکل شوې عبارتونه دغه بیان شوې مطلبونه ثابتوي [قال فی الدرالمختار: ومحله المال المتقوم وركنه الالفاظ الخاصة كارضی هذه صدقة ، موقوفة ،مؤبدة على المساكين ونحوه من الالفاظ كموقوفة لله تعالى اوعلى وجه الخيراوالبرواكتفى ابويوسف رحمه الله بلفظ موقوفة قال الشهيدونحن نفتى به للعرف وهكذافى الشامى (۱) وفى الدرالمختارايضا: وجعله ابويوسف رحمه الله كالاعتاق واختلف الترجيح والاخذبقول الثانى احوط واسهل بحروفى الدروصدرالشريعة وبه يفتى الخ قوله وجعله ابويوسف رحمه الله كالاعتاق فلذلك لم يشترط القبض والافرازای فيلزم عنده بمجردالقول كالاعتاق وفيه عز الفتح ان قول ابى يوسف رحمه الله اوجه عندالمحققين الخ (۲) وفى الدرالمختار: وجازجعل غلة الوقف اوالولاية لنفسه عندالثانى وعليه الفتوى الخ وكذاقال صدرالشريعة وهومختاراصحاب المتون ورجحه فى الفتح.واختاره مشائخ بلخ (۳) وكماصح ايضا وقف كل منقول فيه تعامل .....وقدروجنازة وثيابهاومصحف وكتب الخ (۴) (درمختار) وفيه ايضا : ومادام احديصلح للتولية من اقارب الواقف لايجعل المتولى من الاجانب ،، ارادالمتولى اقامة غيره مقامه فى حياته وصحته

(۱) الدرالمختارمع الشامى (۳/ ۳۹۳) فی اوائل کتاب الوقف ط رشیدیه.
(۲) الشامی (۳، ۴۰۰، ۴۰۱) مطلب شروط الوقف علی قولهما ، کتاب الوقف ط رشیدیه.
(۳) ردالمحتار (۳، ۴۲۳، ۴۲۴) مطلب فی الوقف علی نفس الواقف کتاب الوقف ط رشیدیه
(۴) الدرمع الرد (۳، ۴۰۹، ۴۱۰) مطلب فی وقف المنقول قصدا ، کتاب الوقف ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

ان کان التفویض له بالشرط عاماصح الخ (۱) وفیه شرط الواقف کنص الشارع الخ (۲)

دتول منقول اونامنقولې جائداددوقفولووصیت کول

سوال: (۲۹) شخصی به حالت صحت وعقل بدیگرامین می گویدکه قسمه املاک منقوله وغیرمنقوله من بعدمرگ من وقف مساکین فلان مدارس داری اتفاقاآن شخص بعدچند روزبموت بمفاجاة فوت شدوآن امین قسمه املاک وی بعدادائی دیوان بمساکین داد وچیزی نه گذاشت آیاوقف وی درست است یانه؟ (۱۱۴۸/ ۱۳۳۷هج)

جواب: این چنین وصیت درثلث ترکه جاری می شودوبه رضائې ورثه درجمیع ترکه قسم جاری خواهدشدپس اگربرضاء ورثه آن امین تمام جائدادغیرمنقوله راوقف کندصحیح خواهد شد(۳) ووقف مملوک سکی نمی شودتقسیم کردن آن رابه مساکین ومالک گردانیدن اوشان راصحیح نخواهدشدبلکه آن راوقف کرده منافعه آن بمساکین خواهد رسیدوبس (۴) دروقف منقول تفصیل است کمابین فی کتب الفقه فقط.

دسوال: (۲۹) ترجمه: یوسړی دصحت اوروغتیاپه زمانه کې ویوه امین ته وایې چې زماټول منقولی اونامنقول جائدادزماترمرګ وروسته دفلانی، فلانی مدرسوو مسکینا نوته وقف کړه ناڅاپه څوورځې وروسته دغه سړی وفات شواودغه امین دقرضوله اداینې وروسته دده ټول جائدادومسکینانوته وسپاری اوهیڅ شی یې نه پریښودپه دې صورت کې دده وقفول صحیح دي، که نه؟

ځواب: دارازوصیتونه دترکې په یوه دریمه کې جاري کیږی اودوارثانوپه خوښه

(۱) الدرمع الرد (۳/ ۴۵۰) مطلب لایجعل الناظرمن غیراهل الوقف، کتاب الوقف ط رشیدیه (۲) الشامی (۳/ ۴۵۲) مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع کتاب الوقف ط رشیدیه

(۳) امرأة وقفت منزلا (الی قوله) جازالوقف فی الثلث ولم یجزفی الثلثین (الشامی (۳/ ۳۹۷) مطلب فی وقف المریض ط رشیدیه.

(۴) ولایقسم النقض اوثمنه بین مستحقی الوقف لان حقهم فی المنافع لاالعین (الدر المختار مع الرد (۳/ ۶۱۹) کتاب الوقف. مطلب فی الوقف اذاخرب ولم یمکن عمارته ط رشیدیه.

په ټوله ترکه کې هم جاري کېدای شي ،څکه نوکه دغه امین دوارثانوپه خوښه ټول نامنقول جانداد وقف کړي نوصحیح کیږي اووقف دچاملک نه وي په دې وجه په مسکینانوکې ددې په وېشلودوئ مالکان جوړول صحیح نه دي بلکې ددغو جانداد ونو دوقفولووروسته چې ددوئ کومه ګټه وي صرف وهغومسکینانوته رسیږي اودمنقولې شیانوپه وقف کې تفصیل دی چې دفقهې په کتابونوکې یې په ښکاره یادونه شوې ده.

دوخت دباچاحکومتي شاړه مځکه وقف کول

سوال: (۳۰) دحکومت ځینې باوري مسلمانانودیوې قومې کمپنۍ لپاره وباچاته په دې اقرارسره عرض وکړچې که حکومت له شاړومځکوڅخه فلانی ،فلانی مځکه مورته رامنظوره کړي نومورډکمپنۍ غړې دمتولیانوپه حیث دغه مځکه ددغه کمپنۍ لپاره په نامه دالله رب العزت وقف بولووروسته تردې دکمپنۍ ورپه ګوته کړي مځکه دکمپنۍ دغوښتنې سره سمه باچادلاندې حکم سره دوقف لپاره منظوره کړه چې وفلانی کمپنۍ ته دې ددوئ ننبه کړي مځکه په خاص توګه ورکوله شي دایومذهبي کاردی چې باید پکې هیڅ ډول خنډ پیدانشي اودادې وقف کړله شي ترڅوله دې څخه څوک دځان لپاره استفاده ونکړي دارازمادغه حکمې دې ژرترژره عملي شي بیادې ماته خبراکول شي ،څکه نو اړوندې ادارې ننبه شوې مځکه دکمپنۍ دمتولیانوپه ځارنه کې ورکړه اوس دغه مځکه دکمپنۍ په قبضه اوځارنه کې ده اوحکومتي حکمونه دسند په ډول په کمپنۍ کې وجودلري په داسې صورت کې دغه مځکه دکمپنۍ داقراراودورکوونکې باچاله حکم سره سمه دالله رب العزت دشریعت له مخې وقف بلل کیږي ،که نه؟ (۲۰۲۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په دې صورت کې دغه مځکه وقف شوه اودوقف حکمونه ددې سره تړون لري لکه چې له راتلوونکې عبارت څخه ښکاریږي فان کانت مواتا اوملکاللسلطان صح وقفها الخ(۱) (شامی: ۳۹۲/۳).

(۱) ردالمحتار (۳ ۴۳۰) کتاب الوقف ، مطلب فی وقف الاقطاعات ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دسلګونوخلګوترمینځ دمشترکې مځکې دوقف کولوطریقه

سوال : (۳۱) په کلي کې یوه مشترکه ټوټه چې ورته په عرف عام کې شاملات وایې کله چې هغه دسلګونونارینه اوښځینه وو ،یتیمانواوکوندوترمینځ مشترکه ده آیاکه څو کسانو مثلا دکلی مشران اوځلورپنځه نورکسان دمسجدیامدرسې لپاره دمالکانوله اجازې اوخوښې پرته وقف کړي نوداسي وقف شرعًا روادی ،که نه ؟ (۲۰۲۹/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

خواب : په دې صورت کې بهتره ډادی چې کوم څوک دکلي له شاملاتوڅخه خپله برخه وقفول غواړي هغوئ دې مځکه ووښي خپله برخه دې وقف کړي اوکه مشترکه حصه وقف کړي بیاهم وقف صحیح کیږي په درمختارکې راغلې دي : واختلف الترجیح ولاخذ بقول الثانی احوط واسهل بحروفی الدرروصدرالشریعة وبه یفتی واقره المصنف (۱) له دې څخه معلوم شوچې مشاع وقف روادی کوم چې دامام ابویوسف رحمه الله مذهب دی اوکوم وندې لروونکې چې خپله وندې وقف کوي په دې سره صرف دهغوئ برخه وقف کیږي دنوروبرخه لروونکوبرخې نه وقف کیږي په هدایه کې راغلې دي: ووقف المشاع جائزعند ابی یوسف رحمه الله (۲) .

له مشترکې ترکې څخه دیووارث روپۍ وقف کول اوحرامه ترکه دوارث په هکله څه حکم لري

سوال : (۳۲) یوشخص وفات شویوه ښځه اونابالغ اولادیې پاته شودغه سړی سودخوروو ده له وفات مخکې څه روپۍ دمسجدجوړولولپاره ورکړې اودایې وویل چې زه حلال مال درکوم نوددغوروپوپه مسجدکې لګول صحیح اوروادي ،که نه ؟ اوداخبره هم دپوښتنې وړده چې ددغه وفات شوې شخص ښځه له مشترکې ترکې څخه څه روپۍ ومسجدته ورکول غواړې اووایې چې زه به یې پخپله برخه کې وشمیرم حال داچې دمړی نوروارثان نابالغ دي نوپه دې صورت کې دښځې په مشترکه ترکه کې تصرف کول صحیح دي ،که نه ؟ اودوفات شوې حرام مال دوارث په هکله صحیح اوحلال دی ،که حرام ؟ (۳۲/۱۱۳۲ - ۱۳۳۳هج)

---

(۱) الدرالمختار مع الشامی (۳ ۴۰۱) کتاب الوقف ، مطلب مهم فرق ابویوسف رحمه الله الخ ط رشیدیه.

(۲) هدایه ۲ ۷۳۸ فی بدایة کتاب الوقف.

خواب : کله چې دې سړی ویلې دي چې زه ومسجدته حلال مال ورکوم نوددغورو پوپه مسجد کې صرفول صحیح دي اودده دښځې لپاره دترکې له وښ مخکې په مشترکه ترکه کې تصرف کول صحیح نه دي دترکې له وښ وروسته له خپلې برخې څخه یې ورکولای شي اوتصرف هم کولای شي پاته شوه دامسئله چې دوفات شوې حرام مال دوارث په هکله حلال وي ،که حرام ؟ نوصحیح دادی چې سړه له خبرتیاحرمت ته نقلیږي یعنی که وارثان ددې مال په حرامو الې علم لري چې مثلا دغه روپۍ خاص دسوددي یادشرابو روپۍ (کوم چې مسلمان خرڅ کړی وو) دی نودوارثانولپاره داسي روپۍ حرامې دي اودمال ومالک ته ددې بیرته ورکول لازم دي قال فی الدرالمختار: وعلی هذالومات مسلم وترک ثمن خمرباعه مسلم لایحل لورثته کمابسطه الزیلعی وفی الاشباه: الحرمة تنتقل مع العلم الاللوارث الااذاعلم ربه الخ قوله الااذاعلم ربه ای رب المال فیجب علی الوارث رده علی صاحبه (۱) (ردالمحتار)

دوقف څوحکمونه

سوال : (۳۳) (الف) کله چې وقف کوونکې دانه دي لیکلې چې دوقف نافذ پدل به زماتر مرګ وروسته څنګه وي ؟ بلکې ترخپله مرګه یې ځان متولي جوړکړی وي اوله ځانه وروسته یې بل شخص نوداسي لیک به دوقف دوصیت حکم ولري ،که نه ؟

(ب) دوقف کوونکې پخپله متولي جوړپدل څنګه دي ؟

(ج) پراولادودوقف لپاره قبضه ورکول ضروري دي ،که نه ؟ اودارازدوقف دوصیت لپاره که قبضه ورکول ضروري ده نودوقف کوونکې پخپله متولي جوړپدوڅخه شرعًا قبضه راځي ،که نه ؟

(د) دوقف دوصیت دجوازلپاره څه شرطونه دي ؟ اودوقف کوونکې تروفات وروسته به داپه ټول جائداد کې جاري کیږي که په درېیمه کې ؟

(ه) په وصیت بالوقف اووقف بالوصیت کې څه توپیردی ؟ (۳۲۵/۳۵-۱۳۳۲هج)

(۱) الدرمع الشامی (۵/۳۷۳) کتاب الحظروالاباحة فصل فی البیع طرشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

ځواب : (الف) دوقف کوونکې پخپل ژوندکې متولي جوړېدل ددې تقاضاکوي چې وقف يې حالاکړی دی نوداوقف منجزدی يعنی حالا دی دوقف وصيت نه دی.

(ب) وقف کوونکی پخپله متولي کېدای شي ، په درمختارکې راغلې دي: جعل الواقف الولاية لنفسه جازبالاجماع الخ(۱)

(ج) کله چې وقف کوونکی پخپله متولي وي نووچاته دقبضې ورکولوارتیانشته اووقف صحيح دی بلکی دامام ابويوسف رحمه الله له قول سره سم کوم چې دوقف په هکله مفتی به دی دوقف دصحيح کېدولپاره دچاوقبضې ته ارتیانشته صرف په ويناکولووقف صحيح کيږي مثلا وقف کوونکې چې کله داوويل چې ماداوقف کړوقف صحيح شوپه شامی کې راغلې دي [وفی القهستانی ان التسليم ليس بشرط اذاجعل الواقف نفسه قيماالخ(۲) وفی الدرالمختار: وجعله ابويوسف رحمه الله کالاعتاق فلذالم يشترط القبض والافرازای فيلزم عنده بمجردالقول الخ (۲) (شامی: ۳/ ۳۶۵)

(د) که پخپل ژوندکې يې وقف نکړېلکي داسي يې وويل چې فلانی جائدادزماترمرګ وروسته وقف دی نوداوقف وصيت دی په درېيمه کې جاري کيږي قال فی الشامی : نعم سيأتی فی الشرح انه يکون وصية لازمة من الثلث بالموت لاقبله الخ(۳) (شامی: ۳/ ۳۶۰)

(ه) په دوئ کې هيڅ فرق نشته ددواړومطلب دادی چې وقف کوونکې دوقف وصيت کړی دی حالايې وقف نه دی کړی بلکي داسي يې ويلې دي چې زماله مرګه وروسته دغه جائدادوقف دی نوداوصيت په درېيمه کې جاری کيږی کمافقط.

دبل چاجائدادد خپل جائدادسره يوځای وقفول

سوال : (۳۴) زيد پخپل ژوندکې دوې توتې محکه دالله رب العزت لپاره وقف کړه چې يکې يوه توته محکه دزيدملک وه اودوهمه توته دزيددښځې هندې وه نودزيد خپل ځاني جائدادوقف بلل کيږي ؟ (۱۳۴۱/۱۳۵۲)

---

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۳/ ۴۲۱) کتاب الوقف ، مطلب فی اشتراط الواقف الولاية لنفسه ط رشيديه.

(۲) الشامی(۳/ ۴۰۰) کتاب الوقف ، مطلب فی الکلام علی اشتراط التأبيد ط رشيديه.

(۳) الشامی (۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف قبل مطلب فی وقف المرتد والکافر ط رشيديه.

خواب : کومه توته چي خاص دزيد ملک وه دهغي وقف صحيح دي ،خکه نو وارثان پردغي توتي حق نلري نو که په دوارو توتو کي هره يوه په جلا ، جلا الفاظو وقف کړي نو دخپل ملک دوقف په جائزوالي کي هيڅ شک نشته اوکه دخپل ملک سره بله توته کومه چي ددده ملک نه وه يوخای کړي په يوه لفظ يې وقف کړي نو همدغه وقف دده په خپله توته کي روادی ،خکه چي ورسره يوخای کړې مخکه هم دوقف کيدو وړتيالري.

[وهذاكماقالوافي البيع : انه بطل بيع قن ضم الى حر ، بخلا ف بيع قن ضم الى مدبرا و نحوه فانه يصح كذافي الدرالمختاروفي الشامي ـتـه : اى فيصح في القن بحصته لان المدبرمحل للبيع عندالبعض فيدخل في العقدثم يخرج فيكون البيع بالحصة في البقاء دون الابتداء وفائدة ذلک تصحيح كلام العاقل من رعاية حق المدبرالخ (۴/ ۱۴۰) دارازپه مسئوله صورت کي هم دبل دملک ورسره ديوخای کولوپه صورت کي پخپل ملک کي وقف صحيح دی اودبل ملک به ځيني خارج پاته شي ترڅودوقف کوونکي کلام له لغوه کيدو ځخه خوندي شي اودبل حق هم له لاسه ونه وځي كمافي الاشباه : اعمال الكلام اولى من اهماله متى امكن فان لم يمكن اهمل الخ (۲) فقط.

خپل اودخورجائداددمرګ په ناروغي کي وقف کول

سوال : (۳۵) له زيدسره دخپلې خورهندې چي ددې په برخه دی کارکوونکی وواوددې پرجائداددعام اختياراتودرلودوپه حيث ناحقه تصرف کوونکی وودخپل مرګ په ناروغي کي يې ديوه ليک په وسيله پراولادودوقف لپاره دخپل اودهندې له جائداد ځخه داستفادې کولوپه نيت اودهندې دنوروواړثانودحق وهلوپه غرض يې خپل اودخپلې سکه خورهندې جائداد وقف کړپه دې صورت کي شريعت مطهره څه حکم ورکوي ؟ زيد په همدې ناروغي کي وفات شوفقط .(۵۸۴/ ۳۳ - ۱۳۳۴هج)

خواب : دهندې دجائداددوقفولو اختيارخوله سره زيدلري هم نه ددې جائداد خويومخ وقف شوی هم نه دی هغه دهندې دوارثانودی اوزيدچي خپل جائداد وقف کړدمرګ دناروغي له امله

(۱) الدرالمختارمع الشامي (۴/ ۱۱۲) باب البيع الفاسد: قبيل مطلب اذااشترى احد الشريكين جميع الدارط رشيديه

Maktaba Tul Ishaat. com

(۲) الاشباه والنظائر ص ۱۵۲ الفن الاول . القاعدة التاسعة اعمال الكلام اولى من اهماله الخ

دغه وقف په يوه درېيمه کې جاري کيږي اودوي درېيمي دزيدپرتولونارينه اوښځينه وارثانو شرعي برخوسره سمې وېشل کيږي (۱) قال فی الدرالمختار: اعتاقه ومحاباته وهبته ووقفه وضمانه كل ذلك حكمه كحكم وصية فيعتبرمن الثلث الخ (۲) فقط.

دقرض له اداينې څخه دخلاصون لپاره خپل جائداد وقفول

سوال: (۳۶) (الف) پرزيد ډيره زياته قرضه وه اوجائداد، داستوګنې اودصحراء دده سره دلږقيمت وواوهمدغه جائداددده معاش وودقرض اداکولووس يې نه درلودده دقرض خوړلوپه نيت خپل جائدادپراولادودوقفولولپاره وليکی شرعاداسي وقف کول روادي، که نه؟

(ب) جائداد دقرضې دادايني په غرض خرڅېدای شي؟ (۱۳۴۲/۱۵۹۹هج)

ځواب: (الف، ب) دفقهې په کتابونوکې ليکلې دي چې پوروړی که دروغتيا په حال کې وقف وکړي نوروادی په شامي کې راغلې دي: قوله بخلا ف صحيح ای وقف مديون صحيح فانه يصح ولوقصدبه المماطلة الخ قال فی الفتح وهولازم لاينقضه ارباب الديون الخ (۳) (شامی: ۳/۳۹۵) اوپه درمختارکې دي: فان شرط وفاء دينه من غلته صح وان لم يشترط يوفی من الفاضل عن كفايته بلا سرف ولووقفه على غيره فغلته لمن جعله له خاصة الخ (۳) بياچې له دې وروسته کوم روايتونه دپوروړې دوقف دباطل والې ليکلې دي هغه شامی حمل کړی دي پرناروغ پوروړې چې دهغه وقف باطل دی يعنی دروغ سړی وقف کول که پراولادووي، که له اولادوپرته پربل وي صحيح اونافذدی اووقف شوی جائدادنشي خرڅېدای فقط.

دبل په ذمه قرض روپۍ نشي وقفېدای

سوال: (۳۷) دمکان اومشترکومځکوانتقال پراولادوباندي دوقف په وسيله روادی، که نه؟

(۱) امرأة وقفت منزلافی مرضها الى قوله جازالوقف فی الثلث ولم يجزفی الثلثين فيقسم الثلثان بين الورثه على قدرسهامهم (الشامی ۳/۳۹۷) كتاب الوقف، مطلب فی وقف المريض ط رشيديه.

(۲) الدرالمختارمع الشامی (۵/۴۸۱) كتاب الوصايا، باب العتق فی المرض ط رشيديه.

(۳) ردالمحتارعلى الدرالمختار (۳/۴۳۲) كتاب الوقف، مطلب الوقف فی مرض الموت ط رشيديه.

اولکه څنګه چې مشاع هبه دمشترک جائداډروانه ده دارازدکوم اعتراض پروقف باندې دپیداکیدواحتمال شته ،که نه ؟کومې روپۍ چې دنامنقوله جائداډپه ګروپه قرض ورکول شوې دي اودارازهغه روپۍ کومې چې دنوروپه لاسونو(یعنی له لیکه پرته قرضي) یاپه کومه بله وسیله پرنوروقرض وي وقف کیدای شي ،که نه ؟ (۱۵۳/ ۳۳- ۱۳۳۴هج)

ځواب: دمشاع وقف دامام ابویوسف رحمه الله په نزدصحیح دی اوپرهمدې فتوی ده ددې قول سره سم وروسته تروقف کیدووقف شوې برخه به بیله کړله شي اووېش دې وشي دادې جلا کړي دغه وېش که په خوښه وي اوکه دحکومت په وسیله وي(۱) کومې روپۍ چې دبل په ذمه قرض وي یادین وي دهغه وقف کول صحیح نه دي(۲) فقط.

په حکومتي کاغذونوکې دکومې مځکې په وقف لیکلوهغه مځکه نه وقف کیږي

سوال: (۳۸) که دکلې په سرلیک کې کومه مځکه وقف لیکل شوې وي اوهیڅ ثبوت نه وي بلکې بل ثبوت دچادملک کیدووي اودمځکې مالک هم له وقف څخه انکارکوي آیا صرف په دې کاغذشرعاوقف کیدای شي ،که نه ؟ (۱۱۳۸/ ۳۳- ۱۳۳۴)

ځواب: صرف په سرلیک کې دیوې مځکې په وقف لیکلوسره هغه مځکه نه وقف کیږي ترڅودمځکې دمالک وقف کول په ثبوت ونه رسیږي کماذکرفی الشامی: عن الخانیة والاسعاف

---

(۱) کمافی الدرالمختار: فلا یجوزوقف مشاع یقسم خلافاللثانی (ابویوسف) وجعله کالاعتاق واختلف الترجیح والاخذبقول الثانی احوط واسهل وفی الدرروصدرالشریعة وبه یفتی واقره المصنف وفی الشامی قوله واختلف الترجیح مع التصریح فی کل منهمابأن الفتوی علیه لکن فی الفتح ان قول ابی یوسف رحمه الله اوجه عندالمحققین(الشامی (۳ ۴۰۱) کتاب الوقف ط رشیدیه) وفیه فاذاتم لایقسم الاعندهمافیقسم المشاع وبه افتی قارئ الهدایة وغیره قوله به افتی قارئ الهدایة حیث قال : نعم تجوزالقسمة ویفرزالوقف ویحکم بصحتها (۳/ ۴۰۴) کتاب الوقف قریبامن قوله مطلب: فی قسمة الواقف مع شریکه ط رشیدیه)

(۲) وشرطه افادان الواقف لابدان یکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتاالخ (۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف شرائط الوقف ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

ادعی علی رجل فی یده ضیعة انهاوقف واحضرصکافیه خطوط العدول والقضاة الماضین وطلب من القاضی القضاء بذلک الصک قالوا: لیس للقاضی ذلک لان القاضی انمایقضی بالحجة والحجة انماهی البینة اوالاقرارامالصک فلایصلح حجة لان الخط یشبه الخط الخ(۱)

دبل په مخکه اوسېدوونکي هغه مخکه وقف کولای نشي

سوال: (۳۹) یوسړی خپله مخکه دمسجد دتعمیرلپاره پخپله خوښه اورضاوقف کړه بیاځوکسانودی خطاکړاوطمع یې ورکړه له خپلې ارادې څخه یې راوګرځاوی نوموړی دنیکه له زماني پردغه مخکه استوګن ووخومخکه دبل چاده آیادمالک له خوښې پرته دغه مکان وقف کولای شي ،که نه ؟(۱۱۲۳/ ۱۳۳۷هج)

خواب: دمخکې له مالک پرته کوم بل څوک دچامخکه نشي وقف کولای اوداسي مخکه مسجدنشي کېدای دوقف کولواومسجدجوړولولپاره دوقف کوونکې مالک کېدل لازمي شرط دی کذافی ردالمحتار(۲)

ددرورږوآمدني وقف کېدای نشي

سوال: (۴۰) دحضرت شاه قمیص صاحب په اولادوکې یوه ډله دعوی لري چې دحضرت شاه صاحب ددرباردرورږوآمدني دي ووېشله شي دوهمې ډلې داولې ډلې په خلاف په دې غرض چې دخانقاه آمدني دي پرخانقاه ولګیږي په خپلوبیانوکې آمدني وقف وګرځوله له دې څخه مخکې کوم سندوجودنلري عدالت فیصله ددوهمې ډلې په هکله وکړه آیا داولې ډلې په خلاف ددوهمې ډلې په ویناوقف کېدای شي ؟(۱۳۳۱/۱۳۴۱هج)

خواب: ددرورږوآمدني په هیڅ صورت نشي وقف کېدای ،ځکه چې دوقف لپاره داشرط دی

---

(۱) ردالمحتار(۳، ۴۴۳) کتاب الوقف ، مطلب: احضرصکافیه خطوط الخ ط رشیدیه.

(۲) ومنهاالملک وقت الوقف حتی لوغصب ارضافوقفهاثم اشتراهامن مالکهاودفع الثمن الیه اوصالح علی مال دفعه الیه لاتکون وقفا (الهندیة ۲/ ۳۵۳کتاب الوقف ، شرائط الوقف)

چې موقوف (وقف شوی)کوم معلومداره شی وي دلته هیڅ معلوم داره شی نشته .ځکه چې داوقف نه دی بلکې ددرویونوآمدني به له عرف سره سمه وېشله کیږي کمافی الاشباه: العادة محکمة الخ(۱)

وښځې ته په مهرکې ورکړی مکان وقف کول صحیح نه دي

سوال : (۴۱) یوشخص یوسرای وخپلې ښځې ته دځوکسانوپه مخ کې دولورپه پورکې ورکړښځه کاله وروسته دده ښځه دطاعون (وبا) په ناروغي اخته شوه ده خپل دوه مکانونه سره ددې مکانه کوم چې یې وښځې ته دولورپه پورکې ورکړی ووقف کړل اودناروغی په حالت کې یې دښځې ګوته ولګوله ښځه په پوه اوخبره نشوه دمېرمنې له لورې مکان وقف شو ،که نه ؟(۱۳۴۲/۲۰۲۹هج)

ځواب : کوم سرای چې دغه سړی وخپلې ښځې ته دمهرپه پورکې ورکړهغه وقف کول صحیح نه دي اودغه مکان وقف نشواودناروغی اوبې هوښی په مهال دمېرمنې ګوته ورباندې لګول اعتبارنلري اوددې له لورې همدغه مکان وقف نه شو(۲)

وقف شوی جانداددهمېشه لپاره په کرایه ورکول

سوال : (۴۲) (الف) متولي وقف شوی جانداد دهمېشه لپاره په کرایه ورکولای شي ،که نه ؟

(ب) که یې دهمېشه لپاره په کرایه ورکول روانه دي نودسلواودووسلوکلونولپاره ومتولي ته په کرایه ورکول روادي ،که نه ؟(۱۳۴۷-۴۲/۳۵۲هج)

ځواب : (الف) دهمېشه لپاره په اجاره ورکول مطلقانارواديِ .ځکه چې په اجاره کې باید موده معلومه وي که څه هم اوږده موده وي اوپه وقف کې اوږده اجاره یعنی به مخکوکې له درېیوکلونوڅخه دزیاتولپاره په کرایه ورکول منع دي خوکه مصلحت په اوږده اجاره کې وي اودوقف په دې کې ګټه وي نوپه بېلابېلوعقدونوکې دې وکړله شي یعنی هریوعقدداجارې دی.

---

(۱) الاشباه والنظائرص: ۱۵۰القاعدة السادسة: العادة محکمة ومنهاعدم الجهالة فلووقف فی ارضه شیئا ولم یسمه کان باطلا (الهندیة ۲/ ۳۵۵شرائط الوقف)

(۲) وشرطه شرط سائرالتبرعات افادان الواقف لابدان یکون مالکاله وقت الوقف ملکابا تا الخ (ردالمحتار ۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف شرائط الوقف ط رشیدیه) لایجوزلاحد ان یتصرف فی ملک الغیرالا باذنه (قواعدالفقه

Maktaba Tul Ishaat. com

ددریوکالووي له دې وروسته بیاددریوکالودمثال په ډول که ددیرشوکلونواجاره وي نولس عقدونه به وي اوپه دې کې هم اختلا ف دی نوزیات احتیاط په دې کې دی چې تردرې کلونوزیاته اجاره ونکړي په درمختارکې راغلي: ویعلم النفع ببیان المدة الخ ای مدة کانت وان طالت الخ ولم تزدفی الاوقاف علی ثلاث سنین فی الضیاع وعلی سنة فی غیرهاکمامرفی بابه والحیلة ان یعقد عقودا متفرقة الخ(۱) (ب) دومره اوږده اجاره په یوه ځل په وقف کې روانه ده فقط.

له وقف شوې مځکې څخه څه مځکه وحقدارته ورکوله شوه نودپاته مځکې وقف باقي دی

سوال: (۴۳) یوسړی دوقف پاڼه ولیکله دوقف کوونکې سره داسي مځکه وه کومه چې په ناروا طریقه رانیول شوې وه اوبله مځکه په جائزه طریقه رانیول شوې وه دواړې یې په یوه دوقف په پاڼه کې وقف کړې محکمې ناجائزه مځکه ځینې واخسته وخپلوحقدارانو ته یې وسپارله اوروامځکه یې پاته شوه په داسي صورت کې ټوله دوقف پاڼه باطله شوه .که څه حکم دی؟ (۱۲۰۲/۱۳۴۱هج)

ځواب: داسي وقف روادی اووحقدارانوته له ورکړې وروسته چې کومه مځکه دوقف کوونکې په ملک کې پاته شوه هغه وقف کیږي په شامي کې راغلي دی: قوله وشرطه شرط سائرالتبرعات افادان الواقف لابدان یکون مالکا له وقت الوقف ملکا باتا الخ وینقض وقف استحق بملک اوشفعة الخ (۲) داخیري جملې وینقض الخ څخه څرګندشو چې کومره برخه دبل چاراووته اوپرهغې دهغه حق ثابت شوپه هماغه برخه کې وقف ماتیږي اودوقف کوونکې دمملوکه برخې وقف کېدل پرځای پاتې دي فقط.

له وقف څخه دماشومانودخوراک ،ځنباک واده اونورو په اندازه اخستلوشرط لګول

سوال: (۴۴) یوسړی خپله دربیمه دمال په دې شرط وقفول غواړي چې دده کوم ماشوم اولاددی هغوئ له دې وقف شوې مال څخه له بلوغ مخکې اوله بلوغ وروسته دخپل خوراک ،ځنباک ،ودونواونورودخرڅ لپاره واخلي نوددوئ لپاره اخستل روادي اوپه دې شرط وقفول

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴/۵) فی بدایة کتاب الاجارة ط رشیدیه.
(۲) ردالمحتار (۳۹۴/۳) کتاب الوقف ، شرائط الوقف ط رشیدیه.

روادی ،که نه ؟(۴۴۵/ ۱۳۳۸هج)

خواب : وقفول په دې شرط روادي اودوقف کوونکې متولي دشرط سره سم بایدعمل وشي اوداوقف علی الاولاددی وقف کوونکې ته پکاردی چې کوموا ولادوته آمدني وقفول غواړي دهغوئ برخې مقررې کړي فقط.

په وقف کې دخرڅولوشرط لګول

سوال : (۴۵) دمرګ په ناروغي کې کله چې ناروغه هم په هوښ کې وي په کوم چل يې په ډوله کې واچوله دیوې میرمنې په ملګریتوب يې مخکې ته بولتله اودوقف پانه يې په تیاره کړه اوبل داچې دوقف په پانه کې يې ومتولي ته دخرڅولوحق هم ورکړچې کله وغواړي داخرڅولای شي آیاداوقف صحیح دی ،که باطل اودوقف دباطلوالې په صورت کې په دغه مکان په ترکه کې داخل وي ،که نه ؟ (۲۹۵۸/ ۱۳۴۲هج)

خواب : په دې صورت کې دغه وقف شرعًا باطل دی ،ځکه چې دبیع شرط وقف باطلوي کمافی الدرالمختار: ولاذکرمعه اشتراط بیعه وصرف ثمنه لحاجته فان ذکره بطل وقفه (درمختار) وفی الشامی فی الخصاف لوقال علی ان لی اخراجهامن الوقف الی غیره اوعلی ان اهبها واتصدق بثمنها.....بطل الوقف ..... ولواشترط فی الوقف استبداله صح وسیأتی بیانه الخ (۱) وفی البحرعن الظهیریة امرأة وقفت منزلافی مرضهاالخ جازالوقف فی الثلث ولم یجزفی الثلثین فیقسم الثلثان بین الورثة(۲) (شامی) فقط.

په وقف کې ترمرګه دمالک پاتېدوقیدلګول

سوال : (۴۶) دیوسړی یوسرای دی دی هغه داډول وقف کول غواړي چې ترمرګه به زه مالک یم اوزمابنځه به ترمرګه په دې کې اوسیږي دده دوې لونې دي دده ترمرګ وروسته ټول جائداددواړوانجونودی په دې شرط دی وقف کولای شي ،که نه ؟ (۹۵۵/ ۴۶ - ۱۳۳۷هج)

---

(۱) الشامی (۳: ۳۹۴) کتاب الوقف قبیل مطلب فی وقف المرتد والکافر ط رشیدیه.

(۲) الشامی (۳: ۳۹۷) کتاب الوقف مطلب فی وقف المریض ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب : په پوښتل شوې صورت کې په دې شرط وقف کېدای شي نښځه دې ترمرګه په دې کې اوسيږي اوله دې وروسته دې ددې آمدني ودواړوانجونوته ورکول کيږي يادې دوئ پکې استوګنه کوي خودوئ ددې خرڅلاواوبخښنه نشي کولای ،ځکه چې داوقف دی فقط.

په ناروا آمدني رانیول شوی جائدادوقفول

سوال : (۴۷) دزید جائداددناروا ګټې دی اوس ده له دې خپل کسب توبه کښلې ده اودغه جائدادوقفول غواړې نوکوم صورت داسي کېدای شي چې ناروا جائدادرواشي اووقف وشي ؟ (۱۳۳۷/۴۵۹هج)

خواب : که يې په ناروا آمدني مخکه اوجائدادرانيوی نورانيوونکې ددغې مخکې اوجائدادمالک شوکه څه هم ملک خبيث شونوددغه جائدادوقفول صحيح اونافذدي يعنی دغه جائدادوقف کيږي (۱) اوکومې روپۍ چې دحرامې ګټې ده صرفي کړي دهغه ضمان پرده لازم دی چې ومالکانوته يادهغوئ ووراثانوته يې ورکړي يايې په هغوئ وبخښي (۲)

دوقف کوونکې شرطونه په پام کې نيول ضروري دي

سوال : (۴۸) يوسړی دخپل جائدادیوه برخه يادآمدنی (عائد) يوه برخه پريوه مدرسه اويوه مسجداوپرنورودخيرپرکارونووقفوي اوپاته جائدادوخپل زوئ بکرته وقفوي داراز چې له بکروروسته دې دهغه پروارثانوکوم چې شرعاحقداروي دشرعي برخوسره سم دجائدادآمدني وښله کيږي اوپه نارښه وارثانوکې چې ترتولوزيات لائق اودينداروي هغه دې متولي وي اومتولي دې له خپلې برخې پرته مزدوري هم اخلي کومه چې دنورووارثانودخوښې سره اړه لري همداسي دې همېشه کيږي اوکه کوم وارث پاته نشونودغه جائداددې پرناوسو ،مسکينانو ،

---

(۱) وشرطه شرط سائرالتبرعات..... افادان الواقف لابدان يکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتاولوبسبب فاسد (فتاوی ابن عابدين ،(۳۹۴/۳) کتاب الوقف ، شرائط الوقف ط رشيديه.

(۲) عن ابی هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: من کانت له مظلمة لاخيه من عرضه اوشیء فليتحلله منه اليوم قبل ان لايکون دينارولادرهم الحديث الخ (مشکوة شريف ص: ۴۳۵ ، باب الظلم)

مسجد ونو اومدرسو صرف شي اومتولي به کوم دیندار شخص وي دا روادی ،که نه ؟
(۱۳۰۰/ ۱۳۳۷هج)

خواب : دغه کوم صورت اوکوم شرطونه اودوقف اوتولیت ډول چی تاسولیکلی دی ټول صحیح اومعتبردي درازوقف کول صحیح دي فقهاؤځرګندونه کړې ده چې دوقف کوونکود غرض مراعات ساتل لازم دي اووقف کوونکې چې کوم شرطونه لګوي هغه معتبروي ،ځکه په دې کې وکوم بدل والي ته اړتیانشته(۱)

سوال : (۴۹)یوسړی جائداد وقف کړاوخپل زوئ یې متولي جوړکړهغه هلک اوس متولی موجوددی ، اووقف کوونکې داشرط ولیکی چې په راتلوونکې کې به هم زماله نسل څخه نارینه اولادمتولیان وي په دې شرط چې دکورنۍ ډیرکسان دی دتولیت قابل ومني ددغو ډیروتعین یې ونکړچې دکوم ځای اوسېدوونکې مراددي داسي نامعلوم شرط ته شرعًا اعتبارشته ،که نه ؟ اوداسي شرط عملي کول شرعا روادي ،که نه ؟ ،ځکه چې په کورنۍ کې جګړې ډیرې دي(۱۲۰۲/ ۱۳۴۱هج)

خواب : داخبره خومنل شوې اوځرګنده ده چې ترځودوقف کوونکې په خپلوانوکې کوم شخص دتولیت وړموجودوي نوهغه به متولي جوړوئ لکه چې په مخکنې سوال کې تیرشواوداهم ښکاره ده چې دوقف کوونکې شرطونه په پام کې نیول ضروري لارزم دي نوکوم شرط چې وقف کوونکې ولګاووچې په راتلوونکې کې به هم دوقف کوونکې له اولادوڅخه چې کوم نارینه زیات وړوي هغه دې متولي مقررشي دغه شرط دوقف کوونکې معتبردی اوعملي کول یې واجب دي اوښکاره ده چې ددغه انتخابولودوه صورتونه کېدای شي چې یاحاکم یې وتاکي یادرأیې په ډیرښت منتخب شي ،ځکه ددې شرط هم مراعات کیږي یعنی دوقف کوونکې له نارینواولادوڅخه چې کوم شخص دکورنۍ زیات کسان زیات وړوبولي هغه دې متولي وتا کل شي که په دې کې داختلا ف وېره وي نوکوم حکم (درېیم) وتا کئ دهغه فیصله عملی کول پرڅانولازمه کړئ قال فی الدرالمختار: شرط الواقف کنص الشارع ای فی المفهوم والدلالة ووجوب العمل به الخ(۲)

---

(۱) صرحوابأن مراعاة غرض الواقفین واجبة (الشامی (۳/ ۴۲۴) ، مطلب: مراعاة غرض الواقفین واجبة الخ) قولهم شرط الواقف کنص الشارع ای مفهوم والدلا لة ووجوب العمل به (الدرالمختار ،(۳/ ۴۵۲) کتاب الوقف مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۵۲) کتاب الوقف فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

سوال : (۵۰) نوی مسلمان احمدحسن زوئ دلا له مرلی دهرجین ددیوبند اوسیدوونکی ددیروخلګوپه موجودیت دزړه په خوښه تروفات مخکې ویلې ووچې زمامنقوله اونامنقوله جائدادبه زماتروفات وروسته فی سبیل الله (دالله تعالی په لارکې) وقف وي اوله اوس څخه دهغه منتظم اومتولي ډاکترشیخ عظیم الدین ، نائب صدردخلافت ددیوبندوي اودمسلمانانودرأیې سره سم به دجائدادآمدني لګیږي اوپه آئنده کې به دمسلمانانودغوښتنې سره سم دوقف شوې جائدادپه آمدني کې به رداوبدل کیږي آیادوفات شوې داسي ویل شرعا په رښتیاپه وقف کې داخل دي اودوفات شوې حق دوفات له وخته وقف شوی دی اومسلمانان ددې انتظامات کولای شي ،که نه ؟(۱۲۴۲/۲۳۲۸هج)

خواب : په دې صورت کې داحمدحسن وفات شوې نوې مسلمان ټول منقول اونامنقول جائدادفی سبیل الله وقف شواوس په دې کې وهیڅاته دخرڅولو ،ګرواونورواختیارنشته لکه چې داجمله مشهوره ده اوپه درمختاراونوروکې یادونه شوې ده چې [الوقف لایملک ولایملک (۱) یعنی وقف شوی شی اووقف شوی جائدادد چاپه ملک کې نه پاتیږي اودمالک په حیث پکې هیڅ تصرف کول روانه پاتیږي اودوقف کوونکې له څرګندونې سره سم به دوقف شوې جائدادمنتظم اومتولي ډاکترعظیم الدین صاحب وي اووقف شوی جائدادخوله وقف کولووروسته دوقف کوونکې له ملک څخه ووت ،ځکه په دې کې میراث نه جاري کیږي(۲)

دوقف کوونکې شرطونه عملي کول ضروري دي

سوال : (۵۱) (الف) ځینی جائدادیواخې وارووارثانوته په خپل ژوندکې ورکول اووس درلودوونکوته نه ورکول اوځینی دالله تعالی لپاره وقفول صحیح دي ،که نه ؟

(ب) دزیدیوه لوربووروراویوه خوردي زیدغواړي چې خپل جائدادپرځان اوخپلواولادو وقف کړي اودهغه ګټه له مرګه وروسته صرف دده ولوراودهغې واولادواوداولادوواولاد وته ورسیږي وروراوخورکوم چې حاجت ورته نلري ودوئ ته ورکول نه غواړي داسي کول روادي وکه نه ؟

---

(۱) فاذاتم ولزم لایملک ولایملک (تنویرالابصارمع الشامی(۴۰۲/۴) کتاب الوقف ط رشیدیه)

(۲) قوله علی حکم ملک الله تعالی قدرلفظ الحکم لیفیدان المرادانه لم یبق علی ملک الواقف الخ(ردالمحتار (۳۹۲/۴) فی بدایه کتاب الوقف ط رشیدیه) وفیه شرائط الواقف معتبرة اذالم یخالف الشرع((۳۹۵/۴) کتاب الوقف ط رشیدیه)

(ج) دالله تعالی لپاره دوقف په پانه کې که ولیکل شي چې له ټولومصرفونوڅخه مخکې به متولي دموقوفه جائدادپه آمدني دوقف کوونکې دقضاشویو لمونځونو اوروژوفدیه چې ځومره شمیربې دی اداکوي اودوقف کوونکې له لورې به حج بدل ته څوک لیږي له دې وروسته به آمدني دوقف په مصرفونوکې لګیږي دالیک دنافذولواومتولي دعملي کولووړدی ،که نه ؟(۱۷۳/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : (الف ، ب) وځینووارثانوته ورکول اوځینوته نه ورکول بددي دې ته په حدیث کې جور(ظلم) ویل شوې دي لکه چې دلا اشهدعلی جور(۱) جمله پردې دلالت کوونکې ده نورنوکومه برخه چې دټول جائدادیاځیني جائدادوقف کړله شي داسي صحیح دي لوپرځان وقف اواولادواوداولادوپراولادووقف روادی.

دوقف کوونکې داشرط لګول چې ترځوزه ژوندی یم دوقف امدني به پخپل کارراولم

سوال : (۵۲) په وقف کې ددې شرط زیاتونه کول چې ترځوزه ژوندی یم ددې وقف آمدني به خواکه ټوله وي که نیمه اوکه درېیمه مثلا زه پخپله کاروم داصحیح دی ،که نه ؟(۳۵/۳۵۷-۱۳۳۲هج)

ځواب : صحیح دی فقط.

دغیرشرعي اوجعلي وقف دپاڼې حکم

سوال : (۵۳) دځوخودغرضواوپردیوخلګودشرعي جائزوارث په نه شتون کې په کومه کونډه د مرګ په ناجوړه کې دسکران اوبې هوښۍ په حال کې ددې دټولې ترکې دوقف پانه تیارول یاله مرګه وروسته په جعلي طریقه کومه بله نښه په پرده کې کښېنول دنوموړې وفات شوې له لورې په فرضي طریقه په حکومتي اسنادوکې دوقف پانه جوړول څنګه دي ؟ اوداوقف صحیح کیږي ،که نه؟ اوددې کوونکوپه هکله حکم څه دی ؟

---

(۱) عن النعمان بن بشیررضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الک بنون سواه ؟ قال نعم قال فکلهم اعطیت مثل هذاقال لا قال فلا اشهدعلی جور(الصحیح لمسلم ۲/ ۳۷ کتاب الهبات ، باب کراهة تفضیل بعض الاولادفی الهبة.

Maktaba Tul Ishaat. com

اوددا سي وقف آمدني به دخيرپه کارکې صرفيږي که به ووارثانوته ورکول کيږي ؟ (۱۱۸۱/۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب : دزکندن اوبې هوښي پرمهال هيڅ تصرف نافذنه دی نوپه مسئوله صورت کې چې له نوموړې مېرمنې څخه دوقف پرپاڼه کوم لاس ليک اخستل شوی دی وهغه ته شرعًا اعتبارنشته ددې دټولې ترکې مالکان په شرعي حيث ددې وارثان دي دهغوئ له اجازې پرته په مسجداونورکوم دخيرپه کارکې نشي لګولای اوکوموخلګوچې ددغه جعلی دوقف پاڼې شرعي جوړول غوښتې دي هغوئ ټول ګنهګارشول چې پکې اصل باني اوګواهې ورکوونکې شريکان دي امادغه مېرمنې که دروغتياا وهوښ اوحواسوپرځای والي په صورت کې دوقف پرپاڼه دستخط کړی وای نوبيابه دادمال په درېيمه کې جاري کېدی دپاته به بياهم وارثان مالکان وای فقط.

داوبووقف شوی نل (ټاکی) که خراب شي نوڅه به کوي

سوال : (۵۴) يوداوبونل وقف دی وقف کوونکې دزيدپه مکان کې لګولی ووچې دساعت اونيم ساعت لپاره دی سهاراومابنام دنورو کلهوالولپاره هم خلاصيږي داراز عمل کېدی خواوس په دې کې څه خرابي راغلې ده يعنی په نل کې که يوه کوزه اوبه ورباندي واچول شي بياوبه راخي اودېرزراوبه راشيوه شي په دې صورت کې له کلهوالو څخه هيڅوک اوبه نشي ډکولای .ځکه چې دخا ن سره ديوې کوزې اوبوراوړل محال دي نواوس ددې نل په هکله څه حکم دی ؟ (۱۲۴۱/ ۱۳۴۲هج)

خواب : دوقف کوونکې له شرط سره سم سهاراومابنام بايد خلاص کړل شي څوک که اوبه ډکوي اوکه نه کوم څوک چې دخان سره داوبوکوزه راوړي هغه به يې ډکې کړي فقط.

له وقف شويومالونوڅخه دغلا کړيوروپوضمان لازم دی

سوال : (۵۵) زيددیوه وقف شوې جانداد متولي دی اودهغه آمدني دغصب په توګه خوری ددغه جانددله آمدني څخه عمرکوم چې دوقف شويوپرانتظام کولومامورديڅه روپۍ غلاکړي په دې صورت کې څه حکم دی ؟ (۷۷۹/۳۲-۱۳۳۳هج)

خواب : دعمرپرذمه ضمان دهغه روپوچې غلاکړي وي لازم دی اوداللہ تعالی په دربارکې دی ګنهګاردی توبه دې وکاږي اوغلاکړي روپۍ دې واپس کړي متولي که دوقف په مال کې خيانت کوي نوددې مواخذه (نيونه) پرهغه ده اودهغه متولي ساتل جائزنه دي.

په تجارت کې لګول شوی داوقافوپه مال کې که نقصان وشي نودګټې په ځیرنقصان هم په دې مال کې شمارل کیږي ،که نه ؟

سوال: (۵۲) زید دخپل مال دربیمه برخه دصدقې جاریې اونوردخیردکارونوپه نیت جلا کړه اوپخپله متولي شواودایې هم ولیکل چې ددې آمدني دې په تجارت کې ولګوله شي ترخوګټه وشي ،ځکه نومتولیانوداپه تجارت کې ولګاوی یوخل ګټه وشوه اودوهم ځل نقصان وشونوپردغه آمدني نقصان راتلای شي ،که نه ؟ (۱۰۷۷/ ۱۳۳۹هج)

ځواب : په دې صورت کې لکه څنګه چې ګټه دغه روپوته ورسېده نقصان هم پردغوروپو راځي ،ځکه چې دغه کاردتجارت په اجازه وشو.

دوقف مصرفونه بدلول

سوال: (۵۷) حاجی جلال شاه یودوکان وقف کړددوکان کرایه شل روپۍ وه له هغه څخه یې دوې روپۍ وعمه ته (ځکه چې هغه کونډه ده) ورکولې اویوه روپۍ یې وحاجی محمدطالب ته اوځورلس آنۍ یې وحجره اومدرسه اوپاته دحاجی جلال شاه وخورته ورسولې دغه خدمت دحاجی محمودصاحب غورپیووالا په ذمه وواوس څه موده وروسته دغه خدمت ومولوی محمدعثمان صاحب ته وسپارل شومولوی صاحب هغه رازوټولوته مقرره شوې وظیفه رسوله اوس حاجی جلال شاه صاحب لیکلې دي چې دحاجي محمدطالب اوعمه وظیفه بنده کړئ په دې کې دشریعت حکم څه دی ؟ (۳۲/۱۴۰۵-۱۳۳۳هج)

ځواب: که وقف کوونکې بیان شوې مصرفونه مقررکړې وونوبېله کومې وجې دهغه په خلاف کول صحیح نه دي لکه چې ددرمختارله عبارت [من سعی فی نقض ماتم من جهته فسعیه مردودعلیه (۱) ځخه څرګنددي اودوقف کوونکې شرط دشارع دنص په خیردی دهغه خلاف کول صحیح نه دي اماکه وقف کوونکې داشرط لګولی دی چې ترمرګه به متولي زه پخپله یم اوماته اختیاردی چې څرنګه وغواړم لګوم به یې نوبیاده ته دتغیر اوبدلون اختیارشته.

(۱) الدرالمختارمع الرد(۳/ ۴۵۳) کتاب الوقف . مطلب: من سعی فی نقض ماتم الخ ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دوقف شوې مخکې ونې هم دوقف په حکم دي

سوال : (۵۸) زیداوبکرپه خپل خرڅ مسجدجوړکړ، دمسجدغولی بې پوخ ببله څلورد ېوالی دی دمسجدوهرڅلورطرفته غولی اودشرقی دېوال څخه څه لیری څلوردېوالي په خامه مخکه کې شته دغولې اوڅلوردېوالی مخکې ترمینځ په شاړه مخکه کې زیداوبکر دآمونونورې ونې لګولې دي اوترمرګه بې پرونوقبضه اوتصرف وودزیدتروفات وروسته دده زوئ خالدله لسوکالوراهیسي اودبکرله وفات رووسته دده خورېيې اوڅان ناستي اوموهوب له (چې ورته بخښه شوې وي) عمرله څلوروکالوراهیسي دمخکې په ډول قبضه اوتصرف کوونکې دی په دې کال دکلې ټولومسلمانانوپردغوونوله قبضې اوتصرف کولوڅخه خالداوعمرمنع کړل اودعوی لري چې دغه ونې دمسجدلپاره وقف دي اوس وایې چې دمسجد په احاطه کې چې کومې ونې دي پرهغوئ دخالداوعمرقبضه رواده ،که نه ؟ (۱۷۰۱/ ۳۳- ۱۳۳۲هج)

خواب : کومه مخکه چې دمسجد په احاطه کې ده ښکاره ده چې وقف ده اوپه وقف شوې مخکه کې چې کومې ونې دي هغه هم په حکم دوقف دي تصرف کول په دوې کې دهیڅا لپاره صحیح نه دی ددغوونوآمدني باید په مسجدکې صرفه شي [غرس فی المسجد اشجارا تثمران غرس للسبیل فلکل مسلم الا کل والا فتباع لمصالح المسجدقوله والا ای وان لم یغرسهاللسبیل بأن غرسهاللمسجداولم یعلم غرضه بحرعن الحاوی(۱) (شامی)

په وقف شوې جائدادکې دمالک په حیث تصرف کول

سوال : (۵۹) هدیره ، مسجدونه ، اوتکیه چیرې چې قبرونه جوړشوې دي اواوس هم جوړیږي آیادادرې سره وقف دي ؟(۵۷۱/۱۳۳۴هج)

خواب : داشیان وقف دي اوپه وقف کې دمالک په حیث هیڅ ډول تصرف کول صحیح نه دي الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الر۲/۴/۳، کتاب الوقف) دفقهي مشهوره مسئله ده.

سوال : (۶۰) یوبزرګ داوصیت وکړچې له ټولې مخکې څخه یوه څلورمه به دمسجددخرڅ اوروضې دالله تعالی لپاره کومه چې دځای ناستی س ، ن ترڅارنې لاندي وي یعنی دس ، ن ملکیت به بلل کیږي اوپاته درې برخې ددریوسره زامنودي آیاپورته یاده شوې برخه دمخکې به دس ،ن څانې

(۱) الدرالمختاروالشامی (۴۵۵/۳) کتاب الوقف: استأجردارافیهااشجارط رشیدیه.

ملکیت وي اوله ده وروسته به دده پراولادووېشل کیږي ،که نه ؟(۱۴۳۲/۱۳۴۲هج)

خواب : وصیت کوونکې چې یوه څلورمه دمخکې دمسجداونوروخرڅولپاره معلومه کړه نودغه مقداردمسجداورصې دخرڅ لپاره وقف شوه نوس ، ن به ددې متولي وي وقف شوې مخکه یعنی یوه څلورمه به دده ملک نه وي اوله ده وروسته به دده پروارثانونه وېشل کیږي بلکه له ده وروسته چې کوم متولي اوخای ناستی وي دابه دهغه په قبضه کې په همدې حیثیت وي چې دی به دغه آمدنې پرمسجداوروضه لګوي په دې کې به ملکیت دهیچانه وي اودمالک په حیث به دهیچاهم تصرف نه صحیح کیږي ،څکه چې وقف دچاملک نه وي [الوقف لایملک ولایملک] (الدرمع الرد ۴۲۱/۲ کتاب الوقف)

سوال : (۲۱) دري ورونه اوخوندي وودې سره ورونودمسجدیووقف مخکه ترخپل ژونده پرمسجدصرفوله ددغوورونوتروفات کېدووروسته ددوئ وارثانو خپل ملک وبالی اووې وېشی دخرڅلاواوګروپه وسیله یې وخوړی اوقبضه لروونکی دی اول خودوئ مالکان نه ووا وبیاچې کله داسې ومنله شوه نودغه دواړې خوندي یاددوئ وارثان په دې کې دبرخې ورلوحقداران دي ،که نه ؟(۵۳۷/۳۵-۱۳۳۲هج)

خواب : دمسجدپروقف شویومخکودمالک په حیث دهیچاتصرف صحیح نه دی اوپه دې کې دهیچابرخه نشته داهماغسې پرحال باید پرېښوول شي فقط.

دوقف شویومخکوتقسیم صحیح نه دی

سوال : (۲۲) دمخکووېش روادی ؟ یاکومه آمدني چې ددوئ راځي دارتیاووخرڅې ترې وباسودنورې وېشل روادي ،که نه ؟(۱۷۸۲/۱۳۴۵هج)

خواب : په اوقافوکې دآمدنی تقسیم دوقف کوونکې له شرط سره سم وي دمخکووېش نشي کېدای.

دوقف کوونکې زوئ وقف شوی مکان بیرته نشي اخستلای

سوال : (۲۳) زیدداخیرت دګټې په خیال دیوه مکان کرایه پرته له کومې دوقف پانې له لیکلودیوخیرپه کارکې ورکول اختیارکړل اودخیردکارڅومتولیانودغه کرایه ځیني وصوله کړه خودزیدتروفات وروسته دده زوئ بکردخیردکارله متولي څخه دغه مکان بیرته پخپله قبضه اوتصرف کې واخست متولي ورسره هیڅ زورنه دی کړی خوبکردمیاشتې دوې روپی.

Maktaba Tul Ishaat. com

چنده ورکول مقررکړل اوادایې نکړي په دې صورت کې یادشوی مکان وقف شو ، که نه ؟که وقف شونو دبکرد قبضې په هکله څه حکم دی ؟ (۱۵۷۲/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : په دې صورت کې یادشوی مکان وقف دی اودهیچاپه ملک کې نشي داخلېدای لان الوقف لایملک ولایملک (درمختارمع شامی ۳/ ۴۰۲) اودزیددوارثانودمالک والی په حیث وربانديي قبضه صحیح نه ده په شامی کې راغلې دي: فرع یثبت الوقف بالضرورة وصورته ان یوصی بغلة هذه الدارللمساکین الخ فان الدارتصیروقفابالضرورة الخ(۱)

له وقف کولوورسته رجوع کول صحیح نه دي

سوال : (۲۴) دشیخ نبی کریم لوربې بی عظیمي پخپل ژوندکې خپل مهر(ولور) وخپل خاوندشیخ محمدمصطفی ته وبخښی دنومورې مېرمني تروفات وروسته شیخ نبی کریم دخپلې لوردولورعارضه پرمحمدمصطفی وکړه خوکله چې مصطفی له وفات شوې مېرمني څخه دولوربخښنې په اړه کوم سندنه وواخستی ،څکه دخپل جائداددخوندي کولوپه غرض بې خپل ټول جائدادآن تردې داستوکنې کوربې هم مصلحتًا ومسجدته وقف کړل اوپخپله متولي جوړشوکله چې ددواړه ډلوترمینځ صلح وشوه نوبیامصطفی ددغه وقف دماتولولپاره دماتونې دپاڼې یوسندولیکی نودغه بېرته رجوع کول شرعا روادي ،که نه ؟(۴۰۲/ ۳۵-۱۳۳۶هج)

ځواب : له وقف څخه رجوع کول صحیح نه دي ټول جائددکوم چې نومورې وقف کړهغه وقف شو ، اوس به همېشه وقف وي فی الدرالمختارفاذاتم ولزم لایملک ولایملک ولایعارولایرهن الخ وفی الشامی قوله لایملک ای لایکون مملوکا لصاحبه ولایملک ای لایقبل التملیک لغیره بالبیع ونحوه لا ستحالة تملیک الخارج عن ملکه الخ (۲) (شامی) وفیه ایضا قوله وجعله ابویوسف رحمه الله کالاعتا ق فلذلک لم یشترط القبض والافرازالخ ای فیلزم عنده بمجردالقول کالا عتاق الخ(۳) (شامی: ۳/ ۳۶۵) وفی الفتح: ان قول ابی یوسف رحمه الله اوجه عند

(۱) ردالمحتار (۳/ ۳۹۳)کتاب الوقف ، مطلب قدیثبت الوقف بالضرورة ط رشیدیه.

(۲) الدرمع الرد(۳/ ۴۰۲) کتاب الوقف ، مطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة ط رشیدیه.

(۳) الدروالرد(۳/ ۴۰۰) کتاب الوقف ، مطلب فی الکلام علی اشتراط التأبید ط رشیدیه.

المحققین (شامی) (۱) وفی الدرالمختار: والاخذبقول الثانی ای ابی یوسف رحمه الله احوط واسهل وفی الدرروصدرالشریعة وبه یفتی واقره المصنف (۱).

سوال: (۲۵) یوسړی خپل جائداد پراولادووقف کړاواسنادیې ولیکل په حکومت کې یې رسمي کړل اوپخپله ترمرګه متولي جوړشوپنځه میاشتې وروسته له دې وقف څخه رجوع کول غواړي آیاله وقف کولووروسته رجوع کول صحیح دي؟ (۱۳۳۵/۴۸۷هج)

خواب: له وقف کولووروسته رجوع کول صحیح نه دي اوداسي کول روانه دي په درمختارکې راغلې دي: لایجوزالرجوع عن الوقف الخ (۲).

سوال: (۲۶) دمالک بیان چې پکې جنازه ګاه (دجنازې ځای (مړستون) په بله مقدمه کې بولي څه اثرلري؟ دجنازه ګاه ددغې مځکې وقف کېدل متصوردي، که نه؟ مالک وایې چې ماوقف نه دی کړی، ځکه چې وقف نه ده حال داچې دلسوکالومودې راهیسي په کاغذونوکې دلیکنې باعث مسجداوجنازه ګاه لیکلې راروان دي اودخلګوپه استعمال کې دجنازې دلمانځه لپاره وواواذان اونورهم پکې کېدل اواوس صرف پرهندوانودخرڅو لولپاره ونړول شو؟ (۱۳۳۷/۱۹۳۷هج)

خواب: دمالک دغه مځکه په بله مقدمه کې جنازه ګاه منل ددې وقف کېدل ثابتوي اورووسته تردې چې جنازه ګاه کېدل ددې مځکې منل شوی اوعملی شوی دی اومالک بل ځای دامنلی دی نواوس داویل چې دغه جنازه ګاه وقف نه ده اومادانه ده وقف کړې له وقف څخه رجوع کول دي کوم چې شرعًا صحیح نه دي فقط.

سوال: (۲۷) زینب دجائدادخپله برخه چې دواده په حق کې وررسېدلې وه دمسجدپه نامه وقف کړه خوڅوورځې وروسته یې په دوکه کېدودخپل وراره په نوم هبه کړه اوس داوله وقف څخه انکارکوي نوداوقف جائزدی، که نه؟ (۱۳۴۳/۱۴۲۸هج)

خواب: له وقف څخه رجوع کول روانه دي اووروسته دوقف شوې جائدادتروقف کېدو دوقف کوونکې یاکوم بل چاپه ملک کې نشي راتلای لکه چې دفقهې په کتابونوکې دي الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد ۴۲۱/۲، کتاب الوقف)

(۱) الدرروالشامی (۴۰۱/۳) کتاب الوقف مطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

(۲) الدر المختار مع الرد (۳ ۴۷۳) کتاب الوقف . مطلب لایجوز الرجوع عن الشروط ط رشیدیه

دوقف انکاراعتبارنلري

سوال : (۲۸) که څوکسان دکوم مصلحت له مخې خپل جائدادوقف کړي اوجائدادمشاع (ګډ) وي ځینې شریکان دناخوښۍ په وجه دستخطونه ونکړي اودوقف حکمونه جاري شوې نه وي نوصرف په داسې اقرارلیکلوجائدادوقف کیدای شي ؟ سره له دې چې اقرار کوونکې له لیکنې وروسته انکایان دي اووایي چې موږصرف دشزددفع کولولپاره وقف لیکلی ووشرعًا به څه حکم وی ؟ (۳۷۹ ۱۳۴۱هج)

ځواب : په دې صورت کې دمفتی به قول سره سم وقف صحیح کیږي اووقف کیدل ددې منل کیږي انکاردد غوانکارکوونکونه معتبریږي فقط.

وقف شوی مکان ووقف کوونکې ته بیرته ورکول صحیح نه دي

سوال : (۲۹) نتهودیوې ټوټې دوصیت پاڼه ولیکله چې یوکي مکان یې وقف کړی دی چې ترڅونتهوژوندی وي دمکان مالک اووربانددقبضه کوونکې به وي خودګرواوخرڅلاو اختیاربه ماته نهٔ وي زماوروسته دې جرګه دغه مکان خرڅ کړي دهدیرې لپاره دې مخکه رانیسي یادې بل دمسجددکوم خیرپه کارکې صرف کړي دوصیت ترپاڼې لیکلووروسته به ماته یازماوارثانوته له مکان سره هیڅ تعلق اوارې نه وي اوس نتهوله ناروغۍ څخه جوړشواوغواړي چې مکان بېرته زماشي که دغه مکان بېرته ده ته ورکول شي نوڅنګه دی (۸۰۴/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : دغه مکان دیادشوې وصیت سره سم وقف شووقف کوونکې ته یې بېرته ورکول صحیح نه دي.

وقف شوې کتابونه بېرته اخستل صحیح نه دي

سوال : (۷۰) زید څوکتابونه وکومې مدرسې ته وقف کړواوپرکتابونویې دمدرسې مهرا (بابه) ولګوله څوورځې وروسته دوقف کوونکې دمدرسې والوسره دخه جګړې رامینځته کیدوپه وجه وقف کوونکې دغه کتابونه له کتابخاني راوایستوپخپله قبضه کې یې واخستل بیایې څوورځې وروسته دخپل دوست سره امانت کیښودل آیاپه مسئوله صورت کې له مدرسې څخه دکتابونوبېرته اخستل صحیح دي .که نه ؟ (۲۲۵ ۱۳۴۳هج)

ځواب : له وقف کولووروسته دغه کتابونه ددغه شخص له ملکه ووتل اواوس ده ته دبېرته اخستوحق پاته نه شوکمافی عامة کتب الفقه: فاذاتم ولزم لایملک ولایملک

ولایعارولایرهن فیبطل شرط واقف الکتب الرهن الخ (۱) وفی الشامی واذاوقف کتباو عین موضعهافان وقفهاعلی اهل ذلک الموضع لم یجزنقلهامنه لالهم ولا لغیرهم وظاهره انه لایحل لغیرهم الا نتفاع بها وان وقفها علی طلبة العلم فلکل طالب الانتفاع بها فی محلها واما نقلهامنه ففیه تردد الخ (۲) (شامی) فقط.

دوقف ماتولوچاته اختیارنشته

سوال: (۷۱) دوروستنې متولي دوقف شوې جائدادبیرته ورکول روادي ،که نه ؟ اودمتولي لپاره دوقف ماتولوحق شته ،که نه ؟ (۱۷۴۰/۱۳۳۵هج)

خواب: دوقف ماتولواختیاروهیچاته نشته ، نه ووقف کوونکې ته اونه کوم وروستنې متولي ته.

دغصې په حال کې دوقف کړې جائدادحکم

سوال: (۷۲) زیدیواخې ټول جائدادد ناروغۍ ، غفلت اوغوصې په حال کې ومدرسې ته وقف کړاودخپلې لوردبرخې یې هیڅ لحاظ ونکړپه دې حال کې وقف کول ترکومه صحیح دي ، کله چې له زیدڅخه غلطي وشوه اودانجلۍ برخه ورکول غواړي ،څکه په داسي صورت کې وانجلۍ ته برخه رسېدای شي ،که نه ؟ اووقف په داسي صورت کې قائم پاتېدای شي ،که نه ؟ (۲۱۱۵/۴۲-۱۳۴۷هج)

خواب: کله چې زیدخپل جائدادوقف کړاووقف عملي شونداوقف صحیح اونافذشواو س په دې کې میراث نه شي جاري کېدای اووزیدته یادده ووارثانوته په دغه وقف شوې جائدادکې شرعًا دهیڅ تصرف کولواختیارنشته په درمختارکې راغلې دي: فاذاتم ولزم لا یملک ولایملک ولایعارولایرهن الخ په شامی کې راغلې دي (قوله لایملک ای لایکون مملوکا لصاحبه ولایملک ای لایقبل التملیک لغیره بالبیع ونحوه الخ (۳) اوکله چې دغه وقف صحیح اونافذشونودزیددلورشرعًا په دې کې هیڅ برخه نشته اماکه څه نورجائداددزید سره دوقف کړې حخه پرته شته نوپه هغه کې دزیدلورشرعًا برخه لري فقط.

---

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف . قبل مطلب فی شرط واقف الکتب ان لاتعارالابرهن ط رشیدیه

(۲) الشامی (۴۱۲/۳) کتاب الوقف و مطلب فی نقل کتب الوقف من محلهاط رشیدیه.

(۳) الدرالمختاروالشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف مطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفه الخ ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمرګ په ناروغي کې خپل جائدادوقفول

سوال: (۷۳) که چادمرګ په ناروغۍ کې داویلې وي چې زماجائداد دخیرپه کارکې ولګوئ اومتولي هم وټاکئ اوشاهدان هم موجودوي نوآیاټول وقف کیږی که دربیمه؟ (۱۰۲۰۲/۱۳۴۰هج)

خواب: دمتولي مقررول ددې کارلپاره چې دخیرپه مصرفونوکې ددغه وصیت شوې جائدادآمدني ولګوي ددې خبرې دلیل دی چې دوصیت کوونکې غرض وقف کول دي .حکه نویوه دربیمه دجائدادوقف شوه نوموړی متولي دې دغه آمدني دخیرپه مصرفونو کې ولګوي اووارثانوته په دغه دربیمه کې دتصرف کولواختیارنشته په درمختارکې راغلې دي: ورکنه الا لفاظ الخاصة الخ په شامي کې تردې لاندې یې رانقل کړې دي: ومنهامافی الفتح حیث قال: فرع یثبت الوقف بالضرورة وصورته ان یوصی بغلة هذه الدارللمساکین ابدا الخ (۱) (۳/ ۳۵۹)

دمرګ په ناروغي کې دوقف کولوحکم

سوال: (۷۴) دبې بې لاډوپه وارثانوکې یوه سکه خوراودنوروخوندواولادموجود دی بې بی لاډوناروغه شوه اودناجوړې په حالکې یې خپل نامنقول جائدادپراو لادووقف کړاودوقف پاڼه یې ولیکله اودوقف پرپاڼه یې دسکه خورنوربی بی ګوته هم ولګوله اونوربې بی هیڅ انکارونکړپه دې ناجوړې کې بی بی لاډووفات شوه څوورځې وروسته ددې خورنوربی بی په محکمه کې عارضه وکړه چې زه دخپلې خوربی بی لاډووارثه یم اودوقف پرپاڼه په ګوته لګولوزماحق ختم نشوزه دبی بی لاډوتروفات وروسته په ترکه کې حقداره شوې یم اوامیرمحمدخان کوم چې دخورلمسی (دلورزوئ) دی اونیمه آمدني پراولادووقف شوی جائدادوقف کوونکې دده لپاره لیکلی ده هغه وایې چیدبی بی لاډوو قف کوونکې په جائدادکې زمانیمه برخه ده هغه دې جلا اووېشل شي دتقسیم دغه دعوی صحیح ده ،که نه؟

---

(۱) ردالمحتار (۳/ ۳۹۳) مطلب: قدیثبت الوقف بالضرورة ط رشیدیه.

(الف) دبی بی لاډودجائدادوارثه ددې خورنوربی بی کېدای شي ،که نه ؟
(ب) نوربی بی چې دبی بی لاډودوقف پرپانه ګوته ولګوله په دې سره دادبی بی لاډوله جائداده بی برخې کېدای شي ،که نه ؟
(ج) دنوروورثانوهم کوم حق شته ،که نه ؟
(د) دبی بی لاډوتصرف پخپل جائدادکې دمرګ دناروغۍ په حالت کې روادی ،که نه ؟
(ه) امیرمحمدخان کوم چې وقف کوونکی دنیمې آمدنۍ پراولادودوقفولوپه توګه حقدارکړی دی ددغه جائدادوبشلوحق لري ،که نه ؟
(و) وقف کوونکې دوقف په پانه کې لیکلې دي چې زماله مرګه وروسته هره یوه ډله دې پخپل مینځ کې جائدادووېشي اوپرخپلو ،خپلوبرخودې قبضه وکړي نودوقف شوې جائدادپه وېشلودواړې ډلې ورباندي قبضه کولای شي ،که نه ؟ (۱۳۴۵/۸۳۵هج)

ځواب : (الف ، و) دمرګ دناروغۍ دوقف حکم دوصیت په څیردی چې که وارثان راضي نه وي نوپه یوه درېیمه کې صحیح اونافذیږي اودوې درېیمې به وارثانوته ورکول کیږي اووارث په دې صورت کې صرف دبی بی لاډوسکه خورنوربی بی ده له دې پرته ټول ذوی الارحام دي کوم چې دذوی الفروضوپه شتون کې بې برخې وي اودنوربی بی عذرصحیح دی په وصیت کې دوصیت کوونکې په ژوندکې دوارثانوراضي کېدل معتبرنه دي دمورث تروفات وروسته ووارثانوته اختیاروي چې دټول وصیت اجازه کوي یایې نه کوي قال فی الدرالمختار: اعتاقه ومحاباته وهبته ووقفه الخ کل ذلک حکمه کحکم وصیت فیعتبرمن الثلث الخ (قوله حکمه کحکم)وصیة ای من حیث الاعتبارمن الثلث الخ (۱) (ردالمحتار۵/ ۴۳۵) وایضا فی الدرالمختار: الاان تجیزورثته بعدموته ولاتعتبراجاز تهم حال حیاته اصلا بل بعدوفاته (۲) (درمختار) اوپرته له دې دوقف پرپانه دګوتې دننې لګول یانوم لیکل شرعًا دراضي کېدودلیل نه دی نوکله چې معلوم شوچې داسي وقف په یوه درېیمه کې جاري کېږي ،څکه نوپه دې کې یوه درېیمه جلا کړئ ومتولي ته یې وسپارئ اودوقف دپاتې دشرط سره سم یې ولګوئ اوخومره برخه یعنی یوه

(۱) الدرالمختارمع الر(۵/۴۸۱) کتاب الوصایا ، باب العتق فی المرض ط رشیدیه.
(۲) الدرالمختارشرح تنویرالابصارمع الشامی (۵/۴۲۰) فی اوائل کتاب الوصایا ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دربیمه کومه چې وقف شوه هغه چاته په ملک اوقبضه کې مه ورکوئ دمشهوقول الوقف لایملک ولایملک (۱) (درمختار) سره سم ،څکه نودامیرمحمددعوی دوقف شوې جائداددتقسیم په هکله نه صحیح کیږي که څه هم وقف کوونکې داسې لیکلې وي بلکې وقف شوی جائدادبه دمتولي په قبضه کې وي اوآمدني به دده دوقف کوونکې له شرط سره سمه وېشل کیږي فقط.

دمرګ په ناروغۍ کې خپل ټول جائدادوقفول

سوال : (۷۵) یوسړی دمرګ په ناجوړي کې له مرګه څلورورځې مخکې خپل ټول جائداد مسجد په نامه کړنودمتوفی دغه ټول مال پرمسجدلګول روادی ،که نه ؟ (۱۳۴۵/۲۲۲ه)

خواب : دمرګ په ناروغي کې وقف کول که وارثان ددې اجازه ونکړي نوپه یوه دربیمه کې نافذاوصحیح کیږي نویوه دربیمه له دې څخه دمسجدلپاره وقفیږي هغه دې جلا کړله شي اودهغې آمدني دې پرمسجدولګوله شي اودوې دربیمې به پروارثانودشرعي برخو سره سمې وېشل کیږي کمافی الدرالمختار، باب العتق فی المرض(۲) فقط.

دناروغۍ اوبې هوښۍ په حال کې وقف کول

سوال : (۷۶) زیددناجوړې اوبې هوښۍ پ حال کې یومکان دمسجد په نامه وقف کړدارو دی ،که نه ؟(۱۲۴۱/۲۴۳۸هج)

خواب : داوقف صحیح دی خوپه یوه دربیمه کې جاري کیږي لکه چې وصیت په یوه دربیمه کې جاري کیږي فقط.

دمرګ په ناروغۍ کې له مشترکې مځکې څخه خپله برخه وقفول

سوال : (۷۷) زیددمرګ په ناروغي کې دخپلې یوې مځکې په اړه (کومه چیدعمراوخالد سره شریکه ده) پخپل قلم داولیکل چې زماوکوم وارث ته دې له دې څخه څه نه ورکول شي

---

(۱) الدرمع الر (۴۰۲/۳) کتاب الوقف ، قبل مطلب فی شرط واقف الکتب الخ ط رشیدیه.

(۲) الدرمع الرد (۴۸۱/۵) کتاب الوصایاوفی کتاب الوقف منه الوقف فی مرض موته کهبة فیه من الثلث مع القبض فان خرج الوقف من الثلث اواجازه الوارث نفذفی الکل والا بطل فی الزائدعلی الثلث الخ (الدرمع الرد(۴۳۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب الوقف فی مرض الموت ط رشیدیه.

مانه دثواب رسولوپه غرض دې وي له دغه لیک څلور، پنځه ورځې وروسته زیدوفات شودغه لیک وقف دی که وصیت ؟ اوکه وقف دی نودمشترک وقف صحیح دی ،که نه ؟(۳۲۰۲/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : دامام ابویوسف رحمه الله په نزددوقف مشاع دوقف کوونکې دبرخې په اندازه صحیح دی امام محمدرحمه الله ورته ناروا وایې اودامام ابویوسف رحمه الله قول راجح اومفتی به دی واختلف الترجیح والاخذبقول الثانی احوط واسهل (۱) (درمختار) خودغه صورت کوم چې دسوال دی په دې سره وقف نه ثابتیږي بلکی داوصیت دی کوم چې تردرېیمې پورې جاري کیږي نوکه هغه برخه دکومې چې زیدوصیت کړی دی دزیددتر کې له یوې درېیمې څخه زیاته نه ده نوپه هغه کې داوصیت جاری کیږي اوپرمسکېنانوبه دثواب رسولولپاره داصدقه کیږي فقط.

په وقف شوې مکان کې میراث نه جاري کیږی

سوال : (۷۸) یوبې اولاده سړی خپل دوه مکانونه په دې شرط وقف کړل چې ددواړوښځې اوخاوندترمرګه یادیوه ترمرګه به دواړه مکانونه دده په قبضه کې وي ددواړوتروفات وروسته ددواړووقف شویومکانونوآمدني به دمتولیانوپه قبضه کې وي اوپرمدرسه یامسجدیادکوندې ،یتېمانوپه خرڅ کې چې په کوم کې زیات ثواب وي صرفوي به یې داوقف صحیح دی اوکنه ؟ ددواړوله وفات وروسته که وارثان دمیراث دعوی وکړي نوصحیح دی ،که نه ؟(۱۸۱۳/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : دغه وقف صحیح دی اودالوقف لا یملک ولایملک (۲) په قاعده په دې کې میراث نه جاري کیږي اودقرېبانودمیراث دعوی باطله اوناروا ده اووقف کوونکې چې کوم شرط لګولی دی هغه معتبردی دهغه سره سم به عمل کیږي : لان شرط الواقف کنص الشارع(۳) (درمختاراوشامی)

سوال : (۷۹) زیدسکه وریرونه بې برخې کړوله نیکه پاتې شوی جائدادیې دمسجد په نامه وقف کړداشرعاً روادی ،که نه ؟اووارثان یې په دعوی کولوبیرته اخستلای شي ،که نه ؟اودمسجد

---

(۱) الدرمع الرد(۴۰۱/۳) کتاب الوقف . مطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة ط رشیدیه.

(۲) تنویرالابصار مع الشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف . قبیل مطلب فی شرط واقف الکتب ان لاتعار الابرهن الخ ط رشیدیه

(۳) الشامی(۴۵۲/۳) کتاب الوقف . مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمتولي لپاره دوقف شوي جائداد بیرته ورکول روادي ،که نه ؟ (۱۳۳۸ ۱۳۴۱هج)

ځواب : دغه وقف صحیح شواودوارثانودعوی صحیح نه ده باطله ده اودوقف دمتولیانو لپاره صحیح نه دی چي دغه وقف شوی جائدادووارثانوته ورکړي کمافی کتب الفقه الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد ۴۲۱/۲ کتاب الوقف)

سوال : (۸۰) عمرخپل داستوګني کورومسجدته وقف کړاواووه متولیا ن یې مقررکړل اوتراووکلونوپورې یې یوه نیمه روپي کرایه ومتولیانوته ورکوله اوس عمریې اولاده وفات شودعمرورورزیداوبکروایې چي په دغه مکان کې زمونږهم برخه شته ددوئ برخه پکي شته ،که نه ؟ (۹۴۸/ ۴۲ـ۱۳۴۷هج)

ځواب : وقف دهیچاملک نشي کېدای اوپه وقف کې دوارثانوهیڅ برخه دملکیت په توګه نشي کېدای لکه چي په درمختاراونوروکې راغلي دي : الوقف لایملک ولایملک (۱) یعنې وقف دهیچا په ملک کې نشي راتلای اوپه وقف کې هیڅ تصرف دخرڅلاو ،بخښې اونورونشي کېدای نودزیداوبکرپه دې کې دملکیت دعوی شرعًا صحیح نه ده فقط.

سوال : (۸۱) دکوم وفات شوې وقف کړې مځکه که دده وارثان په ترکه کې ووېشي نوروادی اوکه نه ؟ (۴۹۰/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : وقف شوې مځکه دچاملک نشي کېدای اومیراث پکي نه جاري کیږي الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد۲/ ۴۲۱ کتاب الوقف)

سوال : (۸۲) دیوه کلي اوسېدوونکوڅه مځکه دمسجدلپاره په دې نیت وقف کړه چي کوم څوک ددې مسجدامام وي هغه به ددې مځکې آمدني پخپل مصرف کې لګوي اوس زید دمسجدامام فوت شودده لمسی (دزوئ زوئ) له دغې مځکې څخه دمیراث په توګه خپله برخه اخستل غواړي آیادغه مځکه به دزید پروارثانووېشل کیږي ؟ (۱۸۹۰/ ۱۳۴۰هج)

ځواب : کوم څوک چي امام وي هماغه به ددغې مځکې دآمدنی حقداروي دزیدلمسی کوم چي دمیراث دعوی کوی دده بادعوی باطله ده اودغه مځکه دزید پروارثانونه وېشل کیږي اودوقف

(۱) فاذاتم ولزم لایملک ولایملک (الدرالمختارمع الرد (۴۰۲/۳) کتاب الوقف قبل مطلب فی شرط واقف الکتب ان لاتعارالابرهن ط رشیدیه).

هیڅوک هم مالک نشي کېدای صرف دده آمدني به وامام ته ورکول کیږي فقط.

دنوې مسلمان په وقف کړې جائداد کې دده کافر اولاددمیراث دعوی نشي کولای

سوال: (۸۳) احمد حسن نوی مسلمان خپل ټول جائداد الله تعالی لپاره په خوله له مرګه مخکې وقف کړی وودده یوزوئ اننت رام کوم چې دهندومذهب دزمانې پیداشوی دی هغه دعوی لري چې زه دوفات شوې زوئ اوجائزوارث یم سره دخولې دوقف آبادی وارث کېدای شي اوکه بالفرض وقف ثابت نشي اونه دده زوئ وارث ثابت شي نوپه داسي حال کې شریعت څه حکم ورکوي؟ (۱۳۴۲/۲۳۲۹هج).

خواب: په خوله په وقف کولوسره هم وقف صحیح کیږي اوپه وقف کې میراث نشي جاري کېدای اوکه بالفرض ددغه احمدحسین نوې مسلمان خپل ځاني بیان شوی جائدادوقف شوی نه وای بیاهم واننت رام ته نه رسېدی کله چې اننت رام پرخپل مذهب دکفرقائم دی .خکه چې دامسئله دشریعت اسلام ده کافردمسلمان وارث نشي کېدای(۱) فقط.

دکافرحکومت دمسلمانانوپراوقافوقبضه کول

سوال: (۸۴) (الف) که کافرحکومت دمسلمانانوځاني جائدادونه ونیسي قبضه ورباندي وکړي نودوئ مالکان ګرځي ،که نه؟

(ب) کله چې مسلمانانوددغه کافرحکومت له لاسه په خلاصولوباندي قدرت ونه موندنو په دې حال کې که حکومت دیوچاجائداددبل پرلاس یاوقف پرچاخرڅ کړنوودغه رانیوو نکې ته سره له دې خبرتیاچې دادفلانی سړی غصب شوی جائداددی یاوقف دی رانیول اوورڅخه استفاده کول روادي ،که نه؟

---

(۱) ثم ان ابایوسف رحمه الله یقول: یصیروقفابمجردالقول لانه بمنزلة الاعتاق عنده وعلیه الفتوی (الشامی ۳/ ۳۹۲) کتاب الوقف ط رشیدیه) فیلزم فلایجوزله ابطاله ولایورث عنه (الشامی ۳/۳۹۲) فی بدابه کتاب الوقف ط رشیدیه) عن اسامة بن زیدرضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لایرث المسلم الکافروالکافرالمسلم (متفق علیه، مشکوة ص: ۲۲۳، باب الفرائض)

Maktaba Tul Ishaat. com

(ج) که دکوم مسجد وقف شوی جائداد حکومت پرکوم هندوخرڅ کړی وونوهغه کوم مسلمان په دې غرض چې دهندوسره پاته کېدو تردې خوښه دادي چې دمسلمان سره وي دخپل ځاني ملکیت لپاره رانیولای شي .که نه ؟ (۲۷۷۵/۱۳۳۴ه ج)

ځواب : (الف) په اوقافوکې داحکم نه جاري کیږي ،ځکه چې الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد ۳/ ۴۰۲کتاب الوقف) مطلق دی اودارازدوان غلبواعلی اموالنا الخ(۱) په قید سره اوقاف خارج شول.

(ب) په ځاني جائدادکې داقاعده جاري کیږي چې دکفارو له قبضې اواستیلاد وروسته درانیوونکې په هکله تصرف روادی خوپه اوقافوکې داقاعده نه جاري کیږي اوقاف داوقافوپه مصرفونوکې صرفول لازم دي.

(ج) وقف دده ځاني ملک نه ګرځي درانیولواودهندوله قبضې درااېستلووروسته ددې وقف بلل لازم دي هودومره کېدای شی چې درانیوونکې څومره خرڅ وشوهغه دوقف له آمدني ځخه اخستلای شي.

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۲۴۲) کتاب الجهاد . باب استیلاد الکفارط رشیدیه.

دوقف مصرفونوبیان

دوقف آمدني به په هماغه مصرفونوکې صرفیږي کوم چې دوقف په پاڼه کې لیکل شوې وي

سوال : (۸۵) زیدیوخپل جائدادفی سبیل الله وقف کړترمرګه دخپل تولیت شرط یې ولګاووادوقف کولوپرمهال یې دانیت وکړچې ترمرګه به ددې آمدني زه دځان لپاره کاروم اوله وفات وروسته به آمدني فی سبیل الله خرڅیږي دکاغذي اسنادودرسمي کولودبشپړولواونوروپه وجه الفاظ دوقف په پاڼه کې دلیکنې له ورځې نافذکړل داسي نیت شرعا صحیح دی ،که نه ؟که صحیح دی نودوقف دپاڼې دالفاظوپه خلا ف اودنیت سره سم ترمرګه آمدني پخپله کارول دزیدلپاره روادی ،که نه ؟اووقف صحیح کیږي ،که نه ؟(۱۳۳۷/۱۷۳هج)

ځواب : کوم الفاظ چې وقف کوونکې په خوله ویلې وي یاپه لیک کې وي دهغوئ سره سم به عمل کیږي دوقف کوونکې دنیت لحاظ نه کیږي اووقف صحیح کیږي اوکله چې کوم لفظ دوقف دآمدنې پخپله کارولوپه اړه په خوله نه دی ویلی اونه یې په لیک کې راوړی دی نوله وقفولووروسته دغه آمدني په هماغه مصرفونوکې صرفیږي کوم چې دوقف به پاڼه کې لیکل شوې دي پرخپل ځان یې نشي لګولای.

دوقف شوې مځکې خاص آمدني دمصرفونوپرځای په نوروکارونوکې صرفول

سوال : (۸۶) دوقف شوې مځکې آمدني په نوروزیاتوکارونوکې هم صرفېدای شی ،که نه ؟(۱۳۴۲/۸۹هج)

ځواب : کومه مځکه چې دکوم خیردکارونولپاره وقف ده دهغې آمدني بایدپه هماغه مصرفونوکې ولګول شي په نوروزیاتوکارونوکوم چې دوقف کوونکې دغرض په خلا ف وي په هغوئ کې یې صرفول نه دي پکاراماکه آمدني زیاته ده اوپه معلومومصرفونوکې له صرفولووروسته زیاتیږي نوداسلام په نورواړتیاووکې یې هم لګول ددې روادي فقط.

Maktaba Tul Ishaat. com

که دوقف مصرف ختم شي نوجمع شوې آمدني چيري ولګول شي

سوال : (۸۷) یوې ښځې خپل جائداددیوه مکتب لپاره وقف کړخوهغه مکتب بندشونود هغه چې کومه آمدني جمع شوې ده هغه دوقف کوونکې په ملک کې راتلای شي ؟ترڅویې بل دخیرپه کارکې ولګوي ؟(۱۳۴۱/۱۱۰۵هج)

ځواب : په دې صورت هغه جمع شوې آمدني اوهغه وقف شوی جائداددوقف کوونکې په ملک کې نشي راتلای اماچې کله ودغه مکتب ته اړتیانشته نوددغې آمدني دبل خیرپه کارکې لګول صحیح دي فاذاتم ولزم لایملک ولایملک الخ (درمختار) ای لایکون مملوکا لصاحبه الخ(۱) (شامی) خودوقف کوونکې غرض په پام کې نیول ضروري شی دی ،ځکه نودغه آمدني ددین په کارونوکې صرفول پکاردي مراعاة غرض الواقفین واجبة(۲) (شامی)

که وقف کوونکي اوجهت دوقف یووي نودیووه وقف آمدني پربل صرفېدای شي

سوال : (۸۸) وقف کوونکې خپل دکښت کرنې جائداد اوددوومکانونوآمدني وقف کړه دکښت دجائدادآمدني راځي اومتولي یې دوقف دپاڼې سره سم صرفوي خودیوه مکان یومخ آمدني نشته په هغه کې دقرآن کریم دزدکړې لپاره مدرسه ده اودوهم مکان په څلورآني کرایه دی خودهغه آمدني دترمیم لپاره نه پوره کیږي کله چې ترمیم ونه شي نودمکانونونړیدل ضروري دي نودکښت دجائدادپه آمدني ددوئ ترمیم کول روادي ؟(۱۳۴۷-۴۶/۳۵۲هج)

ځواب : کله چې وقف یودی اوپه ښکاره جهت دوقف هم یودی نوداجائزدی چې دیوه وقف آمدني پربل ولګوله شي دوقف متولیان پخپل مینځ کې په مشوره سره دکښت دجائدادآمدني پرمکانونولګولای شي بلکه دهغوئ دبقالپاره داضروري دي

(۱) الشامی(۴۰۲/۳) کتاب الوقف ، بعد مطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة ط رشیدیه.
(۲) الشامی (۴۲۴/۳) کتاب الوقف ، مطلب مراعاة غرض الواقفین واجبة ط رشیدیه.

په دې صورت کې به دوقف کوونکې غرض هم دمدرسې دقائمېدواونوروپه شکل پوره کیږي اووقف به هم باقي وي په هرحال دوقف باطلولوځخه پرهیزلازم دی په درمختارکې راغلې دي: اتحدالواقف والجهة وقل مرسوم بعض الموقوف علیه الخ جازللحاکم ان یصرف من فاضل الوقف الآخرعلیه لانهما حینئذکشئ واحدالخ(۱).

دیوه وقف امدني دبل وقف په تعمیرکې لګول

سوال : (۸۹) دزیدسره پخپله وقف کړې اوقاف دي اویومکان دبکروقف دی خودزید وقف پریوه معلومه مدرسه دی اودبکرمکان پرهمدې مدرسه وقف نه دی هغه دمکان دآمدنې دلګولوپه هکله وزیدته اختیارورکړی ووچي چیرې دخیرپه کارکې زیدوغواړي صرف دي کړي بیاچې کله زیدخپله دوصیت پانه تیاره کړه په هغه کې ولیکل چې دبکردوقف کړې مکان تعمیرکیږي نوزمادمدرسې له آمدنې ځخه روپۍ ددغه مکان پرودانې ولګوئ اوس دمدرسې په آمدني دیادشوې مکان ودانول صحیح دي ،که نه ؟(۱۲۴۱/۳۶۳هج)

خواب : دمدرسې داوقافوپه آمدني سره دیادشوې مکان تعمیرکول دفقهې دکتابونودروا یاتوسره سم جائزنه دی کمافی الدرالمختار: وان اختلف احدهما بأن بنی رجلان مسجدین اورجل مسجداومدرسة ووقف علیهما اوقافالایجوزله ذلک (۲) فقط.

دیوه وقف په آمدني بل وقف ترمېمول

سوال : (۹۰) داسماعیل په نامه دمدرسې جاري کولواود خپلوورورو پرخوراک ، غم اونبادي صرفولولپاره یووقف وکړاوددې وقف متولي هم پخپله جوړشواو نوردوه درې کسان یې هم متولیان جوړکړواودوقف په پانه کې یې یادشوې شرطونه هم ولیکل اویوه مدرسه یې جوړه کړه داوقف یې دهغې مدرسې په نوم کړدیاد شویوشرطونوسره یې پخپل ژوندکې دغه وقف جاري هم کړاوس داسماعیل ورور هم یووقف وکړاوذتولواختیاراتو سره یې اسماعیل ددې وقف متولي جوړکړاوس اسماعیل ناروغ شو

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۴۰۸/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی نقل انقاض المسجدونحوه ط رشیدیه.
(۲) مخکنی حواله.

Maktaba Tul Ishaat. com

نوده دخپل وروروقف دخپل وقف کوونکي وروربیوزوئ ته وسپاری دسپارلوپر وخت هلک وخپل اکا اسماعیل ته وویل چي تاسویوه پانه داقراردا سي ولیکئ چي که چیري زه دخپل پلاردوقف وجوړولویاترمیمولوته اړتشم نوستاسودوقف له آمدني څخه به خرڅ کوم دغه ووخت داسماعیل سره څلور، پنځه کسان اوبومولوي صاحب ناست وواسماعیل داقرارپانه ولیکله دستخط یې ورباندي وکړدغه داقرارپانه صحیح ده ،که نه ؟ اوداسماعیل په وقف دده دوروردوقف ترمیمول اوودانول صحیح دي ،که نه ؟(۵۲۵/۱۳۴۱هج)

ځواب : په درمختارکتاب الوقف کې راغلي دي وان اختلف احدهما بأن بنى رجلان مسجدين اورجل مسجداومدرسة ووقف عليهما اوقافلايجوزله ذلک (وفيه قبل سطر) ان يصرف من فاضل الوقف على الوقف الآخرالخ (۱) نومعلوم شوچي په دي صورت کې داسماعیل دوقف له آمدني څخه په بل وقف کې لګول صحیح نه دي اوداسماعیل اقرارپه دي هکله نافذاوصحیح کیږي نه فقط.

دیوه وقف آمدني دنورواوقافوپه حساب ،کتاب کې لګول صحیح نه دي

سوال : (۹۱) دعاموا وقافودحسابونودځارنې لپاره که څه مناسبه روپۍ دوقف له امدني څخه ولګول شي نوشرعا روادی ،که نه ؟

ځواب: دکوم وقف په حساب کتاب کې چي څه روپۍ ولګیږي هغه روپۍ دهماغه وقف له آمدني څخه اخستل روادي اوداصحیح نه دی چي دیوه وقف آمدني دنورواوقافوپه حساب اوکتاب کې ولګول شي فقط.

وقف کوونکي هم دوقف په مصرفونوکې بدلون نشي کولای

سوال : (۹۲) هندي له خپل جائدادڅخه یوه برخه دارنګه وقف کړه چي ترمرګه به پخپله ددي آمدني ګاروم اوله وفات وروسته به یې په مسجدکې لګوم کله چي دغه مسجدورته اړنه دی نوکه داخپل وقف دکوم بل خیرپه کارکې لګول غواړې نوروادی ،که نه ؟(۳۳/۱۳۳۳-۱۳۳۴هج)

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۰۸) کتاب الوقف ، مطلب فی بطلان الخان المسجدو نحوه ط: شدیه

خواب : هندې چې کوم مصرف دوقفولوپرمهال مقررکړی دی هغه نشي بدلولای فقط.

دمتولي له قبضې مخکې که وقف کوونکي جهت دوقف بدلول

سوال : (۹۳) دزیدیوه شاړه مځکه وه چې دهغې په اړه دده داخیال ووچې په دې کې مدرسه اوکتاب خانه جوړ کړي خوناڅاپه دی وفات شووروسته دده وارث داومسجدته وقف کړه اودوقف پانه یې په حکومت کې رسمي کړه تراوسه لادوقف پانه متولي ته نه وه سپارل شوې چې دوقف کوونکې په خیال کې بدلون راغی اوس دی دغه مځکه ومدرسې ته وقف کول غواړې؟

(الف) په موجوده حال کې دوقف کوونکې لپاره دوقف دجهت دبدلولوحق حاصل دی،که نه؟

(ب) دمتولی له قبضې کولومخکې دوقف نافذبدل پوره کیږي ،که نه؟ (۳۱۵/۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : (الف) دوقف کوونکې لپاره تروقف کولووروسته دوقف دجهت دبدلولوحق حاصل نه دی.

(ب) دوقف پوره کېدل اودوقف صحیح کېدل دصحیح مذهب سره سم دمتولي له سپارلواوقبضې پرته کیږي / په درمختارکې راغلي دي : لایجوزالرجوع عن الوقف اذاکان مسجلا الخ قوله اذاکان مسجلا مبنی علی قول الامام ان الوقف لایلزم قبل الحکم والتسجیل ومرأن المفتی به قولهماالخ (۱) (شامی کتب الوقف) وایضا فی الدرالمختاروجعله ابویوسف رحمه الله کالا عتاق قوله وجعله ابویوسف رحمه الله الخ فلذلک لم یشترط القبض والافراز... ای فیلزم عنده بمجردالقول الخ (شامی) والاخذ بقول الثانی (ای ابی یوسف رحمه الله) احوط واسهل بحروفی الدرروصدرالشریعة وبه یفتی الخ وفی الشامی عن الفتح: ان قول ابی یوسف رحمه الله اوجه عندالمحققین (۲)

دوقف کولووروسته دوقف کوونکې په شرطونوکې کمښت یازیاتوب اوبدلون کول

سوال : (۹۴) یوسړی جائدادوقف کړدهغه شرطونه اومصرفونه یې بیان کړل اوپه حکومت کې یې رسمي کړل اوس دی غواړي چې په دغوشرطونواومصرفونوکې زماتر مرګه ماته قانونونًا او

(۱) الدرالمختاروالشامی (۳/ ۴۷۳) کتاب الوقف، مطلب القیم والمتولی والناظربمعنی واحدط رشیدیه.
(۲) الشامی (۴۰۱/۳) کتاب الوقف مطلب: شروط الوقف علی قولهما ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

شرعا دجائزکمښت ، زیاتوب اودبدلولواختیاروي آیا داصحیح دی ؟ اودکمولو اوزیاتو لو اختیارده ته شته ، که نه ؟ (۱۲۹/ ۱۳۳۵هج)

خواب : قال فی ردالمحتار: عن الاسعاف ولایجوزله ان یفعل الاماشرط وقت العقد الخ (ثم قال بعد السطر) وفی فتاوی الشیخ قاسم وماکان من شرط معتبرفی الوقف فلیس للواقف تغییره ولاتخصیصه بعد تقرره ولاسیما بعد الحکم فقد ثبت ان الرجوع عن الشروط لایصح الا التولیة مالم یشترط ذلک لنفه فله تغییرالمشروط مرة واحدة الخ (۱) له بیان شوي عبارت څخه څرګندي چي وقف کوونکی چي دوقفولوپر وخت کوم شرطونه مقررکړي دي په هغوئ کي بدلون کول کمی اوزیاتوب پکي کول وروسته صحیح نه دي اووقف کوونکي ته ددي خبري اجازه نشته چي دوقف پرمهال له مقرروشویوشرطونوڅخه پرته وروسته دنوروشرطونوزیاتوب وکړي چي ده ته وروسته له وقفولواوله شروطومقررولودبدلون هیڅ اختیارنه پاتیږي اولکه څرنګه چي اصل وقف شوی شی دده له ملکه ووت په شرطونوکي هم دده اختیارباقی نه شوپاته لخروج الوقف عن ملکه بالتسجیل(۱) (شامی)

وقف کوونکي که اړشي نودوقف له آمدني څخه مرسته صحیح ده

سوال : (۹۵) یوسړی یومکان په دي شرط وقف کړچي ددغه وقف متولیان به دوقف شوي مکان په آمدني کي دوقف کوونکي اولادناوسه وي دهغوئ مرسته کوي له هغه وروسته به دطالبانومرسته کیږي له هغوئ وروسته دي په رمضان (روژه) شریفه کي ومسکینانوته روژه مات ورکول کیږي که ددغه مکان وقف کوونکي پخپله محتاج اواړشي نوددده مرسته کیدای شي ،که نه ؟ (۱۹۹۴/ ۳۲ - ۱۳۳۳هج)

خواب : وقف کوونکي که پخپله اړشي نودهغه مرسته دوقف په آمدني سره صحیح ده اوکوم قرض چي پروقف کوونکي له وقف کولووروسته راغی دوقف کوونکي له مرګه وروسته هغه قرض دوقف شوي مکان په آمدني سره نشي اداکیدای په درمختارکي یې له خانیه څخه رانقل کړي دي | اوصی لرجل بمال وللفقراء بمال والموصی له محتاج هل یعطی من نصیب الفقراء اختلفوا

(۱) الشامی (۳/ ۴۷۳) کتاب الوقف ، مطلب لایجوزالرجوع عن الشروط ط رشیدیه.

والاصح نعم وفی الشامی وافتی الحانوتی فی الوقف بمثله الخ (۱) لنډه داچې په دې وجه چې وقف کوونکی محتاج شوی دی په مسکینانو اوناوسوکې دداخلېدو له کبله ډیاد شوې وقف دآمدنی مصرف کېدای شي اوددہ له وفات وروسته ددہ دقرض په اداکولوکې تملیک (مالک جوړول) دفقیرنه راځي ،ځکه نوصحیح نه دی.

دوقف کوونکې دوقف آمدني په ځاني لګښتونوکې لګول

سوال : (۹۶) زیدخپل غیرمنقوله جائداددمسجددلګښتونولپاره وقف کړنوآیازدید ددغه وقف شوې جائدادآمدني پخپل کورني اوځاني اړتیاووکې لګولای شي ،که نه ؟(۱۳۴۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : نشي یې کولای کمافی الدرالمختار: فاذاتم ولزم لایملک ولایملک الخ قوله: لایملک ای لایکون مملوکالصاحبه ولایملک ای لایقبل التملیک لغیره الخ (۲).

دوقف کوونکې په درېیمه اونوروکې دمتولي دوقف له مال څخه خرڅ کول

سوال: (۹۷) یوې ښځې دخپل مرګ په ناروغي کې خپل ټول منقوله اوغیرمنقوله مال ودوومسجدونوته وقف کړاودوقف په پاڼه کې یې داهم ولیکل چې ترمرګه به زه متولي یم له دې وروسته به متولي فلانی وي خودوقف دپاڼې دلیک له وخته بیادمېرمنې ترمرګه پورې دناروغې دخدمت لګښت له وقف شوې مال څخه وشودمېرمنې تروفات وروسته دتجهیزاوتکفین اوثواب رسولوخرڅ متولي دناپوهۍ په وجه دوقف له مال څخه وکړشرعا داکاررادی ،که نه ؟ دناروالي په صورت کې پرمتولی ضمان شته ،که نه ؟(۱۲۴۸/ ۱۳۴۲هج)

ځواب : که نومورې مېرمنې ترخپل مرګه پورې خرڅ هم دوقف له آمدني څخه مقررکړی دی بیاخوددې دخرڅ په اندازه آمدني وتلې ده پاته آمدني به پرمسجدلګیږي اوکه میرمنې خپل خرڅ له دې څخه نه ووکړی اوخپله هیڅ برخه یې نه وه مقرره کړې نوبیادوقف ټوله آمدني دمسجدلپاره ده اومتولي چې دوفات شوې میرمنې وروسته ددې په درېیمه اونوروکې صرف کړې ده دهغه دی ضامن دی فقط.

---

(۱) الدرالمختاروالشامی (۳/ ۴۵۵) کتاب الوقف ، مطلب : وقف النصف علی ابنه زید الخ ط رشیدیه.

(۲) الدرمع الرد (۳/ ۴۰۲) کتاب الوقف بعد مطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه

Maktaba Tul Ishaat. com

دوقف شویودوکانونوپه آمدني دوقف کوونکې داولادومرسته کول

سوال: (۹۸) الله بخش یودوکان وقف کړدهغه دلګښتونوشرح یې دارنګه وکړه چې له کاله څلیرویشت روپۍ دمکې شریفې لپاره اودوولس روپۍ له کاله دحج اوقربانۍ دخرڅ لپاره ومکي معظمې ته لیږي اودکاله دوولس روپۍ ونجیب النساء خپله خورته ددې ترژوندۍ اوڅلیرویشت روپۍ له کاله وخورڅې محمدیې ته ورکول شي دنجیب النساء تروفات وروسته دې دغه روپۍ دکلي دمسجدپه خرڅوکې ولګول شي اودمحمدیې تروفات وروسته دې له کاله دوې روپۍ دمکې معظمې په مدرسه کې ولګول شي که کله ددغه دوکان په آمدني کې کمی راشي نوددغودواړومبرمنوله کاله په روپوکې به کمی نه کوئ دنورولګښتونوپه برخوکې دې کمی وشي اودآمدنۍ دزیاتوب په حالت کې ددواړو مبرمنوله کاله دروپوڅخه پرته نورې خرڅې په مکه معظمه اوقربانۍ کې ولګولې دپوښتنې وړخبره داده چې دوقف کوونکې اولاددخپلې ناوسۍ په وجه داغوړې چې په دغه وقف شویوددوئ مرسته وشي آیاددغوڅرګندونوپه شتون کې متولی دوقف شوې آمدنې کومه برخه پردوئ لګولای شي؟ (۳۵۷۰/۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب: دوقف کوونکې دڅرګندکړیوشرطونوپه خلاف دوقف شوې دوکان آمدني په کوم بل لګښت کې لګول یادوقف کوونکې داولادومرسته په کول اوهغوئ ته ورکول روانه دي په درمختارکې راغلې دي: شرائط الواقف معتبرة اذالم تخالف الشرع الخ (الشامی ۶/۴۱۲کتاب الوقف) شرط الواقف کنص الشارع (الشامی ۶/ ۵۰۸، کتاب الوقف)

دوقف شوې جائدادددآمدنۍ دخیرپه کارونوکې دلګولووصیت کول

سوال: (۹۹) که کوم وقف کوونکی دخپل وقف کړې شی دآمدنۍ له لاندینې لګښتونو څخه په کوم مصرف کې دلګولووصیت ولیکي ترڅوصدقه جاریه شي اووقف کوونکې ته تل ثواب وي که کوم خاص قسم ته ترجیح وي نوپه مصرفونوکې دي کمښت اوزیاتوب وشي؟ (الف) دمسجدارتیاوې فرش، رنا، سره له نورواړتیاوو (ب) دوقف کوونکې دکلي ومسجدته راتلوونکې مسافرخورول (یعنی دودۍ ورکول) چې داشي شاذاونادر کیږي.

(ج) صرف دقرآنکریم تعلیم چې دهغه بندوبست دښوونځیوپه توګه په کلیوکې له مخکې څخه شته خودتیرې زمانې په مقابل کم دی اومستقل هم نشته.
(د) دعربي علوموزدکړه چې دهغه بندوبست مطلقا په دې کلې کې نشته (۴۲۱/۳۵ـ ۱۳۳۶هج)

خواب: په سوال کې بیان شوې دغه ټول دخیرکارونه دي له دوئ څخه دټولوياځینولپاره دوقف شوې جائدادآمدني تعیینول دثواب کاراوصدقه جاریه ده چې وقف کوونکې ته به تل ثواب رسیږي خوپه دې کې شک نشته چې په تبره بیاپه دې زمانه کې ددښې عربي علوموتعلیم زیات ضروري اومهم دی اوثواب ددې دیرزیات دی اولږ ددې دثواب همیشه اوقوي ده فقط.

دوقف په زیاتوب آمدني دمظلوم مرسته کول

سوال: (۱۰۰) دوقف په زیاتوب روپودترکودکونډواومظلوموماشومانو مرسته کول روادي ،که نه ؟ کوم چې په سخت مصیبت اوتکلیفونوکې دي ؟ (۱۵۹۷/ ۱۳۳۹هج)

خواب: بېشکه داوقافوپه زیاتوب روپوددغومظلومانومرسته کول رواادوثواب باعث دي فقط.

دمسجدونواواوقافوترارټیاپه زیاتورپودمجاهدینواومظلومانومرسته کول

سوال: (۱۰۱) ماقولکم (دام فضلکم) فی اعطاء منافع الاراضی والاموال الموقوفة علی ضرائح الا ولیاء والمساجدوالمدارس والرباطات وغیرهانقدا ومحصولات معینة کانت مصارفهااولاعونالغزاة أ نغوراوحیوش المصطفی کمال لیتوسلوابهافی حروبهم وصونالمظلومی سمرناوکذلک دفع الزکوة والصدقات الواجبة الیهم هل یجوزام لا ؟(۴۷/۷/۱۳۴۱هج)

خواب: فقهاؤ داڅرګندونه کړې ده : چې که دمسجدونواونوروقف شویوآمدني جمع شي اودمسجدونواوداوقافودنورومصرفونوترارټیاووزیاتوب وي نودهغه دغازیانواومظلو مانوپه مرسته کي لګول اودمجاهدینواوداللہ رب العزت ددښمنانوپه خلاف دجنګېدوو نکوپه مرسته کې لګول که دقرض په توګه وي اوکه ببله قرضه وي صحیح دی فقط.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوقف روپی وحقدارته درسولولپاره مني آرډرکول اودهغه فیس دوقف له روپوادا کول

سوال : (۱۰۲) یوه سړی څه مخکه وقف کړه چي آمدني مصرفونه دوقف دپانې دشرطونو سره سم دشروانی قوم کونډې اویتیمان دي وروسته له دوئ طالبان . درازچي لومړی به آمدني دشروانی قوم پرکونډواویتیمانوصرفیږي بیاکه پاته شي نوپرطالبانوبه لګیږي آیاددغه شرط له مخې پرټولوکونډواویتیمانولګول دآمدني واجب دی ؟ که پرکوچنیانو په وښلودوقف کوونکې شرط عملي کیږي ؟ که دمسافت دلیری والې په وجه روپی دمنی آرډرپه وسیله ولیږل شي نودمنی آرډرفیس دوقف له آمدني څخه ورکولای شي ،که نه ؟(۱۳۴۰/۲۳۳۱هج)

خواب : دفقهې په کتابونوکې داڅرګندونه شته چي شرط الواقف کنص الشارع(۱) (شامی اودرمختار) ،څکه نودوقف کوونکې له شرط سره سم دبیان شوې وقف آمدني دې لومړی دشرواني قوم پرکونډواویتیمانوولګول شي بیاکه څه پاته شی نوطالبانوته دې ورکول شي اودشروانی قوم پرکونډواویتیمانوکه محتاج وي اوکه نه پردواړودې دغه وقف ولګول شي اوددغه قوم وهرې کونډې اوهریتیم ته ورکول شرط نه دی اودمسافت دلیري والي په وجه دمنی آرډرهم لیږلای شي اودمنی آردرفیس هم له دې څخه ورکولای شي فقط.

دوقف دآمدنی کومه برخه دناوسوددواوولپاره خاصه کړله شي هغه له دواووڅخه سوالګول صحیح نه دي

سوال : (۱۰۳) هندې خپل جائدادوقف کړاودوقف څه برخه بې پرمسکینانو ددواوو وښلولپاره خاصه کړه اوخپل خاوندبې ورمتولي کړهنده وفات شوه خاوندې ژوندی دی شپږمیاشتې کیږي چي خاوندوزیدته څلوېښت روپی له ځانه په قرض ورکړې وي اوس زیدوفات شودزیدوارثان بې وسه دي اوده دقرضې اداکولووعده کوې یوه ورځ نومورې خاوندوزیدته وویل چي زماسره له وقف دواووڅخه ډیرې روپی له لګولوڅخه پاته شوې دي

(۱) الدرمع الرد (۳/ ۴۵۲) کتاب الوقف ، مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.

که جائزوي نوزه به دغه دقرض روپۍ په دغه وقف دواووکې ستاځخه راوګرځوي نودزیددوارثانوپه دې اړه اوږې سپکۍ شي نوله محترم ځخه عرض دی چې دارواډی که نه ؟ ،ځکه چې دوقف کوونکې وقف صرف ددوایانولپاره دی ؟ (۵۳۶/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : کومه برخه دآمدني چې وقف کوونکې دمسکینانوددواوولپاره خاص کړه هغه دمسکینانوله دواووپرته لګول صحیح نه دي لکه چې دقاعده کلیې شرط الواقف کنص الشارع (الشامی ۲/ ۵۰۸کتاب الوقف) اوشرائط الواقف معتبرة اذالم تخالف الشرع (الشامی ۲/ ۴۱۲کتاب الوقف) ځخه ښکاره دی نودنومورې متولي لپاره صحیح نه دی چې دزیدووارثانوته دقرض داداکولولپاره ددغودواوولهروپوځخه څه ورکړي یاپه دې کې قرض وشمېري فقط.

دمسکینانوددواوولپاره دوقف شوې جائدادلګښتونه

سوال : (۱۰۴) (الف) کوم جائدادچې دمسکینانوددواوولپاره وقف کوونکې وقف کړی دی اوزیددهغه متولي دی اوزیددعمرپه ویناس روپۍ وعمروته ورکړي چې دغه روپۍ وبکرته ورکړه ترڅوهغه خپل علاج په وکړي عمرهغه روپۍ واخستې دخپل کورپه اړتیاووکې یې ولګولې بکرته یې ورنکړي وروسته عمروزیدته وویل هغه روپۍ خوما پخپله ولګولې اواوس زماسره روپۍ نشته چې زه یې بېرته تاته درکړم آیاوزیدته ترخبرتیا اودزیدترپته خوله کېدووروسته دعمرلپاره توبه کول داخرت له نیولوځخه دخلاصېدو لپاره کفایت کوي که په بخښل ضروري دي کله چې عمرهم مسکین دی ؟

(ب) ددواوولهداسي روپوځخه چې درحم په ناروغیوکې کومه دایې(قابله) استعمالوي ددغې دایې درابلنې مزدوري هم دمسکین مریض لپاره ورکول روادي ،که نه ؟

(ج) وناوسه ښځوته دلنګون په حال دطاقت دواوې په دغوروپوورکول روادي .که نه ؟

(۸۳۷/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : (الف) کله چې زیدلس روپۍ آمدني له هغه وقف ځخه ورکړي کوم چې دمسکینانو ددواوولپاره خاص دي نوعمرخودغه روپۍ دوقف کوونکې مشخص کړې مصرف ځخه پرته ولګولې یعنی دخپل کورپه اړتیاووکې یې صرف کړي ، حال داچې دی په دې کې امانتدارووونوددغوروپوضمان پرده لازم دی ، هرکله چې شی ادادی کړي اوداداکولونیت دی وکړي اوتوبه اواستغفار

Maktaba Tul Ishaat. com

دی وکړي له زید څخه په معافي غوښتلو دغوروپوضمان نه ختمیږي اماکه هغه روپی دزید خپلې ځانې وي نوپه زید بخښل کفایت کوي.

(ب) ددایې درابلنې مزدوري وفیس هم په دواووکې داخل دی ،خکه صحیح دی.

(ج) له ماشوم زیږیدلوورسته دطاقت دواوې په دغوروپوورکول هم صحیح دي فقط.

دوقف کوونکي جائدادپخپل نامه راګرځول دهغه آمدني دمسجد ، مدرسې اومسکینانولپاره مقررول

سوال: (۱۰۵) یوبې اولاده سړی پخپل صحت اوروغتیاکې خپل ټول جائداددهمیشه لپاره پخپل نامه راوګرځاوو، دهغه آمدني یې دمسجد ،اسلامي مدرسې اومسکینانو لپاره مقرره کړه اومتولي یې وټاکئ داوقف صحیح شو ،که نه ؟ له دې وروسته په دې کې دخرڅلاو، بخښې اونورودمتولي یاوقف کوونکې ته اختیارشته ،که نه ؟ (۳۲۲/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: دغه وقف صحیح اوپوره شودخرڅلاو ،بخښې اونوروتصرف پکې کول اوس صحیح نه دي کمافی الدرالمختار: الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد۶/ کتاب الوقف) اوکوم شرطونه چې وقف کوونکې لګولې دي هغوئ دې عملي کیږي

دوقف کوونکي له شرط سره سم وقف کړی جائدادخرڅول دهغه قیمت دمسجدپه تعمیرکې لګول صحیح دي

سوال: (۱۰۶) هندې دمکان برخه په دې شرط ومسجدته وقف کړه چیمتولي ته به دا اختیاروي چې وقف شوې برخه خرڅه کړي قیمت یې دمسجدپه تعمیرکې ولګوي وقف شوې برخه ډیره لږداستفادې ورنه ده آیادوقف کوونکې له شرط سره سم که متولي داخرڅه کړي قیمت یې په دغه مسجدکې لګول روادي ،که نه ؟ (۳۰۸۱/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: دغه وقف شوې برخه دوقف کوونکې له شرط سره سم خرڅول اوقیمت یې دمسجد په تعمیراوترمیم کې لګول صحیح دي ، لان شرط الواقف کنص الشارع (الشامی ۴۰۲/۳ کتاب الوقف) فقط.

وقف شوی خیرې قرآنکریم دتلاوت لپاره چاته ورکولای شي مالک جوړول یې روانه دي

سوال : (۱۰۷) زمورږپه مدرسه کې یوځیري قرآنکریم پروت دی په هغه کې هیڅوک په شوق سره تلاوت نکوي که دغه قرآنکریم وزیدته په ملکیت ورکول شي نوروادی .که نه ؟ هغه ددې قرآنکریم دجوړولواوپکي تلاوت کولووعده کوي ؟(۱۱۸۸/ ۱۳۴۱هج)

خواب : زیددې قرآنکریم مالک نشي جوړولای دتلاوت اوجوړولولپاره یې ورکولای شي ،ځکه چې مسئله مشهوره ده اودفقهې په کتابونوکې یې یادونه شته: الوقف لایملک ولایملک (۱) (درمختاراونور) فقط.

په کومه وقف شوې مځکه چې دوقف کوونکې غرض پوره نشي په هغه څه وکړو؟

سوال : (۱۰۸) یوسړی یوه ځلوردبوالې په دې شرط وقف کړه چې ددې له آمدني څخه چې کومې روپۍ ددغې ځلوردبوالې له ترمیمه زیاتوب شي هغه دې پرفلانی مسجدولګول شي دارازداخبره هم ده چې ومتولیانوته دځلوردبوالې دخرڅلاواجازه نه ورکوم خوله وقف کولووروسته فعلا دآمدني راتلوکوم صورت نه وو ،ځکه نودمسجدلمونځ کوونکواومتولیانوپخپل مینځ کې په چنده کولوپه هغه کې ونې ودرولې اوکومه برخه چې ددبوال نړېلې وه هغه یې جوړه کړه خوبیانژدي نیمه برخه دبوال ونړېدی اوونې هم دنه ځارنې په وجه خرابې شوې اوسره له دې چې دوقف ځوکلونه وشول تراوسه لمونځ کوونکې وچنده ورکولوته آماده نه دي اوپه لږکرایه هم دغه ځلوردبوالې ځوک نه غواړې ،ځکه نودغه ځلوردبوالي بېکاره ده اودوقف کوونکې مقصدیومخ ختم شونووقف مات شوکه باقي دی ؟ که باقي دی نومتولیان بایدڅه وکړي ؟ اوکه مات شونوکه متولیان داخرڅ کړي قیمت یې پرمسجدولګوی ، لګولای یې شي ،که نه ؟ اوکه وارثان مالکان شول ؟ (۸۲/ ۱۳۴۲هج)

خواب : کله چې داځلوردبوالې بېکاره ده اوهیڅ آمدني ددې نه راځي اومقصداوغرض دوقف کوونکې له دې څخه نه حاصلیږي نودادقاضي په حکم خرڅ کړئ

(۱) الدرالمختارمع الرد(۴۰۲/۳) کتاب الوقف ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

ددې پرځای بل مکان یامځکه رانیسي وقف یې کړي قال فی الشامی اعلم ان الاستبدال علی ثلاثة وجوه الاول ان یشرطه الواقف لنفسه اولغیره اولنفسه وغیره فالاستبدال فیه جائزعلی الصحیح وقیل اتفاقاوالثانی ان لایشرطه سواء شرط عدمه اوسکت لکن صاربحیث لاینتفع به بالکلیة بأن لایحصل منه شئ اصلا اولایفی بمؤنته فهوایضاجائزعلی الاصح اذاکان باذن القاضی ورأیه المصلحة فیه (۱) وفی الدرالمختاروجازشرط الاستبدال به ارضًا اخری حینئذ اوشرط بیعه ویشتری بثمنه ارضااخری اذاشاء الخ (۲) فقط

دشاهي اوقافودآمدنی مصرف

سوال: (۱۰۹) دیوشاهی وقف آمدني دده ترمصرفونوزیاتوب ده دوقف پانه کومه نشته چې ورځخه دوقف کوونکې غرض پوره معلوم شي متولیان چې دوقف انتظام کوونکې دي دهغوئ عمل دمصرف په اړه دادی چې دوقف شوې مسجد تعمیردمسجدآبادولوانتظام دلمونځ کوونکولپاره آرام ،اودارازپه دښې زدکړوکې ولګوي دداسي وقف روپی داسلام په تبلیغ کې صرفېدای شي ،که نه ؟ (۱۳۴۵/۱۳۰۶هج)

خواب: په دې صورت کې حکم دادی چې څرنګه اوپه کومومصرفونوکې چې متولیانوتراوسه صرفولې هغه رنګه دي په هماغه مصرفونوکې ددغه وقف آمدني ولګول شي په کوم نوي مصرف کې ددې صرفول روانه دي لکه چې په درمختارکې راغلې دي : یسلک بمنقطع الثبوت المجهولة شرائطه ومصارفه ماکان علیه فی دواوین القضاة الخ (۳) وفی ردالمحتارمن الذخیرة سئل شیخ الاسلام عن وقف مشهوراشتبهت مضارفه وقدرمایصرف الی مستحقیه قال ینظرالی المعهودمن حاله فیماسبق من الزمان من ان قوامه کیف یعملون فیه والی من یصرفونه فیبنی علی ذلک الخ (۳) (شامی: ۴۰۴/۳) فقط.

---

(۱) الدرالمختاروالشامی (۴۲۴/۳) کتاب الوقف مطلب فی استبدال الوقف وشروطه ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختاروالشامی (۴۲۴/۳) ، کتاب الوقف ، مطلب فی استبدال الوقف وشروطه ط رشیدیه.

(۳) الدرالمختاروالشامی (۴۴۳/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی حکم الوقف القدیم المجهولة ، شرائطه ومصارفه ط رشیدیه.

په شاهي اوقافوکې دوقف دشرطونولحاظ ضروري نه دی

سوال: (۱۱۰) شاهی اوقاف چې دوقف کوونکې له لورې دمصرفونوکوم شرط نلري ددوئ دآمدني بندوبست یوه کمیتی چې څلورممبران (غړې) لري درأیې په ډیرښت کوي اواستاذان ، امام ، مفتی اووعظ کوونکې پخپله تاکي یوسړی عالم دحکومت په جبل وبندیانوته دنصبحت کولولپاره مقررول غواړې نوشرعًا دغه مصرف ،تنخواه اونورجائزدي ،که نه ؟ کله چې دنورومصرفونودقرض اونورووورکولوهم دوئ ته اختیارحاصل دی اوله داسي آمدنی څخه دطالبانو اوعلماؤدپالنې اوپنشن اونوروهم شرعًا اختیارشته ،که نه ؟ (۱۲۵۰/ ۱۳۳۵هج

ځواب: کله چې دوقف مصرفونه دحاکم اوممبرانوورأیې ته سپارل شوې دي نوچې کوم مصلحت دوئ وبولي نصبحت کوونکې اونورتاکلای شي اوفقهاؤداهم څرګندونه کړې ده چې دامیرانواوباچاهانوپه اوقافوکې دوقف دشرطونولحاظ ضروري نه دی په ردالمحتارکې راغلې دي وهذاای عدم التقریربغیرشرط اذالم یقل وقفت علی مصالحه فلوقال یفعل القاضی کل ماهومن مصالحه وهذاایضافی غیراوقاف الملوک والامراء اماهی فهی اوقاف صوریة لاتراعی شروطهاالخ (۱) (شامی ۳/ ۴۱۷) فقط.

(۱) ردالمحتار(۳/ ۴۵۷) کتاب الوقف ، مطلب لیس للقاضی ان یقرروظیفة فی الوقف الاالنظرط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

داوقافودرانیولو، خرڅولو، بدلولواوباطلولوبیان

وقف شوې مڅکه خرڅول کله روادي ؟

سوال : (۱۱۱) هندی وخپلې مورته دثواب رسولولپاره یوه ټوټه په یوسل دیر شوروپی رانیوه وجامع مسجدته ببله کوم مصرف خاصولوقف کړه کومه چې دمتو لیانوپه قبضه اوتصرف کې ده دکاله ددې آمندې ۳۰یا۳۵روپی راځي اودمسجد په اړتیاووکې صرفیږي یاده شوې ټوټه که اوس خرڅه کړل شي نوپه نهه سوه نهه نیم سوه خرڅیږي ،ځکه چې دعیدګاه جوړولوضرورت دی اودغه قیمت که په هرکارکې ولګول شي په هغه سره آمدني دوه چنده کیدای شي اودمسجدډیره ګټه ده نودوقف شوې مڅکې ټوټه دعیدګاه جوړېدولپاره دوقف کوونکې په اجازه دمسجددګټې په خاطرخرڅول جائزدي ،که نه ؟۱۴۱۱/ ۱۳۴۵هج)

خواب : دوقف شوې مڅکې دخرڅولواوددې په قیمت دبلې مڅکې اونورورانیولو اووقفولودجائزکیدولپاره فقهاء داشرط لیکي چې وقف کوونکی دوقف کولوپرمهال داشرط ولګوي یاولیکي چې هرکله وقف کوونکی یامتولي وغواړي داپه بله مڅکه بدلاولای شي یاچې داخرڅ کړي بله مڅکه ددې په قیمت رانیولای اووقفولای شي ، ببله دې شرطه بدلول ددې جائزنه دي خوکله چې وقف یومخ دګټې ووزي اوله هغه څخه یومخ استفاده نشي کیدای اوبدلوونکی اوددې په خرڅولوبله مڅکه رانیوونکی اووقف کوونکی قاضی دجنت یعنی قاضی ، عالم ،عادل اوامین وي په درمنختارکې راغلې دي: وجازشرط الاستبدال به ارضااخری حینئذ اوشرط بیعه ویشتری بثمنه ارضااخری اذاشاء الخ واماالاسبتدال بدون الشرط فلایملکه الاالقاضی درروشرط فی البحرخروجه عن الانتفاع بلکلیة وکون البدل عقاراوالمستبدل قاضی الجنة المفسربذی العلم والعمل وفی النهران المستبدل قاضی الجنة فالنفس

به مطمئنة فلا یخشی ضیاعه ولو بالدراهم والدنانیر الخ(۱) فقط.

وقف شوی جائداد خرڅول اوبدلول

سوال : (۱۱۲) دزید پلار یو دکان رانیوی نیم دکان یې وزیدته ورکړاونیمه کرایه ددکان یې دالله تعالی لپاره مقرره کړه دغه ډول له یوموډي څخه داعملي کیږي څلورکاله کیږي چې دزیدورورته یوهندوویل چې دادکان تبادله کړه یعنی ددې دکان په برابري کې دکان واخله اوداد کان راکړه اودتبادلې په غرض کې زه تاته دوه زره روپۍ درکوم نودزیدورور وزیدته وویل چې زه تاته پنځه سوه روپۍ درکوم اویونیم زرزه اخلم زیدورته وویل چې دپنځوسوه کموراکولوڅه وجه ده ؟ ،ځکه چې یودکان دی چې ترننه کرایه نیم په نیمه وه اوکوم څه مصرف چې به کېدی هغه به په نیمایې وودزیدورورپه ځواب کې ورته وویل چې زماپه شناخت خبره شوې ده زه په دغه یونیم زرجائداد رانیسم دهغه کرایه هم دالله تعالی لپاره وقف کوم اودپلارپه نامه یې رانیسم.

زیدوویل چې ددې تبادلې په هکله ماویلې ووهماغه وخت مانیت کړی ووچې زه به له دې څخه دپنځوسوروپیو جائداداخلم دهغه کرایه به دالله رب العزت لپاره ورکوم زیدداهم وایې چې ماخوله اوله نیت کړی ووچې زه داغواړم چې په هغوپنځوسووروپیوچې ته یې خبره کوي زه دهغه سره یوجائداد یاجلارانیسم دهغه کرایه دالله لپاره زه پخپل لاس ورکوم یالکه څنګه چې ورکول کیږي هغه رنګه عمل وشي دزیدورورپه جواب کې ورته وویل چې په دغه جګړه زه نه پوهېدم هغه له دې څخه څه دځان لپاره راګرځول نه غواړې زه دخپل پلارپه نامه لکه چې دانیم دکان دی هغه رنګه ددې کرایه هم ورکوم.

لنډه داچې څه موده وروسته ددکان تبادله ددوه نیم زرورپیوپه عوض وشوه اودوولس نیم سوه روپۍ یې ورکړې چې په دوولس نیم سوه کوم جائداداخلي له هغه سره یاجلاپه دغه پنځه سوه یې هم رانیسه اوس یې چې روپۍ ورکړي دې نژدي دوه کاله وشونه دزیدورو جائدارانیوی ، نه یې روپۍ بېرته ورکړي.

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۳/ ۴۲۴) کتاب الوقف مطلب فی استبدال الوقف وشروطه ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

اوس زید داغواړي چې له خپل وروره هغه پنځه سوه روپۍ ببرته واخلي پخپله جائداپه رانیسي اوداللہ تعالی لپاره یې دورکولوبند وبست وکړي دارواډی ،که نه ؟ اوددغوروپیوزکوة پرزیدلازم دی ،که نه ؟ (۷۱/۱۳۳۷هج)

ځواب : علامه شامی رحمه الله فتح القدیرڅخه رانقل کړي دي چې دارتیاپه وجه وقف دوقف له څرګندونې پرته هم ثابتیږي لکه چې داسي ووایې چې ددغه کورآمدني دې ومسکېنانوته ورکوله شي یاوفلانی سړی ته اوله هغه وروسته دې ومسکېنانوته ورکوله شي نوپه دې صورت کې هغه مکان وقف ګرځي وعبارته هکذایثبت الوقف بالضرورة وصورته ان یوصی بغلة هذه الدارللمساکین ابداًاولفلان وبعده للمساکین ابدافان الدارتصیروقفابالضرورة (الی ان قال) وقد سئلت عن نظیرهذه المسئلة فی رجل اوصی بأن یؤخذمن غلة داره کل سنة کذادراهم یشتری بهازیت لمسجدکذاثم باع الورثة الداروشرطواعلی المشتری دفع ذلک المبلغ فی کل سنة للمسجدفافتیت بعدم صحة البیع وبأنهاصارت وقفاحیث کانت تخرج من الثلث الخ (۱) (شامی ص: ۳۵۹کتاب الوقف) له دغه روایت اودوقف مشاع دصحیح کېدوله روایت څخه څرګندیږي چې نیمه برخه ددغه دکان په دې شرط چې دترکې له دربیمې څخه زیاته نه وي وقف شوه ددې څرڅیدل اوبدلول جائزوودغه بیع داسي وبولی لکه چې نه وي شوې نیمه برخه ددغه دکان وقف وبولی اوزید دخپلې نیمې آمدني مالک دی داکوم څه معامله چې دزیدورور وکړه ناروا شوه اوپه هرحال که دزیدورورروپۍ ببرته نه ورکوي اودبیع ببرته ختمولو کوم صورت نه وي نوزید دې دخپلې برخې په روپیوبدکان یامکان رانیسي وقف دې کړي اوآمدني که توله ومسکېنانوته ورکول مقرروي اوکه.نیمه دمسکېنانولپاره اونیمه دځان لپاره مقرره کړي اوترڅوچې زید په دغوروپیوکوم جائدادرانیسي ترهغوددې زکوة پرده شته فقط.

وقف کړی جائدادخرڅول اوهبه کول

سوال : (۱۱۳) زاهدالنساء دخپل ټول جائداددمسجداونورواسي کارونولپاره وقف کړچې په صدقه جاریه کې داخل وي خودوقف پاڼه تراوسنه لاپه حکومت کې نه ده رسمي شوې چې حبیب الرحمان کوم چې

(۱) ردالمحتار (۳/۳۹۳) کتاب الوقف ، مطلب قدیثبت الوقف بالضرورة ط رشیدیه.

دوقف کوونکې دسکه وروړلمسی (دزوئ زوئ) کیږي پروقف کوونکې دناروافشارپه اچولودوقف شوې جائدادزیاتره برخه دخپلوزامنوپه نامه اوخه برخه دخپلې خالادزوئ محمد حنیف په نامه دهبې (بخښنې) پاڼه وربانديې ولیکله په حکومت کې یې رسمي کړه نووقف کوونکی نارښه یابښځښه دکوم شی دخدای په نامه له وقفولووروسته بیع اوهبه کولای شي اوخپل تصرف پکي کولای شي ،که نه ؟ اوکوم خلګ چي دخپلې ګټې په غرض دوقف په خلاف نارواکارکوي یادهغوئ مرسته کوونکې دي هغوئ شرعًا څرنګه دي ؟ (۱۳۴۰/۷۵۴)

ځواب : دغه بیان شوی جائدادوقف شو،ځکه چي په خوله وقفولوسره جائدادوقفیږي په حکومت اونورپه وقف کړې جائدکې دوقف کوونکی اوناوقف کوونکې لپاره صحیح نه دی کمافی الدرالمختارالوقف لایملک ولایملک الخ ای لایقبل التملیک لغیره بالبیع ونحوه لاستحالة تملیک الخارج عن ملکه الخ (۱) نودغه هبه شرعًا صحیح نشوه اودغه پاڼه دهبې باطله اوداسي ده لکه نه چي وي اودوقف مفتی به تعریف دادی [وهوحبسها علی حکم ملک الله تعالی وصرف منفعتهاعلی من احب الخ فلایجوزله ابطاله ولایورث عنه وعلیه الفتوی ابن الکمال وابن الشحنة الخ (۲) (درمختار) اوکوم شخص چي دخپل ځانې ګټې لپاره دوقف باطلول وغوښت هغه ګنهګاراوفاسق دی اوددغه کوشش دده باطل اولغوه دی عندالله دغه وقف صحیح شواوددې وقف باطلول دوقف کوونکې اونه کوونکې لپاره جائزنه دی (۳)

ووقف کوونکې ته هم دوقف کړې جائداددخرڅولوحق نشته

سوال : (۱۱۴) زیدیوجائداددمسجدپه نامه وقف کړی ووپنځه شپږکاله وروسته په څه وجه دهغه خرڅول اوبیع کول غواړي نوپه دې نوپه دې حالت کې دوقف دخرڅولواجازه شته ،که نه ؟ (۳۲/۲۰۹ - ۱۳۳۳هج)

ځواب : دخرڅولوحق وده ته نشته فقط.

---

(۱) ردالمحتار (۴۰۲/۳) بعدمطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه.

(۲) الدرمع الرد (۳۹۲/۳) فی اوائل کتاب الوقف ط رشیدیه.

(۳) من سعی فی نقض ماتم من جهته فسعیه مردودعلیه (الشامی (۴۵۳/۳) کتاب الوقف ، مطلب من سعی فی نقض ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

وقف کړې مځکه خرڅول روانه دي

سوال : (۱۱۵) وقف کړې مځکه خرڅول روادي اوکه نه ؟ (۳۲/۷۴۷ - ۱۳۳۳هج)

خواب : وقف کړې مځکه خرڅول روانه دي کمافی فتح القدیر اعلم ان عدم جواز بیعه الااذا تعذر الانتفاع به انما هو فیما اذا ورد علیه وقف الواقف (۱).

سوال : (۱۱۶) دمسجد لپاره وقف شوی مکان چې په کرایه يې دتبلوا ونورو انتظام کېدای شي اوهمېشه به آمدني وي ځینې کسان يې خرڅول غواړي په داسې صورت کې وقف مکان خرڅېدای شي ،که نه ؟ (۳۲/۱۳۲۰ - ۱۳۳۳هج)

خواب : دوقف مکان خرڅول روانه دي لکه چې دفقهې په کتابونوکې يې یادونه شته فاذاتم ولزم لایملک ولایملک ولایعارولایرهن (۲) (درمختار) په شامی کې راغلې دي ولایملک ای لایقبل التملیک لغیره بالبیع ونحوه ـــ۲ فقط والله اعلم.

دوقف کړې مځکې دخرڅولو ،رانیولواوپه هغه کې دمرستې کولوحکم

سوال : (۱۱۷) دمسجد سره نښتې وقف شوې مځکه خرڅول اورانیول څرنګه دي ؟ اودخرڅوونکې ،رانیوونکې اودشاهدانوپه هکله يې څه حکم دی ؟ اودبیع دپاڼې د لیکوونکی لپاره څه حکم دی ؟ (۲۰/ ۱۳۴۳هج)

خواب : دوقف خرڅول صحیح نه دي لکه چې په درمختارکې دي الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد ۳/ ۴۰۲کتاب الوقف) اوخرڅوونکی و رانیوونکی ،ګواهان فاسقان اوګنهګاران دي اودخرڅولوپاڼه لیکوونکی که ددې په وقف کېدوخبروي نوهغه هم ګنهګاردی توبه دې وکاږي.

وقف کړی جائدادپه پورخرڅول

سوال : (۱۱۸) یوسړی څه جائدادپه دیني اړتیاووکې دصرفولولپاره ورکړزید هغه پرخالدپه پورخرڅ کړخالدمړشواوقیمت يې وصول نه شوددغه روپیودادیني څوک ذمواردی ؟ (۳۲/۲۰۳ - ۱۳۳۳هج)

---

(۱) الشامی (۳/ ۴۱۹) کتاب الوقف . مطلب فی الوقف اذاخرب ولم یمکن عمارته ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختاروالشامی (۳/۴۰۲) کتاب الوقف ط رشیدیه.

ځواب : که دغه جائداد وقف کړی وونو ددې خرڅول یومخ صحیح نشوبایدبېرته يې ځيني واخلي اوکه نه ووقف کړی نودمالک له اجازې پرته چې زیدخرڅ کړاوله خرڅولوورو سته هم مالک خپله خوښه څرګنده نکړه نوداسوداباطله ده دغه مځکه بېرته ځيني اخستل پکاردي اوکه مالک په راضي شوی وونوبیع صحیح شوه دخالدوارثان دقیمت ورکولوذمواردي چې څه رنګه وي قیمت به له دوئ څخه اخستل کیږي یامځکه اوکه يې دوئ بېرته ورکوي نومځکه دې بېرته ځيني واخستله شي فقط.

دوقف کړې ځاه اوبه خرڅول صحیح نه دي

سوال : (۱۱۹) په یوه وقف شوې مځکه کې ځاه دی دهغه اوبه دمځکې وقف کوونکې دعاموخلګولپاره وقف کړې دي حالامتولی ددې ځاه اوبه خرڅول شروع کړې دي اوقیمت يې پخپله اخلي داسي کول روادي ،که نه ؟(۱۷۹۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : ددي اوبه خرڅول صحیح نه دي [لان الوقف لایملک ولایملک] الدرمع الرد ۲/ ۴۲۱کتاب الوقف)

دوقف په پانه کې دوقف خرڅولواوبدلولوشرط لګول

سوال : (۱۲۰) دوقف یه پانه کې دخرڅولواوبدلولوشرط لګول صحیح دی ،که نه ؟(۱۵۴۲/ ۱۳۳۳هج)

ځواب : که وقف کوونکې دوقف پروخت داسي شرط ولګاوونوصحیح دی په درمختار کې راغلې دي وجازشرط الاستبدال به ارضااخری حینئذاوشرط بیعه ویشتری بثمنه ارضا اخری اذاشاء الخ ـ۱ (درمختار)

دکمیټۍ یامدرسې په نامه وقف شوې بېکاره اخبارونه خرڅول

سوال : (۱۲۱) دیوې کمیټۍ یامدرسې په نامه وقف شوې اخبارونه (ورځپاڼې) اودهغه سره نورلیکل شوې ناکاره کاغذونه چې اوس ورته اړتیانشته که په موجوده بیعه دوئ خرڅ کړل شي نونړدي ځلوښت روپۍ جوړوي چې په هغوسره دمذهبي درسي کتابونو رانیو لوارادہ ده آیادغه کاغذونه پرکوم داسي سړی چې په بازاري طریقه دخرڅولوشیان راتولوي وعاموخلګوته يې ورکوي خرڅول روادي ،که نه ؟(۴۷۴/ ۱۳۳۵هج)

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۲۴) کتاب الوقف ، مطلب فی استبدال الوقف وشروطه ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : قال فی ردالمحتار: قال فی الذخیرة وفی المنتقی قال هشام سمعت محمدًا یقول الوقف اذا صار بحیث لاینتفع به المساکین فللقاضی ان یبیعه ویشتری بثمنه غیره الخ ـ۱ وفی الدرالمختار: وکذا یفتی بکل ماهو انفع للوقف الخ ـ۲ نو کله چې دغه اخبارونه اوکاغذونه زاړه اوبیکاره دي نوددوئ خرڅول اوقیمت یې دمدرسې اوکمیټی په نورواړتیاووکې لګول صحیح دي.

دوقف په روپیورانیول شوی جائداددمسجددتعمیرلپاره خرڅول صحیح دي

سوال : (۱۲۲) پنځویشت زره روپۍ دمسجد دتعمیرلپاره موجودې وي خوکارزیات شواوروپۍ خلاصې شوې اومسجد ډیرپاته شواوس هغه نورجائداد چې دوقف په امدني رانیول شوی اومسجدته وقف شوی وودهغه خرڅول صحیح دي وکه نه ؟ (۱۱۸۰/۳۳ ـ ۱۳۳۴هج)

خواب : په اول صورت کې کله چې دوقف په آمدني بل جائدادرانیول شوپه دغه رانیول شوې جائدادکې دوه روایتونه دي یوداچې دابیع ددې صحیح ده دوهم داچې داوقف دی ویجوزبیعهافی الاصح الخ (۳) (درمختار) وذکرابواللیث فی الاستحسان یصیروقفا وهذاصریح فی انه المختاررملی قلت : وفی التاتارخانیة والمختار انه یجوزبیعها ان احتاجواالیه ـ ۳ (شامی) دآخرني روایت دتاتارخانیه سره سم دمسجد دودانولوپه اړتیاخرڅول ددغه رانیول شوې جائدادصحیح دي.

وقف کړې خام مکانونه نړول اوپاخه جوړول

سوال : (۱۲۳) آیادارواوی چې کچه مکانونه ونړوي څوک پردغې مخکې پوخ مکان جوړکړي ؟ (۳۵۲/۴۶ ـ ۱۳۴۷هج)

---

(۱) الشامی (۳/ ۴۱۸) کتاب الوقف ، قبل مطلب فی الوقف اذاخرب ولم یمکن عمارته ط رشیدیه.
(۲) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۴۰) کتاب الوقف ، مطلب سکن المشتری دارالوقف ط رشیدیه.
(۳) الدرالمختاروالشامی (۳/ ۴۴۵) کتاب الوقف ، مطلب اشتری بمال الوقف دارًا للوقف یجوزبیعهاط رشیدیه.

ځواب : که کوم څوک دوقف لپاره پوخ مکان جوړکړي نوجائزدی بلکي باعث داجراو ثواب دی خودوقف په مځکه کي دخان لپاره سرای جوړول اوهغه تل خپل ملک بلل داصحیح نه دی ،ځکه چي که څه هم په موقتي توګه به دغه ودانۍ دده وی خوکله چي مځکه وقف ده نودوقف متولي چي کله دادوقف لپاره زیانمن وبولي وبه یې نړوي اماکه داجاري لړۍ روانه وه اوداصورت انفع للوقف (دوقف لپاره کښمن) وي نوودانۍ به دجوړونکي ملک وي.

په وقف کړي مځکه کي دخپل کورنالۍ تېرول

سوال : (۱۲۴) په مسجدیانوره وقف مځکه کي دخپلومکانونودمرداراوبولپاره لاندی نالۍ ایستل شرعًا جائزدی .که نه ؟(۹۸۷/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : په وقف کي داسي تصرف وهیڅاته روانه دی فقط.

وقف کړي چیټایاني (سرتنجۍ) دخپل ځاني کارلپاره استعمالول

سوال : (۱۲۵) چندبوریاوقفی مردمان بکارخودصرف نمودند .بعدازان ازجانب صارفان بوریابجای وقف نهادن آیااین چنین جائزاست یانه ؟(۸۸۰/ ۱۳۳۵هج)

ځواب : صرف کردن مال وقف به ضرورت ذاتیه خودجائزنیست وبعدصرف کردن لامحاله ضمان آن لازم است.

دسوال : (۱۲۵) ترجمه : ځینې خلګووقف کړي پوزۍ (دریاني) بخپل ځاني کار کي استعمال کړي بیایې دغه پوزۍ دوقف ځای ته راوړي ،کښې یې نبوولې آیاداسي کول روادي ،که نه ؟

ځواب : وقف کړی مال (اووقف کړي شیان) په ځاني اړتیاووکي استعمالول روانه دي که یې استعمال کړي نوبې له شکه دهغه ضمان اداکول لازم دي.

وقف کړي مځکه پرخپل نامه راړول

سوال : (۱۲۶) یوبزرګ خواجه شکیب پخپله رانیولي مځکه کي یومسجد جوړکړاویوده باغچه یې جوړه کړه دهغه آمدني یې دمسجد دمصرفونولپاره وقف کړه حکیم احسان وقف شوي مځکه په حکومت کي پرخپل نامه راواړوله آیادحکیم احسان علی دغه کارشرعًا صحیح دی ؟(۱۰۱۰/ ۴۰ - ۱۳۳۹).

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : دحکیم احسان علی دغه کاریومخ دشریعت خلاف دی اوباطل دی په وقف کې وهیچاته دمالک په حیث دتصرف کولواختیارنشته اودقف څوک مالک نشي جوړیدای لکه چې دفقهې په کتابونوکې څرګند ده [الوقف لایملک ولایملک] الدرمع الرد ۲/ ۴۲۱ ، کتاب الوقف) نوپرمسلمانانولازم دي چې له وقف څخه داحسان علی دمالک په حیث تصرفات کول پورته کړي اوکوم مصرفونه دوقف چې وقف کوونکې مقررکړي دي دهغوسره سم عمل وشي فقط.

پروقف کړې مځکه دمیراثي په توګه قبضه اچول روانه دي

سوال : (۱۲۷) یوسړی وقف شوې مځکه پخپله کړي اوخان قبضه کوونکي لیکي اودی دمتولي له کورنۍ څخه دی په داسي حال کې پردغه مځکه په شریعت کې قبضه دده روا ده .نه ؟(۳۲/۱۸۹۰ - ۱۳۳۳هج)

خواب : پروقف شوې مځکه دمیراثي کېدوپه توګه قبضه لګول حرام اوناروادي دده له قبضې دې ایستل لازم دي قال فی الشامی وان کان غیرمأمون اخرجهامن یده وجعلهافی یدمن یثق بدینه وکذااذاآجرهاالواقف سنین کثیرممن یخاف ان یتلف فی یده یبطل القاضی الاجارة ویخرجهامن یدالمستأجرفاذاکان هذافی الواقف فالمتولی اولی۔

وقف شوی ګروجائداددوقف په روپیوراخلاصول

سوال : (۱۲۸) دالهجره په کلې کې یومسجدپه بازارکې واقع دی دهغه په اړه دوولس مکانونه دمسجددمصرفونولپاره دمسجدتعمیرله زمانې څخه وقف راروان دي له هغوئ څخه څلورمکانونه یوسړی دمسلمانانوله مشورې پرته په ګرو ورکړوچې ورڅخه ومسجدته هیڅ ګټه ونه رسیده بلکې دهرې ورځې په مصرفونوکې تکلیف جوړشوپه ګروورکوونکې اوځینومسلمانانودګروشوې دراخلاصولودعوی په عدالت کې وکړه اودکارپه دوران ببله رأیې اومشورې مسلمانانوپه یوزرپنځه اویاروپیودګرواخستوو

نکې سره دګروشوی دراخلاصولوپه عوض ورکولووعده وکړه آیاوقف شوی جائداددګرو په وسیله انتقالول جائزدي ،؟(۱۳۴۱/۲۴۹۹هج)

(۱) الشامی (۳ . ۴۳۹) کتاب الوقف . مطلب . اذاآجرالمتولي بغبن فاحش کان خیانة ط رشیدیه

خواب: وقف شوی جانداددگرو. خرڅول اونورویه وسیله انتقالول صحیح نه دی دگرورویی یه خاص له گروښوونکوحخه اخستل کیږي اوکه کومه مجبوری وی مثلاً داحی له هغه حخه نه اخستل کیږی نودمجبوریت له امله دوقف شوی جانداد یه امدنی دی دغه گرو راخلاص کړل شي چې خلاصول ددې ضروري دي اوکله چې نه گروورکوونکي حخه روپی وصولیدای شي هغه روپی دې خپلې واخستل شي یه درمخ رکی اغلی دی فاذاسم ولزم لایملک ولایملک ولایعارولایرهن الخ (الدرمع الرد: ۲ ۴۲۱، کتاب الوقف) فقط.

داوقافوله آمدني څخه وچاته قرض ورکول

سوال: (۱۲۹) دانگریزحکومت له لوري دوقف دکمیټی برخولیت لاندی دمسجدونو یه اړه جانداددی داخبره یه هیڅ ډول نه معلومیږي چې وقف کوونکی دغه جانداددکوم غرض لپاره یادمسجد په اړه دکوموغرضونولپاره وقف کړی دی ددغواوقافوپیري روپی سره جمع دي اوکمیټی وال له دغوروپیوحخه کله ناکله روپی هم دقرض په توګه دکمیټی له داسي وقف له مال څخه دقرض ورکولوعمل سرغاړوادی، که نه؟ (۹۹۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب: داوقافوله آمدني څخه ومتولیانواوکمیټی والونه دقرض ورکولو اختیار اواجازه نسته اوکه دوئ داسي وکړي نوذمواره دي که ضائع شونوضمان ددې بردوئ لازم دی فقط.

سوال: (۱۳۰) له زید سره دوقف مال امانت دی هغه له دې څخه قرض ورکولای شي بایې پخپله اخستلای شي؟ (۲۱۵۲/ ۱۳۴۲هج)

خواب: داسي نه دی پکارکه ده قرض ورکړیایې پخپله مصرف وکړنوضمان برده لازم دی اوله ضمان اداکولوروسته ګناه معافیږي.

دوقف له مالونو څخه داسلامي حکومتونوته دضرورت اودمسلمانانوله

سودخخه دژغورولولپاره قرض ورکول

سوال: (۱۳۱) (الف) که په اوقافوکې تراړتیازیاتې روپی موجودې وي نودنورو اسلامي حکومتونوته دضرورت پروخت داوقافوله مال څخه قرض ورکول روادی، که نه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

(ب) داوقافوله مال څخه ومسلمانانوته په قرض ورکولود سودله ګران بوج څخه ژغورل صحیح دي ،که نه ؟ (۳۲/۴۷۳ - ۱۳۳۳هج)

ځواب: (الف) داول صورت فقهاؤدارتیاله کبله اجازه کړي ده.

(ب) ددوهم صورت اجازه نشته فقط.

دقرض اداکولولپاره وقف کړی جائداد نیلامول

سوال: (۱۳۲) زمونږنیکه پیرامام شاه صاحب مزارچي هلته عامه هدیره هم شته اوحالا زمونږورورسید قاسم له کوم تجارڅخه روپۍ په قرض اخستې وي خومزاریې په ګروور کړی نه ووخودمجاوراولاده مونږیو ،څکه تجارپه عارضه کولومزارنیلام کړآیاپه دې صورت کې شرعي حکم څه دی ؟ (۱۳۸۳/۱۳۳۷هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي: الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد ۳/۴۰۲، کتاب الوقف) له دې څخه معلوم شوچي په وقف کې کوم انتقال ، بیع ، هبه اورهن (ګرو) اونورنشي کېدای نودغه وقف شوې مځکه شرعًا نشي نیلامېدای اوهیڅوک ددې مالک نشي جوړېدای فقط.

دوقف کوونکي لمسي وقف نشي ختمولای

سوال: (۱۳۳) یوسړی خپل ټول جائداد مسجداومدرسې په نامه وقف کړاوپه دې کې یې خپل تولیت نسل ترنسل ولیکی اوس دغه وقف صحیح دی ،که نه ؟ اوس دغه نوموړی وفات شودده لمسی داوقف ردکړی ،څه حکم دی ؟ (۱۹۳۷/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دغه وقف صحیح شواونوموړی لمسی داوقف نشی ماتولای اودده پکې هیڅ حق دملکیت اومیراث پاته نه شوکذافی الدرالمختار-۱ فقط واللہ اعلم.

---

(۱) فلایجوزله ابطاله ولایورث عنه وعلیه الفتوی (الدرالمختارمع الرد (۳/۳۹۲) کتاب الوقف ، تعریف الوقف ظ رشیدیه.

وقف کړي دکان اومکان وقف کوونکي بیرته نشي اخستلای

سوال : (۱۳۴) دزید صرف یودکان ،یومکان دی اوپنځه زامن ،څلورلونې بول نهه بچیان لري چې پکې ددوومشرانوزامنوپه نامه نیم مکان اونیم دکان هبه کړله دې وروسه زید خپل مکان اودکان دمسجد جوړولولپاره وقف کړداوقف صحیح شو. که نه ؟اوس زید دابېرته اخستلای شي ،که نه ؟(۲۲۲۶/ ۱۳۴۰هج)

خواب : په دې صورت کې خوهبه دمشاع اومشترک وشوه ،ځکه نوباطله اونارواده اوداسې ده لکه نه چې وې شوې ،ځکه چې دمشاع هبه نه صحیح کیږي دفقهي به کتابونو کې همداسې لیکلې دي اوکله چې هبه صحیح نه شود نووقف دبول دکان اوبول مکان صحیح شویعنی مکان اودوکان دمسجدلپاره وقف شول اووقف کوونکی چې کوم شرطونه دوقف په پاڼه کې لیکلې دي هغوئ ته به اعتباروي اودهغوئ شرطونوسره سم به عمل کیږي اوکله چې وقف صحیح شونواوس وقف نشي باطلېدای اووقف شوی دکان اومکان نشي واپس کېدای په درمختارکې راغلې دي: الوقف لایملک ولایملک۔ وفیه ایضا شرط الواقف کنص الشارع(۲) شرائط الواقف معتبرة اذالم تخالف الشرع۔).

دوقف کوونکي هیڅ وارث وقف نشي باطلولای

سوال : (۱۳۵) هندې دروغتیااوهوښ په حال کې خپل بول جائداداللہ تعالی درضالپاره وقف کړدغه وقف وارث باطلولای شي ،که نه ؟(۱۸۳۲/ ۱۳۴۲هج)

خواب : دغه وقف صحیح شوهیڅ وارث یې نشي باطلولای اودمالک په حیث هیڅ تصرف دکوم وارث پکې نه صحیح کیږي کمافی الدرالمختار| الوقف لایملک ولایملک |الدرمع الرد۳/ ۴۰۲، کتاب الوقف).

دوقف بدلولوڅوصورتونه اودهغوئ حکم

سوال : (۱۳۶) وقف کوونکی که وغواړي نودوقف مکان ترماتېدووروسته بله مځکه دزیاتې کې یه دې سره بدله کړي نوداجائزدی اوکه نه ؟ اووقف شوې مځکه وروسته له بدلولودوقف کوونکي په ملک کې بیرته راتلای شي ،که نه ؟(۱۱۳۸/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

---

(۱) ردالمحتار(۳: ۴۰۲) کتاب الوقف طرشیدیه.

(۲) الشامی (۳: ۴۵۲) کتاب الوقف طرشیدیه(۳) الشامی(۳: ۳۹۵) کتاب الوقف طرشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : که دوقف کولوپرمهال وقف کوونکی دبدلولوشرط لګولی وونوبدلولای يې شي کنې نه يې شي بدلولای قال فی الدرالمختار: وجازشرط الاستبدال به ارضااخری(۱) واماالاستبدال ولوللمساکین بدون الشرط فلایملکه الاالقاضی الخ (۱) وفی الشامی وکذلک لیس للقیم الاستبدال الاان ینص له علیه(۱).

سوال : (۱۳۷) زیدیودوکان چې دمیاشتې په یوه روپۍ کرایه وودمسجداومدرسې دخرڅولپاره وقف کړودې ته نژدې یوه بله شاړه مځکه دمسجداومدرسې لپاره وقف شته چې ورباندې بازارلګیږي اودهغه آمدني په یادشویومصرفونوکې صرفیږي آیادیاد شوې دکان بدلول یعنی دده په بدل کې که وقف کوونکی نوردکانونه ورکړي نوروادی ،که نه ؟(۱۳۴۰/۱۴۳۳هج)

خواب : کله چې زیددغه دکان دبدلولوله شرط پرته وقف کړی دی یعنی دوقف کولوپروخت يې دانه وویلې چې که زه وغواړم نوددې تبادله کولای شم نواوس دوقف کوونکې اومتولي لپاره داسي کول صحیح نه دي اودغه معاوضه اوتبادله جائزنه ده لکه چې تفصیل ددې په درمختاراوشامي کې بیان شوی دی فقط.

سوال : (۱۳۸) هنده اوطلحه په یوه کلي شربکاني دي ځندي خپله برخه دیوه مسجدد خرڅې لپاره وقف کړه دطلحې خاوندپه یوبل کلي کې دهمدومره بیې برخه لري اوپه هغه کې چې دطلحې دخاوندکوم شربک دی هغه دهمدې مسجدلپاره خپله برخه وقفول غواړي آیاپه شریعت کې به دارواوي چې هنده خپل وقف کړې برخه دطلحې دخاوندد بل کلي په برخه بدله کړي ترڅووقف شوی دواړې یوځای شي اوددې دخاوندبرخې یوځای شي ؟(۱۳۳۴-۳۳/۲۲۲هج)

خواب : له وقفولووروسته دارنګه تبادله صحیح نه ده هکذافی کتب الفقه.

صرف دوقف دنیت کوونکې لپاره وقف بدلول روانه دي

سوال : (۱۳۹) زیدیوه ټوټه مځکه چې ګټه له کاله دودیرش روپۍ راځي په دې تفصیل سره چې لس روپۍ دي دکلي په مسجدکې لګیږي اویوولس روپۍ دناوسواومسکینانو دماشومانوپه زدکړوکې اویوولس روپۍ دکونډو ،یتیمانوپه جاموا اونورو کې ولګول شي پخپل ژوند کې

(۱) الدرالمختار(۳، ۴۲۴، ۴۲۵) کتاب الوقف، مطلب فی استبدال الوقف وشروطه ط رشیدیه

دیادشوی یومصرفونو په نیت وقف وکړخودوقف په اړه کوم لیک نه دی لیکلی اوس زید غواړي چي له یادې شوې ټوټې څخه یوه غوره ټوټه چي زیاته آمدني لري دیادې شوې ټوټې پرځای وقف کړي داصورت جائزدی . که نه ؟ (۲۲۷/ ۳۵ - ۱۳۳۲هج)

ځواب : که یې په خوله تراوسه هیڅ نه وویلي اوپه ژبه یې وقف نه ووکړی چي مادمځکې فلانی ټوټه وقف کړه بلکي صرف نیت یې ووچي فلانی ټوټه دمځکې به په دې تفصیل سره وقف کوم نواوس دغه مځکه وقف شوې نه ده ددې پرځای بله مځکه وقفولای شي اوکه په ژبه یې دبدلولوله شرط څخه یې وقف کړي وه که څه هم لیکلې یې نه وونودغه مځکه دهمېشه لپاره وقف شوه اوس داپه خپل ملک کې نشي داخلولای هوداسي کېدای شي چي بله مځکه هم ددې سره وقف کړي دواړې به وقف شي خوداولې مځکې بیامالک نشي جوړېدای فقط.

دوقف کوونکې دشرط سره سم متولي وقف شوې شیان بل ځای نقل کولای شي

سوال : (۱۴۰) دزیدپه تولیت کې څه منقولي شیان باقي پاته کېدوونکې دخلګوداستفا دې وړده پلارخالدوقف کړې ووزیدخپل زوئ عمرددې وقف متولي جوړکړاودوقف پاڼه یې ولیکله دعالمانواودښاردقاضیانوپه تاپویې مکمله کړه وعمرته یې وسپارله اووقف شوې شیان یې دده وتولیت ته وسپارل څوکاله وروسته زیدوفات شوعمرمتولي دزیدله ژوندڅخه دوقف دشرطونوپوره خیال ساتی اوڅومره ګټه رسول چي دوقف شوې شیانوڅخه ممکن ووکول یې ددغه وقف په پاڼه کې دوقف دنورو شرطونولاندینې شرطونه هم دي چي لنډیزیې داسي دی.

۱ـ که ومتولی ته دزماني دپېښولو وطن څخه هجرت کول پېښ شي اودشیانودخوندي کېدوکوم دډاډورصورت متولي نه وینې نووقف شوې شیان دخپل ځان سره ساتلای شي.

۲ـ متولي دې دوقف شیان دخپل اطمینان په ځای کې چي چیري مناسب وګڼي هلته دې کښېږدي.

۳ـ دبل په تصرف کې ورتلوته دې هیڅکله نه پرېږدي.

اوس دزیداول متولی له وفاته نږدي دوه کاله وروسته عمردوهم متولي ددینې اودنیوی اړتیاوواو دزماني دپېښولو امله له وطن څخه مهاجرشواوپه بل ځای کې یې استوګنه خپل کړه متولي که دغه وقف شوې شیان پخپل وطن کې پرېږدي دخوندې کېدوهیڅ انتظام

Maktaba Tul Ishaat. com

داطمینان ورپیې په فکرکې نه راځي اونه څوک داسې داطمینان ورپوینې چې دښیانوخو ندي کېدل ووطن ته تربېرته راتلووسپاري اودغه رازدوقف شویوشیانوپه وطن کې له بندولوپرته دغلاله خطرڅخه نه پخپله استفاده کولای شي اونه دواړوته دګټې رسولو لپاره داطمینان ورکوم بندوبست کولای شي اماداستوګنې په ځای کې عمرمتولي ددښتولوکارونوانتظام په ښه ډول کولای شي په همدې وجه عمرمتولي دغه وقف شوې شیان دیادشویوشرطونوپه اساس آیاشرعًا دڅان سره ښوولای شي ،که نه؟اودخلګوخخه جوړېدل (کوموته چې په دې وقف کې دهیڅ ډول تصرف کولوحق نشته) آیااعتبارلري ؟ اوعمرکوم چې دپلاراونیکه څخه ددغوشیانومتولي راروان دی نېک ،صالح سړی دی دده درایې په خلاف دغه خلک ددغه وقف په انتظام کې لاس وهوونکې اومتولیان کېدای شي ،که نه؟(۳۲/۹۵۰-۱۳۳۳هج)

خواب : قال فی ردالمحتار: علی انهم صرحوابأن مراعاة غرض الواقفین واجبه (الشامی ۳/ ۴۱۴، کتاب الوقف) وفیه ایضا : فان شرائط الواقف معتبرة اذالم تخالف الشرع (الشامی ۳/ ۳۹۵کتاب الوقف) وفی ردالمحتارشرط الواقف کنص الشارع ای فی المفهوم والدلالة الخ قوله فی المفهوم والدلالة کذاعبرفی الاشباه والذی فی البحرعن العلامة قاسم فی الفهم والدلالة وهوالمناسب الخ(۱) (ردالمحتارص : ۴۱۲) وفی الدرالمختاروان وقف علی المسجدجازویقرء فیه ولایکون محصورًا علی هذاالمسجدو به عرف حکم نقل کتب الاوقاف من مخالهاللانتفاع بهاوالفقهاء بذلک مبتلون فان وقفهاعلی مستحقی وقفه لم یجزنقلهاوان علی طلبة العلم وجعل مقرهافی خزانته التی فی مکان کذاففی جوازالنقل ترددنهرقوله ففی جوازالنقل ترددالذی تحصل من کلامه انه اذاوقف کتباوعین موضعهافان وقفها علی اهل ذلک الموضع لم یجزنقلهامنه لالهم ولا لغیرهم وظاهره انه لایحل لغیرهم الانتفاع بهاوان وقفهاعلی طلبة العلم فلکل طالب الانتفاع بهافی محلهاوامانقلهامنه ففیه ترددناشئ مماقدمه عن الخلاصة من حکایة القولین من انه لووقف المصحف علی المسجدای بلاتعیین اهله ،قیل یقرء فیه ای

(۱) الشامی (۳: ۴۵۲) کتاب الوقف ، مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.

یختص بأهله المترددین الیه وقیل لایختص به ای فیجوزنقله الی غیره وقد علمت تقویة القول الاول بمامرعن القنیة وبقی مالوعمم الواقف بأن وقفه علی طلبة العلم لکنه شرط ان لایخرج من المسجداوالمدرسة کماهوالعادة وقدمناعندقوله ولایرهن عن الاشباه انه لوشرط ان لایخرج الابرهن لایبعدوجوب اتباع شرطه وحمل الرهن علی المعنی اللغوی تبعالماقاله السبکی ویؤیده ماقدمناه قبیل قوله والملک یزول عن الفتح من قوله ان شرائط الواقف معتبرة اذالم تخالف الشرع وهومالک فله ان یجعل ماله حیث شاء مالم یکن معصیة وله ان یخص صنفامن الفقراء وکذاسیاتی فی فروع الفصل الاول ان قولهم شرط الواقف کنص الشارع ای فی المفهوم والدلالة ووجوب العمل به قلت لکن لایخفی ان هذااذاعلم ان الواقف نفسه شرط ذلک حقیقة امامجردکتابة ذلک علی ظهرالکتب کماهوالعادة فلایثبت به الشرط وقداخبرنی بعض قوّام مدرسة ان واقفهاکتب ذلک لیعجل حیلة المنع اعارة من یخشی منه الضیاع والله سبحانه اعلم (۱) (ردالمحتارص: ۳۷۲)

وفی العالمغیریة : ثم فی وقف المصحف اذاوقفه علی اهل المسجدیقرؤنه ان یحصون یجوزوان وقف علی المسجدیجوزویقرء فی هذاالمسجدوذکرفی بعض المواضع لایکون مقصوراعلی هذاالمسجدکذافی الوجیزاللکردری واختلف الناس فی وقف کتب جوزه الفقیه ابواللیث وعلیه الفتوی کذافی فتاوی قاضی خان (۲) عالمغیریة)

له بیان شویوروایتونوځخه په څرګندتیاسره ثابت دي چي عمرمتولي دغه وقف شوي شیان بل ځای نقلولای شي بلکي دوقف کوونکي له شرط سره سم په یاده شوي صورت کي ضروري دی چي دغه شیان دخپل ځان سره خوندي کړي اوخلګوته ګټه ورسوي چي دوقف کوونکي غرض ببله دي نشي ترسره کېدای اودوقف کوونکي دغرض مراعات ساتل لازم اوواجب دي کمامرعن الدرالمختاروغیره دځینیوداسي خلګوخندجوړبدل کوم چي په دي وقف کي دتصرف کولوهیڅ اختیارنلري شرعًا اعتبارنلري اوعمرمتولي چي ورباندي دکوم ډول خیانت اوبې ځایه تصرف کولوالزام نشته دده په خلاف وهیڅاته ددغه وقف په انتظام کي هیڅ ډول مداخله کول روانه دي.

(۱) الدرالمختاروردالمحتار (۴۱۱/۳-۴۱۲) کتاب الوقف ، مطلب: من ذکرللوقف مصرفاط رشیدیه.

(۲) الفتاوی الهندیة ۳۲۱/۲ ،کتاب الوقف ، الباب الثانی فیمایجوزوقفه ومالایجوز.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوقف دتولیت مسئلې

متولي څوک کېدای شي

سوال: (۱۴۱) (الف) متولي څوک کېدای شي؟ (ب) دمتولي تروفات وروسته به اوس متولي څوک وي؟ (۳۲/۱۷۱۴-۱۳۳۳هج)

ځواب: (الف) کوم سړی چې امانتداروي اودتولیت کارونه ښه ترسره کولای شي هغه متولي کېدای شي اودوقف جائداد خرڅوونکی خائن دی دهغه عزل (ایسته) کول ضروري دي اودمتولي کېدوورنه دی (ب) کوم څوک چې په امانتداري سره دمتولي والي کارترسره کړي هغه دې متولي وټاکل شي-۱.

دوقف متولي جوړېدوحقدارڅوک دی؟

سوال: (۱۴۲) دیوه مسجدپه اړه ځومکانونه اوڅه بې کښته مخکه له پخواه څخه وقف دي زیددې مسجدلپاره مؤذن مقررشوده ددغه بې کښته مخکې پرڅه برخه باندې پخپل خرڅ دمسجددخرڅولواودثواب په نیت حجره جوړه کړه دوقف پانه یې په حکومت کې رسمي کړه اوپخپله یې خان ددې متولي وټاکی آیازید پردغومکانونواومخکه باندې دحجرې جوړولوپه وجه دمتولي کېدوحق ولاس ته کولای شي ،که نه؟ مسلمانان باید دداسي سړی سره څه عمل وکړي؟ دی متولي ساتلای شي ،که نه؟ (۳۵/۲۴۱-۱۳۳۶هج

ځواب: کوم څوک چې اصل وقف کوونکی اوباني دمسجددی دتولیت حق دهغه دی له ده وروسته دده دبچیانویاچې کوم څوک ده متولي جوړکړي وي هغه به دوقف کوونکې له شرطونوسره سم تصرف کوي زیددغومکانونواووقف شوې مخکې پخپله متولي نشي جوړېدای اوکومه ودانۍ چې زیدپروقف شوې مخکه جوړه کړه هغه واصل وقف ته ضم کیږي زیدکه نېک مسلمان دمتولي جوړېدوورو بولي اودی اهل ددې وي نوپه دې شرط چې له مخکې څخه کوم متولي نه وي متولي یې جوړولای شي اوکه

---

(۱) قال فی الإسعاف ولایولی الاامین قادربنفسه اوبنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظر ولیس من النظر تولیه الخائن لانه یخل بالمقصود وکذا تولیة العاجزلان المقصودلایحصل به (ردالمحتار (۳/۴۲۱) کتاب الوقف . مطلب فی شروط المتولی ط رشیدیه.

له ده څخه دمالک نه حیث دتصرف کولو اندپښنه وي اودخیانت شک وي نوکوم بل سړی چي دمتولي جوړېدووړاوامانتداره وي متولي جوړکړي فقط.

دوقف دمتولي جوړېدوحقدارخوک دی ؟

سوال : (۱۴۳) یوسړی خپله مځکه وقف کړه اودرسمي کولوکاغذونه یې دسنیانویعنی اهل السنة والجماعت په طریقه ولیکل وفات شواوس دغه مځکه دیوداسي ډلې په قبضه کې ده چي دځلورواماموانوخلاف ده نواهل سنت دځلورواماموومنوونکوته ویل کیږي که ونوروته اوددې وقف دځارنې اوتولیت حقدارجماعت اهل سنت دی کوم چي دځلورو اماموانورضوان الله علیهم اجمعین مقلدین اوپیروي کوونکي دي اوعقیدې ددوئ داهل سنت والجماعت له عقیدو سره سمې دي فقط.

دمسلمانانوډله متولي ټاکل صحیح دي

سوال : (۱۴۴) دمظفرنګراولسوال په کیرانه کلې کې له شاهي وخت څخه یومسجدجوړ شوی دی کوم چي یوې ښځې جوړکړی دی چي دمسجدسرای په نوم مشهوردی اوددە په اړه مکانونه اودکانونه دغرب ، جنوب ، اوشمال ولوروته دي اودباني له اولادې څخه له ډیرې مودې راهسي هیڅوک نه دی پاته اونه دامعلومه ده چي هغه څوک متولي مقررکړی وواوڅوک ،څوک ددې متولیان شوې دي اوروچي دده نوم مهرپروروپه کوم بازارکې چي مسجددی تراوسه دمهرآبادپه نوم مشهوردی کله چي دده دباني اودهغه دبچیانویو مخ نوم اونښان له یومودې څخه نشته ،څکه ددغه مسجدپه اړه وقف شوی جائدادمتولي له یوې مودې نژدې له څلوېښت ،پنځه څلوېښت کلونوراهیسي دارنګه چي دکیرانه کلې مسلمانان پخپل مینځ کې څوک ټاکي اوس په اخیرکې چودهری اوجلایوسړی متولی ووچي اندازالس کاله کیږي چي وفات شوې دي اودمسجددمصرفونوانتظام دکانونه اودکرایووصولول اونوریومخ بې نظمه اوخراب شول ،څکه نودکلې مسلمانانوپه محرم سنه ۳۲ه کې پنځه متولیان وټاکل متولیانوله همدې وخت څخه دده انتظام شروع کړاوددکانونودکرایې پانه یې ولیکله دکرایوپه پانوکې یې رجسټري کړه اوکرایه اخلي دمسجدپه مصرفونوکې یې لګوي یوهندوکرایه دارچي په قبضه کې یې دمخکني متولي

Maktaba Tul Ishaat. com

له وخت څخه دوه دکانونه وودیوبل په نوم له تاکلومتولیانوڅخه پرته دکرایې پاڼه ولیکله په حکومت کې رسمي کړه اوددسمبرپه میاشت میاشت سنه ۱۸ء کې متولیانوپردغه کرایه دارپه حکومت کې دیوسل اتیاروپیوعارضه (ددریوکلونودکرایې په هکله) وکړه دمدعی علیه وکیلانوپه محکمه کې دااعتراض وړاندي کړچې دعوی کوونکې متولیان خوجائزمتولیان نه دی په دې وجه دوئ ته دعارضې کولوواک نشته اوس پوښتنه داده چې پورتنی تاکنه دتولومسلمانانوله لورې شرعًا جائزده .که نه ؟ اوجمهوراهل اسلام شرعًا متولي مقررولای شي ،که نه ؟ (۱۳۳۷/۴۱۳هج).

ځواب : په ردالمحتارالمعروف بالشامی ددرمختارتردې قول ولایة نصب القیم الی الواقف ثم لوصیه الخ لاندې دارانقل کړی دی ثم ذکرعن التاتارخانیة ماحاصله ان اهل المسجدلواتفقواعلی نصب رجل متولیالمصالح المسجدفعندالمتقدمین یصح ولکن الافضل کونه باذن القاضی ثم اتفق المتاخرون ان الافضل ان لایعلموا القاضی فی زماننا الخ ـ ۱ له دې عبارت څخه معلوم شوچې کلبوال اوجمهوراهل اسلام متولي مقررولای شي اوددوئ تاکلی متولی کاردتولیت کولای شي اودوقف دګټوپه اړه چې کوم کارونه دوئ کړې هغه صحیح دي ،ځکه نوپه مسئوله صورت کې دنومورومتولیانودکرایې ولاس ته کولوپه اړه عارضه کول صحیح اوجائزدي اودغه متولیان جائزمتولیان دي اودمدعی علیه دوکېلانوعذرغلط اوباطل دی فقط.

آیاجمهوراهل اسلام دقاضي ځای ناستي دی ؟

سوال : (۱۴۵) مستړامیرعلی چې کوم دشرع محمدي په نوم کتاب لیکلی دی په هغه کې دی لیکي چې جمهوراهل اسلام ته هماغه اختیارات شته کوم چې قاضی نه وي اودعا لمګیر ي ته حواله ورکړې ده اوطبیب دده په خلاف کړې دي چې وجمهوراهل اسلام ته اختیارنشته (۱۳۳۷/۴۱۴هج)

ځواب : دمتولي جوړولوپه اړه خبره صحیح ده چې جمهوراهل اسلام اوکلبوال دمسجد متولي مقررولای شي اولکه څرنګه چې وقاضی ته دمتولي تاکلوواک شته په ځینې صورتونوکې وکلبوالواواهل اسلام ته هم شته نه داچې په ټولوکارونوکې جمهوراهل اسلام.

(۱) ردالمحتار (۳/ ۴۴۹) کتاب الوقف . مطلب الافضل فی زماننانصب المتولی بلااعلام القاضی الخ)

دقاضی په څیردی فقط.

دخانقاه اونوروتولیت دیوقوم اوکورنۍ سره ځانګړتیانلري

سوال: (۱۴۶) ددول زنانو قبضه له خانقاه څخه پورته کول پکاردي ،که نه ؟ ددې خای دعلماؤاتفاق دی چې ددول زنان اونورذلیله قومونه دمسجد یاخانقاه متولیان جوړول روانه دي ؟(۱۳۴۰/۱۴۴۰هج)

ځواب: متولي جوړېدل دکوم قوم اوکورنۍ سره خاص نه دی نوپه کوم چاکې چې دتولیت شرطونه یعنی امانتداري اونوروجودولري هغه متولي کېدای شي اودمتولي کېدوپه هکله دوقف کوونکې وشرطونوته هم اعتبارشته ددې په خلاف څوک متولي نه شي جوړولای فقط.

دوقف کوونکې اولاددمتولي جوړېدوزیات حقداران دي

سوال: (۱۴۷) عمریوکوچنی مسجدپراخ کړاوټول انتظامات ددغه مسجدپې دبل چاله مداخلې پرته پخپله دمتولي په حیث ترسره کول دارازځلورټوټې جائدادپې پخپل خرڅ تیارکړدامام اومؤذن دارتیاوولپاره وقف کړاودمسجدسائبان ، غولی اوخلوردبوالي پې جوړکړل اوحجره ،غسل خانه اونورې ټولې ارتیاوې دمسجدپې پوره کړې دعمرله وفات وروسته دده ښځې هندې اوزوئ خالدخپل وقف کړی جائداداوپراخ کړی مسجددمذهبي معاملوومحکمې ته وسپاری اولمسی احمدپې دخان سره کړهجرت پې وکړاوس دوقف کوونکې لمسی احمدپنځویشت کلونه په مدینه شریفه کې تېرکړوراغی اوددغه مسجدتولیت ببرته غواړي دی شرعًا ددې حقداردی ،که نه ؟(۱۳۴۷-۴۲/۲۷۰هج)

ځواب: قال فی الدرالمختار: البانی للمسجداولی من القوم بنصب الامام والمؤذن فی المختارالااذاعین القوم اصلح ممن عینه البانی الخ قوله : البانی اولی وکذاولده وعشیرته اولی من غیرهم-۱(ردالمحتارللشامی درییم ټوک) نومعلوم شوچې دوقف کوونکې لمسی په دې صورت کې ددغه مسجددمتولي جوړېدوحقداردی ومادام احدیصلح للتولیة من اقارب الواقف لایجعل المتولی من الاجانب(-۲)(درمختار)

---

(۱) الدرمع الرد(۳ ۴۵۴) کتاب الوقف قبیل مطلب فی تصحیح الاول الخ طرشیدیه.

(۲) الدرمع الرد (۳ ۴۵۰) کتاب الوقف . مطلب: لایجعل الناظرمن غیراهل الوقف طرشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمتولي اولادکه نه وي نودده له وفات وروسته به دوقف متولي څوک وي

سوال: (۱۴۸) زید دیوه مسجد لپاره څلورد کانونه وقف کړل بکریې ورمتولي کړده دوقف په دانه کې یې شرط ولګاووچې متولي دې دمسجد خرڅې پوره کوي او خپله ګذاره دې کوي اودغه حق دې نسل پرنسل جاري وي متولي یوه یې وارثه انجلی هنده نریبه کړه اودهغې په هکله یې وصیت وکړچې زمابرخای به دخدمتونو جاروو هلو اونورو حفداره وي اوددکان دکرایې له آمدني څخه به زمابه خیراستفاده کوي اوددې نکاح له عمرسره وشوه دعمرڅخه دهندې یوزوئ خالد پیدا شوعمربله نکاح وکړه دهغې دوهمې ښځې څخه یې درې زامن وشول عمراوهنده وفات شول دهندې اوعمرو اولادوته یعنی وخالداونوروته په دې تولیت کې کوم حق شته ،که نه ؟(۳۲/۱۷۴۴ ۱۳۳۳هج)

خواب: هندې اوددې خاوندعمراوددې زوئ خالداودعمردبلې ښځې څخه دنوروبچیانو لپاره دتولیت هیڅ شرط دوقف کوونکې له شرط سره سم نشته بکرمتولي که بې اولاده مړدی نودوقف کوونکې په نسل کې چې کوم څوک دتولیت وړاواهل وي هغه دې متولي وټاکل شي کنې مسلمانان اوکلیوال چې کوم څوک وړوبولي متولي دې مقررکړي.

دوقف کوونکې دبچیانوپرځای بل څوک متولي ټاکل

سوال: (۱۴۹) یوسړی مدرسه داسلام دزدکړې لپاره خلاصه کړه اوهغه وقف دده خومتولي یې دی پخپله دی اوددده له مرګه وروسته متولي دده زوئ دی اوس دی بدلوي بل ځای متولي جوړول غواړي نوآیادغه متولي نورخلګ جبراًبدلولای شي ،که نه ؟که څه حکم دی ؟(۲۵۰۳/۱۳۳۷هج)

ځواب: دفقهې په کتابونوکې دي چې وقف کوونکی پخپل ژوندکې پخپله متولي وي اوله ده وروسته دده په اولادواوقربیانوکې چې کوم څوک زیات وړوي هغه به متولي وي اودوقف کوونکې داولادواوقربیانوپه موجودیت کې بل څوک متولي نشي کیدای اماکه دنومورې متولي څخه کوم خیانت ثابت وي نوعام مسلمانان دې دی عزل (ایسته) کړي بل نیک اووړسړی متولي جوړولای شي فقط.

دوقف کوونکې دخپل زوئ پرځای داندبوال زوئ متولي جوړول

سوال: (۱۵۰) یوسړی خپل نیک زوئ پرپښوودخپل دوست زوئ متولي جوړول غواړي اومخکه وقفول غواړي دابه شرعًا رواوي .که نه ؟ اوددې ونیک زوئ ته دمتولي جوړیدو څه حق شته .که نه ؟ (۱۳۴۱/۱۲۰۲هج)

خواب: پوره عبارت ددرمختاردادي: ولایة نصب القیم الی الواقف ثم لوصیه الخ ثم اذامات المشروط له بعدموت الواقف ولم یوص لاحدفولایة النصب للقاضی اذلاولایة لمستحق الابتولیة کمامروماادام احدیصلح للتولیة من اقارب الواقف لایجعل المتولی من الاجانب الخ (۱) له دغه پوره عبارت څخه څرګندشوچي دمتولي جوړولوواک اصلاووقف کوونکې ته دی وقف کوونکی چي څوک متولي وټاکي هغه به متولي وي اوکه په آئنده کې هم کوم شرط اوترتیب دمتولي جوړیدوده بیان کړی دی نوپرمخ به هم دده له شرط سره سم عمل کیږي اوکله چي وقف کوونکی وفات شونوبیاوقاضی ته دمتولي جوړولواختیاردی خوقاضی نه پکاردي چي ترڅودوقف کوونکې په خپلوانوکې کوم څوک دمتولي جوړیدووړوی نوله پردیو څخه دې څوک متولي نه مقرروي نومطلب دعبارت څرګندشو.

دهدیړي دخرڅولولپاره دورکړې جائدادمتولي به څوک وي ؟

سوال: (۱۵۱) وښاغلي سید غلام قاسم صاحب قادري ته دسجاده نشینۍ په زمانه کې حکومت یوجائدادورکړدهغه دسندپه کتومعلومیږي چي دورکوونکي غرض دجائدادپه ورکولودمقبرې (هدیړي) دعود(لرګیواونورومصرفونه دي) نه دسید غلام قاسم ځاني مصرفونه له دې څخه معلوم شوچي دجائدادورکړه دمالک جوړولوپه توګه نه ده بلکي صرف پرخدمت باندي دمتولي په توګه ببله مالک جوړولوده.

بیادغه جائدادسره له سجاده نشینۍ اوټولواوقافوزماوپلارته نقل اووسپارل شوتریوزماني پورې جائداداونورزمادپلارپه قبضه کې ووزه لاتراوسه دموروپه نس کې وم چي زماپلارله دې جهانه ولاړله خپل وفات مخکې یې دخلګوپه مخکې دخپل پلارشریک وروړسید

(الدرمع الرد (۳ ۴۴۹ ۴۵۰) کتاب الوقف ، مطلب ولایة نصب القیم الی الواقف الخ ط رشیدیه

Maktaba Tul Ishaat. com

محمد مرتضی صاحب وصیت وکړچي که زمازوئ پیداشونودغه جائداد . سجاده نشیني اوټول اوقاف ودغه ماشوم بچي ته وسپاره نوزماناسکه اکاسید محمد مرتضی دغه وصیت قبول کړدخدای شان دی چي کله زه پیداشوم نواکامي فکروکړچي څه له غیب څخه راکول شوی دی هغه به تپروم .څکه پخپل خاني معتبري زماپه کوچني والي کې دوخت حاکمان دوکه کړل دخان اودخپلوزامنوپه نامه يې ددغه جائدادنوی سند جوړکړ صرف سجاده نشیني يې دپوهې په عمرراکړ. اوس دپوښتنې وړمسئله داده چي آیادوصي (چي ورته وصیت شوی وي) لپاره دوصیت کوونکې دوصیت په خلاف دارنګه بدلون کول څه وصیت پوره کوي یعنی سجاده نشیني ماته راکول اوځه وصیت دهیرپه تاخچه کې ښوول یعنی جائداداونورهضمول روادي .که نه ؟ اودوخت دحاکمانوپه دوکه خوړلودسید مرتضی په نوم نوی سند جوړول داعتبار وړدی ؟ اودغه نوی ورکړی دلمن کتب له اسمه فی الدیوان څه مصداق کیدای شي ؟ (۳۲/۲۰۰۵ - ۱۳۳۲هج)

خواب : کله چي ددغه جائدادله سندڅخه داثابت دي چي دغه جائداد دمعطی له (چاته چي ورکول شوی دی) ملک نه دی ګرځول شوی اوداوقف کړل شوی دی لکه چي له مخکښې کاغذونوڅخه کوم چي ددې په اړه راغلي دي ثابت دي .څکه چي حکومت صرف آمدني دیوځای مثلاً دخاصې هدیې دمصرفونولپاره تعین کړې دد چي دومره روپۍ آمدني دفلاني ځای دفلاني هدیې دخرڅولولپاره ورکول کیږي نوپه دې حال کې دغه جائدادوقف هم نه دی بلکي لکه څرنګه چي مخکې دباچایابیت المال ملک وواوس هم دی په داسي حال کې که دورکوونکي یاددې دمشراونواب له لورې ددې انتقال وکوم بل چاته.وشي ښکاره ده چي ددې له جائزکیدوڅخه هیڅ شی منع کوونکی نشته په همدې اساس کوم نوی سندچي دسید محمد مرتضی په نوم دحکومت له لورې ورکول شوهغه به معتبروي که څه هم سید مرتضی صاحب په دوکه کولوداسي وکړل دشامي په وقف کې راغلي دي: قال الشیخ قاسم ان من اقطعه السلطان ارضامن بیت المال ملک المنفعة بمقابلة مااعدله فله اجارتهاوتبطل بموته اواخراجه من الاقطاع لان للسلطان ان یخرجهامنه الخ-(۱) (ردالمحتار ۳/۳۹۲) فقط.

(۱) الشامی ۳۱ ۴۳۰) کتاب الوقف . مطلب مهم فی وقف الاقطاعات طرشیدیه.

دوقف کوونکې ښځه متولي جوړول

سوال : (۱۵۲) یوسړی یوجائدادوقف کړاوپخپل ژوندکې دی پخپله متولی وواودوقف په پاڼه کې یې لیکلې دي چې زماله انتقال وروسته چې کوم سړی دکورنۍ درې دینداره کسان متولي وټاکي هماغه به متولي وي اوس دنوموړی وقف کوونکې له مرګه وروسته عبدالحمیدچې دوقف کوونکې دوروړلمسی (دزوئ ،زوئ) دی متولي جوړېدل غواړي اونوموړی عبدالحمیددسودکاروبار کوي اوفرشونه اواروونکی هم دي اودوقف کوونکې دکورنۍ درې دینداره کسان دوقف کوونکې کورواالاکومه چې دیندارہ اوتهجد ګذاره ده متولیه جوړول غواړي په دې صورت کې دمتولي جوړېدوحقدارڅوک دی ؟(۳۲/۷۰۸- ۱۳۳۳هج)

ځواب : په دې صورت کې دمتولي جوړېدوحقداردوقف کوونکې ښځه ده دوراره زوئ کوم چې فاسق دی دمتولي جوړېدوورنه دی په شامی کې راغلې دي: قال فی الاسعاف ولایولی الامین قادربنفسه ، اوبنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظرولیس من النظرتولیة الخائن لانه یخل بالمقصودوکذاتولیة العاجزلان المقصودلایحصل به ویستوی فیه الذکروالانثی وکذاالاعمی والبصیرالخ (۱) له دې عبارت څخه څرګنددي چې په یادشوې صورت کې دوقف کوونکې کورواالادمتولیه جوړلوزیاته ورده اوزیاته حقداره ده بلکې ددې په موجودیت کې دنوموړي عبدالحمیدمتولي جوړول جائزنه دي اوداهم په شامي کې راغلې دي چې څوک متولي جوړېدل غواړي هغه دې متولي نه جوړول کیږي ، وقالو: من طلب التولیة علی الوقف لایعطی له الخ(۱)

ښځه هم داوقافومتولیه جوړېدای شي

سوال : (۱۵۳) دکورنۍ په ګډی اوداوقافوپه متولیانوکې صرف یوه ښځه هنده لمسی (دلور،لور) پاته شوې ده چې نسب یې په ستره اولاندي محکمه کې ثابت شوی دی اودمدعی علیه دجائدادغصب کوونکي غصبول محکمې هم منلې دي نودشرعې له مخې چې هنده دمسجدتولیت اونورحقوق ولاس ته کړي له خپل طرفه داوقافوپه اړه دکارونو بندوبست دکوم نارینه په وسیله کولای شي ،که نه ؟ اودمتولي جوړېدوحق دې ته شته ،که نه ؟(۳۲/۱۲۳۷- ۱۳۳۳هج)

(۱) ردالمحتار(۴۲۱/۳)کتاب الوقف ، مطلب فی شروط المتولی ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

ځواب : په درمختارکې راغلې دي : ومادام احد یصلح للتولیة من اقارب الواقف لایجعل المتولی من الامن جانب(۱) شرط الواقف کنص الشارع-۲ وفی الشامی قال فی الاسعاف ولایولی الاامین قادربنفسه اوبنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظروالیس من النظرتولیة الخائن لانه یخل بالمقصودوکذاتولیة العاجزلان المقصودلایحصل به ویستوی فیه الذکروالانثی وکذاالاعمی والبصیروکذا المحدود فی القذف اذاتاب لانه امین وقالوا: من طلب التولیة علی الوقف لایعطی له وهوکمن طلب القضاء لایقلدانتهی (۳) له دغوروایتونوڅخه څوخبرې ثابتې شوې لومړی داچې ترڅودوقف کوونکې له خپلوانو څخه کوم شخص دمتولي جوړولووړوي له پردیوڅخه دي ممتولي نه ټاکل کیږي دوهمه داچې دوقف کوونکې شرطونه په پام کې نیول ضروري دي دریمه داچې متولي دې امانتداروټاکل شي چې پخپله دغه کارپه امانت داری سره کولای شي یایې دخپل نائب په وسیله کولای شي الخ له دې وروسته یې وویل چې دمتولي جوړېدولپاره دنارینه څانګړتیا نشته ښځه هم متولیه جوړېدای شي که په دې کې دمتولي جوړېدوشرطونه موجودوي .ځکه چې داکاردتولیت دنورونارینووپه وسیله کولای شي اوکوم کارونه چې ددې دکولودي هغه پخپله کولای شي په پای کې یې داویلې دي چې څوک دمتولي جوړېدوغوښتنه کوي هغه د ې متولي نه جوړیږي اوپه هغه کې داتفصیل دی چې داحکم هغه وخت دی چې دوقف کوونکې له شرطونوسره سم دده دمتولي جوړېدودغوښتنې حق نه وي.

نابالغ متولي ټاکل

سوال : (۱۵۴) له دوومتولیانوڅخه یووفات شودوهم متولي کفایت کوي که دوفات شوې متولي پرځای بل متولي ټاکل ضروري دي که ضروري دي نوددې نابالغ زوئ متولي کېدای شي .که نه ؟ (۲۱۷۵/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : دوفات شوې متولي پرځای بل متولي ټاکل دوقف کوونکې له شرط سره سم ضروری دی اونابالغ.

---

(۱) الدرمع الرد (۳، ۴۵۲) کتاب الوقف . مطلب لایجعل الناظرمن غیراهل الوقف ط رشیدیه (۲) الدرالمختارمع الشامی کتاب الوقف . مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه (۳) ردالمحتار(۳ ۴۲۱) کتاب الوقف مطلب فی شروط المتولی ط رشیدیه

متولي نشي کېدای دده ترېالغېدودي بل څوک متولي وټاکل شي فقط.

دورونوپه موجودیت کې خوریاخورېيي ،خرڅه متولیان کېدای شي ،که نه ؟

سوال : (۱۵۵) دورونوپه شتون کې که خور،خورېيي ، خورڅه متولي شي دکوم مامورپه وسیله ددرګاه یامسجدکارونه ترسره کولای شي ،که نه ؟ (۱۷۸۲/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : دمتولي جوړېدوپه هکله دوقف کوونکې له شرطونوسره سم عمل کېږي که وقف کوونکی په نارېنه اولادوکې دتولیت شرط لګولی دی نوتولیت به ددوئ وي اوکه يې مطلقاپه اولادوکې دتولیت شرط لګولی وي نوښځې هم په دې کې داخلې دي لنډه داچي کوم قیدونه اوشرطونه دوقف په پاڼه کې لیکل شوې دي دهغوئ سره سم به عمل کېږي.

چي دچاورونه فاسقان وي دهغه متولي جوړول

سوال : (۱۵۶) دکوم سړی چي سکه ورونه لمونځ پرېښوونکې و زناکاران ، رشوت خواره اودغلامال ددوئ په شناخت خرڅېږي اورانیول کېږی دصحیح اورښتنې مسلمانانوپه موجودیت کې له داسي کسانوڅخه څوک دمتولي جوړولووړدی ،که نه ؟(۲۴۴/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : الله رب العزت وایي: ولاتزروازرة وزراخری (۱) چي هیڅوک دبل په ګناه نه نیول کېږی نودورونودبې دینۍ په وجه پرده مواخذه نشته.

داړېکي پرېکوونکې متولي جوړولوحکم

سوال : (۱۵۷) که دکوم مسلمان سره یوسړی اتفاقاجګړه وکړي بلکي له دواړولوروخبره تروهلوورسیږي په دوئ کې یوسړی بیاپوهه شي دپنځوسووکسانوپه مخکې دالله اودالله درسول صلی الله علیه وسلم واسطه ورکوي معافي غواړي اوډیره زیاته عاجزي کوي بیاهم هغه دوهم سړی نه راضي کېږي اوپه محکمه کې په رشوت ورکولودې مسلمان ته دزیان رسولواراده لري داسي سړی دمسجددمتولي جوړېدووړدی ،که نه ؟(۲۴۴/ ۱۳۳۷هج)

(۱) سوره بنی اسرائیل آیت: ۱۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب : په حدیث شریف کې راغلي دي: لایحل للرجل ان یهجر اخاه فوق ثلاث لیال یلتقیان فیعرض هذا ویعرض هذا وخیرهما الذی یبدء بالسلام (۱) په بل روایت کې راغلي دي: لایکون لمسلم ان یهجر مسلما فوق ثلاثة فاذا لقیه سلم علیه ثلاث مرات کل ذلک لایرد علیه فقد باء باثمه (۲) له دغو روایتونو څخه معلوم شو چې په دوئ کې کوم پښیمان شو او بخښنه یې وغوښته هغه غوره دی او هغه له ګناه پاک شو او چا چې معاف نکړه هغه ګنهګار پاته شو او وبال دده پرغاړه دی نو رداوجه دمتولي جوړېدو څخه دناوړ نیایا عزل کولو نشي کېدای ددې اساس پرنورو کارونو امانت . خیانت . عجز او نه عجز او نو روباندې دی فقط.

خپلې لورته واده نه ورکوونکي متولي جوړول

سوال : (۱۵۸) یو سړی دمسجد متولی دی دده په کورکې یوه نجلی ده کومه چې دده داخښی (دښځې ورور) ده کله چې ده ځینې راوړې وه نو دا دپنځو یا شپږو کلونو وه اوس ددې عمر ۲۲ یا ۲۷ کاله دی نه ددې واده کوي اونه کوزده دادروژو اولمانځه پابنده ده آیا دی دمسجد دمتولي جوړېدو وړدی ،که نه؟ (۱۷۸۱/ ۱۳۳۸هج)

خواب : دمتولي جوړېدو په اړه شرعي حکم دادی چې متولي باید داسي شخص وتاکل شي کوم چې امانتداروي اودتولیت کار په امانتداري سره ترسره کړي خیانت ونکړي نو که په یادشوي شخص کې دغه صفتونه وجود ولري نو دعزل وړنه دی کنې دعزلولو وړدی.

دښاردقاضي پخپله متولي جوړېدل صحیح نه دي

سوال : (۱۵۹) دماروا رپه یوښارکې جامع مسجد له شاهې زمانې څخه جوړشوی دی دښارقاضی خپل ځان متولي بولي حال دا چې دده سره دمتولي کېدو هیڅ ثبوت نشته په اسنادوکې صرف دومره حکم شته چې دجمعې اواخترونولمونځونه دی قاضی ورکوي نه ترننه دښارتولومسلمانانومتولی تاکلی دی اوس دښارقاضی دخپل تولیت دقانمولو په غرض دکمپنۍ پرممبرانو (غړیو) دعوی کړې ده چې زه متولي یم اوپردغه جامع مسجد اودده پردکانونوزمورحق داري ده اوپه اوس کې دښارډیرمسلمانان دځان ملګري کړل امضاګاني یې تړې واخستې پخپل

(۱) مشکوة: ص ۴۲۷. باب ماینهی عنه من التهاجروالتقاطع واتباع العورات.

(۲) مشکوة المصابیح (۴۲۸). باب ماینهی عنه الخ.

ثبوت کې پېښې کړي په دې صورت کې شرعي حکم څه دی ؟ (۱۰۴۴/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : کوم شخص بې دوقف کوونکې له متولي جوړولو یادهغه دوصي یاحاکم اونورومتولي نشي کېدای نوقاضی دښارکوم چې امام دجامع مسجددی اونکاح ترل اونوردده په ذمه دي دی بې دوقف کوونکې له شرطولومتولي نه دی په درمختارکې راغلې دي: جعل الواقف الولایة لنفسه جازبالاجماع وکذالولم یشترط لاحد فالولایة له عندالثانی وهوظاهرالمذهب الخ (۱) وفیه ایضا ولایة نصب القیم الی الواقف ثم لوصیه الخ (۲) اوشامی له بحرڅخه رانقل کړې دي چې که اهل دمسجداتفاق وکړي دیوچاپر متولي جوړولونوهغه متولي ګرځي ثم ذکرعن التاتارخانیة ماحاصله ان اهل المسجدلو اتفقواعلی نصب رجل متولیالمصالح المسجد فعندالمتقدمین یصح ولکن الافضل کونه بأذن القاضی ثم اتفق المتأخرون ان الافضل ان لایعلمواالقاضی فی زماننالماعرف من طمع القضاة فی اموال الاوقاف الخ (۳/ ۴۰۹، کتاب الوقف) (۳) له دې روایت څخه معلوم شوچې که کلپوال اتفاق وکړي یونېک سړی متولي وټاکي نوهغه هم متولي ګرځي نوڅوک چې نه وقف کوونکې متولي جوړکړی دی اونه حاکم متولي ټاکلی اونه دښاروالاوواوکلپوالوپه اتفاق سره متولي ټاکلی هغه متولي نه دی دده دمتولي کېدود عوی باطله ده فقط.

سوال : (۱۲۰) (الف) که څوک قاضی نکاح تروونکی ، دجمعې اواخترونو دلمونځونو امام وټاکل شي نوپه دې سره دی دجامع مسجداودهغه ددکانونومتولي ګرځي ،که نه ؟

(ب) دنکاح ترلواوامامت په وجه هغه قاضی دمتولي جوړېدوحقدارکېدای شي ،که نه ؟ دښارقاضی دغه دعوی دجامع مسجدپه کمېټی والوکوي داصحیح دی ،که نه ؟ (۱۱۲۴/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : (الف) وچاته دجمعې اواخترونودلمونځونوپه اجازه کولواودنکاح ترل دهغه په سپارلودی دجامع مسجداودهغه ددکانونومتولي نه ګرځي په درمختارکې راغلې دي ولایة نصب القیم الی الواقف ثم لوصیه لقیامه مقامه الخ (۴) وفی الشامی: قوله ولایة نصب القیم الخ قال

(۱) الدرمع الرد (۳: ۴۲۱) کتاب الوقف مطلب فی اشتراط الواقف الولایة لنفسه ط رشیدیه. (۲) الدرمع الرد (۳/ ۴۴۸) کتاب الوقف. مطلب ولایة نصب القیم الی الواقف الخ ط رشیدیه.

(۳) الشامی (۳: ۴۴۹) کتاب الوقف. مطلب الافضل فی زماننانصب المتولي الخ ط رشیدیه.

(۴) الدرو الرد (۳ ۴۴۸). کتاب الوقف. مطلب ولایة نصب القیم الی الواقف الخ ط رشیدیه

Maktaba Tul Ishaat .com

فی البحر قدمنا ان الولایة للواقف ثابتة مدة حیاته وان لم یشترطها وان له عزل المتولی وان من ولا ه لایکون له النظر بعد موته ای الواقف الا بالشرط علی قول ابی یوسف رحمه الله (۱) ثم ذکر عن التاتارخانیة ماحاصله ان اهل المسجد لو اتفقوا علی نصب رجل متولیا لمصالح المسجد فعند المتقدمین یصح الخ (۲)

(ب) په دې وجه یعنی دجمعې اواخترونو دلمونځونو ورکولو اودنکاح ترلوپه وجه دښاروقاضی ته دجامع دمتولی جوړېدواودهغه دوکانونوهیڅ حق نشته اودجامع پرکمیټی باندې دی هیڅ حق ددعوې نلري فقط.

کوم شخص دمتولي کېدودعوی له ځانه نشي کولای

سوال: (۱۲۱) دکوم وقف مالا دمتولی کېدودعوی یوسړی له ځانه کولای شي که چې کله ټول قوم دی وټاکي؟ (۱۳۲۷/۴۲-۱۳۴۷ه ج)

خواب: وقف کوونکی یاواکمن خلک چې څوک متولي وټاکي هماغه متولي کېدای شي صرف دمتولي کېدودعوی کول کفایت نه کوي اماکه دوقف کوونکې له لورې دمتولي کېدولپاره څوک مشخص شوی نه وي نودوقف کوونکې وارثان په دې شرط چې اهل وي زیات حقداران دي.

دامام دښځې اولورېښځه متولي جوړېدل

سوال: (۱۲۲) دمسجد امام وفات شواوس دده ښځه اولورخپل ځانونه متولیان بولي اودمسجد دد کانونوکرایې اخلي اودمالک په حیث دقبضې کولودعوی کوونکې دي اودوقف شویودکانونوکرایې پخپلوځاني کارونوکې لګوي کلبوال دوئ لیري کولای شي ،که نه؟ (۱۷۴۹/۴۲-۱۳۴۷هج)

خواب: دمسجد دامام ښځه اولورمتولیانې نشي کېدای اودمسجد دوقف شویو دکانونو کرایه په خپل ځاني کارونوکې لګول په هیڅ ډول روانه دي نه ومتولي ته اونه وکوم بل چاته کلبوال شرعًا داحق لري چې دوئ دوفات شوې امام ښځه اولوردمسجد له متولي والې څخه کوم چې په نارواد وئ پخپلولاسونوکې اخستی دی لیري کړي دیندار ه اودشریعت پیروی متولي وټاکي

(۱) الدرو الرد (۳ ۴۴۸) کتاب الوقف . مطلب ولایة نصب القیم الی الواقف الخ ط رشیدیه
(۲) رد المحتار (۳ ۴۴۹) کتاب الوقف مطلب الافضل فی زماننا نصب المتولي الخ ط رشیدیه

په درمختار کې راغلې دي الوقف لایملک ولایملک (۱)

موجوده متولي که نېک اوامانتداروي نوهم دی صحیح دی

سوال : (۱۲۳) حالامتولي باني اووقف کوونکی هم دی اودلمانځه پابنداو دیندارډی دمسجد حساب . کتاب ډیرصفادی دمسجدامام دمتولي ددښمنی په وجه خوخلک دخان ملګرې کړل دمسجدمتولي والی د دغه حالامتولي له لاسه باسي داراکینو (غړیو) په لاسونوکې یې ورکول غواړې آیاهغه زوړمتولي کافی دی که واراکینوته اړتیاشته ؟ اومتولي درې مکانونه هم دمسجدلپاره جوړکړې دي ؟ (۱۱۷۲/ ۴۴ - ۱۳۴۵هج)

ځواب : حالامتولي کوم چې بانی اووقف کوونکی دمسجداودمسجددکانونودی کله چې دی نېک ،صالح اوامین دی نوهم دی به متولی وي کذافی الدرالمختاروالشامی والاسعاف فقط.

دمتولي واکمني

سوال : (۱۲۴) (الف) دمسجدمتول دامام اومؤذن دعزل (ایستلو) اوټاکلوواک لري ،که نه ؟

(ب) دمسجدپه اوقافوکې دمسجددارتیاوودپوره کولولپاره متولي له اړتیاسره سم تصرف کولای شي ،که نه ؟

(ج) داختیاراوواک په صورت کې که یوځومخالفین دشرارت په وجه څه مخالفت وکړي نوحق دمتولي کېدوباطلېدای شي ،که نه ؟ (۸۸/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: (الف) دمسجدوبانی اومتولي ته دامام دعزل (ایسته کولو) اوټاکلوواک شته.

(ب) تصرف کولای شي (ج) ترځوچې دمتولي خیانت ثابت نشي ترهغودی له متولي کېدوځخه معزولول صحیح نه دي فقط.

دمتولي له شرعي واک ځخه زیاتوب کول

سوال : (۱۲۵) (الف) دکلې دمسجدمتولي زیددی زیدمسجدخپل ملک بولې پرلمونځ کوونکونارواافشاراچوي ؟

(۱) الدرمع الرد (۴۰۲/۳) کتاب الوقف قبل مطلب فی شرط واقف الکتب ان لاتعارالابرهن ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

(ب) دماخستن له لمانځه وروسته که کوم لمونځ کوونکی څه ویل غواړي نو هغه له مسجد څخه باسي.

(ج) کلپوال په مسجد کې د قرآنکریم دزدکړې لپاره مدرسه جاري کول غواړي خودی یې نه پریږدي (د) سره له دې چې سربیره ځای وي په ګرمی کې لاندی لمونځ په خلګو کوي چې ورځخه لمونځ کوونکې ډیر په تکلیف وي.

(هه) سره له دې چې پوزی اودری ښې دي خوهغوی یې بندوی اوپرزړواوخرابوشویو پوزیوباندي چې ورځخه بوی راځي په خلګو لمونځ کوي.

(و) په مسجد کې یې داسي سړی امام ټاکلی دی چې دکلپوالوخوښ نه دی اوسزاګاللې هم دی په داسي صورت کې دلمونځ کوونکولمونځ په دغه مسجد کې کیدای شي ،که نه؟ که کلپوال له متولي څخه غوښتنې ونکړي نوګنهګاران خوبه نه وي؟ (۱۴۴۷/۳۳۰۷).

ځواب: (الف اوب) دمسجد دمتولي لپاره داسي کول ناروادي اوکوم څوک چې په مسجد کې څوک له ذکرکولو منع کړي هغه چاته الله تعالی په قرآنکریم کې ډیرلوی ظالم ویلې دي کماقال اللہ تعالی [ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان یذکر فیها اسمه وسعی فی خرابها (الآیة)] (۱)

(ج) وهلکانوته به مسجد کې تعلیم ورکول مکروه دی ،ځکه نوپه دې اړه منع کوونکی پرحق دی قال علیه الصلوة والسلام: جنبوا مساجدکم صبیانکم ومجانینکم (۲)

(هه) کله چې دغه پوزیانې پاکې دي نولمونځ وروباندي کول روادي خوپرمتولي لازم دي چې دلمونځ کوونکودهوسایني اوآرام خیال وساتي.

(و) که په امام کې کوم عیب وي چې له امله یې لمونځ کوونکې دده له امامته کرکه کوي نوده لپاره امام کېدل مکروه دي خولمونځ په ده پسي اداکیږي اوکه ببله کومې وجې لمونځ کوونکې له ده څخه

---

(۱) سورة بقرة آیت ۱۱۴.

(۲) عن واثلة بن الاسقع ان النبی صلی الله علیه وسلم قال جنبوا مساجدکم صبیانکم ومجانینکم وشراءکم وبیعکم وخصوماتکم ورفع اصواتکم واقامة حدودکم وسل سیوفکم واتخذوا علی ابوابها المطاهر وجمروها فی الجمع (سنن ابن ماجه: ۵۴، باب مایکره فی المساجد)

ناراضه دی نوقصوردلمونځ کوونکودی لمونځ په ده پسي ببله کراهیة جائزدی اوکوم څوک چي په کرم جرم کې سزاشوې دي اوهغه سزاګاللې ده په هغه پسي وروسته له توبه کښوببله کراهیته لمونځ روادی په هرحال لمونځ په دغه مسجد کې روادی اودمطالبې اوغوښتنې نه کولوپه وجه لمونځ کوونکې نه ګنهګاریږي اودمتولي لپاره هم له خپلوشرعي اختیاراتوڅخه زیاتوب نه دي کول پکارفقط.

فاسق ، فاجردمسجدمتولي کېدای شي ،که نه ؟

سوال : (۱۲۶) یوسړی نړدې په جامع مسجد کې اوسیږي اوپه فسق اوفجور ، شرابو څښلواوهلک بازی باندي اخته دی اوهرسړی دده په ناوړه اعمالوخبردی ،خکه چي یادشوې اعمال په ډاګه کوي اوپیره هم خرڅیي داسي سړی دجامع مسجد متولي پاته کېدای شي ،که نه ؟ اوله داسي چاسره اړیکې ساتل روادي ،که نه ؟ (۱۰۷۰ ۳۳ - ۱۳۳۴ه

خواب : دمتولي اومهتمم لپاره داشرط دی چي هغه دتولیت کارپخپله یاپه وسیله دنورو خلګوپه ښه توګه کولای شي اوخائن نه وي اودفاسق متولي اومهتمم جوړول وړنه دی اوڅرګندونه ددئ چي ببله شرعي شاهدی په سترګولیدلې داسي تورونه پرکوم مسلمان بایدونه لګول شي اوپه شرعي شاهدي دداسي کارونوثابتېدل خوډیرګران دی ،خکه نوتورلګوونکې دحد ، تعزیراوګناه وړګرځي فقط.

په محرم کې رقص کوونکي دمسجدمتولي نشي کېدای

سوال : (۱۲۷) کوم سړی چي دخپلوشاګردانوسره په محرم کې رقص اواتڼ کوي دډول اویاجې سره اوړي اورقص کوونکی اوبیرغونووالا دی خپل استادبولې نوداسي شخص دمسجد متولي کېدای شي ،که نه ؟ اودغه سړی داسلام له ارکانو ناخبره دی ؟(۳۲/۸۸۸ - ۱۳۳۳هج)

خواب : داسي شخص دمتولي ساتلووړنه دی دی له متولی والې لیري کړئ کوم صالح ،امانتدارسړی منولي جوړکړئ.

شیعه دسنیانومتولي نشي کېدای

سوال : (۱۲۸) یوشخص دحکومت له لورې دکوم مسجدداوقافومتولي وټاکل شوچي کوم حنفي مذهب وواوله اهل سنت والجماعت څخه ووتریومودې پورې تولی دده په اولادوکې وه اوس دنومورې متولي اولادشیعه ګان شوې دي اوپه مسجد کې ټول مقتد

Maktaba Tul Ishaat.com

یان سنیان دي په دې صورت کې دشیعه عقیدې دخطیب یاامام اطاعت اواقتداء روادہ ،که نه ؟ اوکه دحکومت داسنادوپه وجه کوم چې دده سره دي دعوی دخطابت اوامامت وکړي دغه دعوی یې اوربدل کیږي ،که نه ؟ (۱۲۰/ ۱۳۳۵هج)

خواب : دفقهې په کتابونوکې څرګندونه ده : مراعاة غرض الواقفین واجبة (۱) نوښکاره ده چې اهل سنت والجماعة والادشیعه مذهب شخص متولي ،امام اوخطیب نشي تاکلای ،ځکه نومذهباشیعه سړی دتولیت اونورهیڅ حق نلري اودعوی دده باطله ده اونه اوربدل کیږي فقط والله اعلم.

سودخوراورشوت خورداوقافومتولي یامهتمم جوړول

سوال : (۱۷۹) سودخوراورشوت خورداوقافومتولي اومهتمم جوړول روادي ،که نه ؟ (۱۱۱۲/ ۱۳۴۳هج)

خواب : که دی دوقف په آمدني کې خیانت نه کوی اودوقف په مال کې دده کوم خیانت کول ثابت نه وي نوداسي سړی دمسجد ، مدرسې اونورومتولي اومهتمم کېدای شي اوپاتېدای شي ،ځکه دخائن تولیت فقهاؤمنع کړی دی خوښه به داوي چې داسي سړی متولي جوړنکړل شي چې سودخوري یارشوت اخلي وکوم نېک سړی ته دې دغه دخیرکار وسپارل شي.

جوارګر (خمارګوونکي) داوقافومتولي اوناظم تاکل

سوال : (۱۷۰) یوسړی سره له دې چې مسلمان دی دعوی کوي چې زه دخمارکارچي زیاتره دوریجود تجارت په اړه په رانیولواوخرڅولوکې دبایللواوګټلوپه توګه وي کوم اوخمارکول زماکاردی داسي سړی ته په کومه مذهبي معامله کې واک ورکول اوداوقافو متولي یاناظم اونورجوړول شرعًا څرنګه دي ؟ (۱۱۲۳/ ۱۳۴۳هج)

(۱) ردالمحتار (۳ ۴۲۴) کتاب الوقف ، مطلب مراعاة غرض الواقفین واجبة الخ ط رشیدیه.

خواب : په درمختارکي راغلي دي: وينزع وجوبًا (بزازية) لوالواقف (درر) فغيره بالاولى غيرمأمون اوعاجزًا اوظهربه فسق كشرب خمرونحوه فتح اوكان يصرف ماله في الكيميا . الخ وان شرط عدم نزعه الخ (۱) اوعلامه شامی له اسعاف څخه رانقل کړي دي قال في الاسعاف ولايولى الاامين قادربنفسه اوبنائبه لان الولاية مقيدة بشرط النظروليس من النظرتولية الخائن لانه يخل بالمقصودوكذاتولية العاجزلان المقصودلايحصل به الى ان قال وقالوا: من طلب التولية على الوقف لايعطى له وهوكمن طلب القضاء لايقلداه والظاهرانهاشرائط الاولوية لاشرائط الصحة الخ وان الناظراذافسق استحق العزل ولاينعزل كالقاضى اذافسق (۲) له دغوعبارتونوڅخه څرګندشوچي داوقافودتوليت لپاره دي داسي شخص انتخاب شي چي نېک اوامانتداره وي اودتوليت كارنبه كولای شي اوداسعاف له عبارت څخه په څرګنده توګه داهم معلوم شوچي اصل دتوليت په باب كي دمتولي امانتدارکېدل اودتوليت پرکارقادرېدل دي اوداهم ظاهرشوچي داشرطونه داولى والي دي كه كوم متولي فاسق شونوهغه ورډعزل دى خوعزل نشودارازكه دتوليت غوښتوونكى متولي جوړكړي نوپه هغه كې ددغوشرطونوكېدل غوره دي خوكه كوم سړى له مخكې څخه متولي دى نوترڅوچي دوقف په مال كې له ده څخه خيانت ښكاره نشي اوداوقافوپه مصرفونوكې بدنظمي ځيني ثابته نشي ترهغوى دى نه عزل كيږي لكه چي په درمختاركې راغلي دي: فلومأمونالم تصح تولية غيره الخ (۳) اوپه شامی كې دي لايجوز للقاضى عزل الناظرالمشروط له النظربلاخيانة ولوعزله لايصيرالثانى متوليا الخ وذكرالمرحوم الشيخ شاهين عن الفصل الاخير من جامع الفصولين اذاكان للوقف متول من جهة الواقف اومن جهة غيره من القضاة لايملك القاضى نصب متول آخربلا سبب موجب لذلك وهوظهورخيانة الاول اوشئ آخرآه قال وهذامقدم على مافى القنية الخ وكذا الشيخ خيرالدين اطلق فى عدم صحة عزله بلاخيانة الخ(۳) (شامی ۳/ ۳۸۲)

---

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۳/ ۴۲۱) كتاب الوقف ، مطلب يأثم بتولية الخائن ط رشيديه.

(۲) ردالمحتار(۳/ ۴۲۱) كتاب الوقف ، مطلب فى شروط المتولى ط رشيديه.

(۳) الدرمع الرد (۳/ ۴۲۲) كتاب الوقف ، مطلب فى عزل الناظرط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه داچي له دغو عبارتونو څخه څرګنديږي چي کوم متولئ ببله خيانت کولونشي عزل کيدای اواصل په توليت کې همدادی چي امانتداروي اودوقف مال ضائع کوونکی نه وي ، اوفسق ته چي کوم دعزل باعث وويل هغه په هم دې وجه دی چي دوقف دمال ضايع کيدووبره وي لکه چي ددرمختارله عبارت څخه اويصرف ماله فی الکيمياء اونورو څخه څرګنديږي فقط.

الجواب صواب : واقعتا دمسجدونواواوقافودتوليت لپاره ديندارواوامانتدار شخص لازم دی خودتوليت رکن همدغه دی چي په سپارل شويو کارونوکې خيانت نه کوي لکه چي په باب دشهادت اوعدالت کې له امام ابويوسف رحمه الله څخه روايت دی چي دمروت والاشهادت دې قبول کړل شي يعنی چي دخپل حيثيت په وجه دروغ نه وايي له نورو شرطونو څخه دې ستړګې پټونه وشي په همدې اساس که کوم متولي خائن نه وي نوهغه نشي عزلولای دعدالت په باب کې پرهمدارنګه خبروتعامل اوعمل جاري دی محمدانورعفی الله عنه.

الجواب صحيح: خاکسارسراج احمدرشيدی الجواب صحيح: بنده محمدمرتضی

الجواب صحيح: بنده محمدشفيع الجواب صحيح: ميرک شاه

الجواب صحيح: بنده محمداعزازعلی الجواب محمدرسول خان

شرابي اوزناکارمتولي اوپښواجوړول

سوال : (۱۷۱) يوسړی مشهورشراب خور اوزنا کاردی اودخپل زوئ روزنه په رنډی خانه کې کوي نودی دمسجدمتولي جوړول اودجرګې په مجلس کې مشرجوړول روادي ،که نه ؟ (۴۴/۴۵۳-۱۳۴۵هج)

ځواب : دچادمتولي دجوړولولپاره داشرط دی چي خيانت کوونکی نه وي اودتوليت کارپخپله يادخپل ځای ناستي په وسيله ترسره کولای شي نوکه په کوم چاکې داخبره وجودلري نودی دمسجداونورومتولي کيدای شي خومناسب دادی چي فاسق و شراب خوراوزناکاردمسجداونورومتولي جوړنکړل شي اودکوم مجلس مشراومقتداجوړنکړل شي ،ځکه چي په دې کې دده تعظيم دی اودفاسق سپکاوی لازم دی اودرناوی دده حرام دی کماحققه الشامی فی علة کراهة امامة الفاسق(۱)

(۱) واماالفاسق فقدعللواکراهة تقديمه بانه لايهتم لامردينه وبان فی تقديمه للامامة تعظيمه وقدوجب عليهم اهانته شرعًا (ردالمحتار کتاب الصلوة ، قبيل مطلب: البدعة خمسة اقسام طرشيديه.

غصب کوونکي وشرابي اوخائن دمسجدمتولي جوړول

سوال: (۱۷۲) زیدنه دشرعي پابنددی اونه احتیاط کوونکی ،بلکي دمسکینانو مال غصبوي . شراب خوري . دمسجدونواوعام دخیردکارونولپاره چنده کوي اوزیاتره برخه خوري اودده دخیانت ثبوت دشرعي قاعدې سره سم موجوددی . سره له دې دغه سړی دیوه مسجدمتولی جوړیدل غواړي خلک خپل عزت اوآبرو په خاطرویریږي په داسي صورت کي دده متولي جوړول جائزدي اوکنه ؟ دمسجدپه اړه یوه نوبه مخکه چي نژدې پنځلس ،شپاړس زره بیعه لري ودې ته هم نیت خراب دی (۱۷۷/ ۱۳۳۷هج)

خواب: په شامی کي له اسعاف څخه نقل شوی دی ولایولی الاامین قادربنفسه اوبنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظرولیس من النظرتولیة الخائن لانه یخل بالمقصودالخ (۱) (۳/ ۳۸۵) یعنی حاصل دادي چي متولي اومهتمم دې نه جوړول کیږي مګرامانتدارسړی کوم چي پخپله یادکوم نائب په وسیله په امانتداري سره دتولیت نظم اوکارکولای شي .ځکه چي متولي جوړول اوداوقافونظم چاته سپارل مقیددی په دې شرط سره چي دوقف ګټه وي وي اوآمدني دوقف په مصرفونوکې په احتیاط اوامانت داړي سره صرفیږي اودوقف مراعات اوځارنه په دې کي نشته چي خائن متولي وټاکل شي .ځکه چي داکار په مقصدکي خلل راولي.

خائن سړی دوقف متولي جوړول صحیح نه دي

سوال: (۱۷۳) خائن سړی متولي جوړول روادي ،که نه ؟ اوکوم څوک چي دده په متولي جوړولوکي کوشش وکړي دهغه څه حکم دی ؟ (۳۲/۷۷۱ - ۱۳۳۳هج)

خواب: فاسق اوخائن متولي جوړول جائزنه دی بلکي که خائن سړی له مخکې څخه متولي وي نوهغه دې لیري کړل شي نوکوم خلک چي دخائن په متولي جوړولوکې کوشش کوي هغوئ هم عنداللہ خائنان اوګنهګاران دي اودګناه په کارکي مرسته ګناه ده قال اللہ تعالی: [وتعاونواعلی البروالتقوی ولاتعاونواعلی الاثم والعدوان الآیة (۲)]

---

(۱) ردالمحتار (۳/ ۴۲۱) کتاب الوقف ، مطلب فی شروط المتولی.

(۲) سورۃ مائدہ: آیت: ۲.

Maktaba Tul Ishaat .com

سوال: (۱۷۴) زیدیوه په زړه پوري ودانی دمدرسې په نامه جوړکړه اومدرسه يې پکې جاري کړه وروسته له خپلې مخکې څخه دوې توتې مخکه ددغه مدرسې دمصرفونولپاره وقف کړي دوقف پاڼه يې په حکومت کې رسمي کړه دمدرسې داهتمام اوانتظام لپاره څوکسان غړې وټاکل دمدرسې دتولیت په اړه داجمله ولیکله دوقف شوې جائدادمتولي به زماترژوندہ زه يم اوزماوروسته زماځای ناستی که نظم ساتوونکی اواهتمام کوونکی وړوبولي نوهغه دې متولي وټاکي په اتفاق یادرأیې په ډیرښت دې کارچلیږي دوقف دپاڼې ترلیکنې وروسته زیدد درسې باني وفات شونوموړی مردزیدزوئ ځای ناستی اودمدرسې دممبرانوله لورې متولي وټاکل شودخپل پلارپه رنګه دمدرسې کارروان کړاونوموړی صالح خپل همزولی دمدرسې ناظم وټاکی دمدرسې نظریې ده ته وسپاری صرف خاص اختیارات يې ځانته کړه نوموړی صالح ډیردینداره اوپه هرکارکې قابل اوډیرښه نېک عقل اوپوهه لروونکی شخص دی اوس نوموړی عمرفوت شودبکرپه نوم یوزوئ يې ځوان دی خودبکرداحالت دی چې دطمع له امله دومره صبرهم نه شوکولای چې دخپلومعاملاتوپرځوړوادشوه يې څه فکرکړی وای دفاتحې په درېیمه دنورومخکه درلودوونکوپه ملګرتیادعمروقف کړیومخکوپه اړه دمیراث عارضه په محکمه کې داخله کړه اوداسې بیان يې وکړځوخودغرضوکسانوزمانیکه زیدوتښناوی دوقف پاڼه يې په ولیکله خودوقف دپاڼې سره سم عمل ونه شوالغ په دې صورت کی بکرمتولي جوړول جائزدی اوکنه ؟ اوصالح چې کوم مخکنی متولی دی دهغه متولی جوړول څرنګه دي ؟ (۳۲/۱۹۸۸-۱۳۳۳هج)

خواب: په دې صورت کې بکرمتولي جوړول صحیح نه دی اودصالح متولي جوړول صحیح بلکې ضروری دی قال فی الدالمختاروینزع وجوبًا (بزازیة) لوالواقف (درر) فغیره بالاولی غیرمأمون الخ (۱) (درمختار) قال فی الاسعاف ولایولی الاامین قادر بنفسه اوبنائبه ولان الولایة مقیدة بشرط النظرولیس من النظرتولیة الخائن لانه یخل بالمقصودالخ (۲) (شامی) اودبکردنیت فاسدوالي اودده خائن کېدل دده دملکیت له دعوې څخه ښکاره شوله دې وروسته دده متولي جوړول په هیڅ ډول نه صحیح کیږي قال فی الشامی وان امتناعه من التعمیردیانة وکذا

(۱) الدرمع الرد (۳: ۴۲۱) کتاب الوقف. مطلب فیمایعزل به الناظرط رشیدیه.

(۲) ردالمحتار (۳/ ۴۲۱) کتاب الوقف. مطلب فی شروط المتولی ط رشیدیه.

لو باع الوقف او بعضه او تصرف تصرفا غير جائز عالما به الخ(۱)

تنبیه: اذا كان ناظرا على اوقاف متعددة وظهرت خيانته في بعضها افتى المفتي ابو السعود بأنه يعزل من الكل قلت: ويشهد له قولهم في الشهادة ان الفسق لايتجزى وفي الجواهر القيم اذا لم يراع الوقف يعزله القاضي وفي خزانة المفتين اذا زرع القيم لنفسه يخرجه القاضي من يده قال البيري يؤخذ من الاول ان الناظر اذا امتنع من اعارة الكتب الموقوفة كان للقاضي عزله ومن الثاني لو سكن الناظر دار الوقف ولو بأجر المثل له عزله لانه نص في خزانة الاكمل: انه لايجوز له السكنى ولو بأجر المثل الخ(۲) (شامی) لنډه داچې له دغو عبارتونو او دغوته له ورته مثالونو څخه دبکرد تولیت ورنه کېدل ښکاره دي او دصالح تولیت صحیح دی

.وقف کوونکي اومتولي داحق نلري چې خائن متولي وټاکي

سوال: (۱۷۵) زید دیو وقف متولي دی او عمر نائب متولي وده خیانت وکړچې له امله يې سزا شوزید له ځان وروسته دعمرد متولي ټاکلورأیه ورکړه پوښتنه داده (الف) آیا عمر په دې صورت کې متولي کېدای شي؟

(ب) آیا زید د دغه تولیت په رأیه ورکولو ګنهګار شو؟ (ج) آیا حکام باید زید رأیه ردکړي؟

(د) که دزید درأیې سره سم عمر متولي شونوده عزلول ضروري دی ،که نه؟ (۱۰۹۸/۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب: قال في الدر المختار: وينزع وجوبًا (بزازية) لو الواقف (درر) فغيره بالاولى غير مأمون او عاجزًا او ظهر به فسقه كشرب خمر ونحوه الخ وان شرط عدم نزعه (۳) په شامی کې راغلې دي: قال في الاسعاف ولايولى الاامين قادر بنفسه ، اوبنائبه ، لان الولاية مقيدة بشرط النظر وليس من النظر تولية الخائن (۴) (۳۸۵/۳)

---

(۱) الشامي (۴۲۱/۳) كتاب الوقف مطلب: يأثم بتولية الخائن ط رشيديه.

(۲) ردالمحتار (۴۲۱/۳) كتاب الوقف: مطلب فيما يعزل به الناظر ط رشيديه.

(۳) الدرمع الرد (۴۲۱/۳) كتاب الوقف ، مطلب: يأثم بتولية الخائن ط رشيديه.

(۴) ردالمحتار (۴۲۱/۳) كتاب ، مطلب في شروط المتولي ط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat. com

له دغوعبارتونوڅخه ښکاره دی چې په پوښتل شوې صورت کې کله چې دعمر خیانت معلوم شودده متولي جوړول روانه دي اوزیددده دمتولي جوړولوحق نلري چې پخپله وقف کوونکې ته هم داحق نشته چې خائن متولي وټاکی حکام بایددزیدرأیه باطله کړې اوفرضًا که عمرمتولي وټاکی اوخیانت دده ثابت وي نودده عزلول لازم دي فقط.

دخائن متولي په لیری کولوکې که فتنه اوفسادوي نوپته خوله غوره ده

سوال : (۱۷۶) دزیدنیکه یومسجدجوړکړاودهغه په اړه څه مخکه هم وقف کړه له ډیرې مودې راهیسي په دې کې امام مقررووله ده وروسته زیدپخپله رأیه امام لیري کړدامام په حق کې چې کوم خلګ په ډیرشمېروهغوئ دفسادختمولولپاره بل مسجدجوړکړله دې وروسته تراوسه کوم امام په دغه مسجدکې مقررشوی نه دی بیازیدپخپله رأیه داسي سړی امام وټاکی کوم چې هیڅکله ددې ورنه ووزموړلپاره په داسي سړی پسي لمونځ کول جائزدی ،که نه ؟ اوکوم سړی چې په مسئلوزیات خبروي دهغه لمونځ په دغه امام پسې اداکیږي ،که نه ؟ زیددموجوده مسئلومخالف دی اودمسجدآمدني پخپلوکارونوکې صرفوي دی دمتولي پاتېدووړدی ،که نه ؟ (۱۳۴۰/۹۲۷هج)

خواب : لمونځ په دغه مسجدکې په هغه امام پسې چې زیدمقررکړی دی کیږي اوکوم سړی چې په مسئلوزیات پوهه دی دهغه لمونځ کیږي بې اتفاقي بدشی دی اوله فتنې اوفسادڅخه ځان ساتنه ضروري ده زیدکه څه هم فاسق دی اودمتولي پاتېدووړنه دی خوکه دده په لیري کولوکې فتنه اوفساددی نوخاموشي بهتره ده اوکه په آساني سره بېله فساده وکوم دینداره سړی ته دمسجدنظم سپارل کېدای شي نوډیرښه دی کنې سکوت پکاردی ترڅوچې مې وس وي په نرمي باندي اوپخپل مینځ کې په اتفاق سره کارکول پکاردی کماقال الله تعالی [ادع الی سبیل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة الآیة(۱) فقط]

حکومتي خلګ دوقف متولیان ټاکل

سوال : (۱۷۷) زیدغواړي چې یووقف دپنځوسو ،شپېتولکووکرم چې یوه یتیم خانه وي چې پکې مسلمان ماشومانوته زده کړه ورکوله کیږي ددوئ دټولواړتیاووبندوبست ترپنځلسوشپارسوکلونوپورې وشي ددې لپاره دیوډیرلوئ مکان اومخکې ضرورت دی هغه دې له حکومت څخه دمرستې

(۱) سورة نحل آیت: ۱۲۵.

به توګه واخستل شي پردي وقف کوونکي له خپل طرفه ودانی جوړه کړی دا راز پښتوس زړه روبی دمرستي په توګه اخستل غواړي اودحکومت دوه کس ن هم به مسولیانو کي شاملول غواړي دا روادی .که نه ؟ (۱۸۰۵ ۱۳۳۹هج)

خواب دښکو کارونولپاره وقف کول کارد ثواب دی خوله حکومت څخه مخکه اومرسته اخستل اوحکومتي کسان غړي اومتولیان تاکل اودوئ نه دلاس وهلو موقع ورکول صحیح نه دی که دثواب لپاره داکارکوي نوصرف دالله رب العزت لپاره کول پکاردي اوله کفارو څخه هیڅ ډول مرسته اوددوئ شریکول نه دي پکار

دفاسق متولي کېدل صحیح نه دي

سوال (۱۷۸) زید ننشي کوي لمونځ نه کوي اوپرمتقیانو خلګولغو .ناوړه تورونه دبغض اودښمنی په وجه لګوي اوله شیعه ګانو سره نکاح کړي ده حال داچي هغه ښځه دخپل مذهب پابنده ده نوداسي سړی دکوم بزرګ ددرګاه ګدی نشین یامتولي شرعًا کېدای شي .که نه ؟اواسي شخص باید څرنګه سزاشي ؟ (۱۳۴۱/۲۸۹۰هج)

خواب داسي سړی که توبه ونه کاږي نودتعزیرورډی اودمتولي جوړېدوورنه دی فی الدرالمختارویتزع وجوبًا (بزازیة) لوالواقف (درر) ففیره بالاولی غیرمأمون اوعاجزًا اوظهربه فسق کشرب خمرالخ (۱)

دروغجن اوغصب کوونکي متولي اومهتمم ټاکل

سوال (۱۷۹) کوم سړی چي دشرعي خلاف کارونه کوونکی وي مثلا کاروبارسودی .دروغجن اودمسلمانانو دحقونوغصبوونکي دي داسي سړی دمسجد دمتولي جوړېدو اودمذهبي کارونو دمهتمم جوړېدوحق لري .که نه ؟ عام مسلمانان دداسي سړی سره باید څرنګه اړیکي وساتي ؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۷۳۲هج)

خواب داسي سړی دمسجد اودمسجد داوقافو دمتولي اومهتمم جوړېدوورنه دی متولي باید دیندار اودشریعت تابع وي داسي سړی چي په سوال کي یې یادونه شوې ده دمسجد اودمسجد داوقافو له تولیت اومهتمم والي څخه بهل کړي اوترڅوچي دی له دغوناوړه حرکتونو

(۱) الدرمع الرد (۴۲۱/۳) کتاب الوقف مطلب: یأثم بتولیة الخائن ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه توبه ونه وکاږي مسلمانان بايدله ده سره اړيکې ونه ساتي فقط.

دمتولي دخوتصرفاتوحکم

سوال: (۱۸۰) (الف) دوقف دمتولي لپاره دوقف له مال څخه دوقف وماموريينوته دښېرومياشتوتنخواه مخکې ورکول؟

(ب) دوقف مال په فرض پخپله کارول بيااداکول؟

(ج) دوقف له مال څخه وکوم مسلمان ورورته قرض ورکول؟

(د) ديوې خاص مدرسې دوقف کتابونه بل خای ته ورکول؟

دمتولي لپاره ددووقفونومال ديوبل په خای کې لګول؟

(و) دوقف دمکان دتعمېرلپاره دمسلمانانوپه مشوره قرض ورکول جائز دي. که نه؟ ۳۲/۴-۱۳۳۳هج.

خواب: (الف) که متولی مصلحت وګڼي نومخکې تنخواورکولوکې کوم تاوان نشته اودضائع کېدووېره نه وي نوکومه پروانه لري.

(ب) په خپل مصرف کې دقرض په طريقه سره دوقف مال راوړل روانه دی که چيرې داسې وکړي نواداکول يې ضروري دي.

(ج) دوقف مال څخه کوم مسلمان ورورته قرض ورکول جائزنه دي.

(د) دوقف کتابونه چ يکومې خاصې مدرسې ته وقف دي دوقف کوونکې بې اجازې وبلې مدرسې ته په عاريت ورکول صحيح نه دی.

(هه) ددووقفونومتولي لره ديوه وقف مال په بل کې صرفول دوقف کوونکې اودجهت دوقف دبېلوالي يه صورت کې صحيح نه دی لکه چې په درمختارکې ددې څرګندونه موجوده ده.

(و) دتعمېرکه ضرورت دی نودمسلمانانوپه مشوره دهغه لپاره قرض اخستل صحيح دي وقيل تجوزمطلقاللعمارة (۱) کله چې دقاضی وجودپه اوس زمانه کې نشته، څکه په دې روايت عمل کول صحيح دي.

---

(۱) الشامی (۳/۴۲۰) کتاب الوقف. مطلب فی الاستدانة علی الوقف ط رشيديه.

دلوړې له تنګۍ متولي دوقف روپۍ پخپله مصرفولای شي ، که نه ؟

سوال : (۱۸۱) (زه دیووقف متولي یم) خدای مکړه که کوم وخت دلوړې تنګي راته ورسیږي نودوقف آمدني پرخپل ځان لګولای شم ، که نه ؟ (۲۳۱۱/ ۱۳۳۷هج)

خواب : په قرض باندي دارتیاپه اندازه اخستل صحیح دي فقط.

دوقف متولي دوقف له روپیودخپل محنت حق اخستلای شي ، که نه ؟

سوال : (۱۸۲) متولي خپل حق ومحنت کولودوقف له روپیو څخه وراخستلای شي ، که نه ؟ (۲۳۱۱/ ۱۳۳۷هج)

خواب : که وقف کوونکی دمحنت دحق لپاره څه مقررکړې دي نواخستل صحیح دي کنې نوکه ارتیاده نودعامومسلمانانوپه رأیه اوخبرتیادوس په اندازه ومتولي ته دمحنت کولوحق ورکول کیدای شي.

پښه کارکولوومتولي ته مزدوري ورکول صحیح نه دي

سوال : (۱۸۳) (الف) یومتولي دوقف دوقف کوونکې له مقررکړې اجرمثل دوقف په توګه درییمه خوري اوهیڅ کاردوقف نه کوي دغه اخستل څرنګه دي ؟

(ب) متولي داهم غواړې چې دشپږومیاشتومقررشوی اجرت مثل مخکې واخلي داڅرنګه دی ؟ (۲۱۴۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : (الف) وقف کوونکی که داشرط لګولی ووچې متولي ته دې اجرت مثل ورکول شي نوڅومره کارچې دی وکړی هغومره اجرت مثل ده ته باید ورکول شي پښه کارکولودده لپاره څه اخستل صحیح نه دي لنډه داچې دوقف کوونکې دشرط مراعات ساتل ضروري دي.

(ب) کله چې دی کارهم نه کوي نودده لپاره نه مخکې اخستل صحیح دي اونه رووسته.

متولي دوقف مال پخپله ارتیاکې لګولای شي ، که نه ؟

سوال : (۱۸۴) متولي دوقف له مال څخه پخپلوارتیاووکې خرڅ کولای شي ، که نه ؟ (۱۵۳۹/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

Maktaba Tul Ishaat. com

ځواب : دمتولي لپاره دوقف کوونکي له شرط لګولوپرته دوقف له مال څخه اخستل اولګول صحیح نه دي.

دمتولي لپاره دمسجدآمدني پخپل ځاني اړتیاکې لګول

سوال : (۱۸۵) په یوه ښارکې تریوه مسجدلاندي دکانونه دي دوئ آمدني دمسجدله خرڅولوزیاتوب پاتیږي هغه متولي دخپلوخاني اړتیاوولپاره وراخلي اوخرڅوي یې داسي کول صحیح اوجائزدي ،که څه حکم دی ؟ (۳۲/۵۹۹-۱۳۳۳هج)

ځواب : نوموړی متولي ته پکاردي چي دمسجددد کانونواونوروټوله آمدني ددغه مسجدپه اړتیاووکې صرف کړي اوڅه چي پاته شي هغه دمسجدلپاره وساتي اوپخپلو ځاني اړتیاووکې یې صرفول صحیح نه دي اوکه دی داسي وکړي نوداخیانت دی دغه متولي باید عزل (لیري) کړل شي اودښارمسلمانان اوکلیوال په دې وجه دی عزل کولای شی اوبل څوک متولي ټاکلای شي خواکه دی دباني (جوړوونکې) له لورې متولي ټاکل شوی وي یاوروسته متولي جوړشوی وي په دواړوصورتونوکې دی لیري کېدای شي اوحساب ورسره کولای شي دمسلمانانو لپاره په داسي حال کې مداخله کول اوحساب ورسره کول اودخیانت دثابتېدوپه صورت دی عزلول ضروري اولازمي دي په درمختارکې راغلې دي چي که پخپله باندي هم داسي خیانت وکړي نوباید هغه عزل کړل شي یادشوی متولي خوپه اولی طریقه دعزل وړدی اودکلیوالولپاره زوریاتنګ مسجددوهم ځل پوخ اوپراخ جوړول اومخکې مسجددذغې اړتیاپه وجه نړول روادي فقط.

دمتولي دوقف له مال څخه وماموریتوته پنشن ورکول

سوال : (۱۸۷) له وقف څخه متولي وماموریتوته پنشن ورکولای شي ،که نه ؟ (۱۱۰۳/۱۳۳۵هج)

دلوړې له تنګۍ متولي دوقف روپۍ پخپله مصرفولای شي ، که نه ؟

سوال : (۱۸۱) (زه دیووقف متولي یم) خدای مکړه که کوم وخت دلوړې تنګي راته ورسیږي نودوقف آمدني پرخپل خان لګولای شم ، که نه ؟ (۲۳۱۱/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : په قرض باندي دارتیاپه اندازه اخستل صحیح دي فقط.

دوقف متولي دوقف له روپیودخپل محنت حق اخستلای شي ، که نه ؟

سوال : (۱۸۲) متولي خپل حق ومحنت کولودوقف له روپیو څخه وراخستلای شي ، که نه ؟ (۲۳۱۱/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : که وقف کوونکی دمحنت دحق لپاره څه مقررکړي دي نواخستل صحیح دي کنې نوکه ارتیاده نودعامومسلمانانوپه رأیه اوخبرتیادوس په اندازه ومتولي ته دمحنت کولوحق ورکول کیدای شي.

بېله کارکولوومتولي ته مزدوري ورکول صحیح نه دي

سوال : (۱۸۳) (الف) یومتولي دوقف دوقف کوونکې له مقررکړي اجرمثل دوقف په توګه دربیمه خوري اوهیڅ کاردوقف نه کوي دغه اخستل څرنګه دي ؟

(ب) متولي داهم غواړي چې دشپږومیاشتومقررشوی اجرت مثل مخکې واخلي داڅرنګه دی ؟ (۲۱۴۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : (الف) وقف کوونکی که داشرط لګولی ووچې متولي ته دې اجرت مثل ورکول شي نوڅومره کارچې دی وکړی هغومره اجرت مثل ده ته بایدورکول شي بېله کارکولودده لپاره څه اخستل صحیح نه دي لنډه داچې دوقف کوونکې دشرط مراعات ساتل ضروري دي.

(ب) کله چې دی کارهم نه کوي نودده لپاره نه مخکې اخستل صحیح دي اونه رووسته.

متولي دوقف مال پخپله ارتیاکې لګولای شي ، که نه ؟

سوال : (۱۸۴) متولي دوقف له مال څخه پخپلوارتیاووکې خرڅ کولای شي ، که نه ؟ (۱۵۳۹/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

Maktaba Tul Ishaat .com

ځواب : دمتولي لپاره دوقف کوونکې له شرط لګولوپرته دوقف له مال څخه اخستل اولګول صحیح نه دي.

دمتولي لپاره دمسجدآمدني پخپل ځاني اړتیاکې لګول

سوال : (۱۸۵) په یوه ښارکې تریوه مسجدلاندي دکانونه دي دوئ آمدني دمسجدله خرڅولوزیاتوب پاتیږي هغه متولي دخپلوځاني اړتیاوولپاره وراخلي اوخرڅوي یې داسي کول صحیح اوجائزدي ،که څه حکم دی ؟ (۳۲/۵۹۹ - ۱۳۳۳هج)

ځواب : نوموړی متولي ته پکاردي چي دمسجددکانونواونوروټوله آمدني ددغه مسجدپه اړتیاووکې صرف کړي اوڅه چي پاته شي هغه دمسجدلپاره وساتي اوپخپلو ځاني اړتیاووکې یې صرفول صحیح نه دي اوکه دی داسي وکړي نوداخیانت دی دغه متولي باید عزل (لیري) کړل شي اودښارمسلمانان اوکلیوال په دې وجه دی عزل کولای شی اوبل څوک متولي ټاکلای شي خواکه دی دباني (جوړوونکې) له لورې متولي ټاکل شوی وي یاوروسته متولي جوړشوی وي په دواړوصورتونوکې دی لیري کېدای شي اوحساب ورسره کولای شي دمسلمانانو لپاره په داسي حال کې مداخله کول اوحساب ورسره کول اودخیانت دثابتېدوپه صورت دی عزلول ضروري اولازمي دي په درمختارکې راغلې دي چي که پخپله باندي هم داسي خیانت وکړي نوباید هغه عزل کړل شي یادشوی متولي خوپه اولی طریقه دعزل وړدی اودکلیوالولپاره زوریاتنګ مسجددوهم ځل پوخ اوپراخ جوړول اومخکې مسجددذغې اړتیاپه وجه نړول روادي فقط.

دمتولي دوقف له مال څخه وماموریتوته پنشن ورکول

سوال : (۱۸۷) له وقف څخه متولي وماموریتوته پنشن ورکولای شي ،که نه ؟ (۱۳۳۵/۱۱۰۳هج)

خواب : دوقف کوونکي له شرط پرته صحیح نه دی لان شرط الواقف کنص الشارع ـ۱ (درمختار)

دمتولي اومهتمم لپاره دوقف یامدرسې روپۍ په قرض ورکول

سـ وال (۱۸۸) څه وایې ددین علماء ددې مسئله په هکله چې دمدرسې یاوقف متولي ومدرس یاغیرمدرس ته دقرض اداکولولپاره قرض ورکولای شي ،که نه ؟ په دلیل سره راته ووایاست اوثواب دالله تعالی په دربارکې وګټئ (۲۹۸/ ۱۳۳۵هج)

خواب : دفقهاؤله څرګندونوڅخه معلومیږي چې نه یې شي ورکولای دردالمحتارپه کتاب القضاء کې راغلې دي: لکنه أفتی فی وصایاالخیریة بأن للوصی اقراض مال الیتیم بأمرالقاضی اخذامامافی وقف البحرعن القنیة من ان للمتولی اقراض مال المسجدبأمر القاضی قال: والوصی مثل القیم لقولهم: الوصیة والوقف اخوان الخ ـ ۲ وفی الدر المختار: لایقرض الاب ولوقاضیالانه لایقضی لولده ولاالوصی ولاالملتقط فان اقرضوا ضمنواالخ اوپه شامي کې راغلې دی : قوله ولاالوصی فلوفعل لایعدخیانة فلایعزل به ـ۲ له دغوعبارتونوڅخه څرګندیږي چې دمسجدونواومدرسوومتولیانواومهتممانوته دقاضی له اجازې پرته دوقف له مال څخه وچاته قرض ورکول صحیح نه دي اوکه یې ورکړي نوکه بېرته وصولي نه شوې دوئ به ددغورو پوضامن وي اودشامي له دغه قول [فلوفعل لایعدخیانة] څخه داهم معلوم شوچې ومتولي اونوروته دقرض نه ورکولواختیار دقاضی له اجازې پرته په دې معنی دی چې که یې ورڅخه بېرته وصولې نکړي نوله دوئ څخه ضمان نه ساقطیږي لکه چې له قاضی اونوروڅخه ضمان ساقط دی نه داچې په داسي کولودوئ خائنان بلل کیږي.

دوقف له آمدني څخه روژه مات اودقرآنکریم پرختم شېرینې وېشل

سوال : (۱۸۹) دیوه مسجدوقف شوی مال یعنی دکانونه چې آمدني یې دمسجددتولو خرڅوکفایت نه کاوی ،ځکه دخرڅوپوره کولولپاره دنبارله مسلمانانوڅخه چنده وشوه دیوه سړی په ځارنه کې نوې ودانۍ پرزړه ودانۍ تیاره شوه دالله رب العزت په فضل سره دهغه آمدني دمسجددارتیاوولپاره کافي کېده څه زیاتېدۀ هم په دې وجه ځیني ناپوهواونا لوستو مهتممانودروژې په میاشت

(۱) الدرمع الرد (۳/ ۴۵۲) کتاب الوقف ، مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.
(۲) الدرمع الرد(۴/ ۳۷۹) کتاب القضاء ، مطلب للقاضی اقراض مال الیتیم ونحوه ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat .com

کې دقرانکریم دختم شیریني اودروژه مات سامان په همدې سره وکړاوس دمسجددتو لیت اواهتمام کارورداسي خلګوته وسپارل شوچي تردوئ پوهان دي ،ځکه هغوئ دختم شیریني اوروژه مات له خپله ځانه راوړي دهغوئ داخیال دی چي په دغه روپوکومې چي زیاتیږي به دمسجدپه وقف شاړه ځکه کې یوه مدرسه جوړه کړواودغه آمدني به په هغې کې ولګوو ،ځکه په ټن ،صبا کې کارشروع کیږوونکی دی.

سړکال دشیطان ددوکې کولوله املهغه شخص چي په ځارنه کې ترڅه مودې پورې دغه مسجدووهغه داوایې چي زمادځارنې په زمانه آمدني زیاته شوه ،ځکه نوماته حق شته چي دقرآنکریم دختم شیریني اوروژه مات په همدې راوړم دلته دروژه مات داسي صورت دی چي ډول ډول متایاني اوبیلابیل ډولونه تروه شیان وي په دې کې شرکت کوونکی نیم روژه ساتوونکې وي اونیم روژه خواره وي په روژه نیوونکو کې په سل کې پنځه اویامالدا راوپنځویشت غربیان په دې صورت کې دختم دشیریني اودروژه مات بندوبست دوقف له مال څخه کولای شي ،که نه ؟ اومخکنی متولیان اومهتممان له تولیت څخه دبیلبیدو وروسته دوقف په مال کې تصرف کولای شي ،که نه ؟(۱۹۸۲/۱۳۳۷هج)

ځواب : په دې صورت کې دقرآنکریم دختم شیریني اودروژه مات سامان دوقف په آمدني کول صحیح نه دی اومخکني متولیان اومهتممان له عزلیدووروسته دوقف په مال کې دتصرف کولوواک اواجازه نلري فقط.

دوقف کوونکي له شرطونوسره سم دمتولي تصرف کول

سوال : (۱۹۰) (الف) دزید ښځې دمرګ له ناجوړې ځخه شپږکاله مخکې وخیل خاوند زیدته وویل چي یوڅاپې یوداوبونل ولګوه ښځې خپل څه جائداد وقف کړځه یې ووارثانو ته ورکړوخاوندته یې هم ورکړدې کاله وروسته ښځه وفات شود له وفات وروسته زیددعمرپه کورکې پخپلوروپوداوبوپیپ ولګاوویایې دکلبوالوپه واسطه اودایې وویل چي هروخت خودي خلاص نه وي ولې چي وقف دی .ځکه نوپریوخاص وخت دې خلاصیږي نوروختونه دې قلف وي اوس دزیدپه اجازه دعمرلپاره تصرف کول روادي ،که نه ؟

(ب) په نل لګولوکې چې کومه ځرمن صرفیږي هغه عمرکوي نوعمردد غه شراکت په وجه پخپله رأیه تصرف کولای شي ،که نه ؟(۱۵۴/۳۵-۱۳۳۲هج)

ځواب : (الف) دزید په اجازه دعمرلپاره تصرف کول روادي اوپه کوم شی چې دوقف حفاظت وي اودوقف ګټه وي دهغه پرجائزوالې فتوی ده.

(ب) عمردد غه شراکت په وجه بېشکه پخپله رأیه تصرف کولای شي فقط.

دوقف کوونکې له شرطونوسره سم دمتولي لپاره دبدلولواختیارشته

سوال : (۱۹۱) داحمدالله کورو الاسیدة النساء یوه دوقف پاڼه ولیکله چې پکې خپل ټول قبض کړی جائدادیې وقف کړاوله ځان وروسته یې خپل خاونداحمدالله ددغه وقف کړې جائدادمتولي وټاکی اوس نومورې وفات شوه اوددې خاوندوقف کړې جائدادمتولي دی ددغه وقف په پاڼه کې پنځلسم شرط دادی چې پخپله ووقف کوونکې ته پخپل ژوند کې اوله دې وروسته ددې وخاونداحمدالله ته دوقف کړې جائدادمتولي ته اختیاردی چې کوم کارونه اوشرطونه مناسب معلوم شي په هغوئ کې کمی اوزیاتی وکړي دجائدادمتو لي یعنی احمدالله دنومورې وقف کوونکې خاوندغواړي چې ونارینه اولادواحمدحسین ، اواکبرحسین ته ددغه جائدادله آمدني څخه څه ورنکړي اودی داوایي چې مورته دپنځلسم شرط په وجه اختیارشته چې کوم شرط وغواړوپکې وې لګوواوکوم چې وغواړووې باسوحال داچې په اتم شرط کې داڅرګندونه شته چې دلاندې یادشویوخرڅو له اداکولواودمکان اونورولە خرڅولووروسته پاته روپۍ دې ونارینه اولاداحمدحسین اواکبرحسین ته ددوئ دخوراک ،ځښاک اونورواړتیاوولپاره ورکولې شي وقف کوونکی یې پخپله پخپل ژوندکې ودغه اولادوته ورکولې اوله وقف کوونکې وروسته ددې متولي خاوندهم ودغواولادوته ورکولې خوله څوورځوراهسي پخپل مینځ کې دکومې خوابدی په وجه غواړي چې واکبرحسین ته څه ورنکړي.

اوس پوښتنه داده چې دپنځلسم شرط سره سم وشیخ احمدالله ته جائزاختیارشته چې پراکبرحسین اواحمدحسین دوقف شوې جائدادپاته آمدني بنده کړي یایې له یوه بنده کړي اووبل ته یې ورکړي اوپخپل ګمان دغه اتم شرط بدل کړي یاله دې شرط پرته په نورو شرطونوکې دتغییر ،بدلون اوکمی وزیاتوب ومتولي ته اختیارشته ؟ ،ځکه چې اتم شرط که څه هم دشرط په عنوان بیان شوی دی خوپه حقیقت کې داشرط نه دی بلکې په دې کې دمصرفونویادونه ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com

ورځخه په ظاهره دافهميږي چې پرته له دې اتم شرط دنوروشرطونو دبدلولو اختيارو متولي ته شته ؟ (۱۳۳۵/۳۳۵هج)

ځواب : قال فی ردالمحتار: وفی الاسعاف ولایجوزله ان یفعل الاماشرط وقت العقدوفیه لوشرط فی وقفه ان یزیدفی وظیفة من یری زیادته اوینقص من وظیفة من یری نقصانه اویدخل معهم من یری ادخاله اویخرج من یری اخراجه جازتم اذافعل ذلک لیس له ان یغیره لان شرطه وقع علی فعل یراه فاذااراد وامضاه فقدانتهی مارآه الخ۔(۱) له دغه عبارت څخه معلوم شوچې کله وقف کوونکې په اصل شرطونودوقف کې دتغیراوتبدل اختیار ایښی دی نوتغیراوتبدیل صحیح دی چاته ورکول چې دی وغواړي بندیې کړی بل چاته یې دهغه پرځای ورکولای شي اوکله چې متولي ته هم دی ددې اختیارورکړي دی نوده ته هم دتغیراوبدلون کولواختیارشته فقط.

متولي دچندې روپۍ پخپلواړ تیاووکې ولګوي اوپه وخت دضرورت يې اداکول

سوال : (۱۹۲) دچندې متولي تاجردکانداردی دچندې روپۍ جلانه ږدي بلکې په مال کې يې ورداخلې کړي دې پخپلواړتیاووکې يې لګوي اوکله چې ضرورت شي نواداکوي يې آیاده ته دااجازه شته ؟آیادچندې روپۍ جلا ښوول ضروري دي ؟ (۹۰۷/۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : دفقهې له روایتونوڅخه داسي اجازه نه ثابتیږی اماله لګولووروسته فقهاء پرده ضمان واجب بولي یعنی که متولي داصرف کړی دی نوپرده ضمان واجب دی اوهغه روپۍ اداکول پرده لازم دی له ضمان اداکولووروسته هیله ده چې له مواخذې به خلاص شي فقط.

وقف کوونکي ترمرګه متولي پاته کیدای شي

سوال : (۱۹۳) (الف) زیددمسجدپه ځلوردهوالي کې یوه مسافرخانه جوړه کړې ده چې دوه منزله (پوړیزه) ده سربېره مسافراوسیږي اولاندي پوخ فرش دی عمرشاوخواچادرو نه ولګول ددوکانونوپه توګه يې جوړکړاووي ویل چې ددې کرایه به دمسجدپه اړتیاوو کې لګیږی خوله تیارهدووروسته وایي چې موږبه يې له خپلې خوښې سره سم لګوواو نوره ډله اوزیدوایي چې دغه کرایه دډلې اودمسجدودرې سره متولیانوته وسپاره چې کومه اړتیاوي په هغې کې به يې لګوی

(۱) الشامی کتاب الوقف ، مطلب: لایجوزالرجوع عن الشروط طرشیدیه.

آیاعمرپردې مجبورولای شي ،که نه ؟
(ب) عمرددغه مسجدله څلورومتولیانوڅخه یومتولي دی له دې مسافرخانې پرته څلور دکانونه نورهم تیارکړي دي هغه هم دغه ډله اومتولیان پخپل تحویل کې اخستل غواړې عمروایې زه یې دخپلې خوښې سره سمې لګوم آیادوئ عمرپردي مجبورولای یې شي ؟(۱۱۹۹/۱۳۴۵هج)

خواب : (الف ، ب) په دواړوصورتونوکې دعمرپخپله کرایه وصولولای اوصرفولای شي ، ډله اوزیددی پردې نشي مجبورولای چې عمرددکانونواوسائبان کرایه دوئ ته وسپاري اماکه پخپله خوښه که یې دی وزیداونورومتولیانوته وسپاري نوداهم روادی ، خومجبورولای یې نشي ،ځکه چې دکومودکانونو اوچادرونوعمربانی (جوړوونکی) دی دهغوئ تولیت شرعًا دعمردی لکه چې په شامی کې له بحرڅخه منقول دي: قال فی البحرقدمناان الولایة للواقف ثابتة مدة حیاته وان لم یشترطها الخ-۱
دبیع په پانه کې چې دچانوم لیکلی دی هغه دمسجددتولیت دعوی کولای شي ،که نه ؟

سوال : (۱۹۴) دلمانځه دمشکل په وجه دعامومسلمانانوداخوهش ووچې یوه مځکه حاصله کړي په چنده یومسجدجوړکړي یوسړی ددې لپاره آماده شواودده په ډیرکوشش دوومېرمنودخپلې مځکې ځخه څه ټوټه دمسجدجوړولولپاره ورکړه اودیوې فرضې بیعې پانه یې دقبضې دبدلولوپه غرض دیوه سړی په نامه (چې دیواسلامي انجمن غړی دی) دمسجدجوړولوپه اساس وکړه دبیع په پانه کې لفظ دمتولي اودمسجددمنتظم لیکلی دی په دې وجه هغه سړی دتولیت دعوی لري دوقف کوونکودواړومېرمنوبیان دی چې دوئ دمسجدمتولي نه دي کړې اونه یې مقررول مقصدووصرف دمسجددتعمېرلپاره یې دالیکلې وونوداتولیت بلل کیږي ،که نه ؟
هغه سړی څوورځې وروسته صرف تاداواچاووپه دې ویلوبهل شوچې ماڅومره له ځانه خرڅ کولای شواوڅومره چنده چې مې جمع کولای شوه هغه مې ولګوله ودغه کارته ادامه ورکول زماتراوس وتلې ده په دې وجه وقف کوونکې دی عزل (لیري) کړوبل سړی ته یې کاروسپاری نودوقف کوونکې په عزلولودی عزل شو ،که نه ؟ اواوس دده دعوی دمسجد د تولیت په اړه صحیح کیږي ،که نه ؟(۴۴/۱۰۸۹-۱۳۴۵هج)

(۱) ردالمحتار (۴۴۸/۳) کتاب الوقف ، مطلب ولایة نصب القیم الی الواقف ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب: لندې زد خواب په دې صورت کې دادي چې که ومنل شي چې یادشوی شخص دوقف کوونکې له لورې متولي شوی وونودی دخپل عاجزکېدوپه څرګندونه اودوقف کوونکې په عزلولوعزل شواوس دی دمسجددتولیت دعوی نشي کولای لکه چې په شامی کې راغلې دي: قوله ولایة نصب القیم الی الواقف قال فی البحر: قدمناان الولایة للواقف ثابتة مدة حیاته وان لم یشترطهاوان له عزل المتولی وان من ولاه لایکون له النظربعدمو ته الخ۔ ۱ (شامی دربیم توک) وفیه ایضا ویدل علیه قوله فی البحران التولیة من الوقف خارجة عن حکم سائرالشروط لان له فیها التغییروالتبدل کلمابداله الخ ــ(۲) فقدثبت ان الرجوع عن الشروط لایصح الاالتولیة الخ ــ۳.

دمتولیانوتجوزیزکړی قانون دوقف کوونکې دقانون په څیردنفاذوړنه دی

سوال: (۱۹۵) دکمپنۍ مممبران چې اصلامتولیان دي حکماوقف کوونکې بلل کیږي؟ اوددوئ تجویزکړی قانون داصل وقف کوونکې دقانون په څیربلل کیږي؟ (۳۲/۵۷۴-۱۳۳۳هج)

څواب: یادشوې متولیان وقف کوونکې نه بلل کیږي اوددوئ تجویزکړی قانون داصل وقف کوونکې دقانون په څیردنافذولوړنه وي.

وفات شوی متولي چې کومه تنخواه وانه اخسته دهغه حکم

سوال: (۱۹۶) یوې ښځې یوجائداددمدرسه عربیه په نامه وقف کړاودمیاشتې یې اته روپۍ خپله تنخواه مقرره کړه اوله تنخواه اخستومخکې دغه متولیه وفات شوه نواوس مقرره شوې تنخواه ددې پروارثانووښل کېدای شي، که نه؟ (۳۲/۱۳۸۶-۱۳۳۳هج)

څواب: دوقف له آمدني څخه دژونددمودې تنخواه واخلي دوقف کوونکې متولي پروارثانودوئ له برخوسره سم وویشئ قال فی الشامی: وعن هذامشی الطرسوسی فی بانفع الوسائل علی ان المدرس ونحوه من اصحاب الوظائف اذامات فی اثناء السنة یعطی بقدرماباشرویسقط الباقی وقال بخلاف الوقف علی الاولادوالذریة فانه

---

(۱) ردالمحتار(۳/۴۴۸) کتاب الوقف، مطلب: ولایة نصب القیم الی الواقف الخ ط رشیدیه

(۲) ردالمحتار(۳/۴۴۹) کتاب الوقف، مطلب: نصب متولیاثم آخراشترکاط رشیدیه.

(۳) ردالمحتار(۳/۴۷۳) کتاب الوقف، مطلب لایجوزالرجوع عن الشروط ط رشیدیه.

يعسر فيهم وقت ظهور الغلة فمن مات بعد ظهورها ولم يبد صلاحها صار ما يستحقه لورثته والا سقط[1]

په حق دتولیت کې میراث نه جاري کیږي

سوال: (۱۹۷) زید دیوه مسجد متولی وو وفات شوده له وفات وروسته حق دمتولي حوړيدو ساقط سو که به په میراث کې دده وزامنوته نقل کیږي (۳۲/۱۷۴۳-۱۳۳۳هج)

خواب: که وقف کوونکی دزید متولی په نسل کې حق دتولیت ثابت کړی نه دی مثلا داسي يې نه دي ویلي چي زید اوله ده وروسته به دده له نسل څخه متولي وي نو دزید متولي واولادونه هیڅ حق دتولیت نشته میراث په دې کې نه جاري کیږي.

دوقف کوونکې یامتولي دوقف دپاڼې پابندي نه کول

سوال: (۱۹۸) که کوم شخص جانداد وقف کړي دوقف پاڼه ولیکي په حکومت کې يې رسمي کړي اودوقف دانتظام اواهتمام لپاره دنومونوپه تفصیل سره یوه ډله دمسلمانانو وناکي کمیته جوړه کړي درأیې په ډیرښت سره کارروان کړي اوترمرګه تولیت دځان لپاره مقرر کړي اوبیاپخپله دوقف دپاڼې دشرطونوپابندي نه کوي څه آمدني بخیل مقصودکې پخپله خوښه ولګوي اوپه څه آمدني کې دوکه وکړي اوکمیټه والوته حساب نه ښیي خولوئ مقصدیعنی ددرس اوتدریس انتظام دضرورت په اندازه قائم وساتي الخ په داسي صورت کې دیادشوي خیانت څه اثردوقف پرذات واقع کیږي .که نه ؟ اوکوم سړی چي خائن دی دهغه په هکله څه حکم دی ؟ (۳۲/۱۹۸۸-۱۳۳۳هج)

خواب: دوقف له بشپړهدووروسته که پخپله وقف کوونکې یامتولي کوم کاردوقف په خلاف وکړي یاکوم خیانت وکړي نوپروقف باندي په دې وجه هیڅ اثرنشاوان نه پرېږوي وقف به کامل اوبشپړوي دخائن عزل کول لازمیږي کمامرفاذاتم ولزم لایملک ولایملک ولایعارولایرهن الخ (درمختار) قوله فاذاتم ولزم لزومه علی قول الامام باحد الامور الاربعة المارة وعندهما بمجرد القول ولکنه

(۱) ردالمحتار (۳/ ۴۳۶) کتاب الوقف . مطلب اذا مات المدرس ونحوه بعطی بقدر ما باشرط رشیدیه

Maktaba Tul Ishaat.com

عند محمد رحمه الله لايتم الابالقبض والافراز والتأبيد لفظا وعند ابی یوسف رحمه الله بالتأبيد فقط ولو معنی کما علم مما مر۔(۱) وفی الشامی عن الفتح ان قول ابی یوسف رحمه الله اوجه عند المحققين۔ا وفی الدر المختار وبه يفتی۔(۲)

دمتولي داسي کارکول چي دوقف کوونکي دشرطونوپه خلاف وي

سوال : (۱۹۹) یونسړی دمدرسې متولي دمدرسې دوقف کړې جائداد تپکه وخپل خاص سړی ته په ډیرولږوروپووړکړه حال داچي نورخلګ په زیاتوروپیوددې تپکه اخستوته آماده ووخومتولي ورنکړه په دې کې دوقف تاوان دی اودغه رازیوباغ وقف کوونکې دمدرسې دطالبانودمبووخوړولولپاره وقف کړی وودهغه مبوه يې خرڅه کړه صرف دمدرسې دطالبانودشکایت دلیري کولوپه غرض يې دهغه قیمت دلسمې لسمې په اندازه مبوه رانیسي وطالبانوته يې ورکوی په داسي صورت کې دوقف دجانداد تپکه ورکول اودوقف کوونکي دغرض په خلاف دباغ مبوه خرڅول دمتولي لپاره جائزدي .که نه ؟ داسي سړی متولي پاتېدای شي ،که نه ؟ (۱۴۱۴/ ۱۳۱۴هج).

ځواب : دوقف دمتولي لپاره داسي کارونه کول چیدوقف کوونکي دشرطونوپه خلاف وي یاپه هغه کې دوقف تاوان وي روانه دي نودوقف شوې جائداد تپکه په لږوروپووړکول اومبوه يې خرڅول روانه دي اوداسي سړی چي خائن وي متولي نشي پاتېدای په شامي کې راغلي دي شرائط الواقف معتبرة اذالم تخالف الشرع ۔۳ شرط الواقف کنص الشارع الخ۔۴ اوپه درمختارکې راغلي دي وينزع وجوبًا (بزازية) لوالواقف (درر) فغيره بالاولی غيرمأمون الخ په شامي کې دي قوله : غيرمأمون الخ قال فی الاسعاف ولايولی الاامين قادربنفسه اوبنائبه الخ۔۵

---

(۱) الدرمع الرد(۴۰۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب مهم فرق ابویوسف رحمه الله بين قوله الخ ط رشيديه.

(۲) الدرالمختارمع الرد(۴۰۱/۳)کتاب الوقف ، مطلب مهم فرق ابویوسف رحمه الله بين قوله موقوفة الخ ط رشيديه

(۳) ردالمحتار (۳۹۵/۳) کتاب الوقف ، مطلب: شرائط الواقف معتبرة الخ ط رشيديه.

(۴) الشامی(۴۲۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی شروط المتولی ط رشيديه.

دمتولي دوقف کوونکي دشرطونوسره سم عمل نه کول

سوال : (۲۰۰) قاضی که مدعی قضاة باشدعمل به موجب شرائط نداردو جاگیروحقوق که برانهاتاهنوزتصرف مالکانه می داردحالاکه ان جاگیربرائی پرورش اطفال صغیرالسن واخراجات مساجدبه اوسپرده اندیک شیری درین امور مذکوره صرف نمي کند پس حکم دران جاگیرچه خواهدشد؟ (۲۳۴/ ۳۳- ۱۳۳۴هج)

جواب : عمل نه کردن به موجب شرائط وصرف نه کردن آمدنی جائدادموقوفه رادرامور مذکوره که برائی آنهاوقف کرده شده است حرام وناجائزاست.

سوال (۲۰۰م) ترجمه : کوم قاضی چي دخپلې قضاء دعوی لروونکی وي دوقف کوونکي دشرطونوسره سم عمل نه کوی بلکي پرجائداداومال هم دمالک په حیث قبضه کوونکی وي حال داچي یوه لوښت مخکه هم په دغومصرفونوکې نه صرفوي نوددا سي سړی اودغې مخکې په اړه حکم څه دی؟

خواب : دشرطونوسره سم عمل نه کول اودوقف شوې جائدادآمدنۍ په هغویادشویو کارونوکې نه صرفول دکومولپاره چي جائدادوقف شوی ووناجائزاوحرام دي.

دیوه متولي دنورومتولیانوله مشورې پرته استاذمقررول

سوال : (۲۰۱) مسلمانانوپه ګډه دمسجداومدرسې لپاره مخکه واخسته اووقف یې کړه اوپنځه متولیان یې وټاکل سوال لاندي دی:

(الف)دمدرسې دخزانې دمسؤل متولی صاحب دنورومتولیانوله خوښې ،حساب اوخبرو لوپرته دځوخلګوپه ویناپخپله خوښه استاذمقررول اوددغې مخکې له آمدني څخه تنخواه ورکول جائزدي.،که نه؟

(ب) داستاذلپاره دغه تنخواه اخستل جائزدي ،که نه؟

(ج) که جائزنه وي نوداستاذلپاره تنخواه بپرته ورکول واجب دي ،که نه؟

(د) په داسي تنخواه اخستوونکې استاذپسې لمونځ جائزدي ،که نه؟

Maktaba Tul Ishaat .com

(ه) ددا سي متولی ایستل اوده پرځای بل متولي ټاکل به پر مسلمانانو اونورومتولیانو واجب وي ،که نه ؟(۱۳۴۰/۱۸۱هج)

ځواب : (له الف ترهـ) دکوم متولي لپاره دنورومتولیانوله مشوري پرته کوم چي وقف کوونکي اوباني مقررکړي دي داجائزنه دی چي صرف پخپله رأیه کوم استاذمقررکړي ،ځکه چي دوقف کوونکي دټولوشرطونوعملي کول واجب دي خوکوم استاذچي ده مقررکړی دی دهغه لپاره تنخواه اخستل دخپل کارکولو دزماني صحیح ده اوکومه تنخواه چي ده اخستې ده دهغې بپرته ورکول پرده لازم نه دي اوکوم متولي چي دوقف کوونکي دشرطونوپه خلاف عمل وکړاوپردې ټینګارکوي دهغه لیري کول لازم دي فقط.

دشرعي په خلاف په کارکې درأیې ودیرښت ته اعتبارنشته

سوال : (۲۰۲) داوقافودمنتظمه کمیټی له ارکانوغړیو) ځخه زیدیورکن دی چي تراهتمام لاندي دجامع مسجدسره نورمسجدونه ،درسګاوې ، مدرسه عربیه اومکتبونه دي دکمیټی انتظام اوددې احکام عملي کول داختلا ف په صورت کې دارکانودرأیې پرډیرښت کیږي اوس ددغې کمیټی په انتظاماتوکې ډیرې لاری اوخرابیاني پیداشوي دي په همدې وجه دزیدرأیه دنورومبرانوپه خلاف ده اوله ټولوبېله ده په دې صورت کې به درأیې کثرت شرعًا معتبروي ،که نه ؟ اود زیدیواځي ممبرچي رأیه ډیرښ درأیې په مقابل مغلوبه ده آیاسره دپرلپسي غلطیو اوتیروتنواوداوقافودتاوانوپه لېدودپورته یادشویوممبرانوسره سره داختلاف یوون دعمل جاري وساتي که جلا شي حال داچي غالب ګمان دادی که دی جلا کیدوسره حالات به له بدوځخه بدشي ؟بینوا اوتوجروا(۱۳۴۰/۲۲۰۳هج)

ځواب : کوم کارچي دشرعي په خلاف وي په هغه کې درأیې ودیرښت ته اعتبارنشته بلکي بایددشرعي قاعدوسره سم عمل وشي اودزیدلپاره په موجوده حال کي کله چي دده په بېلېدوسره حالات له بدوځخه بدیږي ، جلاکېدل نه دي پکارشایدکله اصلاح شي امازیدبایدهمېشه یادونه ورته کوي فقط.

دمتولي په ټاکلوکې که اختلا ف وي نوډیرښت ته اعتبارشته

سوال : (۲۰۳) که څه مسلمانان یومتولي مقررکړي اوځه بل نوپه داسي صورت کې

څه کول یکاردي ؟
(۳۲۳/۱۳۴۲هج)

خواب : داختلاف په صورت کې وړ ښت ته اعتباردی فقط.

دمسجد په تولیت اوانتظام کې دبلې محلې والاوولاس وهنه

سوال : (۲۰۴) دسیف آباد دروازې دپټیالی ښارجامع مسجد چې داحنافو په اهتمام کې ووچې آمدني اونور مصرفونه یې وړ اکترکریم الله صاحب حنفی ته سپارل شوې وواوس څه وخت کېږي چې هغه وفات شوی دی دده له وفات وروسته حنفیانو دمسجد دانتظام لپاره څوکسان انتخاب کړې وو پردې نورو خلګو چې حنفیان نه دي اودبلې عقیدې خلګ دي ومخالفت ته ملا وتړله آیاشرعًا داسي خلګ خنډ جړپدای شي ،که نه ؟ (۸۵۲/۱۳۳۷هج)

خواب : دغه انتظام کوم چې کلهوالواومسجدوالووکړشرعًا صحیح دی اوکوم خلګ چې متولیان وټاکل شوهغوئ متولیان اومنتظمین شول دوئ که کوم خیانت اونورونکړي نوهمدوئ به متولیان وي دبلې محلې اوکلې خلګوته داحق نشته چې په دې کې لاس وهنه وکړي اوجګړه وکړي په شامي کې راغلې دي ثم ذکرعن التاتارخانیة ماحاصله ان اهل المسجدلواتفقواعلی نصب رجل متولیالمصالح المسجد فعندالمتقدمین یصح ولکن الافضل کونه بأذن القاضی ثم اتفق المتأخرون ان الافضل ان لایعلموا القاضی فی زماننا الخ ــــ۱

دمزارپه ځارنه اوانتظام کې دمتولي داګا (تره) اونورومداخله

سوال : (۲۰۵) دزیدوادې له هندې سره وشواودزې زامن یې پیداشودمشرزوي نوم یې بکرووډهندې په کورنۍ کې دګدۍ نشینۍ لړې (دیوداسي ولی الله چې ترلیري لیري یې نوم پروت دی) له پېړیوڅخه راروانه ده هندې وروړنه درلود ،څکه دهندې پلاردخپل مشرلمسی (دلورزوئ) بکریعنی دهندې مشرزوئ یې پخپل ژوندکې دخپلې درګاه ګدۍ نشینۍ (ځای ناستی) کړاودهندې دپلارترمرګ وروسته هماغه مخکه چې پکې ددغه ولي مزارشریف واقع دی دننه اودباندي یعنی په حکومت کې کاغذونه دهندې دمورپه نامه شواودارازدهندې دمورترو فات وروسته هندې دننه اودباندي په حکومت

(۱) ردالمحتارعلی الدرالمختار (۳/ ۴۴۹) کتاب الوقف . مطلب الافضل فی زماننا (نصب المتولی الخ ط رشیدیه

Maktaba Tul Ishaat .com

کې کاغذونه په میراث کې پرخپل نامه وانه اړول بلکې دبکرګدی نشینې اوخپلونورو دووزامنوپه نوم یې کړېکرترخپل وفات څه موده مخکې خپل مشر زوی عمرددغه مزار ځای ناستی کړاودخلافت سندیې دعاموخلګوپه مخکې ورکړدبکرتروفات وروسته عمرچې حالاپرګدی ناست دی له خانه څه ولګولې اودنذراوخیراتوله آمدني څخه به یې څه برخه دډېوې (څراغ) انتظام کول غواړي کوم چیدعمرداکا اوداکادزامنودطمع له املې خوښ نه شوقبریې ملکیت وبولی په انتظام اوبندوبست کې یې لاس وهنه شروع کړه اودنذرونوخوړل یې شروع کړوچې له املې ددرګا ه شریفي انتظام ګډو،وډشونوپه داسي صورت کې دمزارشریف په ځارنه اوانتظام کې دموجوده ګدی نشین په مقابل کې آیاددې اکا ،ورونه اونورځه ذمواري اوحق لري اوکوم کارکولای شي ،که نه؟ (۲۳۱۸/۱۳۳۷هج)

ځواب : دعمرکوم چې دګدی نشینۍ متولی دی دده په مقابل دده اکا اوداکاوزامنوته دمداخلې هیڅ اختیارنشته اماکه دتولیت په اړه په کارونوکې دعمرخیانت ثابت شي نوبیاعام مسلمانان هم مداخله کولای شي فقط.

داوقافوله متولیانوڅخه والي دحساب غوښتنه کولای شي ،که نه ؟

سوال : (۲۰۲) یومسلمان واکمن والی دزمانې دحالاتوپه احساسولوچې داوقافوزیاتره متولیان دوقف شوې جائدادپه آمدنۍ اوخرڅونه کې دوقف کوونکې دشرطونوپابندي اودشرعي حکمونوپیروي په پوره توګه نه کوي آن تردې چې ځینې وقفونه خپل ملک وبلل شواوپه ځینوکې میراث اونقل کېدل راغلوددې یې داانتظا م وکړچې یوه محکمه په نوم داوقافومحکمه قائمه شوه اوپه دې کې مامورین اونوروټاکل شول اویومشرافسر وربانديې منتخب شوددې محکمې دعملیات کولوقانون تجویزشوی دی.

دقانون دتجویزولوپرمهال لومړی پردې خبره بحث وشوچې واکمن والی ته شرعًا داوقافو ځارنه تزکومه حده رواده ، یوه غړې وویل چې ددغه وقف شوې جائداددوقف کوونکې له لورې کوم سړی متولي موجودوي ووالي ته شرعًا دځارنې حق نشته مګرپه دې حال کې کله چې دمتولي کوم شخص شکمن وي یاپخپله ووالي ته دمتولي دخائن اوکوږوالي احساس وي

پرته له دې شرعًا دوالي دځارنې اوحساب په هکله له متولي څخه غوښتنه کول جائزنه دي ،څکه چې په مذهبي کارونوکې ووالي ته مداخله ورکول ناروادي.
یوبل غړی له دې رأیې څخه په اختلا ف وویل چې دزمانې دحالاتوپه پام کې نیولو سره کله چې دمتولیانوداسي حالت دی چې مخکې یې لنډه یادونه وشوه اوهمدغه حالات داوقافودمحکمې قائمولوله امله ګرځېدلې دي نوکه کوم شخص دمتولي شکمن هم نه وي بیاهم ورئیس اووالي ته شرعًا روادي چې لږ،ترلږه دومره څارنه ضرورو کړي چې له متولي څخه دټول کال دحساب غوښتنه وکړي اودچاله شکایت کولویادکاله دحساب غوښتلوپرته به څرنګه دمتولي خیانت اوکوږوالی احساس شي.
لومړی غړی ټینګارکوي چې دمتولي له شکایت یادخیانت له ښکارېدوپرته دوالي لپاره دکوم متولي څخه دکال دحساب غوښتنه کول شرعًا روانه دی دوهم غړی وایې چې به هرحال کې دوالي لپاره دارواده چې دزمانې دحالاتوپه پام کې نیولوپه وجه له متولي څخه دکال دحساب غوښتنه وکړي اوشرعًا په دې کې کومه منع نشته کنې که دومره هم ووالی ته شرعًا حق نه وي نوڅرنګه به دی داوقافوانتظام کوي په دغودواړورأیوکې کومه رأیه سمه ده ؟(۱۲۸۰/۱۳۳۷هج)

ځواب : په دغودواړورأیوکې دوهمه رأیه دزمانې په پام کې نیولوسره صحیح اوسمه ده لکه چې دلاندي عبارتونوڅخه معلومیږي : ورأی الحاکم ضم مشارف جاز(درمختار) وفی ردالمحتاراذانص الواقف علی ان احدالایشارک الناظرفی الکلام علی هذاالوقف ورأی القاضی ان یضم الیه مشارفایجوزله ذلک الخ ــ۱ (۳/ ۳۸۹) وفی الدرالمختار: لاتلزم المحاسبة فی کل عام ویکتفی القاضی منه بالاجمال لومعروفابالامانة ولومتهما یجبره علی التعیین شیئاالخ قوله ولواتهمه یحلفه ای وان کان امیناالخ وسیأتی قبیل کتاب الاقرارانه لاتحلیف علی حق مجهول الافی ست اذااتهم القاضی وصی یتیم ومتولی وقف الخ ــ۲ (شامی ۳/ ۴۲۵) فقط.

(۱) الدرالمختارمع الرد(۳/ ۴۲۲) کتاب الوقف ، مطلب یجوزمخالفة شرط الواقف فی مسائل ط رشیدیه.
(۲) الدرمع الرد (۳/ ۴۴۲) کتاب الوقف مطلب فی محاسبة المتولی وتحلیفه ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

له امانتداره متولي سره حساب اوکتاب کول

سوال : (۲۰۷) عمریوزورمسجدودان کړاوپه ببلابلوطریقوپې چنده وکړه دمسجدپه تعمیرکې یې ولګوله دمسجددتعمیرکارپای ته ورسیداماپلستریې پاته شودپلستراو ګل لپاره زیدپه لمونځ کوونکوکې اندازله اتوکلونوراهیسي په ببلابلووسیلوپه دې امیدروپۍ جمع کول شروع کړې چې دسل اودوه سوه روپیوله جمع کېدوورسته به دپلستر کارشروع شي په دې کې شک نشته چې زیدپه چنده سره دارازپه نوروطریقو روپۍ راجمع کړې په دې کې ځینې روپۍ داسي هم دي چې ورکوونکی یې له بنکارونې څخه منع کړې ده اوزیدیو داسي معتبراودینداره سړی دی چې پردینداري اوامانت داري باندي په سلګونومسلمانان پوخ باورکوي حال داچې نوموړی عمرپه دې کې یوه پیسه هم نه ده ورکړې نه ددې په وینازیدراجمع کړې دي خوکله چې زیددلیک ولوست دومره عادی نه دی دچندې په حساب پوهه شوی وایې اوټولې روپۍ یې دورکوونکې له نامه سره لیکلې وای ،ځکه ده ددغوروپیوکوم حساب ونه لیکی اودغه روپۍ یې جلایوځای جمع کولې له دې مخکې هم زیداسي روپۍ جمع کړې دي چې ډیروخت یې کیږي خوعمر هیڅکله هم ورڅخه دحساب غوښتنه نه وه کړې اوس کله چې دعمرله زیدسره څه مخالفت اوضددی دحساب غوښتنه کوي په داسي صورت کې پرزیدباندي دحساب اوکتاب ورکول واجب دي ،که نه ؟ اوعمرته داحق شته چې دحساب له ورکولوپرته دغه روپۍ په کوم مصرف کې لګېدوته پرېږدي ؟ (۱۳۳۷/۲۷۰۵هج) .

ځواب : ددرمختارپه کتاب الوقف کې راغلي دي : ویکتفی القاضی منه بالاجمال لومعروفًا بالامانة الخ ـــا یعنی که متولي دکوم وقف په امانتداری سره مشهوروي نوقاضی اوشرعي حاکم دي لندحساب دآمدنۍ اوخرڅ له ده سره وکړي وتفصیلي حساب ته اړتیانشته فاذاکان هذافی القاضی فکیف بغیره ؟ اوپه شامی کې راغلي دي چې دامانتدارقول دآمدنۍ اوخرڅ په هکله معتبردی نوپه همدې اساس په یادشوي صورت کې وعمرته داحق نشته چې دنوموړې امانتدارسره ـــاب وکړي اوببله حساب کولودچندې روپۍ وصرفېدوته نه پرېږدي فقط .

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۲۲) کتاب الوقف ، مطلب فی محاسبة المتولی وتحلیفه ط رشیدیه .

کوم فسق باعث دعزل (ایسته کېدو)دی ؟

سوال : (۲۰۸) درنګون ښارله مسلمانانو څخه مثلا زیدیوعزتمن سړی بلل کیږي که څه هم مخکې دی دلمانځه اونوروپابندنه ووخوددنیاپه اعتباردی یوډیرلوئ رئیس مشهوردی اودمسجد.مدرسې اوعیدګاه اونورومتولی دی اونوموړی مستراودور یجوغټ تاجربلل کیدی سره له دې نوموړی زیدپه امانتداري کې هم زیددنوروتجارتونوسره دوریجوپه تجارت کې خمارهم کاووپرته له دې دمسجدسره نښې مخکه (چې دمسجد ورته سخته اړتیاده) زیدله خپله جېبه په څلوېښت زره رانیوله ومسجدته یې وقف کړه اویوه مخکه پې په پنځه څلوېښت زره رانیوله وهدیرې ته یې وقف کړه اوس نژدي له یوه کال راهیسي (کله چې زیددغه دخمارتجارت هم پرېښې دی اودلمانځه اونوروحکمونو په اداینه کې دده حالت له نبه څخه هم نبه شوی دی) دځینوغړیواودده دکارشرېکانودا حالت دی چې صرف دیومخکنی دخماردتجارت په الزام لګولونوموړی زیدله تولیت څخه لیری کول غواړي داصرف دنفس په وجه دی کنې ددوئ زړونه پوره یقین لري چې زیدپه حقیقت کې دمسجدداوقافوپه اړه پوره امانتداردی اوباوری سړی دی اوکوم څوک چې دوئ اوس متولي جوړول غواړي هغه په امانتداري اونوروکارونوکې دزیدپه څیرنه دی بلکې دغه خلګ پخپله دخمارپه څیرپه سلګونوکبېره ګناهونواخته دي له دغودرېیوڅخه ځیني خودلمانځه هم پابندي نه کوي ځیني بائسکوب (سینما) ګوري ځیني زکوة نه ورکوی ، خیانت کوي نوراونور؟ (۱۲۹۳/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : ددهلي دمدرسي امینیه صدرمدرس مولانامحمدکفایت الله صاحب له لوري هوالموفق : کله چې زیددناشرعي کارونوله کولوڅخه توبه وکښه اوهغه کارونه یې پرېښوول نواوس دده تېرشوې ګناهونه فعلادعزل وجه نشي کېدای په اوسنی زمانه کې دامانتداراوقافودخیرخواه متولي وجودمشکل وي اودغه صفت له نورووصفتونوڅخه داوقافودتولیت په اړه زیات مهم اوپه تېره بیاپه دې زمانه کې مراعات کول واجب دي په تجارت کې دخمارصورت ناجائزدی اماله توبه کښلوروسته ددې په وجه له تولیت څخه لیري کول هیڅ معنی نلري اوبیاکله چې بل طرفته هغه خلګ چې نومونه یې دتولیت لپاره پېښیږي فعلاله ګناهونواو معاصي کولوڅخه خلاص نه دي نوپه هیڅ ډول هم دزیدد مخالفینو

Maktaba Tul Ishaat.com

نیت دخیراودوقف خیرخواهي (خواخوږي) نه ثابتیږي اودوئ ته هیڅ حق نشته چي له زیدڅخه په غوراوي کي کم دخلګولپاره دزید دتولیت په خلاف کاروکړي والله اعلم

محمد کفایت الله غفرله مدرسه امینیه دهلی.

ځواب: دسهارنپوردمدرسه مظاهرعلوم مفتی مولوي ضیاء احمدله خوا.

زیدکه څه هم له دې څخه مخکې دیوناجائزکارکوونکی ووخولکه چي ده له خپل دغه کارڅخه توبه وکښه، ځکه نو (دیوه داسي کارپه وجه چي دی یې نه اوس مباشر (کوونکی) اونه متسبب (سبب جوړوونکی) دی دی له تولیت څخه عزلول روانه دي اولکه څرنګه چي دمحدودفی القذف (په تورلګولوکې سزاشوی) له توبې کښلوورسته تولیت صحیح اوسم دی دارازاوس دزید په تولیت کې هم هیڅ تاوان نشته قال فی الشامی ویستوی فیه الذکروالانثی وکذاالاعمی والبصیر وکذاالمحدودفی قذف اذاتاب لانه امین انتهی ـ۱ اوپه تېره بیاپه اوس وخت کله چي هغه خلګ کوم چي دزیدپرځای متولیان ټاکل کیږي دبدعتونو اوګناهونو کوونکی اودفرضواوواجبوپربښوونکی دی زیدلیري کول اودوئ متولیان ټاکل په هیڅ صورت هم نه رواکیږي اوکوم خلګ چي په دې کې سعی اوکوشش کوي هغوئ ګنهګاران دي اونه نورخلګ په موجوده صورت کې دخلګوپه متولیان ټاکلوسره شرعًا متولیان ګرځي والله اعلم.

لیکوونکي ضیاء احمدعفي عنه مفتي مظاهرعلوم سهارنپور

الجواب صحیح: خلیل احمدناظم مظاهرعلوم (سهارنپور)

التائب من الذنب کمن لاذنب له عبداللطیف عفی الله عنه مدرس مدرسه مظاهرعلوم سهارنپور.

الجواب صحیح: منظوراحمدعفی الله عنه مدرس مدرسه مظاهرعلوم سهارنپور.

دتولیت لپاره چي شرعًا دکوموشیانوارتیاده هغه شیان په نوموړي زیدکې په پوره توګه وجودلري، ځکه نوشرعًا دده عزل کول روانه دي.

بنده عبدالرحمن غفرله مدرس مدرسه مظاهرعلوم سهارنپور

تول جوابونه صحیح دي اشرف علی عفی عنه.

ځواب: زیدداوقافومتولي (دچاچي دحال یادونه په سوال کې شته) په هیڅ ډول دعزل ورنه دی

(۱) ردالمحتار (۴۲۱/۴) کتاب الوقف، مطلب فی شروط المتولی طرشیدیه.

.څکه چې دتولیت لپاره چې وکوموشیانوته اړتیاده هغه شیان په زیدکې په ښه طریقه سبب دی دمسولي لپاره ضروري ده چې دی به امانتداروي اودتولیت کارونه به په اندازه سره کوي اودتولیت له کارونوڅخه عاجزنه وي لکه چې به رڼاالمحتار له اسعاف څخه رانقل شوې دي: ولایولی الا امین .قادربنفسه اوبنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظر ولیس من النظرتولیة الخائن لانه یخل بالمقصودوکذاتولیة العاجزلایحصل به الخ ـ ۱ وفی الدرالمختار: فلومأمونالم تصح تولیة غیره ـــ۲

نوکله چې زیددتولیت په معامله کې یومخ له امانتداری څخه کاراخلي اوامانتدار دی اوله ده څخه واوقافوته ډیرې ګټې ورسېدي اوپه آئنده کې هم دحاصلېدوتوقع شته نوپه هیڅ ډول دده عزلول اوله تولیت څخه لیري کول جائزنه دی.

اودزیدکارونه دکوموچې داوقافودګټې په اړه په سوال کې یادونه شته هغه شاهدان دي چې دزیدوجودغنېمت دی اوله ده څخه داوقافودکارونوپه اړه دخیانت اونورووهم هم نشي کېدای نوپه داسي حال کې له تولیت څخه دزیدعزلول په هیڅ ډول جائزنه دی.

پاته شوه معامله دخمارچي حقېقت یې په سوال کې بیان شوی دی داله فاسدوبیوع څخه ده خوددې په کولوزیددعزل ورنه وو ،څکه چې په تولیت کې وکوموشیانوته اړتیاده یعنی امانتداري اودتولیت پرکارونوکولوقدرت هغه په زیدکې په بشپړه توګه وجودلري اوکومه فاسده معامله کول که څه هم شرعًا نارواده خوتولیت ته په دې سره ضرراوتاوان نه پېښېږي اوکوم فسق چې فقهاؤباعث دعزل بللی دی هغه فسق دی چې ورڅخه دوقف دمال دضایع کېدوګمان اووېره وي لکه چې ددرمختارله لاندې عبارت څخه څرګندیږي وینزع وجوبًا (بزازیة) لوالواقف (درر) فغیره بالاولی غیرمأمون اوعاجزاوظهربه فسق کشرب خمرونحوه اوکان یصرف ماله فی الکیمیاء ـ۳ قال الشامی : قوله اوکان یصرف ماله الخ لانه استقرئ من احوال متعاطیهاانهاتستجره الی ان یخرج من جمیع مافی یده وقد

(۱) مخکنی حواله (۲) الدرالمختارمع الشامی(۴۲۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی عزل الناظر ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختارمع الشامی (۴۲۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب یأثم بتولیة الخائن ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترتب علیه دیون بهذا السبب فلا یبعد ان یجره الحال الی اضاعة مال الوقف۔۱

له دې څخه معلوم شوچې دوقف دمال دضائع کېدودوېرې په وجه دی عزل کیږي نوپه پوښتل شوې صورت کې ښکاره ده چې دغه وېره له زید څخه مخکې هم دځینوفاسدوعقد و نودحالاکولوپرمهال هم نه وه اواوس کله چې زید داکاږپربیښی دی اودلمانځه اوروژې پابندي اودنیکواعمالوتوفیق دده څرګندد ی نوپه هیڅ ډول زیددعزل وړنه دی اوعزلول دده روانه دي اوسپکاوی اوذلیلول دداسي سړی هم حرام اوګناه ده اونورداسي خلګ کوم چې دزید په څیرنه دي اوحرام کارونه کوونکې دي هغوئ دزید په مقابل دتولیت حقداران نه دي فقط واللہ اعلم.

الجوب: صواب: محمد انورعفی اللہ الجواب صواب: خاکسارسراج احمدرشیدي

الجواب صحیح: محمدرسول خان عفی عنه الجواب صحیح: عبدالسمیع عفی عنه

اصاب المجیب: سید محمدادریس غفرله الجواب صحیح: بنده محمدشفیع عفی اللہ عنه

الجواب صواب بلاریب: نبیه حسن عفی اللہ عنه الجواب صواب: میرک شاه عفی اللہ عنه ددارالعلوم دیوبندمرستیال مفتی.

دوقف مال په ناروامصرف کې لګوونکي متولي عزلول

سوال: (۲۰۹) زیددوقف متولي دی خونه لمونځ کوي اودوقف مال پخپل ځاني اوناروا مصرفونوکې صرفوي په دې صورت کې زیددتولیت وړدی ،که نه ؟ (۱۵۴/۳۲-۱۳۳۳هج)

خواب: په داسي حال کې زیددتولیت اهل اوورنه دی لیري کول دده لازم دي اوپرمسلما نانودوقف خوندی کول ضروري دي دقدرت درلودلوپه شرط په دې کې پته خوله کېدل صحیح نه دي اودوقف په خوندي کولوکې کوشش کول چې هررنګه وي ضروري دی ، فقط.

سوال: (۲۱۰) کوم متولی چې سودخوروي اودوقف روپی په فضولوخایونوکې لګوي دی دعزل وړدی ،که نه ؟ (۳۲/۱۷۸-۱۳۳۳هج)

خواب: داسي متولي لیري کول لازم دي دوقف په آمدني کې داسي تصرف کول روانه دي فقط.

(ردالمحتار (۴۲۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب فیماشاع فی زماننامن تفویض نظرالاوقاف للصغیرط رشیدیه.

سوال : (۲۱۱) کوم سړی چې سوداخلي اوچاته حساب اونورنه ورکوي اوضروري خرڅ هم نه کوي هغه دمسجددوقف جائدادمتولي کېدای شي ،که نه ؟ (۵۵/ ۳۵- ۱۳۳۲هج)

خواب : داسي سړی دمسجددمتولي جوړولواهل نه دی دی عزل کړئ بل نېک ،امانتداره سړی متولي وټاکئ په درمختارکې راغلې دي: وينزع وجوبًا (بزازيه) لوالواقف (درر) فغيره بالاولى غيرمأمون اوعاجزااوظهربه فسق الخ (۱) وفی الشامی عن الاسعاف: ولايولی الا امين وقادربنفسه اوبنائبه لان الولاية مقيدة بشرط النظروليس من النظر تولية الخائن لانه يخل بالمقصودالخ(۲) (۳/ ۳۸۵)

دفسادي متولي عزلول

سوال : (۲۱۲) زيددمسجدلپاره خپله مځکه وقف کړه اوعمرپخپلوروپيوودان کړاودمسجدخرڅې عمرله خپله ځانه کوي عمرزيدمتولي وټاکی خوعمردزيدپه حالاتوخبرنه وو ،ځکه چې زيدغټ فسادی اوپه ډله کې بهلتون اچوونکی اوشرارتي دی کلهوال دزيدمتولي کېدل نه خوښوي نوزيدپه داسي حال کې عزلولای شي ،که نه ؟(۲۴۶/ ۳۵- ۱۳۳۲هج)

خواب : کله چې عمرزيدمتولي وټاکی زيدمتولي شواوکه عمراوکلهوال زيددمتولي والي ورونه بولي اوخائن اوشرارتي يې بولي نودی عزلولای شي.

بدکاره متولي اومهتمم عزلول

سوال : (۲۱۳) کوم مسلمان سړی چې سره دمسجدله توليت اوداسلامی مدرسي اونورواسلامي اوقافوله اهتمامه ځرګنده زناکوي دهغه په هکله شرعًاځه حکم دی ؟ اوسودخوري اودصلح په جشن کې په خلاص زړه سره برخه اخلي اوپه نښه تاواوبالاسره رښاکړي وي چې په انعام کې حکومت سنداونورهم ورکړې وي دده متولي کېدنه اوداسلامي کارونومهتمم کېدل ترکومه صحيح دي ؟ (۱۲۸۹/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: داسي سړی دمتولي کېدوورنه دی دده عزلول لازم دي.

---

(۱) الدرمع الرد(۴۲۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب يأثم بتولية الخائن ط رشيديه.

(۲) ردالمحتار(۴۲۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی شروط المتولی ط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat. com

بدخواه (بده غوښتوونکي) متولي عزلول

سوال : (۲۱۴) څيني مالدارخلک دمسجدآمدنی لپاره مکان تعمیرول غواړي ادمسجد متولي يې منع کوي چې مکان مه جوړوده زه دمسجدګټه نه غواړم اوزياتره متوليان پرمسجدونوخپل حکومت ښکاره کوي چې ورځخه ومسجدته تاوان پښيږي داسي متولي پربښوول پکاردي .که يې عزل کول روادی ؟ (۱۷۴۹/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : داسي متولي دعزل کولووړدی دمسلمانانو دي دی ليري کړي اومکان دي دمسجد دګټې لپاره ودان کړي.

خائن متولي عزل کول

سوال : (۲۱۵) (الف) کوم متولی چې خائن وي اووقف شوی جائداددوقف په مصرفونوکې نه لګوي اودخپل ځان لپاره يې لګوي نوداسي سړی دمسجدداوقافومتولي کيدای شي ،که نه ؟

(ب) دمسجدداوقافوپه متولي کې بايدکوم صفتونه وي ؟ (۳۲/۲۱۸۳ـ ۱۳۳۳هج)

ځواب : (الف ،ب) کوم متولی چې خائن وي دهغه عزلول پکاردي اوکوم امانتدارچې دوقف انتظام په پوره ډول کولای شي متولي ټاکل پکاردي اومسلمانانوته داحق شته چې دوئ له متولي ځخه دحساب غوښتنه وکړي که خيانت ثابت شي نومتولي ليري کړي اوبل سړی چې امانتدارانتظام کوونکی وي وټاکي که وقف کوونکی پخپله متولي وي اوله ده ځخه په توليت کې کوم ډول خيانت ثابت شي نومسلمانان دی هم عزل کولای شي بلکي دده ليري کول واجب دي اوکوم سړی چې صرف متولي وي وقف کوونکی نه وي اوخائن وي نومسلمانان په اولی درجه هغه عزلولای شي په درمختارکې راغلې دي : وينزع وجوبًا (بزازية) لوالواقف (درر) فغيره بالاولی غيرمأمون اوعاجزاوظهربه فسق الخ (۱) وفی الشامی عن الاسعاف : ولايولی الا امين وقادربنفسه اوبنائبه لان الولاية مقيدة بشرط النظرولیس من النظر تولية الخائن لانه يخل بالمقصود الخ (۲) (شامی)

(۱) الدرمع الرد (۳/۴۲۱) کتاب الوقف ومطلب فيمايعزل به الناظر ط رشيديه.

(۲) الشامی (۳/۴۲۱) کتاب الوقف ، مطلب فی شروط المتولی ط رشيديه.

سوال : (۲۱۶) (الف) کوم سړی چې دمسجد متولي وي اودمسجد ترمېم اوپاکي خیال نه ساتي اومامورینوته پروخت تنخواه نه ورکوي چې له امله یې هغوئ په تکلیف وي حال داچې ددې شی لپاره روپی وي؟

(ب) دمسجد دوکانونه دخپل ځان دګټې لپاره په لږکرایه ورکړې دي سره له دې چې دغه دوکانونه بل مسلمان په زیاته کرایه غواړې دارازځینې دوکانونه یې وداسي نامسلمانوته ورکړې دي کوم چې پکې شراب خوري اوزناوي پکې کوي حال داچې مسلمانان ددغو دوکانونو غوښتوونکي دي.

(ج) دمسجد روپی سره له دې چې کلېوالو منع کړې ده بیاهم یې بېله ضرورته لګوي

(د) دمسجد دآمدنی اوخرڅ حساب سره له سختې غوښتنې بیاهم نه کوي.

(هه) دمسجد حجره پخپل ځاني کارونوکې استعمالوي ددې سړی تولیت روادی ،که نه؟ اوکه کلېوال دده په لیري کولوکې سستي کوي نودهغوئ په هکله حکم څه دی؟ (۲۵۵/ ۱۳۴۳هج)

خواب : داسي سړی متولي ساتل صحیح نه دي اوعزلول یې واجب دي لکه چې په درمختارکې راغلې دي: وینزع وجوبًا (بزازیة) لوالواقف (درر) فغیره بالاولی غیرمأمون اوعاجزاوظهربه فسق الخ (۱) وفی الشامی عن الاسعاف: ولایولی الا امین قادربنفسه اوبنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظرولیس من النظر تولیة الخائن لانه یخل بالمقصودالخ - ۱ اوسره له قدرت درلودلودکلېوالوسستي کول ناروادي اماکه دوئ قدرت نلري یاپه دې کې فتنه وي نومجبوري ده فقط.

سوال : (۲۱۷) که زیدپه بدنیت سره دوقف مال خپل ملک جوړول غواړې اوپه امانت کې خیانت کوي نوڅه حکم دی؟ (۱۹۵۲/ ۱۳۴۳هج)

خواب : زیدپه دې صورت کې فاسق اوګنهګاریږي اوکه دی دوقف متولي دی نودعزل وړدی فقط.

---

(۱) الدرروالردللشامی (۳/۴۲۱) کتاب الوقف، مطلب یأثم بتولیة الخائن ط رشیدیه

Maktaba Tul Ishaat.com

پخپله متولي جوړشوی لیري کول

سوال: (۲۱۸) یوسړی دخپل جائدادله آمدني څخه اتمه برخه دآمدنی وقف کړه اویوه دوصیت پانه یې ولیکله چې پکې وقف کوونکی دهغه دصرفولوتفصیل هم وښووی اودده متولیان یې هم وروتاکل دصرفولوتفصیل یې داسي دی له کاله پنځویشت روپی مکې ته اوپنځویشت روپی مدینې ته ولیږي له دې وروسته چې څه پاته شي هغه دخیره کار، طالبانو،څاه اونوردخیرپه کارونکوکې لګولواختیارو متولیانوته ورکوم اودوئ دې پخپل ژوندکې متولیان وټاکي ،څکه نومتولیانو دوصیت دپانې سره سم آمدني ولګوله په متولیانوکې یودوقف کوونکې زوئ اوبل وراره وودواړه متولیان یوپه بل پسې وفات شواوپخپل ژوندکې یې څوک متولي ونه ټاکی بلکي ددوهم متولي چې دوقف کوونکې وراره وودده له وفات وروسته دده بچیانودوقف آمدني پخپل اختیارد وصیت دپانې په خلاف ولګوله آیادغه متولیان دتسلیمولووړدي ،که نه ؟ اودوقف دپانې په خلاف ددوئ صرفول روادي ،که نه ؟اوهغه آمدني له دوئ څخه اخستل کیدای شي ،که نه ؟ اودوقف کوونکې کوم اولادچې اوس موجوددی هغوئ داسي کولای شي چې دغه پخپله جوړشوې متولیان لیري کړي نورمتولیان وټاکي یاپخپله متولیان شي ؟ (۴۵۴/ ۴۶-۱۳۴۷هج)

جواب: په درمختاراوشامي کې راغلې دي:مراعاة غرض الواقفین واجبة۔۱ شرط الواقف کنص الشارع۔(۲) نوددغوروایتونوسره سم دوقف کوونکې دشرط په خلاف دغه آمدني صرفول روانه دي اماکه وقف کوونکی دخیرپه کاروکې دصرفولولیکلې وي نومتولیانوکه کوم دخیرپه کارکې صرف کړي چې دوئ دخیرکاروبالونوپردوئ ضمان نشته دوقف کوونکې په اولادوکې چې کوم اهل وي هغه دمتولي کېدولپاره زیات حقداردی ومادام احدیصلح للتولیة من اقارب الواقف لایجعل المتولی من الاجانب الخ۔(۳) (درمختار) ولایة نصب القیم الی الواقف ثم لوصیه الخ۔۴ (درمختار) نوددې قاعدې سره سم دوقف کوونکې په اولادوکې چې کوم څوک اهل وي هغه متولي وټاکي اوحالا چې کوم پخپله متولي جوړشوی

---

(۱) الشامی (۳/ ۴۶۴) کتاب الوقف ، مطلب مراعاة غرض الواقفین واجبة الخ ط رشیدیه.
(۲) الدرمع الرد (۳/ ۴۵۲) کتاب الوقف ، مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.
(۳) الدرمع الرد (۳/ ۴۵۰) کتاب الوقف ، مطلب لایجعل الناظر من غیر اهل الوقف ط رشیدیه.
(۴) الدرمع الرد (۳/ ۴۴۸) کتاب الوقف ، مطلب ولایة نصب القیم االواقف الخ ط رشیدیه.

دی هغه لیري کړي که دی دوقف کوونکې دشرط په خلاف متولي جوړشوی وي خوکله چې وقف کوونکی ومتولیانوته اختیارورکړی ووچې دوئ له خپل لورې بل څوک هم متولي ټاکلای شي نوکه دوهم متولي کوم چې دوقف کوونکې وراره وواله خپل اولاده څوک متولي وټاکي نوهغه متولي شوخوکه هغه خائن وي نوعزل کېدای شي فقط.

چنده ورکوونکي متولي اومهتمم لیري کولای نشي ؟

سوال : (۲۱۹) (الف) آیاکوم سړی صرف دچندې وتحریک ته یاپه چنده کې دیوې دوو روپیوپه ورکولودکوم مسجدباني یامتولي لیري کولای شي ؟

(ب) کوم سړی چې هیڅکله په کوم مسجدکې هیڅ ډول مرسته نه وي کړې صرف به دې وجه چې زیاتره خلګوومالک اودمسجدوباندي ته دمسجددتعمیرلپاره څه چنده ورکړې ده دمهتمم اودمسجددباني دلیري کولواختیارده ته شته ؟ اوآیادی دخپلې خوښې سره سم کوم متولي ټاکلای شي ؟ (۱۱۲۲/ ۴۶ـ ۱۳۴۳هج)

ځواب : (الف) نه یې شي لیري کولای په درمختارکې راغلې دي فلومأمونا۔(۱) لم تصح تولیة غیره الخ ـــا اوپه شامی کې دي : قال فی شرح الملتقی معزیاالی الاشباه لایجوز للقاضی عزل الناظرالمشروط له النظربلاخیانة الخ ـا (شامی درییم ټوک)

(ب) له پورته عبارت څخه څرګندشوچې په موجوده حالت کې وهیڅاته دمسجددباني اومهتمم دلیري کولواختیارنشته اوداروانه دی چې دی بېله کوم خیانت لیري کړي بل متولي وټاکي لکه چې له یادشوې عبارت فلومامونالم تصح تولیة غیره څخه ښکاره ده.

وقف شوی جائدادپخپلوځاني کارونوکې استعمالوونکې متولي لیري کول

سوال : (۲۲۰) دسرای انارکلی لاهوراونوروالسوالیودوقف جائدادآمدني پخپلوځاني کارونوکې صرفوي داسي متولیان لیري کول ضروري دي ،که نه ؟ اوله دې وروسته دمتولي کېدوحق زیات دچادی ؟ دعامومسلمانانواوکه دوقف کوونکې دوارثانو؟اوپه دې کې دعامو مسلمانانومرسته کول ضروري دي که به صرف دوقف کوونکی وارثان کوي ؟(۱۷۸۲/ ۱۳۳۵هج)

Maktaba Tul Ishaat. com

ځواب: ددا سي خائن متولي ليري کول واجب دي وينزع وجوبًا (بزازية) لوالواقف (درر) فغيره بالاولى غيرمأمون اوعاجزاوظهربه فسق الخ (۱) وفى الشامى عن الاسعاف: ولايولى الا امين وقادربنفسه اوبنائبه لان الولاية مقيدة بشرط النظروليس من النظر تولية الخائن لانه يخل بالمقصود الخ۔(۱)

اوترڅوچي دوقف کوونکې په خپلوانوکې کوم څوک دتوليت صلاحيت لري اودمتولي جوړېدووړوي بل څوک متولي مه ټاکئ له خپلوانوڅخه څوک متولي وټاکئ په درمختار کې راغلې دي ومادام احديصلح للتولية من اقارب الواقف لايجعل المتولى من الاجانب الخ ۔ (۲) اودخائن متولي له لاسه دوقف په ايستواودکوم نېک اوصالح شخص په متولي ټاکلوکې پرعاموسلمانانومرسته کول لازم دي فقط.

تارياک خوړوونکي عزلول

سوال: (۲۲۱) که کوم متولي دناروغۍ په وجه افيون استعمالوي نودده پرځای بل څوک متولي ټاکلای شو، که نه؟ (۱۳۴۲/۳۲۳هج)

ځواب: افيون خوړوونکی اوددې عادې سړی دمتولي کېدواهل نه دی بايدکوم بل ديندار، نېک اومتقی شخص متولي وټاکل شي.

له کوم متوي څخه چي خلک خوشحاله نه دي هغه بايدليري شي

سوال: (۲۲۲) دجامع مسجد حفظ القرآن چي کوم متولي دی له ده څخه دانتظام نه کولوپه وجه زياتره خلک ناخوښ دي اودی عزلول غواړي اووه، اته کسان داغواړي چي متولي صاحب دې پرخپل ځای پاته وي که متولي پخپله خوښه ليري نه شونومحکمې ته به سره ځواومتولي صاحب وايي چي که پربښوول ګناه نه وي نوزه يې پربږدم په دې صورت کې متولي بايدليري شي، که نه؟ (۱۳۴۳/۱۳۹۹هج)

---

(۱) الدرالمختاروالشامى (۳/۴۲۱) کتاب الوقف، مطلب فى شروط المتولى ط رشيديه

(۲) الدرالمختارمع الشامى (۳/۴۵۰) کتاب الوقف، مطلب لايجعل الناظرمن غيراهل الوقف ط رشيديه.

ځواب : کله چې له نوموړې متولي څخه زیاتره خلګ دمدرسې دانظام نه کولو په وجه ناخوښه دي اوده په پاته کېدوسره دزیان ،جګړې اومحکمې ته دتلواو نورووړه ده نوداسي متولي بایدلیري شي اوپه لیري کېدوپرده هیڅ ګناه نشته بلکې ثواب لادی دمسلمانانوله جګړې اومحکمې ته دتلوڅخه خوندي کول په دې صورت کې حاصلیږي اوبې اتفاقي پخپل مینځ کې جګړه اومخالفت ډیربددی ،ځکه نوکومه رأیه چې دزیاترو خلګوده اونوموړې متولي دوئ نه خوښوي نوداسي متولي بایدلیري شي فقط.

سوال : (۲۲۳) دیوه مسجدمتولي ځیني خلګ لیري کول غواړې اوځیني یې نه غواړې نوشرعًا بایدڅه وشي ؟(۱۴۵۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : که په دغه متولي کې کوم شرعي عیب شته یعنی دی خائن دی اودمسجدانتظام دی نشي کولای نودی عزلول پکاردي اوکه داسي نه دی نودده دعزلولووچاته حق نشته.

که یومتولي بل متولي عزل کړي

سوال : (۲۲۴) زیدیوویران اوناآبادمسجدودان کړاوخاص پخپل جیب یې دمسجدترمیم اوپراخوالی وکړده له وفات وروسته دده زوئ عمرهم دخپل پلارله وصیت سره سم ددې مسجدخدمت پرخپله غاړه واخست اودارازیې تردیرشوکلونوپورې دغه ذمواري ترسره کوله دعمردانتظام په زمانه کې یومسلمان یومکان دمسجدداړتیاوولپاره وقف کړاونوموړی عمراوبکریې متولیان وروتاکل خودوقف شوې جائدادانتظام هغه رنګه دعمرپه لاس کې ووا وعمرپخپل ښه انتظام کولودوقف شوې ځائدادآمدني زیاته کړه مسجدیې پراخ کړنوی چت (بام) اومناره یې پرجوړکړل غولی یې پراخ کړدمسجددمصر فونولپاره یې بازارجوړکړدوقف شوې جائدادآمدني درې روپی دمیاشتې وي اوس پنځویشت روپی دمیاشتې دي دآمدني دزیاتوب په لیدودبکرپه زړه کې طمع پیداشوه ده څوکسان دخپل ځان ملګري کړل دمسجدزوړاوپخوانی خادم اومتولي عمریې دمسجدله جائدادڅخه بې برخې اوعزل کړپخپله یې قبضه ورباندي وکړه په دې صورت کې وعمرته پربکرترجیح شته ،که نه ؟ اودخیانت اونورو(کوم چې داهل کېدوضددی) نه ثابتېدوپه صورت عمرلیري کول اوبکردده پرځای تاکل شرعًا دعمرحق وهل دي ،که نه ؟(۱۲۱۷/ ۱۳۳۷هج)

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب : په ردالمحتارکې راغلې دي: ولایولی الامین الخ۔(۱) دد ې حاصل دادي چې متولي دې هغه سړی وټاکل شي کوم چې امانتداروي اوپرانتظام کولوقدرت لري اوداهم دفقهې په کتابونوکې لیکلې دي چې بېله خیانته متولي عزل کول صحیح نه دي اودمکان وقف کوونکی چې کله عمراوبکردواړه متولیان وټاکل نوددواړوپه رأیه دتولیت کارترسره کېدل پکاردي دکوم یوه بېله خیانته کولوعزلول صحیح نه دي.

وقف کوونکي متولي بېله کومې وجې هم عزلولای شي

سوال : (۲۲۵) رحم علی څه مځکه دالله رب العزت په نامه وقف کړه اودتولیت حق یې نسل ترنسل وذاکرعلی ته دوقف دپانې په وسېله وسپاري قبضه یې ورکړه دخیانت له ثابتېدوپرته دنوې خوابدتیاپه وجه رحم علی وقف کوونکی داغواړي چې ذاکرعلی متولي نه شي پاته خودکلې نورخلګ دذاکرعلی په متولي کېدوخوښ دي په پوښتل شوې صورت کې ورحم علی ته کوم حق دوقف مځکې دتولیت څخه دمتولي ذاکرعلی لیري کولوشرعًا شته .که نه ؟ (۲۲۱۵/۱۳۳۷هج)

خواب : په درمختارکې راغلې دي ولایة نصب القیم الی الواقف قال فی الشامی : قوله ولایة نصب القیم الخ قال فی البحرقد منان الولایة ثابتة مدة حیاته وان لم یشترطهاوان له عزل المتولی الخ (۲) (شامی ۳/ ۴۰۹) وفیه : قبله واماالواقف فله عزل الناظرمطلقابه یفتی الخ (۳) (ص : ۳۸۲) نومعلوم شوچې وقف کوونکی رحم علی ببله کومې وجې هم متولي عزلولای شي.

دوقف کوونکې له وفات وروسته دده دټاکلي متولي جلاوالي

سوال : (۲۲۲) (الف) له څومتولیانوڅخه وقف کوونکې زید خپل شریک متولي وټاکی اوسل روپۍ تنخواه یې ورولګوله نودوقف کوونکې له وفات وروسته زیدله دغه تولیت څخه لیري کېدای شي ،که نه ؟

(ب) کوم اختیارات چې وقف کوونکې وزیدته ورکړې دي هغه دوقف کوونکې له وفات وروسته ختمیږي ،که نه ؟

(ج) دوقف کوونکې له وفات وروسته پروقف شوې جائدادمقدمه وشوه اوزیدکوشش کاووخوترډیرې زمانې یې قبضه ورباندي رانغله څه زمانه وروسته پروقف شوې جائداد سره له آمدني قبضه راغله څومره

---

(۱) الشامی (۳/۴۲۱) کتاب الوقف ، مطلب فی شروط المتولی ط رشیدیه.

(۲) الدرمع الرد (۳/ ۴۴۸) کتاب الوقف . مطلب ولایة نصب القیم الی الواقف.

(۳) ردالمحتار (۳/۴۲۲) کتاب الوقف ، مطلب فی عزل الناظر ط رشیدیه.

موده چې ورباندې قبضه نه وه دهغه مودې تنخواه اخستلای شي ،که نه ؟ کله چې نورپر خې درلودوونکې دوقف کوونکې له خوښې سره سم برخې وړي ؟ (۲۷۱/ ۱۳۳۹هج)

خواب : (الف) داخبره منل شوې ده اودفقهې په کتابونوکې ددې څرګندونه شته چې دوقف کوونکې شرطونه (کوم چې دشرعې په خلاف نه وي) معتبروي اوله هغوشرطونو سره سم عمل کول لازم دي نوزيدکوم چې وقف کوونکی شرېک متولي تاکلی دی دوقف کوونکې په ژوندکې اودوقف کوونکې له ژونده وروسته دهغواسبابوپه وجه له تولیت څخه لیرې کېدای شي دکوموچې پخپله وقف کوونکی څرګندونه کوي اوکه وقف کوونکی ددغواسبابوڅرګندونه هم نه وای کړې نوکومې وجې چې دمتولي دعزلولوشرعًا مقررې شوې دي په دغووجومتولي عزل کېدای شي فقهاؤڅرګندونه کړې ده چې که پخپله وقف کوونکی هم (کوم چې متولی هم دی) امانتدارنه وي اودتولیت کارپخپله یادخپل نائب په وسیله نشي ترسره کولای یادوقف مال ضائع کوي نودی به له تولیت څخه لیرې کیږي په درمختارکې راغلې دي : وینزع وجوبًا (بزازية) لوالواقف (درر) فغيره بالاولى غيرمأمون اوعاجزااوظهربه فسق كشرب خمرونحوه اوكان يصرف ماله فى الكيمياء نهربحثا وان شرط عدم نزعه اوان لاينزعه قاض ولاسلطان لمخالفته لحكم الشرع الخ وفى ردالمحتارقوله غيرمأمون قال فى الاسعاف ولايولى الا امين قادربنفسه اوبنائبه لان الولاية مقيدة بشرط النظروليس من النظر تولية الخائن لانه يخل بالمقصود وكذاتولية العاجزلان المقصودلايحصل به الخ -(۱)

(ب) ترڅوچې زيدمتولي وي اوکوم کاردده دعزل کېدوپه ده کې څرګندنه شي هغه اختیارات به ده ته حاصل وي په دې شرط چې کوم کاردشرعي په خلاف نه وي اووقف ته کوم تاوان ونه رسيږي ،ځکه چې دوقف دګټې خیال ساتل مخکې دی قال فی الدر المختار: وكذايفتى بكل ماهوانفع للوقف فيمااختلف العلماء فيه الخ -۲ وفيه ايضا : لماتقرران الشرائط المخالفة للشرع جميعهالغووباطل الخ-۳ (شامی ۳/ ۳۹۰)

---

(۱) الدروالرد (۳/۴۲۱) كتاب الوقف ،مطلب يأثم بتولية الخائن ط رشيديه.

(۲) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۴۰) كتاب الوقف ، مطلب سكن المشترى دارالوقف ط رشيديه.(۳) الدرمع الرد (۳/ ۴۴۷) كتاب الوقف ، مطلب لايتبدل العامر الافى اربع ط رشيديه

Maktaba Tul Ishaat.com

(ج) دزيدمتولي لپاره چې کوم حق دخدمت وقف کوونکې مقررکړی دی هغه عوض دده دخدمت اوکوشش دی نوکله چې زيدمتولي دوقف په مقدمه کې کوشش کوونکی وواواخيرپای په دغه مقدمه کې بريالی شواووقف ثابت شونوزيددهغه زمانې دتنخواه حقداردوقف کوونکې له شرط سره سم ګرځي ،ځکه چې دوقف شرط جائدادخوندي کول هم دده له کارونوڅخه ووپه درمختارکې راغلې دي وفی الاشباه الجامکية فی الاوقاف لهاشبه الاجرة ای فی زمن المباشرة الخ وفی ردالمحتار: قوله ای فی زمن المباشرة الخ يعنی ان اعتبارشبههابالاجرة من حيث حل تناولهاللاغنياء اذلوكانت صدقة محضة لم تحل لمن كان غنياومن حيث ان المدرس لومات اوعزل فی اثناء السنة قبل مجئ الغلة وظهورهامن الارض يعطی بقدماباشرالخ ـــ (۱) (مخ ۴۱۷) وايضا (ص: ۴۱۲من الشامی فعلی هذا اذاترک صاحب الوظيفة مباشرتهافی بعض الاوقاف المشروط عليه فيهاالعمل لايأثم عندالله تعالی غايته انه لايستحق المعلوم الخ (۲)

دمدرسې باني اومهتمم عزلول

سوال: (۲۲۷) بکريوه مدرسه دمذهبي تعليم لپاره جوړه کړه اوپه ودانولوکې يې خپلې روپۍ ولګولې اوسفرونه يې وکړوچندي يې راټولې کړي دتعميراوتعليم کاريې روان کړ ګواکي سمه اسلامي مدرسه جوړه شوه بکردمدرسې بانی اووقف کوونکی اومتولي په دې وجه دی چې دده چنده ترښارووالوزياته اوکوم څه چې به مدرسه کې وشوددده دکوشش نتيجه ده په داسي حال کې عام خلګ دی په زورله (۳) .مدرسې ايستلای شي اوقبضه ورباندي کولای شي ،که نه ؟ (۷۵۷/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: کله چې بکرباني اومتولي دمدرسې دی نوبېله کوم خيانته دده عزلول اوليري کول صحيح نه دي اوعزلول دخائن متولي لازم وي کمافی الدرالمختار: وينزع وجوبًا (بزازية) لوالواقف (درر) فغيره بالاولی غيرمأمون اوعاجزاوظهربه فسق كشرب خمرالخ وان شرط عدم نزعه الخ فلومأمونالم تصح تولية غيره اشباه

(۱) الدرالمختاروردالمحتار(۳/۴۵۷) كتاب الوقف، مطلب: الجامكية فی الاوقاف ط رشيديه.

(۲) الشامی (۳/ ۴۵۷) كتاب الوقف، مطلب المفهوم معتبر: فی عرف الناس والمعاملات والعقليات ط رشيديه

(۳) الدرالمختارمع الشامی(۳/۴۲۱)، كتاب الوقف، مطلب يأثم بتولية الخائن ط رشيديه.

دوقف کوونکې ټاکلي امام اومتولي دمسجدبانې نشي عزلولای

سوال : (۲۲۸) یوسړی خپله مځکه صرف دالله تعالی په نامه دمسجدلپاره ښه کوم شرط لګولووقف کړه یومتقی عالم یې امام اومتولي ددې وقف کړې مځکې وټاکی متولي په دغه وقف شوې مځکه کې په اذان اواقامت سره دجماعت لمونځ ورکړاوشاه یې وکیندی دمسجدبنیادیې کیښودی یوبل سړی دمتولي په اجازه دمسجددهوالونه اوچت جوړکړل اوس دغه باندي دامامت اوتولیت څخه دمتولي لیري کول غواړې نوداعزلول یې روادي .که نه ؟ اولی بالامامۃ وبنصب الامام والمؤذن وقف کوونکی دی که متولی اوکه باني اطلاق په حقیقت کې پربنیاد ښوونکې کیږي که پردیوالواوچت جوړوونکې ؟۳۵/۳۵-۱۳۳۶هج)

ځواب : په درمختارکې راغلې دي : البانی للمسجداولی من القوم بنصب الامام والمؤذن فی المختارالااذاعین القوم اصلح ممن علینه البانی الخ (۱)بل ځای دي ولایة نصب القیم إلی الواقف الخ ـ(۲) دارانګه په درمختارکې راغلې دي ومادام احدیصلح للتولیة من اقارب الواقف لایجعل المتولی من الاجانب الخ ــ (۳) همداسي په درمختارکې راځي بنی علی ارض ثم وقف البناء قصدابدونهاان الارض مملوکة لایصح وان موقوفة علی ماعین البناء له جازتبعااجماعًا ـ۴ له دې اخیرني روایت څخه معلومیږي چې وقف کوونکی کوم ښل وي اوبانی ښل داهم صحیح دي اوباني هغه دی کوم چې تعمیرکوونکی اومسجد جوړوو نکی وي خووقف کوونکی چې کوم څوک متولي ټاکلی دی هغه دغه دوهم بانی نشي عزلولای اماکه هغه امام وړدامامت نه وي اوکلیوال اولمونځ کوونکې دمسجدکوم دامامت وړسړی مقررکړي نودوئ یې کولای شي فقط.

دوقف کوونکې دبچیانوامام اومؤذن عزلول

سوال : (۲۲۹) یوسړی څه مځکه دمسجدلپاره وقف کړه په قبضه کې یې ورکړه څوکاله وروسته وقف کوونکې

---

(۱) الدرالمختارمع ردالمحتار (۳/ ۴۵۴) کتاب الوقف . مطلب فی الوقف المنقطع الاول والمنقطع الوسط ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختارمع الرد (۳/ ۴۴۸) کتاب الوقف . مطلب ولایة نصب القیم الی الواقف الخ ط رشیدیه.

(۳) الدرمع الرد(۳/ ۴۵۰) کتاب الوقف . مطلب لایجعل الناظرمن غیراهل الوقف ط رشیدیه

Maktaba Tul Ishaat. com

(۴) الدرالمختارمع الشامی (۴۲۸/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی وقف البناء بدون ارض ط رشیدیه.

وفات شواوس دوقف کوونکې زامن غواړي چې دامام اومؤذن له قبضې څخه وقف شوې مځکه پخپل ملک اوتصرف کې راولي اوامام اومؤذن بېله شرعي عذره عزل کړي اوبل امام اومؤذن وټاکي اودوقف شوې مځکې له آمدني څخه ددوئ تنخواه مقرره کړي اودتو لیت په اړه وقف کوونکې څه لیکلې نه دي اونه يې څوک په خوله متولي ټاکلی دی ٹوپه دې صورت کې دوقف کوونکې بچیان وقف شوې مځکه پخپل تصرف کې راوستلای شي .که نه ؟ اوله قصوره پرته دامام اومؤذن عزلول صحیح دي ،که نه ؟ اودمخکې امام له اجازې پرته دبل امام امامت روادی .که نه ؟ (۱۳۳۵/۱۹هج)

ځواب : په درمختارکې راغلې دي : قوله البانی اولی من القوم بنصب الامام والمؤذن فی المختار۔۱ په شامی کې راغلې دي البانی للمسجداولی وکذاولده وعشیرته اولی من غیرهم اشباه ۔۱ وفی الدرالمختارایضا : ومادام احدیصلح للتولیة من اقارب الواقف لایجعل المتولی من الاجانب الخ ۔۲ له دغوروایتونوڅخه معلوم شوچې په پوښتل شوې صورت کې دوقف کوونکې واولادوته اختیاردی چې مخکنی امام اومؤذن لیري کړي بل امام اومؤذن وټاکي اومتولي بایددوقف کوونکې له اولادوڅخه څوک وټاکل شي فقط والله تعالی اعلم

دامام اومؤذن دټاکلواولیري کولوحق دچادی ؟

سوال : (۲۳۰) له ډیرې مودې یومسجدجوړشوی دی له هغه زماني څخه دهغه داطریقه راروانه ده چې امام اومؤذن به دټولومسلمانانوپه خوښه ټاکل کېدل اولیري کیدل لږوخت کیږي چې دمسجددباني وارثان په مسجدکې خپلې .خپلې برخې ثابتوي څوک وایې چې زمادانېمه ده څوک وایې زمادادرېیمه ده علی هذاالقیاس اوبل داهم وایې چې زمونږ مشرانوجوړکړی دی چې مونږڅوک وغواړوهغه مقررولای شي اوڅوک وغواړوهغه لیري کولای شوکه څه هم ټول مسلمانان ددې مخالف دي خوځینې کسان ، دامسجدپه حکم کې دشرعي مسجددی ،که نه ؟ (۱۳۳۷/۱۵۳۶هج)

(۱) الدرمع الرد(۴۵۴/۳) کتاب الوقف ، قبیل مطلب فی الوقف المنقطع الاول والمنقطع الوسط ط رشیدیه.

(۲) شرح تنویرالابصارمع الرد(۴۵۰/۳) کتاب الوقف مطلب لایجعل الناظرمن غیراهل الوقف ط رشیدیه.

خواب : دمسجددباني ووارثانوته بهشکه دامام اومؤذن دتاکلواولیري کولوحق شته اماکه قوم زیات وړاونیک سړی وتاکي نوهغه مخکي دی په درمختارکې راغلې دي : البانی للمسجداولی من القوم بنصب الامام والمؤذن فی المختارالااذاعین القوم اصلح ممن عینه البانی الخ (درمختار) قوله البانی اولی وکذاولده وعشیرته اولی من غیرهم اشباه۔۱ (شامی) فقط.

دوقف کوونکې دشرطونوپه خلاف عمل کوونکي متولي عزلول

سوال : (۲۳۱) یوسړی یوجائداددشرعې قاعدې سره سم وقف کړاوځوشرطونه یې دوقف په پاڼه کې لیکلې دي ځینې متولیان ددغوشرطونوپه خلاف عمل کوي چې پکې دخیانت اندښنته ده دشریعت څه حکم دی ؟ (۳۲/۴۸۷-۱۳۳۳هج)

خواب : دغه جائدادوقف شووقف کوونکی چې کوم شرطونه قطعي کړې دي دهغوئ عملي کول ضروري دي اوله متولیانوڅخه چې څوک دانه عملي کوي هغه دي لیرې کړل شي امانتداراوپرتصرف کولوقدرت درلودوونکی دې متولي وتاکل شي چې دوقف کوونکې له شرطونوسره سم عمل کوونکی وي په درمختارکې راغلې دي:

وینزع وجوبًا (بزازیة) لوالواقف (درر) فغیره بالاولی غیرمأمون اوعاجزا..... وان شرط عدم نزعه وفی الشامی قال فی الاسعاف ولایولی الاامین قادربنفسه اوبنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظرولیس من النظرتولیة الخائن لانه یخل بالمقصودوکذاتولیة العاجزلان المقصودلایحصل به الخ۔۲

دمسجدپرمتولي بدګماني کول

سوال : (۲۳۲) یوسړی دمسجدمتولی دی اوپه مسجدکې خرڅ هم کوي په دې وجه چې زه دمسجدمتولي وتاکل شم دداسي سړی په هکله څه حکم دی ؟ له تولیت څخه یې لیرې کولای شو، که نه ؟ (۳۳۵/۱۳۳۸هج)

---

(۱) الدرالمختاروالشامی (۳/۴۵۴) کتاب الوقف، قبیل مطلب فی الوقف المنقطع الاول والمنقطع الوسط ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختاروردالمحتار (۳/۴۲۱) کتاب الوقف، مطلب فی شروط المتولی ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

ځواب : پرکوم مسلمان بدګماني کول ناروااوګناه ده قال الله تعالی [یاایهاالذین آمنوا اجتنبوا کثیرا من الظن ،ان بعض الظن اثم ـ۱] نوداسي ګمان نه دی پکارچي کوم سړی په مسجد کې څه لګوي هغه دریااونامه لپاره کوي یادمتولي جوړبدوپه نیت یې کوي اوکله چې دی له مخکې څخه متولي دی نوددې طمع نسبت دده طرفته څرنګه کیږي لنډه داچې بدګماني کوونکی عاصی اوګنهګاردی اوځوک چې دمسجد متولی دی هغه بې له کوم خیانته له تولیت څخه نشي عزل کېدای.

۱) سورة حجرات آیت: ۱۲.

پربچیانودوقف کولوحکمونه

پربچیانووقف کول شرعًا صحیح دی

سوال : (۲۳۳) پراولادووقف کول جائزاوصحیح دی ،که نه ؟ (۱۵۴۲/ ۳۲- ۱۳۳۲هج)

خواب: پربچیانووقف شرعًا صحیح دی په دې شرط چې په پای کې داخرګندونه وي چې که له بچیانو څخه باقي پاته نه شونو پرمسکینانواوناوسودې ولګول شي.

سوال : (۲۳۴) دمسجدونواونورودخیرله کارونوپرته دخپلوبچیانولپاره جانداد وقفول روادي ،که نه ؟ که زید خپل ټول جانداد داسي وقف کړي وي چې د ټول جانداد متولي به دده مشرزوی وي اودمشرزوی له مرګ وروسته به دهغه مشروزوی وي اوترڅوچې دمشرزوی بچیان موجودوي نورزامن به په جانداد هیڅ کارنلري ؟ (۱۳۴۰/۲۲۱هج)

خواب : پربچیانووقف شرعًا روادی دوقف کوونکې شرطونه ټول معتبراوورد عمل دي نوددربیو شرطونوسره سم عمل کول ضروري دی کمافی کتب الفقه : شرط الواقف کنص الشارع (الشامی ۲/ ۵۰۸ کتاب الوقف)

سوال : ۲۳۵) زید خپل جانداد پربچیانووقفول غواړي ترڅوجانداد قائم وي متولي به دده له نارینه اولادوڅخه وي اوله آمدني څخه به هریوه ته برخه ورکوله کیږي جانداددي وېشل کیږي نه جانداددي ګډیوځای دمتولي ترڅارنې لاندې وي زیدغواړي چې داستو ګنې کورونه اوکورنی سامان وزامنوته په ملک ورکړي ،ځکه چې لونوته جهیز (په واده کې دپلارله لورې سامان) ورکول کیږي اوددوی دخاوندانوکورونه دوی ته ورکول کیږي دکښت له جانداد څخه څه برخه جلا کړي هغه آمدني خوندي کړی چې نورجانداد په رانیسي ووقف جانداد ته یې ورګډ کړي اوجانداد به زیات شي په تفصیل سره جواب راته ولیکئ ؟ (۱۳۴۵/۸۴۹هج)

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : پراولادوقف کول شرعًا روادي څومره جائداد چي مالک وقف کړي هغه ټول وقف کیږی اواصل دهغه به قائم وي کوم وارث يې وېشلای نه شي اوخرڅول ،په ګروورکول اونورنشي کولای اوده وقف کړی جائدادآمدني چي څرنګه وقف کوونکې وېشل وغواړې شرطولای يې شي اوليکلای يې شي ،ځکه چي دوقف کوونکې شرطونه شرعًا معتبروي بلکي په درمختاراونوروکې ليکلې دي شرط الواقف کنص الشارع (الشامی ۶/ ۵۰۸کتاب الوقف) يعنی وقف کوونکی چي آمدني دوېشلواونوروپه اړه کوم شرطونه وليکي هغه عملي کول لازم وي نوداشرط هم جائزدی چي دوقف له آمدني څخه دومره آمدني خوندي کړله شي چي نورجائدادپه هغه رانيسي ووقف ته يې ورګډ کړي اودومره آمدني دې وفلانی مدرسې ته ورکوله شي اوله پاتي آمدني څخه دې وفلانی ، فلاني سړی ته دومره ورکول شي داټول صحيح دي اوکه داستوګنې جائداداوکورنی سامان له وقف څخه بېل کړي اووقف يې نکړي بلکي ووارثانوته دمالک جوړلوپه حيث ورويشي نوپه دې کې داضروري ده چي انجونوته هم برخه ورکړي ،ځکه چي په مالک جوړولواو هبه کې داجائزنه دي چي انجونوته يې ورنکړي په دې وجه چي دې ته دجهيزسامان ورکول شوی دی اودې ته دخاونداونورولهلوړې کورورکول کیږی دغه وجه ددوئ دحق دساقطېدوشرعًا نه ده اوداسي کول جائزنه دي چي ځيني بچيانوته يې ورکړي اوځينوته نه په حديث شريف کې ددې منع راغلې ده اورسول الله صلی الله عليه وسلم ودې ته ظلم اوتېری ويلې دي اماکه مکان اونورهم وقف کړي اودزامنولپاره داستوګنې حق وليکي نوداسي کېدای شي اوخرګندونه دي وي چي کله دټول داستوګنې اوکښت دجائداد دوقف په پاڼه کې ليکل اوپه حکومت کې رسمي کول وشي نوبياهغه داستوګنې جائدادهم وقف کیږي اودچاملک په دې کې نه پاتيږي اماداستوګنې حق وقف کوونکې څرنګه وغواړي ليکلای شي چي فلانی سړی دی په فلانی مکان کي اوسيږي اوفلانی په فلانی مکان کي خودوقف په پاڼه کې ترليکلوورسته هغه مکان له وقف څخه نشي وتلای اودنقل کېدوونکې سامان په وقف کې اختلاف دی دغه سامان په وقف کې مه داخلوئ دابېله وقف وټولوبچيانواوزامنوته هبه کړئ اووروي ويشئ اوهبه له وېشلوورو سته وکړئ چي داشی دفلانی شواوداشی دفلانی شوپه دې کې لونې ورګډې کړئ.اودوقف له آمدني څخه کومه برخه اوروپی. چي وغواړئ دانجونولپاره يې مقرري کړئ چي ترمرګه دې ودوئ ته دوقف له آمدني څخه دومره ورکول شي داشرط هم صحيح کيږي اوددې دآمدني برخې معلومولای شي اوچاته چي غواړې نسل

پرنسل یې ورولیکئ اوچاته چې غواړئ ترمرګه یې ورولیکئ داټول جائزدي په دې کې په دې شرط چې نیت سم وي هیڅ مواخذه نشته فقط.

سوال : (۲۳۲) یوسړی پراولادودارازوقف وکړچې ماخپل ټول جائدادهرډول پربچیانوو قف کړاواقرارکوم چې زماله مرګه وروسته به زمادجائدادآمدني پربچیان اوښځې دشرعي برخوسره سم ویشي خودوئ ته به دجائدادوپشلو یاانتقالولو حق نه وي ترڅوچې زماپه بچیانوکې څوک باقي پاته وي ترهغوبه آمدني پردغه جائدادلګیږي کله چې دوقف کوونکې دنسل لړۍ ختمه شي اوهیڅوپاته نشي نودجائدادآمدني پردیني یتیم خانه ،ناوسواوطالبانوصرفوي داوقف صحیح دی ،که نه ؟(۱۱۷۰/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

ځواب : دې وقف ته باطل ویل صحیح نه دي ،ځکه چې داوقف منجز(فعلا) دی معلق (ځنډمن) وقف نه دی ،ځکه چې په سوال کې داعبارت شته چې ماخپل ټول جائدادهرډول پربچیانووقف کړاواقرارکوم الخ دوقف کړله لفظ څخه ښکاره دي چې ده وقف وکړله وقفولووروسته دااقراردی کوم چې مخته لیکلی دی ،ځکه نودوقف په صحیح کېدوکې هیڅ شک پاته نه شودمصرفونوتشریح وروسته کوي ،ځکه نوداوقف معلق نه دی وقف سمدستي وشونوله دغوالفاظوڅخه ښکاره دی چې وقف کوونکی خپل جائدادهغه وخت وقف کړی دی اوله خپل مرګ وروسته په اړه یې دالیکلې دي چې زمابچیان اوښځې دې دشرعي برخوسره سم وویشي اوکله چې داوقف دروغتیاپه حالت کې شوی دی نوټول وقف صحیح دی پخپل ژوندکې چې وقف کوونکی ځرنګه غواړې هماغسي دي آمدني صرفوي دده له مرګه وروسته به یې دده اولاداوښځه دشرعي برخوسره سم ویشي په درمختارکې راغلې دي: وان یکون قربة فی ذاته معلوما منجزا۔(۱) واکتفی ابویوسف رحمه الله بلفظ موقوفة۔(۲) اوداڅرګندونه شته چې په وقف کې دامام ابویوسف رحمه الله پرقول فتوی ده فصل فیمایتعلق بوقف الاولادجعل ریعه لنفسه ایام حیاته ثم وثم جازعندالثانی (ای ابویوسف رحمه الله) وبه یفتی دررقوله ثم وثم حکایة لمایذکره الواقف من العطف بثم فی وقفه کقوله ثم من بعدی علی اولادی ثم علی اولادهم الخ۔(۳) (شامی) فقط.

---

(۱) الدرالمختارمع الرد (۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف و شرائط الوقف ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختارمع الرد (۳/ ۳۹۳) کتاب الوقف ، قبل شرائط الوقف ط رشیدیه.

(۳) الدرالمختاروالشامی (۳/ ۴۷۸) کتاب الوقف و فصل فیمایتعلق بوقف الاولاد ط رشیدیه

Maktaba Tul Ishaat.com

پراولادودوقفولوشرعي طريقه

سوال : (۲۳۷) زه خپله مځکه پربچیانووقفول غواړم چي زماله مرګه وروسته داعملي شي دجائدادآمدنی متولي خپل یوزوي غلام نبی ګرځوم په دې کې کوم ، کوم شرطونه باید و لیکل شي ؟ (۴۵۱/ ۳۵ - ۱۳۳۶هج)

ځواب : پراولادووقف صحیح دی نوکه پراولادودوقف کولومواراده وي اوپخپل ژوندکې موپخپله ورځخه داستفادې کولواراده وي نودارنګه وقف وکړ ئ چي مافلانی جائداد یعنی سرای ،مځکه اونورد الله تعالی لپاره وقف کړل دغه رنګه چي پخپل ژوندکې به ددغه جائدادپخپله متولي یم اوګټه زه پخپله کاروم یابه پخپله رأیه صرفوم اوزماوروسته دې زماداولادوفلانی اوفلانی یاداولادوه اولادته یانوروخپلوانوته دغه رنګه ووښل شي اوزماوروسته به متولي زمافلانی ،فلانی زوئ وي اوهغه به داسي عمل کوي مثلا دومره به ځان ته راګرځوي اودومره به پرفلانی و فلاني اولادواوخپلوانو وښي لنډه داچي کوم شرطونه موخوښ وي په پای کې داولیکئ چي که خدای مه کړه زماله اولادو ، اوخپلوانوځخه څوک باقي نه شي پاته نودوقف کړې جائدادګټه پرمسکینا نو وویشئ داشرط دوقف دصحیح کېدولپاره ضروري دی چي په پای کې دمسکینانواو نا وسویادونه وشي اوکه پخپل ژوندکې دخپلوزامنومتولیان جوړول غواړئ نوهمداسي دې ولیکل شي داهم صحیح دی قال فی الدرالمختار: فصل فیمایتعلق بوقف الاولادمن الدرروغیرهاوعبارة المواهب فی الوقف علی نفسه وولده ونسله وعقبه جعل ریعه لنفسه ایام حیآته ثم وثم جازعندالثانی وبه یفتی کجعله لولده الخ ــ۱ فقط.

پراولادوپه وقف کولوکې دشرعي قاعدي للذکرمثل حظ الانثیین په پام کې نیول ضروري دي

سوال : (۲۳۸) (الف) دزیددوه زامن خالداوبکراودوي لونې عابده اوزاهده دي زیدخپل جائدادپراولادووقف کړهریوونده لروونکی دشرعې برخې په اندازه (یعنی له شپږوبرخو څخه څلورد هلکانوپه نامه اودوي دانجونوپه نامه کړي) متولي جوړول غواړې روادي ، که نه ؟

---

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۳/ ۴۷)کتاب الوقف فصل فیمایتعلق بوقف الاولادط رشیدیه.

(ب) زید ته داهم معلومه شوې ده چې زید که پخپل ژوند کې د جائداد وېش (خو اکه دتولیت په صورت وي اوکه دملکیت) واولادوته غواړي نوپه داسي صورت کې به دهلک اوانجلۍ برخې برابرې وي که به هلکان ترانجونوزیات وي؟ ددې سمون وکړئ؟ (۱۷۰۵/۱۳۴۰هج)

خواب: (الف، ب) پراولادووقف صحیح دی اوپه هغه کې چې څه رنګه وقف کوونکی داولادوبرخې مقرري کړي هغه رنګه به هریوه ته دوقف جائدادله آمدني څخه برخه ورکوله کیږي اوپه دې کې اختلاف دی چې که څوک بچیانوته مال هبه (بخښنه) کول وغواړي نوآیاپه نارینه اونښځینه کې به برابري کوی که به ونارینه ته دوې برخې اونښځې ته یوه برخه ورکوی د[للذکرمثل حظ الانثیین] په قاعده نودامام ابویوسف رحمه الله قول دادی چې برابري به کوي اوامام محمدرحمه الله وایې: چې نارینه ته دوې اونښځې ته یوه برخه ورکوئ په درمختارکې دامام ابویوسف رحمه الله قول اخستی دی اوپربرابري باندی یې فتوی ورکړې ده اوپه درمختارکې داهم راغلې دي چې که کوم وارث ته تاوان رسول مقصدنه وي بلکې ارتیاپه اندازه کمښت اوزیاتوب وکړي نوداهم صحیح دی وفی الخانیة: لابأس بتفضیل بعض الاولادفی المحبة لانهاعمل القلب وکذافی العطایاان لم یقصدبه الاضراروان قصده یسوی بینهم یعطی البنت کالابن عندالثانی وعلیه الفتوی الخ ای علی قول ابی یوسف رحمه الله من ان التنصیف بین الذکروالانثی افضل من التثلیث الذی هوقول محمدرحمه الله ــ(۱) (شامی) دشامي له عبارت څخه داهم څرګند شوچې په دې کې صرف دافضل والی اونه افضل والي اختلاف دی جائزدواړه دي فقط.

پراولادودوقف دصحیح کیدومهم شرطونه

سوال: (۲۳۹) یوسړی پربچیانوجائدادوقف کړخوپه لیک کې یې داونه لیکل چې کله له بچیانوڅخه څوک پاتې نشي نوددې آمدني پرناوسووېشئ نوپه دې صورت کې پراولاد وقف صحیح شو، که نه؟ (۱۵۲۲/۴۲-۱۳۴۷هج)

(۱) الدرالمختاروالشامی (۴/ ۵۷۳) کتاب الهبة، قبل باب الرجوع فی الهبة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب : دوقف دصحیح کېدولپاره داضروري دی چې په پای کې يې پر مسکینانو دصدقه کولویادونه وکړي خوکه په لیک وي اوکه په خوله وي نوپه دې صورت کې که وقف کوونکې دانه دي ویلې چې کله دبچیانولرې پاته شي نو وفقیرانوته دی ددې آمدني ورکوله شي نوداوقف پراولادوصحیح نه شودوقف کوونکې له وفات وروسته دده پروارثانوله شرعي برخوسره سم به وېشل کیږي اود ښځې دولورپور لومړی له ترکې څخه اداکول کیږي اوکه په پای کې يې پرمسکینانودصدقې کولویادونه په خوله کړې ده که څه هم لیکلې يې نه وي نو پراولادووقف صحیح شواودوقف کوونکې له شرط سره سم به عمل کیږي اودمهرپوربه دنوروپورونوپه ځیردوقف له آمدني څخه داکیږي اودوقف له صحیح کېدووروسته که دزیدورونه دوقف کوونکې دشرط په خلاف دښځې معاش بندکړي نوګنهګاراوظالمان به وي کمافی الشامی وقال فی الاسعاف لوقال وقفت ارضی هذه علی ولدزیدوذکرجماعة باعیانهم لم یصح عندابی یوسف رحمه الله ایضا الخ ـ (۱) وفیه ایضا واذاافردموقوفة وعین لایجوزبلا خلاف الخ ـ۲ (شامی)

دوقف آمدني دشرعي برخوسره سمه پراولادودوېشلوشرط لګول

سوال : (۲۴۰) (الف) حکیم وزیرعلی خپله مځکه دمزارپوردلومړی ښځې څخه اولادو علی حامد، سعیده اورشیده اوددوهمې ښځې لورطیبه په نامه پراولادوقف کړه ومتولي ته يې وویل چې له مالیي اوحکومتي خرڅوروسته دوقف کړې جائدادپاته آمدني دشرعي برخوسره سم پردغویادشویوبچیانونسل پرنسل پسې ووېشئ آیادوقف کړې جائدادپاته آمدني به داولې اودوهمې ښځې په اعتبارویشي که څرنګه؟

(ب) دباره بنکي اولسوالي په جائدادکې که لونې برخه لري نوڅومره؟ (۳۰۵/ ۱۳۳۹هج)

خواب : (الف) دشرعي برخوسره سم وېشلودوقف کوونکې له لوري شرط دی نودغه رنګه به پاته آمدني دوقف کړې جائدادتقسیمږي یعنی له پنځوبرخوڅخه به دوې برخې وعلی حامدته اویوه، یوه برخه وسعیده، اورشیدیه اوطیبه ته ورکول کیږي.

(۱) الشامی (۳/ ۴۰۰) کتاب الوقف، مطلب فی الکلام علی اشتراط التأبید ط رشیدیه.
(۲) الشامی (۳/ ۴۰۰) کتاب الوقف، مطلب مهم فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه.

(ب) په دې کې به هم له پنځو برخو څخه دوې برخې وعلی حامد اویوه ،یوه برخه له دې انجونو څخه وهرې یوې ته ورکول کیږي.

خپل جائداد پر اولادو وقفول اودآمدني دیوې درېیمې دخیر په کارکې دلګولو شرط لګول

سوال: (۲۴۱) زید خپل جائداد پربچیانو وقفول غواړي اودآمدنی یوه درېیمه دخیرپه کارکې لګول غواړي نو دخرڅواو ترمېم له مصرفونو وروسته دپاته روپیو یوه درېیمه دخیر په کارکې ولګوي که دټولې آمدنی یوه درېیمه؟ (۸۱/ ۱۳۳۹هج)

خواب: په دې کې څه څرنګه شرط وقف کوونکی ولیکي چې دارنګه وشي هغه رنګه به کیږي اوهغه به جائزوي مثلاکه داشرط ولیکي چې دخرڅوله ایستلو وروسته چې کومه آمدني پاته شي دهغه یوه درېیمه دخیرپه کارکې ولګوي نوداسي به کیږي اوکه دټولې آمدني دیوې درېیمې دخیرپه کارکې دلګولوولیکي نوهمداسي به کیږي.

پراولادودوقف شوې جائدادد آمدني صرف به پرحقیقي اولادووېشل کیږي

سوال: (۲۴۲) بي بي سکینې خپل جائداد پربچیانو وقف کړزوئ نلري دوې لونې. خاوند اوداکارزامن (ددې په خپلوانوکې ژوندي دي) داکازامن یې بې برخې کړداوقف جائزدی ،که نه؟ اوپه دې کې دټولوبرخه لروونکوڅومره ، څومره برخه ده؟ (۴۴۱۷۵/۴۴ــ ۱۳۴۵هج)

خواب: دارنګه وقف کول روادي اوکله چې په پوښتل شوې صورت کې ددې کوم زوئ نشته څکه دجائدادټوله آمدني ددې دلونوده له دوئ وروسته له دې څخه وچاته دڅه اخستلوحق نشته رجل قال: ارضی هذه صدقة موقوفة علی ولدی ،کانت الغلة لولد یستوی فیه الذکروالانثی الخ وان لم یبق واحدمن البطن الاول تصرف الغلة الی الفقراء الخ۔(۱) خانیة درېیم ټوک) فقط.

---

(۱) الفتاوی الخانیة مع الهندیة ۳/ ۳۱۹ کتاب الوقف فصل فی الوقف علی الاولاد والاقرباء والجیران.

Maktaba Tul Ishaat.com

پراولادودوقف دآمدنی مصرفونه

سوال : (۲۴۳) (الف) پربچیانودوقف په صورت کې که څوک دزوئ اولورېرخه برابره کیږدي یادمثال په توګه له دریو ځلورووروڼو، وریرواونوورځخه ځینې دمالدارکېدوپه وجه بې برخې کړي نووقف کوونکی به ګنهګاروي، که نه؟

(ب) دزامنوپه موجودیت کې دلمسي (دلورزوئ) یالمسی (دلورلور) لپاره دوقف کړي جائدادله آمدنی څخه برخه مقررول دیوې لورپه برابر؟

(ج) دلورسره دمورشریک ورورلپاره دوقف له آمدنې څخه برخه مقررول اودورارهیاداکا دزوئ لپاره کوم چې عصبه دی دوقف له آمدنې څخه برخه نه مقررول شرعًا صحیح دي، که نه؟ (۸۷/۱۳۴۲هج)

خواب : (الف) داصحیح دی اووقف کوونکې ته یه دی وجه ګنهګارنه ویل کیږي۔۱

(ب) داهم صحیح اوسم دی.

(ج) داټول صحیح دي دوقف کوونکې شرطونه ټول معتبراوصحیح وي. خکه نوخرنګه چې وقف کوونکې برخې مقررې کړي هماغه رازبه وټولوخپلوانوته برخې ورکول کیږی اوپه دې کې دمیراث لحاظ نشته بلکې دوقف کوونکې دشرط اعتباردی لکه چې په درمختارکې راغلې دي شرط الواقف کنص الشارع۔۲

دکوم جائدادددآمدنی چې دچالپاره وعده شوې وي هغه وقفول

سؤال : (۲۴۴) یوسړی دخپل زوئ نکاح په دې شرط وکړه چې ناوې کله راوادې شي دمیاشتې به لس روپۍ زماله جائدادڅخه اخلي اوماته به له خپل جائدادڅخه دهغومره جائدادخرڅولواختیارنه وي چې آمدني یې دمیاشتې لس روپۍ وي څه موده وروسته دغه جائدادد خپل بل زوئ په نامه پراولادوقف کړنوداوقف صحیح دی، که نه؟ ماداجواب ورکړچې دټول جائدادوقف صحیح دی دی، که نه؟ ماداجواب ورکړچې دټول جائدوقف صحیح دی. (۷۲۵/۱۳۴۵هج)

---

(۱) شرائط الواقف معتبرة اذالم تخالف الشرع (ردالمحتار (۳: ۳۹۵) کتاب الوقف طرشیدیه

(۲) ردالمحتار (۳/۴۵۷) مطلب: شرط الواقف کنص الشارع طرشیدیه

خواب : تاسوچې کوم جواب ودغه سوال ته ویلی دی صحیح دی وقف دټول صحیح شو.خکه چې په یاده شوې اراده اووعده سره دغه جائداددده له ملک څخه نه ووتلی اودوقف دصحیح کېدولپاره دومره شرط دی چې هغه جائداددوقف کولوپرمهال دوقف کوونکې ملک وي کمافی الشامی : (قوله وشرطه شرط سائرالتبرعات)افادان الواقف لابدان یکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتا ولوبسبب فاسدالخ(۱)

پراولادوپه وقفولوکې دچاحق تلفي وي نووقف کوونکي به ګنهګارشي ،که نه ؟

سوال : (۲۴۵) والدصاحب خپل جائداد پربچیانووقفول غواړې ترڅوزماحق تلفی نه وي نودی به ماخوذوي ،که نه ؟(۱۲۱۲/ ۱۳۴۵هج)

خواب : پراولادووقف دوقف کوونکې له شرطونوسره سم صحیح دی په دې کې دچاحق وهنه نه بلل کیږي نورداکلیه قاعده ده چې داعمالوبنسټ پرنیت دی کماوردفی الحدیث انماالاعمال بالنیات۔۲ څرنګه چې دچانیت وي هماغسي بدله به مومي که یې نیت دکوم وارث دبې برخې کېدووي نودی دالله په دربارکې مأخوذاوګنهګاردی په حدیث شریف کې راغلې دي من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة۔ ۳ یعنی کوم څوک چې دکوم وارث میراث قطع کړي هغه ته به دجنت میراث دقیامت په ورځ نه ورکول کیږي والعیاذبالله تعالی.

په وقف علي الاولادکې دیوه زوئ لپاره ټوله آمدني مقررول

سوال : (۲۴۶) زید خپل ټول جائداد دخپل کشرزوئ په نامه وقف کړاوخپل مشرزوئ یې بې برخې کړبلکي دمشرزوئ دموریعنی دخپلې دوهمې ښځې په روپوچې یې کوم جائداد دامانت په توګه رانیولی ووکوم چې دزیددښځې ملکیت ووپخپله تصرف کوونکې قبضه

---

(۱) الشامی (۳۹۴/۳) کتاب الوقف ، شرائط الوقف ط رشیدیه.

(۲) عن عمربن الخطاب رضی الله عنه یقول : سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول : انماالاعمال بالنیات وانمالامرئ مانوی فمن کانت هجرته الی دینایصیبهااوالی امرأة ینکحها فهجرته الی ماهاجرالیه (صحیح البخاری ۲/۱ ،باب کیف کان بدء الوحی .

(۳) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة رواه ابن ماجه ورواه البیهقی فی شعب الایمان عن ابی هریرة رضی الله عنه (مشکوة المصابیح ص: ۲۶۲ ،باب الوصایا)

Maktaba Tul Ishaat. com

اوغلبې په اثرسره دخپلووارثانووجائدادته ورګډکړوقف يې کړآياداوقف پکې روادی ،که نه ؟(۱۴۸۰/۱۳۳۸هج)

ځواب : په وقف علی الاولادکې ديوه زوئ لپاره ټوله آمدني مقررول اودنوروزامنولپاره څه نه کوي صحيح اونافذدي يعنی وقف صحيح کيږي اودکوم زوئ لپاره چې يې آمدني مقرره کړې ده هغه ته به ورکول کيږي اودکوم لپاره چې يې هيڅ نه دي کړې هغه ته هيڅ شی نه ورکول کيږی اودبل چامځکه وقفول نه صحيح کيږي نوکومه مځکه چې دخپلې ښځې په روپی ددې لپاره رانيوله دادهغه مځکې مالکه ده هغه ددې له اجازې پرته وقفول صحيح نه دي کمافی ردالمحتار: قوله وشرطه شرط سائرالتبرعات افادان الواقف لابدان يکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتا الخ (۱) وفی العالمغيرية فی شرائط الوقف الوقف منها الملک وقت الوقف حتی لوغصب ارضا فوقفهاثم اشتراهامن مالکهاودفع الثمن اليه اوصالح علی مال دفعه اليه لاتکون وقفاکذافی البحرالرائق رجل وقف ارضا لرجل آخرفی برسماه ثم ملک الارض لم يجزوان اجازالمالک جازعندناکذافی فتاوی قاضی خان ـ(۲) (۳/ ۱۹۹) فقط.

ديوه زوئ په نامه وقفول بل محروموں

سوال : (۲۴۷) ديوه سړی له دووښځوڅخه دوه زامن دي مشرهلک نژدي دنويشتو کالو دی اوکشرزوئ يې دنهوکالودی پلارناراضه شوپه غوصه کې دخلګوپه تيرايستلوپه سنه ۱۳۳۳هج کې جائدادیوازي دکشرزوئ په نامه دروغتياپه حالت کې وقف کړاودمشرزوئ لپاره دوقف په سندکې وليکل چې دده اوددده دمورومتوليانو ته خبرشته دده ومورته دې دمياشتې اووه روپی ترمرګه ورکول شي نوردوقف په ملکيت کې دوئ هيڅ اړه نلري دري مسلمان اودوه هندوان يې متوليان وټاکل دري متوليان دضداوخپلې خبرې دقائمولو لپاره وايې چې موږپه هيڅ نه يوخبردوقف په سندکې دزوئ کېدويانه کېدوفيصله نشته خوپه ۳۳ه کې په مکتب کې له داخلېدوترمامورکېدودمشرزوئ کېدل اويوځای

اوسېدل دپلارله لیکونواوحکومتي کاغذونوڅخه ثابت دي متولیان ومشرزوئ ته تنخواه ورکوي خوپه جائدادکې برخه ورکول نه غواړي اوس پوښتنه صرف داده چې په وقف علی الاولادکې له دووزامنوڅخه صرف دکشرپه نامه وقف کېدای شي ،که نه ؟اودناراضه شوې وقف صحیح دی ،که نه ؟(۱۴۸۱/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : په درمختاراونوروکې دي : شرط الواقف کنص الشارع (الشامی ۶/ ۵۰۸کتاب الوقف) نوکه وقف کوونکې خپل ځاني جائدادوقف کړآمدني دهغه یې صرف دکشرزوئ لپاره خاص کړه نودغه آمدني به همده ته ورکول کیږي ومشرزوئ ته له دې څخه هیڅ شی نه ورکول کیږي اودکوم زوئ څخه دنارضی په حالت کې وقف کول شرعًا صحیح اونافذ دي یعنی کوم وخت چې وقف کوونکی الفاظ دوقف په خوله ووایې یایې ولیکي وقف صحیح کیږي باعث خوادډې له چاڅخه ناراضتیاوي یاکومه بله وجه وي فقط.

په وقف علي الاولادکې ځیني وارثان محرومول

سوال : (۲۴۸) بکرخپل جائدادد ارنګه پرخپلوبچیانووقف کړچې ځینی وارثان له خپل شرعي حق څخه محروم شول نوآیادارنګه پربچیانوچې ورڅخه دځینووارثانوشرعی حق ضایع کیږي جائزدی ،که نه ؟ که جائزنه دی نوآیادداسي شخص لپاره کوم وعیدشرعي شته ؟ اودغه ځینی وارثانوته دکوموچې حق وهل شوی دی دخپل حق اخستلواختیارشته ،که نه ؟(۴۴/۵۸۹-۱۳۴۵هج)

ځواب : پربچیانووقف صحیح دی اوپه کوم شرط چې پربچیانووقف وشوهغه صحیح دی دکوموارثانوحق چې وقف کوونکی څومره مقررکړی دی هغه ته به هغومره رسیږي اودوقف کوونکې نیت که دحق دضایع کولووي نوددې پوښتنه به له ده څخه کیږي خووقف به دهماغوشرطونوسره سم نافذیږي کوم شرطونه چې وقف کوونکې ولیکل فقط والله تعالی اعلم.

پربچیانوپه وقف کولوکې دچابرخه لږاودچادازیاته مقررول

سوال : (۲۴۹) (الف) ځیني خلګ پربچیانووقف کوي خوچاته کمه اوچاته زیاته برخه ورکوي ؟

Maktaba Tul Ishaat. com

(ب) پربچیانوپه وقف کې چې کله څوک پاته نشي دکوموپه نامه چې یې وقف کړې دی نووقف کوونکی وحاکم ته اختیارورکوي چې داپه نېک کارکې صرف کړي ؟

(ج) ددې اسي جائدادمتولي کېدل جائزدي .که نه ؟ ،څکه چې وقف کوونکې لیکلې دي چې دزوئ په نارېنه کورنۍ کې دي متولي وي اوکه دده لوروي نوهغه باید متولیه شي ؟

(د) داسي وقف پربچیانوچې کله ناجائزوي نوماتېدای شي ،که نه ؟ (۲۰۹/ ۴۶- ۱۳۴۷ه)

خواب : (الف ترد) ددغوټولوپوښتنولنډ ځواب داسي دی چې پربچیانووقف شرعًا صحیح دی اوکوم تفصیل چې وقف کوونکې دمصرفونواوبرخومعلوم کړهغه ته اعتبارشته که څه هم دچالپاره کم اودچالپاره زیات ولیکي اوکله چې وقف کوونکې داشرط هم ولیکی چې کله څوک پاته نې نوهغه آمدني دې پرناوسومسکېنانواودخیرپه کارونوکې ولګیږي نوداوقف صحیح کیږي خواکه داکارحاکم ته وسپاري یایې متولي ته اوددې اسي وقف کړې جائدادمتولي کېدل رواوصحیح دي اوکوم شرطونه اوتفصیل چې دتولیت په اړه وقف کوونکې لیکلی دی هغه معتبردی دارازبه دتولیت لرې روانه وي لکه چې په درمختار اونورودفقهې په کتابونوکې دي: شرط الواقف کنص الشارع (الشامی ۲/ ۵۰۸کتاب الوقف) اوکله چې داسي وقف صحیح دی نو ،څکه داماتېدای نشي فقط.

دښځې دبې برخې کولوپه غرض دمرګ په ناجوړي کې خپل ټول جائدادپراولادوقفول

سوال : (۲۵۰) محمدصدیق خپل ټول دصحرااواستوګنې جائدادپه اړه دمرګ په ناروغي کې یوه دوقف پانه دخپل بچیانوپه هکله دوقف علی الاولاددقانون په سبب دخپلې مخکنۍ ښځې دمهراوشرعي حق څخه دمحرومولوپه غرض ولیکله ،وفات شودلاندي پوښتنوجواب راته ولیکئ.

(الف) لومړی داچې دغه یادشوی وقف کوم چې دمهراوشرعي حق وهلولپاره وشوجائز دی .که نه ؟

(ب) دوهم داچې دغه وقف پانه خودمرګ په ناروغۍ کې ولیکل شوه په دې صورت کې دشرعي له مخې داپانه دوقف بلل کیږي که دوصیت ؟ اوکه داپانه دوصیت وي نوددې نافذېدل پرټول جائداداونوردمړي وي که پریوه درېیمه ؟ (۱۲۵۹/ ۱۳۳۷هج)

خواب : (الف) وقف صحیح کیږي کله چې شرطونه دوقف موجودوي نورنوکه نیت په دغه وقف کې بدوی نوپه اخیرت کې مواخذه شته خووقف صحیح اونافذدی۔۱ (ب) دمرګ په ناروغۍ کې وقف کول دوصیت په حکم کې دی ،ځکه په یوه درېیمه کې جاري کیږي په درمختارکې راغلې دي: اعتاقه ومحاباته وهبته ووقفه وضمانه کل ذلک حکمه کحکم وصیة فیعتبرمن الثلث الخ ۔۲ اماکه وارثان دتول وقف ومني نوتول جائداد وقف ګرځي کماهوحکم الوصیة بالکل کذافی الدرالمختار فقط.

پراولادووقف کړی جائداددښځې دمهرپه پورکې نیلامېدای شي ،که نه ؟

سوال : (۲۵۱) زیدپخپل ژوندکې خپل جائدادپراولادووقف کړاوس دزیددښځې دمهرعا رضه ورباندي وکړه کومه چې دنابالغ متولي په مقابل کې یوطرفته شوه لنډیز دپوښتنې داده چې پربچیانووقف شوی جائداددښځې دمهرپه پورکې نیلامېداشي ،که نه ؟(۱۲۱۳/۱۳۴۵هج)

خواب : پربچیانووقف شرعًا صحیح دی اوپه دې کې دوقف کوونکې له شرط سره سم عمل کیږي اودیادشوې تفصیل سره سم به دوقف آمدني دده پروارثانووښل کیږي کمافی الشامی وغیره : شرط الواقف کنص الشارع ۔۳ اودښځې دمهرپه پورکې دغه وقف شوی جائدادنشي خرڅېدای لکه چې په درمختارکې راغلې دي: فاذاتم ولزم لایملک ولایملک الخ قوله لایملک ای لایکون مملوکالصاحبه ولایملک ای لایقبل التملیک لغیره بالبیع ونحوه۔۴ (شامی) فقط.

---

(۱) لابدان یکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتا (ردالمحتار(۳/۳۹۴) کتاب الوقف شرائط الوقف ط رشیدیه) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة (ابن ماجه ص: ۱۹۴ابواب الوصایا ،باب الحیف فی الوصیة)

(۲) الدرالمختارمع الرد(۵/۴۸۱)کتاب الوصایا ،باب العتق فی المرض ط رشیدیه.

(۳) الدرمع الرد(۳/۴۵۲) کتاب الوقف ، مطلب قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.

(۴) الدرمع الرد(۴۰۲/۳) کتاب الوقف ، قبل مطلب فی شرط واقف الکتب ان لاتعارالابرهن ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دوقف کوونکي ښځه خپل مهرله وقف شوي جائدادځخه اخستلای شي ،که نه ؟

سوال : (۲۵۲) زیدخپل جائدادپربچیانووقف کړ.وفات شواوپرده دخپلې کورواالامهر پاته ووهغه له دې جائدادځخه خپل مهراخستلای شي .که نه ؟ (۷۲۵/ ۱۳۴۵هج)

خواب : په درمختارکې په داسي صورت کې داتفصیل دی چې که دمرګ په ناجوړې کې یې وقف کړي اودین محیط (ترجائدادبالاپور) وي نوقف باطل دی اوکه دروغتیاپه حال کې یې وقف کړي نووقف صحیح دی نودغه وقف که دروغتیاپه حال کې شوی وي نوښځه خپل مهرله وقف شوي جائدادځخه نشي اخستلای اوکه وقف دمرګ په ناروغي کې واقع شوی وي نوکورواالاخپل مهرله جائدادځخه اخستلای شي)

وبطل وقف راهن معسرومریض مدیون بمحیط بخلا ف صحیح الخ قوله : بخلاف صحیح ای وقف مدیون صحیح فانه یصح ولوقصدبه المماطلة لانه صادف ملکه کمافی انفع الوسائل عن الذخیرة قال فی الفتح وهولازم لاینقضه ارباب الدیون الخ ـ(۱) (شامی) وفی الدرالمختار: ایضا فان شرط وفاء دینه من غلته صح وان لم یشرط یوفی من الفاضل عن کفایته بلاسرف ولووقفه علی غیره فغلته لمن جعله له خاصة وفی الشامی(قوله فان شرط وفاء دینه) ای وقفه علی نفسه ـ(۲)

دوقف کوونکي دزوئ ښځه یعني مرورخپل مهردوقف کړي جائداد له آمدنې ځخه اخستلای شي ،که نه ؟

سوال : (۲۵۳) زیدخپل جائدادپراولادوقف کړده دزوئ دښځې مهرمعجل (سمدستي اداکول) دي داپربچیانودوقف کړی جائدادله آمدني ځخه اخستلای شي ،که نه ؟ (۷۲۵/ ۱۳۴۵هج)

خواب : دانبکاره ده چې دزوئ ښځه له دغه وقف شوي جائدادځخه خپل مهرنشي اخستلای خوکله چې دغه جائدادپرهمدغه هلک وقف دی نودده دآمدنې دی مالک دی نوکله چې ددغه جائدادآمدني ددغه هلک ولاس ته راشي هغه وخت

---

(۱) الدروالرد (۴۳۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب الوقف فی مرض الموت ط رشیدیه .

(۲) الدرالمختارمع الشامی (۴۳۳/۳) کتاب الوقف قبل ،مطلب فی ـ قف الراهن والمریض المدیون ط رشیدیه .

دغه ښځه له ده څخه دخپل مهرغوښتنه کولای شي اودغه آمدني له ده څخه پخپله مهرکې اخستلای شي لکه څرنګه چې په هرپورورکوونکې اوپورورې کې ای داحکم دی چې کله دپورورې سره څه روپۍ اونوروي یوورکوونکی له ده څخه غوښتنه کولای شي اوڅه رنګه چې وي خپل حق له ده څخه اخستلای شي ،څکه چې هرخاوندوحق ته خپل حق دپورورې له ښکاره ملکیتي شیانوڅخه داخستلوحق شته لنډه داچې کومه آمدني دوقف شوې جائداداراځي لومړی به موقوف علیه یعنی زوئ ته ورکول کیږي بیایې له ده څخه دده ښځه دخپل مهرپه پورکې اخستلای شي په درمختارکې راغلې دي: والقاضی یحبس الحر المدیون لیبیع ماله لدینه وقضی دراهم دینه من دراهمه یغنی بلا امره وکذالوکان دنانیر الخ لایبیع القاضی عرضه ولاعقارللدین خلافا لهماوبه ای بقولهماالخ ویبیع کل مالا یحتاجه فی الحال ـ۱ وفی الشامی: ان عدم جوالاخذمن خلاف الجنس کان فی زمانهم لمطاوعتهم فی الحقوق والفتوی الیوم علی جوازالاخذعندالقدرة من ای مال کان الخ ـ۱ (۵/ ۹۵کتاب الحجر)

لنډه داچې کوم شی دخاوندپه ملک کې وي مثلا غله یانغده آمدني دوقف شوې جائداد څخه چې کوم ده ته ورسیږي له هغه څخه دخپل معجل (سمدستي) مهرپوراخستلای شي

دمرګ په ناجوړې کې پربچیانوکتابونه وقفول

سوال: (۲۵۴) زیددمرګ په ناروغي کې کتابونه پربچیانووقف کړل روادي ،که نه ددې څه حکم دی؟(۱۹۹۰/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي: اعتاقه ومحاباته وهبته ووقفه وضمانه کل ذلک حکمه حکم وصیة فیعتبرمن الثلث الخ ـ۲ له دې روایت څخه معلوم شوچې دمرګ دناروغی وقف دوصیت په حکم وی اودوارثانولپاره وصیت نه صحیح کیږي اوپه پوښتل شوې صورت کې چې زیدکوم کتابونه دخپلوزامنولپاره وقف کړي دي کله چې داوقف دمرګ دناروغی په حالت کې دی ،څکه ددې حکم دوصیت په څیردی اوزامن خوشرعي وارثان دي ،څکه نوددوئ په حق کې وصیت صحیح نه شواوددوئ ته پربچیانو دوقف کولوله لاړې هیڅ نه ورکول کیږي

(۱) الدرالمختاروالشامی کتاب الحجرقبل مطلب: تصرفات المحجوربالدین کالمریض ط رشیدیه.
(۲) الدرالمختارمع الشامی کتاب الوصایاو باب العتق فی المرض ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

بلکي ټوله ترکه دوفات شوې زیدملک دی دزیدله وفات وروسته پرټولوشرعي وارثانود شرعی برخوسره سم وېشل کیږي له وېش وروسته هروارث دخپلې برخې کتابونه چي چیري وغواړي ښوولای شي فقط.

پربچیانوپه وقف کړې جائدادکې میراث نه جاري کیږي

سوال : (۲۵۵) فضل حسین خان خپل جائداددخپلې لمسی (دزوئ لور) په نامه وقف علی الاولادکړاوخپل وراره فیاض علی خان یې ورباندي متولي وټاکی اوس دفضل حسین له وفات وروسته څووارثان پاته شول پردوئ به ترکه وېشل کیږي ،که نه ؟(۸۸۲/۱۳۴۵هج)

خواب : فضل حسین خان که خپل جائدادپربچیانووقف کړنوداوقف صحیح شوځومره برخه چي دچاده دوقف په پاڼه کې لیکلې ده دهغه سره سم به ګټه وېشل کیږي اوس په دغه وقف کړی جائدادکې میراث نه جاری کیږي نودوقف دپاڼې دشرطونوسره سم دې عمل وشي (درمختاراونور)

دخپل یاوارث متولي جوړول ضروري نه دي

سوال : (۲۵۶) ویوې بې اولاده مذهباحنفی اواهل السنت والجماعة کونډې میرمنې ته څه دصحرااواستوګنې سامان دمهردپورپه عوض اودکوروالی په حق کې ورورسېده دې دغه حق دموجوده قانون سره سم پراولادووقف کړیوداسي سړی یې چي ددې وارث به جوړېدی وروسته متولي ورباندي وټاکی آیاداسي وقف چي دوارثانودحقوقوهیڅ خیال پکي ونه ساتل شوروادی ،که نه ؟ اوددداسي سړی تولیت کوم چي خپل خودی اماوارث نه دی روادی ،که نه ؟ ددغه وقف په پاڼه کې دې بې بې خپل وراره کوم چي ددې په ژوندکې دخپل پلاردمړه کېدوپه وجه له میراثه بې برخې شوی وومتولي وټاکی اوپه اوس وخت وروسته ددې نومورې له وفات څخه ددې یوورورادودې سکه خوندې شته (۱۲۱۱۸/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

خواب : ومالک ته دخپلوملکیتي شیانوجائداداونوروپوره اختیاروي اوهردول تصرف پکي کولای شي خودکوم وارث دبې برخې کولوپه غرض کوم تصرف کول ګناه ده اومنع دی لنډه داچي دنومورې میرمنې پراولادووقف کول روادي اوکوم څوک چي دې متولي ټاکلی دی اوکوم شرطونه چي له شریعت سره سم دي دوقف په اړه لیکلې دي هغوئ ټول عملي کول واجب دي اومتولي هرسړی

چې دیندار اونېک وي جوړل روادي خپل یا وارث متولي تاکل ضروري نه دی ،ځکه نو دنومورې بې بې دخپل وراره متولي تاکل صحیح دي په رد المحتار کې راغلې دي شرائط الواقف معتبرة اذالم تخالف الشرع-(۱) شرط الواقف کنص الشارع-(۲).

(۱) الشامی (۳/۳۹۵) کتاب الوقف: مطلب شرائط الواقف معتبرة الخ ط رشیدیه.
(۲) الدرالمختارمع الشامی(۳/۴۵۲) کتاب الوقف ، مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوقف بېلابېلې مسئلې

وقف شوی جائداددقبضه کوونکې

له لاس څخه خوندي کول دمسلمانانودیني فریضه ده

سوال : (۲۵۷) (الف) په هردوئی ولسوالی کې یومسجددی اودهغه په اړه خودکانونه ،جائدادونه اونوردي چې آمدني يې پرمسجدلګيږي اوددوکانونوکرايه اونوردمدرسې عربيه استاذدتوليت په توګه اخلي اوس اورېدل کيږي چې ځيني فسادیانوددې ځای یوهندوتاجردې خبرېه ته آماده کړې دی چې ددوکانونواونوروکرايه واخلي اوپرجائداد قبضه وکړي که نوموړی تاجردې خبرې ته آماده شونوپه داسي صورت کې آیاپرمورِ مسلمانانودافرض دی چې دغه وقف شوی جائداددده له قبضه کوونکې لاس څخه خوندي کوکه څه وکړو؟

(ب) که څومسلمانان پخپل مینځ کې په فیصله کولودغه وقف شوی ټول جائدادیاځيني ورکول منظورکړي نودوئ به پرحق وي وکه نه ؟

(ج) کوم مسلمان چې دټولومسلمانانوپه خلاف دغاني مخالفت په وجه تاجردې طرفته رابولي اودوقف هم هیڅ خیال نه ساتي دده په هکله څه حکم دی ؟

(د) کوم سړی چې دوقف په خوندي کولوکې ترخپل وسه برخه نه اخلي اودتاجرڅخه داغېزمن کېدوپه وجه سستي اوسترګې پټونه کوي دی په چاکې شمیرل کيږي

(۳۲/۲۴۴۰-۱۳۳۳هج)

ځواب : (الف) مسلمانانوته ضروري ده چې په داسي حالت کې دوقف هرډول مرسته اوکومک وکړي اوله قبضه کوونکې لاس څخه يې خوندي کړي.

(ب) داسي روانه دی په وقف کې داسي تصرف دهیڅالپاره صحیح نه دی اووقف په هیڅ توګه دچاپه ملک کې نشي راتلای : الوقف لایملک ولایملک منل شوې مسئله ده.

(ج) داسي کوونکی شرعاً گنهګاراوفاسق دی که دی له کارڅخه منع نشي نومسلمانان دې له ده سره اړیکې پربکړي اوله ده څخه دې جلا شي.
(د) دی ګنهګاراوفاسق دی فقط.

دقرآنکریم اوکتابونودوقف کولوثواب

سوال: (۲۵۸) ومدرسې ته قرآنکریم اوکتابونه وقفول څومره ثواب لري؟ (۲۲۰۴/ ۱۳۴۳هج)

خواب: وقف کول له صدقاتوجاریه څخه دي اوددې په فضیلت قرانکریم اوحدیث ډک دي عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذامات الانسان انقطع عنه عمله الامن ثلثة الامن صدقة جاریة الحدیث۔(۱) رواه الجماعة الاالبخاری وعن عثمان رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قدم المدینة ولیس بهاماء لیستعذب غیربئررومة فقال من یشتری بئررومة؟ فیجعل دلوه مع دلاء المسلمین بخیرله منهافی الجنة رواه النسائی والترمذی۔(۲) اوپه ځینوالفاظوکې راغلې دي من حفربئررومة دخل الجنة لنډه داچې دبئر(څاه) رومه په رانیولواوبیادهغه په وقف کولودحضرت عثمان رضی الله عنه لپاره جنت ته دداخلېدوزیری دی اوپه مخکنې حدیث کې ځرګندونه ده چې له مرګ وروسته وانسان ته هیڅ شی په کارراتلوونکی نشته مګرصرف درې شیان چې پکې یوه صدقه جاریه همدا، ښکاره ده چې له صدقه جاریه څخه مرادهمدغه وقف دی، ځکه علماؤویلې دي چې په دغه حدیث کې دالله رب العزت په لاره کې دوقفولولونۍ فضیلت راغلی دی لنډه داچې وقف والله تعالی ته دنژدېکت ډیره غوره وسپله ده.

---

(۱) مشکوة شریف ص: ۳۲ کتاب العلم.
(۲) عن ثمامة بن حزن القشیری قال: شهدت الدارحین اشرف علیهم عثمان فقال انشدکم بالله وبالاسلام هل تعلمون ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قدم المدینة ولیس بهاماء لیستعذب غیربئررومة فقال من یشتری بئررومة فیجعل فیهادلوه مع دلاء المسلمین بخیرله منهافی الجنة فاشتریتهامن صلب مالی فجعلت دلوی مع دلاء المسلمین (الحدیث) (النسائی ۲/ ۱۰۹ کتاب الاحباس، باب وقف المسجد) وروی الترمذی مثله بتغییریسیرفی ۲/ ۲۱۱ فی مناقب عثمان بن عفان رضی الله عنه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوقف ثواب ووقف کوونکې ته رسيږي

سوال : (۱۵۹) یوسړی څه جائدادفی سبیل الله وقف کړچي غرض يې په ښکاره همداووچي ددې ثواب ووقف کوونکې ته رسيږي اوله ځان وروسته يې خپل زوئ متولي وټاکی آیاودې زوئ ته دااختیارشته چي دوقف ثواب دپلارپرځای ولوئ پیرصاحب یاددین نوروبزرګانواوخپلوخپلوانوته ورسوي (۱۳۳۴۰/۲۴۴۵هج)

ځواب : دفی سبیل الله وقف کولومطلب داوي چي دهغه آمدني دخیرپه کارونوکې صرفه شي ـ۱ اوثواب دهغه به خاص وقف کوونکې ته رسيږي دمتولي ونیت ته په دې کې اعتبارنشته.

دپلارله وفات وروسته دپلاررانیولې کتابونه زوئ وقف کړل ثواب يې چاته رسيږي ؟

سوال : (۲۲۰) پلاردزوئ لپاره دیني کتابونه دزدکړه په نیت رانیول خوهغه څه حاصل نکړل اوکتابونه پراته وودپلارله مرګه وروسته که هلک واسلامي مدرسې ته کتابونه وقف کړي نودثواب حقداربه څوک وي ؟ (۳۲/۱۹۵۰ـ ۱۳۳۳هج)

ځواب : دپلارله وفات وروسته زوئ چي وارث دی هغه مالک شودوقف کولوثواب دده دی اوپلارته به دده دخیردنیت ثواب رسيږي دکوم لپاره چي ده اخستی دی ـ۲

---

(۱) حتی ان من وقف داره اوارضه یلزمه التصدق بغلة الدار والارض (بدائع ۵/ ۳۲۲، کتاب الوقف والصدقة)

(۲) عن عمربن الخطاب رضی الله عنه یقول: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: انماالاعمال بالنیات وانمالامرئ مانوی فمن کانت هجرته الی دنیایصیبهااوالی امرأة ینکحها فهجرته الی ماهاجرالیه (صحیح البخاری ۲/۱، باب کیف کان بدء الوحی.

دمهر دپورپه بدل دخاوندپر جائدادپه قبضې کولوسره وقفول

سوال : (۲۲۱) کومه ښځه چې دخپل خاوندله مرګه وروسته دخاوندپرجائداد دمهرپه عوض قبضه وکړي داهغه جائدادوقفولای شي ،که نه ؟(۲۲۸/ ۲۹ـ۱۳۳۰هج)

ځواب : هرهغه څوک دغه جائدادوقفولای شي کوم چې په قطعی توګه مالک وي دمهر دپورپه بدل پرجائدادپه قبضه کولوسره ښځه تراوسه ددغه جائدادمالکه نه ده ګرځېدلې نوروارثانوته داهم اختیاردی چې دوئ مهراداکړي اوجائدادپخپله راوګرځوي ښځه صرف دشرعي برخې په اندازه وارثه جوړیږي.

دوقف دخاروونکې دوقف له ځای ځخه دیني تعلیم ورکوونکي لیری کول

سوال : (۲۲۲) زیددکومې وقف خانقاه څاروونکی دخالد(کوم چې ددې خانقاه په کومه برخه کې وماشومانوته دقرآنکریم اونورودخیردکارونوزدکړه ببله مزدوری ورکوي) دلیري کولواختیارلري ،که نه ؟آیادی شرعًا ددغې خانقاه جائزمالک دی ،که نه ؟(۱۴۰۱/ ۱۳۳۹هج)

ځواب : په اوقافوکې داډول کارونه دمتولي په اجازه بایدوشي اودوقف کوونکې له شرطونوسره سم عمل کول پکاردي په پوښتل شوې صورت کې دامعلوم نه دي چې دوقف کوونکې شرطونه څه دي دغه وقف دکوم کارلپاره شوی دی اومتولي په کومه وجه خالدمنع کوي دوقف اودوقف دشرطونوپه پوره تفصیل معلومېدوسره اودمتولی له بیان څرګندېدووروسته څه حکم کېدای شي مثلا که وقف کوونکی دتعلیم لپاره دانه دې وقف کړی دنوروکارونولپاره یې وقف کړی دی نوهیڅاته په دې کې دخندجوړېدواختیارنشته امادوقف کوونکې کوم شرطونه چې دشریعت خلاف وي هغوئ بایدعملي نکړل شي فقط

داواقافوومامورینوته درخصتي دورځوتنخواه ورکول اووظیفه مقررول

سوال : (۲۲۳) دباچاهانوداوقافوپه آمدنی چې حساب کوونکې اوخاروونکې له کلونومامورین دي دارازدجامع مسجداکبرآباددوقف په امدني چې کوم حساب کوونکې څوکېداران اومنشیان اونورکوم چې دمسجددانتظام دمسددآمدني اودمسجددمامور ینولپاره مقرردي اواوس ډیربوډاګان اوسپین ږیري شوې دي ودغوخلګوته ددغه وقف له آمدني څخه پنشن ورکول جائزدي ،که نه ؟ اودناجوری اړتیاپه وجه یادکوم بل ضرورت په خاطرکه دوئ رخصت دروژې مبارکې دمیاشتې یادجمعې دورځې څخه پرته اخستل غواړي نودوئ ته رخصت

Maktaba Tul Ishaat.com

بېله تنخواه څخه دایستلوورکول کېدای شي ،که نه ؟ اوداهم راته وليکئ که ددغو اوقافومصرفونه خاص دبيت المال مصرفونه دي نوپه دې صورت کې څه حکم دی ؟ اوکه اقعتًادغه اوقاف صحيح دي خوددغواوقافوپه اړه دوقف کوونکې نيت په هيڅ ډول نشي معلو مېدای په دې صورت کې څه حکم دی ؟ اوددغوخلګوحکم اوداماماومؤذن حکم يودی که څه فرق لري ؟ (۷۲۵/ ۱۳۳۵هج)

ځواب : دابنکاره ده چې دامیرانو ،وزیرانو ، اوباچاهانوجائدادونه ددوئ ملک هم وي نوددغووقفول صحيح اوحقيقي وقف دی اوداوقافوومامورينوته بېله کارکولوڅه اجرت اووظيفه نشي ورکول کېدای ،ځکه نوپنشن ورکول دوئ ته صحيح نه دی اوپه دې اړه امام ،مؤذن اونورمامورين دوقف برابردي وهذاکله فی کتب الفقه فقط.

دوقف له آمدني څخه ومتولي ته تنخواه ورکول

سوال : (۲۲۴) دوقف شوي جائداداودمسجددانتظام لپاره که کوم سړی متولي وټاکل شي نوآياشرعًا ودغه متولي ته له دغه جائدادڅخه په کال يامياشت کې دخپلوخرڅولپاره څه اخستل روادي ،که نه ؟ (۳۳۰/ ۱۳۳۰هج)

ځواب : وه دغه متولی ته ددغه جائدادڅخه دده داخراجاتوپه اندازه اوددده دکارپه اندازه اوددده دکارپه اندازه څومره کېدای شي تنخواورکول جائزاوصحيح دي فقط واللہ تعالی اعلم

سوال : (۲۲۵) يوه ټوټه وقف مځکه حکومت دخپلې اړتيادپوره کولولپاره پخپل قانون واخسته اوڈدې قيمت حکومت ورکوي دغه روپۍ اخستل روادی ،که نه ؟ اوکه يې واخلونوڅه په وکړو ؟ (۱۹۱۰/ ۱۳۴۰)

خواب : که دمجبوری له امله داصورت شوی دی چې جبراً حکومت دامځکه واخسته تصرف یې پکې وکړنوددې قیمت واخلئ په دغه قیمت بله مځکه رانیسئ وقف یې کړئ اودغه قیمت باید پخپل کارکې ونه لګوئ فقط.

دمسافرخانې لپاره په وقف کړې ځای کې یتیم خانه جوړول

سوال : (۲۲۶) کومه مځکه چې دجامع مسجد سره نښتې وي اومتولي دمسافرخانې جوړولولپاره وقف کړې وي اوداصل متولي له وفات وروسته دده اولادهم دده دوصیت سره سم پردغه مځکه مسافرخانه جوړول غواړې خودځای والوویتیم خانې ته ضرورت دې آیاداسي مځکه کومه چې دمسافرخانې لپاره خاص کړل شوې وي یتیم خانه پکې جوړول شرعاً صحیح دي ،که نه ؟(۱۳۴۲/۲۰۸۸هج)

خواب : په دغه وقف شوې مځکه کې یتیم خانه جوړول صحیح دي ومسافروته هم پکې داستوګنې اجازه وي کوم چې دوقف کوونکې له غرض سره سم دی نوکوم مکان چې جوړکړل شي په هغه کې دواړه غرضه پوره کیږي دیتیمانو او مسافرودواړولپاره به دهوساینې ځای وي فقط.

دوقف له آمدني څخه دمریض خرڅ اخستل

سوال : (۲۲۷) زیددناروغانواړتیالپاره یوجائدادوقف کړاوعمردده متولي دی بکرنا جوړه شوطبیب دبکرعلاج کوي بکرعمروته وویل چې طبیب هره درپیمه ،څلورته ورځ روپۍ ورکول غواړې اوزمادومره وس نشته ،ځکه نوکومې روپۍ چې ستاسوزماسره پرتې دي له هغوڅخه به یې دوقف دمصرف په نیت وطبیب ته ورکوم عمراجازه ورکړه نوڅومره روپۍ چې وطبیب ته ورکول شوې دهغه روپۍ بکرله عمرڅخه له وقف اخستلای شی ،که نه ؟(۱۳۳۷/۱۲۸۹هج)

خواب : هغه روپۍ بکرله عمرڅخه دوقف له آمدني څخه اخستلای شي ،ځکه چې دادوقف کوونکې له غرض سره سم دي فقط.

Maktaba Tul Ishaat.com

په وقف شیانوکې رانیوونکي هرډول تصرف کولای شي

سوال: (۳۲۸) وقف مال له رانیولوورو سته په تتی (بیت الخلاء) کې لګول اولرګي سوځل روادي ،که نه ؟ (۵۴۷/۱۳۴۵هج)

خواب: درانیوونکې لپاره داټول کارونه صحیح دي هغه شیان له رانیولوورو سته درانیوونکې ملک شول هغه چې څرنګه وغواړي تصرف پکې کولای شي.

بر کتمن ځایونه وقف دي که دچاملک ؟

سوال: (۳۲۹) متبرک مقامات لکه دبزرګانو مزارونه اودپیرانوخانقاوې دچاملک دي که وقف ؟ (۱۲۱۸/۱۳۴۱هج)

خواب: که په شهرت سره ددغوځایونووقف کیدل ثابت شي نوپه اوقافوکې داخل دي کمافی الدرالمختار: وتقبل فیه الشهادة علی الشهادة وشهادة النساء مع الرجال والشهادة بالشهرة الخ۔[۱]

له وقف شوې جائدادڅخه دناروا قبضې دختمولوپاره ومحکمې ته رجوع کول

سوال: (۳۳۰) که کوم سړی خپل جائداد دالله رب العزت په نامه وقف کړي اوبیابل سړی کوم چې دده وارث نه دی پروقف کوونکې جبروکړي پرخپل یادبل چاپرنامه دوقف کړي جائداد دهبې پانه یادبیع پانه ولیکي اودوقف پرمال پخپله جبراقبضه وکړي نوپه داسي صورت کې پرمسلمانانوموجوده محکمې ته عارضه کول دالله رب العزت شي دچاله قبضې اوتصرف څخه راایستل لازم دي .که نه ؟ اوکوم ترک موالات (مرسته نه کوونکې) چې دي هغوئ هم عارضه کولای شي ،که نه ؟ (۷۵۳/۱۳۴۰هج)

خواب: په وقف شوې جائدادکې بیع ، هبه اونورتصرفات صحیح نه دي نوکه کوم شخص

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴۴۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب: المواضع التی تقبل فیها الشهادة حسبة بلادعوی ط رشیدیه.

چې جبراپه وقف کوونکې دوقف کړې جائداددبیعې یاهبې پانه ولیکله نوداشرعًا باطله ده پرمسلمانانوباندې ددغه وقف دخلاصولولپاره عارضه کول ضروري دي اوکله چې کوم صورت دفیصلې نه وي نوموجوده محکمې ته رجوع کول وقف وربانديې جاري کول اوهبه وربانديې باطلول ضروري دي اوترک موالات له دغې عارضې کولواودحق له مرسته کولوڅخه منع کوونکې نه دي فقط.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسجدحکمونه

دمسجداودهغه له مځکې سره ترلې مسئلې

دخپل ښاردمسجدلپاره وقف کول زیات دثواب باعث دي

سوال: (۲۷۱) زمونږپه ځای جالورکې یوجامع مسجددی خودده دضروري اړتیاووکوم بندوبست نشته اودجالوراستوګن یوسړی نبی بخش مالداراوهوساه ژوندلروونکی دی ددې مسجد په نامه یې دیوه دوکان کولووعده کړې وه دبل کلې خلګو(کوم چې زمونږله کلې شپېته مېله لیري دي) کوشش وکړپه دغه نومورې نبی بخش یې وعده وکړه چې دغه دوکان ددوئ ومسجدته ورکړي په دې صورت کې څه حکم دی؟(۳۲/۱۲۰۹-۱۳۳۳هج)

ځواب: دلیري کلې اوښارپه نسبت دخپل ښارمسجدزیات حقداردی ،ځکه نونبی بخش باید دخپل ښاردجامع مسجددخرڅوانتظام وکړي چې داپرده حق لري اوثواب هم په دې کې زیات دی بایدلومړنی وعده پوره کړي اوددوهمې وعدې په وجه لومړی وعده ماته نکړي.

دشرعي مسجدلپاره دمځکې وقف کېدل ضروري دي

سوال: (۲۷۲) په کومه مځکه کې چې مسجدوي دهغې وقف کېدل ضروري دي ،که نه؟(۳۳/۸۱۹-۱۳۳۴هج)

ځواب: دمسجدکېدولپاره دمځکې وقف کېدل ضروري دي که مځکه وقف نه وي نو مسجد شرعی نه وي فقط.

دمسجد کېدولپاره دمکان وقف کېدل ضروري دي

سوال : (۲۷۳) دلته دمسجددنه شتون له کبله یومسلمان خپل کوردلمانځه لپاره ومسلمانانوته ورکړی دی په پورته برخه کي یې اذان اولمونځ کیږي اولاندي برخه یې ومدرسې ته په کرایه ورکړې ده اوپه حکومتي کاغذونوکې دغه مکان دبرخه لرورنکوپه نامه لیکلی دی اوددغه مکان جوړښت هم مسجدته ورته نه دی نودمسجدپه حکم دی ،که نه ؟(۱۱۲۱/ ۴۴ - ۱۳۴۵هج)

ځواب : که دغه سړی دغه مکان وقف کړی نه دی اوله خپل ملک څخه یې ایستلی نه دی اولاندي برخه دده په کرایه ورکوله شوې ده نودامسجدنه دی دمسجد کېدولپاره وقف کېدل ددغه مکان ضروري دي اودمسجدلاندي برخه په کرایه ورکول هم روانه دي فقط.

دمسجدپه اراده رانیول شوې مځکه له مسجدجوړولویاوقفولومخکې مسجدنه وي

سوال : (۲۷۴) یوسړی دمسجددودانولولپاره مځکه رانیسي اواوس چاچنده ورنکړه له دې وروسته په دغه ځای کې دکوم مجبوریت له امله مسجدتعمیرنه شودغه ځای هسي ولاړدی اودغه سړی بله مځکه دمسجددودانولولپاره په خپلور وپورانسي په دې کې دچندې کومې روپۍ نشته په دوهمه مځکه کې مسجدجوړشوله همدغې مځکې څخه څه مځکه زیاتوب اوبېکاره شوه هغه همدغه رانیوونکې پخپل کورکې شاملې کړه آیااوله مځکه دچاده اوله دوهمې مځکې څخه چې لږزیاتوب مځکه په کورکې ورګډه کړله شوه دهغې په هکله شرعًا څه حکم دی ؟ (۱۹۸۲/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

ځواب : په دې صورت کې اوله مځکه کومه چې دمسجددودانولوپه اراده رانیوله شوه اومسجدورباندي جوړنشواودارانیوونکې له رانیولوورسته وقف کړې نه وه نودا مځکه درانیوونکې ده دمالک په حیث رانیوونکی پکې تصرف کولای شي اوله دوهمې مځکې څخه چې لږمځکه زیاتوب اوبېکاره شوه اورانیوونکی مالک دغه زیاتوب مځکه مسجدته وقف نکړه نوددې په مکان کې ورګډول رواشو.

Maktaba Tul Ishaat.com

دلمانځه لپاره خاص کړی ځای چې دمسجدارادہ نه وي څه حکم لري ؟

سوال : (۲۷۵) زیدداړتیاپه وجه یوخوندي ځای دلمانځه اونوروعبادتونولپاره خاص کړی وو ،ځکه خلګودغه ځای دمسجدپه نامه یادوئ حال داچې زیدپخپله هیڅکله دادمسجدپه نامه نه دی نومولی اونه یې داځای دشریعت سره سم وقف بللی دی چې له خپل ملک څخه یې دخارج اووتلی تصورکړی وي ،ځکه نوکله چې پر۱۵شوال سنه ۱۲۹۶ه باندي زیدوفات شونودده زامنودغه مکان داستوګنې دمکان په څیرکارول شروع کړل بیاددوې ترمینځ ترکه ووېشل شوه اودغه ځای مسجدونه بلل شوبلکې له ترکې څخه وبلل شوله هغه وخت څخه تراوسه نژدي له پنځوسوکلونوراهیسې دغه ځای دملکیت په توګه په قبضه اوتصرف کې دی نوپه داسې صورت کې دغه ځای شرعًا وقف بلل کېدای شي ،اوآیادمسجدحکمونه پردې جاري کېدای شي ؟(۱۵۳۶/۱۳۴۵هج)

ځواب : په درمختارکې راغلې دي : ویزول ملکه عن المسجدوالمصلی بالفعل وبقوله جعلته مسجداعندالثانی الخ قوله بالفعل ای بالصلوة فیه ففی شرح الملتقی انه یصیرمسجدابلا خلاف الخ۔۱(شامی)

ترجمه : اوختمیږي ملک دده له مسجداومصلی څخه په هغه کې په لمونځ کولواودده په ویناچې مادامسجدکړپه نزددامام ابویوسف رحمه الله یعنی له دغودواړوخبروڅخه په کومه یوه خبره هغه مسجدګرځي خواکه په خوله ووایې یاپه خوله ونه وایې خولمونځ پکې وکړي اودلمانځه لپاره داخاص کړي ،ځکه نودشامی دعبارت حاصل دادي نوکله چې زیددغه ځای دلمانځه لپاره خاص کړی وواوپه دې کې لمونځ کوي اونوروخلګودې ته مسجدووایواومسجدیې وبلی اولمونځونه کوي اوزیدځوک منع کړی نه دی اوله مسجدویلوڅخه یې نه دي منع کړې نومعلوم شوچې دامسجدشوله دې وروسته دده دوارثانوداخپل مکان ګڼل اودمالک په حیث پکې تصرف کول روانه دي فقط.

---

(۱) الدرالشامی (۴۰۴/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

پر کومه مځکه له مسجد جوړولوورو سته هغه وقفول ضروري نه دي بلکي هغه پخپله وقف ګرځي

سوال : (۲۷۱) که کوم سړی مسجد جوړکړي اودمسجد مځکه وقف نکړي نودابه مسجدوي ،که نه ؟(۵۲/ ۴۲-۱۳۴۶هج)

خواب : له مسجد جوړولوورو سته کله چې کوم سړی په دې کې دلمانځه اوجماعت کولواجازه وکړي اواذان اوجماعت هلته کېدل شروع شول نووقف ګرځي اومسجد ګرځي بلکي دصحیح مذهب سره سم صرف په مسجد کولوسره اوپه دې وینا[جعلته مسجدا] یعنی مامسجدوګرځاوی وقف کیږي لقوله تعالی : وان المساجدلله ـ ۱ نودمسجدله جوړولوورو سته ددې ووقف کولوته اړتیانشته ، داپخپله وقف ګرځي بیارجوع کول له دې څخه اوباطلول ددې مسجدوالي صحیح نه دی فقط.

په کومه مځکه کې په جوړ کړې مسجدکې په لمونځ کولوهغه مځکه مسجدګرځي

سوال : (۲۷۷) په بنګال کې یومسجددنوهومسلمان هلکانولپاره جوړشوی دی خومتولي دمسجدتراوسه وقف نه دی کړی خودجوړبدوپرمهال یوه سړی بېله اذان کولودوې ،درې ورځې دمابنام لمونځ کړی دی خوکله چې دوزیرصاحب اراده داده چې دغه مسجدبل ځای جوړکړي نویادشوی مسجدله مسجدوالي ځخه وزي ،که نه ؟(۳۲/۱۲۸۷- ۱۳۳۳هج)

خواب : کله چې هغه مسجدتیارشواوځینوخلګولمونځ هم پکې وکړنوهغه مسجدو ګرځیدی اوس هغه له مسجدوالی څخه نشي ایستلای قال فی الدرالمختار: ویزول ملکه عن المسجدوالمصلی بالفعل وبقوله جعلته مسجدعندالثانی وشرط محمدوالامام الصلوة فیه بجامعة وقیل یکفی واحدوجعلته فی الخانیة ظاهرالروایة۔۲ فقط.

---

(۱) سورة جن آیت: ۱۸.

(۲) الدرالمختارمع الشامی(۴۰۴/۳)کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال : (۴۷۸) غلام نبی قصاب له اوس څخه دري پيړۍ مخکې يومسجد جوړکړی ووخو بانی اوده وارثانودوقف پاڼه ليکلې نه وه اومورپه دغه مسجد کې دجمعې اوجماعت لمونځ له ډيرې مودې راهيسي کاوودباني زوئ په حکومت کې دمسجدپرځای پوخ کورپرخپل نوم وليکی اودباني لمسي ضميرالدين ددغه ديادونې پرمهال مورته شکنځل وکړل اودايې وويل زمادکوپرې خورلولپاره دومره زورګلوئ له هغه ورځې څخه مورپيوه کوډل ودروله لمونځ پکې کووچې اوس يې اووه کاله کيږي آياهغه مسجدشرعًا مسجددی ،که نه ؟ مورپبل مسجد چيرې چې کوډل ده جوړول غواړوشرعًا څه حکم دی ؟(۱۲۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : مسجدجوړول اوپه هغه کې بياسم دجماعت اواذان کېدل دادليل دده دوقف اومسجدکېدولپاره کفايت کوي نودغه مسجدشرعي مسجدګرځېدلی دی اوهمېشه به مسجدوي دوقف پاڼه که وليکل شي اوکه نه دې ته اړتيانشته نوپرکلپوالومسلمانانو لازم دي چې ددغه مسجدپه ترمېم اوآبادولوکې کوشش وکړي اودضميرالدين په هغه ويناکومه چې ده وکړه دغه مسجددده ملک نه ګرځي اومسجدبه وي لان الفتوی علی تأبيدالمسجد(الشامی ۶/ ۴۲۹کتاب الوقف) نوترخپله وسه دې ددغه مخکني مسجدپه سمون اوآبادولوکې کوشش وشي اوکه هلته په تلواولمونځ کولوکې فتنه ده نوبل ځای چيرې چې کوډل ده هلته هم مسجد جوړول روادي اوهغه مسجدګرځي فقط.

سوال : (۴۷۹) آيادچاپه مځکه کې صرف په جماعت په لمانځه کولوسره هغه مځکه وقف ګرځي ؟(۱۱۲۲/ ۴۲-۱۳۴۷ه)

ځواب : په مسجدجوړولوسره پکې په جماعت لمونځ کولوسره بلکې صرف په دې ويناچې مادامسجدکړمسجدګرځي اووقف ګرځي لکه چې دامام ابويوسف رحمه الله څخه نقل شوې دي وبقوله جعلته مسجدًعندالثانی ـ۱ له دې څخه معلوم شوچې دمسجدکېدولپاره دوقف وپآنې ليکلوته اړتيانشته بلکې دمخکې دمالک په مسجد جوړولوسره اوپه دې ويناچې مادامسجدکړهغه مسجدګرځي اووقف ګرځي خومتولي اومهتمم به دده هماغه سړی وي کوم چې مسجدجوړکړی دی [البانی للمسجداولی من القوم بنصب بالامام والمؤذن فی المختارالخ قوله بنصب الامام والمؤذن امافی العمارة فنقل فی انفع الوسائل ان البانی اولی ای بلا تفصيل الخ ـ۲ (شامی درېيم توک)

---

(۱) مخکنی حواله.

(۲) الدروالشامی (۴۵۴/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی الوقف النقطع الاول والمنقطع الوسط ط رشيديه.

کوم ځای دمسجدجوړولولپاره بنیادونه ډکول دمسجدکېدولپاره کفایت کوي

سوال : (۲۸۰) سیدفضل رب صاحب دیوې مخکې مالک دی څوکسانوده ته خواست وکړچي څه مخکه دمسجدجوړولولپاره ځینې واخلي اودهغه لپاره ډبرې اونورهم راوغوښت له دې وروسته په دې خبره اختلاف راغی چي کله پرځلوروطرفونوځلورمسجد ونه شته ،ځکه نودمسجدوجوړولوته اړتیانشته بلکي یومکان په دغه مخکه کې جوړ کړئ پرنورومسجدونویې وقف کړئ سیدفضل رب صاحب ته یې وویل هغه جواب ورکړچي ستاخوښه ده که مسجدپکي جوړوئ یامکان پکي جوړوئ ماخودخدای پرنامامه درکړی دی وکوموخلګوته چي نوموړې واک ورکړی ووهغه پنځه کسان ووپه هغوئ کې دزیاترودمسجدجوړول خوښ شو .ځکه دمسجدلپاره یې بنیادونه وکیندل اوهغه یې ډک کړل

په دې صورت کې که دمسجدجوړول په دې ځای کې نامناسب وي نود مسجدجوړولوپر ځای دمسجدونوداړتیاوولپاره مکان جوړکړل شي اوهغه مکان به وقف وي یاد مسجدچي بنیادونه یې ډک کړې دي مسجدجوړکړل شي ؟ شرعًاچي کوم حکم وي په حوله سره یې راته ولیکئ ؟ (۱۳۴۲/۱۱۸۳هج)

ځواب : کله چي زیاتره کسانودمسجدجوړول خوښ کړل اوددې لپاره یې دمسجدبنیادونه وکښندل اوډک یې کړل نودامسجدوګرځیدی ګواکي دغه خلګ دوقف کوونکې له لورې نائبان شول دوقف کوونکې دواک ورکولوسره سم یې دغه مخکه دمسجدکېدولپاره معلومه کړه نوګواکي پخپله وقف کوونکې داکاروکړاودآیت کریمه وان المساجدلله ـ ۱ په حکم کله چي دغه مخکه مسجد وګرځېده نوبیاددې دمسجدوالي له حکم څخه ایستل نه صحیح کیږی په شامی کې راغلې دي وبه علم ان الفتوی علی قول محمدرحمه الله فی آلات المسجدوعلی قول ابی یوسف رحمه الله فی تأبید المسجدالخ ـ ۲ (۳/ ۳۷۱) قال فی البحر: وحاصله ان شرط کونه مسجدااان یکون سفله وعلوه مسجدالینقطع حق العبدعنه لقوله تعالی: وان المساجدلله ـ ۳ (مخ ۳۷۰وفیه ایضا ای الشامی) قال فی النهر

(۱) سورۃ جن آیت: ۱۸

(۲) الشامی (۳/ ۴۰۷) کتاب الوقف، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه

(۳) الشامی (۳/ ۴۰۲) کتاب الوقف، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

واذقد عرفت ان الصلوة فيه اقيمت مقام التسليم علمت انه بالتسليم الى المتولى يكون مسجدا دونها: اى دون الصلوة وهذا هو الاصح ـ (۱) (۳/ ۳۷۰) فقط.

مسجددالله رب العزت ملک وي دباني نه

سوال: (۲۸۱) يوسړی پخپلوروپومسجد جوړول غواړي شرعًا به دغه مسجددده ملک وي که به وقف بلل کيږي؟ اوپردې به دټولومسلمانانوحق برابروي ،که نه؟ (۱۳۴۷/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

خواب: کله چې ده دادالله رب العزت په نامه وقف کړاوپه شرعي توګه يې مسجدورباندي جوړکړنواوس داددە له ملکه ووت صرف دالله رب العزت لپاره وګرځېدی [ان المساجدلله ـ ۲ اواوس دی اونورمسلمانان په دې حق کې ټول برابردي خودتوليت اوانتظام اونوروترڅاوخاص دده سره دی په دې کې ټول برابرنه دي دمسجدباني ددغو حقوقوپه اعتبارمخکې دی.

دمسجدکبيرتعريف

سوال: (۲۸۲) د لوئ مسجد څومره اوږدوالي اوپلنوالي بايدوي؟ څلوېښت ګزه کوم چې په کتابونوکې ليکلی دی نوځلوېښت ګزه مربع وي که څرنګه؟ (۹۴۳/ ۳۳ - ۱۳۳۴هج)

خواب: په لوئ مسجدکې دوه قوله دي چې دشپېتوګزووي يادځلوېښتواوپه هرحال مراد همدادی چې شپېته ياځلوېښت ګزه مربع وي فقط.

سوال: (۲۸۳) په شامی اونوروکې چې دمسجدکبيرپه تعريف کې اربعين ،خمسين ، ياستين ذراع ليکي له دې څخه دکوم طرف ګڼل مراددي اوږدوالی که پلنوالی که دځلورو اړخونوناپول؟ (۱۲۰۰/ ۱۳۴۳هج)

خواب: ان قاضی خان سئل عن ذلک فقال: اختلفوا فيه فقدره بعضهم بستين ذراعًا وبعضهم قال ان: ان كانت اربعين ذراعًا فهی كبيرة والافصغيرة هذا هو المختار ـ ۳ په ظاهردمسجداوږدوالی مراددی يااوږدوالی اوپلنوالی دواړه دومره اندازه وي

---

(۱) ردالمحتار (۴۰۵/۳) كتاب الوقف . مطلب فی احكام المسجد ط رشيديه.

(۲) سورة جن آيت: ۱۸

(۳) الشامی (۴۳۳/۱) كتاب الصلوة . باب بالامامة . مطلب الكافی للحاكم جمع كلام محمد رحمه الله فی كتبه التی هی ظاهر الرواية ط رشيديه

پرمسجدباندي دمسجدحکمونه کله جاري کیږي

سوال : (۲۸۴) دلیکوال په ښارکې له پخواڅخه یومسجددښارپه مینځ کې واقع دی اودمسجدوجنوب ته دیوه سړی کوردی هغه دنوې مسجدپه اراده یوه حوښلی اوځلورد یوالې دمسجدنامکمل تیارکړې دي اوددغه مسجددتعمیردنامکمل اوچت نه درلودوپه وجه په دغه ځلوردبوالی کې له مرداریواونوروڅخه پرهېزنه کیږي اوددواړومسجدونو ترمینځ ددغه سړی کورواقع دی اوداخبره په ثبوت رسېدلې ده چې که جنوب ته نوی مسجدپوره شي نودزاړه مسجدپه جماعت کې په ښکاره بېلوالی راځي بلکي دده په اړتیاووواوخرڅوکې به تاوان واقع شي آیاصرف په بنیادښوولودمسجدوالي حکم ورکول کېدای شي که ترپوره کېدواولمانځه اداکېدووروسته په حکم کې دمسجدګرځي ؟ اوسره دبیان شویونقصانونوونوې مسجدته دضرارمسجدحکم ورکول کیدای شي ،که نه ؟(۲۳۰۱/ ۱۳۳۸هج)

خواب : کله چې باني دامسجدوقف کړاودمسجدحکم یې ورکړودمسجدحکمونه دده لپاره ثابتیږي اونوې مسجدته ضرارمسجدخونشي ویل کېدای خوکه واقعتادزاړه مسجدناآبادېدل له دې څخه راځي اونوی مسجدته اړتیانه وي نوبیادنوې مسجدونژدې جوړلووته اړتیانشته فقط.

دمسجدجوړېدوسره دشرعي مسجدنه کېدویوصورت

سوال : (۲۸۵) یوه سړی په یوهندوزمېنداریونوی مسجدپه دې شرط جوړکړچې که دمسجدومخته دهندوانودخوشحالی په ورځ هندوان دسرناوهلوسره تیرشي نوهغه به نه منع کیږي اوکه په کومه وجه ددې مالیه بنده شي نودغه مسجدبه دمخکې مالک یعنی هندوملک ته بیرته ځي په دې مسجدکې به لمونځ رواوي ،که نه ؟(۲۷۰۸/ ۱۳۴۵هج)

خواب : په دې صورت کې داشرعي مسجدنشوخولمونځ پکي صحیح دی ترڅوچې ددغه هندواجازه دلمانځ پکي وي لمونځ صحیح کیږي اودامسجدنه دی ګرځېدلی اووقف شوی نه دی کمافی الشامی: قوله وشرطه شرط

Maktaba Tul Ishaat.com

سائرالتبرعات الخ افادان الواقف لابدان یکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتاالخ۔۱
اودکافروقف صحیح نه دی.

دمسجدپه څلوردېوالی کې جوړه شوې مسافرخانه هم وقف وي

سوال: (۲۸۶) (الف) دمسجدپه څلوردېوالی کې اودمسجدپه اړه چې کومه مسافرخانه ده هغه هم وقف ده ،که نه؟

(ب) دموجوده مسجدشیان کوم چې دنوې مسجدتراړتیازیات وي دغه پرنوې مسافرخانه یادمسجدپرنوروقف مکانونولګول روادي ،که نه؟ (۵۴۷/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: (الف) دغه مسافرخانه اوددې سامان هم وقف دی فقط.

(ب) فقهاؤلیکلي دي چې دمسجدشیان دناړتیاپه صورت کې دده وجنس یعنی په بل مسجدیې لګولای شي پرنوروا وقافویې نشي لګولای ،ځکه نوپه دې صورت کې دې داسي وکړي چې دمسجدزیاتوب شیان خرڅ کړي هغه قیمت په همدې مسجدکې ولګوي.بیاداسامان رانیسي خواکه رانیوونکی پخپل کورواونوروکې ولګوي اوکه دمسافر خانې اووقف مکانونولپاره یې رانیسي په هغې کې یې ولګوي.

دمسجدجوړولولپاره اتلس ،شل کاله مځکه په کرایه اخستل

سوال: (۲۸۷) یوسړی له کافرڅخه مځکه په کرایه اخلي مسجدورباندي جوړوي اوهغه کافروایې چې داتلسو ،شلوکالولپاره مسجدورباندي پرېږدم له دې وروسته زمااختیار دی چې څه وغواړم هغه به کوم په دغه مځکه کې مسجدجوړول روادی ،که نه؟ (۱۱۷۲/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: په دې صورت کې دامسجدنه ګرځي ،ځکه چې دمسجدکېدولپاره هغه دهمېشه لپاره مسجدوي.

دمسجدتعمیرکه څه باقي پاته شي نوهغه وقف دی ،که نه؟

سوال: (۲۸۸) یوسړی مسجدجوړکړتراوسه څه کارپاته دی نوپه دې کې لمونځ روادی ،که نه؟ جوړوونکی وایې چې کله پوره شي هغه وخت یې وقفوم په دې کې لمونځ روادی ،که نه؟ (۲۳۰۱/ ۱۳۴۰هج)

(۱) الشامی (۳۹۴/۳) ،کتاب الوقف ،شرائط الوقف ط رشیدیه.

خواب: لمونځ په دې کې روا اوصحیح دی اوکله چې مسجد جوړکړنو هغه وقف شو اوو جوړ و ونکې دمالک په حیث قبضه ځینې ختمه شوه اوس دده پکې دمالک په حیث هیڅ حق پاته نه شو فقط.

له حکومت څخه په قیمت یاعاریت اخستې مځکه کې مسجدجوړولوحکم

سوال: (۲۸۹) (الف) یوخاص ځای دبندرګاه (داوبودجهازونوتم کښدوځای) په وجه دحکومت ملک دی اودکومې خاصې وجې په سبب وهیچاته هم دمالک جوړښدوپه حیث هلته ځای نه ورکول کیږي چې کله دحکومت ورته ارتیاشي نوپه دې میاشتې کې دننه به ځای خالي کوي دغه ځای اوس سوکه . سوکه یوښارګوټی ګرځېدلی دی چې له پنځلس زره څخه زیاته آبادي لري خلګوته دپورته کولواند پښنه ختمه شوه ،څکه دوئ هلته په زړه پورې ودانۍ په لکونوروپوجوړه کړې ده دلته خای اومځکه دوقف په توګه نه پیدا کیږي خوددغوودانیوسره لګېدلی ومسلمانانوته یوه ټوټه دمځکې په هم دې شرط ورکول شوې ده چې دوئ ورباندې نژدې شل کلونه کیږي یوه ودانۍ جوړه کړې ده اوپکې پنځه وخته لمونځ اونورکوي ددغه ودانۍ پورته کولواحتمال هغه وخت کښدای شي کله چې دښارټولې په زړه پورې ودانۍ لیري کړل شي په دې صورت کې هغه ودانۍ په کومه کې چې مسلمانان لمونځ کوي په شرع کې مسجدبلل کیږي اوکه نه؟

(ب) دکراچې دښارپه شاوخواکې دمځکوټوټې وخلګوته دودانیواونورودجوړولولپاره په اسنادوورکول شوې دي دیوسندمبعادشل کاله دچادادیرش کاله دچاداپنځوس دچادانه نوی (۹۹) کاله دي دمبعادپرختمېدووښارواليته اختیاردی چې که دغه سندور نوی کوي اومځکه له مالک څخه اخلي په دې شرط دښارټوټومځکوټوټې چې ورباندې مسجدونه جوړشوې دي ومسلمانانوته په اسنادویاپه کرایه ورکولې شوې دي مهرباني وکړئ چې دمخکني سوال (الف) لاندې چې کومه مځکه مسجدته ورکول شوې وه په هغه کې اوپه دغه مځکه کې څه فرق دی؟ (۱۳۴۱/۴۲۲هج)

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب : (الف ، ب) دفقهي په کتابونوشامی اونوروکي داڅرګندونه شته چي دوقف کېدولپاره دوقف کوونکي پوره مالک کېدل ضروري دی نوحقېقي . شرعي اواصطلا حی مسجدهماغه مځکه کېدای شي کومه چي مالک دمځکي دمسجدلپاره وقف کړي اودمالک اووقف کوونکي مسلمان کېدل هم په دې صورت کې شرط دي يعنی دمسجد لپاره کومه مځکه خاص مسلمان وقف کولای شي ددرمختارپه کتاب الوقف کې راغلي دي: وشرطه شرط سائرالتبرعات الخ (په شامی کې ددې قول په شرح کې ليکلي دی افادان الواقف لابدان يکون مالکاله وقت ملکاباتاولوبسبب فاسدالخ۔(۱)له دې عبارت څخه دوې خبرې معلومې شوې يوه داچي دمالک قطعی مالک کېدل دوقف کولوپروخت ضروري دی يعنی دنامالک وقف کول نه صحيح کيږي دوهمه داچي که په فاسده شراء (رانيولو) سره څوک دکومې مځکې مالک شواوهغه له قبضې کولووروسته هغه وقف کړه نووقف صحيح کيږي نوکومې مځکې چي مسلمانانوله حکومت څخه رانيولې که څه هم حکومت په کوم خاص وخت په درېيومياشتوکې دننه دخالي کولوشرط لګولی وي ،ځکه چي داشرط که څه هم بيع فاسدوونکی دی خوپه وقف کېدوکې منع کوونکی اوخنډنه دی نوپرداسي مځکه چي کوم مسجد جوړکړل شي اوهغه وقف کړل شي نووقف صحيح کيږي اوحقيقي مسجد ګرځي.

اوهغه مځکې چي پکي درانيولوخرڅولومعامله نه ده شوې اوهغه صرف په عاريت ومسلمانانوته دمکانونواونوروجوړولوپه غرض ورکول شوی دی دهغوئ وقفول نه صحيح کيږي اوکه په داسي مځکه که مسجد جوړکړل شي نوکه څه هم په دې کې لمونځ صحيح دی اماداشرعي مسجدنه ګرځي اودمسجدحکمونه اواداب له ده سره تړون نه موندي لکه چي يوسړی پخپل کورکې يوچوتره دلمانځه لپاره جوړه کړي لکه چي په حديثوکې ددې امردی نولمونځ په دې کې صحيح کيږي خوداشرعي مسجدنه وي اوکومه مځکه چي حکومت ومسلمانانوته هبه کړې اوبېله قېمت اخستلويې وروربخښی که څه هم دبيرته اخستلوشرط پکي ولګوي نودغه مځکه يادډې کومه برخه هم مسلمانان وقفولای شي اوپه دې کې مسجد جوړولای شي اوهغه په شرعي اووقف مسجدوي ،ځکه چي هبه په فاسدوشرط لګولوسره نه فاسديږي اودموهوب له (چاته چي بخښه شوې وي) په ملک کې تاوان نه راځي اوکله چي موهوب له.

---

(۱) الشامی (۳/۳۹۴) کتاب الوقف شرائط الوقف ط رشيديه.

دوربخښل شوې شی مالک شونووقفول دده هم صحیح کیږي اوهغه شرعي مسجد ګرځي لکه چې په درمختارکې راغلې دي: والهبة لاتبطل بالشروط الخ۔(۱) نولنډیزاوحاصل دجواب دادی چې کومه مځکه له حکومت څخه په بیع واخستله شوه یاحکومت دهبې په توګه ورکړه که څه هم په دې کې دبېرته اخستلوشرط ولګاوی نوداسي مځکه رانیوونکی اوموهوب له وقفولای شي اوکه په دې کې مسجدجوړکړي نوهغه شرعي حقیقي مسجدګرځي اوکومه مځکه چې صرف په عاریت حکومت ورکړې وي هغه په عاریت اخستوونکې نشي وقفولای نوهمدغه کلیه قاعده مخته کښیږدئ دخپلوپوښتنوپه جوابونوځان پوه کړئ اوپه کوم قسم کې چې هغه مځکه داخله وي دهغه سره سم پکې حکم جاري کړئ فقط.

کوم مکان مسجدته په دې شرط وقفول چې فلاني سړی به پخپلوروپیومسجدجوړوي

سوال: (۲۹۰) زیدخپل مکان دمسجدتعمیرولوپه غرض په دې شرط وقف کړچې پردغه مکان خالدپخپلوروپیومسجدجوړکړی اودې پردووبېلابېلوبرخودکانونه جوړکړي چې په هغه کې یودوکان په کرایه ورکول شي اودهغه کرایه پرمسجدصرفیږي اوپه دوهم دوکان کې زیدپخپله ترمرګه آبادوي اوله ده وروسته دې دده ودووزامنوکرم الهی اواحسان الهی ته دمیاشتې په څلورسوه ورکول شي اوکرایه دې پرمسجدصرفیږي خوددوئ له دوکان څخه دلبري کولواختیاربه هیچاته نه وي اوکه خالدپردغه مکان پخپلوروپومسجدتعمیرنه کړنودوقف پاڼه به داسي وي لکه نه چې وي اوزه به پخپله دخپل مکان مالک یم دارازدغه دوقف پاڼه دناروغۍ په حالت کې لیکل شوې ده اوله دې مکان پرته نورهیڅ مال هم نشته بینواتوجروا(۱۳۴۱/۴۷۳هج)

خواب: ووقف ته که په کوم نامناسب شرط سره ترون ورکول شي نووقف نه صحیح کیږي [وان یکون منجزاغیرمعلق۔۲ (عالمګیري) نوپه پوښتل شوې صورت کې که زیدمکان مسجدته په دې شرط وقف کړی دی چې خالدپخپلوروپوورباندې مسجدجوړکړي کنې زیدخپل مکان بېرته اخلي اودوقف پاڼه په نیستي بلل کیږي نوداوقف صحیح نه شودارازدغه مکان یوه برخه یعنی پرکومه چې دی دوکان تعمیرکړل شي دخپلې استوګنې لپاره بېله کرایې خاصول دمسجددوقف خلاف دی اوکله چې هغه برخه مشاع(مشترک) ده ،څکه دټول مکان وقف دمسجدلپاره

(۱) وحکمهاانهالاتبطل بالشروط الفاسدة (الدرمع الشامی (۴/ ۵۲۷) فی بدایة کتاب الهبة ط رشیدیه (۲) الفتاوی العالمغیریة ۲/ ۳۵۵ کتاب الوقف شرائط الوقف.

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیح نشو ،ځکه چې مشاع کېدل دمسجد وقف په خلاف وي واتفقاعلی عدم جعل المشاع مسجدااومقبرة مطلقاسواء کان ممالایحتمل القسمة اویحتملها هکذافی فتح القدیر۔۱ (عالمگیری) اوداچې دناروغ نفلي تصرفات په درېیمه کې جاری کیږي نوکله چې زیدناجوړه وونوپرمسجدباندي وقف په درېیمه کې جاری کیږي اوپه درېیمه کې له جاري کېدووروسته دمشاع وقف لازمیږي نودټول وقف باطل شو[مریض جعل داره مسجداومات ولم یخرج من الثلث ولم تجزالورثة صارکله میراثاوبطل جعله مسجدالان للورثة فیه حقافلم یکن مفرزاعن حقوق العبادفقدجعل المسجدجزءً شائعا فیبطل الخ (۲) (عالمگیري) په هرحال په پوښتل شوې صورت کې وقف صحیح نه شواومکان دزید په ملک کې باقي پاته دی فقط.

دکمپنۍ سره دوعدې په شرط مسجدجوړول

سوال: (۲۹۱) په لاندي صورت کې دمسجد جوړولوشرعًا څه حکم دی ؟
دمځکې شرطونه کومه چې دمسجد جوړولولپاره ورکول کیږي (لاندي دي)
(الف) داپربل په لومړۍ نېټه به دکاله یوه روپۍ اداکوي.
(ب)پردغه مځکه به مسجداونوردمسجداړتیامکانونه جوړوي نورځایونه به نه جوړوي
(ج) دکمپنۍ له نقشې منظورولوپرته به تعمیرنه شروع کوي.
(د) دمسجداونوروودانیوبه ځارنه کوي.
(هه) دکمپنۍ له اجازې پرته دمځکې برخه یاوداني وچاته نشي ورکولای.
(و) له نقشې پرته کومه بله نوې ودانی دکمپنۍ له اجازې پرته نشي جوړولای.
(ز) کله که وکمپنۍ ته سخته اړتیاشي نوله مسجدپرته نورې ټولې ودانۍ به ترخبرتیا شپږمیاشتې وروسته کمپنۍ په قبضه کې اخلي نه پرمسجدباندي قبضه اوپرکومونور ودانیوچې قبضه وکړي دهغه وخت دبازارله بیعې سره به کمپنۍ قیمت اداکوي.
(ح) که کله وکمپنۍ ته دامعلومه شي چې ومسجداونوروودانیوته دمسلمانانواړتیانشته هغه وخت به پرټوله ودانیواودغه رنګه پرمسجدباندی بېله عوضه کمپنۍ قبضه کوي (۲۱۳۶/ ۱۳۴۳هج)

---

(۱) الفتاوی العالمگیریة ۲/ ۳۶۵ کتاب الوقف ، فصل فی وقف المشاع.
(۲) الفتاوی العالمگیریه ۲/ ۴۵۲ کتاب الوقف الباب الحادی عشرفی المسجد وما یتعلق به.

ځواب : په کمپنیو کې زیاتره په همدغو شرطونو یادې ته ورته په نورو شرطونو سره مسجدونه جوړیږي ،ځکه نوکله چې دمسلمانانو مسجدته اړتیاشته اوبېله دغو شرطونو دمسجدونوجوړولو اجازه نه کیږي نومسجددې جوړکړل شي او مسلمانانوته پکاردي چې داسې صورت نشي پېښ چې مسجدته اړتیاپاته نشي چې له امله یې حکومت یاکمپنۍ وربانډی قبضه وکړي بلکه دغه مسجدهمېشه آبادساتل پکاردی ترڅودشرط شمېره (ح) نوبت هم رانشي فقط.

په کومه مځکه کې چې دکښتکرحق وي مالک هغه دمسجدلپاره وقفولای شي

سوال : (۲۹۲) په بنګال کې یوپه بل پسې دمځکې ملکیت درې ډوله دی: لومړی شاهی ملکیت کوم چې دانګریزانوحکومت ته حاصل دی دوهم زمینداري کوم چې دشاهي ملکیت ترڅارنې لاندی دی دغه خلک له کاله یوه معلومه اندازه دحکومت په خزانه کې جمع کوي په دې صورت کې دزمیندارانوپوره تصرف مثلا رانیول ، خرڅول ، هبه اونور جاري دي درېیم دکښت یاعاموهیوادوالوملکیت اوداتر زمینداری ملکیت لاندي قائم وي دوئ ته رعایاوایې اوس پوښتنه داده چیدغه رعیتي یاعامي ملکیت وال که پخپله مځکه کې مسجدجوړکړي بیایې وقف هم کړي نودغه مسجدبه دشرعي مسجدپه حکم وي ،که نه ؟(۱۵۰۲/۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب : دکومې مځکې دوقف دجائزکېدولپاره داشرط دی چیدمځکې مالک داوقف کړي لکه چې دردالمحتارپه دربیم ټوک کتاب الوقف کې راغلې دي: قوله وشرطه شرط سائرالتبرعات افادان الواقف لابدان یکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتا-۱ نوپه یادشوې صورت کې دمځکې مالک زمینداردی کښت کړیارعایانه دی که څه هم دحکومت په قانون کې هغه موروثي کرڅېدلی وي چیله زمیندارڅخه خپله مځکه نشي راخلاصولای خودخرڅولو ،هبې اونوروهرډول تصرفاتواختیارده ته حاصل دی نوکه اصل مالک یعنی زمیندارکومه مځکه دمسجدلپاره وقف کړي اومسجدجوړکړي نوصحیح دی اوهغه مسجدګرځي دارازکه کښګردمالک په اجازه وقف کړي اومسجدوربانډي جوړکړي نوداهم صحیح دی خودمالک له اجازې پرته ورعایانه دوقف کولواومسجدجوړولواختیارنشته.

(۱) الشامی (۳۹۴/۳) کتاب الوقف ، شرائط الوقف طرشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دعاریت په مځکه کې دجوړکړې مسجدحکم

سوال : (۲۹۳) یوهندوزمینداروسلمانانوته یوه ټوټه مځکه مفته ورکړه مسلمانانوپرد غه مځکه مسجداوعیدګاه جوړکړل اندازاشل کاله لمونځونه پر کېدل په دې مهال یومسلمان له زمیندارځخه دغه ځای رانیوی اودمسجدماتول اووربانديي کورجوړول غواړي دارواوی .که نه ؟(۱۳۳۳/۳۳۴هج)

ځواب : که دغه هندودمځکې دغه ټوټه ومسلمانانوته په عاریت صرف داستوګنې لپاره ورکړې وه اومسلمانانوپه ځینی ځای کې دلمانځه لپاره مسجداوعیدګاه قائم کړل نوپه دې صورت کې دغه ټوټه دمځکې دزمینداردې شرعي مسجدنه دی ګرزیدلی دنورومسلما نانولپاره له زمیندارځخه ددغې مځکې رانیول اوورپکي کورجوړول صحیح دي اوکه هغه زمیندارمسلمانان ددې ټوټې دمځکې مالکان جوړکړې وي نوداځای مسجداوعیدګاه شودنورومسلمانانولپاره ددې رانیول اوورپکي کورجوړول صحیح نه دي لقوله تعالی [وان المساجد لله الآیة ـ(۱) .
نوپه دوهم صورت کې نړوونکی ددغه مسجداوورپکي کورجوړوونکی ګنهګاردي اوترڅوچې دی توبه ونه کاږي ورسره اړیکي ساتل روانه دي فقط .

داوږدې مودې لپاره په کرایه اخستې مځکه کې دمسجدجوړولوحکم

سوال : (۲۹۴) یوناآباده ځای دی مسلمانان ډیردي ځومره آبادي چې ده هغه صرف دیوې کارخانې په وجه ده داډیره غټه کارخانه ده څلوېښت زره کسان پکې کارکوي ، کمپنۍ له زمینداارځخه دیوې معلومې مودې لپاره مځکه اخستې ده مسلمانان دمسجدلپاره مځکه غواړي نوازاده اوبې مالیې مځکه نه موندل کیږي چې ټوله مالیه یوځل واخلي له مالیې څخه خلاصه کړي بلکه هغه دمعلومې مودې لپاره مځکه ورکوي اوکال پرکال مالیه غواړي اوکله چې کمپنۍ ودغې مځکې ته اړه شي ومسلمانانوته دتعمیرروپۍ ورکوي دوئ له هغه ځایه لیرې کوي اودمسجدمځکه چې په کوم مصرف کې وغواړي صرفوي بې پرداسي مځکه مسجدجوړېدلای شي ،که نه ؟(۱۳۴۳/۱۷۵۵هج)

(۱) سورة جن آیت: ۱۸.

خواب : مسجد جوړول پکاردي دغه شرعي مسجد ګرځي فقهاؤ په داسي مځکه کې د مسجد جوړولو اجازه کړې ده اوکله چې خلګ ویردي اومسجدته اړتیاشته ،ځکه بیله فکره هلته مسجد جوړول پکاردي (۱)

سوال : (۲۹۵) (الف) زیداوبکرپه داسي ملک کې دي چیري چې دمسجدلپاره وقف مځکه موندل مشکل دي ،ځکه له حکومت څخه دنه نوي (۹۹) کلونولپاره له کاله په پنځه روپۍ مځکه واخسته مسجدیې پرجوړکړپرداسي مځکه مسجدجوړول روادي ،که نه ؟

(ب) په دې مسجدکې په لمونځ کولودمسجدثواب حاصلیږی ،که نه ؟ (۱۴۲۹/ ۱۳۴۵هج)

خواب : (الف) مسنجدجوړول پردغه مځکه صحیح دی.

(ب) دغه مسجدشرعي مسجدشوپه دې کې په لمونځ کولودمسجدثواب حاصلیږي.

پردوکان سرپېره دوقف کړې مسجدحکم

سوال : (۲۹۶) زیددیوغټ دوکان پرسریومسجدجوړکړوقف یې کړدغه وقف شوې ودانۍ په خاص وقف کې شاملده که په عاموا وقافوکې ؟ (۳۴۸/۱۳۴۵هج)

خواب : دغه دوکان به دهمدغه مسجدله اوقافوڅخه وي بلکي داهم مسجددی ،ځکه چې مسجدله ثری څخه ترعرشه پوري مسجدوي ـ ۲ (درمختاراوشامی) فقط.

---

(۱) وفی الهدایة وعن ابی یوسف رحمه الله انه جوزفی الوجهین (فیماتحته سرداب اوفوقه بیت) حین قدم بغدادورأی ضیق المنازل فکانه اعتبرالضرورة وعن محمدرحمه الله انه حین دخل الریّ اجازذلک کله لماقلنا (هدایه ۱/ ۲۴۴- ۲۴۵کتاب الوقف)

(۲) قال فی الدرالمختار: لانه مسجدالی عنان السماء، وفی الشامی وکذاالی تحت الثری (الدرمع الرد(۱/ ۴۸۵)کتاب الصلوة، مطلب فی احکام المسجدط رشیدیه)

Maktaba Tul Ishaat.com

غصب کړې مځکه وقفول اومسجد پر جوړول

سوال: (۲۹۷) یوسړی دبل چاپرمځکه له څوکلونوراهیسي قبضه کړې ده اوس ځاه اوکوربې جوړکړې دې اوقبضه دده دقانون له مخې نشي ماتېدای آیادغه مځکه نوموړی قبضه کوونی وقف کولای اومسجدورباندې جوړولای شي ،که نه؟ (۲۰۴ ۱۳۳۷هج)

خواب: دغه مځکه نوموړی قبضه کوونکی نشي وقفولای اووقفول اومسجد جوړول دده صحیح نه دي کماقال فی الدرالمختاروردالمحتار: وشرطه شرط سائرالتبرعات الخ قوله: وشرطه شرط سائرالتبراعات افادان الواقف لابدان یکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتا الخ (شامی) وفیه ایضا حتی لووقف الغاصب المغصوب لم یصح وان ملکه بعدبشراء اوصلح الخ۔(۱) (شامی)

دمسجدمځکه غصبول

سوال: (۲۹۸) دجزپره والي نواب ابراهیم خان صاحب دربیع الاخر (دوهمې خور) په یوولسمه کال ۱۲۴۹ه په سمون د ۱۸۴۸ء د ۹۲ شمېره په سند څوتوتې مځکه دبانک پاتیان په نوم دناطق سند په توګه دمسجد نیګرۍ لپاره وقف کړه ترڅوددې په آمدني سره دمسجددجاروروهلوډبوې ،رنا ، لمانځه اونوروانتظام وشي ،ځکه نودغه مځکه دمسجدمولویانوترڅارنې لاندې وه اوددې آمدني دمسجدوخدمت کوونکومولویانوته ورکول کېده یعنی دغه مځکه لومړی دمولوی محمد جعفرمقدم دده له وفات وروسته دده دزوئ ملا بهاؤالدین مقدم اودده له وفات وروسته دده زوئ ملا محمد جعفرمقدم په څارنه کې وه دغودریوسره یوپه بل پسې دخپل مامور والي مزدوري له دغې آمدنی څخه وریجې اونوراخسته اوپرواونوربه یې مسجدته ورکول کله چې ملا محمدجعفر د مسجدله مامورووالی څخه استعفی ورکړه نودمسلمانانوډلې شیخ سلیمان له بمبی څخه راوغوښتی د نواب ابرهیم خان صاحب په اجازه یې دمسجددخدمت کاروده ته وسپاری لنډیزدسوال دادی چې شیخ سلیمان

(۱) الشامی (۳/ ۳۹۴) شرائط الوقف ط رشیدیه ومن شرائطه الملک وقت الوقف حتی لوغصب ارضا ثم وقفهاثم ملکهالایکون وقفا (مجمع الانهر ۲/ ۵۲۷ فی بدایة کتاب الوقف دارالکتب العلمیة بیروت).

دحکامو مخته دواقع په خلاف حالات وړاندي کړل اونارواکوشش يې وکړدغه مخکه يې ببله قيمته دخپل زوئ شيخ محمودپه نامه دمالک په حيث راواړوله اوس پوښتنه داده چې (الف) دشيخ محمود دغه وقف مخکه دخپل مطلب سره سم عارضه کول اووقف مخکه پخپل نامه اړول اوپه نارواد مسجد مخکه غصبول اومسجد ته نقصان رسول رواا و ددا سي ناوړه کارکوونکې په هکله شرعًا څه حکم دی؟

(ب) دنيګرې مسلمانان ددا سي غصبوونکې چې ترڅوغصب کړې مخکه دمسجد پرنامه ببرته وانه ړوي ترهغوله خپلې ډلې څخه دايستلوحق لري، که نه؟

(ج) آياوقف کوونکی ياکوم بل شخص وقف کړی جائداد دکوم بل چاپه نامه انتقالولای شي، که نه؟ که يې نشي کولای نودچاپه نامه چې دغه وقف مخکه په نارواانتقال شوې ده اوهغه ددغې مخکې آمدني پخپله کاروي دغه ټوله آمدني ببرته ومسجد ته ورکول کېدای شي، که نه؟ (۱۱۹۴/۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: فاذاتم لزم لايملک ولايملک ولايعارولايرهن (درمختار) قوله لايملک ای لايکون مملوکالصاحبه ولايملک ای لايقبل التمليک لغيره بالبيع ونحوه لاستحالة تمليک الخارج عن ملکه الخ ولايعارولايرهن لاقتضائهما الملک الخ- (۱) (الشامی) له دې څخه معلوم شوچې وقف شی دچاملک نشي پاتېدای نه دوقف کوونکې اونه دغيرله ده څخه اوپخپله وقف کوونکی هم ددې مالک نشوپاته اونه دی بل څوک مالک جوړولای شي اودمالک په حيث په دې کې ټول تصرفات باطل دي نودپوښتنې جوابونه په لاندي ډول داسي دي (الف) دشيخ محمود دغه وقف کړې مخکه ګومه چيديوه مسجد دارتيالپاره وقف ده پخپل نامه رااړول اووربانديې قبضه کول نارواا وحرام اودغصب قبضه ده اوځرګند خيانت دی اوکله چې دی ددغه مسجد خدمت نه کوي نودده لپاره ددغه وقف شوې مخکه آمدني اخستل اوپخپل استعمال کې راوستل قطعانارواا وحرام دي اوببرته ورکول پرده لازم دي اوشيخ محمودپه دغه يادشوې حالت کې غصب کوونکی اوظالم دی اوله دغه وقف شوې مخکې څخه ددې قبضه ليرې کول ضروري اولازمي دي.

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف: بعد مطلب مهم فرق ابويوسف رحمه الله بين قوله موقوفة ط رشيديه

Maktaba Tul Ishaat. com

(ب)دمسلمانانوڅله دداسي غصبوونکي ترڅوچي دی پخپله دمالک په حیث قبضه له دې مځکې څخه لیري نکړي اوخپل نوم له دغه ملکیت څخه لیري نکړي له خپلې ډلې څخه دجلا کولواوله کورنی څخه دشړلوحق لري.

(ج) وقف کوونکی یاکوم بل سړی نه پخپله دوقف کړې جائدادمالک دی اونه یې دچاپرنامه انتقالولای شي اوکوم سړی چې ددغې مځکې آمدني پخپل کارکې لګوي هغه ټوله آمدني له ده څخه بېرته واخلئ ومسجدته یې ورکړئ کمامراولافقط

په غصب کړې مځکه اوهدېره کې دمسجددتعمیراولمانځه حکم

سوال : (۲۹۹) دوه کسان په چنده سره یوداسي ځای مسجد جوړوي چې هغه ځای دده ملک نه دی صرف څوکسان په غصب وربانديي قبضه کوونکې دي له هغوئ څخه هم دځینواجازه نشته اوددې په بنیادونوکې سرونه اوهډوکي راوځي اومشران هم داوایي چیدلته ډیرمخکې هدیره وه اودکوموچي دغصب په توګه وربانديي قبضه ده له هغوئ څخه دزیاترودمسجداجازه نشته نوکه دغه خلګ اجازه وکړي نودغصب یاهدېرې په وجه پکې لمونځ روادی ،که نه ؟ اوکه نارواوی نودغصب په وجه نارواوی که دهدېره کېدوپه وجه ؟ (۸/ ۴۴ - ۱۳۴۵هج)

خواب : په درمختاراوشامی کې راغلې دي : چې په زړه هدیره کې مکان اومسجد جوړول صحیح دي اوکښت اونورهم په دې شرط چې هغه مځکه وقف نه وي اودکوم بل چاملک نه وي اودغصب په مځکه کې لمونځ مکروه دی اوهغه مسجدنه ګرځي نوکه ټول مالکان اوونډه لروونکې اجازه وکړي نوهغه مسجد ګرځي اودکراهت علت پورته کیږي فقط.

داجاړې په مځکه کې دمسجدجوړولوحکم

سوال : (۳۰۰) دمالک له اجازې پرته داجاړې په مځکه کې مسجد جوړول اوپکې لمونځ کول روادي ،که نه ؟ (۹۸۰/ ۱۳۳۹هج)

خواب : کومه مځکه چې یې په اجاره اخستې ده اودبل چاملک ده دهغې وقفول صحیح نه دي اولمونځ صحیح دی مګردامسجد نه دی فقط.

دهمېشه لپاره په کرایه اخستې مځکه وقفول اوورباندې مسجدجوړول

سوال : (۳۰۱) زیدله کاله دمالیې ورکولوپراساس له یوکافرڅخه مځکه دهمېشه لپاره واخسته اودایې لیکلې ځینې واخستل چې په دغه مځکې کې مسجد ، څاه اوکورجوړو لای شي اوکوم ډول تصرف چې وغواړېبله عذره یې کولای شي دمځکې ومالک ته به صرف مالیه ورکوي اوس زیداراده لري چې په دغه مځکه کې یومسجد جوړکړي اووقف یې کړی اودمځکې ومالک ته مالیه ورکوي آیاپه داسې مځکه کې زید مسجد جوړولای شي ؟ (۱۳۳۷/۸۱۳۳هج)

خواب : داسې مځکه نشي وقفېدای اومسجد نشي کېدای-۱.

دیوه مکان په اړه دوې لیکل شوي دوقف په پاڼوکې ددوهمې اعتبارنشته

سوال : (۳۰۲) زیددوفات پرمهال دوقف په یوه پاڼه کې دخپل کوراوټول سامان وقف دمسجداومسجددمتولي لپاره وکړاوپه بله دوقف په پاڼه کې یې دبکرپه نامه جائداد وقف کړدده له وفات وروسته دواړې دوصیت پاڼې مخته راغلې اوترفیصلې کېدوپوري دکورسامان نېلام کړروپی یې وامانتدارته وسپارلې خوبکرددې خبرې اقرارکوي چې دمتولي دټول جائدادروپی دي پرمسجدصرفې شي خواه که هرمسجدوي مکان خام ووکوم چې اوس نړېدلی دی که مکان موجودوي نودهغه دترمیم اونوروخرڅ به له آمدني څخه ډیرزیات وای اوومسجدته دتعمېرلپاره دروپیواړتیاده اوددغې مځکې ډیرښه قیمت راتلای شي آیادغه مځکه خرڅولای شي ،که نه ؟ (۱۰۸۳/۱۳۴۳هج)

(۱) څکه چې دوقف لپاره دتام ملکیت کېدل ضروري دي په شامی کې راغلې دي: لابدان یکون مالکاله وقت الوقف ملکاباتاالخ(۳۹۴/۳) شرائط الوقف طرشیدیه).

Maktaba Tul Ishaat. com

ځواب : وقف کوونکي چي کله مخکي دغه مکان دیوه مسجدلپاره وقف کړاودمسجد دمتولي په تولیت کي يې ورولیکی نومکان سره له یادشوي سامان وقف شواوددې له وقفېدووروسته دوهمه دوقف پاڼه چي کله دهمدې مکان په اړه دبکرپه نامه يې وليکله داصحيح نه شوه .ځکه چي له وقف کولووروسته ووقف کوونکي ته هم په دې کې دتصرف کولواختيارپاتي نشووالوقف لايملک ولايملک ـ(۱) په حکم اوددغه پرمسجد وقف شوې مکان دیادشوې غرض لپاره خرڅول جائزنه دي .ځکه چي فقهاؤددې هم اجازه نه ده ورکړې چي که دوقف کړې مکان آمدني لرده نوپه بل مکان زیاته امدني درلودوو نکې دي دابدل شي چيري چي دغه وقف کړی مکان خرڅ کړي ددې قېمت دمسجدپه اړه دوکان اومکان په تعميرکې ولګوئ داپه هيڅ ډول روانه دی کمافی الشامی وفی فتح القديروالحاصل ان الاستبدال اماعن شرط الاستبدال اولاعن شرطه فان کان لخروج الوقف عن انتفاع الموقوف عليهم فينبغی ان لايختلف فيه وان کان لالذلک بل اتفق انه امکن ان يؤخذبثمنه ماهوخيرمنه مع کونه منتفعابه فينبغی ان لايجوزالخ ـ۲ خوکله چي دغه مکان نړبدلی دی اودجوړېدوکوم صورت يې نشي کېدای نوداخرڅ کړئ دده پرځای بله مخکه يامکان واخلئ ودغه مسجدته يې وقف کړئ دهغه قېمت په دغه تعمېرکې ولګوئ فقط.

که په غلطی سره دحکومتي نالی ځای دمسجدپه غولې کې راشي نوڅه حکم دی ؟

سوال : (۳۰۳) (الف) دمسجدپه غولې کې چي کوم ځای دحکومتي نالی ورشامل کړل شوچي وحکومت ته يې ماليه ورکوودغه ځای شرعی مسجددی ،که نه ؟

(ب) دمسجدکوم شی دکورپه کارکې استعمالول روادي ،که نه ؟ (۲۰۹۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : (الف) ددې حکم هم دمسجدشواودغه ځای شرعًا په مسجدکې داخل شوپردې ټول حکمونه دمسجدجاري کيږي.

(ب) داروانه دی فقط.

---

(۱) الدرمع الر(۴۰۲/۳) کتاب الوقف ط رشيديه.

(۲) الشامی (۴۲۷/۳) کتاب الوقف مطلب لايستبدل العامرالافی اربع ط رشيديه.

حکومتي سړک په مسجد کې ورګډول څه حکم لري ؟

سوال : (۳۰۴) له حکومتي سړک څخه څه مځکه ومسجد ته ورشامله کړه داشرعًا روادی ،که نه ؟(۳۴۷/ ۱۳۴۵هج)

خواب : فقهاؤداڅرګندونه کړې ده چې که په مسجد کې ورته اړتیاوي نوله لارې څخه څه مځکه په مسجد کې ورداخلول روادي کله چې لارنه تنګیږي نوپه همدې وجه دجوازصورت داړتیاپروخت کېدای شي نوکومه مځکه چې ومسجد ته ورګډه کړله شوه هغه داخله پرپردئ فقط.

پرمسجد که انګریز حکومت قبضه وکړي نوڅه حکم دی ؟

سوال : (۳۰۵)یومسجد انګریزي حکومت پخپله قبضه کې واخست خوندي مکان یې ځینې جوړکړپه دې مسجد کې لمونځ روادی ،که نه ؟(۱۷۲۴/ ۱۳۴۵ه ج)

خواب : کوم چې یوځل مسجد شوهغه همېشه دمسجد په حکم وي دچاقبضه یاغلبه دده مسجد والی نشي باطلولای نوپه مسئوله صورت کې پرمسجد دانګریزانوملک نشي ثابتیدای دااوس هم مسجددی پردې هغه ټول حکمونه جاري کیږي کوم چې پرمسجدوي

دمسجدپه نامه درانیولې مځکې په مینځ کې که کوڅه وي نوڅه حکم دی ؟

سوال : (۳۰۶) (الف) دمسجدلپاره چې کومه مځکه رانیوله شي که دهغې په مینځ کې یوه کوڅه وي نوهغه په مسجد کې ورګډه کړله شي ،که نه ؟

(ب)که ددې ورګډولواجازه واخستله شي نوله چاڅخه ؟(۹۲۲/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب : (الف ترب) که دغه کوڅه ددغه مسجداومکان والاده چې کوم مکان دمسجد لپاره رانیول شوی دی نوداپه مسجد کې ورګډول روادی خوپه دې وبړه چې دښاروالی له لورې کومه دعوی ونشي بایدله ښاروالی څخه اجازه واخسته شي فقط والله تعالی اعلم

Maktaba Tul Ishaat.com

دکورپه غولې کې دلمانځه لپاره دخاصې چوترې (دکانچې) حکم

سوال : (۳۰۷) یوه چوتره دکورپه انګړکې دلمانځ لپاره ځانګړې شوې وه چې له ډیرې مودې پکې لمونځ په جماعت سره کېدی اودمسجدلفظ به هم ددې لپاره کاریدی اوس ددې څارنه اوخیراخیستنه نه کیږي ،نه څوک لمونځ پرې کوي آیاچې داونړووپه کورکې یې شاملول روادي ؟ (۱۳۴۱/۱۱۴هج)

خواب : کله چې بانې اومالک دمکان ددې لپاره دمسجدلفظ کارولی دی اولمونځ په جماعت اوبېله جماعته پرکېدی نودمفتی به قول سره سم دامسجدشواوس ددې په کورکې ورګډول اودمسجد حکم له دې څخه لیری کول صحیح نه دي.

دکورپه کونج کې دجوړکړې مسجدشرعي حکم

سوال : (۳۰۸) کوم مسجدچې یوسړی دخپل کورپه کونج کې جوړکړی دی اوګواکې پرعام سړک ددې مسجدکومه خاص دروازه نشته خوبیاهم دکورغټه دروازه دلمونځونوپروختونوخلاصیږي نوآیادامسجدشرعًا دمسجدحکم لري که دمصلی ؟ (۱۳۳۷/۲۰۹۰هج)

خواب : قال فی ردالمحتار: ففی النهرعن القنیة جعل وسط داره مسجدا واذن للناس بالدخول والصلوة فیه ان شرط معه الطریق صارمسجدافی قولهم جمیعا والا فلاعندابی حنیفة رحمه الله وقالا : یصیرمسجد ویصیرالطریق من حقه من غیرشرط الخ وفیه ایضا وعلمت ارجحیته (ای قول ابی یوسف رحمه الله)فی الوقف والقضاء -(۱) نومعلوم شوچې دغه مسجددمفتی به قول سره سم شرعي مسجددی فقط.

دکورپه کومه چوتره چې دکورانسانانولمونځ کوي هغه شرعي مسجدنه دی

سوال : (۳۰۹) دیوه سړی دابیان دی چې ده داستوګنې په کورکې دننه یوه خاصه چوتره جوړه کړې وه اوپرهغه دکورانسانانولمونځ کاووآیادغه چوتره مسجدبلل کیږي ،که نه ؟ (۱۳۴۱/۱۰۰۰هج)

---

(۱) الشامی (۴۰۵/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

ځواب : که يې داوقف کړې نه ده اوباقاعده مسجديې نه دی جوړکړی نودامسجد نه دی.

دسړپړه منزل (پوړ) په مسجدجوړولولاندي پوړهم مسجدګرځي

سوال : (۳۱۰) زیددچادرودوه پوړیزه مکان جوړکړپه پورته منزل کې يې دمسجدحکمونه جاري کړل په عامه اجازه پکې لمونځونه شروع شول اوپه لاندي منزل کې ددنیاکاروبار کوي دغه مسجدشرعي مسجددی ،که نه ؟ (۲۹۴۵/ ۱۳۴۲هج)

ځواب : کوم چې مسجدشي هغه له پورته څخه ترلاندي پورې مسجدګرځي په درمختار کې راغلې دي: وکره تحریماالوطی فوقه الخ لانه مسجدالی عنان السماء الخ وکذاالی تحت الثری..... بقی لوجعل الواقف تحته بیتاللخلاء هل یجوزکمافی مسجد محلة الشحم فی دمشق ؟ لم اره صریحانعم سیأتی متنافی کتاب الوقف انه لوجعل تحته سردابا لمصالحه جازتأمل۔(۱)(شامی لومړی ټوک) فقط.

په کورکې يې مسجدجوړکړامالاره يې ورجلانګړه

سوال : (۳۱۱) (الف) ببله لارجلا کولودمسجدپه جوړولوکې چې دامام صاحب اوصاحبینو(امام ابویوسف اوامام محمدرحمهماالله) کوم اختلاف دی په هغه کې که څه هم ددرمختاردمصنف رحمه الله په وینافتوی دامام ابویوسف رحمه الله پرقول ده خود پوښتنې ورخبره داده چې که دکوم خاص ضرورت په وجه کله دامام صاحب قول عملي کړل شي نوځرنګه به وي ؟

(ب) له جعل وسط داره مسجداً څخه څه مراددی ؟(۱۷۴۲/ ۱۳۴۰هج)

ځواب : (الف) په دې صورت کې مفتی به ، زیات صحیح اواوجه قول دامام ابویوسف رحمه الله دی ،ځکه نودمفتی لپاره له دې څخه مخ اړونه صحیح نه ده کمافی الشامی: لکن فی الفتح ان قول ابی یوسف رحمه الله اوجه عند المحققین الخ ۔۲ دارازڅوځایه ددې ځرګندونه راغلې ده نوددې په خلاف فتوی ورکول نه ده پکار.

---

(۱) الدرو الشامی(۱/۴۸۵) کتاب الصلوة ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۲) الشامی(۳/۴۰۱) کتاب الوقف ، مطلب مهم فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

ی) اوله وسط داره څخه مراددادی چي یوسړی پخپل کورکې دننه مسجد
ړکړي یایې دکورکومه برخه مسجدوګرځاوی اووقف یې کړه نوهغه مسجد
ځي اولاره ددې پخپله لازمیږي فقط.

پخپل مینځ کې په خوښه په مشترکه مځکه کې مسجد

جوړول وروسته له هغه څخه رجوع کول اودملکیت دعوی کول صحیح نه دي

ال : (۳۱۲) یوځای ددوورونوترمینځ شریک دی یوورورپخپلورو پودخپل
ورپه اجازه مسجد جوړکړله مسجد جوړېدووروسته کله چي څه موده خلګو په کې
ونځونه کول نوددواړوورونوترمینځ پرکوم بل شی جګړه وشوه اوس یوورور
ښمنۍ په وجه مسجد شهیدول غواړي ددغه سړی ملک باقی دی ،که نه ؟ اودده
هکله څه حکم دی ؟ داسړی دملکیت دعوی لري (۳۲/۲۳۲۲ - ۱۳۳۳هج)

واب : دغه مسجد شرعی مسجد شوددې بل ورورله ملکیت څخه ووت شهیدول
ې مسجدیا دملکیت دعوی وربانديي کول ددغه ورورباطل اونه اورېدل کیږي
فرضا که دی یې شهیدهم کړي بیاهم دغه مسجدله مسجدوالی نه وزي دغه ځای
همیشه لپاره مسجدوګرځېدی نړوونکی یې فاسق اوګنهګاردی فقط.

مشترکه مځکه له مسجدجوړولووروسته هیڅ شریک نشي خرڅولای

وال : (۳۱۳) دووکسانوپه مشترکه مځکه کې مسجد جوړکړځوورځې وروسته
شریک دخپل کوربرخه سره دمسجدله برخې خرڅه کړه اودمسجد مځکې برخه یې
هندوته ورغله دمسجد مځکه خرڅول صحیح دي ،که نه ؟ (۳۳/۲۹۰ - ۱۳۳۴هج)

واب : دمسجد مځکه نشي خرڅېدای اودهندوپه ملک کي نه راځي لمونځ پکې
ول پکاردي مسجد همیشه مسجدوي.

ځینوشریکانومشترکه مځکه دمسجدیامدرسې لپاره وقف کړه داوقف روادی ،که نه

سوال: (۳۱۴) یوه ټوټه مځکه دټولوکلیوالوسره مشترکه ده چې پکې په سلګونوخلګ ونډه لري ډیرنابالغ ، یتیمان اوکونډې هم شته له ټولومالکانوڅخه شپږواووکسانودغه مشترکه مځکه دیوه مسجداومدرسې لپاره وقف کړه ددې په یوه برخه کې یې دمدرسې دارتیاوولپاره دوکانونه جوړکړې دي آیادغه وقف روادی ،که نه ؟(۱۷۷۴/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: داسي وقف روانه دی اوهغه مسجدشرعی مسجدنه دی اودوکانونه هم نه وقفیږي. فقط.

دځینوشریکانوله اجازې پرته په مشترکه مځکه کې مسجدجوړول

سوال: (۳۱۵) یودناستې ځای دډیرې اولږبرخې لرووونکوترمینځ شریک دی ځینو کسانوپه خوشحالی سره لاس لیک وکړاودمسجدجوړېدواجازه یې وکړه اودیودوو کسانوخوښه نه ده اونابالغ هم دي ددوئ ولیان اجازه ورکولای شي ،که نه ؟که کوم لږبرخه لرووونکي راضي نه وي مسجدجوړول په دې صورت کې صحیح دي ،که نه ؟(۲۲۰/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: که کوم برخه لرووونکې اجازه ونکړي اوخوښه یې نه وي یاځینې شریکان نابالغ وي نومسجدجوړول په دغه مشترکه مځکه کې صحیح نه دی اوهغه مسجدنه ګرځي کذافی الشامی کتاب الوقف۔(۱).

دمځکې دمالک له اجازې پرته دجوړکړې مسجدحکم

سوال: (۳۱۶) زیددیوه مکان اومځکې مالک دی اوزیدپه دغه مکان کې خپل مامورین دخوندي کولواوانتظام کولولپاره اوسولې وولې دغومامورینو څلور ،پنځه مامورینود زیدله اجازې پرته

---

(۱) والخلاف فیمایقبل القسمة اماالایقبلها فیجوزاتفاقاالافی المسجدوالمقبرة لان بقاء الشرکة یمنع الخلوص لله تعالی (الشامی (۳/ ۳۹۹) مطلب: شروط الوقف علی قولهما ط رشیدیه) والیه اشاربقوله کماقدمناه من ان المسجدلوکان مشاعاً لایصح اجماعاً (الشامی(۴۰۵/۳) کتاب الوقف مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه)

Maktaba Tul Ishaat .com

یوه خاصه چوتره دلمانځه لپاره جوړه کړه په دې مهال کې زید مامورین بدل هم کړل وروسته چې کوم مامورین راغلل په هغوئ کې ځینو داپخه کړه اوس زید داماتول غواړي آیا مسلمانان یې منع کولای شي ؟ (۱۸۵۵/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : دچاملک دمالک له اجازې پرته بل څوک نشي وقفولای اومسجد نشي پرجوړولای نوکه په حقیقت کې مالک دغه ځای دلمانځه ځای نه ووجوړکړی نودی داماتولای شي اونورومسلمانانوته دده دمنع کولوهیڅ حق نشته فقط والله تعالی اعلم.

سوال : (۳۱۷) یوسړی دبل په مځکه کې مسجد جوړکړپه هغه کې لمونځ هم کیږي اوس مالک دغه مسجدنړول غواړي آیاداسي صحیح دی ،که نه ؟ (۲۰۰۴/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : دبل په مځکه کې دهغه له اجازې پرته مسجد جوړول صحیح نه دی اوهغه مسجد نه ګرځي مالک که خپله مځکه خالي کوي اوودانې نړوي نوصحیح دی فقط والله اعلم.

سوال : (۳۱۸) پنځلس ، شل کاله کیږي چې زیدپه ښکاره عمرمالک اوقبضه کوونکی ولیدنوله عمرعام اختیارلروونکې څخه دیوې توتې مځکې دمکانونو جوړولوپه نیت له کاله په کرایه باندې لیکلې اسنادواخست ،څکه نودمځکې په څه برخه کې یې څوسرایونه جوړکړل اوپه یوه برخه کې یې مسجد جوړکړدمځکې له مالک یاعام اختیار لروونکې څخه کومه څرګنده اجازه دمسجد جوړولونه وه اخستې خومسجددده په خبرتیاکې جوړشواودمسجدپه تعمیر یې خوښې څرګنده کړه په داسي مسجد کې لمونځ کول روادي ؟ (۸۸۱/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : کوم ځای هغه وخت مسجد کېدای شي چې کله دمځکې مالک هغه دمسجدلپاره وقف کړي په شامی کې راغلې دي افادان الواقف لابدان یکون مالکاله وقت الوقف ملکا باتاالخ (۱) نوکه دمځکې مالک ددغه مسجدمځکه وقف کړې ده یايې اوس وکړي یاداسي ووایې چې مادامسجد جوړکړیامې ددې اجازه وکړه نوهغه مسجدګرځي اوثواب دمسجدپکې حاصلیږي دارازلمونځ خوهرځای کیږي هلته هم لمونځ صحیح دی خود مسجد کېدولپاره له پورتنیو خبرو څخه کومه خبره ضروري دي فقط والله تعالی اعلم.

---

(۱) الشامی (۳۹۴/۳) کتاب الوقف ، طرشیدیه.

یوشړیک په مشترکه مځکه کې مسجدجوړکړوروسته نوروشړیکانواجازه وکړه نوځه حکم دی

سوال : (۳۱۹) (الف) یوه مځکه چې څوکسان په شړیکان دي له هغوئ څخه یوه شړیک دنوروشړیکانوله اجازې پرته مسجدجوړکړاوله جوړولومخکې یې له چاڅخه اجازه نه ده اخستې دمسجدله جوړولووروسته ټولوشړیکانواجازه ورکړه اوپه خوشحالۍ ټولوشر یکانوسره له کلهوالوپه جماعت سره پکې لمونځ کاوونوامسجدشرعًا مسجدشو،که نه ؟(ب) قال محمدرحمه الله اذاخرب ولیس له مایعمربه وقداستغنی الناس عنه لبناء مسجدآخر.....یعودالی ملک الواقف الخ ـ(۱) ددې روایت سره سم که دقوم ترمینځ مخالفت اوجګړه وشي اویادشوی مسجدپخپل تصرف کې راوستل غواړې نوروادی ،که نه ؟(۱۲۹۰/ ۱۳۴۳هج)

خواب : (الف) قوله بافرازمسجدعبربالافرازلانه لوکان مشاعًا لایصح اجماعًا الخ ـ۲(شامی) له دغه عبارت څخه معلوم شوچې په مشترکه مځکه کې مسجدنشي کېدای خودشامی دوهم روایت ولواجازالمالک وقف فضولی جاز۔ ۳ دپوښتل شوې صورت پرجوازدلالت کوي ،ځکه نودغه مسجددشړیکانوتراجازې وروسته شرعي مسجدوګرځېدی (ب) دغه مسجدپه بیان شوې صورت نقلول اوددغه مسجدمسجدوالی باطلول صحیح نه دي لان الفتوی علی تأبید المسجد(شامی ۶/ ۲۲۹، کتاب الوقف) فقط.

دچامځکه له اجازې پرته ومسجدته ورګډول

سوال : (۳۲۰) دزیددمکان په غولې کې کلهوالودزیددنه شتون په صورت کې له اجازې پرته دمسجدمحراب جوړکړارازچې دمسجدداامام صاحب سجدهٔ په دغه غصب شوې محرام کې لګیږي په دې سره لمونځ مکروه کیږي ،که نه ؟ کله چې زید سخت

---

(۱) البحرالرائق ۵/۴۲۱، کتاب الوقف، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.
(۲) الشامی(۳/۳۹۵) کتاب الوقف مطلب شرائط الوقف معتبرة اذالم تخالف الشرع ط رشیدیه.
(۳) الشامی(۳/۳۹۴) کتاب الوقف، شرائط الوقف ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

ناراض دی اودزید دکوروطرفته يې دمسجدرونبن دانونه خلاص کړې دي ددې څه حکم دی ؟ (۱۴۹۲/۱۳۴۵هج)

ځواب : اصل شرعی حکم دادی چي دمالک له اجازې پرته دې کومه مځکه یادمځکې کومه برخه که څه هم لږه وي بېله سختې اړتیاومسجدته ورګډه نکړای شي لکه چي دشامی له عبارت څخه څرګندديقوله : وشرطه شرط سائرالتبرعات افادان الواقف لابدان یکون مالکاله وقت الوقف الخ ـ (۱) دارازدچادکوروطرفته دې دمسجدرونبندان بېله سختې اړتیاخلاص نکړل شي چي ورځخه هغه ته تکلیف وي کماورد: لاضررولاضرار ـ (۲) خوزیدته پکاردي چي اوس کله چي دومره لږمځکه دمسجدومحراب ته ورداخله کړله شوه نودی دې ددې اجازه وکړي کنې داجازې نه ورکولوپه صورت به ددې سرکښي اوتعنت ښکاره شي ،ځکه چي دغه مځکه دمسجددمحراب له ماتولوپرته نشي لاس ته کېدای په دې کې دمسجدنقصان دی اوپه داسي صورت کې دفقهې له ځینورواتونوځخه معلومیږی چي که دمسجدورته اړتیاوي اوتنګي وي نومسجدته نژدې مځکه دې جبرا ومسجدته ورګډه شي اوپه زوردې ومالک ته ددې مځکې قیمت ورکول شي کمافی الدرالمختار: تؤخذارض وداروحانوت بجنب مسجدضاق علی الناس بالقیمة کرهادرر وعمادیة الخ ـ (۳) نوزیدته پکاردي چي په قیمت اخستویابېله قیمت اخستوددې اجازه وکړي کنې داړتیاپروخت دهمسایه مځکه داړتیاپه اندازه په قیمت سره په زورهم اخستل کېدای شي ،ځکه نوزیدبایدپه دې کې مخالفت ونکړي اوپه خوشحالی سره اجازه ورکړي اوددغه روایت په وجه په دغه مسجد کې لمونځ بېله کراهیته جائزدي فقط.

دشرېکانوله اجازې پرته مشترکه ونې خرڅول دهغوئ په قیمت مسجدجوړول

سوال : (۳۲۱)شیعه ګانوپخپل ځای کې مشترکې ونې خرڅیکړي دهغوئ په قیمت یې مسجد جوړکړ

---

(۱) الشامی (۳/۳۹۴) کتاب الوقف شرائط الوقف ط رشیدیه.

(۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاضررولا ضرار (ابن ماجه ۲/ ۱۲۹ ،ابواب الاحکام ،باب من بنی فی حقه مایضرجاره)

(۳) الدرمع الشامی (۳/ ۴۲۱) کتاب الوقف ، قبل مطلب فی اشتراط الواقف الولایة لنفسه ط رشیدیه.

په ونوشرېکان شیعه ګان و سنیان ،هندوان اونابالغ ووددغوټولوشرېکانوله اجازې پرته يې خرڅې کړې اوپه قېمت باندې يې مسجدجوړکړپه دغه ځای کې زه هم برخه لرم په میاشت ، دوې کې زه هم دمالیې اخستلولپاره ځم نوپه دغه مسجدکې زمااودسنیانولمو نځونه صحیح دي ،که نه ؟ که بل ځای ته دلمانځه لپاره تلل پکاردي اوشپه دشیعه ګانوپه کلي کې تیرول روادي ،که نه ؟ (۲۳۰۹/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

خواب : هغه مسجدشرعی مسجدنه دی په هغه مسجدکي لمونځ کولوسره دمسجدثواب نه ملاویږي اولمونځ اداکیږي بل ځای ته دلمانځه لپاره تلل لازمي نه دي په کوم ځای کي چې شیعه وسیږي هلته وسیدل جائزدي.

په مشترکه مځکه کې دشرېکانوله اجازې پرته مسجدجوړول

سوال : (۳۲۲) په لږمشترکه مځکه کې دشرېکانوله اجازې پرته مسجدجوړول روادي ،که نه ؟(۳۳۷۹/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

خواب : لنډیزدجواب دادی چې په مشترکه مځکه کې دټولوشرېکانوله اجازې پرته مسجدجوړول روانه دی که يې څوک جوړکړي نوهغه شرعي مسجدنه ګرځي اوثواب دمسجدپکي نشته که څه هم لمونځ اداکیږي.

دزیاتوشرېکانوپه اجازه په مشترکه مځکه کې دجوړکړې مسجدحکم

سوال : ۳۲۳) زیدپه مشترکه مځکه کې دشرېکانوترخوښې حاصلولووروسته مسجدجوړ کړخالداوبکرپخپل مینځ کې دخوابدتیاپه وجه داجازې ورکولووروسته غوصه شوددوو درېیونابالغوله طرفه يې عذروکړخونه نابالغان کوم عذرکوي نه دهغوئ ولیانوپه کوم مجلس کې ددې خبرې په اړه دعوی کړې ده خوکوموخلګوچې دټولومسلمانانوومخته خپله خوښه ښکاره کړې ده هغوئ پخپل مینځ کې دضدپه وجه داسي کارکړیدی حال داچې زیددمشترکې مځکې په نیمه برخه کې مسجدجوړکړی دی نوره پاته مځکه يې دنابالغودحق په وجه پرېښې ده چې ورڅخه لمانځه اودمسجدوتعمیرته تاوان نه وي اودنابالغوحق زیات نه زیات به په روپۍ کې یوه انه وي خودنفس په وجه دوئ جګړه کوي په داسي حال کې دامسجدحکم دمسجدلري ،که نه ؟ لمونځ روادی ،که نه ؟(۱۳۲۳/ ۱۳۳۸هج)

خواب : دفقهې په کتابونوکې دالیکلې دي چې په مشترکه مځکه کې چې پکې ټول شرېکان اجازه ونکړي یاځینې نابالغ وي چې اجازې ته يې شرعًا اعتبارنشته ، ترڅوچې دغه مځکه ووېشي

Maktaba Tul Ishaat.com

داجازي ورکوونکوبرخه بېلهنګړله شي ترهغومسجدجوړول په دې کې صحیح نه دی اواوس چې کله دزیاتره شرېکانوپه اجازه مسجدتعمیرشوی دی نوددې دجوازداصورت دی چې دکوموشرېکانوخوښه نه ده یاکوم نابالغ دي دهغوئ برخه دې په پاته مځکه کې، دشرېکانواودماشومانودولیانوپه خوښه بېله کړله شي له وېش وروسته چیدچابرخه په مسجدکې راغلې وي هغه دې هغه وقف کړي اودمسجد په نامه دې ونوموي فقط.

له مسجدسره نښتي سرای په زورومسجدته ورګډول

سوال : (۳۲۴) په یوه مسجدکې ځای ډیرتنګ دی یومکان ددې مسجد سره متصل دی دغه جبراومسجدته ورشاملول روادي ،که نه ؟ (۱۷۹۴/۱۳۴۵هج)

خواب : دبل چامبکان دهغه له اجازې پرته په مسجدکې داخلول صحیح نه دي امادغه سړی دمکان مالک ته پکاردي چې که په مسجدکې تنګي ده اوله ده سره مځکه دده تراړتیازیا ته وي نوددې بې قیمه یاپه قیمت دارتیاپه اندازه ومسجدته مځکه ورکړي فقط.

خاص لار په مسجدکې ورشاملول

سوال : (۳۲۵) یوځای جامع مسجد، دمسجدامام صاحب کور، اودامام صاحب دورور اوخورېيې کورونه واقع دي اویوه هدېره هم له پخواڅخه دامام دپلاراونیکه په همدې ځای کې شته اودروازې ددریوسره مکانونودهدرې اوپه مسجدکې لمونځ کوونکودامام دحویلی دشمالي دروازې ومخته دهدېرې دحداودمسجد دځلوردهوالی په مینځ کې وشمالي طرفته واقع دي په داسي اندازچې دمسجد ترڅاه پورې صرف ددغویادشویو مکانونولاردە اوله څاه وروسته دهدیرې دامام اونورومکانونواومسجدلاره وهمدې شمالي طرفته واقع دي اودغومکانونوته دغویودګاډیودتګ ،راتګ هم اوس دغه لارده لنډه داچې دټولویوه لاره ده اوس دښارزمینداراتوله دغې لارې څخه په مسجدکې دوردا خلولوپه غرض یوداسي حدقائم کړی دی چې ددغومکانونودغویوګاډیولاره دامام اودامام دوارثانوپه قبضه کې یومخ پاته نشوه اودغه حدزمینداراتوددغومکانونودما لکانوله اجازې پرته پخپله قائم کړې دي اودوئ غواړي چې دغه پوخ کورونړوي دغویو دګاډیولاره ودغوکورنوته جوړه کړي اودمکان مالکان ددغې لارې څخه یوشی هم په مسجدکې ورداخلول نه غواړي اوخپل پوخ مکان نړول اودغویودګاډیولپاره لاره ایستل نه غواړي په دې صورت کې بېله اجازې له دغې لارې په مسجدکې ورګډول اودامام مکان نړول چې دګاډیودتګ ، راتګ لاره وشي شرعًا روادی ،که نه ؟ اوڅرګندونه

دي وي چي په مسجد کې هیڅ تنګي اودپراخولوارتیانشته دوه چته مسجددی اوپرفرش باندي پراح اته صفونه دي کوم چي دجمعې په ورځ هم نه ډکیږي فقط (۱۳۳۵/۳۱هج)

خواب : په دې صورت کې داجائزنه دی چي دامام اونورودمکانونومالکانوله لاري څخه څه برخه هم دمکانونودمالکانوله اجازې پرته په مسجد کې ورداخله کړله شي له لاري څخه په مسجد کې ورداخلول چی کوم فقهاء روالیکلی دی لومړی خوهغه دعامې لاري حکم دی نه دخاصې لاري دوهم ددې په مسجد کې ورداخلولوفقهاؤدجوازدوه شرطونه لیکلې دي یوداچي په مسجد کې تنګي وي دوهم داچي دتېرېدوونکوتاوان نه وي اوپه پوښتل شوې صورت کې په مسجد کې تنګي نشته اودلاري والونقصان دی ،څکه نودغه تصرف دزمینداراتوصحیح نه دی په درمختارکې راغلې دي: جعل شئ من الطریق مسجد الضیقه ولم یقصربالمارین جازلانهما للمسلمین۔۱

ترجمه : دلاري څه برخه مسجدجوړول دمسجددتنګی په وجه اودلاري تېرېدوونکوته ضررنه وي نودارواډی ،څکه چي لاره اومسجددواړه دمسلمانانودي.

پردې علامه شامی رحمه الله لیکي : قوله لضیقه بالمارین افادان الجواز مقیدبهذین الشرطین الخ۔۱

ترجمه : دلاري څه برخه مسجدجوړول دمسجددتنګی په وجه اودلاري تېرېدوو نکوتهضررنه وي نودارواډی ،څکه چي لاره اومسجددواړه دمسلمانانودي.

ددرمختارله دغه تعلیل : لانهما للمسلمین څخه داهم څرګندشوچیدادعامې لاري حکمدی اوپه خاصه لاره کې خوداسي تصرف دلاري والاله اجازې پرته په هیڅ حال کې صحیح نه دی لکه چي په درمختارکې یې په بل ځای کې ویلې دي : لایجوزان یتصرف باحداث مطلقا اضربهم اولاالاباذنهم ۔۲ نه دی رواپه خاص لاره کې کوم تصرف کول مطلقا

(۱) الدروالشامی (۳/ ۴۱۹) کتاب الوقف مطلب فی جعل شئ من المسجد طریقاط رشیدیه.

(۲) الدرمع الشامی (۵/ ۴۲۰) کتاب الدیات . باب مایحدثه الرجل فی الطریق وغیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

مګردلارې والوپه اجازه وټولوته تاوان رسوونکې وي ،که نه وي اوکله چې معلوم شوچې ددغې لارې ومسجدته ورګډول صحیح نه دي نوداغصب دی اوپه مسجد کې که دغصب مځکه ورګډه کړل شي نوپردغه غصب کړې ځای باندې لمونځ تحریمي مکروه دی اوتصرف کوونکې ګنهګارګرځي فقط.

دکمپنۍ دمشرپه اجازه دجوړکړې مسجدحکم

سوال : (۳۲۲) دیوه کلې مالک دنامسلمانوکمپنۍ ده دمالکانوله لورې یومشردمالکانو په رنګه کارکوي .څکه نوځلوښت کاله وشوچې دهغه ځای مسلمانانودمځکې دقیمت له اداکولوپرته دمشرپه اجازه یوه پخه چوتره (تنګاچه) دلمانځه داداکولولپاره جوړه کړې وه څه موده کیږي چې مسلمانانوپردغه پخوانې پخه تنګاچه خام دهوالونه جوړکړل په وښواونورویې سایه ورباندې جوړه کړه له دې وروسته دهغه ځای پرمسلمانانوپه محکمه کې دعوی شوې وه کومه چې وایستل شوه پردغه چوتره باندې لمونځ کول روادي ،که نه ؟ (۱۹۱۸/۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب : کله چې دمشرپه اجازه دغه مسجد جوړکړل شواوله ځلوښتوکلونوراهیسې په دغه مسجدکې لمونځ کیږي نودامسجدشو،څکه چې کله دکمپنۍ مشرته دمالک په حیث واک ورکول شوی دی نولکه څرنګه چې داصل مالک په اجازه مسجدګرځي داراز دمشرواکمن په اجازه هم مسجدوګرځیدی فقط.

دقبضې پرمځکه مسجدجوړول

سوال : (۳۲۷) دکهوجیړاپه سیمه کې قصابان ، جولاګیان اونورناوسه قومونه داهل السنت والجماعت اوسېدوونکې دي مځکې دشیعه ګانودي اوټول مسجدونه دشیعه ګانودي له پخواڅخه اهل سنت هم په همدغومسجدونوکې لمونځونه کول اوس له څه مدې راهیسې دبرابرۍ وضعیت له اسلامي اخلاقوڅخه لوړلی دی اوځوانان وسیدانوته په سپک نظرګوري اوشیعه ګان دزمینداری په حیث نه جلا په قیمت دځای په ورکولوباندې راضي دي اونه په موجوده مکانونوکې داستوګنې دکوم مکان دمسجدجوړولواجازه کوي داهل سنت داستوګنې دمکانونوداحال دی چې دځینې مکانونولپاره ددوئ پلرونواونیکه ګانوپه بدل ورکولومځکې لاس ته کړې وي ځینودرعایاپه توګه په استوګنه قبلولوسره مځکه حاصله کړه اومکانونه یې جوړکړل.

اوخینوباغلوخه مخکه په بیع واخسته اوپرخه باندي بې دوندې لرلوپه حیث قبضه وکړه نوپرداډول مخکه مسجد جوړول روادی ،که نه ؟(۲۷۹۱/ ۱۳۴۵هج)

خواب : په دې صورت کې اهل سنت والجماعة دخپلې داستوګنې اوقبضې له مخکې خخه پرخه برخه باندي مسجد جوړولای شي کمافی الشامی ذکرفی البحران مفاد کلام الحاوی اشتراط کون ارض المسجد ملکا للبانی آه لکن ذکرالطرسوسی جوازه علی الارض المستأجرة اخذامن جوازوقف البناء الخ ـ ۱ نوله دغه دوهم روایت خخه (دکوم یادونه چې علامه طرسوسی کړې ده) په دغه مخکه کې دمسجد جوړولوجوازثابتیږي اودبیان شوې ارتیاپه وجه پردې عمل کول صحیح بلکه ضروري دي.

دچاپه مخکه کې په زورمسجدجوړول

سوال : (۳۲۸) کلهوالوجبراًبله قیمت اداکولودزیدپه مخکه کې مسجد جوړکړحال داچې زیدهرخومره منع کړودداسي مخکې اومسجدشرعي خه حکم دی ؟(۲۱۹/ ۱۳۴۰هج) خواب: شرعًا دغه مخکه وقف شوې نه ده اومسجدنه ده کرخېدلی اولمونځ پکې کول مکروه دي کمافی ارض الغصب فقط.

دمالکانوله خوښې پرته ددوئ خاه ومسجدته ورګډول

سوال : (۳۲۹) دسهارنپورشاه بهلول په محله کې یومسجددمعمارانواوصابون ګرانووا قع دی دهغه دپراخولوپه نیت یې دمالکانوله خوښې اواجازې پرته ددوئ خاه کوم چې دمسجدله خاه پرته اوله مسجدخخه دباندي اودصابون ګرانوملک اوپه قبضه کې دی په جبرومسجدته ورشامل کړدغه کارددوئ روادی ،که نه ؟ اوپرغصب کړې خای باندي بهله کراهیته لمونځ رواکیږي ،که نه ؟ اوصابون ګرانودفساددختمولوپه غرض دبل مسجد دجوړولولپاره خای غوره کړی دی داخرنګه دی(۱۳۶۸/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

---

(۱) الشامی (۴۰۵/۴) کتاب الوقف . مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : دځاه دمالکانوله اجازې پرته دغه ځاه په مسجدکې ورکړول اوداخلول روانه دي اوپردې ځای لمونځ مکروه کیږي به درمختارکې راغلې دي وکذاتکره فی اماکن کفوق کعبة وارض مغصوبة الخ ـ(۱)اوترڅوچې دځاه مالکان اجازه ونکړي ترهغودغه ځای په مسجدکې نه داخلیږي اودفساداوفتنی دختمولولپاره دصابون کرانوبل مسجدجوړول اوپه لومړي مسجدکې لمونځ پرېښول اوپه بل نوې مسجدکې لمونځ کول روادي ،ځکه چې کله بل مسجددفسادلیري کولوپه نیت اوپه نېک نیت سره جوړول روادي اودارشاد: من بنی لله مسجدابنی الله له بیتافی الجنة(الحدیث)ـ۲ اوکماقال صلی الله علیه وسلم په سبب باعث داجراوثواب دی نوآبادساتل دده اولمونځ پکې کول هم ضروري دي قال علیه الصلوة والسلام انماالاعمال بالنیات وانمالامرئ مانوی الحدیث ـ۳ فقط.

بل مسجدجوړول کله صحیح دی

سوال : (۳۳۰) دیوه کلې آبادي له پخواڅخه جلا ، جلاده اوپه هغې کې یومسجددی که له دغه مسجد څخه دکلې ځوکسان جلا شي نودامسجدبه ناآبادشي ولې چیدکلې آبادي لږده اوس دکلې ځوکسان دنوروکلیوالواودمسجدله امام څخه خلاف شول بل ځای مسجدجوړول غواړي دوئ منع کړل شي ،که نه ؟ که منع نکړل شي نودامیرالمؤمنین عمررضی الله عنه ددې اثرچې پکې داراغلې دي چې له فتحووروسته ده·په هرښارکې دمسجدجوړولو حکم کاووامنع وکړه ددوهم مسجدله جوړولوکوم چې ضررسوونکی وي اول مسجدته به څه جواب وي ؟ (۳۵/۲۹۷ـ۱۳۳۲هج)

خواب : که دآبادی دبیلوالې اولیري والې په وجه چې مسجدته په راتلوکې تکلیف وي نودوهم مسجدجوړول بیله شبهې صحیح دی اودحضرت عمررضی الله عنه داثرمطلب دادی چې بیله اړتیا

---

(۱) الدرمع الشامی (۱/ ۴۷۹) کتاب الصلوة ، مطلب فی الصلوة فی الارض المغصوبة ط رشیدیه.

(۲) عن عثمان رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من بنی لله مسجدا بنی الله له بیتًا فی الجنة (مشکوة المصابیح ص: ۲۸، باب المساجد ومواضع الصلوة)

(۳) عن عمربن الخطاب رضی الله عنه یقول: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: انماالاعمال بالنیات وانمالامرئ مانوی فمن کانت هجرته الی دنیایصیبها اوالی امرأة ینکحها فهجرته الی ماهاجرالیه (صحیح البخاری

صرف واول مسجد ته دضرررسولوپه غرض دوهم مسجدمه جوړوئ اوکله چې کوم ضرورت وي اودجوړوونکوغرض اونیت واول مسجدته دضرررسولونه وي نوبیاپه جواز بلکه دثواب په حاصلیدوکې څه شک شته بقوله تعالی انمایعمرمساجد الله من آمن بالله والیوم الآخرالا یة۔(۱) وانماالاعمال بالنیات وانمالامرئ مانوی۔(۲) فقط

که مسجدونړېږي نوبل ځای نوی مسجدجوړول څرنګه دی

سوال: (۳۳۱) (الف) دوقف په مخکه کې مسجددی کوم چې له ابادی څخه پرحه واټن واقع دی په پسرلي کې ونړیدی اوس ددغې مخکې پربله توته چیرې چې آبادي ده مسجدجوړول زوادي .که نه ؟ اودنړېدلې مسجدخښتې اونورې پکې لګیدای شي .که نه ؟

(ب) دنړېدلې مسجدپرځای دوقف دآمدنی په اراده باغ لګول پکاردي که همداسې پرېږدو ؟ (۱۵۴۰/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: (الف) په دې صورت کې ددوهم مسجدجوړول روادي اودمخکنې مسجد سامان هم پکې لګیدای شي کذاحقق العلامة الشامی وبسط فیه ذکرفی التاتارخانیة وغیرها جوازنقلهاالخ والذی ینبغی متابعة المشائخ المذکورین فی جوازالنقل بلا فرق بین مسجد اوحوض کمافتی به الامام ابوشجاع والامام الحلوانی وکفی بهماقدوة ولاسیما فی زماننا الخ۔(۳) اوپه البحرالرائق کې راغلې دي وهکذانقل عن الشیخ الامام الحلوانی فی المسجدوالحوض اذاخرب ولایحتاج الیه لتفرق الناس عنه انه تصرف اوقافه الی مسجدآخراوحوض آخر۔(۴).

---

(۱) سورة توبه آیت ۱۸.

(۲) عن عمربن الخطاب رضی الله عنه یقول: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: انماالاعمال بالنیات وانمالامرئ مانوی فمن کانت هجرته الی دنیایصیبهااوالی امرأة ینکحها فهجرته الی ماهاجرالیه (صحیح البخاری ۱ ۲. باب کیف کان بد ء الوحی)

(۳) الشامی (۴۰۷:۳) کتاب الوقف مطلب فی نقل انقاض المسجدونحوه ط رشیدیه.

(۴) البحرالرائق ۵/ ۲۲۳ کتاب الوقف فصل فی احکام المسجد.

Maktaba Tul Ishaat. com

(ب) دنړېدلې مسجد دمخکې خوندي کول ضروري دي اوپه هغه کې هیڅ ډول تصرف روانه دی بایدشاوخوادېوال پرراوګرځول شي ولي چې یوځل کوم ځای مسجدوګرځیدی هغه به ترقیامته مسجدوي کمافی البحر(۱)وقال ابویوسف رحمه الله: هومسجدابداالی قیام الساعة وفی المجتبی واکثرالمشائخ علی قول ابی یوسف رحمه الله ورجح فی فتح القدیرقول ابی یوسف رحمه الله الخ اوپه شامی کې دي: ان الفتوی علی قول ابی یوسف رحمه الله فی تأبید المسجدانتهی ملخصا۔ (۲) فقط.

دناآبادې سیمې خوندی کول ،نوی مسجدجوړول

سوال: (۳۳۲) یوځای یوخام مسجدپه آبادي کې واقع وواوس ددغه مسجدله شاوخوا څخه دبدلون راتلوپه وجه آبادي لیري شوې ده اوله څه مودې راهیسي مسجدویران دی اودآبادی امیدیې په ائنده کې هم نشته اوس دالله تعالی په فضل سره له مسلمانانوڅخه یوصاحب نوی پوخ مسجدجوړول غواړي نواوس همدغه مسجدپوخ کړوکه داخوندي کړوپه آبادي کې دننه بل مسجدپوخ جوړکړچې ومسلمانانوته په وزتلوکې هوسایینه وي؟(۳۲/۱۱۹۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: همداسي مناسب دي چې دغه ناآباد مسجد خوندي کړي اوبل نوی مسجد دمسلمانانوپه آبادي کې جوړکړي چې ومسلمانانوته په لمونځ کولواوجماعت کولوکې هوسایې وي.

که دارتیابه وجه دوهم مسجدجوړکړونوداول مسجدڅخه عیدګاه جوړول روادي ،که نه

سوال: (۳۳۳) یومسجددناورپرغاړه واقع دی په باران کې داداوبوډک شي هلته څوک لمونځ نشي کولای په داسي حالت کې بل ځای مسجدجوړول اوله دغه مسجدڅخه عیدګاه جوړول روادي ،که نه؟(۳۲/۱۲۹۸-۱۳۳۳هج)

ځواب: ددې ضرورت په وجه بل ځای مسجدجوړول صحیح دي خوهغه مخکنی مسجدبه هم مسجدوي دهغه خوندي کول ضروري دی اوکه نورلمونځونه په دې کې نشي کېدای نوداترونولمونځونه خوپکې کوئ په هرحال هغه به مسجدوي اومسجدوالی داختر دلمو نځونولپاره خنډنه دی.

---

(۱) البحرالرائق ۵/۴۲۱، کتاب الوقف، فصل فی احکام المساجد ط رشیدیه.

(۲) الشامی (۴۰۷/۳) کتاب الوقف، مطلب فیمالوخرب المسجدوغیره، ط رشیدیه.

دنوې تعمیرپروخت دزاړه مسجدځای قصداپرېښوول

سوال : (۳۳۴) (الف) موږمسجدشهدوونوی مسجدجوړووکه نوی مسجدلرېیوه طرفته جوړکړونودزاړه مسجدوسمدستي شهیدولوته به اړتیانه وي اودنوې مسجدترجوړېدو به لمونځ کوونکوته تکلیف نه وي په داسي صورت کې دزاړه مسجدځه برخه پرېښوول رواده ،که نه ؟ اودغه برخه به دمسجدحکم لري ،که نه ؟ یعنی دجنب اونورو هلته تلل به صحیح وي ،که نه ؟

(ب) که په دغه برخه کې دامام اومؤذن لپاره حجره جوړه کړویامسافرخانه نوروادی ،که نه ؟ (۱۳۴۵/۵۴۷هج)

ځواب : (الف ، ب) مسئله داده چي کومه مځکه یوځل مسجدشي هغه همېشه مسجدوي کمافی الشامی: لان الفتوی علی تأبید المسجد (۶/ ۴۲۹کتاب الوقف) نودمسجدهیڅ یوه برخه له مسجدتوب څخه نشي جلا کېدای یعنی دابه په حکم دمسجدوي دجنب ،حائضې اونوروهلته ورتلل صحیح نه دي اوحجره یامسافرخانه له هغه څخه جوړول صحیح نه دي.

کلېوال زوړمسجدنړولای اونوی مسجدجوړولای شي ،که نه ؟

سوال : (۳۳۵) زید مسجدجوړکړ،وقف یې کړاوس هغه مسجدنړېدلی دی بکردغه مسجد له نوې سره جوړول غواړې دزیدوارثان یې منع کوي شرعًا څه حکم دی ؟ (۱۳۴۱/۲۵۴۷هج)

ځواب : په شامی کې راغلې دي: واماالهلهافلهم ان یهدموه ویجددوابناء ه الخ ـ۱ یعنی مسجدوال اوکلېوال زوړمسجدنړولای ،له نوې سره تعمېرولای شي نوکه بکرله کلېوالو څخه دی نودزیدوارثان دی له مسجدجوړولوڅخه نشي منع کولای فقط.

پردی سړی دپراخولوپه غرض مسجدنړولای اوله نوې سره جوړولای شي ،که نه ؟

سوال : (۳۳۶) یوسړی دمالک په اجازه مسجدجوړکړی ووبانی وفات شواوس یوپردی سړی (کوم چي نه دبانی له خپلوانوڅخه دی ،نه دمځکې مالک اونه له کلېوالوڅخه دی) غواړې

۱) الشامی(۴۰۵/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

چې دپراخولولپاره مسجدونړوم له نوې سره بې جوړکړم آیادمالک په اجازه دغه مسجد کوم چې تراوسه یومخ نوی دی دپراخولوپه نیت له نوې سره جوړولای شي ،که نه ؟(۱۱۹۸/ ۱۳۴۵هج)

خواب : کله چې دغه سړی نه باني دمسجددی ،نه دهغه له خپلوانوڅخه دی اونه له کلهوالوڅخه دی نوده ته دارواته دي : وفی الطحطاوی عن الهندیة مسجد مبنی ارادرجل ان ینقضه ویبنیه احکم لیس له ذلک لانه لاولایة له مضمرات الاان یخاف ان ینهدم ان لم یهدم تاتارخانیة وتأویله ان لم یکن البانی من اهل تلک المحلة واما اهلها فلهم ان یهدموه ویجددوابنائه الخ۔۱ اوظاهرددې عبارت دادي چې وقف کوونکی دمڅکې کوم چې دمسجدباندي نه وي دده په اجازه هم دمسجدنړول اونوې جوړول صحیح نه دي ،ځکه له سوال څخه معلوم شوچې دغه تعمیرنوی دی ددې دنړېدووړه نشته.

دمسجدپه پراخولوکې که مخته مزاروي نوبایدڅرنګه وشي

سوال : (۳۳۷) دیومسجدچوتره په اوس وخت څه لږمعلومه شوه چې دې ځای اوسېدوو نکې ددې دپراخولوارادې لري ځای ډېردی خوپه مینځ کې دیوه بزرګ مزادی په دې څه وکړودمڅکې سره یې برابرولای شو ،که نه ؟(۲۰۱/ ۱۳۳۸هج)

خواب : پرزاړه قبرتعمیراونوراودهغه برابرول صحیح دي که دغه مسجد پراخوئ نودغه قبرله مڅکې سره سم کړئ اوهیڅ ننبه دقبرمه پرېږدئ ،ځکه چې دقبرومخته په کېدوسره لمونځ مکروه کیږي.

کومه مڅکه چې مسجدته وړداخله شوې ده هغه له مسجدڅخه نشي ایستلای

سوال : (۳۳۸) که په غلطی سره کوم مسجاوړدجوړشي چې دکلهوالوترارتیاډېرزیات وي له دې پرته که هغه مسجدپنځه دروازې هم ولري اوودانی یې ډېره کمزوري اونېمګړې وي اودقبلي پرلورهم سم سیدانوي نودده ومتولي باني ته داحق شته چیلربې راکوچنی کړي دري دروازې والامسجدځینې جوړکړي اوکه نه ؟اوداشهبدول له نوې سره جوړلای شي ،که نه ؟لنډه داچې

(۱) الشامی(۴۰۵/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

چې کومه برخه په دننه مسجدونومول شوه په هغې کې دارتیاپه لحاظ تصرف کیدای شي ،که نه ؟(۱۳۲۵/۱۳۴۰هج)

ځواب : دضرورت په وجه دمسجد تعمیرخوبیاکیدای شي دمثال په ډول که مخکنی تعمیرمضبوط نه وي نوهغه ونړوي کلبوال له نوې سره دمسجدتعمیرپه مناسب هیئت کولای شي خوکومه مځکه چې مسجدته وردا خله شوې ده هغه له مسجد څخه نشي ایستلای همداکیدای شي چې بام لروونکې برخه لږکمه کړي اوزیاته بې بامه دمسجدوفرش ته وردا خله کړي ،ځکه چې دمسجددواړې برخې چت لروونکې اوبې چته په مسجد کیدوسره برابرې دي.

دویران مسجدخوندی کول دمسلمانانودیني فریضه ده

سوال : (۳۳۹) یومسجدله پخواڅخه دښارپه مینځ کې قائم دی اوپه دغه محله کې چیري چې دامسجدواقع دی مخکې دمسلمانانوکورونه وومسلمانان دناوسئ په وجه ددغوکورونووخرڅولوته مجبورشوآخیردغه ټول مکانونه هندوانوراپیول اومسجدویران شوله اوس څخه مخکې عموماخلکوپه جماعت لمونځ کاووسوکه ، سوکه دمسجدو دانۍ نړېده صرف یولوړځای پاته شوپه لاره تېرېدوونکوخلکوبه په دې پوټې باندې لمونځ کاووخواوس هندوان خنډشول په دې کې یې انباراچول شروع کړل اومسجدته نژدې یې مندرجوړوکړمسلمانانووحکومت ته عارضه وکړه نوحکومت دمسجدڅلور دېوالې بنده کړه هندوانوله مرداری څخه نورښه مسجدډک کړلنډه داچې حکومت ومسجدته دقلف وراچولوحکم وکړاوقلف شوآیاحکومت ته داحق شته چې دهندوانوپه وجه مسجدقلف کړي که مسلمانان مسجدجوړنکړي نوګنهګاربه وي ،که نه ؟ اومواخذه به ددوئ وي ،که نه ؟ (۱۴۷/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب : کله چې ددغه مسجدله پخواڅخه مسجدکېدل ثابت دي اومنل شوی دی نوهیڅ وجه نشته چې حکومت ددې په جوړولوکې خنډشي داکارشرعًا ناروادی اومسلمانانوته داحق دی چې ددغه مسجددخلاصېدولپاره وحکومت ته مراجعه وکړي اوله محکمې څخه مرسته وغواړي اوسره له وس درلودودمسلمانانولپاره په دې کې سستي کول نه دي روااوپه دې کې داخیرت دمواخذې وبره ده قال الله تعالی:وان المساجد

Maktaba Tul Ishaat. com

لله فلا تدعوامع الله احدا۔ ۱ وفی کتب الفقه ان الفتوی علی تأبید المسجد۔ ۲ (شامی) یعنی کوم ځای چې یوځل مسجد شوهغه همېشه مسجدوي باقي پرېښوول دهغه ضروري اوابادساتل دهغه لازم دي اودایمان ننبه ده کماقال الله تعالی انمایعمرمساجدالله من آمن بالله والیوم الآخرالایة (۳) فقط.

دزاړه مسجدپه ودانۍ کې بدلون راوستل

سوال : (۳۴۰) په احمدپورشرقیه کې یومسجد دبازارپه مینځ کې واقع دی حکومت دوخت دپخواني مسجدودانۍ دارازبدله کړې ده چې دمسجدپه لاندي برخه کې درې دکانونه جوړکړي دمسجددرې فټه پلنه اولس فټه اوږده مځکه دځپلیواوبوتونوښوولو لپاره پرېښووه داصورت روادی ،که نه ؟ په دې مسجدکې لمونځ صحیځ دی وکه نه ؟ اودغه دوکانونه په کرایه ورکول ځرنګه دي ؟ (۱۵۰۱/ ۱۳۴۲هج)

ځواب : دمسجدله پوره کېدووروسته داډول تصرفات فقهاؤنارواليکلې دي لکه چې په درمختارکې ليکلې دي امالوتمت المسجدية ثم ارادالبناء منع .....فاذاکان هذافی الواقف فکیف بغیره ۔۴ (درمختار) اولمونځ په دې کې صحیح دی اودغه دوکانونه په کرایه ورکول صحیح نه دي فقط.

پېله ثبوته دمسجدپه مځکه دملکیت دعوی کول

سوال : (۳۴۱) یوسړی له بل سړی څخه مځکه رانیوله دمسجدلپاره يې وقف کړه مسجد يې ورباندي جوړکړیوبل سړی دعوی لري چې دامځکه زماده خودده سره هیڅ ثبوت نشته اودی دمسجددنړولودعوی کوي شرعًا څه حکم دی ؟ (۱۸۸۲/ ۱۳۴۲هج)

ځواب : کله چې ددعوې کوونکې سره کوم ثبوت دملکیت نشته اوبانی دمسجددغه مځکه له قبضه لروونکې څخه رانیوله وقف يې کړه اومسجديې ورباندی تعمیرکړنودا مسجدشونړول ددده صحیح نه دي اولمونځ پکې صحیح دی فقط.

---

(۱) سورة جن آیت: ۱۸.

(۲) الشامي (۳/ ۴۰۷) کتاب الوقف ، مطلب فیمالوخرب المسجد اوغیره ط رشیدیه.

(۳) سورة توبه آیت: ۱۸.

(۴) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۰۲) کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

دمسجدپه اړه دملنګیانودملکیت دعوی باطله ده

سوال : (۳۴۲) زمونږپه کلي کې یومسجدپیرپخوانی دی اووقف دی اوددې ځای نوم تکیه (هدیره) اوکوم خلک چې فقیران ، ملنګیان دي هغوئ دادعوی لری چې دازمونږ ملک دی دملنګیانوبه دې ویناخلګوپه مسجدکې اذان اولمونځ کول بندکړل اوپه حقیقت کې دادملنګیانوملک نه دی په دې صورت کې څه حکم دی ؟ (۳۲/۱۷۳۳-۱۳۳۳هج)

خواب : مسجداودمسجد په اړه چې کومه مځکه وقف ده په هغې کې دچاملکیت نشي کېدای ددغوملنګیانودملکیت دعوی کول غلط اوباطل دي مسلمانانوته پکاردي چې په دغه مسجدکې داذان اولمونځ کولواهتمام وکړي دملنګیانوپه دې ویناچې دازمونږ ملک دی ددوئ اذان اولمونځ په دې کې مه پرېږدئ فقط.

دبانې دبچیانوپه مسجدکې دملکیت دعوی کول باطل دي

سوال : (۳۴۳) یوسړی مسجدجوړکړی وودمسجدبانی وفات شودهغه زوئ ددغه مسجد په اړه دملکیت دعوی کوي دمسجدحجره پخپل کورکې ورګډول غواړې دمسجدځلور دېوالي پوره نه ده چې ورځخه سپیان اونورراځي په دې صورت کې څه حکم دی ؟(۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : مسجدمسجدوي ددې دملکیت په دعوی کولودغه مسجدله مسجدوالي نه وزي دملکیت دعوی اوتصرف ددې باطل اونارواديي کلېوال مسلمانان دې مرسته سره وکړي دغه سړی دې له دغونارواتصرفاتومنع کړي اودمسجدځلوردېوالي اونوردې جوړکړي اودمسجدپه حجره کې دي دی تصرف کولوته نه پرېږدي.

وقف شوې مسجدونه اومدرسې دچاځاني ملکیت نه دي

سوال : (۳۴۴) په وقف شویومسجدونواومدرسوباندي ملک راتلای شي ،که نه ؟ یعنی څوک ددوئ مالک جوړېدای شي ،که نه ؟ که څوک جبرًا دملک دعوی وکړي نوڅه حکم دی ؟(۱۹۰۷/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : قال فی الدرالمختار: وجعل الواقف الولایة لنفسه جازبالاجماع وکذالولم یشترط لاحدفالولایة له عندالثانی وهوظاهرالمذهب نهرالخ (۱) وفیه ایضا : ومادام احدیصلح للتولیة من اقارب الواقف لایجعل المتولی من الاجانب الخ (۲) وفیه البانی للمسجد اولی من القوم بنصب الامام وکذااولاده وعشیرته اولی من غیرهم (۳) (شامی ۳/۴۱۴) وفی الدرالمختار: واذاتم ولزم لایملک ولایملک (۳/ ۴۰۲کتاب الوقف) له دغوعبارتو نوڅخه څوخبرې څرګندې شوې یوه داچې وقف دچاملک نه وي نووقف شوې مسجدونه اومدرسې دچاملک نه دي.

بڼځې خپل مکان دمسجدپه نامه وقف کړنوپه دې کې به ددې دبچیانوبرخه وي ،که نه ؟

سوال : (۳۴۵) یوې مېرمنې خپل مکان دمسجدپه نامه وقف کړددې دوې لونې دي دهغوئ برخه به څومره وي ؟ په دغه مسجدکې نن ،صباتعمیراوترمیم شروع دی وروپوته اړتیاده متولي دغه مکان خرڅولای شي اوپه دې کې یې صرفولای شي ،که نه ؟ (۷۲۱/ ۱۳۴۳هج)

خواب : که دغه کونډې دغه مکان پخپله روغتیاکې وقف کړی دی نودغه ټول مکان مسجدته وقف شوپه دې کې دانجونوبرخه پاته نشوه اوکه یې دمرګ په ناجوړې کې وقف کړی دی نویوه درېیمه وقف شوه اودوې درېیمې ددې له مرګه وروسته ددې ولونوته برابرې ورکول کیږي په دې شرط چې کوم بل عصبه موجودنه وي اوکه وقف کوونکې دوقف کولوپرمهال ددغه وقف کړې مکان دخرڅولواوپه مسجدکې ددې قېمت لګولو اجازه نه وه کړې نوددې خرڅول اوددې قېمت په مسجدکې لګول صحیح نه دي.

دمسجدمځکه ېرته په ملک کې دراوستلوکوم صورت نشته

سوال : (۳۴۶) دمسجد دمځکې ېرته په ملک کې دراوړلوکوم صورت شته ،که نه ؟ (۳۵۷/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

---

۱) الدرالمختار (۳/ ۴۱۱) کتاب الوقف ، مطلب فی اشتراط الواقف الولایة لنفسه ط رشیدیه.
۲) الدرمع الرد (۳/ ۴۵۰) کتاب الوقف ، مطلب لایجعل الناظرمن غیراهل الوقف ط رشیدیه.
۳) الدروالشامی (۳/ ۴۵۴) کتاب الوقف قبل مطلب فی الوقف المنقطع الاول ط رشیدیه.

خواب: کوم ځای چې شرعي مسجدوګرځېدی یعنی په وقف شوې مځکه کې مسجد تعمیرشوهغه دهمېشه لپاره مسجدوګرځېدی دهغه په ملک دراتلوکوم صورت نشي کېدای قال فی الدرالمختار: فاذاتم ولزم لایملک ولایملک (۱) وفیه ایضا: ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عندالامام والثانی ابدا الی قیام الساعة الخ (۲) فقط

دنوې مسجدپه جوړولوله زاړه مسجدځخه مدرسه جوړول

سوال: (۳۴۷) په یوه ځای کې دننه یومسجددی، شاوخواورته دهندوانوکورونه دي ،څکه نودمسلمانانوپه اتفاق سره دارأیه شوه چې بل له کلې وتلی مسجدجوړکړواوپه مخکنې مسجدکې مدرسه جوړه کړوپه مخکنې مسجدکې مدرسه جوړېدای شي ،که نه ؟ (۳۲/۲۲۰۸-۱۳۳۳هج)

ځواب: مخکنی مسجدهم دمسجدپرحال پرېښوول ضروري دي کوم ځای چې یوځل مسجدشي هغه دهمېشه لپاره مسجدوي مسجدوالی ورباطلول دده روانه دي نوکه دارټیاپه وجه بل مسجدجوړکړل شي نوداصحیح دی خواول مسجدبه هم مسجدوي دمسجدآداب به همېشه پکې قائم وي.

دمسجدپه زیاتوب مځکه کې مدرسه جوړول

سوال: (۳۴۸) یومسجددی چې ورسره نژدې زیاتوب مځکه دمسجدپرته ده اوس ددې کلې خلک یوه مدرسه جوړول غواړې اوټول اقرارکوي چې حالادې یوه مدرسه په دغه زیاتوب مځکه کې جوړه کړله شي کله چې دمسجدومځکې ته ضرورت شي سمدستي به ورپرېښوول شي اوس پوښتنه داده چې په دغه مځکه کې مدرسه جوړول روادي ،که نه ؟ (۳۳-۲۱۰۴/۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب: کومه مځکه چې دمسجدده په هغې کې مدرسه اونورجوړل صحیح نه دي کماصرح الفقهاء بأن مراعاة غرض الواقفین واجبة (۳) فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۳۴۹) دمسجدسره نښتې دمسجدخپله مځکه واقع ده که په دغه مځکه کې داسي

---

(۱) تنویرالابصارمع الشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف مطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختارمع الشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

(۳) الشامی (۴۲۴/۳) کتاب الوقف، مطلب مراعاة غرض الواقفین واجبة الخ ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

مدرسه جوړه کړو چې پکې له دینې کتابونو پرته دانګریزي اونورو هم زدکړه ورکوله شي په مسجد کې به ډیر شور او غوغاوي دا صحیح دی ،که نه ؟ (۱۲۱۷/ ۱۳۴۰هج)

ځواب : دمسجد پخپله اووقف مځکه کې دوقف کوونکې له شرط پرته داسې مدرسه جوړول صحیح نه دي کماهو مذکور فی عامة کتب الفقه: شرط الواقف کنص الشارع مراعاة غرض الواقفین واجبة (درمختار اونور) فقط.

سوال : (۳۵۰) که کومه مځکه دمسجد لپاره وقف شوې وي نوبیا وقف کوونکی یا غیر وقف په دې ځای کې مدرسه جوړولای شي ،که نه ؟ (۱۱۳۸/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : نشي یې جوړولای قال فی الشامی : وفی الاسعاف ولایجوزله ان یفعل الاماشرط وقت العقد(۱) وفیه علی انهم صرحوابان مراعاة غرض الوقفین واجبة الخ(۲) وفی الدرالمختارشرط الواقف کنص الشارع الخ(۳)

دمسجدپه حدودوکې د واقع مدرسې حکم

سوال : (۳۵۱) هغه مدرسه یامکان چې دمسجد په حدودوکې وي هغه دمسجد په حکم کې ده که دمسجد له حکم وتلې ده اودهغې ترمیم دمسجد په آمدني کیدای شي ،که نه ؟ (۱۴۸۷/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : دانښکاره ده چې هغه مدرسه اونوردمسجد په حکم کې نه دي اودمسجداداب دد وئ لپاره ثابت نه دي اودمسجدآمدني په دوئ کې صرفول صحیح نه دي.

مسجدویرانول ، وربانديي هدیره جوړول روانه دي

سوال : (۳۵۲) که کوم قوم خپل مسجدویران کړي وربانديي هدیره جوړه کړي اوبل مسجدجوړکړي آیاددوئ په ویرانولودزاړه مسجدعزت پرځای پاتیږي ،که نه ؟ اومړي ښخول په دې ځای کې روادی ،که نه ؟ اوکوم څوک چې دپخواني مسجددحرمت دپورته کولواودمړیودښخولودجوازعقیده لروونکې دي هغوئ شرعًا فاسقان دي ،که نه ؟ (۳۲/۲۱۲۲-۱۳۳۳هج)

---

(۱) الشامی (۳/ ۴۷۳) کتاب الوقف ، مطلب: لایجوزالرجوع عن الشروط ط رشیدیه.

(۲) الشامی (۳/ ۴۴۴) کتاب الوقف ، ط رشیدیه.

(۳) الشامی (۳/ ۴۵۲) کتاب الوقف ط رشیدیه.

ځواب : کوم ځای چې یوځل مسجد وګرځیدی هغه دهمېشه لباره مسجد شو دهغه مسجد والی څوک نشي باطلولای اودزاړه مسجد په عزت اوحرمت کې په دغه بدلون سره هیڅ فرق نه راځي مسجدوالی دده پرځای دی اوددوئ په ویرانولوپکې مړی ښخول جائزنه دي اوکوم څوک چې سره له خبرتیاداسي وکړي هغوئ فاسقان دي قال فی الدرالمختار: ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجداعندالامام والثانی ابدااالی قیام الساعة وبه یفتی الخ ای ولومع بقائه عامراوکذالوخرب ولیس له مایعمربه وقداستغنی الناس عنه لبناء مسجدآخر(۱) (شامی) وبه علم ان الفتوی علی قول محمدفی آلات المسجدوعلی قول ابی یوسف رحمه الله فی تأبیدالمسجدوالمرادبآ لات نحوالقندیل والحصیربخلاف انقاضه لماقدمناعنه قریبا من ان الفتوی علی ان المسجدلایعودمیراثاالخ(۱)

دمسجدپرځای مسافرخانه اودمسافرخانې پرځای مسجدجوړول

سوال : (۳۵۳) پریوه وقف شوې مځکه یومسجداومسافرخانه دلس ، دوولس ګزه په واټن جوړشوې دي دواړه ځایه مځکې لنده بل لري په باران کې مردارې اوبه ترمسجدلاندي جمع کیږي په دې وجه یوې ښځې ددې مسجدپوخ جوړولووصیت وکړوفات شوه یوه سړی ددې له لورې وپوخ مسجدجوړولوته آماده دي کلهوال وایې چې دمسجدپرځای مسافرخانه اودمسافرخانې پرځای مسجدجوړشي دغه بدلون روادی ،که نه ؟ که کلهوال دلته مسجدجوړول نه یې پرېږدي نودغه روپۍ په بل مسجدکې لګولای شي ،که نه ؟(۱۳۴۱/۵۲۰هج)

ځواب : دغه بدلون شرعًا روانه دی لکه چې دفقهې په کتابونوشامی اونوروکې څرګندونه ده چې دمسجدپرهمېشه والي فتوی ده یعنی کوم ځای چې یوځل مسجدشي هغه همېشه مسجدوي ددې دمسجدوالي باطلول په هیڅ وخت اوپه هیڅ حال کې صحیح نه دي اوکلهوال که دغه مسجدجوړېدوته پرې نه ږدي نودغه روپۍ په بل مسجدکې لګولای شي فقط.

(۱) الدروالرد (۴۰۷/۴) کتاب الوقف ، مطلب فیمالوخرب المسجدوغیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجددځلوردېوالي له یوه کونج څخه بل کونج ته مسجدانتقالول

سوال : (۳۵۴) دښارپرغاړه یوخام مسجددی دهغه ودانۍ زړه اوخرابه شوې ده ،څکه نوله نوې سره وجوړولوته اړتیالري دمسلمانانوخیال دی چې دمسجد په څلور دېوالۍ کې دننه دشمال ولورته مسجدنقل کړواودزاړه مسجدپرځای مسافرخانه یادمسجداړتیاوولپاره کورونه جوړول صحیح دي ،که نه ؟(۱۳۴۲/۱۳۴۴هج).

ځواب : صحیح اومفتی به دادی چې کوم ځای مسجدوګرځي هغه همېشه مسجد وي دهغه دمسجدوالي نقلول صحیح نه دي یعنی دانشي کېدای چې کوم مخکې مسجدووهغه مسجدنه شي پاته اوپه هغه کې کوم بل مکان دمسجداړتیالپاره یامسافرخانه یادو کانونه جوړکړل شي داسي کول صحیح نه دي اماداسي کېدای شي چې دغه مسجدپراخ کړي یعنی کوم چې له مخکې څخه مسجدووهغه هم مسجدوي اوپه هغۀ کې څه مخکه نوره ورګډه کړله شي په شامی کې راغلې دي: وبه علم ان الفتوی علی قول محمد رحمه الله فی آلات المسجد وعلی قول ابی یوسف فی تأبید المسجد الخ (۱) وفی الدرالمختار: ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عندالامام والثانی ابدا الی قیام الساعة وبه یفتی وفی الشامی : وهوالفتوی حاوی القدسی واکثرالمشائخ علیه مجتبی وهوالاوجه فتح وفیه ایضا : لکن علمت ان المفتی به قول ابی یوسف رحمه الله (۱) فقط

دمسجدیاکوم بل وقف خرڅول روانه دي

سوال : (۲۵۵) یومسجددهندوانودکورنوسره یومخ نښتی دی اوهغه خلک زیاترغزلې ږغوي چې ورڅخه په لمانځه کې ډیرتکلیف وي اوله منع کوکولوڅخه دفساداندېښنه ده دمسلمانانودااراده ده چې ددغه مسجدتوله مځکه پرهندوانوخرڅه کړواومسجددخپل کلې په مینځ کې جوړکړوداسي شرعًا روادي ،که نه ؟(۴۴/۴۸۹-۱۳۴۵هج)

ځواب : دمسجدیاکوم بل وقف خرڅول روانه دي دفقهې په کتابونوکې څرګندونه ده چې کله وقف تام اولازم شي نوبیاپرهغه نه دچاملکیت پاتیږي اونه ملکیت ورباندي راتلای شي

(۱) الدروالرد (۴۰۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

کمافی الدرالمختار: فاذاتم ولزم لایملک الخ وفی الشامی ای لایکون مملوکالصاحبه ولایملک ای لایقبل التملیک لغیره بالبیع ونحوه الخ (۱) په ټهره بیادمسجد معامله چې دهغه په اړه صفااوځرګندداحکم دی چې کوم یوځل مسجد شوهمېشه به مسجدوي کوم لوئ نه لوئ عذرهم په دې اړه نشي اوربدل کېدای ولوخرب ماحوله یبقی مسجداعندالا مام والثانی ابداالی قیام الساعة وبه یفتی حاوی القدسی (۲) (درمختار) نوپه پوښتل شوې صورت کې دمسجد اونورو خرڅول په هیڅ حال کې روانه دي.

مسجدبل ځای ته نقلول صحیح نه دي

سوال: (۳۵۲) زید پخپله رانیولې مځکه کې یوه دلرګوکارخانه جوړه کړه اوپه دغه کارخانه کې یې نژدي دشل ګزه پرواتن یوکوچنی دلرګیو(دځان اودخپلو مامورینودلمونځ کولولپاره پخپلوروپو)مسجدجوړکړدمسجد جوړولوپر مهال دزیددانیت ووچې که اړتیا شوه نودغه مسجدبه دکارخانې کوم مناسب کونج ته نقلوم دمسجددجوړېدونژدي شل کاله وشول دزیدپه ژوندکې په دغه مسجدکې پنځه وخته اذان اولمونځ کېدل دجمعې لمونځ به هم همېشه پکې کېدی اوکله ناکله به داخترونولمونځونه هم پکې کېدل ځوکاله وروسته هلته زیدیوه بله کارخانه دوریجوقائمه کړه اوس دمسجداوهغې کارخانې ترمینځ صرف داتوفتووواتن پاتی دی دړې کاله کیږي چې زیدوفات شودزید بچیانوخپل ټول جائداد پربکرخرڅ کړچې پکې دغه مسجدهم ورشامل دی له دغې کارخانې ځخه چې کومې خاورې اودوړې راپورته کیږي هغه ټولې دمسجد پرفرش اونوروجمع شي دمسجدوصفاپې ته تاوان رسوي اولمونځ کوونکې همېشه ددغوخاورواودوړوشکایت کوي اوپنځه وخته لمونځونه ببله جاروولونشي کولای اوس بکرداغواړې چې دمسجد دبانې له نیت سره سم دغه مسجد پورته کړي دکارخانې وکوم بل مناسب ځای ته یې نقل کړي کوم ځای ته چې دنقلولواراده ده هغه ځائی کلې ته نژدي دی ،ځکه لمونځ کوونکې به زیات شي په دې صورت کې مسجد پورته کول اوخالي مځکه دخپل خواهش سره سمه استعمالولای شي ،که نه ؟(۳۲/۲۱۰۷- ۱۳۳۳هج)

(۱) الدروالشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف مطلب فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه.
(۲) الدرمع الشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

ځواب : اقول وبالله التوفيق: کله چې دغه ځای زید دمسجدلپاره خاص کړاوپه دې کې يې مسجدجوړکړاوپه جماعت سره لمونځ اواذان پکې شروع شول نواوس يې باطلول ددې مسجداوبدلول ددې مسجدصحيح نه دي دبل مسجدارتياسره سم پرمناسب ځای جوړولواختيارشته اوجائزدی خواول مسجدچې مسجدګرځېدلی دی هغه هم خوندي کول اومسجدبلل ضروري دی اوهغه په خرڅلاوکې داخل نه دی په شامي کې پردې ځای چيري چې ددرمختارددې قول يادونه ده ولاذکرمعه اشتراط بيعه وصرف ثمنه لحاجته فان ذکره بطل وقفه الخ(۱) ځرګندونه کړې ده چې په مسجدکې داقاعده نه جاري کيږی حيث قال قوله ولاذکرمعه اشتراط بيعه الخ فی الخصاف لوقال علی ان لی اخراجهامن الوقف الی غيره اوعلی ان اهبها واتصدق بثمنهااوعلی ان اهبها لمن شئت اوعلی ان ارهنهامتی بدالی واخرجهاعن الوقف بطل الوقف ثم ذکران هذافی غيرالمسجداما المسجدلواشترط ابطاله اوبيعه صح وبطل الشرط(۱) وفيه ايضا: قال فی البحروبه علم ان الفتوی علی قول محمدرحمه الله فی آلات المسجدوعلی قول ابی يوسف رحمه الله فی تأبيدالمسجدالخ(۲).

سوال : (۳۵۷) يوځای ديوه مسجدچوتره سره دغرب دلورې دېوال دانسان دقدپه اندازه چې پکې ددغه مسجدمحراب له پخوازمانې څخه موجوددی اوپه کوم کې چې اذان اوپنځه وخته لمونځ له همېشه څخه کيږي اوس يوکال کيږي چې ددغه مسجددريولورو دېوا لونه اويادشوی غربي دېوال دکلې مسلمانانوپه خوښه اودهندوزمينداړپه اجازه جوړکړاومسجدپرچوتره باندې يې دوښوچت واچاوواوس نومورې هندوزمينداردنورو هندوا نوپه تېروتنه دمسجدغه دېوالونه اودچوتړې چت (بام) نړول غواړې نوپه داسي صورت کې دمسلمانانودغه مسجدله دغه ځايه ليرې کول بل ځای مسجدجوړول اودغه مسجدتول ياځه په نړولوراضي کېدل په شريعت محمدی صلی الله عليه وسلم کې روادي ،که نه ؟ (۱۰۷۸/۱۳۴۵هج)

ځواب : شرعی حکم دادی چې کوم مسجديوځل مسجدوګرځي هغه دهمېشه لپاره مسجدوي اووقف ګرځي نقول دهغه دارازچې زورمسجديومخ ونړول شي اودمخکې مخ ځېنې صفاشي اودمالک

(۱) الدرالمختاروالرد(۳/۳۹۴) کتاب الوقف ، قبل مطلب فی وقف المرتدوالکافرط رشيديه.
(۲) الشامی (۳/۴۰۷) کتاب الوقف مطلب فيمالوخرب المسجداوغيره ط رشيديه.

په حیث پکي تصرف وشي اوددې په بدل کې بل مسجدودان کړل شي صحیح نه دی امادوقف کوونکې مالک کېدل دوقف کولوپرمهال شرط دی اوداهم دي چې وقف کوونکی بایدمسلمان وي نوکله چې هندوزمینداردغه مځکه دمسجددجوړولو لپاره ومسلمانانوته ورکړه اومسلمانانوورباندي مسجدجوړکړاوچوتره اودمسجد ننبه یې ورباندي قائمه کړه اواذان اولمونځ پکي کېدل شروع شول نودامسجدشو اوس دده بدل اودده مسجدوالی ورباطلول اوختمول دده دهیچالپاره روانه دي: لان الفتوی علی تأبید المسجد(الشامی ۲/ ۴۲۹کتاب الوقف) فقط.

سوال : (۳۵۸) په یوه مسجدکې دجمعې لمونځ کېدای اوس له څومیاشتوراهیسي یې په دې مسجدکې لمونځ په دې وجه پرې ایښی دی چې دده وځلوروطرفونوته خوشایې اوبدبوئ وي چې ورځخه لمونځ کوونکې په تکلیف وي اودمسجدوځنګ ته په کورکې وریجې دلمانځ پروخت ټکوي چې ورځخه په لمانځه کې خلل وي ،ځکه نودغه مسجدبل ځای ته نقل کول اودده سامان دلرګوستنې اونوربل ځای ته وړل صحیح دي ،که نه ؟(۱۲۳۲/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : په شامی کې یادونه راغلې ده: ان الفتوی علی تأبید المسجد(الشامی ۲/ ۴۲۹کتاب الوقف) یعنی فتوي پردې ده چې مسجدهمېشه مسجدوي ،ځکه نوانتقال دده اودده دسامان صحیح نه دی اولمونځ په دې کې اداکیږي خواولی اوافضل دادی چې مسجدته نژدي خوشایې اونورنه وي چې ورځخه لمونځ کوونکوته تاوان پېښ شي پرلمونځ کوونکوپه دې صورت کې هیڅ ګناه نشته اولمونځ اداکیږي اماودغونژدي اوسېدوونکوته دې نصیحت وکړل شي چې داسي کارونه مه کوئ فقط.

په بدل اخستلودمسجدمځکه وښاروالي ته ورکول

سوال : (۳۵۹) دکلې څومسلمانانوپه چنده یوکوچنی سرای دمسجدجوړولولپاره له یوې هندوانۍ رانیوی اوسرای یې ونړوی مځکه یې سره برابره کړه اوورباندي یې دځه وخت لپاره دوښوچت جوړکړپنځه وخته لمونځ په دې کې نه دی شوی صرف دباران په ورځواو ژمې کې کې څوکسانودوه کاله هلته تراویح اداکړې تېرکال یې له ښاروالي ځخه

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجد جوړولولپاره اجازه وغوښته خواجازه ورنه کول شوه پرمځکه چې دوښوکوم چت ووسړکا ل په باران کې ونړېدی اوس ښاروالي دغه مځکه په عوض ورکول غواړي اوددې دااراده هم ښکاره شوې ده چې په هیڅ حال کې دې دمسجد جوړولواجازه ورنه کول شي په داسي حال کې کله چې دمسجد جوړولوغرض هم نه پوره کیږي نوآیاکه موږددغې مځکې بدل واخلوپه دغه بدل بل ځای مسجدجوړولای شو،که نه؟(۱۳۳۷/۲۴۵۴هج)

ځواب: که یې دغه مځکه دمسجدلپاره وقف کړې وه نودامسجدشوه ودانۍ که پرجوړه شوې وي ،که نه نوددې عوض اخستل اوبدلول ددې صحیح نه دي ببله ودانۍ دوښوچت ورباندي جوړکړی لمونځ پکې کوئ کله چې دتعمیراجازه وشي هغه وخت ودانۍ ور باندي جوړه کړئ اوکه ودانۍ ورباندي نه وي بیاهم هیڅ پروانلري مسجدخوبه په هرحال وي فقط.

دکوموسجدونوحال چې معلوم نه وي دهغوئ بل ځای ته نقلول روانه دي

سوال: (۳۶۰) په یوه لوئ کلي کې درې مسجدونه دي اوددغومسجدونومځکه دحکومت له لوري وقف نه ده اوریدل کیږي چې حالادزمینداراله لوري په خوله وقف ده اوددې هم کوم پوخ سندنشته نه لیلکې دوقف پاڼه شته آیاداصرف دالله رب العزت لپاره وقف ده اومسجددی ،که نه؟داسي مسجدونه نقلول صحیح دي ،که نه؟اوددوئ سامان پرنورو مسجدونو لګول صحیح دي ،که نه؟(۱۳۴۲/۲۹۴۵هج)

ځواب: دکوموسجدونوحال چې معلوم نه دی اوحالاپه هغوئ کې اذان اولمونځ کیږي نودغه مسجدونه شرعي مسجدونه دي ددوئ بدلول اوانتقالول روانه دي لان الفتوی علی تأبید المسجدولایجوزنقله ونقل ماله الی مسجدآخر(الشامی ۶/ ۴۲۹/ کتاب الوقف) نوددغومسجدونومسجدوالی باطلول اوانتقالول صحیح نه دي.

دبدبوئ په وجه مسجدتبادله کول

سوال: (۳۶۱) دلارپه انارکلي کې یومسجددی چې ترشفاخانه لاندي راځي هلته شفاخانه(روغتون) اونورجوړیږي اودمړومردارشیان سوځل کیږي چې له املې یې په مسجد کې ډیره بده بویې وي داکترواېي چې ددغه مسجد تبادله وکړي له دې څخه نبه

مسجد به بل ځای درجوړکړو(۳۲/۱۷۰۸ - ۱۳۳۳هج)

ځواب: شرعي مسئله خوداده چي مسجدهمېشه مسجدوي هیڅکله دهغه مسجدوالی نشي باطلېدای که بل مسجدهم جوړکړل شي بیاهم دغه ځای کوم چي مسجدګرځېدلی دی مسجدبه وي اودمسجددرناوی باقي وي.

دټولولمونځ کوونکوپه اتفاق سره مسجدبل ځای ته نقلول

سوال: (۳۲۲) دکومي تنګۍ په وجه دلمونځ کوونکوپه اتفاق سره مسجدبدلول ځرنګه دي ؟ اوپه اول ځای کې تصرف کول روادي وکه نه ؟ په خلګوکې چي کومه مشهوره ده چي له تحت الثری ترعرشه پورې مسجدوي داقول ځرنګه دی ؟ اوځینې وایې چي له لومړي ځای څخه خاورې کېندل ، وړل روادي کوم قول صحیح دی ؟ (۱۹۰۴/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: بل مسجدجوړول جائزدی مسجدبدلول جائزنه دي نواول ځای دی پرهماغه حالت پرېښوول شي په هغه کې کوم ډول تصرف روانه دی اواول قول صحیح دی.

دمسجدپه بدله کې بله مځکه اخستل صحیح نه دی

سوال: (۳۲۳) ځومسلمانانوپه ګډه یوه ټوټه مځکه دمسجداومدرسې جوړولوپه غرض رانیوله وروسته دغه ټوټه دمځکې پر۱۸مئ سنه ۱۹۲۲ومدرسي اومسجدته وقف کړه په حکومت کې یې رسمي کړه اوله سنه ۱۹۲۲ء څخه تراوسه پورې یاخومسلمانانودومره وس ونه موندی چي جوړکړی یې وای یایې له ښاروالي څخه دتعمیرحکم رااخستی وای خوله هغه وخته تراوسه پورې هلته پنځه وخته لمونځ په اذان اوجماعت اودجمعې اواخترونولمونځونه کېدال اوکیږي ،ځکه نوپه داسي صورت کې دچاپه ویناومورته شرعًا ددې خبرې اجازه شته چي دغه مځکه پرېږدواوددې په بدل کې بله مځکه واخلواوپه دې کې لمونځ کوواودغه مځکه له وقف څخه بېله کړو؟ (۴۲/ ۳۵۸۵ - ۱۳۴۷ه

ځواب: په دې صورت کې هغه ځای کوم چي دمسجدلپاره یې وقف کړ اوپه جماعت سره لمونځ له سنه ۱۹۲۲ء څخه تراوسه پکې کیږي شرعی مسجدوګرځېدی اوکوم ځای چي یوځل

Maktaba Tul Ishaat. com

مسجدوګرځي هغه دهمېشه لپاره مسجدشي دهغه مسجدوالی باطلول په هیڅ ډول نشي کېدای نوبدلول دده روانه دي اومخکه وقفول اوپه هغه کې مسجدجوړول یواختیاري کاردی اوله وقف کولواومسجدورباندي جوړولووروسته وقف باطلول اودمسجدمسجد والی باطلول اووقف شوې مخکه اومسجدله وقف څخه ببلول دهیچاپه اختیارکې نه دي تردې چې پخپله ووقف کوونکې ته هم اختیارنشي پاته په درمختارکې راغلې دي: ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عندالامام والثانی ابدااالی قیام الساعة وبه یفتی حاوی القدسی اوپه شامی کې راغلې دي: قوله عندالامام والثانی فلایعودمیراثا ولایجوزنقله ونقل ماله الی امسجدآخرسواء کانوایصلون فیه اولاوهوالفتوی حاوی القدسی واکثرالمشائخ علیه مجتبی وهوالاوجه فتح آه بحرالخ (۱) قال فی البحر: وبه علم ان الفتوی علی قول محمدفی آالات المسجدوعلی قول ابی یوسف رحمه الله فی تأبید المسجدآه (۱) فقط.

کوم ځای چې وقف شومسجدورباندي جوړشوهغه دهمېشه لپاره مسجدوګرځېدی

سوال: (۳۶۴) په یوه کلې کې یومسجدوویوه مورځ داوبویاچیتایې نه کېدوپه وجه لمونځ کوونکوله متولي سره جګړه وکړه متولي ورته وویل چې که موزړه غواړې نولمونځ کوئ کنې زماله مسجده ووزئ ددې په اورېدوتول لمونځ کوونکې ولاړواویوسړی یوسرای چې پکې غوایې یې ترل پاک یې کړمسجدیې پکې جوړکړدجمعې اوجماعت لمونځ پکې شروع شوځوکاله وروسته یې رانقل کړېل ځای یې مسجدجوړکړدغه نوی مسجدصحیح دی ،که نه ؟ په دې کې په لمونځ کولودجماعت ثواب ورکول کیږی ،که نه ؟ مخکې چې کوم مسجدووهغه بایدځه په وکړل شي اوله کوم مسجدځخه چې دمتولي په وینا راوتلې ووپه هغه مسجدکې هم لمونځ صحیح دی ،که نه ؟(۳۳۴/۳۵-۱۳۳۶هج)

ځواب: که دغه سړی هغه سرای چې پکې غوایې یې ترل وقف کړاومسجدیې پکې جوړکړنودادهمېشه لپاره مسجدشودهغه نقل کول اوبدلول صحیح نه دي که بل مسجدجوړکړل شونوهغه بل مسجدهم مسجدوګرځېدی اواول مسجدهم مسجددی هغه نشي باطلولای اداب دمسجددده هم قائم ساتل پکاردي اولمونځ په دواړومسجدونوکې صحیح دی اواول مسجد چې ورځخه

(۱) الدرالشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه

متولي خلګ راوایستل هغه هم مسجد دی په هغه کې هم لمونځ صحیح دی دمتولي به دې ویناچي زماله مسجده ووزئ هغه مسجددمتولي ملک ونه ګرځیدې اومسجدوالی یې باطل نشوامامتولي ګنهګارشوفقط.

دلارې دتکلیف په وجه مسجدنقل کول

سوال: (۳۲۵) زیددخپل کورپه ځلوردهوالي کې مسجد جوړکړی وواودمسجدلاره یې په یوه سرای کې دننه ورکړې وه بله لاره دمسجدنه شوه کېدای اوس دسرای والوخوښه نه ده اولمونځ کوونکوته هم تکلیف ده مکان والادغه مسجد پخپل تصرف کې راوړل غواړې اوددې په بدل کې بل ځای ورکول غواړې ددې عذرپه وجه مسجدله دې ځایه نقلکول صحیح دي، که نه؟ (۳۵/۴۲/۱۳۳۲هج)

ځواب: دغه عذردمسجددنقل کولونشي کېدای اوداول مسجدباطلول اوبدلول صحیح نه دي وصرح فی الخانیة: بأن الفتوی علی قول محمد قال فی البحر: وبه علم ان الفتوی علی قول محمد رحمه الله فی آلات المسجد وعلی قول ابی یوسف رحمه الله فی تابید المسجد الخ ثم قال: ان الفتوی علی ان المسجد لایعود میراثاولایجوز نقله ونقل ماله الی مسجد آخر الخ(۱)وفیه ان المسجد اذاخرب یبقی مسجد ابدًا (۱)

دکوم مسجدمخ چې قبلې ته برابرنه وي دهغه تبادله روانه ده

سوال: (۳۲۶) یوسړی پخپله ځلوردهوالي کې پربوه ټوټه مځکه مسجد جوړول وغوښت اوددغې مځکې بنیادونه یې ډکړل خامه چوتره یې ورباندي جوړه کړه چې ورباندي له لس، دوولس میاشتوځخه اذان اولمونځ کیږي خواوس معلوم شوچې رخ ددغې چوترې دقبلې وطرفته برابرنه دی بلکې درې فټه ګرځېدلی دی اوس وقف کوونکی داغواړي چې ددغې مځکې پرځای کومه بله ټوټه دمځکې دمسجدلپاره انتخاب کړي اوپرهغه مسجد جوړکړي اودغه دچوترې مځکه پخپل کارراولي نودغه تبادله رواده، که نه؟ (۲۰۲۰/۱۳۴۳هج)

ځواب: دغه دچوترې ځای مسجدوګرځیداوددې تبادله روانه ده ددې رخ وربرابرکړئ اوپه لږفرق سره یې په لمانځه کې کوم تاوان نه راځي په قبله نمابانديې وګورئ

(۱) الشامی (۴۰۷/۳) کتاب الوقف. مطلب فیمالوخرب المسجد اوغیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

که لږفرق وي نو هیڅ پروانکوي فقط.

دلمانځه لپاره دجوړې کړې کوټې تبادله صحیح نه ده

سوال : (۳۲۷) له شپیتو اویاکلونوراهیسي یوه خامه کوټه دلمانځه لپاره جوړه کړل شوې ده ، تیرکال هغه ونړېده اوپه حکومتي اسنادوکې دلمونځ ځای کوټه لیکلی دی آیاددې تبادله په شریعت کې رواده ،که نه ؟ اوهغه دغه خامه کوټه یومخ دمسجد په صورت کې جوړه شوې ده (۲۲/ ۳۳ - ۱۳۳۴هج)

ځواب : دغه دمسجد کوټه په شریعت کې بدلول صحیح نه دي دغه ځای مسجد دی اودمسجد بدلول اولیري کول صحیح نه دي اونه دهغه خرڅول اورانیول کېدای شي.

دڅه وخت لپاره په جوړ کړې مسجدکې کښت کول صحیح دي

سوال : (۳۲۸) کوم ځای چې دڅومیاشتولپاره دمسجد په نیت جوړکړل شي آیاپه هغه ځای کې کښت کول کېدای شي ،که نه ؟ اودهندوسره په اسانوکې شراکت صحیح دی ،که نه ؟ (۳۲/۲۰۷۸ - ۱۳۳۳هج)

ځواب : ترڅوچې کومه مځکه دمسجدلپاره وقف نکړل شي ترهغوهغه مسجدنه ګرځي نوکوم ځای چې دڅومیاشتولپاره ولمانځه ته په خاصولوسره هغه ځای مسجدنه ګرځي په هغه کې کښت صحیح دی اودکفارواونوروپه تجارت کې شراکت صحیح دی.

دمسجددشهیدولواوله دې کارڅخه دمنع کوونکوحکم

سوال : (۳۲۹) (الف) یوجامع مسجددی پکې پنځه وخته لمونځ کیږی ځینوخلګودارأیه ورکړه چې مسجدشهیدکړي ډبرې اونورپه عیدګاه کې ولګوي څه حکم دی ؟

(ب) کوموخلګوچې دمسجددشهیدولومشوره ورکړې وه هغوئ په مسجدکې راجمع شول دمسجددغولې ډبرې یې راوکښې نوروخلګودوئ له ډبردوراکښوڅخه منع کړوددې په اړه حکم څه دی ؟

(ج) دعیدګاه په مقابل دمسجدرتبه څومره ده ؟

(د) کوموخلګوچې دمسجدنړولورأیه ورکړې ده اوپه کوشش کې دي هغوئ دمسلمانانوپه نزدڅرنګه دي ؟

(هـ) کومو خلګو چې د مسجد دغولې ډبرې وکښې هغوئ څنګه دي ؟
(و) کومو خلګو چې له مسجد شهید ولوڅخه منع کړواوپه همدې کوشش کې دي هغوئ څنګه دي ؟(۲۱۲۳/۳۲-۱۳۳۳هج)

خواب : (الف) کوم ځای چې یوځل مسجد شي هغه دهمیشه لپاره مسجدوي ویرانول اونړول دهغه صحیح نه دي اودمسجد سامان په عیدګاه اونوروکې لګول روانه دي.
(ب) کومو خلګو چې ډبرې اونورراکښلې دي هغوئ پرخطادي اوکومو خلګو چې دوئ منع کړل هغوئ دثواب کاروکړدوئ منع کول په نهی عن المنکرکې داخل دي.
(ج) پرغلطي دي.
(هه) بدیې وکړل اوګنهګاران شول خودنا خبرتیا په صورت معذوره کیدای شي.
(و) ډیردیندار اوبشپړ ایمان والادي فقط.

دمسجدله ویرانیدوورو سته هم دده درناوی لازم دی

سوال : (۳۷۰) کله چې کوم مسجدویران شي اوبل مسجدجوړکړي نودلومړي مسجد پرځای کښت کوي اوغواړې غوایې اونوروتړي اودقبرهم سخته بې ادبي کوي کله چې دقبرکال ، دوه کاله وشي هلته کښت کري اوکورجوړوي ؟ بینوا توجروا(۱۵۷۲/۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : دفقهې په کتابونوکې لیکلې دي چې مسجدله ویرانیدوورو سته هم مسجدوي اوکوم ځای چې یوځل مسجدشوهغه به همیشه مسجدوي په شامي کې راغلې دي: وبه علم ان الفتوی علی قوله محمدرحمه الله فی آلا ت المسجدوعلی قول ابی یوسف رحمه الله فی تأبید المسجد(۱) وفیه عن الاسعاف ولوخرب المسجدوماحوله وتفرق الناس عنه لایعودالی ملک الواقف عندابی یوسف رحمه الخ(۱) لنډه داچې زوړمسجدهم مسجددی دهغه بې ادبي صحیح نه ده اوټول مسلمانان بایددمسجددرناوي خیال وساتي اودقبرونوبې ادبي اوکندل هم نه دي پکاردفقهې په کتابونوکې لیکلې دي چې هدیره که زړه وي نوپه هغه کې کښت کول اومکان جوړول صحیح دي له دی

(۱) الشامی(۴۰۷/۳) کتاب الوقف مطلب فیمالوخرب المسجد اوغیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat .com

معلوم شوچي دنووقبرونوسره داسي معامله کول نه دي پکار فقط.

که دمسجددبې ادبي اندښنه وي نوهغه په شاوخوادېوال خوندي کړئ

سوال: (۳۷۱) یوځای یوخام مسجددچوترې په شکل جوړشوی دی اوترډیرې مودې لمونځ کوونکیوپکي لمونځونه کول له دې وروسته ودې ته نژدې بل پوخ مسجدجوړشولمونځ په هغه کې کیږي مخکنی مسجدبېکاره ولاړدی دحیوانانو دمرداری په وجه یې بې ادبي کیږي ددې سره کومه طریقه وکړ؟ (۱۷۸۱/ ۴۶-۱۳۴۷هج)

خواب: پرکومه مځکه چې مخکې دچوترې مسجد جوړشوی ووکه دهغه دمالک په اجازه جوړشوی وواولمونځونه وربانديوشول نوهغه شرعی مسجدشوپه هغه کې دکوم بل کاروباراجازه نشته که بېکاره دی نوپه ځلوردېوالې سره دې خوندي کړي فقط.

سوال: (۳۷۲) دلته کله چې چونې آباده وه اوپلټن اوسیدی نوفوځیانوخام پوخ مسجدجوړکړی ووکله چې پلټن اونورله دې ځایه ولاړواوس دغه ځای یومخ ناآباددی حکومتي ودانۍ ټولې نیلام شوې اوس دلته کښت کیږي دمسجد ځارنه یاترمیم اونوریومخ نه کیږي ددې ځای مسلمانانومالي حالت ډیرکمزوری دی لمونځ اونورپه دې مسجدکې نه کیږي زیاتره وخت غواوې ،غوایې اونور په ننوزي دمسجدټول فرش خراب وي اودنه ترمیم په وجه مسجدنړیدلی دی په داسي صورت کې ددغه مسجدسامان اونوردنوې کلې ومسجدیادمسجدپه اړه وقف مکانونوپه ترمیم کې ولګول شي ،که نه ؟ اوپه داسي حال کې کله چې مسجدناآباددی اونړیږي اودلته کوم ډول آبادي نشته شهیدکړل شي ،که نه ؟ ،ځکه چې په داسي حال کې سخته بدانتظامي کیږي چې ګناه ده ؟ (۲۱۲۱/ ۴۶-۱۳۴۷هج)

ځواب: کله چې ددغه مسجدآبادېدوکوم صورت نشته نوددې سامان اونورچې دضائع کېدواندېښنه یې ده په بل مسجدکې لګول روادي اوپردغه ویران مسجددې شاوخوادېوال داډول راوګرځول شي چې بې ادبي یې ونه شي که ددېوال راګرځولولپاره روپۍ نه وي نوددې مسجدسامان اونوردې خرڅ کړي په هغه دې دېوال وربانديراوګرځوي فقط.

په سېلاب کې نړېدلې مسجدپرځای کورجوړول

سوال : (۳۷۳) یومسجدسېلاب په راتلوشهیدشواودهغه هیڅ نښه پاته نه شوه څوورځې وروسته پردغه ځای یوکورجوړکړداجائزدی ،که نه ؟(۱۳۴۱/۱۰۰۰هج)

ځواب : کوم ځای چې مسجدووهغه به همېشه مسجدوي پردغه ځای په کورجوړولودغه مڅکه له مسجدوالې څخه نه وزي فقط.

دمسجددننې اوبهرنې برخې حکم

سوال : (۳۷۴) آیاغولی دمسجداومکان دمسجدیوحکم لري که جلا ، جلا ؟ که دمسجدترغولې لاندي دکانونه وي چې چتونه دمسجدپه غولې کې داخل وي اوپرهغوئ لمونځونه کیږي نودهغوئ څه حکم دی ؟ آیاهلته لمونځ صحیح دی ؟ اوددغوکوټوکرایه دمسجدپه کارونوکې صرفول مباح دی ،که نه ؟ له صحن پرته دځلودېوالې مڅکه دمسجددننه خالي ولاړه مڅکه که ددکانونوپه چت کې وي نوهغه دچاپه حکم دی ؟ آیادمسجددځلوردېوالې سره ننښتې ددباندي وطرفته ددکانونوکرایه صرف په مسجدکې دکارولووړبلل کیږي ؟(۸۴۲/۴۶-۱۳۴۷هج)

ځواب : دمسجددننې برخې چې چت وربانډی شته اوبهرنې برخه یعنی غولی ددواړویوحکم دی اودمسجدترصحن لاندي که دکانونه وي نوهغه غولی هم دمسجدپه حکم دی په هغه کې لمونځ کول صحیح دی اودمسجدثواب په هغه کې ورکول کیږي اوکومې کوټې اودکانونه چې دمسجدترغولې لاندي دي هغه دمسجددي دهغوئ کرایه بایددمسجدپه اړتیاووکې ولګیږي دمسجدله اړتیاووپرته کوم بل مصرف ددوئ نشته اوکومه دځلوردېوالې مڅکه چې په مسجدکې دننه ده دمسجدله غولې پرته هغه مڅکه هم دمسجدملک ده اووقف ده خوهغه مڅکه دلمانځه اداکولواواعتکاف اونوروپه هکله دمسجدحکم نلري خواه که هغه برخه ددکانوپه چت کې وي اوکه نه وي اودمسجدترغولې لاندي دکانونویادمسجدترځلوردېوالې لاندي دکانونوڅخه چې کوم دکانونه دي هغه که دمسجدلپاره وقف دي نوددوئ کرایه به دمسجدله اړتیاووپرته په نوروکارونوکې صرف روانه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسجد په غولي کې تالاب جوړول

سوال : (۳۷۵) کوم مسجد چې له مخکې څخه جوړشوی تیاردی دداسې مسجد دغولې په کومه برخه کې لس په لسه کې تالاب جوړول جائزدي ،که نه ؟ دجوازپه صورت کې ومسجدته داخل دي که خارج ؟ (۱۲۴۳/ ۱۳۳۵ه ج)

ځواب : دشامي په کتاب الوقف کې راغلې دي : ارادان یحفربئرافی مسجدمن المساجداذالم یکن فی ذلک ضرربوجه من الوجوه وفیه نفع من کل وجه فله ذلک الخ (۱) له دې څخه معلوم شوچې که په تالاب جوړولوکې ګټه وي اوکوم نقصان دتنګۍ اونورونه وي نوصحیح دی.

سوال : (۳۷۶) دیوآبادکوچني مسجدټوله غولی کیندل پکې تالاب جوړول روادي ،که نه ؟ (۲۲۹۰/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : که ضرورت وي اولمونځ کوونکوته تنګي نه وي نودکلیوالواومسجدو الولپاره داسي کول صحیح دي فقط.

دمسجدغولې حکم

سوال : (۳۷۷) دیومسجددفرش سره ننبتی دچادروسائبان پروت ده اوله هغه څخه مخته هم څه فرش شته نوهغه برخه دمسجد حکم لري ،که نه ؟ (۳۲/۷۰- ۱۳۳۳هج)

ځواب : هغه برخه هم دمسجد حکم لري اوپوره ثواب ورکول کیږي.

سوال : (۳۷۸) غولی دمسجددمسجدپه حکم کې دی ،که نه ؟ (۱۲۱۳/ ۳۳- ۱۳۳۴هج)

ځواب : دمسدغولی دمسجدپه حکم کی دی [والفناء تبع المسجدفیکون حکمه حکم المسجد کذافی محیط السرخسی (۲)

سوال : (۳۷۹) په مسجداوپه غولې دمسجد (کوم چې په مسجدکې داخل دی) کې څه فرق دی ؟ آیاداول دجماعت لپاره دامام په محراب کې درېدل ضروري دی په صحن دمسجدکې په ګرمي (دوبې) کې په جماعت سره لمونځ کیږي آیا دامکروه دی ؟ (۱۳۷۴/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

---

(۱) الشامی (۴۰۲/۳) ، کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۲) الهندیة : ۴۶۲/۲ ، کتاب الوقف ، الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد وتصرف القیم وغیره فی مال الوقف علیه.

ځواب : کوم غولی چې په مسجد کې داخل دی یعنی کوم چې په عامه توګه چت نه لروونکی وي هغه مسجددی په هغه اوپه چت لروونکې برخه کې هیڅ فرق نشته دامام په محراب کې درېدل مسنون اومستحب دي خوکه په ګرمۍ کې دمسجد په بهرنۍ ناچته برخه کې جماعت کیږي نودامام لپاره ددباندي ناچته برخه کې دمقتدیانو دمینځ په برابرمخته درېدل مکروه نه دي.

دمسجددغولې حکم دباني دنیت سره تړون لري

سوال : (۳۸۰) په سوات ولسوالۍ کې عام رواج دادی چې کله مسجد جوړوي نوچت لروونکې برخه دلمانځه کولولپاره خاصه کړي ددې سره څه ناچته برخه دغولې په توګه جوړوي ،ځکه چې په دې کې هغه کارونه کیږي کوم چې دمسجد داحترام خلاف اومنع وي مثلا هروخت ناسته ،ولاړه ،وېدېدل ، دنیاوي خبرې کول ، تردې چې دجنابت په حالت کې هم په دې غولې کې استوګنه کوي لنډه داچې غولی دمسجدپه مسجد کې داخل نه بولې اوچناروارې مسجدهم درانګه جوړشوې دي نوپه داسي صورت کې دچناروارې مسجدصحن شرعًا له مسجد څخه خارج بلل کیږي ،که نه ؟ اودجنازې لمونځ کول به په صحن کې جائزوي ،که نه ؟ (۲۸۱۵/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : داخبره چې دغه غولی په مسجد کې داخل وګڼوکه خارج دادجوړوونکې دنیت سره اړه لري که دجوړوونکې نیت په وخت کې دجوړولودچت لروونکې برخې مسجدبلل وواوغولی له مسجدڅخه خارج بلل رواکول وونوکوم څه نیت چې دجوړوونکې وودهغه سره سم عمل کیږي دلته په عامه توګه چت لروونکې برخه اوناچته برخه یعنی غولی دواړې په مسجدکې داخلې وي اودفقهاؤله څرګندونوڅخه معلومیږي چې یوبه صیفی ، مسجداویوبه شتایې وویعنی یوه برخه چت لروونکې کومه چې په ژمي کې دلمونځ کولولپاره وي اویه برخه بې چته یعنی غولی کوم چې په دوبي کې دلمونځ کولولپاره خاصه بلل کیږي اوچیرې چې دباني دنیت هیڅ حال معلوم نه وي هلته دواړې برخې مسجدبلل پکاردي چې داشتباه په ځای کې په دې کې هم زیات احتیاط دی اودمسجدآد ابوپه دې کې خیال ساتل زیات اولی اوورځدي اودجنازې لمونځ په دې کې مه کوئ فقط.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسجدپه غولې کې داودس داوبونالۍ جوړول څرنګه دي ؟

سوال : (۳۸۱) دسختې اړتیاپرمهال دکوم مسجدغولې پرغاړه داودس داوبو نالۍ له چوترې سره چې پکې به لاس ، یونیم لاس مخکه ولګیږي شرعًا جائزدی ، که نه ؟ (۱۳۴۲/۳۲۴هج)

خواب : دمسجدجوړولوپرمهال خودارنګه تصرفات صحیح دي اودمسجداود مسجددفرش تربشپړېدو(پوره کېدو) وروسته له هغه څخه داودس دنالۍ لپاره مخکه راایستل صحیح نه دي.

دخپل کورپه غولې کې جوړکړی مسجدکه ویران شي نوبه څه کوي ؟

سوال : (۳۸۲) زیددخپل مکان له غولې څخه څه برخه دمخکې جلاکړه پکې یې مسجدجوړکړاوترڅوکلونوپورې په هغه کې لمونځ په جماعت اواذان کېدی ، اوس هغه مسجدویران دی څوک پکې لمونځ نه کوي اوس دزیدباني دااراده ده چې دغه مسجدبیابیادکوروغولې ته ورګډکړي اوداخبره مې په پام کې وي چې دمسجد اومکان لاره ګډه ده جلالاري نلرې اودغه لاره دباندي ملک ده له عام سړک څخه پرهمدغه مملوکه لاره ومسجداومکان ته ځي دهدایې له عبارت څخه دمسجدمخکې له غولې ورګډولوجوازمعلومیږي : [واذابنی مسجدًالم یزل ملکه عنه حتی یفرزه عن ملکه بطریقه اماالافرازفلانه لایخلص لله تعالی الابه(۱)] دوقف له شرطونوڅخه دلارې جلا کول هم شمېرلی وي که دافراز(جلاکولو) کومه بله معنی وي نوهغه هم راته ولیکئ ؟ (۱۳۴۰/۱۲۰۵هج)

خواب : دوقف په اړه دامام ابویوسف رحمه الله پرقول فتوی ده کمافی الدرالمختار[واختلف الترجیح والاخذبقول الثانی احوط واسهل بحروفی الدرروصدرالشریعة وبه یفتی واخره المصنف الخ(۲) وفی الشامی لکن فی الفتح ان قول ابی یوسف اوجه عندالمحقیقین الخ(۲) (شامی ۳/ ۳۲۲) اوپه مسجدکې دلارې جلا کول (افرازبالطریق) دامام صاحب دقول سره سم ضروري دی په خلا ف دصاحبینو(امام ابویوسف اوامام محمدرحمهماالله) چې بېله دلارې ورجلا کولوهم دمسجدحکم ورکوي کمافی الشامی [لکن عنده لابدمن افرازه بطریقه ففی النهرعن القنیة جعل وسط داره مسجدًاواذن للناس بالدخول والصلوة فیه ان شرط معه الطریق صارمسجدًا فی قولهم جمیعاوالافلاعندابی حنیفة رحمه الله وقالایصیر

(۱) الهدایة:۲/۷۴۴، کتاب الوقف.

(۲) الدرمع الشامی(۴۰۱/۳) ، کتاب الوقف ، مطلب مهم فرق ابویوسف بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه.

مسجداً ويصيرالطريق من حقه من غيرشرط (۱) نودامام ابويوسف رحمه الله دقول پراساس کوم چي مفتی به دی بلکه په قول دصاحبينورحمهماالله دغه ځای مسجدوګرځېدی اوس دغه وقف کوونکی اوباني وخپل کورته نشي ورګډولای ،ځکه چي مسجد همېشه مسجدوي په شامی کې راغلې دي [وبه علم ان الفتوی علی قول محمدرحمه الله فی الآ ت انمسجدوعلی قول ابی یوسف فی تأبيد المسجدالخ(۲) (شامی۲/۳۷۱)

دمرداروابوپرنالی دمسجدغولي جوړول

سوال : (۳۸۳) دیوه مسجدومخته سرکاري سړک وواووشاته يې يوه نالی يومخ دمسجدله شاسره ننښتې وه چي پکي دمخکې مرداري اوبه بهيږي ځرنګه چي مسجدپرتنګ دی وپراخولوته اړتیاده ومخته يې دحکومتي سړک په وجه نه شوپراخولای ،ځکه وشاته په دې طريقه پراخ کړچي دغه نالی دمسجد په غولې کې راغله ،ځکه نوددې سربې ورپټ کړسربېره دمسجدفرش شوآياددغه مسجد په غولې کې پرهغه پرخه چي لاندي نالی ده دمسجدثواب ورکول کيږي ،که نه ؟ (۱۳۳۷/۲۱۰۳هج)

خواب : کله چي دغه نالی ومسجدته ورداخله کړله شوې ده نواوس داپکاردي چي دغه نالی له دې ځايه ليري کړي ولې چي په مسجد کې دمرداري نالی تيرول صحيح نه دی اوپردغه چت درلودوونکې برخه لمونځ کوونکې ته دمسجدثواب پوره ورکول کيږي ،ځکه چي داهم دمسجدمځکه ده اودمسجد په فرش کې داخله ده ،ځکه چي کوم ځای مسجدوي هغه له ثری څخه ترآسمانه پورې دمسجد په حکم کې وي نوضروري ده چي مرداري اوبه له دې ځايه وباسي اودغه نالی له مسجد څخه دباندي کړي فقط.

ترمسجدلاندي يايورته دکانونه اومکانونه جوړول

سوال : (۳۸۴) زيددارنګه مسجد جوړول غواړي چي دکانونه ياسرای جوړکړي سربېره ورباندي مسجدجوړکړي يااول مسجدجوړکړي پرچت يې مکانونه جوړکړي اودغه سرايونه دمسجداړتياوولپاره وقف کړي په دې کې دپوښتنې وړځوخبرې دي

(۱) الشامی (۴۰۵/۳) ، کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشيديه.
(۲) الشامی (۴۰۷/۳) ، کتاب الوقف ، مطلب فيمالوخرب المسجد اوغيره ط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat.com

(الف) ددغومکانونوحکم دمسجددی ،که نه ؟

(ب) دمسجدله مصالحوڅخه څه مراددي ؟ آیاددغوسرایونوپه کرایه ورکول جائزدي ،که داچي په دوئ کي به دمسجد سامان اونوروي ؟

(ج) دجوړښت په پیل اواول کي پرمسجدپورته مکان جوړول جائزلیکلي دي ،ځکه چي هغه دمسجدله مصالحوڅخه دي اوس دامام لپاره دغتواوکوچنیوبه لواودخپلي کوروالاسره اوسېدل جائزدي ،که نه ؟

(د) په درمختارکي ددې مسئلي په فرع کي لیکلي دي: ولایجوزاخذالاجرمنه ولاان یجعل شیئامنه مستغلاولاسکنی (۱)داجرت داخستوناجائزوالی له همدغه کورڅخه دی کوم چي پرمسجدسربېره دامام لپاره دمسجددمصلحتونو په اساس جائزووکه له هغه کورڅخه کوم چي دمسجدترپوره کېدووروسته سربېره پرمسجدجوړشوی وي ؟ (۹۲/۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: (الف) وکره تحریماالوطئ فوقه والبول والتغوط لانه مسجدالی عنان السماء (۲) (درمختار) وکذاالی تحت الثری (۲) (شامی) نومعلوم شوچي ترمسجدلاندي یاسربېره چي کوم دکان یامکان هغه هم په حکم کې دمسجددی

(ب) دمصالحوڅخه مراددمسجدسامان نبوول ،داوبوسړول اونوردي په کرایه ورکول مرادنه دی کذافی الدرالمختار[ولایجوزاخذالاجرة منه ولان یجعل شیئامنه مستغلا ولاسکنی بزازیه وتمامه فی الشامی(۱)

(ج) داسعاف عبارت کوم چي شامی رانقل کړې دي په دې اړه داسي دی ة وبه صرح فی الاسعاف فقال واذاکان السرداب اوالعلولمصالح المسجداوکاناوقفا علیه صارمسجداًاشرنبلالیة قال فی البحروحاصله ان شرط کونه مسجدااان یکون سفله وعلوه مسجداً لینقطع حق العبدعنه لقوله تعالی: وان المساجدلله (۳) نوکله چي لاندي اوپورته مسجدشونوغټې اوکوچنۍ بولې نشي کېدای کمامر.

(د) داجرت اخستلواوغله حاصلولوناجائزکېدل په دواړوصورتونوکې معلومیږي کماهومقتضی الاطلاق

---

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۴۰۲/۳) ،کتاب الوقف فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

(۲) الدروالشامی (۴۸۵/۱) ،کتاب الصلوة مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۳) الشامی(۴۰۲/۳) ،کتاب الوقف ،مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

ومقتضی کونه مسجداً من تحت الثری الی عنان السماء فقط.

سوال : (۳۸۵) دمسجد پرجت (بام) کومه ودانی جوړول اوپرهغه ناسته ،ولاړه کول شرعًا جائزدی ؟(۲۳۳۸/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : داتصرف په مسجد کې صحیح نه دی دمسجد چت هم په حکم دمسجد دی فقط.

دمسجدپه زاړه ځای کې داودس داوبونالی یالاره جوړول

سوال : (۳۸۶) له پخواڅخه یوکوچنی مسجدوواوس هغه پراخ کړل شوی دی دمسجد پرزاړه ځای داوداسه داوبونالی یالاره جوړول صحیح دي ،که نه ؟ (۱۱۱۸/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : دزاړه مسجد په مځکه کې داوداسه داوبونالی یالاره جوړول صحیح نه دی فقط.

دمسجددغسل خانومځکه په حکومتي سړک کې ورکول

سوال: (۳۸۷) دکوم مسجد دغسل خانوموجوده ودانی نړول ترهغوئ لاندي مځکه په حکومتي سړک کې ورکول اوعامه لاره دفقهې په کتابونوکې ببلابېل روایتونه راغلې دي ،ځینې روایتونه ددې پرجائزوالی دلالت کوي اوځینې پرناجائزوالی ،ځکه زیات احتیاط دادی چې ببله سختې اړتیاداسي ونه کول شي اوهمدغه صحیح دی ،ځکه چې دغسل خانومځکه دمسجدله اوقافوڅخه ده اوددې دوقف باطلول صحیح نه دی فقط.

دکلپوالودمسجدپرفرش برَنده جوړول

سوال : (۳۸۸) آیاوځینومحلې والوته دښاردعامومسلمانانوله اجازې داسي اختیارشته چې غولی اوچوتره (دکانچه) دمسجدکم کړي یایې کم نکړي پخپله رأیه دمسجدپرفرش باندي برنده جوړه کړي ؟(۲۲۲۱/ ۱۳۳۸هج)

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب : ومحلې والوته په مسجد کې دداډول بدلون اوتعميراوترمېم اختياروي دښاردخلکوواجازې ته اړتيانشته کذافی الشامی.

دمسجدپه مځکه کې حجره جوړول

سوال : (۳۸۹) يومسجدويوه طرفته پراخ کړل شووبل طرفته څه مځکه له مسجد څخه واخيسته دحجرې دپراخولولپاره وحجرې ته ورکړه دغه ځای شرعًا دمسجد حکم لري ،که نه ؟(۱۸۳۹/ ۴۲-۱۳۴۷هج)

خواب : مولاناعبدالحی رحمه الله په مجموعة الفتاوی لومړي ټوک کې ددې ناجائزوالې ليکلی دی (۱) يعنی دمسجدپه مځکه کې حجره جوړول جائزنه دي اودمسجد حکمونه به همېشه پرهغه جاري کيږي په البحرالرائق کې راغلې دي [قال ابويوسف رحمه الله هومسجدابدًاالی قيام الساعة لايعودميراثًامستغلا ولاسکنی انتهی (۲) اوپه البحرالرائق کې دي [لايجوزللقيم ان يجعل شيئًامن المسجدمستغلا ولاسکنی انتهی (۲) له دغوروايتونوڅخه معلوم شوچې کوم ځای يوځل مسجدوګرځي هغه همېشه ترقيامته پورې مسجدوي حکم دمسجدله هغه څخه نه ختمېږي که څه هم هغه ناآبادوي اودمسجدکومه برخه داستوګنې ځای اوحجره جوړول هم نه دي جائزپه همدې وجه کوم ځای چې دمسجدوحجرې ته وردا خل کړل شوهغه دمسجدپه حکم کې دي دمسجد حکمو نه پرده جاري کيږي په شامی کې راغلې دي: [وصرح فی الخانية بأن الفتوی علی قول محمدرحمه الله قال فی البحروبه علم ان الفتوی علی قول محمدرحمه الله فی الآت المسجدوعلی قول ابی يوسف رحمه الله فی تأبيد المسجدآه (۳)

---

(۱) جمله اجزاء مسجدهمېشه درحکم مسجداندکسی راجزوآن راازمسجد خارج کردن درست نيست واحکام مسجددائما بران نافذخواهندشدالخ (مجموعة الفتاوی علی هامش خلاصة الفتاوی ۱/ ۲۳۱ ، کتاب الصلوة الجنس الرابع من الخلاصة ، چاپ نول کشورلکهنو.

(۲) البحرالرائق: ۴۲۱/۵ ، کتاب الوقف فصل فی احکام المسجد.

(۳) الشامی(۴۰۷/۳) ، کتاب الوقف ، مطلب فيمالوخرب المسجداوغيره طرشيديه.

سوال : (۳۹۰) مخکې مسجددوولس ګزه اوږدووپه دوهم تعمیرکې اته ګزه جوړکړپاته مخکه باندې حجره جوړول صحیح دي؟(۱۸۴۲/۴۲-۱۳۴۷هج)

خواب : دمسجدپه حصه کې حجره جوړول جائزنه دی [ولاان یجعل شیئًا منه مستغلا ولاسکنی بزازیه(۱) (درمختار)

دمسجددهمسایه دمسجدپردهوالونوګړی اوګادربنوول

سوال : (۳۹۱) زیددمسجدپه شمالي دهوال داوسپنې ددووګادروشپږ،شپږانچه سرونه کښېښوول سربېره کړی وربانديې وترلې چت یې جوړکړلاندي خپل دکان جوړکړي سربېره چت یې دثواب په نیت ومسجدته وقف کړدمسجددفرش په رنګه صفونه پراوارکړل پرکوم فرش چې لمونځ کوونکی لمونځ کوي چې نژدې اته کاله کیږي دغه کاردزیدجائزدی ،که نه؟(۱۰۷۵/۱۳۳۵هج)

خواب : دمسجدپردهوالونودخپل ځاني دکان کړی اوګادربنوول صحیح نه دی اماکه ددکان لاندي برخه هم ومسجدته وقف کړي اومسجدته ورداخله کړي نوبیاصحیح دی کمافی الدرالمختار: فیجیب هدمه ولوعلی جدارالمسجدالخ(۲) فقط.

سوال : (۳۹۲) که کوم سړی چې مکان یې دمسجددځلوردهوالی سره ننښتی دی دمتولیانوپه اجازه دمسجدله ځلوردهوالونوځخه پریودهوال باندې کړی کښېږدي نوجائزدی ،که نه؟(۹۴۴/۱۳۴۰هج)

خواب : دمسجدله ځلوردیوالیوځخه پرکوم دهوال باندې وکوم همسایه ته دکړیواوتیرانوښوولوحق نشته اودمسجددمتولیانولپاره شرعًا ددې اجازه کول حرام دي اوددې اجازې اعتبارنشته لکه چې فقهاؤپه لاندي آیت وان المساجدلله (۳) سره ددې څرګندونه فرمایلې ده فقط.

سوال : (۳۹۳) زیددخپل کورددروازې اودمسجداوحجرې ددهوال ترمینځ په پورته ځوتیرانوښوولویوه کوټه جوړوي پورته به پخپله کارځیني اخلي دپاکی اوناپاکی هیڅ خیال نه ساتي داجائزدی ،که نه؟(۸۲۰۹/۳۳-۱۳۳۴هج)

---

(۱) الدرمع الشامی(۳/۴۰۲) ، کتاب الوقف ، فی آخرمطلب فی احکام المسجدط رشیدیه.
(۲) الدرمع الشامی (۳/۴۰۲)، کتاب الوقف مطلب فی احکام المسجدط رشیدیه
(۳) سورۃ جن ،آیت: ۱۸.

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : دمسجد اودمسجد دحجري پردہوال تیران ښوول جائزنه دي دافعل قطعًا حرام دی ،تیران په راشیوه کول پکاردي فقط.

دمسجدپردہوال دخپل کوردہوال جوړول

سوال (۳۹۴) دیوسړی مکان دیومسجدسره ننښتی دی په دې ځای کې دټولو سرایونودہوالونه مشترک دي اودمکان اومسجدترمینځ چې کوم دہوال موجوددی هغه نړدي له پنځوکلونوراهیسي دسرائ اومسجدپه ګډه استعمالیدی اوس دمکان مالک خپل مکان له نوې سره ودانوي لومړی منزل (پور) جوړشوی دی ځینې خلګ اعتراض کوي چې شرعًا دمکان ومالک ته اجازه نشته چې دی دہوال به له نوې سره پخپل خرڅ جوړکړي اوپخپل کوم مصرف کې راولې دغه رنګه نهوکه کوي چې دی پرهمدغه دہوال باندي دخپل مکان ددوهم منزل لپاره دہوال ننښي جوړولای شرعًاڅه حکم دی ؟(۱۳۴۲/۲۵۹۱هج)

خواب : په درمختارکې دغه مسئله داسي لیکلې ده : فرع لوبنی فوقه بیتا للامام لایضرلانه من المصالح امالوتمت المسجدیة ثم ارادالبناء منع ولوقال عنیت ذلک لم یصدق تاتارخانیة فاذکان هذفی الواقف فکیف بغیره فیجب هدمه ولوعلی جدارالمسجدالخ (درمختار) قوله ولوعلی جدارالمسجدمع انه لم یأخذمن هواء المسجدشیئًا آه ونقل فی البحرقبله ولایوضع الجذع علی جدارالمسجدوان کان من اوقافه آه قلت وبه علم حکم مایصنعه بعض جیران المسجدمن وضع جذوع علی جداره فانه لایحل ولودفع الاجرة الخ (۱) (شامی : ۳/ ۳۷۱) ددې عبارت حاصل دادی چې دمسجدپردہوال باندي کوم سړی خپل دہوال یادکوم بل مکان دہوال ننښي جوړولای که څه هم هغه بل مکان دهمدغه مسجدپه اړه وي اودمسجدله اوقافوڅخه وي بلکه که چیري کوم شخص دمسجدپردہوال باندي دکوم دہوال کښیږدي نوداجائزنه دی اودغه دہوال به نړول کیږي اوبیاپه شامی کې له البحرالرائق څخه دارانقل کړې دي چیدمسجدپردہوال باندي دې تیران دکوم بل مکان نه ږدي که څه هم هغه بل مکان ددغه مسجدپه اړه وقف وي بیاله دې وروسته علامه شامی دقلت په لفظ سره دامسئله بیان کړه چې له دغوعبارتونوڅخه معلوم شوچې دمسجدځینې همسایګان چې کوم دمسجدپردہوال تیران ږدي

(۱) الدروالرد (۳/۴۰۲) ، کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

داجائزنه دی که څه هم دوئ اجرت هم ورکړی انتهی.
نومعلوم شوچې دمسجد پردېوال باندې دهمسایه لپاره څه تصرف کول صحیح نه دی دی باید خپل نوی دېوال جوړکړي ترڅوپرهغه ددوه منزله مکان دېوال هم جوړشي فقط.

دمسجدپر دېوال اوبنیادخپل دېوال جوړول صحیح نه دی

سوال: (۳۹۵) (الف) دمسجدپرکومه برخه (که دېوال وي اوکه تاخچه وي) دهندویامسلمان لپاره خپل دېوال ښوول جائزدی، که نه؟
(ب) دمسجددلویدېځ ولورته دمسجد پربنیاد (تهداب) دمسجدله دېوال سره خپل دېوال ننښتی جوړول جائزدی، که نه؟
(ج) دمسجددغرب وطرفته چې کوم دېوال دمسجدله دېوال سره ننښتی جوړکړل شي دغه دېوال دمسجدله دېوال څخه جګ جوړول جائزدی، که نه؟ (۹۸۱/ ۱۳۴۳هج)

خواب: (الف) دمسجدپردېوال یاکومه برخه باندې دهندواومسلمان لپاره خپل دېوال جوړول صحیح نه دی په درمختارکې راغلې دي چې که چاداسې وکړنوهغه به ورنړول کیږي(۱)
(ب) دمسجد پربنیادباندې هم دچالپاره دېوال راپورته کول جائزنه دی.
(ج) که پرخپله مځکه دېوال دمسجدله دېوال سره ننښتی جوړکړل شي نوداجائز دی اودغه دمسجدله دېوال څخه لوړول هم جائزدی امادمسجدپربنیادباندې دېوال جوړول صحیح نه دی دمسجد تهداب پریږدي خپل دېوال څانته جوړکړي فقط.

دمسجدپه دېوال کې دهمسایه شراکت صحیح نه دی

سوال: (۳۹۶) دمسجدکوم دېوال اودکوم همسایه دېوال که مشترک وي نوڅه حکم دی؟ (۱۴۲۷/ ۱۳۴۵هج)

خواب: دمسجددېوال یومخ باید جلاوي په دې دېوال کې دچاشراکت صحیح نه دی.

دمسجدپرچت (بام) باندې دخپل کورسامان ښوول صحیح نه دی

سوال: (۳۹۷) دمسجدمتولی یاکوم مسلمان لپاره دمسجدپرچت باندې دخپل کورسامان درمان، لرګي اونورښوول صحیح دی، که نه؟ (۱۱۸۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

(۱) مخکنی حواله.

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب: دمسجد متولی یاکوم بل چالپاره داسي تصرف په مسجد کې صحیح نه دی فقط.

دمسجدپه مخکه کې دتصرف کوونکې حکم

سوال: (۳۹۸) یوسړی دلارې جوړولولپاره دمسجد دبوال نړوي مسلمانانودې له کورنۍ څخه وایستی لهذا شرعًا دداسي سړی په هکله څه حکم پکاردی؟ (۷۲۲/ ۱۳۴۲هج)

خواب: دمسجد به مخکه کې هیڅ تصرف کول جائزنه دی کوم څوک چې داسي ارادې وکړي اوپه پوهولوهم ځان نه پوهوي دهغه سره همداسي معامله کول پکارده لکه څرنګه چې ورسره وکړله شوه ترڅوده ته خبرتیاوي اوخپله اراده پرېږدي قال الله تعالی [وان المساجد لله (۱) نودمسجدپه کومه برخه اومخکه کې دچالپاره کوم تصرف کول صحیح نه دی فقط.

که څوک دځاه نیمه برخه پخپل کورکې ورګډه کړي دهغه کرایه ورکوي

سوال: (۳۹۹) په مظرنګرکي داولسوالی سره وځنګ ته یوپوخ ځاه دمیرفتح علی مسجدپه اړه واقع دی دهغه شاوخواسرایونه خرڅ شوې دي دشمال ولورته دلاله سکه بیرسنګه مکان واقع دی لاله صاحب په یوه نوې ودانۍ کې نژدي دنیم ځاه دائره پخپل کورکې دمسلمانانوله اجازې اوخوښې پرته ورګډه کړه اودخندجوړېدوپرمهال وایې چیدمسجددغه ځاه دبرخې یوه روپۍ دمیاشتې ومسجدته دکرایې په ډول دهمېشه لپاره مقرره کړي داقرارپانه زه درلیکم آیاپه داسي صورت کې که مسلمانان په لاله صاحب دمیاشتې یوه روپۍ داقرارپانه دمسجددحق لپاره ولیکي اودغه ودانۍ دشرختمولوپه غرض په موجوده حالت کې ورپرېږدي؟ که ددې دجلاکولولپاره په محکمه کې عارضه وکړي دمحکمې په مرسته جلاکړي؟ (۳۱۲۱/۱۳۴۲هج)

خواب: ددغه مسجدپه اړه دځاه دبرخې کرایه اخستل صحیح نه دي دایومخ ځینې راجلا کړئ

---

(۱) سورۃ جن آیت: ۱۸.

اوپه دې کې پوره کوښښ وکړي ،ځکه چې ددې په کرایه ورکول په هیڅ ډول صحیح نه دی کذافی الدرالمختار(۱) فقط.

په کرایه ورکړی سرای دمسجدجوړولولپاره رانیول

سوال : (۴۰۰) رجال شاوروالبناء مسجد جدید فنصبوارجلاودفعواالیه الدراهم قائلاکل واحدمنهم ان هذه الدراهم صدقة لله تعالی لتشتری بهامنزلالجعله مسجدافذهب واشتری المنزل المستأجربالدراهم لبناء المسجدفیه فهل صح وقف الدراهم بهذااللفظ لذلک المقصودوتم بالقبض ویزول ملک المالکین عنهاویجب صرفهالتلک الجهة المقصودة ویصیرالمنزل موقوفا بدون تجدید عقدواذن صلاة ولایمنع الاستجارصحة البیع وغایة الوقف ام کیف الحکم ؟(۷۵۲/ ۴۰ - ۱۳۳۹هج)

خواب : قال فی الدرالمختار: وهل یجوزوقف العین المرهونة اوالمستأجرة ؟ فاجاب: نعم الخ(۲) فظهران شراء المنزل المذکوروقفه للمسجدصحیح وفی صحة وقف الدراهم اختلا ف وکلام ولکن بعدالشراء بهامنزلاللمسجدلاخفا ء فی صیرورته وقفاومسجدافقط.

ترجمه : سوال : (۴۰۰) څوکسانودنوې مسجددودانولپاره پخپل مینځ کې مشوره وکړه یوسړی یې ذموارونکی اوپه دې ویناې درهم اوروپې هغه ته وسپارلې چې دغه درهم دالله لپاره صدقه دي تاسوپه دوئ مکان رانیسئ مسجدپرې جوړکړئ نوهغه سړی ولاړی په دغودرهمویې یومکان رانیوی کوم چې یې په کرایه ورکړی وودپوښتنې ورخبره داده چې آیاپه دغوالفاظو: ان هذه الدراهم صدقة لله الخ سره به وقف صحیح اودقبضې په وجه به مکمل شي ؟ دمالکانوملکیت به له دغودرهمونوڅخه زائل شي ؟ اوددغودرهموپرمقصوده جهت لګول به واجب وي ،که نه ؟ اوآیادمکان په کرایه کېدل دبیع صحیح کېدواودوقف ومقصدته خوبه خنډنه وي ؟

(۱) ولایجوزاخذالاجرة منه الخ (الدرالمختارمع الشامی (۴۰۲/۳) ، کتاب الوقف فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه)

(۲) الدرالمختارمع الرد (۴۲۸/۳) ، کتاب الوقف مطلب فی زیادة اجرة الارض المحتکرة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

ځواب: په درمختارکې راغلې دي وهل يجوزوقف العين المرهونة اوالمستأجرة ؟ فاجاب نعم(۱) يعنی چاپوښتنه وکړه چې آيا په ګرويا کرايه يې ورکړي داعيانو وقف صحيح دی ؟ نووي فرمايل هوله دې څخه معلوم شوچې دغه مکان له رانيولووروسته دمسجدلپاره وقفول صحيح دی بياهم ددرهمونودوقف په اړه اختلاف اوکلام دی بياهم ددوئ په بدل دمسجدلپاره دمکان رانيولووروسته ددغه مکان په وقف کيدواومسجد کيدوکې هيڅ شک اوشبه نشته.

دمسجدپه مځکه کې جوړه کړې هديره برابرول ومسجدته ورګډول

سوال: (۴۰۱) دشارې مځکې يوه ټوټه په ميراث کې له پخواڅخه ديوقوم په قبضه کې وه ،ځکه په معلومات کولودامعلوم شوچې ددې مځکې دهغه اول وارث يومسجداوڅاه ودان شوې اوس موجوددي اودپاته مځکې مخ ددغه مسجد په نامه همدغوخلګووقف کړی ووخومتوليان ددغه وقف کړې مځکې اومسجدهمدغه خلګ ووخواول ځل چې ددغه قوم کوم سړی مړشوپه دې کې دوئ ښخول شروع کړوبيادوئ ته په کتودکورنۍ نوروانسانانوهم خپل مړې پکې ښخول شروع کړوکه څه هم ددوئ وارثان هرځومره خندجوړېدل خودزمانې دبدلون له امله څوک له ښخولونه منع کېدی اوس دغه ټوله مځکه ديوې هديرې په بڼه شوې ده اوس دټولې مځکې په نرېدواوزره کېدوليدلودځينواړتياووپه وجه مسجدشهبدوي پراخ جوړول يې غواړې خودمسجدسره ښښتې چې کوم نوې يازاړه قبرونه دي هغه په مسجدکې دننه راځي اودوقف کړې مځکې دوقف کوونکې وارثان اوځپلوان په مسجدکې راضي نه دي لهذاپه داسې صورت کې دقبرونوورداخلول دمسجدپه اړتياووکې په شريعت کې جائزدي ،که نه ؟(۱۹۸۸/۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دقبردننې نه پاتېدوپه صورت کې خواکه نخښه پخپله نشي پاته ياختمه شي اوپاته نه پرېښودله شي فقهاؤرحمهم الله په هديره کې هم دلمونځ کولواجازه ورکړې ده لکه چې دلاندي عبارت څخه چې څرګنديږي په شرح منيه کې راغلې دي:

وكذاای قال فی الفتاوی: لابأس بالصلوة فی المقبرة اذ

(۱) مخکنی حواله.

کان فیهاموضع اعدللصلوة ولیس فیه قبروهذالان الکراهة معللة بالتشبه باهل الکتاب وهو منتف فیماکان علی الصفة المذکورة (۱) وفی ردالمحتارواختلف فی علته فقیل لان فیهاعظام الموتی وصدیدهم وهونجس وفیه نظروقیل لان اصل عبادة الاصنام اتخاذقبورالصالحین مساجدوقیل لانه تشبه بالیهودوعلیه مشی فی الخانیة ولابأس بالصلوة فیهااذاکان فیهاموضع اعدللصلوة ولیس فیه قبرولانجاسة کمافی الخانیة ولاقبلته الی قبرحلیة الخ (۲) له دغوعبارتونو څخه په هدیره کې هم دقبردنښان نه پاتېدوپه صورت کې دلمانځه رواوالی معلومیږي اوپه موجوده صورت کې چې کوم بیان په سوال کې لیکلی دی له هغه څخه معلومیږي چې دغه مځکه اصلاومسجدته وقف ده په دې صورت کې په دغه مځکه کې قبرکیندل اومړې ښخول جائزهم نه وواوکوم قبرونه چې په دې کې وکښل شوهغه که زاړه وي ،که نوې دهغوئ له مځکې سره برابرول اوپه مسجدکې ورداخلول بېله شکه صحیح دي لکه چې دبل په مځکه کې په ښخولو سره ومالک ته اختیاروي چې که مړې راوباسي اوکه مځکه سره برابره وي قال فی الدرالمختار: ویخیرالمالک بین اخراجه ومساواته بالارض الخ (۳) فقط والله تعالی اعلم.

لاندي دکانونه وسربېره ورباندي مسجدجوړول

سوال : (۴۰۲) په دې ښارکې دشپېتواواویاکلونویومسجددزړوالي په وجه شهیدکړدمسجدبنیادونه دمسجدسره ننښتوکوڅوڅخه څه پورته وومسلمانانو په کیندلودکوڅوسره برابرکړاوددکانونوتاداویې واچوې پردغودکانونولوړ مسجدجوړوي ودې مسجدته په کتونورمسلمانان هم دخپلومسجدونوپردې دول جوړولوته آماده دي ددکانونودجوړولوغرض صرف دامعلومیږي چې دمسجداودمسجددامام به ددغودکانونوپه آمدني کې مرسته وي ؟ (۵۵۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

---

(۱) غنیة المستملی شرح منیة المصلی ص: ۳۱۵، المواضع التی تکره فیها الصلوة.

(۲) الشامی (۱/ ۳۷۹) . کتاب الصلوة ، مطلب فی اعراب کاننا ماکان ط رشیدیه.

(۳) الدرمع الشامی (۱/ ۲۲۲) . کتاب الصلوة ، باب صلوة الجنازة ، مطلب فی دفن المیت ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

ځواب : داسي کول صحیح نه دي کمافی الدرالمختار: امالوتمت المسجدیة ثم اراالبناء منع الخ (۱) وفیه ولایجوزاخذالاجرة منه ولاان یجعل شیئامنه مستغلا ولاسکنی بزازیة (۱) فقط.

سوال : (۴۰۳) ځینې مسلمانان آبادمسجدشهیدوي لاندي دکانونه اوسربېره وربانديې مسجد جوړول غواړي ځینې کلپوالوکاروربندکړخودحکومت له لوري دنه منع کولوحکم راغلی په دې وجه اذان اولمونځ په مسجدکي نه کیږي دغه ګناه پرمسجدشهیدوونکوده که دنه منع کولوحکم ورکوونکوباندي ده ؟ اوداسي کول څرنګه دي ؟ (۲۵۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : مسجدشهیدول چي لاندي دکانونه وربانديې مسجد جوړکړي داسي صحیح نه دی دایومخ حرام اوناروادی فقهاؤداخولیکلي دي چي له شروع څخه باندي دمسجدترمسجدلاندي زېرخانه اونوردمسجددمصلحتونوپه غرض جوړکړ او سربېره يې وربانديې مسجدجوړکړنوداسي صحیح دي خوکله چي مسجدجوړشي بیادهغه نړول چي لاندي دکانونه اونورجوړکړي داسي صحیح نه دی کمافی الدرالمختار: امالوتمت المسجدیة ثم ارادالبناء منع الی ان قال فیجب هدمه ولوعلی جدارالمسجدولایجوزاخذالاجرة منه ولاان یجعل شیئًا منه مستغلاولاسکنی الخ (۱) نودغه کناه پرمسجدنړوونکوده کوموچي ددکانونو جوړولوپه غرض مسجدشهیدکړاوس پکاردي چي ددکانونوخیال اوارادە پرېږدي اصل مسجدبیاودان کړي فقط.

سوال : (۴۰۴) که ترمسجدلاندي دکانونه جوړکړونوصحیح دی ،که نه ؟ اوددکانونوچجوړولوغرض دادی چي ددکانونوکرایه دمسجدپه اړتیاووکې پکارراشي په دې صورت کې څه حکم دی ؟ بینواتوجروا (۱۲۸۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : له مسجدپوره کېدووروسته ترمسجدلاندي دکانونه جوړول صحیح نه دی دمثال په توګه کوم مسجدله مخکې څخه جوړدی یامخکه دمسجدلپاره وقف ده په دې کې لاندي دکانونه جوړول صحیح نه دي په شامی کې راغلي دي: وحاصله ان شرط کونه مسجدان یکون سفله وعلوه مسجدا الخ (۱) ولایجوز اخذ الاجرة منه ولا ان یجعل شیئًامنه مستغلا (۱) (ردالمحتار) فقط

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴۰۲/۳) . کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

ترمسجدلاندي نوې دکانونه جوړول صحیح نه دي

سوال : (۳۰۵) (الف) یوزوړمسجددی دمسجدترغولې لاندي دکانونه ووچي وربانديې دمسجداړتیاوې پوره کېدې اوس دکانونه نړېدلې ،زاړه شوې دي نودمسجدپه آمدني کې کمی راغلی که مسجدپردغودکانونوجوړکړونو دکا نو نه دمسجدپه غولې کې راځي داجائزدی ،که نه ؟

(ب) په همدې مسجدکې دشمال ولورته دوه قبرونه دي که دمسجدغولی پراخ کړو نوقبرونه په غولې کې راځي اودوه نیم ګزبه لاندي وي داجائزدی ،که نه ؟ اوپه لمانځه کې څه تاوان خوبه نه وي ؟ (۱۳۴۳/۱۸۸۹هج)

ځواب : (الف) کوم ځای چې دمسجدترغولې لاندي له اوله سره دکانونه وودهغوئ تعمیراوسمون کول په ښکاره صحیځ دی اونوی دې نه جوړیږي اوبیاهم ښه دادی چې ترمسجدلاندي دکانونه یومخ نه وي لکه چې د[ولایجوز اخذالاجرة منه الخ(۱) روایت څخه څرګنددي [لوبنی فوقه بیتاللامام لایضرلانه من المصالح امالوتمت المسجدیة ثم ارادالبناء منع ولوقال عنیت ذلک لم یصدق الخ ولایجوزاخذالاجرة منه ولاان یجعل شیئامنه مستغلاالخ(۱) (درمختار)

(ب) ددوئ دمخکې سره برابرول اوپردوئ باندي هم دمسجدغولی جوړول صحیح دي اوپه لمانځه کې هیڅ تاوان نه پیښیږي.

دمسجددضروري خرڅولولپاره ترمسجدلاندي دکانونه جوړول

سوال : (۴۰۲) په غرنی سیمو کې په عامه توګه دمسجددضروري خرڅولو لپاره په آبادوغرونوکې هم داصورت خپلیږي چې په لاندي برخه کې دکانونه جوړوي اووربانديې مسجدوي چې دمسجدضروري اړتیاوې په پوره کیږي اوس پوښتنه داده چې له کوه مرى غرڅخه دیونیم میل په واټن یوځای دچوترې په صورت دی چې له سلوکلونوراهیسې وربانديې خلګ لمونځونه کوي وهغه ته نژدې اوشاوخواهندوان زیاتیږي دهغه خوندي کول په ښکاره اوس په همدې طریقه کېدای شي چې لاندي دکانونه جوړکړواووربانديې مسجدوي دغره دآبادۍ په ورځوکې به خلګ په دغه مسجدکې لمونځ کوي اودضروري خرڅولولپاره به کرایه راځي په داسې صورت کې که لاندي دکانونه اوسربېره

Maktaba Tul Ishaat.com

راوتلای شي ؟ (۲۴۸/۱۳۴۵هج)

ځواب : دمسجد لپاره شرعًا داضروري ده چې له لاندي ځخه ترلوړه پورې مسجد وي وحاصله ان شرط کونه مسجدا ان یکون سفله وعلوه مسجد الینقطع حق العبد عنه لقوله تعالی: وان المساجد لله (۱) (شامی درہیم ټوک) اوداراز په درمختاراوشامی (۲) کې داهم ځرګندونه ده چې مسجد له تحت الثری ځخه ترآسمانه پورې مسجد وي اودانبکاره ده چې که ترمسجدلاندي دکانونه وي اوهغه په کرایه ورکول شي نوهرډول کاربه په هغه کې کیږي اودمسجدآدابو خیال به نه ساتل کیږي ،ځکه داجائزنه دی چې ترمسجدلاندي دکانونه په کرایه ورکولولپاره جوړکړل شي وقدردفی الفتح مابحثه فی الخلاصةمن انه لواحتاج المسجد الی نفقة توجرقطعة منه بقدرماینفق علیه بانه غیرصحیح قلت وبهذاعلم ایضاحرمة احداث الخلوات فی المساجدکالتی فی رواق المسجدالا موی ولاسیمامایبرتب علی ذلک من تقذیرالمسجد بسبب الطبخ والغسل ونحوه ورأیت تالیفًامستقلافی المنع عن ذلک (۱) (شامی) لنډه داچې له دغوروایتونوځخه معلوم شوچې ترمسجدلاندي په کرایه ورکولولپاره دکانونه جوړول صحیح نه دی اماکه له مسجدځخه وتلې دمسجد سره نښتې دکانونه دآمدنې په غرض جوړکړل شي نوداجائزدی فقط.

دمسجددوهم ځل ودانولوپروخت ترمسجدلاندي دکانونه جوړول جائزنه دي

سوال : (۴۰۷) یومسجدچې ډپرزوړاوشهیدشوی ووکلیوالوچنده وکړه کاریې شروع کړاودلوېدیزولورته ځه مخکه ورزیاته کړه لاندي دکان دمسجدداړتیاؤ لپاره وقف جوړکړپرچت باندي یې مسجدراوایستی لنډه داچې په دوهم وارجوړولوکې ترمسجدلاندي دکانونه جوړول جائزدي اوکه نه ؟ آیاکه ددغه شهیدشوې مسجدمخکه دوارثانوملک وبولودکانونه جوړول جائزکېدای شي ،که نه ؟ (۴۲/۱۳۳۹-۱۳۴۷هج)

ځواب : اقول وبالله التوفیق شرعًا دمسجدلپاره ضروري دی چې له پورته ځخه ترلاندې پورې مسجدوي قال فی البحر:وحاصله ان شرط کونه مسجدا ان یکون سفله وعلوه مسجدًا لینقطع حق

---

(۱) الشامی (۴۰۲/۳) ، کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۲) فی الدرالمختار: لانه مسجد الی عنان السماء الخ وفی الشامی وکذاالی تحت الثری (الدروالشامی (۴۸۵/۱) ، کتاب الصلوة ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

العبد عنه لقوله تعالى: وان المساجد لله الخ (۱) (کتاب الوقف شامی) وفی کتاب الصلوة من الدر المختار: وکره تحریما الوطئ فوقه والبول والتغوط لانه مسجد الی عنان السماء الخ وکذا الی تحت الثری الخ (۲) (شامی) وفی کتاب الوقف من الدر المختار ولا یجوز اخذ الاجرة منه ولا ان یجعل شیئا منه مستغلا ولا سکنی بزازیة (۳) وفی الشامی تؤجر قطعه منه بقدر ما ینفق علیه بأنه غیر صحیح قلت وبهذا علم ایضا حرمة احداث الخلوات فی المساجد کالتی فی رواق المسجد الاموی ولا سیما ما یترتب علی ذلک من تقذیر المسجد بسبب الطبخ والغسل ونحوه (۳) نو کله چې دا اتفاقي اومنل شوې خبره ده چې مسجد له عرش څخه ترتحت الثری مسجد وي نو ثابت شو چې ترمسجد لاندې په کرایه ورکولو لپاره دکانونه جوړول اوپه کرایه ورکول جائزنه دي ،حُکه چې په کرایه دارکې به دمسلمان اوکافرفرق نه وي اوکرایه دار به هرډول تصرف په دې کې کوي اوهغه کارونه به یکي کوي دکوموکول چې په مسجد کې حرام دي اودمسجد دباني اواول وقف کوونکې لپاره چې داول ځل مسجد جوړولو پرو خت ترمسجد لاندې دسرداب اونورواجازه دمسجد مصالحو لپاره فقهاؤلیکلې ده له دغو مصالحو څخه هغه مصالح مراددي چې ورڅخه دمسجد په آدابو اودرناوي کې کوم فرق نه راځي مثلا دمسجد صفونه بنوول یاکوزې اونوردمسجد سامان بنوول ، نه داچې په کرایه ورکول شي اوهغه کارونه کول چې ورڅخه دمسجد ککړېدل اومردارېدل لازمیږي دمسجد ونو په هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ارشاد فرمایلی دی: ان ینظف ویطیب (۴) اوداول ځل جوړښت وروسته خوفقهاء ددې هم اجازه نه ده کړې امام حلوانی فتوی دویران مسجد دنړولو اودخښتو ، لرګیو اوډبرو اونورو انتقالولو په اړه ده

(۱) الشامی (۳/ ۴۰۲) . کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۲) الدر والشامی (۱/ ۴۸۵) . کتاب الصلوة ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۳) الدر والشامی (۳/ ۴۰۲) . کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۴) عن عائشة رضی الله عنها قالت: امر رسول الله ﷺ ببناء المساجد وان تنظف وتطیب (ابوداؤد: ۱/ ۳۲، کتاب الصلوة ،باب اتخاذ المساجد فی الدور وکذا فی المشکوة ص: ۲۹، کتاب الصلوة ، باب المساجد ومواضع الصلوة وفی الشامی: موضع اعد للسنن والنوافل بأن یتخذله محراب وینظف ویطیب کما امربه ﷺ (الشامی (۱/ ۴۸۲) . کتاب الصلوة ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

نه دمسجد دمخکې په اړه دمسجد مخکه په هرحال خوندي کول لازم دي ،خکه چې کوم خای یو خل مسجد شي هغه تل ترتله مسجد دی هغه هیڅ وخت هم دبانې اووقف کوونکې په ملک کې نه راخي اودمسجد ډیرحکمونه له نورواوقافو څخه بېل دي لکه دمشاع وقف دځینوپه نزد جائزدی خودمشاع مسجد جوړول صحیح نه دی [لان بقاء الشرکة یمنع الخلوص لله تعالی نهر(۱) (شامی) قوله ویجعل آخره لجهة قربة لاتنقطع یعنی لابدان ینص علی التأبید عند محمد رحمه الله خلافا لابی یوسف رحمه الله آه ویأتی بیانه وهذافی غیرالمسجد اذلامخالفة لمحمد رحمه الله فی لزومه بل هوموافق للامام فیه الخ(۱) (شامی) وفی الحدیث شرالبقاع اسواقهاوخیرالبقاع مساجدها(الحدیث) (۲) فقط.

ترمسجدلاندي ګودام ، تتی ، غسل خانه اونورجوړول صحیح نه دی

سوال : (۴۰۸) دمسجد دمتولي رایه ده چې دنوې ودانۍ دمسجد په لاندني منزل یعنی په لاندي برخه کې ګودام ، دکانونه اوضروري ځایونه لکه بیت الخلاء (تتی) ،غسل خانې اونورجوړکړواوپرسربېره برخه باندي یې مسجد جوړکړواو ددو همې ډلې رأیه ده چې ترمسجدلاندي تتی اونوریوشی هم مه جوړوئ له لاندي څخه بالاپورې باید مسجدوي کنې لمونځ مکروه کیږي په داسي حالت کې دمتولی رأیه صحیح ده که ددوهمې ډلې ؟(۳۵/۲۸۳-۱۳۳۶هج

خواب : ترمسجدلاندي دبیت الخلاء ، غسل خانواونوروجوړول صحیح نه دی اودایومخ دمسجد دحکمونواوآدابوخلاف دی ،خکه نوپه موجوده صورت کې دمسجد دمتولی رأیه سمه نه ده ،بلکي ددوهمې ډلې رأیه صحیح ده ترمسجدلاندي اوسربېره باید خالص مسجدوي کمافی فی ردالمحتار: وحاصله

---

(۱) الشامی(۳/ ۳۹۹) . کتاب الوقف . مطلب شروط الوقف . علی قولهماط رشیدیه .

(۲) عن ابی امامة رضی الله عنه قال: ان خبرامن الیهود سأل النبی ﷺ ای البقاع خیر؟ فسکت عنه وقال اسکت حتی یجئ جبرئیل علیه السلام فسکت وجاء جبرئیل علیه السلام فسأل فقال: ماالمسئول عنهابأعلم من السائل ولکن اسأل ربی تبارک وتعالی ثم قال جبرئیل علیه السلام: یامحمدانی دنوت من الله دنوآمادنوت منه قط قال: وکیف کان یاجبرئیل علیه السلام قال بینی وبینه سبعون الف حجاب من نور فقال: شرالبقاع اسواقهاوخیرالبقاع مساجدها. رواه ابن حبان فی صحیحه عن ابن عمررضی الله عنهما (مشکوة ص:(۷۱) ای کتاب الصلوة ،باب المساجد ومواضع الصلوة).

ان شرط كونه مسجداان يكون سفله وعلوه مسجدالينقطع حق العبدعنه لقوله تعالى وان المساجدلله (۱) وفى الدرالمختارولايجوزالاجرة منه ولاان يجعل شيئًا منه مستغلاولاسكنى الخ (۱) قال فى ردالمحتار: وقدردفى الفتح مابحثه فى الخلاصة من انه لواحتاج المسجدالى نفقة تؤجرقطعة منه بقدرماينفق عليه بأنه غيرصحيح قلت وبهذاعلم ايضًا حرمة احداث الخلوات فى المساجدكالتى فى رواق المسجدالاموى ولاسيمامايترتب على ذلك من تقذيرالمسجدبسبب الطبخ والغسل ونحوه ورأيت تأليفامستقلا فى المنع من ذلك الخ (۱) (شامى: ۳/ ۳۷۱) اودارازداخبره له منل شويوڅخه ده چي ترمسجدلاندي له تحت الثرى پورې اوپورته ترعرش معلى پورې تول مسجدوي قال فى الدرالمختار: وكره تحريماالوطئ فوقه والبول والتغوط لانه مسجدالى عنان السماء الخ وكذاالى تحت الثرى (۲) (شامى: ۱/ ۴۴۱) ددې عبارت حاصل همدادي چي مسجدتر اسمانه پورې اودارازترتحت الثرى پورې مسجدوي نوكله چي تول لاندي تربالا پورې مسجددى نوښكاره ده چي تتى ،غسل خانې اودكانونه ترمسجدلاندي جوړول صحيح نه دي اوددغوروايتونوپه خلاف چي كوم روايتونه دي هغوئ دقواعدواودفقهاؤڈخرگندونوومختهاعتبارنلري فقط.

سوال: (۴۰۹) يومسجددارنگه جوړيږي چي غولى لورچت دى اوترمسجدلاند ي دوه مخه دكانونه دي اوپه مينځ كې اته پته پراخ سړك كوم چي عامه لاره ده دبازارآمدني به ترتولواول مسجدباندي صرفيږي له دې وروسته پرونورمسجد ونوباندي صرفيږي (داجائزدى ،كه نه؟) (۱۲۵/۱۳۳۵هج)

خواب: په شامى كې راغلي دي: قال فى البحروحاصله ان شرط كونه مسجداان يكون سفله وعلوه مسجدالينقطع حق العبدعنه لقوله تعالى وان المساجدلله (۳) نوكله چي دمسجدكېدولپاره داشرط دى چي لاندي اوباندي تول مسجدوي نوترمسجدلاندي په دكانونواولاره قائمولو

(۱) الدروالشامى (۳/ ۴۰۲) كتاب الوقف ، مطلب فى احكام المسجدط رشيديه.
(۲) الدرمع الشامى (۱/ ۴۸۵) كتاب الصلوة ، مطلب فى احكام المسجدط رشيديه.
(۳) الشامى (۳/ ۴۰۲) كتاب الوقف ، مطلب فى احكام المسجدط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat. com

داشرط پرځای نه پاتیږي اودمسجدآداب په دکانونواونوروکې باقي نه پاتیږي ،ځکه نوداسي نه دي کول پکاراوپه درمختارکتاب الصلوة کې راغلې دي : لانه مسجدالی عنان السماء الخ وکذاالی تحت الثری (۱) نوکله چې دآسمان ترعنان اوتحت الثری پورې مسجدوي نومسجدبایدله داسي تصرفاتوپاک وساتل شي

دمسجدحجره ودکان ته ورګډول جائزدی

سوال : (۴۱۰) دجنوب ولورته دجامع مسجدیودکان دی هغه ته نژدي یوه حجره ده دغه حجره یې ودکان ته ورداخله کړه له دې پرته نورې هم ډیرې حجرې دي اوددکان کرایه مخکې دمیاشتې دوولس روپۍ وي اوس شل روپۍ شوې دي داپه مسجدکې صرفیږي له دې مخکې دغه حجره بېکاره وه ،ځکه نوداجائزدی ،که نه ؟ (۱۳۴۳/۱۳۲۷هج)

خواب : داهیڅ پروانلري چې دغه حجره یې ودکان ته ورګډه کړه ،ځکه چې په دې کې آمدني زیاته شوه اودمسجدګټه وشوه اوهغه حجره بېکاره وه اودمسجددار تیالپاره نورې حجرې شته نودیفتی بکل ماهوانفع للوقف (۲) په حکم په دې صورت کې دجوازفتوی ورکول کیږي.

دمسجدله کوټې څخه دتبلوګودام جوړول اوپه کرایه ورکول

سوال : (۴۱۱) دمسجددفرش په پای کې یودالان (غټه حجره) ده چې پکې دمسجدسامان اوامام اوسیدی اوس که دمسجدوطرفته ددې لاره بنده کړي دتبلودګودام لپاره په کرایه ورکړي چې کرایه دمسجدپه نوم راځي داجائزدی ،که نه ؟ (۱۳۳۷/۱۹۲هج)

خواب : کومه کمره چې له مسجده وتلې ده له هغه څخه دمسجددګټې په خاطرپه نوې طریقه ګودام جوړول اوپه کرایه ورکول صحیح دي فقط.

دمسجددمصالحولپاره په مسجدکې زېرخانه اونورجوړول صحیح دي

سوال : (۴۱۲) په کوم داسي مسجدکې چې نوې جوړېدوونکې وي دمسجدد مصالحولپاره

(۱) الدرالشامی (۱/ ۴۸۵) کتاب الصلوة ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه

(۲) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۴۰) کتاب الوقف ، مطلب سکن المشتری دارالوقف ط رشیدیه.

زېرخانه پرېښوول شي اوسربېره پرچت باندي مسجدودان کړل شي نوداشرعًا روادی ،که نه ؟(۳۷۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : په درمختارکې راغلې دي : واذاجعل تحته سردابًا لمصالحه ای المسجد جاز(۱) اوپه شامی کې له نهرځخه رانقل شوې دي: وشرط فی المصباح ان یکون ضیقا الخ(۱) وفیه وهوبیت یتخذ تحت الارض لغرض تبرید الماء وغیره(۱) له دغوعبارتونوځخه ځرګنددی چي دمسجددمصالحولپاره ترمسجدلاندي زیرزمیني اونورجوړول صحیح دي له دې وروسته شامی فرمایلې دي قال فی البحروحاصله ان شرط کونه مسجدااان یکون سفله وعلوه مسجدالینقطع حق العبدعنه لقوله تعالی وان المساجدلله(۱) (شامی دریيم توک کتاب الوقف) اوپه لومړی توک شامی اودرمختارکې راغلې دي ،وکره تحریماالوطی فوقه والبول والتغوط لانه مسجدالی عنان السماء(۲) (درمختار) وکذاالی تحت الثری الخ(۲) (شامی) له دغوعبارتونوځخه دامعلوم شوچي مسجدله لاندي ځخه ترپورته پوري یعنی له تحت الثری ځخه ترعرش پوري مسجدوي تردې لاندي اولوړغټې اوکوچنۍ بولې ، کوروالی اونورد مسجدضدکارونه صحیح نه دي اوهمدغه وجه په مصباح کې ددغه شرط لګولو ده چي دغه زېرخانه به تنګه وي چي پکې پرته له اوبواونورو سړولویادمسجدکو زې اوصفونوښوولوبل کوم کارچي دمسجدآدابو په خلاف وي ونکړل شي فقط

سوال : (۴۱۳) دلال کورتی بازارپه مسجدکې ځای لږدی دمسجدوښې اوکینې ارخ ته چي کوم سرایونه دي هغه دمسجدخپل دي متولیان یې وکینې ارخ ته پراخوي خودهغه طرف سرای دمسجدله بنیادونویومنزل تهټ اوکښته دی دمتولیانواراده ده چي ددغه مکان لاندي منزل (پور) هغه رازدکرایې یاامام داستوګنې لپاره پرېږدواودهغه پورته دوهم پورجوړکړومسجدورپراخ کړودا روادی ،که نه ؟(۲۹۳۱/ ۱۳۴۱هج)

خواب : دجوړولوپروخت ددې اجازه شته چي ترمسجدلاندي دمسجددمصالحو لپاره جوړکړل شي لکه چي دمسجددکوزو، صفونو، اونورسامان ښوولولپاره اوپه کرایه ورکولواودچاداستوګنې لپاره دکان یامکان جوړول صحیح نه

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختاروالشامی (۴۸۵/۱) کتاب الصلوة ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دی چې په دې کې دمسجد دبې ادبی اوککړېدووبره ده ،څکه چې مسئله داده چې دمسجدله لاندې څخه ترپورته پورې مسجدوي لانه مسجدالی عنان السماء (درمختار) وکذاالی تحت الثری(۱) (شامی) په درمختاراوشامی کې راغلې دي: واذاجعل تحته سزدابا لمصالحه ای المسجدجازالخ قوله سردابا جمعه سرادیب وهوبیت یتخذتحت الارض لغرض تبربدالماء وغیره الخ وحاصله ان شرط کونه مسجدااان یکون سفله وعلوه مسجدا(۲) له دې شرط څخه دامعلومیږي چې لاندې اوپورته دې له مسجد پرته نوریوشی نه ودانیږي اوپه همدې کې زیات احتیاط دی اودارتیاپه وجه که څه جوړکړل شي نوداسي مکان چې مسجدته په کارراشي مثلا دکوزو ،صفونواونوروښوولونوپروانلري فقط.

دکلپوالووامام ته مسجدهبه کول صحیح نه دي

سوال : (۴۱۴) په یوه کلې کې یومسجدپیرکوچنی وو ،څکه یوپراخ مسجدبل ځای جوړکړداول مسجدخوندي کول مشکل ووپه همدې وجه دکلې اوسیدوو نکودغه مسجددمسجدوامام ته هبه کړدامام لپاره قبضه کول اوپکې اوسېدل صحیح دی ،که نه ؟ یوه مولوی دجوازفتوی ورکړې ده (۳۲/۱۵۱۴-۱۳۳۳هج)

خواب : دجوازفتوی صحیح نه ده مسجدهیڅکله له مسجدوالې څخه نشي وتلای که دارتیاپه وجه دی پربښوول شي نوخوندي دې کړل شي دچاپه ملک کې نشي راتلای اونه څوک دده مالک جوړېدای شي ، نه چاته دمالک جوړولواختیارشته نوکه دارتیاپه وجه دوهم پراخ مسجدجوړشوی دی نوداهیڅ پروانلري دانبه دی خولومړی مسجد(کوم چې کوچنی دی) به هم همېشه مسجدوي اوس که هغه ویران شوی دی نوخوندي دي کړل شي اوودي ترل شي ، شایدبیاکله آبادشي اوسم شي په شامی کې راغلې دي: قال فی البحروبه علم ان الفتوی علی قول محمدفی آلات المسجدوعلی قول ابی یوسف رحمه الله فی تأبیدالمسجد(۳) وفیه ان المسجداذاخرب یبقی مسجدااابدا(۳) (شامی) ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجداعندالامام والثانی ابدااالی قیام الساعة وبه یفتی حاوی القدسی(۳) (درمختار) فقط.

---

(۱) الدروالشامی (۱/۴۸۵) کتاب الصلوة ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۲) الدرمع الشامی (۳/۴۰۲) کتاب الصلوة ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۳) الدرمع الشامی (۳/۴۰۲-۴۰۷) کتاب الوقف ، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

دمسجدلپاره له مخکې وقفولوورسته خپلې لورته بخښل

سوال : (۴۱۵) احسن الله یوه ټوټه مخکه وقف کړه یومسجدیې پکې جوړکړ دجمعې دلمانخه لپاره اذن عام (عامه اجازه) ورکړی وه خلکوپکې لمونځونه کول خه موده ورسته احسن الله دغه وقف کړې اوخه ورسره شاوخوانوره مخکه دخپلې لورپه نامه ولیکله اوس احسن الله وفات شوکلپوال دغه مسجد پوخ جوړول غواړې خوارثان له دغوټولوخبروڅخه منع کوونکی دی په دې حالت کې کلپوال بل ځای مسجد جوړولای شي .که نه ؟ (۱۱۳۷/ ۱۳۳۸هج)

خواب : کومه مخکه چې نوموړی احسن الله وقف کړه هغه وقف شوه اوشرعی مسجد گرځیدد غه وقف کړې مخکه سره دمسجد دخپلې لورپه نامه هبه کول صحیح نه شواودغه مخکه له هبې څخه خارجه ده لکه چې عام دفقهې په کتابونوکې راغلې دي الوقف لایملک ولایملک الخ (درمختار ۲/ ۴۲۱ ، کتاب الوقف) نوداحسن الله وارثانوته داحق نشته چې ددغه مسجدله پخولواوپراخو لوڅخه منع وکړي که دوئ په وقف کړې مخکه اومسجدکې دمالک په حیث کوم تصرف وکړي نودالله ﷻ په دربارکې به مأخوذوي اوکله چې داحسن الله وارثان دغه مسجدوپراخولوته نه پریږدي نودکلپوالولپاره بل مسجد جوړول صحیح دی فقط.

دمسجدځای په قیمت یابېله قیمت چاته ورکول جائزنه دی

سوال : (۴۱۶) مسجدیوطرفته پراخ کړل شواوامام لپاره محراب په مینځ کې جوړشواومخکنی محراب کوم چې یوطرفته پاته شودهغه وشاته یوکوردی چې غولی یې ډیرتنګ دی .ځکه کوروالاغواړې چې له دېوال سیداکولوورسته دمحراب ځای کوم چې پاته شوده ته ورکول شي اوس کلپوال دغه ځای وده ته په بیعه یابې بیعې ورکولای شي .که نه ؟ کله چې په مسجدکې ودې ته اړتیانشته ؟ (۲۷۱۱/ ۱۳۴۳هج)

خواب : ددغه ځای وچاته په قیمت یابېله قیمته ورکول جائزنه دی فقط.

دمسلمانانوله مسجدڅخه لاس اخستل جائزنه دی

سوال : (۴۱۷) یومسجدکله چې ویران وو .ځکه هندوانووربانديې قبضه وکړه یعنی مسجدیې شهیدکړپردې ځای مندرجوړول غواړې مقدمه عدالت ته ولاړه مسلمانان سزاشوپه بیاعارضه کې ستړې محکمې وهندوانواومسلمانانوته پخپل مینځ کې دروغې کولوامروکړ

Maktaba Tul Ishaat. com

نوهندوان په دې فیصله راضي شول چې دمسجدډبرې کومې چې درې محرابه اودوې مناري دي داراوباسي یویې سي دهمېشه لپاره له مسجد څخه لاس واخلي اوپردې ځای مندرجورېدل پرېږدي دارنګه فیصله کول صحیح دی ،که نه ؟ (۱۰۸۲/ ۱۳۳۹هج)

ځواب : دشریعت مسئله داده چې کوم ځای یوځل مسجدشي له هغه څخه هیڅکله هم دمسجدحکم نه جلا کیږي اوهغه به همېشه مسجدوي اوددغه مسجدپه آدابوکې په هیڅ وخت فرق نه راځي اوبې ادبي هیڅکله دده نه روا کیږي اوپه هیڅ وخت دې داستوګنې ځای یامندرنشي جوړېدای نودمسلمانانو لپاره په دې طریقه روغه کول دکومې یادونه چې په سوال کې شوې ده په هیڅ رنګه جائزنه ده اوله مسجد څخه لاس اخستل اودمسجدنبني ختمول په هیڅ حال کې جائزنه دی فقط.

مسجدشهیدول پرځای باندې بازارياودانې جوړول صحیح نه دی

سوال : (۴۱۸) کوم پخوانی مسجدنړېدلی وي یاپه سم حالت کې اوکوم حاکم وبازارپراخول غواړي یاکومه بله ودانۍ دعام خدمت په غرض تعمیروي اومسلمانانوته داخواهش ښکاره کړي چې موږچې دارتیاپه وجه مسجدونړوو پردغه ځای بله ودانۍ جوړه کړواومسلمانانوته داهم ویره ده چې دغه حاکم ته که موږرضاځرګنده نکړونودی یې په جبرنړولای شي.

(الف) نوآیاپه داسي حالت کې مسلمانان دمسجدنړولولپاره خپله خوښه ورکولای شي ؟

(ب) اومسجدله خپل ځای لیري کول پربل خای جوړول اودمسجدپرځای بله ودانۍ ودانول آیاشرعًا داسي جائزدی ؟ (۱۱۰۹/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : شرعًا داصحیح نه دی چې مخکښ مسجدونړوي دبازارته ورګډ کړي اوده په بدل بل ځای مسجد جوړ کړي نودمسلمانانولپاره ددې اجازه ورکول صحیح نه ده اومسجدلیري کول اوداول مسجد مسجدوالی باطلول اودهغه پرځای بل تعمیرکول صحیح نه دی په درمختارکې راغلې دي : ولوخرب ماحوله واستغنى عنه يبقى مسجدا عند الامام والثانى ابدا الى قيام الساعة (۱) وفى ردالمحتار قال فى البحر وبه علم ان الفتوى على قول محمد رحمه الله فى آلات المسجد وعلى قول ابى يوسف رحمه الله فى تأبيد المسجد (۱) فقط.

(۱) الدرالمختار والشامى (۴۰۲/۳) كتاب الوقف ، مطلب فيمالو خرب المسجد اوغيره ط رشيديه.

سوال : (۴۱۹) په انباله ښارکې له پخواڅخه یوه محله چې پکې خراسي مسلمانان آبادوودانګریزانودکارپه پیل کې وبازارجوړولوته اړتیاوه حاکمانو دغه محله ویجاړه کړه بل ځای ته دغه محلی وال نقل کړ، ا وخراسیان مسجدکوم چې په بازارکې راغلی وودهغه په بدل یې یوه توته مځکه دمسجد جوړولولپاره ورکړه تړډیرې مودې پورې دمځکې پردغه توته مسجدجوړنه شوبیاوکمیټې ته درخواست ورکول شوچې دمسجدودانولواجازه دې وشي خوپه دې ځل اولسوال پکې لاس وهنه وکړه په همدې وجه دمسجد جوړول بندکړ چې دهندوانومندرنژدې دی ،ځکه اوس دغه مځکه شاړه ولاړه ده بلکې دهمسایه ګانودقبضې اودهغه په بدل کې دمځکې توته ورکول آیادغه مځکه وقف دمسجدپه ځیرګرځوي ؟ اوآیادغه مځکه له مسجدپرته په بل کارراوستلا ی شو؟ دمسجددودانولوداجازې امیدنشته ،یاکه دامځکه خرڅه کړودکوم بل مسجدپه تعمیرکې ددې قیمت لګولای شو ،که نه ؟(۱۳۴۱/۴۸۰هج)

ځواب : مسئله داده چې کوم ځای یوځل مسجدوګرځي هغه دهمیشه لپاره مسجدوي دمسجدحکم له هغه ځخه هیڅکله نه ختمیږي ،ځکه نودده په بازارکې اخستل جائزنه وواوبل ځای چې کوم دمسجدلپاره ورکول شوترڅوچې مسلمانان دادمسجدلپاره وقف نکړي مسجدنه ګرځي نوترڅوچې هغه مسجدشوی نه وي ترهغه وخته که هغه خرڅه کړي په قیمت یې بله مځکه رانیسي هغه مسجدکولای شي اودغه رنګه په دغه مځکه کې کوم بل مکان دعام خدمت لپاره جوړولای شي فقط.

مسجدشهیدول ، کارخانه وربانديي جوړول

سوال : (۴۲۰) دمسلمانانوپه کلې کې یومسجدله پنځوسو ، شپېتوکلونورا هیسی قائم دی اوس حکومت دغه ځای دصنعت اوکاربګری دکارخانو(فابریکو) لپاره انتخاب کړی دی مسجدله دې ځایه نقلوي دمسلمانانولپاره په دې راضي کېدل جائزدی ،که نه ؟(۱۳۴۰/۲۱۱۵هج)

ځواب : فتوی پردې ده چې کوم ځای یوځل مسجدوګرځي هغه به همیشه ترقیامته پورې مسجدوي دهغه دمسجدوالې باطلول په هیڅ صورت صحیح نه دی نومسلمانانوبایددې په هیڅ دول اجازه ونکړي اوتبادله دده صحیح نه ده اوکه بل ځای مسجدودان کړل شي بیاهم اول مسجدبه مسجدوي اودوهم مسجدبه هم مسجدوګرځي فقط.

مسجدشهیدول ،وربانديي دامام حجره جوړول

Maktaba Tul Ishaat. com

سوال: (۴۲۱) دمسجد برخه شهیدول ،وربانديي دامام حجره جوړول جائزدي ،که نه ؟یامدرسه جوړبدای شي ،که نه ؟(۱۳۴۲/۹۲۳هج)

خواب: دمسجد برخه شهیدول اونړول په هغه کې حجره یاکوردامام داستوګنې لپاره یامدرسه جوړول صحیح نه دي کمافی الدرالمختار: امالوتمت المسجدیة ثم ارادالبناء منع الخ(۱)

مسجدشهیدول په سړک ورګډول

سوال: (۴۲۲) یومسجدله ډیرې مودې راهیسي ناآباددی تردې چې داوښوهم ډک کړل شي اوچې کله تش وي نوڅوک پکې خپل ضرورت هم پوره کوي اوس ددې دسړک په برابرې کې راتلوپه وجه دحکومت له لورې دشهیدولوتجویزده نودمسلمانانولپاره پردې شهیدبدل یاجګړه کول جائزدي ،که نه ؟ (۱۲۵/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

خواب: کوم ځای چې مسجدشوهغه به همیشه ترقیامته پورې مسجدوي دهغه کومه بې ادبې کول صحیح نه دي اوپه سړک کې ورګډول هم صحیح نه دي بلکې دادې پرخپل حال پرېښول شي اوخوندي دې کړل شي چې حیوانان اونورووردا خل نشي دمسلمانانوپه ذمه دمحکوم کېدوپه صورت همدومره دی چې پخپل اختیاراووس سره دغه مسجدپه سړک اونوروکې ورنکړي اوپردې راضي نشي نورجنګبدل په موجوده حالت کې ضروري نه دی.

دمسجدپه مځکه کې دغېږوځای جوړول

سوال: (۴۲۳) یومکان دمسجدلپاره په چنده واخستل شواوهغه یې ونړوی اومسجدیې وربانديي جوړکړاولمونځ اوتراویح له څه مودې راهیسي یې پکې کیږي یوه برخه دده پخه جوړه کړې ده اویوه برخه داودسودځای ، غسل خانو، حجرې اونورولپاره دچندي دنیشت والی په وجه باقي پرته وه اوس په دغه ځای کې ځینې خلکو(کوموچې زیاته چنده ورکړې ده) دغېږوځای جوړکړی دی آیادغه دغېږوځای په دې ځای کې جوړول جائزدي ،که نه ؟(۱۳۴۳/۸۷۷هج)

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۴۰۲/۳)کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

خواب: داجائزنه دی دغه ځای خاص دمسجدداړتیاوولپاره استعمالول پکار دي فقط.

دمسجد پر مځکه مکان جوړول بیاپه کرایه ورکول جائزنه دی

سوال: (۴۲۴) (الف) دجوهانسبرګ ښاردملایې کمپ په محله کې دیوختم شوې مسجد مځکه پرته ده چې ورباندې پنځویشت کاله مخکې یومسجدآبادوو په کومه زمانه کې چې محله ویرانه شوه اوهلته کوم مسلمان پاته نه شوهغه وخت مسجدهم ویران شوصرف مځکه پاته شوه ددغې مځکې دحکومتې میاشتنۍ مالیې نه اداکولوپه وجه غوښتنه وشوه اوخبره تردې ځایه ورسېده چې دغه مځکه خرڅه شي په اوس وخت دعلماوودوېناپه وجه یوسل پنځه اویاپونډه ددغې مځکې مالیه دجامع مسجد جوهانسبرګ له روپیواداکړله شوه دغه رنګه که په آئنده کې دغه مځکه بېکاره پرته وي نودمالیې په عوض دحکومت له لورې دخرڅېدواندېښنه ده ،ځکه نودجوهانسبرګ مسلمانان پردې خبره اتفاق لري چې پردغه مځکه دجامع مسجدله لورې یومکان جوړکړل شي چې کرایه به په جامع مسجد کې لګېږي په دغه مځکه کې وجامع مسجدته یومخ اړتیانشته آیاپه یاده شوې مځکه کې مکان جوړول اودهغه کرایه دجامع مسجد په اړتیاووکې لګول روادي ،که نه ؟

(ب) دیوویران شوې مسجدمځکه ده چې ورباندې په یوه زمانه کې مسجدآباد وودده باني شافعي دی اوهغه ژوندی دی حالاددغې مځکې په شاوخواکې دمسلمانانودآبادۍ نه کېدوپه وجه دلته ومسجدته ضرورت نشته دغه مځکه دنومورې باني په وسیله دنورومسجدونوپه تصرف کې راتلای شي ،که نه ؟ (۱۴۸۴/۱۳۴۳هج)

خواب: (الف و ب) په شامی کې راغلې دي چې دمسجد پرتابید (همېشه مسجد کېدو) فتوی ده یعنی کومه مځکه چې مسجدشي هغه دهمېشه لپاره مسجدوي (۱) اوآداب دمسجدپه ده کې قائم وي اودمسجد پرمځکه سرای جوړول اودهغه په کرایه ورکول هم ناروادي لکه چې په شامی اودرمختارکې څرګندونه ده (۲) لهذا په پوښتل شوې صورت کې

(۱) قال فی البحر: وبه علم ان الفتوی علی قول محمدرحمه الله فی آلات المسجد وعلی قول ابی یوسف رحمه الله فی تابید المجد (الدرالمختارمع الشامی (۴۰۲/۳) ، کتاب الوقف ، مطلب فیمالوخرب المسجدوغیره ط رشیدیه.

(۲) امالوتمت المسجدیة ثم ارادالبناء منع الخ وفیه : ولایجوزاخذالاجرة منه ولاان یجعل شیئا منه مستغلا ولاسکنی بزازیة (الدرمع الرد (۴۰۲/۳) ، کتاب الوقف مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه).

دواړې توټې دمځکې چې پکې مسجدووخوندي کول پکاردي اومسجد ساتل په دې کې که څه هم روایتونه نورهم شته کوم چې دمسجدویرانۍ په صورت کې دادول تصرفات رواکوي خوفتوی ددغوتصرفاتوپرناجائزوالي ده فقط.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجد په څلورد ېوالي کې په کرايه ورکولولپاره مکان جوړول

سوال : (۴۱۵) دمسجد دڅلورد ېوالي مځکه کومه چي دقبلي د د ېوال سره نښتې ده په دې کې که دقبلي د ېوال ورسره يوځای کړوکوم مکان ددکان دکرايې لپاره جوړشي اوګټه مسجدته راځي نوپه دې کې خوبه شرعي منع نه وي ؟ (۱۰۵۰/ ۱۳۴۲هج)

خواب : ښکاره ده.چي داصحيح ده ،ځکه چي په مسجدکې پخپله داتصرف په دې وجه ناجائزدی چي په دې سره دمسجدمرداربدل لازميږي اوکوم ځای دمسجدداوقافوچي له مسجدڅخه وتلی وي په هغه کې په مکان اونوروجوړو لو مسجدته ګټه رسول صحيح دی فقط.

دمسجدپه مځکه کې دامام دخپلې استوګنې لپاره کورجوړول

سوال : (۴۲۲) (الف) يومسجدشهبدکړل شوله نوې سره يې جوړکړنوددە زوړسامان اوتيران اونورڅه په وکړو؟

(ب) دمسجدامام دمسجدپه څلورد ېوالي کې دخپلې استوګنې لپاره دکلېوالوله اجازې پرته کورجوړکړاوپه هغه کې يې دمسجدزوړسامان (تيران اونوراستعمال کړل) په دې صورت کې دامام داعمل جائزدی ،که نه ؟(۷۵/ ۱۳۴۵هج)

خواب : (الف ، ب) دده زوړسامان تيران اونورخرڅ کړي دهغه قيمت بايدپه مسجدکې ولګوي اودمسجدپه اړه چي کومه مځکه ده په هغې کې که دمسجدد ضرورت لپاره مکان ودان کړل شي نوپه هغه کې هم دغه سامان تيران اونورلګول صحيح دي اودمسجددامام داستوګنې لپاره مکان جوړول هم دمسجدله اړتياووڅخه دی اودمسجدله مصالحوڅخه دی ،ځکه نودنوموړې امام لپاره دکلېوالو يادمسجددمتولي په اجازه مکان جوړول صحيح دي خوهغه مکان هم دمسجددی ترڅوچي دغه امام په مسجدکې امامت کوي په دې مکان کې دې استوګنه کوي اوکله چي دی امام نشي پاته نوکوم امام چي مقررشي هغه په دې کې استوګنه کولای شي فقط.

آيادنوې مسجدپه جوړولوله زوړمسجدڅخه کورجوړول جائزدي ؟

سوال : (۴۲۷) زمونږپه کلي کې له ډیرې راهیسي یوخام مسجددی اوس بل ځای دنوي اوپاخه مسجدجوړلواراده ده نوکه دموجودخام مسجدځخه کورجوړکړو ،پکي اوسېدل روادي ،که نه ؟(۱۳۴۵/۱۰۰۴هج) .

ځواب : کوم خام مسجد چي له مخکې ځخه موجودووهغه به هغه رازمسجد وي په هغه کې دمالک په حیث هیڅ ډول تصرف دهیڅانه صحیح کیږي اوداڅاکور نشي کېدای داهمېشه بایدمسجدوساتولکه چي په شامی کې دي چي فتوی دمسجدپرتابیدده یعنی کوم ځای چي یوځل مسجدشي هغه به همېشه مسجد وي فقط .

دمسجدمخکه دشیعه ګانووامام باړې یاتعزیه ځای ته ورکول جائزنه دی

سوال : (۴۲۸) دمسجددوې کوټې کلېوالووامام باړې ته منتقلې کړي اویودالان (برنډه) غوندې جوړکړي دي دتعزیې آس پکي تړي دغه ودانول صحیح شو ،که نه ؟ ،ځکه چي په دې کې ښکاره دمسجددحق وهنه ده دکرایې آمدني بنده شوه اومخکه په یوبل مصرف کې استعمال شوه په دغه تعمېرکې چنده ورکول ځرنګه دي ؟ (۱۳۴۵/۱۳۰۳هج)

ځواب : دکلېوالوداعمل جائزنه دی اودغه تعمېرصحیح نه شو ، اوپه دې کې ددې کارلپاره چنده ورکول جائزنه دی اوس لازم دی چي دغه بدعتیان له دغه ځایه لیرې کړي اوله دغه دالان ځخه دمسجدکارواخلي فقط .

سوال : (۴۲۹) دمسجدپه شاړه مخکه کې (کومه چي وقف ده) دتعزیه ښوولوامام باړه جوړول صحیح ده ،که نه ؟ مخکې په دې مخکه کې دکانونه ووچي کرایه یې پرمسجدلګېده اوس ددغودکانونوپه نرېدوامام باړه جوړه شوې ده ؟ (۱۳۴۷هج ۴۲/ ۱۸۴۲-

ځواب : دمسجدپه وقف مخکه کې امام باړه جوړول جائزنه ده بلکي په دغه شاړه مخکه کې دکانونه یاسرایونه جوړکړي په کرایه باندې یې ورکړي اودغه کرایه پرمسجدصرفوي اوکه دمسجدپه مخکه کې مکان دامام باړې په نامه جوړشوی دی نوپه هغه کې تعزیه مه ږدئ تعزیه له هغه ځایه لیرې کړي که پخپله پورته کولوکې څه مشکل دی نودحکومت اومحکمې په مرسته لیرې کړي اودغه مکان ته دامام نوم مه ورکوئ بلکي دی ته دمسجدمکان وایاست اوداستوګنې لپاره په کرایه ورکړي .

Maktaba Tul Ishaat. com

پرمسجدسرپېره کچاري کول شرعًا صحیح نه دی

سوال : (۴۳۰) په جی پوراولسوالی کې یوځای دی هلته داولسوالی کچاري پرمسجدبالالګیرۍ اوداله ډیري مودې راهیسې داسې راروان دی ،مسلمانانو ډیرزیات عذرونه ورپېښ کړخوهیڅ غوږورته نه کښېښوول شومجبوره شودغه معامله یې پرخدای ﷻ پرېښوده هلته دکچاري کوونکوبه څه حشروي ؟ (۱۷۴۲ / ۱۳۴۵هج)

خواب : دمسجدحکم له لاندې ترپورته پورې دمسجددی کوم کارونه چې په مسجدکې دننه جائزنه دي هغه دمسجدپرچت هم روانه دي ،ځکه نوکچاري کول پرمسجدلوړشرعًا صحیح نه دی دمسلمانانوکارهم دومره ووچې دوئ کوشش وکړي چې په مسجدکې کچاري بنده کړي نوکله چې مسلمانانوپه دې هکله کوشش وکړنوددوئ غاړې خلاصې شوې ددې وبال پرهغه چادی کوم چې دانارواکارکوي فقط.

دمسجدپه لاندې برخه کې خپل قبرکښل جائزنه دی

سوال : (۴۳۱) زیدیومسجدجوړوي دارنګه چې په لاندې منزل کې خپل قبر کاږي اوپرباندې منزل کې مسجدجوړوي داجائزدی اوکه نه ؟ (۲۴۷۵ / ۱۳۴۵هج)

خواب : دارنګه مسجدجوړول چې لاندې قبروي اوپورته مسجدداروانه دی فقط

دمسجدپه ځلوردېوالی کې مړې ښخول

سوال : (۴۳۲) دمسجدځلوردېوالی مځکه وقف ده ،که نه ؟ اودکلېوالولپاره په دې کې مړې ښخول روادی ،که نه ؟ (۱۷۴ / ۱۳۴۰هج)

خواب : دمسجدځلوردېوالی مځکه که دمسجدله اوقافوڅخه وي نوپه هغه کې مړې ښخول روانه دي اوکه هغه مځکه له مخکې څخه هدېره ده اودمړې ښخولو لپاره وقف ده نوپه هغه کې مړې ښخول صحیح دي فقط.

دمسجداوددہ له مځکې څخه ناروااستفاده کول

سوال: (۴۳۳) زیدیومسجدجوړکړاوورسره یې څه مځکه هم وقف کړه اوس خودوقف کوونکی اوباني دوفات ډیروخت وشو،ځکه ددې دصورت په بدلولو دمسجداوده له مځکې څخه موجوده مالک ناروااستفاده کول غواړې که پخپل مکان کې مسجداودمسجدمځکه ورګډه کړي خپل کورپرجوړکړي دنه په هکله څه حکم دی؟ (۲۰۱۷/ ۴۶- ۱۳۴۷هج)

خواب: په درمختارکې راغلې دي: ویزول ملکه عن المسجدوالمصلّی بالفعل وبقوله جعلته مسجدااالخ (۱) وفیه ایضاولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجداعندالامام الثانی ابدااالی قیام الساعة وبه یفتی (۲) له دغوروایتونو څخه معلوم شوچې دمسجددباني ملکیت له مسجدڅخه په وقفولوسره ختمیږي اوبیاهغه دباني په ملک کې نه راځي اوکه دمسجدشاوخواآبادي ختمه شي دخلګوورته اړتیانشي پاته نوپه دې سره دده مسجدوالی نه باطلیږي بلکې کوم ځای چې یوځل مسجدوګرځي هغه همېشه له تحت الثری څخه تراسمانه مسجد وي ،ځکه نومسجدیادمسجدوقف مځکه وخپل کورته ورشاملول هیڅکله روانه ده چاچې داسې کړې دي که دی دارنګه ونه مني نوپرده په محکمه کې دعوی وکړي دده کورورونړوي مسجداودهغه وقف مځکه دده له کوربهله خوندي کړي کنې ټول خلګ به ګنهګاران وي اوترڅوچې دغه سړی مسجداودهغه وقف مځکه له خپل مکان څخه بېل نکړي ترهغوئ دې ټول مسلمانان اوټوله کورنۍ دده سره اړیکې ختمې کړي فقط

.

دمسجدکومه برخه دمندریاشیعه ګانوجلوس تیرېدولپاره پرېښوول

سوال: (۴۳۴) دینومسجددودانېدوتردوه سوه زیات کلونه کیږي چې موجوده حالت یې داسې دی چې دزمانې په انقلاب دمسجددلویزیځ برخه ښکاره وه دغولې اوځلوردهوالی برخه یومخ په مځکه کې پټه شوې وه دمسجدسره نښتی یومندرچې نوی ودان شوی دی دمندراودمسجددغولې ترمینځ دتعزیه اونوروتیرېدولپاره سړک جوړشوی دی اوس

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۰۴)، کتاب الوقف، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.
(۲) الدرمع الشامی (۳/ ۴۰۶) کتاب الوقف، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجدپرپټه برخه یوحلوائي تعمیرپه غرض دمکان کیندل شروع کړچي ورځخه دمسجدپټه برخه ښکاره شوه اوروغ مسجدله مځکي څخه رابښکاره شو،ځکه نودمسجدپه ښکاره کېدوسره دمندراودتعزیې اونورودسړک کېدل ناممکن شو نوځومره برخه دمسجددتېرېدولپاره پرېښوول کېدای شي؟ (۱۱۰۶/۱۳۳۹هج)

ځواب: له مسجدښکاره کېدووروسته اوس یوه برخه هم دمسجددتعزیې اونورودسړک اوتېریدولپاره پرېښوول صحیح نه دی مسجددهمېشه لپاره مسجد وي اوتل ترتله درناوی کول واجب دی دمسجدکومه برخه په کوم بل کارراوستل جائزاوصحیح نه ده ددې انتظام ضروري دی اودلاروپه مسجدکې بندول لازمي کاردی فقط.

دمسجدمځکه دپولیسودځوکی جوړولولپاره په کرایه ورکول

سوال: (۴۳۵) دکوم مسجدمځکه په نوم کرایه باندي دپولیسوځوکی جوړولو یاښوولولپاره ورکول روادي،که نه؟ (۷۳۷/۱۳۴۱هج)

ځواب: داروانه دی فقط.

دمسجدکومه برخه په کرایه ورکول

سوال: (۴۳۶) یومسجدله نوې سره جوړېږي چې یوطرفته یې عامه لاره ده نوپه دې طرف کې دوه دکانونه په دې نیت چې دوئ کرایه به دمسجدپه اړتیاووکې صرفېږي دمسجدترچت لاندي برخه کې دجوړولواراده ده دمسجدغولی پراخ دی اوددې په ځلوردېوالی کې دنورواړتیاوولپاره جوړې حجرې شته نوآیاشرعًا داسې دکانونه جوړول روادي؟ (۴/۴۴-۲۳۴۵هج)

ځواب: په کرایه ورکولوپه نیت ترمسجدلاندي دکانونه جوړول صحیح نه دي،ځکه چې مسجدله لاندي ځخه ترپورته پورې مسجدوي په ده کې دادول تصرف چې پکې دمسجدبې ادبي وي صحیح نه دی اوښکاره خبره ده چې کله دکانونه په کرایه ورکول شي نوپه دې کې دمسجددرناوی پرځای نه پاتېږي په درمختاراوشامی کې دي چې دمسجدکومه برخه په کرایه ورکول اوهغه دمسجددآمدنی وسیله ګرځول روانه دی (۱) اوداچې دمسجدله عرش ځخه ترتحت الثری پورې مسجددی

(۱) ولایجوزاخذالاجرة منه الخ (الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۰۶) کتاب الوقف ،مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره طرشیدیه.

پرمسجدباندي اولاندي دکرايې دکانونه اواستوګنې کورونه جوړول روانه دي (۱) فقط.

دمسجدشاړه مځکه خرڅول

سوال: (۴۳۷) يوې دمې (بدچلندې ميرمنې) دخپل مرګ پرمهال يوه وصيت پاڼه (چې پکې دمسجدونونوم ديوې شاړې مځکې برخه ده) وليکله اوس هغه مځکه تراوسه بيکاره ولاړه ده رانيوونکی شته که يې خرڅه کړونوهغه روپۍ دمسجدپه ارتياووياد مسجدامام په تنخواه کې صرفېدای شي، که نه؟ (۱۳۳۷/۱۸۸۳هج)

ځواب: دغه شاړه مځکه دمسجدلپاره وقف شوه ددې خرڅول صحيح نه دی بلکې داسې صورت پکاردی چې که دمسجدپه اړه په دې کې وکوم مکان، حجره، غسل خانه اونوروجوړولوته ارتياوې پکې جوړې کړې يابه دې کې مکان جوړکړې چې کرايه يې مسجدته راځي اماکه وصيت کوونکی داځرګندونه کړې وي چې داخرڅه کړي ددې قېمت دمسجدپه ارتياووکې لګېدای شي نوبه دې حال کې دغه مځکه خرڅه کړي ددې قېمت دمسجدپه کارونواودامام اومؤذن په تنخواه کې لګېدای شي اودوقف کوونکې له ځرګندونې پرته يې خرڅول صحيح نه دي، ځکه چې اصل دادی چې دوقف رانيول، خرڅول اونورجائزنه دي الوقف لايملک ولايملک (۲) فقط.

دچادارتياپه وجه دمسجدمځکه خرڅول

سوال: (۴۳۸) دمسجدپه نامه يومکان دی دهغه کرايه پرمسجدصرفيږي يوسړی دی مسجدته نژدې آباددی دده پخپل کورکې وځه مځکې ته ضرورت دی دی دمسجدله متولي ځخه څه مځکه په پيسورانيول غواړې دمتولي لپاره دده دضرورت په وجه ددغه مکان لږمځکه خرڅول په شريعت کې روادی، که نه؟ (۱۳۳۷/۱۰۴هج)

(۱) لانه مسجد الی عنان السماء الخ (الدرمع الرد (۱/۴۸۵) کتاب الصلوة مطلب فی احکام المسجد ط رشيديه)
(۲) الدرالمختارمع الشامی (۳/۴۰۲) کتاب الوقف، بعد مطلب مهم فرق ابويوسف رحمه الله بين قوله موقوفة الخ ط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : دمسجدپرنامه چي کومه مځکه ده هغه وقف ده اودوقف خرڅول نه دي صحيح کمافی الدرالمختاروغيره الوقف لايملک ولايملک (الدرمع الرد ۶/ ۴۲۱کتاب الوقف) فقط .

کوم ځای چي دمسجدنښې وي دهغه خرڅول څرنګه دی ؟

سوال : (۴۳۹) يوسپين ځای چي دشهيدشوې مسجدنښې ورباندي شته يوسړی کوم چي دده مسجدپرځنګ اوسيږي په پنځه سوه روپی پريوبل سړی خرڅ کړ، دغه دمسجد ځای خرڅدای شي ،که نه ؟ (۱۸۸/ ۱۳۴۲هج)

خواب : په درمختارکې راغلې دي [الوقف لايملک ولايملک] ددې حاصل دادي چي په وقف کې هيڅ تصرف خرڅول ،هبه کول اونورجائزنه دي اودادچا ملک نه دی اوددې يادونه هم په شامی کې شته چي کوم ځای يوځل مسجدشي هغه دهميشه لپاره مسجدوي لان الفتوی علی تأبيدالمسجد (الشامی ۶/ ۴۲۹، کتاب الوقف) نوکله چي هغه ځای مسجدوواودمسجدنښې ورباندي شته يعنی که څه هم هغه اوس نړېدلی دی خوله نښوځخه معلوميږي چي دامسجدوونوپه ده کې دنومورې شخص تصرف دخرڅولوصحيح نه دی اوبيع ددده باطله ده نه ثمن ددده دخرڅوونکې لپاره حلال دي اونه دغه ځای دمشتري په ملک کې داخليږي اومکان جوړول په دې کې داستوګنې په نيت روانه دی اواستعمالول ددده صحيح نه دی وبناروالواوکلپوالوته داحق شته چي ددغه مسجدمځکه رانيوونکې اوخرڅوونکی له تصرفه چي څرنګه کېدای شي وباسي اودامسجدوبولي اودمسجددآدابوپه دې کې مراعت وکړي اوکله چي ددده دتعمېراوآبادولوموقع په لاس ورشي دادې ودان کړي اوکه دانشي کېدای نولږترلږه خوندي خودې کړي فقط .

ويران مسجديادهغه وقف کړې مځکې خرڅول

سوال : (۴۰۴) مخکې يوځای مسجدوواوس مسجدويران اوناآبادد ی کله چي نژدي دی ته نورمسجدونه شته نوکه داځای خرڅ کړوپه بل مسجدکې لګېدای ،شي،که نه ؟ (۸۵/ ۱۳۴۱هج)

خواب : مسجديادمسجدوقف کړې مځکه خرڅول صحيح نه ده فقط .

سوال : (۴۴۱) یومسجد بدچلنده ښځو (ډمو) پخپله ګټه جوړکړی وو په هغه کې چالمونځ نه کاووا وزورشوی نړېدلی وو، ځکه دغوډمودامسجدویوفقیرته ورکړ هغه فقیرلرکې اونورځینې پورته کړومځکه یې پریوسړی خرڅه کړه اوس هغه دمځکې مالک یکې مسجدجوړوي نوپه دې مسجدکې خوبه لمونځ کول تاوان نلري؟ (۱۵۹/ ۱۳۳۵هج)

خواب : دمسجددمځکې رانیول، خرڅول صحیح نه دي په هرحال دچاپه قبضه کې چې اوس دغه مځکه ده پرهغه لازم دي چیدغه مځکه مسجدوګڼې اوکه دی یانور مسلمانان داتعمیرکړي نوډیربنه دی لمونځ په دې کې صحیح کیږي فقط واللہ تعالی اعلم.

سوال : (۴۴۲) یوسړی دمسجدلپاره مځکه وقف کړه وفات شوخوهغه مځکه داغسې پرته ده ودې ته نژدې دیوسړی کوردی دهغه څه مځکه پکارده دده لپاره په پیسوواخستل صحیح دي، کەنه؟ (۲۳۸/ ۱۳۳۷هج)

خواب : کومه مځکه چې وقف شوه له هغې څخه دکومې برخې رانیول اوخرڅول صحیح نه دي هغه ذچاوملک ته نشي نقل کېدای لکه چې [الوقف لایملک ولایملک مشهوره مسئله ده (۱) فقط.

دمسجددوقف مځکې په بدل کې دوررسېدلې مځکې دخرڅولوحکم

سوال : (۴۴۳) یوسړی یوپوخ مکان مسجدته وقف کړلږموده وروسته دغه مکان په کومه وجه حکومت پورته کړاوپه بدل کې یې بل ځای ورکړدغه ځای ځوکسانو په ګډه خرڅ کړپه پنځوس روپۍ. دغه خرڅول دمځکې په دې صورت کې روادی اوکه نه؟ (۳۲۸/ ۱۳۳۸هج)

خواب : دغه دبدلې مځکه پرمسجدباندي وقف بلل پکاردي ددې خرڅول نه دي پکارفقط.

دمسلمانانودآبادی- دنه کېدوپه وجه مسجدخرڅول، بل مسجدجوړول

سوال : (۴۴۴) یومسجد چې پرچت (بام) باندي واقع دی هغه آبادېدای شي، ځکه چې هلته نه کومه دمسلمانانومحله شته اونه ورنژدې کومه لاره شته مسجد ته دورتلوسمه

(الدرمع الرد (۴۰۲/۳) کتاب الوقف، بعد مطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

اوږده لاره باندي راتلل راځي نوداسي مسجد خرڅول چي بل په جوړکړو جائزدی ،که نه ؟(۱۳۴۰/۲۳۸۱هج)

ځواب : مسئله داده چي مسجدله لاندي څخه ترپورته پوري يعنی له تحت الثری څخه تراسمانه پوري اوترعرشه پوري مسجدګرځي اوکوم مسجدچي يوځل مسجدشوبياهغه تل ترتله مسجدوي په هيڅ وخت هم دمسجد حکم له ۵ه څخه نشي بېلېدای نوديادشوي مسجد خرڅول شرعًا صحيح نه دی دابه همېشه مسجدوي داخوندي کړئ اوبل مسجدکه دارتياپه وجه جوړکړي نوداهم جائزددی خواول مسجدبه هم مسجدوي کمافی الشامی [من ان الفتوی علی تأبيدالمسجد(۴/۴۲۹کتاب الوقف) فقط.

دمسجدخرڅوونکي شرعي حکم

سوال : (۴۴۵) څوکسانويوخام مسجدخرڅ کړحال داچي هغه مسجدله شپېتو کلونوراهيسي جوړشوی وواوخرڅوونکوددروغوقسم اخستی دی چي پردي ځای مسجدنه ووپه دي صورت کي ددغوخلګوپه هکله حکم څه دی ؟ (۱۰۴۸/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب : کوم ځای چي مسجدشي هغه دهمېشه لپاره مسجددی دهغه خوندي کول ضروري دي خرڅول اورانيول دهغه باطل اونارواوادي مسجدهيڅکله دچاملک نشي کېدای کوموخلګوچي مسجدخرڅ کړهغوئ ګنهګاراوعاصيان دي مسلمانان دي له دوئ سره اړېکي نه ساتي پردوئ دوه چنده وبال دی يودمسجدخرڅولوبل ددروغودقسم اخستو.

دمسجدلپاره وقف شوي حجري ،دروازه دمسجدپه غولي کي راخلاصول صحيح دي

سوال : (۴۴۶) يوسړی دکلي دمسجدسره نشتي حجره جوړه کړه اودهغي يوه دروازه يې دمسجدپه غولي کي راخلاصه کړه چي که کوم مسافريامعلم راشي نوپه دي کي به اوسيږي اودمسجدسامان به پکي ښوول کيږي اوددي انتظام ودانوونکی پخپله کوي اوخپل قلف يې وراچولی دی دمسجدلپاره داوقف کړي ده پردي کلهوال وايې چي کله تاسووقف کړي ده نوخپل قلف اوپخپله انتظام ولي کوي ؟ کنې په مسجدکي دي چي کومه دروازه راخلاصه کړي ده دابنده کړئ په دي اړه شرعي فيصله څه ده ؟(۱۳۴۳/۳۲۸۷هج)

خواب : کله چې دغه حجره مسجد ته وقف شوه نوددې دروازه دمسجد په غولې کې راخلاصول صحیح دي اوکله چې څوک وقف کوونکی دیوشی وي هماغه شرعًا دهغه متولی اومنتظم وي ،څکه دده لپاره ددې انتظام کول ،ترمهمول اوقلف وراچول ټول روادي لکه چې په درمختارکې راغلې دي جعل الولایة لنفسه جازبالاجماع وکذالولم یشترط لاحدفالولایة له عندالثانی وهوظاهر المذهب نهر(۱) (درمختار)

دمسجدپه شاړه مځکه کې مکتب (ښوونځي) جوړول

سوال : (۴۴۷) دمسجدپرشاړه مځکه سکول (مکتب) جوړول چې پکې داردو، انګریزي ،حساب ، جغرافیه ، قرآنکریم ، اودینیاتوزده کړه کیږي جائزدی ،که نه ؟ چې دکرایې آمدني به راځي داپه کرایه ورکول روادی ،که نه ؟ (۷۳۷/۱۳۴۱هج)

خواب : که په دې کې دمسجد ګټه وي نوصحیح دی.

دوس دلودلوسره مسجدنه آبادول

سوال : (۴۴۸) دکوم کلي مسجد چې نړېدلی وي اوخلک سره دوس درلودود هغه ترمهم نه کوي اونه یې آبادوي نوددوئ په هکله څه حکم دی ؟ (۱۹۷۸/ ۴۲-۱۳۴۷هج)

خواب : کوم خلک چې سره دوس درلودومسجدنه جوړوي اونه آبادوي هغوئ ګنهګاردي فقط.

دمسجدکېدولپاره چت اومناره ضروري نه دي

سوال : (۴۴۹) یوه چوتره ده چې له درهیوکلونوراهیسي وربانديې پنځه وخته اذان اولمونځ کیږي اومنبراوحجرې پکې شته دجمعې لمونځ هم پکې کیږي اوس دزیدوربانديې اعتراض دی صرف پرچوتره باندي په لمونځ کولودمسجد در ناوی ورته نه ثابتیږي ،څکه چې پردې نه چت شته اونه مناره کوم چې دمسجدلپاره لازم دی بکرپردې تینګارکوي چې مناره اوچت دمسجدله لوازمو څخه نه دي دپنځه وخته لمانځه په جماعت سره اواذان کېدل کفایت کوي اوپردغه چوترباندي دجمعې لمونځ هم کیږي (۳۲/۲۳۵۸-۱۳۳۳هج)

(۱) الدرمع الشامی (۴۲۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی اشتراط الواقف الولایة لنفسه ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : که دچوترې مالک دادلمانځه لپاره وقف کړې وه اومسجدیې ګرځولی وونوداچوتره مسجد شوه دچت اومنارې اړتیادمسجد کېدولپاره نشته فقط.

کومه مځکه چې دتعمیرورسته دمسجدله ځلوردهوالی ځخه دباندې پاته شوه هغه خرڅول

سوال : (۴۵۰) زیدله څومسلمانانوځخه څه روپۍ دچندې په توګه په دې وینا راجمع کړې چې په دغوروپیودمسجدلپاره مځکه اخلم په دې نیت خلګوچنده ورکړه اوپه دغوروپیوبې یوه مځکه رانیوله چې پکې مسجدجوړکړدمسجدد جو رولوپرمهال په قطب نمااونوروسره دمسجدقبلې رخ برابرولوکې له ټولې رانیول شوې مځکې ځخه ځولاسه مځکه دکورهوالې له امله دمسجدله ځلوردهوالی ځخه دباندې پاته شوه مسجدپه هره وجه تیارشوپکې دجمعې اوجماعت لمونځ کیږي خوکوم مسلمان تراوسه نه په خوله داسې ویلې دي چې دغه رانیول شوې مځکه موږوقف کړه نه کوم داسې لیک دکوم متولي یاچنده ورکوونکی له طرفه شوې دی اوس پوښتنه داده چې کومه مځکه چې دمسجدله ځلوردهوالی دباندې ده دمسجدمځکه بلل کیږي اوددې حکم به دمسجدوي که به وقف مځکه ورته ویل کیږي ؟ اوددغې مځکې رانیول خرڅول روادی اوکه نه ؟ دمسجدمتولي دغه مځکه له مسجدځخه پۀ دباندې بللوپریوهمسایه مسلمان خرڅه کړه دغه روپۍ پرمسجدولګولې په دې صورت کې څه حکم دی ؟ (۲۲۴۰/۳۳-۱۳۳۳هج)

خواب : په درمختارکې راغلې دي : ویزول ملکه عن المسجدوالمصلی بالفعل وبقوله جعلته مسجدا عندالثانی الخ (۱) وفیه قبله ورکنه الالفاظ الخاصة وقال فی ردالمحتارومنهامافی الفتح حیث قال: فرع: یثبت الوقف بالضرورة وصورته ان یوصی بغلة هذه الدارللمساکین ابدااولفلان وبعده للمساکین ابدافان الدارتصیروقفابالضرورة والوجه انهاکقوله اذامت فقدوقفت داری علی کذاالخ (۲) (شامی : ۳/ ۳۵۹) نوددې اودې ته ورته روایتونوپه اساس په پوښتل شوې صورت کې داحکم دی چې څومره مځکه په مسجدکې تعمیرشوه اوپه مسجدورکوونکوپه اجازه تصرف دخرڅولواونوروکېدای شي اودهغه قیمت دچنده ورکوونکواجازه په مسجدکې هم لګېدای شي اودمسجدمتولي خوعرفاوکیل دی دچندې ورکوونکو

---

(۱) الدرمع الرد (۴۰۴/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختاروردالمحتار (۳۹۳/۳) کتاب الوقف ، مطلب: قدیثبت الوقف بالضرورة ط رشیدیه.

څکه هغه ته هم د دا ډول کارونو اجازه معلومیږي.

دمسجدوقف شوی مکان خوندي کول ضروري دی

سوال : (۴۵۱) که دمسجدوامام ته دمسجد په وقف مکان کې لمونځ کوونکو ببله کرایې اوسېدواجازه په دې وجه ورکړي وي چې ترډیره مودې ده ببله تنخواه امامت کړی وونواوس کله چې دامام دغه وقف مکان خپل ملک بولي اولمونځ کوونکوته دده له حرکاتوڅخه داګمان پیداشوی وي چې دامام به پردغه مکان باندې قبضه وکړي په دې وجه لمونځ کوونکې په ده دکرایې پانه لیکل غواړي که دی دکرایې له پانې لیکلوڅخه انکاروکړي نودده دوقف مکان څخه لیرې کول جائزدی ،که نه ؟(۱۳۴۰/۹۳۴هج)

خواب : په داسي حال کې چې ددغه عزل شوې امام له لورې دااند ښښنه ده چې دی به دملکیت دعوی وکړي اوله علاماتوڅخه داسي ښکاري نوپه ده دکرایې پانه ولیکي یابې لیرې کړي داضروري دی ،څکه چې خوندي کول اودوقف دګټې پام ساتل ضروري دی اوپه کوم کارکې چې دوقف تاوان وي له هغه څخه پام کول لازم دی فقط

دمسجدپه مځکه کې دتاجردتصرفاتوحکم

سوال : (۴۵۲) (الف) یوتاجردجامع مسجدداوبوڅښلو خای خویومخ دخپل کورپه غولې کې ورګډ کړ.

(ب) اودمسجدبنیادیې مات کړدخپل کوردبوال دوې درې ټټې اوزینه یې جوړکړدبیت الخلاوومرداري اوبه هروخت دمسجددشاددبوال سره تیریږي چې له امله دمسجددبوال کمزوری شوپه دبوال کې دننه اوبه راځي ددغه خای پر صفونه اونورلانده وي اوبدبوئ وي په داسي حال کې مسلمانان بایدڅه وکړي ؟

(ج) آیاددغه خای کوم چې تاجردمسجدقبضه کړې ده که څه عوض اوقیمت واخلوپربنسوول بې روادي ،که نه ؟

Maktaba Tul Ishaat. com

(د) دمسجد بنیاداوداوبوځښدوځای په مسجدکې داخل دی ،که نه ؟ (۱۸۲۴/ ۱۳۴۱هج)

ځواب : (الف ، د) څومره مځکه چې دمسجداوبوځښدواوبنیادونووه هغه ټوله له دغه تاجرځخه واخلي دمخکې په ځیرورسره عمل پکاردی دقیمت په اخستودغه دمسجد مځکه پربښوول اومسجدته تاوان رسول په هیڅ ډول شرعًا صحیح نه دی اوداوبوځښدوځای اوبنیادونه دمسجددمسجدله اوقافوځخه دي ددوئ خرڅول اوقیمت پراخستل یاتبادله کول جائزنه دی فقط.

مسجدنړول دښاروالی په خرڅ بل ځای مسجدجوړول

سوال : (۴۵۳) درنګون ویوه طرته یومسجدله دواویا(۷۲) کلونوراهیسي قائم دی ددې مسجدپه شاوخواددښاروالی مځکه پرته ده درنګون ښاروالي نن ،صبا دیوانګریزترځارنه لاندي کارکوي هغه غواړې چې مسجدونړوي بل ځای دښاروالی په خرڅ مسجدجوړکړي ،ځکه نودمسجدمتولي اوامام په دې راضی دی داسي کول شرعًا جائزدی ،که نه ؟ اوداسي خلګ چې په دې راضي وي دمتولي اوامام جوړېدووړدی ،که نه ؟ (۱۲۱۰/۱۳۴۱هج)

ځواب : شرعی مسئله داده چې ترابده مسجدوي اوده مسجدوالی هیڅکله نشي باطلېدای لان الفتوی علی تأبید المسجد(۱) (شامی) یعنی فتوی پردې ده چې مسجدتل ترتله مسجدوي نوددغه مسجدپه باطلولوکې کوشش کول اووکفاروته په تصرف کې ورکولوکې کوشش کول ناروا، حرام اوباطل دی اوداسي کوشش کوونکې دومن اظلم ممن منع مساجدالله ان یذکرفیهااسمه وسعی فی خرابهاالآیة (۲) دوعید مصداق دی ،ځکه نودغه خلګ دمسجدد متولي جوړېدواوجوړولوورنه دی فقط.

دجنازې دځای جوړولولپاره جمع کړې خښتې دمسجددغولې په فرش کې لګول

سوال : (۴۴) په کلي کې نوی مسجدجوړشوخوغولی دده ډیرکوچنی دی کلپو الو

(۱) وبه علم ان الفتوی.....علی قول ابی یوسف رحمه الله فی تأبید المسجدآه (ردالمحتار(۳/۴۰۷) ،کتاب الوقف مطلب: فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

(۲) سورة بقره آیت: ۱۱۴.

پخې خښتې دجنازې دځای جوړولولپاره ایښی دی که دغه خښتې دوئ دمسجد دفرش لپاره ورکړي ترڅودصحن فرش غټ جوړکړي نوشرعًا څه حکم دی ؟ (۲۵۴/ ۱۳۴۰هج)

ځواب : که دغه خلګ کوموچي پخې خښتې دجنازې دځای لپاره جمع کړي دي دمسجددفرش لپاره داورکړي نوصحیح دی اودمسجدفرش پراخول ډیرښه دی همداسي بایدوشي فقط.

دقبرونوپه خښتوجوړکړې مسجدحکم

سوال : (۴۵۵) کوم مسجدکه دقبرونوپه خښتوجوړکړل شي هغه ته شرعي مسجدویل کیدای شي ،که نه ؟(۱۲۸۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : مسجدپه اصل کې مځکه وي که مځکه وقف کړه مسجدیې وګرځوله نودامځکه شرعی مسجدشوه اماپه ناجائزمال دمسجدودانوونکی ګنهګاریږي دغه رنګه دقبرونوخښتې په مسجدکې لګول ښې نه دي خوپه هغه صورت کې چې داخښتې بېکاره پرتې وي نوپه داسي حالت کې ګنجائش شته چې دغه خښتې په مسجدکې ولګوي ،ځکه چې داسي یومخ دضائع کیدواندښنه ده په هرحال لمونځ په دغه مسجدکې اداکیږي اوداکاربدوشو.

له مسجدځخه بېل پرچوتره (تنګاچه) دلمونځ کولوحکم

سوال : (۴۵۶) کوم خلګ چې له مسجدځخه جلا پرچوتره (تنګاچه) باندي فرض لمونځ اوتراویح کوي نودغه چوتره به دمسجدضرارپه حکم وي ،که نه ؟ اودغه خلګ به مفسدین وي ،که نه ؟(۳۲/۲۲۲۷-۱۳۳۳هج)

ځواب : کوم خلګ چې جلا فرض لمونځ اوتراویح په جماعت سره کوي هغوئ ته بدویل نه دي پکاراوددوئ وچوترې ته مسجدضرارویل نه دي پکارضروي نه ده چې تول خلګ تکلیف وکړي یوځای جماعت وکړي.

دمتولي له اجازې پرته مسجدترمېمول

سوال : (۴۵۷) یونالوستی سړی دمسجددمتولیانوله اجازې پرته له عاموخلګو څخه چنده

Maktaba Tul Ishaat. com

اخلي اوپه مسجد کې لګوي دمسجد متولیانولپاره دی له دغه تصرف څخه کوم چې دی یې په مسجد کې کوي یعنی له ترمېمولواونوروڅخه منع کول جائزدی ،که نه ؟ (۲۳۰/۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب : وفی الطحطاوی عن الهندیة: مسجد مبنی ارادرجل ان ینقضه ویبنیه احکم لیس له ذلک لانه لاولایة له مضمرات الاان یخاف ان ینهدم ان لم یهدم الخ تأویله ان لم یکن البانی من اهل تلک المحلة واماهلهافلهم ان یهدموه ویجددوابناؤه ویفرشوالحصیرویعلقواالقنادیل لکن من مالهم لامن مال المسجد الخ (۱) له دې څخه څرګندي چې دمتولي له اجازې وکوم بل چاته دمسجد جوړولویانړولواختیارنشته اماکه له کلېوالوڅخه کوم شخص پخپل مال دمسجدترمیم اوسمون وکړي اوضروري سامان ومسجدته ورکړي نوداروا دی اوثواب دی فقط.

په دوهم تعمېر کې دمسجدپه زیاتوب مځکه کې حجره جوړول

سوال : (۴۵۸) یومسجدچ ییومخ مات شوی دترمېم وړدی که داشهیدکړوپر همدې ځای کوچنی مسجد جوړکړواوکوم ځای چې زیاتوب شي پرهغه کوټه یاحجره دمسجددخرڅولولپاره جوړول صحیح دی ،که نه ؟(۱۰۸۳/۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب : دامسجد چې شهیدکړي بیاهغه ټوله مځکه چې په مسجد کې داخله ده په مسجدکې یې راوستل پکاردی دهغې څه برخه له مسجد څخه ایستل صحیح نه دي بلکې دمسجدټوله مځکه په مسجدکې راوستل پکارده ،ځکه چې کوم ځای یوځل مسجدشي هغه دهمېشه لپاره مسجدوي پردغه ځای کوټه اوحجره جوړول صحیح نه دی کماقال الشامی : من ان الفتوی علی تأبید المسجد ۶/ ۴۲۹ کتاب الوقف) فقط.

دمسجددغسل خانې لرګي دمسجدپردېوال نبوول

سوال : (۴۵۹) دغسل خانې دلرګي اوتیرسردمسجد پردېوال نبوول شرعًا روادی ،که نه ؟(۱۴۰۱/۱۳۴۱هج)

(۱) الشامی (۴۰۵/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

ځواب : دمسجد پردبوال دمسجددغسل خانې لرګي یاتیرښوول صحیح نه دي کمافی الشامی ولایوضع الجذع علی جدارالمسجدوان کان من اوقافه الخ (۱) دمسجد داودس ځای دمسجدودکان ته ورکړول

سوال : (۴۵۰) دمسجدهغه برخه چې دځپلیو(یاپایزارو) ایستلواواودس کولوځای دی دمسجدودکان ته ورشاملول جائزدی ،که نه ؟ (۴۲۸/ ۱۳۴۲هج)

ځواب : که داودس ځای بل شته یاجوړیدای شي نواول ځای دمسجددګټې په خاطرودکان ته ورکړول صحیح دي.

دبدچلندې ښځې وقف کړی مسجدنړول پخپل تصرف کې راوستل

سوال : (۴۶۱) یوې بدچلندې میرمنې پخپله ناروا ګټه مسجد جوړکړ، علماء فتوی ورکړه چې په دغه مسجد کې لمونځ جائزنه دی ،ځکه نوپه دې کې یووخت هم لمونځ ونه وشوددې مسجد دبوالونه ډیرمات شوې دي اودچت خونوم هم نشته که ستاسو اجازه وي نومونږبه یې ونړووپخپل تصرف کې به یې راولو؟ (۳۶۸/ ۱۳۴۲هج)

ځواب : دیادشوې مسجد پخپل تصرف کې راوړل صحیح نه دی ،ځکه چې داوقف دی اوالوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد۳/ ۴۰۲ کتاب الوقف) مشهوره مسئله ده اوپه شامی کې راغلې دي چې که کوم سړی خپله ځانی مځکه وقف کړي که څه هم په فاسده طریقه هغه مځکه دده ملک ته راغلې وي وقفول دده صحیح دی په درمختارکې راغلې دي : وشرطه شرط سائرالتبرعات الخ قال فی الشامی : افادان الواقف لابدان یکون مالکا له وقت الوقف ملکا باتا ولوبسبب فاسدالخ(۲) فقط.

(۱) الشامی(۴۰۲/۳) کتاب الوقف ، فی اخرمطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.
(۲) الشامی (۳۹۴/۳) کتاب الوقف: شرائط الوقف ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجدداوقافوپه اړوندمسئلې

ددرېیومسجدونولپاره یومکان

سوال: (۴۲۲) (الف) دبرخوله بېلولوپرته ودرېیومسجدونوته دجائدادوقف کول جائزدی ،که نه ؟

(ب) وقف کوونکی ومتولی ته دااختیارورکړی دی چې وقف شوی سرای خرڅ کړه قیمت بې ودرېیوسره مسجدونوته ورکړه داکاردتل وقف کېدوضددی اوکه نه ؟

(ج) ددرېیوسره مسجدونوپه نامه له وقف کولوورسته ددې قیمت وکومې مدرسې عربیه ته ورکول روادي ،که نه ؟اوداهبه ده ، که وصیت ؟(۱۷۴۰/۱۳۴۵هج)

ځواب: (الف) روادی اوبرابربه ودرېیوسره مسجدونوته آمدني ورکوله کیږي (ب) دخرڅولوشرط هم په بیان شوې طریقه په وقف کې صحیح دی اوداداستبدال (بدلولو) صورت دی چې دفقهي په کتابونوکې جائزلیکلی دی اوداشرط دتل وقف کېدوضدنه دی کذافی الدرالمختار(۱)

(ج) پرکومومسجدونوکې وقف شوی دی خاص په هغوئ مسجدونوکې دی ددې آمدني یاقیمت ولګول شي په کومه مدرسه عربیه اونوروکې ددې صرفول صحیح نه دي کمافی الدرالمختار: شرط الواقف کنص الشارع (الشامی ۳/ ۴۵۲/ کتاب الوقف) اوداوقف دی هبه یاوصیت نه دی اماپه مرض الموت (په کومه ناروغي کې چې مرګ راشي) کې دوقف کېدوپه صورت دوصیت په حکم وي(۲) (درمختار)

دمسجدپه مځکه کې بل مسجدجوړول

سوال: (۴۲۳) یوامام زیاتره مقتدیانودځوشرعی الزامونوورباندي لګېدوله کبله مثلا دامامت دذموارۍ نه ترسره کېدوپه وجه له امامته لیري کول وغونبت خودامام په طرف ځینې مقتدیان وایې چې دمسجد په اړه چې څومره مځکه ده په هغه کې موږپه یوه برخه کې بل مسجد جوړوو چې پکې به عزل شوی امام امامت کوي کنې امام مه باسئ په دې صورت کې دپونښتنې ورځېره داده چې دوهم مسجد جوړول جائزدی ،که نه ؟اوپه دغه دوهم مسجد کلهوال هم خوښ نه دي اوچیرې چې دوهم مسجد جوړول غواړي دهغه مځکې آمدني په مسجدکې لګیږي اودعزل کړې امام دغیرت په وجه دغه مسجد جوړوي(۹/ ۴۴-۱۳۴۵هج

---

(۱) وجازشرط الاستبدال به ارضًا اخری حینئذاوشرط بیعه وبشتری بثمنه ارضًا اخری اذاشاء فاذافعل صارت الثانیة کالاولی فی شرائطها الخ (الدرمع الرد (۳/ ۴۲۴) کتاب الوقف ، مطلب فی استبدال الوقف وشروطه)

(۲) الوقف فی موته کهبة فیه من الثلث مع القبض فان خرج الوقف من الثلث اواجازه الوارث نفذفی الکل والابطل فی الزائد علی الثلث (الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۳۲) ، کتاب الوقف ، مطلب الوقف فی مرض الموت).

خواب : دامام مقرروں اونوردزیاتره کلهوالواهل مسجددرأیې سره ترون لري نوکله چې زیاتره کلهوال له پخواني امام څخه دده دفسق اوذمواری نه ترسره کولوله امله ناخوښ دی نوددې لپاره پخپله هم امام کېدل تحریمي مکروه دی اوکله چې زیاتره کلهوالودی لیري کړنودی عزل شواونوی امام چې کوم وتاکل شوهغه امام شواوداول مسجددمخکې له آمدنی څخه دنوې مسجدپه ودانی اوتعمیرکې ورکول جائزنه دی وهکذافی کتب الفقه فقط.

دمسجدپه وقف کړې مخکه کې تعمیرشوې ودانی هم وقف دی

سوال : (۴۴۴) زیددیوه مسجدپروقف شوې مخکه دمسجددمصرف لپاره جائداد جوړکړدد غه جائدادآمدني نژدې له پخویشت کلونوڅخه دمسجدپه اړتیاوو کې لګیږي لنډیزدسوال دادی چې دغه جائدادوقف بلل کیږي ،که نه ؟ (۱۲۵۹/ ۱۳۴۵هج)

خواب : کوم جائدادچې دمسجدپروقف شوې مخکه ودان شوداوقف دی په دې کې دزیدووارثانوته دملکیت دعوی کولوحق نشته ،ځکه چې وقف دچاملک نه وي لکه چې دفقهې په کتابونوکې راغلې دي:الوقف لایملک ولایملک (الشامی ۴۰۲/۳، کتاب الوقف) فقط.

دلمونځ کوونکودناستې لپاره دمسجدوڅنګ ته جوړکړی سرای دمسجدپه حکم نه دی

سوال : (۴۴۵) یومکان چې دمسجدسره لګېدلی دی ددې لپاره جوړکړل شوچې لمونځ کوونکې له لمانځه وروسته پکې ناسته کوي په دې سرای کې خوراک ،څښاک روادی ،که نه ؟ اوداکوردمسجدپه حکم کې دی ،که نه ؟ (۳۲/۵۸۱-۱۳۳۳هج)

خواب : دغه مکان دمسجدپه حکم کې نه دی خوراک ،څښاک پکې صحیح دی په درمختارکې دسهاردسنتونوپه اړه لیکلې دي بل یصلیهاعندباب المسجدان وجدمکاناوالاترکهاالخ (قوله عندباب المسجد)ای خارج المسجدکماصرح به القهستانی وقال فی العنایة لانه لوصلاهافی المسجدکان متنفلافیه عنداشتغا ل الامام بالفریضة وهومکروه قوله والاترکهاقال فی الفتح وعلی هذای علی کراهة صلاتهافی المسجدینبغی ان لایصلی فیه اذالم یکن عندبابه مکان الخ (۱) له دې عبارت څخه دومره څرګندونه کیږي چې دمسجدسره ننښتې دیوسرای په کېدودانه لازمیږي ویزول ملکه عن المسجدوالمصلی بالفعل وبقوله جعلته مسجدااالخ (۲) (درمختار) وفیه ایضا

(۱) الدروالرد(۵۳۰/۱) کتاب الصلوة ، باب ادراک الفریضة ، مطلب هل الاساءة دون الکراهة اوافحش ط رشیدیه)
(۲) الدرالمختارمع الشامی(۴۰۴/۳) کتاب الوقف ، قبل مطلب فی احکام المسجدط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

تؤخذارض وداروحاونوت بجنب مسجدضاق علی الناس بالقیمة کرهًا قوله تؤخذارض الخ فی الفتح ولوضاق المسجدوبجنبه ارض وقف علیه اوحانوت جازان یؤخذویدخل فیه (۱) (شامی) دویدخل فیه له لفظ څخه ښکاره ده چې له مخکې څخه دغه ځای اوٴمکان په مسجدکې داخل نه ووحال دادی چې دمسجدله اوقافو څخه وولنډه داچې په ډیروروایتونوثابت دي چې دغه سرای صرف دځنګ ته کېدوپه وجه دمسجد په حکم کې نشي کېدای فقط.

دمسجدلپاره دمسجدسره نښتې حجره جوړول

سوال: (۴۷۲) یک قطعه زمین خارج ازدیوارهای مسجد متصل بآن ازجانب شمالی بودکه متولی مسجددران قطعه زمین یک حجره برای حوائج ومصالح مسجد تبریدالماء وایقادالنارفی الشتاء بناکردوخشبه سقفش ازجانب مسجد بردیوار علیحده ازجدارمسجدینهادآیاچنین حجره که بنابرامورمذکوره مبنی شدشرعًا جائزاست یانه ؟ (۱۱۴۹/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

جواب: قال فی الدرالمختارواذاجعل تحته سردابًا لمصالحه ای المسجد جاز وفی الشامی عن الاسعاف واذاکان السرداب اوالعلولمصالح المسجداوکانا وقفًا علیه صارمسجدا الخ (۲) پس اگرآن قطعه زمین ازاوقاف مسجداست که برائی مصالح مسجدوقف کرده شده است تعمیرحجره بران قطعه برائی حوائج ومصالح مسجدجائزاست وازین عبارت بطوراولی مستفاداست وظاهراست که خالی گذاشتن آن قطعه اراضی راکه متصل مسجداست وازملحقات مسجد است وغیرمنقطع به داشتن بېکارآنراکسی ازاهل علم تجویزنمی توان کردوبدا هت شایداست که آن قطعه راکه بېکارافتاده است به کارمسجدآوردن هرآئنه خوب وپسندیده است فقط وسئل الخجندی عن قیم المسجدیبیع فناء المسجدلیتجرالقوم هل له هذه الاباحة ؟ فقال اذاکان فیه مصلحة للمسجد فلا بأس به ان شاء الله .....قال وعندناله ان یصرف الاجرالی من شاء کذافی التاتارخانیة نقلاعن الیتیمة (۳) فقط.

---

(۱) الدروالرد(۴۲۰/۳) کتاب الوقف ،قبل مطلب فی اشتراط الواقف الولایة لنفسه ط رشیدیه

(۲) الدرالمختاروالشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه

(۳) الهندیة ۳۲۰/۵ کتاب الکراهیة الباب الخامس فی آداب المسجد والقبلة والمصحف الخ)

دسوال: ترجمه: یوه ټوټه مځکه دمسجد د شمالي دېوال دباندي له مسجد سره نښتې وه متولي دمسجد دمسجد دارټیاووا ومصلحتونوداوبوتودولواوپه ژمي کې داور بلولو اونورو کارونولپاره په دغه ټوټه کې یوه حجره جوړه کړي ددې دبام لرګي یې دمسجد وطرفته له مسجد څخه ببل پربل دېوال کښېښودل اوس دپوښتنې وړخبره داده چې داسي کمره جوړول چې دیادشویو کارونو پربنسټ وي شرعًا جائزدي ،که نه ؟

ځواب: په شامي کې راغلې دي [واذاجعل تحته سردابالمصالحة الخ له دې روایت څخه معلوم شوچې که دغه ټوټه دمځکې دمسجدله اوقافوڅخه ده کومه چې دمسجددارټیاوولپاره وقف شوې وه نوپه دغه ټوټه کې دمسجدارټیاوواو مصالحولپاره حجره جوړول روادي اوښکاره خبره ده چې هیڅ دعلم خاونددې خبرې وینانشي کولای چې دغه مځکهٔ خالي پرېښوولې شي اودابېکاره اوبې ګټې وګرځوله شي دغه رنګه بداهتًا هم داسي معلومیږي چې دغه بېکاره پرته ټوټه دمسجدپه کارراوړل په هرحال غوره اوښه دی.

دمسجدحجرې په مسجدکې شاملول

سوال: (۴۲۷) یومسجدپه سنه ۱۸۷۰ء کې ودان شوددې سره یوه حجره دمسجد په څلوردېوالۍ کې دامام داستوګنې اوماشومانودزدکړې لپاره جوړه کړله شوې وه اوس وحجرې ته اړتیانشته ،څکه چې امام پخپل کورکې اوسیږي اودهلکانوزدکړه هم نه کیږي مسجددزوړوالې په وجه له نوې سره جوړول غواړي نوحجره دمسجدپه غولې کې دپراخولوپه غرض ورشاملولای شي ،که نه ؟(۱۳۸۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دمسجدحجره دمسجدپراخولوپه غرض په مسجدکې داخلول په یاد شوې صورت کې شرعًا صحیح اوروادئ په ردالمحتارکې راغلې دي: سئل ابوالقاسم عن اهل مسجدارادبعضهم ان یجعلواالمسجدرحبة والرحبة مسجدا اویتخذواله باباویحولوابابه عن موضعه وابی البعض ذلک قال: اذااجتمع اکثرهم وافضلهم لیس للاقل منعهم آهقلت: ورحبة المسجد ساحته الخ(۱)(شامی ۳/ ۳۸۴ کتاب الوقف) فقط.

سوال: (۴۲۸) دمسجدحجرې دتنګۍ له امله دلمانځه وخای ته ورشاملولای شو، که نه ؟(۲۳۷۳/ ۱۳۴۳هج)

(۱) الشامی (۳/ ۴۲۰) کتاب الوقف، قبل مطلب فی اشتراط الواقف الولایة لنفسه ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : کله چې په مسجد کې دتنګی له امله ځای تنګ دی نوبیادارتیاپه وجه ددغو حجرو ومسجد ته ورګډول جائزدی علامه شامی رحمه الله له فتح څخه نقل کړې دي ولوضاق المسجد وبجنبه ارض وقف علیه اوحانوت جازان یؤخذوید خل فیه الخ (۱) (شامی ۳/ ۳۸۴).

دمسجداوقاف خرڅول جائزنه دی

سوال : ۴۶۹) دمسجد وشرقي طرفته څه مځکه دمسجد ارتیالپاره رانیوله شوې ده اوپکي یوه حجره دمسجد دامام لپاره جوړه شوه څه مځکه نوره هم خالي ولاړه ده په هغه کې متولیان اوامام څاروي تړي آیادغه مځکه خرڅول جائزده .که نه ؟وکوم متولی یاامام ته ددغه مځکې په خرڅولو کې خندجوړېدوشرعًاحق شته .که نه ؟ کله چې امام دمسجد اومتولی داپه کم قیمت اخستل غواړې ؟(۲۳۷۳/ ۱۳۴۳هج)

خواب : کومه مځکه چې دمسجد دارتیاوولپاره رانیوله شوه یاچاپه بخښه ورکړې ده داهم دمسجد په رنګه وقف ده نولکه څرنګه چې دمسجد له برخوڅخه کومه برخه خرڅول جائزنه دي داغه رنګه ددې مځکې خرڅول هم جائزنه دي فقهاؤرحمهم الله دوقف بیع باطله بللې ده قال فی البحروفی الخلاصة وفی فتاوی النسفی بیع عقارالمسجدلایجوزوان کان بأمرالقاضی الخ (۲) (ثم قال)ومن المشائخ من لم یجوزبیعه تعطل اولم یتعطل الخ (۲) (البحرالرائق ۵ / ۳۴۵) وفی الشامی ولایملک ای لایقبل التملیک لغیره بالبیع ونحوه (۳) (شامی ۳/ ۳۷۷) وفیه ایضا ولذاقال فی القنیة فالبیع باطل ولوقضی القاضی بصحته (۴) (۳/ ۳۹۴) فقط.

اوکله چې بیع (خرڅول) ددې مځکې صحیح نه دی نومعلوم شوچې متولیان به په دې بیع کې خندکیږي.

سوال : (۴۷۰) زیدیودکان دیومسجد دارتیاوولپاره وقف کړدده دزورواله له امله کلبوال وایې چې دادکان به خرڅ کړوددې په بیع به یوه حجره دمسجدلپاره ودانه کړوآیاکلبوال داخرڅولای شي ،که نه ؟(۴۴/۱۴۵۴ - ۱۳۴۵هج)

---

(۱) الشامی (۳/۴۲۰) کتاب الوقف ، مطلب فی جعل شی من المسجد طریقاط رشیدیه.

(۲) البحرالرائق ۵/۳۴۵کتاب الوقف ، مطلب غرس شجرة ووقفهااوغرسها الخ.

(۳) ردالمحتار (۳/۴۰۲) کتاب الوقف ، مطلب مهم: فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه

(۴) الشامی (۳/۴۳۱) کتاب الوقف ، مطلب فی اطلاق القاضی بیع الوقف للواقف اولوارثه ط رشیدیه.

ځواب : وکلپوالوته ددې دخرڅولوحق نشته دهمدې دکان تعمېردې په چنده اونوروو کړل شي ترڅوددې په کرایه دمسجدمرسته وشي لکه چې په درمختار کې راغلې دي [الوقف لایملک ولایملک] (الشامی ۳/ ۴۰۲کتاب الوقف] فقط واللہ تعالی اعلم.

دمسجداوقاف خرڅول

سوال : (۴۷۱) مادخدای لپاره یوسرای دمسجدپه نوم ورکړاودامې وویل چې دغه مکان دې خرڅ نکړل شي که چیري خرڅ کړل شونوفلانی ته یې مه ورکوئ څوورڅې وروسته جرګې دغه سرای پرهغه سړی په یوسل پنځویش روپی خرڅ کړحال داچې دوې بنځه سوه ، شپږسوه روپی وه په دې صورت کې شرعی حکم څه دی ؟ (۳۰۱/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : دوقف شوې مکان خرڅول جائزنه دی شرعًا بایددغه سوداماته کړل شي دغه سرای دمسجدلپاره وقف دی ددې آمدني همېشه پرمسجدولګوله شي اودمشتري (رانیوونکې) قبضه دې له دې څخه لیري شي اوترڅوچې دامکان ددې قابل وي چې کرایه یې راڅې ترهغه وخته ددې سرای خرڅول جائزنه دی وجرګې ته ددې دخرڅولوهیڅ حق نه ووپه تېره بیاچې وقف کوونکی په ځرګند تیاسره منع کړې وه په درمختارکې راغلې دي : الوقف لایملک ولایملک (الشامی ۳/ ۴۰۲کتاب الوقف) فقط.

سوال : (۴۷۲) دمسجدپنځویشت زره روپی نغدې جمع وي په دغوروپیود مسجدتعمیرپیل شوتراوسه لانیم کارياته ووچي روپی ختمې شوې ،ځکه نودمسجدلپاره چې کوم جائدادوقف دی اودهغه په آمدني سره نورجائداد رانیول شوی دی دغه جائداددمسجدپه تعمیرکې لګولولپاره خرڅول صحیح دی ،که نه ؟(۱۰۷۸/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : کوم جائدادچې دمسجدلپاره وقف دی یادهغه په آمدني نورجائدادرا نیول شواووقف کړل شوددې خرڅول صحیح نه دی.

دمسجدپه زیاتوب آمدني مدرسه خلاصول یاپه بل مسجدکې لګېدل څرنګه دي ؟

سوال : (۴۷۳) (الف) دمسجدآمدني دمسجدله خرڅ څخه ډېره زیاته ده اودمسجدودې ته اړتیانشته نوپه دغه زیاتوب آمدني مدرسه خلاصول جائزدي ،که نه ؟

(ب) دمسجدزیاتوب آمدني په بل مسجدکې صرفولای شي ،که نه ؟(۱۰۷۸/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب: (الف) دمسجدزیاتوب آمدني دمسجدلپاره باید کښېښودل شي خوآمدني که په دومره اندازه زیاته جمع شي چي حالااوپه راتلوونکې کې دمسجدودې ته اړتیانه وي اودضائع کېدووېره یې وي اوپه دغه مسجدکې که مدرسه جاري کړله شي چي له کبله یې دمسجدآبادي اورون والی راشي نوجائزدی (ب) په بل مسجدکې دصرفولوشرطونه شته کوم چي دفقهې په کتابونوکې لیکل شوې دي چي اول مسجدویران شي هغه وخت په بل مسجدکې لګېدای شي اوترڅوچي اول مسجدآباددی اوپه دې کې روپۍ خرڅېدای شي نوپه بل مسجدکې یې خرڅېدل صحیح نه دي فقط.

دمسجددتعمېرلپاره دمسجدپه نوم وقف کړې مڅکه خرڅول

سوال: (۴۷۴) یوه سړی څه مڅکه دمسجددخرڅ لپاره وقف کړې وه اوس مسجدیومخ مات اوزورشوی دی دمسجدجوړولوبله یوه لاره هم نشته که دغه مڅکه خرڅه کړوروپۍ یې دمسجدپه ودانولوکې لګولای شو،که نه؟ (۹۵۲/ ۱۳۳۷هج)

خواب: مسئله داده چي دغه وقف کړې مڅکه نه شوخرڅولای دمسجددتعمېر بندو بست ببل کول پکاردی اوددغې مڅکې آمدني دې هم ددې کارلپاره جمع کړله شي.

دمسجدلپاره وقف شوی پټي خرڅول پرې نورجائدادداخستل

سوال: (۴۷۵) خلګودیوه مسجدلپاره پټی (کښت) وقف کړاوددغوپټیوآمد ني خوډیره کمه ده اوخرڅ زیات دی ،ځکه ددغوپټیوپه خرڅولونورجائدادرا نیول روادي ،که نه؟ (۴۲۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب: داډول بدلول فقهاؤهغه وخت روالیکلی دی چي وقف کوونکې شرط لګولی وي چي داړتیاپرمهال داخرڅ کړی نورجائدادرانیسي دوقف کوونکې له شرطه پرته ددې دجوازلپاره ځوشرطونه دي کوم چي دلته نشته ،ځکه نودجواز حکم نشته فقط.

دوقف بیان

دمسجدوقف مکان خرڅول دهغه قیمت په مسجدکې لګول

سوال : (۴۷۶) (الف) زیدیومکان دمسجدلپاره وقف کړاوداڅرګندونه هم وکړه چې متولي داخرڅ کړی په مسجدکې یې خرڅولای شي اوسرای په داسي ځای کې دی چې داڅوک په کرایه نه اخلي نومتولیان داغواړې چې ددې خښتې ،تیران ، اونوردمسجدپه حجره کې وکاروي اومځکه خرڅه کړي په مسجدکې روپی ولګوي ؟

(ب) دوقف شوې مکان سامان یاهغه روپی کومې چې چاومسجدته ورکړې وي دمسجدپه حجره غسل خانه ، اودمسجددکان پردروازه خرڅولای شي ،که نه ؟ (۱۴۳۱/۱۳۴۲هج)

خواب : (الف) دغه مکان وقف شواوکله چې وقف کوونکی ددې دخرڅولو اودهغه قیمت په مسجدکې دلګولواجازه کړې ده نوکوم صورت چې په سوال کې لیکل شوی دی چې دده په خښتو ،لرګواونوروپه دروازه اوحجره کې ولګول شي داصحیح دی اودمځکې په خرڅولوددې قیمت په مسجدکې خرڅېدل صحیح دي.

(ب) داهم روادی.

دمسجدوقف جائدادخرڅول اودهغه قیمت دمسجدپه بنګلا خرڅول

سوال : (۴۷۷) زیددخپل لمسی بکرپه نامه دهبې په پانه کې داسي ولیکل چې دبکردمسجدلپاره یوپټی اوپنځه سرایه دالله ﷻ لپاره ورکوم ترڅوددې آمدني په مسجدکې ولګوله شي بکردغه جائدادخرڅ کړی دی چې ددې قیمت به دمسجدپه بنائست کې خرڅ کړم داخرڅول جائزدی ،که نه ؟ (۱۱۷۵/ ۱۳۴۳هج)

خواب : دغه پټی اوسرایونه وقف شول ددوئ خرڅول اوددوئ دقیمت دمسجدپه بنائست کې لګول صحیح نه دي بلکې ددغه وقف آمدني دې پردغه مسجدولګول له شي اوبیع باطله ده لکه چې په درمختارکې راغلې دي الوقف لایملک ولایملک (الشامی ۳/ ۴۰۲کتاب الوقف) وشرط الواقف کنص الشارع (الشامی ۳/ ۴۵۶کتاب الوقف) نودغه بیع دې ماته کړله شي اودغه وقف دې دمسجد دارتیاوولپاره پرېښوولهشي فقط.

Maktaba Tul Ishaat. com

دوقف شوې مځکې په خرڅولودمسجدقرض اداکول خرنګه دي ؟

سوال : (۴۷۸) دیوه داستوګنې دسرای نیمه برخه پرمسجدوقف ده دپاتې نیمی برخې مالک خپله برخه پخپل کارراوړې په دې وجه له وقف شوې نیمی برخې څخه څوک استفاده نشي کولای دارازددرېیوصفونوپه اندازه دمسجددودا نېدوله امله دځوسووروپیوپرمسجدقرض دی کومه آمدني دمسجدداسي نشته چي قرض پرې اداشي په داسي صورت کې وقف شوې مځکه خرڅول چي دمسجدقرض په اداکړوروادی ،که نه ؟ (۱۳۴۵/۲۴۵هج)

خواب : اصل حکم په داسي صورت کې دادی چي وقف شوې برخه ووېشي بېله يې کړي اوهغه په کرایه ورکوي اوبیاهغه کرایه دمسجدپه اړتیاووکې صرفوي لکه چي په درمختارکې راغلې دي : فیقسم المشاع وبه افتی قارئ الهدایة وغیره اذاکانت القسمة بین الواقف وشریکه المالک الخ (۱) خوکه هغه وېشل کېدای نشي یاله وېشلووروسته ددې وړپاتې نشي چي ورڅخه استفاده وکړي نوبیاحکم دادی چي داخرڅ کړي ددې په قیمت بله مځکه یامکان رانیسي چي آمدني یې په مسجدکې صرفه شي یایې په کوم مکان اومځکه بدل کړي اوداصل په ځیردې وقف شي اوداروانه دی چي داخرڅ کړي اوددې قیمت دمسجدپه قرض کې ورکړي فقط.

مسجدپه حجره بدلول بیاپرطالبانووقف کول یاپه کرایه ورکول

سوال : (۴۷۹) (الف) دیوه سړی دکورسره نښتی کوچنی مسجدویران پروت دی اودمسجددروازه په حویلي کې دننه ده که څوک لمونځ پکې کوي نودسرای دمالک په اجازه یې پکې کوي دسرای دمالک اراده ده چي دغه مسجدحجره کړي پرطالبانوېې وقف کړي یایې په کرایه ورکړي کرایه وېل مسجدته ورکوي داسي روادي ،که نه ؟

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴۰۳/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی قسمة الواقف مع شریکه ط رشیدیه.

(ب) کوم مسجد چې دومره کوچنی وي چې پکې څلور، پنځه کسان ځائیږي دهغه نړول اوخاوره یې وبل مسجدته ورکول روادي، که نه؟ (۸۲۴/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: (الف) کوم ځای چې مسجدشي هغه تل ترتله مسجدوي له هغه څخه داستوګنې کورجوړول یاپه کرایه ورکول صحیح نه دي بایددهمېشه لپاره یې مسجدپریږدي اوده دروازه اولاره جلا کول پکاردي اوشرعًا په دې کې دلمانځه عامه اجازه ده کوم لمونځ کوونکی له لمانځه منع کول نه دي پکاردمکان ومالک ته پکاردي چې په دې مسجد کې هیڅ تصرف ونکړي بلکې ددې لاره ببله کړي.

(ب) دامسجد به تل ترتله مسجدوي ددې بل ځای نقل کول صحیح نه دي که بل لوئ مسجد جوړکړل شي نوداسي صحیح دي خوداکوچنی مسجدبه هم مسجدوي داهم خوندي کړئ فقط.

دمسجددمات کورمځکه وچاته په کرایه ورکول

سوال: (۴۸۰) یوه سړی څه جائدادسره له یوه مکانه دمسجددارتیاوواو مسکېنانولپاره وقف کړاویوشخص یې ورمتولی کړوقف کوونکی وفات شو، وقف شوی سرای په کلې کې ووپه هغه کې هیڅوک کرایه دارنه وو، ځکه هغه کورونړېدی صرف مځکه یې پاته ده اوس که دغه وقف شوې مځکه متولي وچاته دکورجوړولولپاره ورکړي نوپه دې کې دمتولي په اجازه سره کورجوړېدا ی شي، که نه؟ (۱۳۴۰/۳۸۹هج)

ځواب: داکېدای شي اوصحیح دی چې دغه مځکه په کرایه وچاته داجاري په توګه ورکړي چې هغه په دغه مځکه کې سرای جوړکړي خوښه داده چې چنده اونورو کړي په دې مځکه کې چې کوم مکان جوړکړي هغه وقف کړي ترڅودهغه آمدني پرمسکېنانواودمسجد په کارونوکې صرف شي اوترڅوچې دوقف شوې سرای انتظام وي که ترهغه وخته دغه مځکه په کرایه دمکان دجوړولوپه غرض وچاته ورکړي نوداهم صحیح دی اوهغه کرایه دوقف کوونکې په مشخص کړې مصرفونوکې بایدولګوله شي فقط.

ترمسجدلاندي کوټه په کرایه ورکول

سوال: (۴۸۱) دیوه مسجد تعمېرداسي شوی دی چې لاندي حجره اوباندي مسجددی کله چې له مسجد څخه لاندي ځای خالی دی، ځکه ځینې علماء وایې چې په دې کې لمونځ صحیح نه دی په داسي حالت کې دغه حجره دمسجدداغرا ضولپاره پرېښودله شي که ومؤذن ته داستوګنې اونورولپاره ورکول شي اوکه په کرایه

Maktaba Tul Ishaat. com

ورکوله شي ترڅوکرایه پرمسجدولګول شي ؟(۳۲/۲۲۸-۱۳۳۳هج)

ځواب : دغه حجره دمسجددسامان لپاره پریږدئ مثلا دمسجدصفونه ، فرشونه ،لوټي اونورپه دې کې وړي ، په دې کې مه مؤذن اوسو ئ مه يې په کرایه ورکوئ ،ځکه چي مسجدله پورته ځخه ترلاندي پوري مسجدوي په دې کې کوم بل تصرف کول جائزنه دی اولمونځ په دې مسجدکې صحیح دی فقط.

یادونه : په ځوشرطونوسره دلاندي حجري په کرایه اونورووركول جائزدي ،چي دتفصیل یادونه دبنده په رساله آداب المسجدکې شته که اړتیاوي نوهغه وګورئ ۱۲ محمد شفیع غفرله.

دمسجدوقف سرای په ګروورکول جائزنه دي

سوال : (۴۸۲) دمسجدوقف شوی مکان په ګرورکولوسره پرمسجدصرفول صحیح دي ،که نه ؟(۱۸۴۲/ ۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب : دمسجدوقف شوی سرای په ګروي ورکول جائزنه دي اماپه کرایه ورکول يې جائزدي اودکرایې آمدني دي په مسجدکې ولګوله شي.

په یادشویوصورتونوکې دوقف جائدادبدلول روادي

سوال : (۴۸۳) یومسجددریبل ګاډی داسټېشن په مینځ کې راغلی لاره ډیره د خطري شوه تګ ،راتګ ډیرګران دی دمسجدوځنګ ته داسي کډي دي چي دمسجددلوبدوخطره ده دمسجدوشاته دمسجدله حدودومخته دوې حجري دي کومې چي دمسجدترجوړېدوځه موده وروسته یوسړی جوړې کړې خود امعلومه نه ده چي دحجرومخکه وقف شوې ده اوکنه اوس دریبل ګاډی والاوایې چي دغه دواړې حجري موږته راکړئ ددوئ په بدل کې مې دوې نوې حجري جوړې کړې دي هغه واخلئ دریبل ګاډی والاوایې چي که تاسوزموږسره تبادله کوئ نوموږدټول مسجدجوړښت اوپه پوره توګه حفاظت کوواودلمونځ کوونکولپاره به ډیره خوندي اونژدې لاره جوړه کړوپه اوسني حالت کې مسجدیومخ ناآبادی دتبادلې په صورت کې به مسجدآبادشي اوهیڅ ډول اندېښنه به پاتي نشي آیادریبل ګاډی والاسره داسي تبادله وکړو ،که نه ؟(۵۲۲/۱۳۴۵هج)

خواب : بنده دیادشوې مسجدخای لیدلی دی اوپه هراعتباردمسجداولمونځ کوونکودښېګنې غوښتنه همدامعلومیږی چې دغه حجرې تبادله شي ،ځکه چې تردې منلوورو سته داحجرې وقف دي دوقف بدلول هم په ځینې صورتونوکې فقهاؤ جائزلیکلی دی په درمختارکې راغلې دي واماالاستبدال ولوللمساکین بدون الشرط فلایملکه الاالقاضی درروشرط فی البحرخروجه عن الانتفاع بالکلیة وکون البدل عقاراوالمستبدل قاضی الجنة المفسربذی العلم والعمل الخ (۱) نوکله چې دنه بدنولوپه صورت کې ډیرضررونه دي اودمسجدباقي پاتېدل ګران دي اوویرانېدل دده ضروري معلومیږي ،ځکه مصلحت په همدې کې دی چې دتبادلې اجازه وشي په دې صورت کې دمسجدلاره دعامې تیرېدنې څخه نژدې دکېدوتصورکېدای شي اودمسجدجوړښت اوآبادي اودتالاب اونورو انتظام به په ښه توګه وشي اودنه تبادلې په صورت کې به دغه ټول کارونه نشي کېدای اوغالب ګمان دادی چې څه زمانه وروسته به دغه مسجدهم دریبل ګاډی والوپه تصرف کې راشي ولې چې دغه مسجدله آبادی لیرې دی اوهیڅ محله اوس هلته آباده نشته ددې آبادي په موجوده صورت کې دغه رنګه کېدای شي چې پرلاره تیرېدوونکي مسلمانان هلته لمونځ وکړي اوانتظام کوونکې دمسجددمسجدداړتیاووانتظام وکړي اومؤذن اوامام مقررکړي فقط.

سوال : (۴۸۴) یوه دصحراء مځکه دمسجدپه نامه وقف ده اودغه مځکه شاړه اودکښت وړنه ده له کوم وخت چې وقف شوې ده هیڅ ډول حاصل یې نه دي کړې ددې سره دنښتې مځکې مالک په تبادله کې ددوه چنده کرلې مځکې په ورکولوراضي دی په دې صورت کې دتبادله کړې مځکې په پیداوارومسجدته ګټه رسېدای شي داتبادله شرعًا جائزده ،که ،نه ؟ (۲۴۶/۱۳۴۵هج)

خواب : دیادشوې اړتیاله امله داتبادله جائزده واماالاستبدال بدون الشرط فلایملکه الاالقاضی درر، وشرط فی البحرخروجه عن الانتفاع بالکلیة وکون البدل عقاراوالمستبدل قاضی الجنة المفسربذی العلم والعمل الخ (۲) (درمختارومثله فی ردالمحتار)

(۱) الدرمع الشامی (۴۲۵/۳) کتاب الوقف ،مطلب فی اشتراط الادخال والاخراج ط رشیدیه.

(۲) مخکنی حواله.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسجدلپاره وقف شوی جائدادهبه کول

سوال: (۴۸۵) یوه سړی خپل جائداد دخپل وراره دزوئ په نامه هبه کړله دې څخه اته ورځې مخکې یې همدغه جائداد دمسجد په نامه وقف کړی وواوس دننه اوبهر جګړه پیښه ده دده وراره یونیم سل روپۍ ورکوي دغه روپۍ دمسجدلپاره اخستل روادي ،که نه ؟که دمحکمې په وسیله جائداد ځینې واخلو ؟(۱۵۳۶/۱۳۳۴هج)

خواب: داجائداد شرعا وقف شوددې هبه کول دوراره دزوئ به نامه صحیح نه دي داجائداد پرمسجدوقف شواوس ددې په بدل روپۍ اخستل صحیح نه دي بلکې همدغه جائداد چې څرنګه کېدای شي وقف پرېښوول پکاردي اوپه دې کې کوشش کول پکاردي فقط.

دنیم مکان دمسجدلپاره اونیم دمدرسې لپاره دوصیت کولوحکم

سوال: ۴۸۶) یوې بدچلندې مېرمنې دیوه سرای نیم ومسجدته اونیم ومدرسې ته دورکولوتروفات مخکې وصیت وکړاوس ددې وارثان وایې چې مکان خرڅ کړئ دهغه روپۍ نیمې ومدرسې ته اونیمې ومسجدته ورکړئ په دې صورت کې مکان یادروپۍ اخستل روادي ،که نه ؟(۵۷۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب: وصیت په یوه درېیمه کې جاري کیږي نوکه داسرای دترکې له درېیمې څخه زیات نه دی یازیات دی خووارثان دټول مکان په ورکولوراضي دي نونیم دې په مدرسه کې اونیم په مسجدکې واخستل شي اوسرای خرڅ کړئ نیمې روپۍ ومدرسې اونیمې ومسجدته ورکړئ داهم صحیح دی فقط.

وقف کوونکې دوقف دسرای پرځای دهغه قیمت ورکولای شي ،که نه ؟

سوال: (۴۸۷) خدابخش خیاط خپل داستوګنې خام سرای چې سل روپۍ بیعه یې درلوده دمسجدپه نامه وقف کړی ووپه هغه کې داشرط ووچې ترڅوخدابخش ژوندی وي په دې وقف شوې مکان کې به اوسیږي وروسته تروفات به مسجد دخدای ملک وي تراوسه خدابخش ژوندی دی اوده دااراده ده چې سل روپۍ قیمت ومسجدته ورکړم دغه مکان

خان به راوګرځوم دا شرعاروادی ، که نه ؟ (۱۸۸۲/ ۱۳۴۳هج)

خواب : دغه سرای وقف شوی دی خدابخش پخپل ژوند کې په دې کې اوسیدای سی او بیا یې به دا مسجد شی ددې خرڅول روانه دي اودخدابخش لپاره دا روانه دي حی ددې مکان قسمت به مسجد کې داخل کړي اومکان خانته راوګرځوي لکه چې به درمختار او نورو کې راغلي دي الوقف لایملک ولایملک (الشامی ۲/ ۴۲۱ کتاب الوقف) فقط.

دمسجداوقاف په سړک کې دشاملولوحکم

سوال : (۴۸۸) دیوه مسجدوجنوب طرفته یوه پخه تنګاچه چې دمسجد سره جوړه شوې ده اودمسجدسره ننښتې ده اوادديې لپاره ده چې کله کلهوال وس ومونديغسل خانې اوداواداسه ځایونه به پکې جوړکړي اوس دتنګاچې سره متصل سرکاري سړک راوځي حکومت اراده لري چې تنګاچه ماته کړي په سړک کې یې شامله کړي په دې صورت کې څه حکم دی ؟ (۲۱۵/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : دغه تنګاچه خودمسجدله اوقافوڅخه ده اودمسجدارتیاوي ددې سره اړوندي دي ،ځکه شرعااجازه نشته چې دادمسجدله اوقافوباسي په لاره کې ورشامله کړي په دې اړه بایدوحکومت ته عذروشي چې داسي مه کوئ فقط.

دمسجدداوقافوله آمدني څخه داوقافوپه اړه دمقدمومصوفونه اداکول صحیح دي

سوال : (۴۸۹) دمسجد دجائداد حاصلولولپاره چې کومې مقدمې دي په هغوئ کې هردول خرچې کیږي بېله ددې دمدعي په حاصلولوکې دیرمشکل واقع کیږي ددغه مصرفونوتحمل مسجد کولای شي ، که نه ؟ (۱۴۸۷/ ۱۳۳۸هج)

خواب : دمسجدداوقافوپه اړه چې عارضي اومقدمي اونوروې دهغوئ خرچې دې دمسجددهمدغواوقافوله امدني څخه ورکوله شي په شامې کې راغلي دي : مسجدله اوقاف مختلفة لابأس للقیم ان یخلط غلتهاکلهاوان خرب حانوت منهافلابأس

بعمارته من غلة حانوت آخرلان الکل للمسجدولوکان مختلفالان المعنی بجمعها الخ(۱) فقط

(۱) الشامی (۳/ ۴۰۸) ،کتاب الوقف ،مطلب فی نقل انقاض المسجدونحوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسجدپه وقف مځکه کې دمړې ښخولووهیڅاته حق نشته

سوال: (۴۹۰) یوچادمسجددمصالحولپاره څه مځکه وقف کړه په دغه مځکه کې دمسجدمتولي اامام اومؤذن یادهغوئ اهل .عیال دفن پتول روادي .که نه ؟ (۳۲۷۸ ۱۳۴۰هج)

خواب: روانه دي لان مراعاة غرض الواقفین واجبة شامی وغیره فقط.

دمسجدپه اوقافوکې پرحیوانانوجرمانه کول

سوال: (۴۹۱) که کوم شخص په یوسپین میدان کې (کوم چې دمسجدسره لګېدلی دی خوله مسجدځخه وتلی دی اودیوچاپه ملک هم نه دی) خپل حیوانان اونوروتړي آیانور خلګ صرف دمسجدپه خیال ساتلوحیوانان اونورپه زورایستلای شي ،که نه ؟ اوپردې که جرمانه ځیني واخستله شي نوصحیح ده ،که نه ؟(۲۹۲۰/۱۳۴۰هج)

خواب: دمسجدسره په لګېدلې مځکه کې کومه چې دمسجدله اوقافوځخه ده یعنی هغه مځکه دمسجدسره اړونده وي که څه هم دمسجدپه حکم کې داخله نه ده حیوانان ترل اوداډول تصرف کول په دې کې صحیح نه دی ،ځکه نوټولو مسلمانانوته داحق شته چې څوک داسي کوي هغه منع کړي اوپه آئنده کې هلته وحیوانانو ترلوته پرې نه ږدي اماجرمانه کول شرعاصحیح نه دي که په کوم مصلحت وکړله هم شي نوترسبق اخستلو وروسته دې بیرته ده ته وروایس کړي یادې دده په اجازه په کوم بل خیرکې ولګوي.

دمسجددوقف شوې مکان یاوني قیمت پرامام باړه لګول

سوال: (۴۹۲) که ومسجدته کومه ونه یامکان وقف وي نودهغه په خرڅولودهغه قیمت دامام باړې پرترمیولولګېدای شي ،که نه ؟(۱۷۳۳/۱۳۳۵هج)

خواب: نشی یې کولای فقط.

دمسجد په نامه وقف شوې لوښې خرڅول اودهغه په قیمت مځکه رانیول

سوال: (۴۹۳) څوکسانو دمسجدلپاره داوسپنې لوښې وقف کړل که داخرڅ کړي دمسجدلپاره مځکه په رانیسي نوروادی ،که نه ؟(۹۲۲/۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب: په بیان شوې حالت کې کله چې لوښې خرابیږي اوضایع کیږي دارواديې چې دوئ خرڅ کړي دمسجدلپاره مځکه په رانیسي اوپه مسجد کې یې ورداخل کړي.

دمسجدوقف شوې شیان دامام یابل چاپخپل کورکې کارول

سوال: (۴۹۴) دمصلی اوقرآنکریم دښوولولپاره لوئ صندخ ، ډیوه (بتی) غټه زینه اولرګی دغه ټول شیان دمسجدامام صاحب په کورکې داستعمالولولپاره یووړوڅو مقتدیانووربانديې اعتراض وکړده وویل چې دامال وقف دی زمالپاره یې خوړل اووړل روادی پرهمدې خبره څوکسانوپه ده پسې لمونځ کول پرښوول په دې صورت کې شرعاڅه حکم دی ؟(۲۷۵۱/۱۳۳۷هج)

خواب: دمسجدوقف شوې شیان کوم چې دمسجدداستفادې لپاره دي دهغوئ چیري وړل اوپه کورکې استعمالول دامام یا دکوم بل چالپاره روانه دي پرامام صاحب لازم دي چې دغه شیان مسجدته راوړي ،ځکه چې کوم شیان دمسجددکارلپاره وقف دي هغوئ بایدپه هماغه کارکې استعمال شي لکه چې دفقهې په کتابونوکې څرګنددي مراعاة غرض الواقفین واجبة الخ (الشامی ۳/ ۴۲۴کتاب الوقف) بیاچې کله نومورې امام صاحب دغه شیان مسجدته بېرته راوړي اوتوبه وکاږي نوپه ده پسې لمونځ صحیح دی.

دقرآنکریم دتعلیم په بهانه دمسجدله اوقافوڅخه استفاده کول

سوال: (۴۹۵) یوسړی دیووقف شوې دوکان پربالاخانه دقرانکریم زده کړه ورکوي که له ده څخه کرایه غواړونوهیڅکله یې نه راکوي سره له دې چې پخپله له هلکانوڅخه مالي مرسته اخلي صرف دڅان دګټې لپاره تعلیم ورکوي ومسجته له دې څخه فائده نشته په دې صورت کې متولي له ده څخه کرایه اخستلای شي ،که نه ؟(۱۳۰۹/۳۲-۱۳۳۳هج)

خواب: دمسجداوقاف ددې لپاره نه وي چې دچازړه وغواړې قبضه وربانديې وکړي اواستفاده خپلې کوي متولیان دي دی له دغه ځایه پورته کړي یادې کرایه ځینې اخلي.

Maktaba Tul Ishaat .com

دمسجددوقف شوې مځکې کومه برخه پخپل کورکې شاملول اوددې په بدله کې بله مځکه ورکول

سوال: (۴۹۲) دزیدنیکه پخپل ژوندکې یومسجدپخپل خرڅ جوړکړدزیدپه میراث کې رسېدلی سرای ددې مسجدیوې برخې سره لګېدلی وونژدې یوکال تیرشوچې زیددغه مکان ونړوی دنوې سرای جوړولوپرمهال دمسجددغولې پریوه برخه دنوې کوردسیداکولو(نېغولو) پّ غرض قبضه وکړه اودومره برخه یې په مکان کې ورشامله کړه اودخپلې ځانې رأیې اوفیصلې سره سم یې دومره یاله دې ځخه زیاته برخه له خپلې مځکې څخه بل ځای ومسجدته ورکړه مځکې دې طرفته دمسجدځلوردهوالي جلاوه خواوس زیددځلوردهوالی پرځای دنوې مکان دپوال دمسجدحدهم وګرځاوی بلکې دمسجدوطرفته یې دربچې هم راخلاصې کړي آیادارنګه دمسجدپریوه برخه مځکه قبضه کول هغومره یاترهغه کمه یازیاته مځکه ومسجدته وبل طرفته پرېښوول روادي؟ (۳۴۸۵/ ۴۶ - ۱۳۴۷هج)

خواب: دمسجدمځکه پخپل ځانی مکان کې شاملول اودهغې په بدل کې بل طرفته مځکه ومسجدته ورکول روانه دي دغه رنګه په مسجدکې رونښدانونه اودربچې راخلاصول یاکوم تصرف داډول کول چې ورڅخه دمسجدنقصان اودمسجدحق وهل کیږي هیڅکله روانه دی اوکوم چاچې دمسجدمځکه پخپل مکان کې شامله کړې ده اوقبضه یې ورباندې کړې ده دغه مځکه چې څه رنګه هم ممکن وي ددې له قبضې دې وایستله شي په مسجدکې دي دمسلمانانولپاره دده سره کوم ډول اړیکي اوناسته ،پاسته کول روانه دي اودی دې له کورنۍ څخه وایستل شي دوقف هیڅوک مالک نشي کېدای په درمختارکې راغلې دي: فاذاتم ولزم لایملک ولایملک اوپه شامي کې دي: قوله لایملک ای لایکون مملوکصاحبه ولایملک ای لایقبل التملیک لغیره بالبیع ونحوه لاستحالة تملیک الخارج عن ملکه(۱) فقط.

---

(۱) الدرمع الشامی ۴۰۲/۳، کتاب الوقف، مطلب فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ.

دوقف کوونکې لګولې شرط عملې کول ضروري دي

سوال: (۴۹۷) یوسړی یومکان وقف کړپه دې شرط چې ترځوزمالورژوندی وي ددې مکان په کرایه به خپله ګذاره کوي اودلورتروفات وروسته به دمکان کرایه ومسجدته ورکول کیږي اوس دغه انجلی وفات شوه اوددې بچیان غواړې چې دمکان په کرایه خپل ژوندتیروي نوآیاداصورت جائزدی؟ (۴۹۹/ ۴۴-۱۳۴۵ه)

خواب: په درمختارکې راغلې دي شرط الواقف کنص الشارع (الشامی ۳/ ۴۵۲/ کتاب الوقف)

دوقف کوونکې شرط عملې کول ضروري دي نودوقف کوونکې دځرګندونې سره سم دنجلی تروفات وروسته دغه مکان ومسجدته وقف دی فقط.

ومسجدته دشاملولولپاره چې کوم مکان وقف شوپه هغه کې وارثان هیڅ حق نلري

سوال: (۴۹۸) عمروزیدته وویل چې خپل سرای په مسجدکې دورشاملولو لپاره یې په بیع راکړه زیدوعمرته وویل چې څه قیمت به اخلم مادخدای لپاره خپل مکان په مسجدکې دورشاملولولپاره ورکړلرګي ،خښتې اونورې زه اخلم یوه دوې میاشتې وروسته زیدوعمرته وویل چې کله مې مکان دخدای لپاره ومسجدته ورکړنولرګي اوخښتې اونوربه زه واخلم زیدوفات شودرې زامن ،دوې لونې اویوه کونده یې پاته شونوپه دې صورت کې مکان ، لرګي ،خښتې اونورومسجدته وقف شوکه به ووارثانوته ورکول کیږي؟ (۸۵۹/ ۱۳۳۹هج)

خواب: په دې صورت کې دغه مکان سره له لرګو ،خښتواونوروومسجدته وقف شودزیددوارثانوپه دې کې هیڅ حق نشته فقط.

دمسجدپراوقافوقبضه کول جائزنه دي

سوال: (۴۹۹) دوې توتې سپینه مځکه دمسجد سره متصله پرته ده مځکې مسجد تنګ وله دغودووتوتوخځه یې څه مځکه په مسجدکې وزیاته کړه مسجدیې په پراخ کړله دغودواړوتوتوخځه پریوه توته دنایې قبضه ده ددغودواړوتوتوپه هکله زیداوبکرجګړه کوي زیدوایې چې دمځکې دغه دواړې توتې وقف دي دمسجد لپاره خوبکرجبراً پریوه توته قبضه کړې ده په دې صورت کې څه حکم دی؟ (۸۵۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب: پروقف دهیچاقبضه جائزه نه ده اودمسجداړونده مخکه هم وقف وي نودبکرقبضه دمسجد پروقف شوي مخکه باطله ده الوقف لایملک ولایملک (۱) مسئله منله شوي ده بایدچي دبکرله قبضي څخه دغه مخکه وایستله شي اودمسجدضرورت په پوره شي فقط.

دمسجدپه وقف شوي مکان دملکیت دعوی کوونکو له قبضي څخه ایستل ضروري دي

سوال: (۵۰۰) څه فرمایي علماء ددین ددي مسئلي په هکله چي یومکان اوخه مخکه دصحراء وقف ده دمسجدلپاره له شاهي زماني څخه چي متولي یې په همدي مکان کې بېله کرایې اوسېدی اوهمدی امام وواودوقف شوي مخکې آمدني یې څه پرمسجداوپاته یې پخپله مصرفوله څوکاله وشوچي متولي وفات شو اودده ددووهلکانودتولیت لپاره ولیکل شواواستوګنه په همدغه مکان کې ده دوئ دواړه خودملازمت په وجه همېشه په پردي وطن کې وي کلېوالوبل امام وتاکی اومکان خوزورشوی وو ،څکه دغه هلکانوپخپله ګټه له نوي سره ودان کړاوس دوئ وایې چي مکان زموږدی په همدي کې اوسیږوخودوئ دمسجد خیر ، خبرنه اخلي ،څکه کلېوالوبل متولی وتاکی آیادغه مکان ددغه دواړوهلکانوملک شوکه دمسجدلپاره وقف دی ؟ اودکلېوالوبل شخص متولی جوړول صحیح دي ،که نه ؟ اوکوم خلګ چي دوقف دارنګه ضایع کېدل ویني بیاهم دخوندي کولوکوشش نه کوي هغوئ دالله رب العزت ومخته مجرمان دي ،که نه ؟ دغه رنګه که دغه مکان وقف دی نوددغوخلګوبېله کرایې پکي استوګنه رواده ،که نه ؟ (۲۷۸۳/ ۱۳۴۳هج)

خواب: دغه مکان دمسجددی اودمسجدله اوقافوڅخه دی ددي دقبضه کونکوله قبضي اوتصرف څخه ایستل ضروري دي ،څکه چي کله دوئ دملک دعوی وکړه نوخائنان اوغصب کوونکي شو ،څکه ددوئ له قبضي څخه ددي ایستل ضروري دي اوامام اومتولي کوم چي کلېوالوتاکلي دي داصحیح دي.

(۱) الدرمع الرد (۴۰۲/۳) کتاب الوقف طرشیدیه.

دمکان قبضه کوونکو ببله د ... پکي اوسېدل صحیح نه دي بلکي اوس په کرایه هم ددوئ پکي پرېښوول منا ... نه دي چي دوئ دملکیت دعوی کوي لنډه داچي ددوئ له قبضې اومالکانه تصرف څخه ددې مکان ایستل پکاردي اومسلمانانو ته په دې کې پوره کوشش کول پکاردي اوکوم خلګ چي سره له قدرته ددې په خلاصولوکې کوشش نه کوي هغوئ ګنهګاریږي فقط.

دمسجدپه وقف شوي مکان کې مدرسه جوړول

سوال : (۵۰۱) دیومسجددشمال ولورته یومکان دمسجدلپاره وقف دی اودهغه کرایه پرمسجدکې صرفیږي دغه رنګه دارتیاپرمهال دمسجدپراخولوپه کارهم راتلای شي اوس زیدداغواړي چي ددې مکان پرځای اسلامي مدرسه جوړه کړم اودمسجددخرڅوذموارددمدرسې مهتمم ګرځي نوآیادزیدپه ویناد مسجدمتو لیان دغه مکان وزیدته وسپاري ،که نه ؟ (۴۱۵/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : داسلامي مدرسې په جوړښت کې داګڼه ضرورشته چي دمسجدآبادي کوم چي دوقف کوونکي غرض دی په دې کې په پوره ډول حاصلېدای شي ومراعاة غرض الواقفین واجبة (الشامی ۲/ ۴۱، کتاب الوقف) په همدې وجه داهیڅ پروانلري چي په دغه مخکه کې مدرسه دزدکړې لپاره ودانه شي فقط.

سوال : (۵۰۲) دمسجدمکان دمدرسې اونوروپه کارکې ببله اجرته شرعًا استعمالېدای شي ،که نه ؟(۴۷۰/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

ځواب : دمسجدمکان چي وقف کوونکې اوباني دکوم کارلپاره جوړکړی وي په هماغه ځای کې بایدپه کارراوستل شي که دمدرسي لپاره جوړکړی دی یادامام اومؤذن یاطالبانوداستوګنې لپاره جوړکړی دی نوهماغه کارپکي وشي ،ځکه چي دفقهي په کتابونوکې څرګندونه شته شرط الواقف کنص الشارع الخ شرائط الواقف معتبرة (درمختاراونور) اوکه دوقف کوونکي شرط معلوم نه وي نولکه څرنګه چي له مخکې څخه عمل کېدای له هغه سره سم عمل دې وشي فقط.

دجامع مسجددوقف شوي ځائدادله آمدنۍ څخه مدرسه جاري کول

سوال : (۵۰۳) په کلي کې یوه مدرسه چي ددې لپاره جلا وقف شته په جامع مسجدکې له ډیرې مودې قائمه ده دنورو کلوپه مسجدونوکې هم دقرآنکریم دزدکړې مدرسې شته سره له دې تولودخپل عزت نامه اوخای داغراضولپاره په چنده یوه بله مدرسه قائمه کړله شوه چي پکي دښوونکي

تنخواه ،چنده اوفیس له طالبانوڅخه اخستل کیږي اوددې مدرسې لپاره دجامع مسجدپه وقف مخکه یوه پېزه پوري ودانۍ دمدرسې په نامه جوړه کړه شي حال داچي

Maktaba Tul Ishaat. com

وقف کوو نکې دوقف دمصرفونوخرګندونه کړې ده چې پکې دمدرسې په نامه دکوم تعمیریادرسګاه څرګندونه نشته نوپه داسې حال کې دجامع مسجددوقف روپۍ دوقف کوونکې له څرګندونې پرته په کوم بل کارپه مدرسه اونوروکې یاپه نوې ودانۍ کې لګول شرعًاروادي ،که نه ؟ که ناروادي نوددې ذموارځوک دی ؟ اوترڅومره مودې پورې چې دوقف کوونکې دغوښتنې په خلاف دوقف مځکه یادوقف روپۍ په نوروکارونوکې وکارول شوې دهغه کوم جبران له ګناه پرته په کرایه اونوروکېدای شي ،که نه ؟(۲۸۰۱/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : کله چې په دې مسجد کې دیني مدرسه جاري کول په ظاهره دوقف کوونکې دغرض په خلاف نه ده ،ځکه ددې په جوازکې څه شک شته ؟ لان مراعاة غرض الواقفین واجبة (الشامی ۲/ ۵۲۱کتاب الوقف) کله چې دمسجدآ مدني زیاته ده اوکه دمسجدداوقافوآمدني دومره زیاته ده چې په مسجدکې نشي خرڅېدای نوپه دې سره ددغه مسجددمدرسې ودانول هم صحیح دي زیات نه زیات داسې کېدای شي چې دغه روپۍ قرض وبللې شي لکه چې فقهاؤداسي لیکلې دي بیاچې کله دمسجدورته اړتیاشي نودغه روپۍ دې بېرته ورکولې شي په فتح القدیرکې راغلې دي : قال الشیخ الامام (محمدبن الفضل) ماکان من غلة وقف المسجدالجامع یجوزللحاکم ان یضرفه الی ذلک علی وجه القرض اذالم تکن حاجة للمسجدالیه الخ (۱) اوپه حموي داشباه ونظائرپه حاشیه کې له دې څخه هم زیات دپراخي څرګندونه شته : نقلا عن فتاوی قاضی خان ان الناظرله صرف فائض الوقف الی جهات بربحسب مایراه انتهی(۲) فقط

(۱) فتح القدیرشرح الهدایة ۵/ ۴۵۰، کتاب الوقف ، الفصل الاول فی المتولی مطبوعة رشیدیه باکستان.
(۲) شرح الحموی علی الاشباه والنظائرص: ۱۴۸القاعدة الخامسة من الفن الاول: تصرف الامام علی الرعیة منوط بالمصلحة.

که دمسجدورته اړتیانه ږ نوده داوقافوآمدني چیري صرف کړله شي ؟

سوال : (۵۰۴) وقف کوونکی دوقف کولوپرمهال کوم شرط نه وولګولی اوپه داسي حال کې دبدلولو اختیارباقي نه شوپاته خودکوم مسجددمصرفونولپاره چې يې وقف کړهغه ورته حاجت نلري نودوقف شوې آمدنی جائزمصرف څه کېدای شي ؟(۳۲/۲۲۹۵ - ۱۳۳۳هج)

خواب : دغه آمدي دهمدې مسجددآئنده اړتیاوولپاره خوندي کړئ چې کله اړتیاوي په دغه مسجدکې يې صرف کړئ یادامام اومؤذن تنخواه ورزیاته کړئ اوکه داسي مجبوري ده چې په دغه مسجدکې هیڅ رنګه نشي خرڅ کېدای اونه په آئنده کې څه امیدشته نو شاید چې دابه څه پرواونلري چې په کوم بل مسجدکې يې صرف کړي ترڅوپوري چې هغه رکاوټ وي وي څه وخت هغه رکاوټ پورته شي بیابه پرهغه مسجدخرڅې کړي دکوم لپاره چې دغه جائدادوقف شوی دی.

دوقف آمدني دمسجدپه اړتیاکې صرفول

سوال : (۵۰۵) دوقف له آمدني څخه وامام اومؤذن ته تنخواه ورکول اودغسل اونورواوبودډکولواجرت (مزدوري) ورکول روادي ،که نه ؟(۴۴/۱۰۷۰ - ۱۳۴۵هج)

خواب : دامام اومؤذن تنخواه اوغسل اونورداوبودډکولولپاره چې کوم خرڅ راځي دوقف له آمدني څخه دهغه اداکول جائزدي.

دیوه مسجدداوقافوآمدني په بل مسجدکې صرفول

سوال : (۵۰۶) دمسجددوقف جائدادآمدني په کوم بل مسجدکې صرفېدای شي ،که نه ؟(۳۲/۱۴۷۵ - ۱۳۳۳هج)

خواب : په کوم حال کې چې اول مسجدآباددی اودهغه اړتیاوې حالااوپه آئنده کې پیښېدوونکې دي نودهغه داوقافوآمدني په بل مسجدکې صرفول صحیح نه دي فی الشامی لکن علمت ان المفتی به قول ابی یوسف رحمه الله انه لایجوز نقله ونقل ماله الی مسجدآخرکمامرعن الحاوی نعم هذاالتفریع انمایظهرعلی ماذکره الشارح من الروایة الثانیة عن ابی یوسف وقدمناانه جزم بهافی الاسعاف وفی الخانیة رباط بعیداستغنی عنه المارة

Maktaba Tul Ishaat.com

وبجنبه رباط آخرقال السيدالامام ابوشجاع : تصرف غلته الى الرباط الثانى كالمسجداذاخرب واستغنى عنه اهل القرية الخ (۱) امادوقف كوونكې اووقف دجهت ديووالې په صورت داسي صحيح دى چې ديوه مسجدوقف آمدني په بل مسجدكې صرفه كړله شي خوكله چې وقف كوونكې بېلابېل وي ياجهت دوقف بېلابېل وي نوبيا صحيح نه دى فقط.

ديومسجدپه آمدنى دبل مسجدمكانونه اونورجوړول

سوال : (۵۰۷) كه دمسجددآمدنى دكانونه اومكانونه په داسي حال كې وي چې هغه دمسجداړوندددغه مكانونودترمېم لپاره كفايت نه كوي نوآياداسي روادى چې ديوبل مسجدپه اړوندجائداد(لكه ددكانونواومكانونوآمدني) څخه داول مسجدمكانونواونوروترمېم وشي) (۵۲۰/۳-۱۳۳۶هج)

خواب : دحنفى فقهاؤله څرګندونوسره سم داسي كول صحيح نه دي قال فى الدرالمختاروان اختلف احدهمابأن بنى رجلان مسجدين اورجل مسجداومدرسة ووقف عليهمااوقافا لايجوزله ذلك الخ(۲)

ترجمه : اوكه بېلابېل وي له دوئ څخه يويعنى وقف كوونكې ياجهت دوقف بېلابېل وي دارنګه چې دوكسانودوه مسجدونه جوړكړل يعنى يوه يومسجدو دان كړاوبل سړى بل مسجد جوړكړيايوه سړى مسجداومدرسه جوړكړاوددغو دو اړوته څه جائدادوقف كړنوديوه وقف آمدني په بل وقف كې لګول صحيح نه دي اوپه دوهم صورت كې كله چې وقف كوونكى يووي اووقف شوى ببل ،ببل وي علامه شامى رحمه الله دخلاف روايتونه رانقل كړې دي : لكه چې ليكلې يې دي لكن نقل فى البحربعدهذاعن الولوالجية مسجدله اوقاف مختلفة لابأس للقيم ان يخلط غلتهاكلهاوان خرب حانوت منهافلابأس بعمارته من غلة حانوت آخرلان الكل للمسجدولوكان

(۱) الشامى (۴۰۷/۳) كتاب الوقف ، مطلب فيمالوخرب المسجداوغيره ط رشيديه.
(۲) الدرالمختارمع الشامى (۴۰۸/۳) كتاب الوقف ، مطلب فى نقل انقاض المسجد ونحوه.

مختلفا لان المعنی یجمعهما الخ ومثله فی البزازیة تأمل(۱) (شامی ۳/۳۷۲)

ترجمه : خوله دې وروسته په بحرکې له ولوالواجیة څخه رانقل کړې دي چې یومسجددی چې دهغه اوقاف بېلابېل دي نودمتولی لپاره صحیح دی چې دوئ ټوله داوقافوآمدني یوځای جمع کړي اوکه په هغوئ کې یودکان خراب شي نودبل دکان په آمدني ددې جوړول هیڅ پروانلري ،ځکه چې داټول دمسجدلپاره دی که څه هم بېلابېل وقفونه دي ،ځکه چې په حقیقت کې ټول یودي یعنی ددې مسجدلپاره دی چې ورته دغه دکانونه وقف شوې دي اوهمداسي په بزازیه کې دي خوپه حقیقت کې دغه روایت ددرمختاردقول په خلاف نه دی ،ځکه چې په درمختارکې دجهت داختلاف مثال دابیان کړی ووچې یوسړی مدرسه اومسجدجوړکړل اودولوالجیة په روایت کې دیوه ومسجدپه اړه په څواوقافو کې دجوازصورت لیکلی دی لنډه داچې په پوښتل شوې صورت کې چې پکې ددواړومسجدونوبانې اووقف کوونکی په ظاهره یوشخص نه دی داصحیح نه دی چې دیوه مسجددواقافوآمدني دبل مسجددکانونواونوروپه ترمېم کې ولګول شي کله چې دواړه مسجدونه آبادوي اویوهم په دوئ کې ویران اوخراب شوی نه وي ،ځکه چې دمسجد دخرابېدو په صورت فقهاؤداجائزلیکلی دی چې دویران مسجدسامان په بل مسجدکې ولګول شي فقط.

دمسجدداوقافوآمدني دسولاغې ،رسۍ اوغسل خانوپه مصرف کې لګول

سوال (۵۰۸) بې بې زبیدې دکښت مځکه ومسجدته وقف کړه خودوقف په پاڼه کې دسولاغې رسۍ اوغسل خانودمصرفونوځرګندونه ونکړه نومتولیان دسولاغې ،رسۍ اوغسل خانوپه مصرفونوکې ددغه وقف آمدني صرفولای شي ،که نه ؟ اوپه مسجدکې لمونځ کوونکې ددوئ سره حساب کولای شي ،که نه ؟ اوکه موجوده متولیان لیري کړل شي بل متولي وټاکل شي نومسلمانان شرعًا داحق لري ،که نه ؟ (۱۳۴۲/۱۴۱۸هج)

(۱) مخکنی حواله

Maktaba Tul Ishaat .com

خواب : دبیان شوې وقف په زیاتوب آمدني سره دمسجد په سولاغې ،رسی اوغسل خانوپه انتظام کې صرفول صحیح دی متولیان بایددې انتظام وکړي دمسجدداړتیاوولپاره دوقف کوونکی وڅرګندونې ته ضرورت نشته اوپرمتو لیانولازم دي چې دآمدني راتلواوصرفپدوحساب صفاوساتي اوله دوئ سره دحساب کولوحق حاکم لري عام لمونځ کوونکې ورسره دحساب کولوحق نلري اوکه دمتولیانوخیانت په ثبوت ورسیږي نوحاکم دې دی عزل کړي بل متولي دي وټاکي فقط.

دیوه مسجدپه نوم دوقف شوی جائدادآمدني دبل خیرپه کارکې لګول

سوال : (۵۰۹) زیدیوجائداد ،څکه وقف کړچې ددې آمدني به دیوه مسجدامام اومؤذن په تنخواه اودهمدغه مسجدپه نورواړتیاووکې صرفیږي خودغه مسجدپه دې وجه ورته اړنه دی چې دمسجدمتولي دمسجددټولواړتیاوو پخپله کفیل اوضامن دی اوس وقف کوونکی دااختیارلري اوکنه چې دخپل وقف کړې جائدادګټه دکوم بل دخیرکارلپاره خاص کړي؟(۳۲/۲۲۴۴-۱۳۳۳هج)

خواب : که دوقف کولوپروخت کوم داډول شرط نه وولګولی نواوس ووقف کوونکې ته دبدلولواختیارنشته.

دمسجددواقافوپه آمدني دمسجدپه څلوردېوالی کې باغ لګول

سوال : (۵۱۰) دبمبی دجامع مسجددشوری له یوولسوکسانوڅخه دزیاترودا رأیه ده چې دمسجدداوقافوپه آمدني سره دي دمسجدپه څلوردېوالی کې کوم چې یوپراخ ځای دی هلته باغ کښېنبوول شي اوونې ودرول شي اودهغه دخوندي کولولپاره په تنخواه باغوان مقررشي حال داچې دکومې مخکې په اړه دامشوره وشوه دلته له پخوازمانې څخه دلمونځ کوونکولپاره ګنجائش ووکله چې به خلګ زیات شونولمونځ کوونکوبه دلته لمونځ کاوونوپه داسي حال کې دشوری والالپاره دمسجدله مال څخه صرفول روادي ،که نه ؟ (۹۳/ ۱۳۳۵هج) ځواب : دمراعاة غرض الواقفین واجبة (الشامی ۳/ ۴۴۴کتاب الوقف) په مخکې ساتلوسره داسي تصرفات په اوقافوکې صحیح نه دي کوم چې دوقف کوونکې دشرط اوغرض خلاف وي.

دمسجدداوقافوله آمدنی څخه حکومتي ټیکس (مالیه) ادا کول اوماهرینوته پنشن ورکول

سوال: (۵۱۱) (الف) دمسجددوقف شوې جائدادله آمدني څخه دودانیوټیکس وحکومت ته ورکول جائزدي ،که نه ؟

(ب) دارازتراوسه چې څه ورکړې دي حکومت هغه ومسجدته بایدبهرته ورکړي ،که نه ؟

(ج) دمسجدله آمدنی څخه دمسجدوبودا(سپین ږیري) ملازم ته پنسین ورکولای شي ،که نه ؟

(د) آیادمسجدمتولیان ددغه تاوان ذمواران دي کوم مقدارچې تراوسه دوئ په پنشن کې خرڅ کړی دی ؟

(هـ) دمسجدپه وقف شوې مځکه کې ونې دمسجددې که دلګوونکې اوخدمت کوونکې دي ؟(۲۳۳/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: (الف) که حکومت اخلي نودمتولیانولپاره ورکول صحیح دي خوحکومت بایددداسي اوقافوله آمدنی څخه مالیه وانه اخلي.

(ب) که یې بهرته ورکړي نوډیره ښه ده.

(ج) دوقف کوونکې له شرط پرته دمسجدوکوم مامورته پنشن ورکول صحیح نه دي خوکه وقف کوونکی کوم داسي شرط لګولی وي نوورکول یې صحیح دی ،ځکه چې دوقف کوونکې شرطونه په پام کې نېول اووربانديې پابندي کول ضروري دي کمافی الشامی: ان شرط الواقف کنص الشارع الخ(۱)

(د) ذمواردی.

(هـ) دمسجددی استاجردارامو قوفة فیهااشجارمثمرة هل له الاکل منهاالظاهر انه اذالم یعلم شرط الواقف لم یاکل لمافی الحاوی غرس فی المسجد اشجاراً تثمران غرس للسبیل فلکل مسلم الاکل والافتباع لمصالح المسجد الخ (۲) ددرمختاردددغه اخیري دحاوي درواېت حاصل دادي چې په مسجدکې کومې ونې چالګولې دي که لګوونکی دعاموخلګولپاره وقف کړی دی نوهرمسلمان له دې څخه خوراک کولای شي اوکه داسي نه دی یعنی دلګوونکې نیت پرعامو مسلمانانودوقف کولونه وو

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۵۲) کتاب الوقف ، مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۵۵) کتاب الوقف ، مطلب استاجردارا فیهااشجار ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

بلکي دمسجد لپاره لګولی دی یادده هیڅ غرض اونیت معلوم نه وي نو بیادی دغه مبوه دمسجد دمصلحتو نو لپاره خرڅه کړله شي.

دمسجددواوقافوآمدني دبې وارثه پرتجهیزاوتکفین یامزارلګول

سوال: (۵۱۲) (الف) دمسجدداوقافوآمدني دکوم بې وارثه په تجهیزاوتکفین یاپه بل کارکې ورکول څرنګه دي؟

(ب) دجامع مسجد په یوه طرف کې دجنوب پرلودیوه بزرګ مزاردی اوشاته یې سړک دی هغه طرفته څودکانونه جوړشولیکل کیږي چي فلانی دکان دمزارپه اړه دی دهغه آمدني په مسجد کې لګول روادي، که نه؟

(ج) دیوه مسجدآمدني په بل مسجد کې لګول روادي، که نه؟ (۱۳۳۹/۴۹۸ هج)

(د) دمسجدروپی په مزارکې لګول څرنګه دي؟

خواب: (الف، د) دمسجدداوقافوآمدني دکوم لاوارثه مړی په تجهیزاوتکفین یاپرکوم مزاریاکوم بل مسجدباندي لګول صحیح نه دي خوکله چي اول مسجد ویران شي اودهغه دآبادېدوتصورختم شي نوپه داسي حال کې دیوه مسجدسامان اوآمدني په بل مسجد کې لګولای شي بیاهم له مسجدپرته په نوروشیانوکې نشي صرفولای دغه رنګه دمزارونودوقف شویوآمدني په مسجد لګول جائزنه دی کذاصرح به فی کتب الفقه فقط.

دمسجدداوقافوله آمدني څخه وامام اومؤذن ته تنخواه ورکول

سوال: (۵۱۳) که کوم جائداددمسجددخرڅولولپاره وقف وي نوله دغه جائداد څخه وامام اومؤذن ته تنخواه ورکول څرنګه دي (۱۳۳۸/۱۰۳۰هج)

ځواب: که ګنجائش وي نوله دې څخه وامام اومؤذن ته تنخواه ورکول هم صحیح دي

دمسجدوقف شوې مخکه چې دامام په نامه لیکل شوې ده ددې دآمدنۍ حقدارڅوک دی

سوال : (۵۱۴) له پخواڅخه یوه مخکه دمسجددامام په نامه لیکل شوې ده اوکوم څوک چې به امام وودې آمدني به هغه ته ورکول کېده په مینځ کې یو، دوه امامان داسي هم راغلوچې ورته آمدني نه ورکوله شوه آیادغه آمدني دمسجددامام حق دی که په مسجدکې صرفه کړله شي ؟ (۵۵۰/ ۱۳۳۷هج) څواب : که دغه مخکه ومسجدته وقف ده اوآمدني ددې دمسجدوامام ته ورکول کېده په همدې وجه دامام په نامه لیکل شوې وه اوهمدابنکاره ده نودامخکه دمسجدده ددې آمدني په مسجدکې لګول صحیح دي دامام دتنخواه اونورودې بېل انتظام وشي اوددغه مخکې آمدني دې په مسجدکې صرفه کړله شي دغه وقف شوې مخکه دکوم امام ملک نه ده فقط.

نیلام شوې فقیرخانه دمسجدپه روپیودمسجدپه نامه راخلاصه کړله شوه نودچاملک دی

سوال : (۵۱۵) دیومقروض شخص فقیرخانه تاجرپه قرض کې نیلام کړه هغه داوویل چې دمسجدپه نوم به دافقیرخانه راخلاصه کړو، ځکه دمسجدپه نامه یې دمسجدپه روپوفقیرخانه راخلاصه کړه اوس دغه فقیرخانه دمسجدملک ده که څرنګه ؟ (۳۲/۲۲۴۸ـ ۱۳۳۳هج)

څواب : دغه فقیرخانه دمسجدله اوقافوڅخه ده ددې آمدني بایدپه مسجدکې ولګول شي داصل مالک له لورې کله چې ددې دوقف کېدواقراروشولکه چې ده وویل چې دمسجدپه نامه یې راخلاصه کړي په دې کې دده دمالک په حیث هیڅ تصرف باقي نه شوپاته.

دفقیرخانې دنرېدلوکوټوخښتې په مسجدکې لګول

سوال : (۵۱۶) یومسجدنرېدلی دی دهغه دودانولولپاره خښتې نه پیداکیږی ددې مسجددجنوب ولورته یوه فقیرخانه ده په هغې کې دوې کوټې نرېدلې دي نوددغوکوټوخښتې په مسجدکې لګېدای شي، که نه ؟ (۱۳۴۱/۲۳۲۷هج)

څواب : ددغه فقیرخانې دنرېدلوکوټوخښتې په مسجدکې لګول صحیح نه دي فقط.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجد په حدودویاپه اوقافوکې دکان جوړول

سوال: (۵۱۷) دمسجدومشرقي طرفته په حویلی کې دننه غولی اووقف شوې مسافرخانه دمسجدوجنوب ته دمسجددغولې سره متصل دی دمسجددګټې په خیال متولیان دمسجدغواړې چې له دغومځکوڅخه څه برخه واخلوڅودکانونه جوړکړوچې آمدني به په همدې مسجدکې صرفوودمسجدومځکې ته هیڅ ډول حرج نشته په داسې حال کې ددکانونوجوړول منع خونه دي؟ (۷۸۲/ ۱۳۴۳هج)

خواب: په البحرالرائق کې له مجتبی څخه رانقل شوې دي چې دمسجددمتولي لپاره دمسجدپه حداوفناء دمسجدکې دکانونه جوړول صحیح نه دي عبارت داسې دي [وفی المجتبی لایجوزلقیم المسجدان یبنی حوانیت فی حدا المسجداوفنائه (۱) اوله دې وروسته دمسجددفناء داتفسیرکړی دی وفناء المسجدماکان علیه ظله المسجد(۱) له دې څخه معلومیږي چې ددکانونودجوړ ولومنع په هغه مځکه کې دی کومه چې دمسجدپه حدکې داخله وي اودابنکاره ده چې کومه مځکه خاص مسجددہ اودلمانځه لپاره خاص ده په هغه کې ومتولی ته دغه تصرف روانه دی پاته شوه هغه وقف شوې مځکه کومه چې مسجدنه ده بلکې دمسجدله اوقافوڅخه ده اودمسجداړونده ده نوپه هغه کې دکانونه جوړول دمسجددګټې په غرض روامعلومیږي لکه چې په البحرالرائق کې له مجتبی دنقل شوې عبارت څخه وروسته داعبارت منقول دي: قیم یبیع فناء المسجدلیتجرفیه القوم اویضع فیه سررًا آجرهالیتجرفیهاالناس فلابأس اذاکان لصلاح المسلمین (۱) اوداراز ددرمختارعبارت وکذایفتی بکل ماهوانفع للوقف الخ (۲) ددې پرجوازدلالت کوونکې دي، ځکه دمسجدپه اړه پرتې مځکې څخه بنکاره دی چې دمسجدپه دې کې هیڅ ګټه نشته اوکه دکانونه جوړشي نوله دې څخه دمسجدډیره لویه ګټه ده، ځکه نوددې دجوازفتوی ورکول دوقف کوونکې اوباني دغرض سره سم دی مخالف نه دی اولکه څرنګه چې پرمسجدله وقف شوې مځکې څخه داړتیاپرمهال په مسجد کې داخلول روادي کماهومذکورفی البحرالرائق ولوکان بجنب

(۱) البحرالرائق ۵/ ۴۱۸/ کتاب الوقف، فصل فی احکام المساجد.

(۲) الدرالمختارمع الشامی (۴۴۰/۴) کتاب الوقف، مطلب سکن المشتری دارالوقف ط رشیدیه.

المسجدارض وقف على المسجدفارادواان يزيدواشيئًا فى المسجدمن الارض جازذلک بأمرالقاضى (۱) دغه رنګه دمسجددګټې لپاره اودهغه دآبادۍ اوانتظام دسمون لپاره دمسجدپه اړه وقف شوې مځکه کې دکانونه جوړول هم بايدرواشي لنډه داچې کله دغه مځکه له مسجد څخه خارجه ده اوپه مسجد کې داخله نه ده نوپه دې کې دکانونه جوړول دمسجددګټې په غرض روادي اماله بيان شوې مسافرخانې څخه څه مځکه اخستل ددې غرض لپاره دوقف کوونکې دغرض په خلاف کېدوله وجې ناروامعلوميږي خوکه دمسجدپه اړه دمسافر خانې څخه دځه مځکې په اخستوپه مسافرخانه کې هيڅ نقصان نه راځي نوداهم بايدجائرشي اوکه له مسافرخانې څخه څه مځکه وانه اخستله شي بلکې صرف دمسجدپه اړه په دغه ولاړه مځکه کې دکانونه جوړېدای شي نوداغوره ده چې مسافرخانه پرخپل حال پربښوولې شي ،خکه چې کومه مځکه وقف کوونکې دمسافرخانې لپاره وقف کړې ده په هغه کې کوم بل تصرف بېله سختې اړتياروا نه دی فقط.

دمسجدپه حدودوبادمسجدپه غولې کې دوکانونه جوړل روانه دي

سوال : ۵۱۸) مسجدی است ودرجنب اوايوانی است وقف برمسجدکه اهاليان مسجددرآن اسائش می نمايندالحال شخصی ازمسلمانان که خودرامتولی مسجد می داند ، اراده داردکه دران ايوان متصل مسجددکانهابناکندجهت نفع مسجد ياغيرآن آياايين بنائی دکانهادرجنب مسجدمراوراجائزاست يانه ؟ وبانی رامنع ازبناباید کردياته ؟(۱۰۸۱/ ۳۳_۱۳۳۴هج)

جواب : دکانهاساختن درجنب مسجددرايوان متصل مسجدهرگزشرعًا جائزندارندکه جائزنيست بلکه دکانهاساختن درچنين موضع جائزنيست اگرچه بانی آن متولی مسجدباشدقال فی الفتاوی العالمغيرية فی کتاب الوقف : قيم المسجدلايجوزله ان يبنی الحوانيت فی حدالمسجداوفی فنائه لان المسجد اذاجعل حانوتااوٴمسکنا تسقط حرمته وهذالايجوزوالفناء تبع للمسجدفيکون حکمه حکم المسجدکذافی محيط السرخسی انتهی (۲) وايضا قال فی الدالمختار

۱) البحرالرائق: ۵/ ۴۲۸وفی آخرکتاب الوقف.
۲) الفتاوی الهندية ۲/ ۴۶۲ ،کتاب الوقف ، الفصل الثانی فی الوقف وتصرف القيم وغيره فی مال الوقف عليه.

Maktaba Tul Ishaat.com

فی کتاب الوقف امالوتمت المسجدیة ثم ارادالبناء منع ولوقال عنیت ذلک لم یصدق تاتارخانیه فاذاکان هذافی الوقف فکیف بغیره فیجب هدمه ولوعلی جدارالمسجدولایجوزاخذالاجرة منه ولاان یجعل شیئًامنه مستغلاولاسکنی بزازیة انتهی (۱) پس چون این امردرمسجد جائزنیست درفناء مسجد یعنی میدان متصل مسجدهم جائزنیست چی فناء مسجدراحکم مسجداست کماعرفت من عبارة الفتاوی العالمغیریة هذاماظهرلی فی هذاالباب فقط.

دسوال (۵۱۸) ترجمه: یومسجددی دده په ارخ کې یومکان دمسجد په نامه وقف دی چې پکې مسجدوالاآرام کوي اوس یوسړی چې ځان متولي بولي دمسجد دګټې لپاره یادکوم بل غرض لپاره په دغه مکان کې دکانونه جوړول غواړې نوآیاددې شخص لپاره دمسجدوځنګ ته دارنګه دکانونه جوړول روادي که نه ؟ اودمسجدباندي بایددارنګه تعمیرمنع کړي ،که نه ؟

ځواب: دمسجدپه ارخ کې له مسجدسره په متصل مکان کې دکاونه جوړول شرعًاپه هیڅ ډول روانه دی آن تردې که دمسجدباني پخپله په داسي ځای کې دکانونه جوړوي بیاهم روانه دی په فتاوی عالمګیري کتاب الوقف کې راغلې دي چې دمسجددمنتظم لپاره دمسجدپه حدودویادمسجدپه غولې کې دکانونه جوړول روانه دی ،ځکه چې له مسجدځخه کله دکان یاداستوګنې ځای جوړکړل شي نودده حرمت ختمیږي اوداپه هیڅ ډول روانه دی اوغولی خودمسجدتابع وي ،ځکه ددې حکم هم دمسجدپه ځیردی په محیط سرخسی کې همدارنګه رانقل شوې دي انتهی دغه رنګه ددرمختارپه کتاب الوقف کې بیان کړی دی چې دمسجدترمکمل کېدووروسته دهرډول تعمیرځخه منع کیږي اوکه دی وایې چې ددې ماارادہ کړي وه بیاهم دده خبره نه منل کیږي (تاتارخانیه) کله چې دوقف کوونکې په هکله داحکم دی نودده پرته دبل په اړه به څه حکم وي ؟ ،ځکه ددې نړول واجب دي که څه هم دمسجد پردهوال وي الخ.

لنډه داچې کله داکارپه مسجدکې روانه دی نودمسجدپه غولې کې هم نارواډی ،ځکه چې دمسجدغولی دمسجدپه حکم وي(۲)

(۱) الدرمع الرد(۴۰۶/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۲) داحکم هغه وخت دی کله چې دمسجد سره متصل دمسجدپه ارخ کې چې کوم مکان دی هغه دمسجدپه حدودوکې داخل وي اودسوال داجملې چې مسجدوالاپه دې کې آرام کوي قرینه ده چې دغه مکان دمسجدسره نسبتی دی اوخاص دمسجدحصه ده اوکه دمسجدسره متصل دمسجدپه ارخ کې کوم مکان دی هغه له مسجد څخه خارج دی نوپه هغه کې دمسجد دګټې لپاره دکانونه جوړول جائز دي (محمدامین) .

دمسجدله حدودووتلې دکانونه یاکوټې جوړول چې کرایه یې په مسجدکې لګیږي صحیح دی

سوال : (۵۱۹) دکانونه اوځوحجرې دمسجد په اړه دمسجد دغولې له حدودوبهر په دې غرض جوړې کړل شوې چې ددکانونوآمدني په مسجدکې ولګیږي اوپه حجروکې مسافرخلګ آرام کوي اوکله چې خالي وي اوکوم روزګارکوونکې راشي میاشت یادوې یاکم اوزیات وخت پکې تیروي له هغوئ څخه کرایه اخستل کیږي اودمسجد په کارراځي ددغوحجروجوړول اوکرایه یې دمسجد په اړتیاووکې لګول صحیح دي ،که نه ؟(۳۲/۲۰۳۹-۱۳۳۳هج)

خواب : دمسجددمصرفونوپه غرض ددغوحجروجوړول اوددوئ کرایه په مسجدکې لګول صحیح دي.

دمسجددکان ونارواتجارت کوونکې ته په کرایه ورکول

سوال : (۵۲۰) دمسجددکان وداسي کرایه دارته په کرایه ورکول چې پکې منع شیان خرڅوي روادی ،که نه ؟(۳۵۳/ ۲۲-۱۳۴۷هج)

خواب : وداسي سړی ته ددغودکانونوپه کرایه ورکول مکروه دي چې شرعًا دمنعوشیانوتجارت کوي خوکرایه اخستل له ده څخه ضروري دي اوپه مسجد کې لګول ددې صحیح دي فقط.

دمسجددوقف شویودکانونوپه آمدني دمسافرواوعلماؤخدمت کول اوپه روژه مبارکه کې روژه مات په راوړل

سوال : (۵۲۱) دمسجددوقف شویودکانونودناروا شیانوپه آمدني سره دمسافرو خدمت کول یاعالمانودنصبحت په اورېدودالله رب العزت لپاره په دغه آمدني ددوئ خدمت کول اوامام اومؤذن مقررول اوله آمدني څخه تنخواه ورکول داراز دروژې شریفې په روژه مات کې لګول څرنګه دي ؟(۱۹۳۸/ ۱۳۳۷هج)

خواب : کوم دکانونه چې پرمسجدوقف دي دهغوئ آمدني بایددمسجدپه اړتیاووکې ولګیږي مثلا دمسجدترمېمول اودمسجدآلاتوسمول لکه صفونه ،کوزې اونوراودمسجدشعائرونوري خرڅې دمثال په دول دامام اومسجدد مؤذن په تنخواه کې بایدولګیږي دمسافرواونصبحت کوونکوخدمت اوپه رمضان المبارک کې روژه مات له دې څخه کول صحیح نه دی فقط.

Maktaba Tul Ishaat. com

دیوه مسجدد دکانونوآمدني دبل مسجد په ودانۍ ،خانقاه یابنوونځیوکې لګول

سوال : (۵۲۲) دیوه مسجد د دکانونوآمدني دبل مسجد په تعمیرکې خرڅېدای شي ،که نه ؟ (۵۱۲/۱۳۴۲هج)

خواب : نشي کولای فقط.

سوال : (۵۲۳) (الف) دبازاردمسجدچي کومه آمدني ده دغه آمدني دنورو محلوپه مسجدونویاخانقاه اوښوونځیوکې لګول جائزدي ،که نه ؟ یاچي دمسجدله تعمیرڅخه کوم سامان پاته شي هغه دبلې محلې په مسجد ،خانقاه اویامدرسه کې ولګول شي ؟

(ب) دبلې محلې خلک دغه غواړي چي دجامع مسجدمحلې والادکارنظم برابر کړي دغه خلک ګنهګاریږي ،که نه ؟ (۱۹۷۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : (الف) ددغه مسجد د دکانونوآمدني په نورومسجدونویاپه خانقاه کې یاپه مدرسه کې لګول صحیح نه دي دغه رازددې مسجدپاته شوی سامان په بل مسجدکې لګول صحیح نه دي.

(ب) بلې محلې والاهیڅ اختیارنلري چي دوئ محلې والاله انتظام کولوڅخه منع کړي که دوئ داسي وکړي نوګنهګاریږي فقط والله تعالی اعلم.

دمسجددوکانونوپه آمدني روژه مات اوپه تراویحو کې دقرآنکریم دختم پرمهال شېرني وېشل

سوال : (۵۲۴) دیوه مسجدپه اړه څه خام دکانونه چي دکاریې آمدني یې دیرش ،څلوېښت روپۍ دمیاشتې وودغه آمدني دمخکني متولي په خرڅ کې کوم چي دمسجدامامت هم کوي اودمؤذن اوددیوې (بتۍ) دتېلوپه خرڅ کې اوکرابواودتراویحوپه شیریني (مېتایې) اودمسجدپه نورواړتیاووکې لګېدلې ددوکانونوترپخېدووروسته آمدني نژدي یونیم سل روپۍ شوه دلمونځ کوونکواوتولوکلیوالوپه مشوره دمسجددانتظام لپاره کمېټه جوړه شوه اوتولوپه مشوره داخبره وکړه چي کومې خرڅې مخکې دمسجدپه آمدني وي هغسی به کیږي له دې پرته دې څه روژه مات په رمضان شریف کې ولمونځ کوونکوته ورکول کیږي زیدوایې چي کومې خرڅې دمسجدپه مصلحتونوکې شاملې دي هغه بایدوي

اوکومې خرڅې چې دمسجدپه مصلحتونوکې نه دي لکه دتراویحودختم شیرینې اوروژه مات جائزنه دی دابایدبندي شي اوبکر وایې چې دغه ټولې خرڅې بایددوقف له آمدني څخه وشي داهیڅ پروانلري دچاقول معتبردی ؟ (۹۰۵/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : په دې اړه دزیدقول اووياصحیح ده اواحتیاط هم په دې کې دی نوبایدهماغه خرڅې وي کومې چې دمسجددمصلحتونوپه اړه دي اوشیرینې ،روژه مات اونورکارونه دوقف له آمدني څخه نه دی کول پکارفقط.

دمسجددکانونوآمدني دباغ په بنائست کې لګول

سوال : (۵۲۵) دچنوټ کلی دشاهی مسجددکانونوآمدني نژدي ځلورزره روپی دکاله دکرایې په صورت ومسجدته راځي مسجدډیرپه ځپلې حالت کې دی نه په ژمي کې دلمونځ کولوکوم سامان شته په خلاصوستونوکې پردې نشته نه دګرموا وبوبندوبست شته نه درنااوفرش یومخ خراب دی پرته له دې زیاتره برخې دمسجدجوړول غواړې چې متولیان اوواکمن خلګ ورته توجه نه کوي خودمسجدومخته پرسپینه مخکه صرف دشواوښکارونې لپاره دیوې باغچې بندوبست کوي چې ورباندي دمسجدپه زرګونوروپی صرفیږي په داسي بې ځایه مصرفونودمسجدروپی لګول روادي ،که نه ؟ اوکه پرهمدې ځای دباغچې پرځای دکانونه جوړکړل شي نودیره آمدني کېدای شي (۱۳۴۱/۷۳۷هج)

ځواب : دمسجدسره ننښتې پرمسجددوقف شویودکانونوپه آمدني دمسجدد اړتیاووانتظام اوتکمیل کول ضروري دی اودباغچې په بنائست ددغه آمدني ضائع کول صحیح نه دي په دې اړه بایدمتولیان له پوره احتیاط څخه کارواخلي اول حق دادی چې دمسجدموجودې اړتیاوې پوره شي له دې وروسته دمسجد لپاره دکانونه جوړکړل شي چې له آمدني یې همېشه دمسجداړتیاوې اودلمونځ کوونکودراحت سامان پوره کیږي اودوقف کوونکې غرض پوره شي فان مراعاة غرض الواقفین

Maktaba Tul Ishaat.com

واجبة (الشامی ۴/۳، کتاب الوقف)

ددکانونوپرسرپه مسجدکې لمونځ دمسجدثواب لري ،که نه ؟

سوال : (۵۲۶) که ترکوم مسجدلاندي داسي دکانونه وي چي پکي رانیول ،خرڅول کیږي نوپه دې کې لمونځ کول دمسجدثواب لري ،که نه ؟ یومولوي صاحب وایې چي نه لري داخبره صحیح ده ،که نه ؟ که په داسي مسجدکې لمونځ دمسجدثواب لري نوپه دغه مسجدکې اوپه هغه مسجدکې چي ترهغه لاندي دکانونه نه وي یاکه وي خودسامان ښوولولپاره وي درانیولو ،خرڅولولپاره نه دی دلمونځ کولوثواب برابردی که فرق لري ؟ که متفاوت یعنی فرق لروونکی دی نوڅه دی ؟ (۳۷۹/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : په دې مسجدکې لمونځ دمسجدثواب لري اودمسجدثواب په اړه په دغه مسجداوهغه مسجدچي لاندي ترهغه دکانونه نه وي هیڅ فرق نشته نوترمسجدلاندي ددکانونوجوړولواونه جوړولوپه هکله حکم دادی چي کوم مسجدمخکې ښله دکانونووي په هغه کې فقهاؤدکانونه جوړول منع لیکلې دي اوکوم مسجدچي نوی جوړیږي اودجوړولوپرمهال دمسجدباندي ترمسجد لاندي دمسجددمصلحتونواوارتیاووپه غرض جوړکړې نوصحیح دی خوهغه بایددهمدې کارلپاره وي چي دمسجدکوزې ، صفونه اونورهلته کښېښوول شي رانیول ، خرڅول ،غټې بولې اومتیازي هلته نه وي ،ځکه چي دمسجدله لاندي څخه ترپورته پورې مسجدوي یعنی له تحت الثری ترآسمانه پورې مسجدوي ،ځکه دمسجدآدابوخیال ساتل په دې کې ضروري دی فقط.

دمسجدوقف شوې دکانونه دکفاروله قبضې

ایستلوورسته پرنورومصرفونووقفول

سوال : (۵۲۷) (الف) دکوم مسجددکانونه کوم چي دده ترغولې اوبام لاندي دي له هندوڅخه ترانیولووروسته دکوم بل مصرف لپاره وقفول روادي ،که نه ؟ یعنی له دې مسجدپرته په بل ځای کې ددې آمدنی لګول روادي ،که نه ؟

(ب) تریوه مسجدلاندي دکانونه دي کوم چي له ډیرې مودې دهند وانو په قبضه کې دی دایوه سړی رااینول ومدرسې ته یې ورکړدوئ آمدني په مدرسه کې لګول روادی .که نه ؟ که دمسجدمتولي دغه دکانونه دمسجدلباره اخستل وغواړي نودبازارپه بیع به یې رانیسي که چي رانیوونکې په خومره رانیولی وي دغه رنګه ترڅه مودې پورې چي ددوئ آمدني مدرسي اخستې ده هغه په قیمت (بازاري قیمت) یاثمن (درانیوونکې اوخرڅوونکې ترمینځ مقررشوی قیمت) کې راګرځول کیږي ،که نه ؟الخراج بالضمان دلته جاري کیږي ،که نه ؟(۳۷۷۵/۱۳۴۲هج)

ځواب : (الف) ددې دنورو کارونولپاره وقفول صحیح نه دی بلکي دکوم مسجد له اوقافوڅخه چي دغه دکانونه دي دکفارودقبضې له پورته کولوورسته دادهماغه مسجدپه اوقافوکې پربښوول ضروري دی دکوم لپاره چي دوئ وقف وو.

(ب) هغه دکانونه چي دخاص مسجدلپاره وقف دي دکافرانوترقبضې پورته کولوورسته بایدوهماغه مسجدته ورکول شي ددغه وقف شویودکانونودمدرسې لپاره وقفول نه صحیح کیږي اوددوئ آمدني په مدرسه کې لګول روانه دی اومتولي دې هماغه قیمت اداکړي په کوم قیمت چي رانیول شوی دی وبالثمن الذی اشتراه به ولواشتراه منهم تاجر(۱) (درمختار) اوکومه آمدني چي په مدرسه کې ولګول شوه هغه په قیمت کې حسابل کیږي اوراګرځول کیږي فقط.

دمسجدونې دچادي ؟

سوال : (۵۲۸) په یوه مسجد کې څوونې ځینې خودرو(قدرتې شنې شوې) اوځینې لګول شوې دي ددوئ مالک څوک دی ؟(۳۲/۲۲۹۷-۱۳۳۳هج)

ځواب : دغه ونې دمسجددي دمسجدپه ګټه کې دي دارتیاسره سمې صرفې کړلې شي اودمسجدمتولي اومنتظم په دوئ کې هم دمسجدد ګټې په غرض تصرف کولای شي.

دمسجدپه څلورډهوالي کې راشنې شوې ونې دچادي ؟

سوال : (۵۲۹) زید پخپل ژوند کې یومسجد تعمیرکړی دمسجد پرمځکه یې دهوالونه راوګرځول چي پکې څوونې قدرتي راشنې شوي دغه درختې دزیددوا رثانودي که دمسجد؟ (۵۷۷/ ۱۳۳۹هج)

ځواب : دزیدبچیان ددغوونومالکان نه دي دغه ونې دمسجددي باید په مسجد کې ولګولې شي

(۱) الدرالمختارمع الشامي (۳/ ۳۲۸) کتاب الجهاد ، مطلب فی ان الاصل فی الاشیاء الاباحة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجدوخنګوته دلګول شویومېوه داره ونوحکم

سوال : (۵۳۰) دمسجدپرځلورطرفه دانارو، مالټواونوروونې ولګولې ، اوپه موسم کې ډیره مېوه وکړه نودلمونځ کوونکولپاره خوړل صحیح دي که خرڅه کړي په مسجد کې صرفه کړي ؟(۱۴۸۲/۱۳۳۵هج)

خواب : په درمختارکې راغلې دي : [غرس فی المسجداشجارًا تثمران غرس للسبیل فلکل مسلم الاکل والافتباع لمصالح المسجدالخ(۱) ددې حاصل دادي چې کومې ونې په مسجد کې لګول شوې دي که دهمدې لپاره لګول شوې دي چې ټول خلګ به يې خوري نودلمونځ کوونکواوبې لمانځوټولولپاره خوړل ددې صحیح دي اوکه دمسجدلپاره لګول شوې دي يايې هیڅ حال معلوم نه دی نوداخرڅه کړې بایددمسجد په کارونوکې يې ولګوي.

سوال : (۵۳۱) زیددیوه مسجدپه غولې کې مېوه داره ونې ودرولې آن تردې چې څوکاله وروسته دغه ونومېوه وکړه اوهرکال مېوه کوي دزیددعوی ده چې ددې مېوه بایددمسجددمصرفونولپاره خرڅه نکړله شي بلکې ددواګانویادرمضان المبارک دروژه مات لپاره شي دمسجددمتولي بیان دی چې په وقف مځکه کې چې کوم شیان ودورل شي په هغوئ کې دمتولي له اجازې پرته وهیڅاته حق نه دی اومېوه دې خرڅه کړله شي دمسجدلپاره دې قیمت کښېښوول شي په دې صورت کې څه حکم دی ؟(۱۴۲۲/۱۳۳۷هج)

خواب : دفقهې له کتابونومعلومیږي چې اعتبارپه دې کې دونې لګوونکې ونیت ته دی که ده دغه ونې دروژه نیوونکودروژه مات په غرض اوددوګانوپه غرض درولې دي نومتولي بایدهمداسي وکړي ددې په خلاف ونکړي په درمختارکې راغلې دي :استأجردارًا موقوفة فیهااشجار مثمرة هل له الاکل منها؟ الظاهرانه اذالم یعلم شرط الواقف لم یأکل لمافی الحاوی غرس فی المسجداشجارًا تثمران غرس للسبیل فلکل مسلم الاکل والافتباع لمصالح المسجدالخ(۲) فقط.

(۱) الدرمع الشامی(۴۵۵/۳) کتاب الوقف ، مطلب استأجردارًا فیهااشجارط رشیدیه.
(۲) مخکنی حواله.

دمسجددمېوه داره ونودمېوې حکم

سوال: (۵۳۲) دمسجد په څلوردېوالی کې چې کومې ونې مېوه داره دي ددوئ مېوه دمسجدلپاره بایدخرڅه کړله شي که دخلګودخوراک لپاره پرېښوولې شي ؟ (۳۲/۲۱۰۰ - ۱۳۳۳هج)

خواب: دمسجددخرڅولولپاره خرڅول پکاردي فقط.

سوال: (۵۳۳) (الف) دیوه مسجدپه څلوردېوالی کې څه مځکه دباغچې اونورولپاره پرېښوولې شوه په داسي مځکه کې که مېوه داره ونې ولګول شي نوددوئ مېوه پرلمونځ کوونکووېشل جائزدي ،که نه ؟

(ب) ددغې مځکې مېوه داره ونې که دمسجدوامام اومؤذن یاکوم بل ملازم ته وسپارل شي داورته وویل شي چې ددغوونوڅارنه کوه اوددوئ له مېوې استفاده کوه دارواديي ،که نه ؟ (۳۷/۱۳۴۵هج)

خواب: (الف ، ب) ددغودواړوسوالونوپه اړه په درمختارکې دالیکلې دي: فی الحاوی غرس فی المسجد اشجاراًتثمران غرس للسبیل فلکل مسلم الاکل والافتباع لمصالح المسجد الخ قوله والاای وان لم یغرسهاللسبیل بأن غرسها للمسجد(۱) یعنی په مسجد کې دننه که مېوه لروونکې ونې ولګول شوې نوکه لګوونکې دعاموخلګوداستفادې لپاره ولګولې نوهرمسلمان دااخستلای شي اوخوړلای یې شي اوکه دعاموخلګولپاره نه وي لګول شوې یادونولګوونکې دنیت هیڅ حال معلوم نه وي نودغه مېوه خرڅه کړئ دمسجد په اړتیاووکې قیمت وکاروئ فقط.

دمسجددوقف شوې مځکې دونوخرڅول صحیح نه دي

سوال: (۵۳۴) یوبې اولاده سړی خپله برخه باغ اومځکه وقف کړه دمسجد په نامه اوددې دهبې پانه یې دمسجددمتولیانوپه نامه ولیکله په حکومت کې یې رسمي کړه خودهبې په پانه کې ددغه باغ دلرګیودخرڅولواجازه ونه لیکله اوپه خوله یې دمسجددلمونځ کوونکوپه مخکې داشرط ولګاووچې ترمرګه به آمدني پخپله وقف کوونکی اخلي دوقف کوونکې ترمرګ وروسته به په مسجد کې صرفیږي ،ځکه نوآمدني همداسي وقف کوونکی اخلي اومالیه اونورهم ورکوي اوس دپالل شویوونولرګي که مېوه داره دي اوکه بېله مېوې دي دمسجدمتولیانوخرڅ کړل ددغوونوشرعًا خرڅول روادي ،که نه ؟ (۲۱۴/۱۳۳۷هج)

(۱) الدرمع الشامی (۴۵۵/۳) کتاب الوقف مطلب استاجردارًافیهااشجارط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب : په درمختارکې راغلې دي : وجازجعل غلة الوقف اوالولاية لنفسه عندالثانی وعليه الفتوى الخ (۱) له دې عبارت څخه معلوم شوچې دوقف کوونکې دوقف آمدني پخپل ژوند کې دځان لپاره مقررول صحيح دي اوپه شامي کې دي چې دوقف شوې مځکې دونوخرڅول دمتولي لپاره صحيح نه دی لمافی البحرعن الظهيرية شجرة وقف فی داروقف خربت ليس للمتولی ان يبيع الشجرة ويعمرالدارولكن يكرى فی الدارويستعين بالكراء على عمارة الدارلابا لشجرة فهذامع خراب الدارفكيف يجوزبيعهامع عمارهاالخ (۲) خوکله چې دمسجد متوليانوددغوپالل شويوونولرګي خرڅ کړل نوهغه خوپه اصل وقف کې داخل دي ،ځکه ددې قيمت په مسجدکې لګول کيږي ووقف کوونکې ته نه ورکول کيږي ،ځکه چې دغه قيمت په معروفه آمدني کې داخل نه دی چې له آمدني څخه مراددمځکې کرايه اودباغ دمېوې قيمت دی نه دونوقيمت فقط.

دمسجدلپاره دوقف شويوونولرګي پخپل تصرف کې راوړل

سوال : (۵۳۵) زيددملی يوه ونه ومسجدته ورکړه چې په دې سره دې خښتې پخې شي خوله يوې مياشتې وروسته چې کله ونه پرکېده نوپه خپل زړه کې يې دافيصله وکړه چې څومره لرګي پاته شي هغه به پخپل کارراولم خونيم لرګي پاته شواوس زيددا پخپل کارراوستلای شي ،که نه ؟ (۱۴۹/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : داملی کومه ونه چې زيدومسجدته ورکړې وه له هغې څخه چې کوم لرګي پاته شوهغه دې پخپل کارنه راولي اماکه په مسجدکې ددې هيڅ ارتيانه وي نوداخرڅ کړئ قيمت يې په مسجدکې ولګوئ فقط.

دمسجدپه څلورديوالی کې دونوپرځای دکانونه جوړول روادي

سوال : (۵۳۶) دمسجددروازې ومخته دجامنووني ولاړې دي که دسبلی په وجه ونړېږي نودمسجدودروازې اودمينارې وودانی ته دسخت زيان رسېدو احتمال دی په داسي حال کې دغه ونې پرې کول روادي ،که نه ؟ اودونوپرمځکه دکانونه جوړول چې په آمدنی يې دمسجدمرسته وشي څرنګه دی ؟ (۵۹۲/ ۱۳۴۰)

ځواب : په موجوده حال کې ددغوونوپرېکول اوپه دغه مځکه کې دمسجدلپاره دکانونه جوړول روابلکه بهترلادي.

(۱) الدرمع الشامی (۴۲۳/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی اشتراط الغلة لنفسه ط رشيديه.
(۲) الشامی (۴۵۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب استأجردارًا فيهااشجارًط رشيديه.

دمسجدله ونوځخه داستفادې کولوصورت

سوال: (۵۳۷) زیددیوې مېوه داره ونې نهال دمسجد په غولې کې ولګاووا و ددې نهال پالنه دمسجد متولي دمسجد په روپیوا واوبوو کړه اوس دغه ونه مېوه کوي خو نهال لګوونکی یعنی زیدوایې چې زمانیت دانه ووچې ددې مېوه دمسجدلمونځ کوونکې وخوري په دې صورت کې دغه ونه دمسجدده ،که نه ؟ اوله دې ونې ځخه دلګوونکې دنیت سره سم دمسجددلمونځ کوونکولپاره استفاده کول روادي ،که نه ؟ (۴۵۹/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دلګوونکې له نیت سره سم دمسجددلمونځ کوونکولپاره استفاده حاصلول صحیح دي کمافي الدرالمختارغرس فی المسجداشجارًا تثمران غرس للسبیل فلکل مسلم الاکل الخ(۱)

دشیعه ګانودماتمي جلوس دتېرېدولپاره دمسجدد ونوراوتلې ځانګې پرېکول

سوال: (۵۳۸) دیوه مسجدپه ځلوردېوالی کې یوه ونه ده ددې ښاخونه دمسجد دځلوردېوالی له دېوالونودباندي راوتلې دي اوومسجدته نژدي یوزورمکان دی دمسجداومکان ترمینځ یوه عامله لاره ده په همدې لاره یوه غټه تعزیه (دشیعه ګانوماتمي جلوس) راوځي دغه مسجدسره له جائداده وقف دی دغه مکان شپږ،اووه میاشتې وشوې ددغه لارې وطرفته ورزیات کړل شوی دی چې له املهیې په پراخي کې تنګي راغله اوددغه تعزیې په وتلوکې تکلیف وي ،ځکه نوپه داسي حال کې دتعزیې په مقابله کې ددغه مسجدذکرشوې ونې پرېکول اوکمول روادي ،که نه ؟ (۵۳۲/ ۳۵-۱۳۳۶هج)

ځواب: دتعزیې په مراعت ساتلوددې ونې پرېکول اوکمول صحیح نه دي چې دتعزیې وتل اوجوړول پخپله کبیره ګناه ده ددې دوتلولپاره دلارې سمول اوله پورته ځخه دمسجددونې کمول صحیح نه دي چې په دې کې دګناه پرکارمرسته ده قال الله تعالی [وتعاونواعلی البروالتقوی ولاتعاونواعلی الاثم والعدوان الآیة(۲) فقط.

(۱) الدرمع الرد (۴۵۵/۳) کتاب الوقف ، مطلب استاجردارافیهااشجار ط رشیدیه.

(۲) سورۃ مائدہ آیت: ۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسجدتولیه اوحکمونه

دمسجددتولیې په اړه څوپوښتنې اودهغوئ ځوابونه

سوال: (۵۳۹) (الف) دمتولي مقررول له اړتیاووځخه دي، که نه؟

(ب) له یوه ځخه زیات متولیان مقررولای شي، که نه؟

(ج) وقف کوونکویوه ډله زید متولي ګرځوي بله ډله عمرد چاوخبرې ته ترجیح ده؟ ددواړودشمېردبرابرې په صورت کې دمتولي ټاکلواک دچادی؟

(د) دامام اومؤذن دټاکلواختیاروقوم ته دی که ووقف کوونکوته؟ (۱۳۴۴/ ۱۳۳۹هج)

خواب: (الف) دمسجدلپاره که اوقاف شته چي دهغوئ آمدني دمسجدپه اړتیاووکې لګیږي اودحساب، کتاب وسمون ته ضرورت شته نودمتولي مقررېدل ضروري دي.

(ب) کولای شي.

(ج) وزیاتوته ترجیح ده یعنی دزیاترووړأیې ته ترجیح ده اوددواړوډلودبرابرې په صورت کې دواړه متولیان ټاکلای شي اوهغه دواړه به متولیان وي.

(د) دامام اومؤذن واک ووقف کوونکوته دی خوکه قوم یعنی کلیوال زیات صالح سړی امام مقررکړي نوهغه امام ګرځي.

دمسجدمتولي اودمدرسې مهتمم بایدخرنګه وي؟

سوال: (۵۴۰) کوم څوک چي جاهل وي دلمونځ اوروژې پابندنه وي دهغه دمسجد متولي یادمدرسې مهتمم مقررول صحیح دي، که نه؟ (۲۵۷۲/ ۱۳۴۳ه)

خواب: متولي بایدداسي شخص مقررشي کوم چي خائن نه وي اودتولیت کارپه ښه ډول ترسره کولای شي دومره خوضروري ده اوبهتره دادی چي نېک سړی کوم چي دشرعې داحکاموپابندوي اودتولیت کارهم ترسره کولای شي متولي اومهتمم جوړکړل شي.

دمسجددتعمیراوترمیم اونظم اوترتیب واک دچادی ؟

سوال : (الف) دمسجد دوقف شوې جائداد متولی په مسجد یادمسجد په کوم مکان کې پخپله رأیه داسې ترمیم کولای شي چې لمونځ کوونکې سخت مخالف وي ؟

(ب) دمسجد حجره یادمسجدمدرسه دمتولي ملک دی که دده دنظم اوترتیب اونورودامام اومؤذن تاکلویاعزل (ایستلو) دمسجددلمونځ کوونکوپه اتفاق پوري اړه لري ؟ دمسجدولمونځ کوونکوته ددې په اړه دکومې پوښتنې اوحساب ،کتاب واک شته ،که نه ؟

(ج) دمسجددلمونځ کوونکوپه خلاف که دکوم مسجدمتولي دبل مسجد لمونځ کوونکې دخان ملګرې کړي په مخالفت سره په دې مسجدکې کوم ناخوښه کارکول وغواړې نودلمونځ کوونکولپاره دخندجوړېدوجوازاومتولي دخپلې رأیې سره په اتفاق کېدل ضروري دي ،که نه ؟ (۱۷۹۱/۱۳۴۰هج)

خواب : (الف) په درمختارکې راغلې دي: البانی للمسجداولی من القوم بنصب الامام والمؤذن فی المختار، الااذاعین القوم اصلح ممن عیّنه الخ وفی الشامی قوله بنصب الامام والمؤذن امافی العمارة فنقل فی انفع الوسائل ان البانی اولی ای بلاتفصیل الخ (۱) له دې څخه معلوم شوچې دمسجددوقف شوې جائدادانتظام اودمسجددتعمیراوترمیم اونورودبانی یاددده دخای ناستې متولي په واک کې وي اوهغه داړول تصرف کولای شي.

(ب) دمسجدوقف شوې مکانونه دچاملک نه دي خودتصرف تعمیراوترمیم اونورواختیارپه دې کې ومتولی ته وي اودامام اومؤذن مقررولواختیارهم وباني اومتولی ته وي خوکه کلېوال اواهل دمسجددباني اومتولي ترتاکلې امام دامامت زیات ورامام اومؤذن وتاکي نوهماغه امام اومؤذن مقررشوکمامر من الدرالمختارفقط.

(۱) الدروالرد (۳/ ۴۵۲) کتاب الوقف ، قبیل مطلب فی الوقف المنقطع الاول الخ طرشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

(ج) ددې تفصیل له پورتني جوابونوڅخه معلوم شوچې دغه اختیاروباني اومتولي ته وي اودکلبوالواومسجدوالودرأیې په اتفاق سره کول ښکاره دي چې خوښ اوبهتردی فقط.

سوال: (۵۴۲) زید، عمر، بکر، خالداوحامددیوه مسجدامامان دي هریوپرخپل نوبت اوواري امامت کوي ددوئ ترمینځ یوه دلیک معاهده هم شته چې هریوبه دخپلې برخې سره سم دمسجدتعمیراوترمېم کوي اوس زید، عمر، اوبکرپه مسجدکې ببله رضااومشوري څه تعمیرکول غواړي داجائزدی، که نه؟ (۱۵۸۸/ ۱۳۴۱هج)

خواب: داکاردمسجدمتولي سره اړه لري که متولي پخپله داکارترسره کوي اوکه دده په اجازه دمسجدکوم امام یاکوم بل شخص دغه خدمت ترسره کوي اوکه زید، عمر، بکر، خالداوحامدکوم چې دمسجدامامان دي هغوئ متولیان هم دي نوددوئ تولوپه خوښه اومشوره دجوړښت اونوروکارکېدل پکاردي فقط

سوال: (۵۴۳) آیادکوم شخص لپاره بې دمسجددمتولیانوله اجازې اوبې له خبرتیاورکولوپه مسجدکې دتعمیرترمېم منصب شته آیاوهرسړی ته کوم چې بې دوس درلودوونکې متولیانوله اجازې پرته تعمیراوترمیم وکړي هغه متولیان خنډجوړېدای شي؟ (۷۲۵/ ۱۳۳۵هج)

خواب: په شامی کې راغلې دي: وفی الطحطاوی عن الهندیة: مسجدمبنی ارادرجل ان ینقضه ویبنیه احکم لیس له ذلک لانه لاولایة له مضمرات الاان یخاف ان ینهدم ان لم یهدم تاتارخانیة وتأویله ان لم یکن البانی من اهل تلک المحلة واماهلهافلهم ان یهدموه ویجددوابناء ه ویفرشواالحصیرویعلقواالقنا دیل لکن من مالهم لامن مال المسجدالابأمرالقاضی خلاصة ویضعواحیضان الماء للشرب والوضوء ان لم یعرف للمسجدبان فان عرف فالبانی اولی ولیس لورثته منعهم من نقضه والزیادة فیه الخ(۱) (شامی ۳/ ۳۷۰کتاب الوقف) له دې عبارت څخه داخبرې معلومې شوي چې کلبوال اواهل دمسجددمسجد تعمیراوترمېم اونورکولای شي اووناکلبوالوته دااختیارنشته مګرهغه وخت چې دمسجددنړېدووېره وي اوداچې که باني دمسجدمعلوم وي نوهغه مخکې دي دمسجددتعمیراونورولپاره اوداچې دمسجددباني وارثان کلبوال اواهل دمسجد چې دوئ دمسجدتعمیراوترمیم وکړي یانورضروري شیان په مسجد کې کښېږدي اووریې کړي منع نشي کولای اوخنډنشي جوړېدای فقط.

(۱) الشامی (۴۰۵/۳) کتاب الوقف. مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

له باني اووقف کوونکې څخه دمسجددتولیت حقدارڅوک دی ؟

سوال : (۵۴۴) زید پخپلوروپیومځکه واخسته خام مسجدیې پرجوړکړوقف یې کړاوپخپله ددې متولي شوڅوکاله وروسته وعمرته وویل چې دغه مسجد پراخ اومضبوط جوړکړ، ،ځکه نوعمردالله رب العزت لپاره جوړکړپه دې صورت کې به دمسجدباني اومتولي څوک وي ؟زیداوددہ اولادکه عمر؟(۴۴/۱۱۷۷ - ۱۳۴۵هج)

خواب : دنوې مسجدباني اومتولي به عمروي ،ځکه چې باني زیات دتولیت حقداردي فقط.

دمسجددباني داولادپه موجودیت کې بل څوک متولي کېدای شي ،که نه ؟

سوال : (۵۴۵) که چامسجدجوړکړنوددہ دبچیانوپه موجودیت کې بل څوک دمسجدمتولي کېدای شي ،که نه ؟(۱۳۴۱/۲۵۲۸هج)

خواب : په کوم مسجدکې دامام اومؤذن مقررولولپاره زیات حقداردمسجدباني یاددہ اولاددی خوکه دمسجدلمونځ کوونکې اوکلپوال کوم افضل شخص امام وټاکي نوهغه امام ګرځي اوامام بایدداسي څوک جوړکړل شي چې دلمانځه په مسئلوپوه وي اونېک ،پرهیزګاروي اوقرآنکریم صحیح وایې ، نورتفصیل یادونه دفقهې په کتابونوکې شته فقط.

سوال : (۵۴۶) (الف) آیاوچاته ددې ویناحق شته چې زمامشرانومسجدجوړ کړی دی یایې په دې کې خبتې ،چونه اونورورکړې دي ،ځکه دنوروپه نسبت زماحق زیات دی داسي ویل شرعًا ترکومه صحیح دی ؟

(ب) دمسجدمتولي دمسجدپه هکله څومره حق اواختیارشته ؟(۱۳۴۲/۴۲۸هج)

خواب : (الف) دفقهې په کتابونوکې دې چې وبانی دمسجدته یاددہ واولادوته دامام ،مؤذن اونورومقررولوزیات حق دی اومتولي اومنتظم هم هغه دی.

(ب) کوم حقونه چې پورته ولیکل شول داډول حقوق اوانتظام دمسجدوبانی اومتولي ته دمسجدوي فقط.

نامسلمان هم دمسجدمتولي کېدای شي

سوال : (۵۴۷) یوې اتیاکلنې (۸۰) مسلمانې ښځې خپل جانداد ومسجدته وقف کړهغه متولي یې رام پرشادمقررکړهندوشرعًا دوقف متولي کېدای اوپاته کېدای شي ،که نه ؟ (۱۱۴۹/ ۱۳۳۹هج)

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب : که دغه هندوداوقافوپه آمدني کې خیانت نه کوي نودوقف متولي پاته کېدای شي په شامی کې راغلې دي ویشترط للصحة بلوغه وعقله لاحریته واسلامه الخ(۱)

خائن ، فاسق اوبدکارشخص دمسجدمتولي اوغړی نشي کېدای

سوال : (۵۴۸) (الف) کوم څوک چې دمسجد مخکه پخپل کورکې ورګډه کړي اوږیره خرڅوي داسي سړی دمسجد غړی کېدای شي ؟

(ب) دیوسړی سره به دمسجدروپی وي دی وفات شوزوئ یې شته ، هغه دمسجد دغه روپی نه اداکوي آیاداشخص دمسجد غړی اودډلې خازن کېدای شي ؟

(ج) کوم شخص چې دپردی بنځې سره حرام کارکوي هغه دمسجدرکن (غړی) کېدای شي ؟(۲۹۸۱/ ۱۳۳۹هج)

خواب : (الف) داسي سړی فاسق اوخائن دی دمسجد غړی اومتولی نشي جوړېدای .

(ب) خائن سړی دمسجد دمتولي اورکن جوړېدوورنه دی.

(ج) نشي کېدای فقط.

دروغجن اودلمونځ پابندي نه کوونکي دمسجددکمېټی غړی اوانتظام کوونکي جوړول صحیح نه دی

سوال : (۵۴۹) کوم خلګ چې سودخواره ، دروغجن ، زناکاره اودلمانځه پرېښوونکې دي هغوئ دمسجددکمېټی غړي اومنتظمین کېدای شي ،که نه ؟ په داسي کمېټه کې دکوموصفاتولروونکې خلګوته اړتیاده ؟(۳۳۳/ ۳۵ - ۱۳۳۲هج)

خواب : دفقهي په کتابونوپه شامی اونوروکې دي قال فی الاسعاف : ولایولی الامین قادربنفسه ابنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظرولیس من النظرتولیة الخائن (۲) وفی الدرالمختار: وینزع وجوبًا لواقف غیرمأمون اوعاجزًااوظهربه فسق کشرب خمزونحوه فتح الخ (۳) له دغوروایتونوڅخه معلوم شوچي دمسجد متولیان اومنتظمین بایدامانت داراونېک خلګ وي.

(۱) ردالمحتار(۴۲۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی تولیة الصبی ط رشیدیه.
(۲) ردالمحتار(۴۲۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی شروط المتولی ط رشیدیه.
(۳) الدرمع الرد(۴۳۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب یأثم بتولیة الخائن ط رشیدیه.

بدژبي متولي دتوليت وړنه دی

سوال : (۵۵۰) دآمدنی اوخرڅ دکتلواوحساب کولوپه جواب کې دمتولي اومنتظم داجواب چي پخپلوروپیونوی مسجد جوړکړي حساب ګوري اوپه آئنده کې تاسوپه دې مسجد کې قدم ږدي کنې ستاسوپه هکله به ښه نه وي اودمنتظم بدژبي کېدل ، بې له ګمه ، ډول ،ډول تکلیفونه رسوونکي کېدل اودنوې مسجد وبانیانوته منافقان اونوې مسجدته مسجدضرارویل څرنګه دي ؟ کله چي نیت ددوئ صحیح دی اودضرررسولواراده نلري ؟ (۱۸۴۵/ ۱۳۳۹هج

ځواب : دنومورې متولي له لورې جواب بې ځایه اوناروادی اوومسلمانانوته ښکنځل کول پخپله کبیره ګناه اودفسق اومعصیت باعث دی اوداسي بدژبی خائن دمتولي منتظم جوړېدوورنه دی بلکې دعزل ورل نېک مسلمانان دې دی عزل کړي بل امانتدارشخص دې متولي کړي اودنوې مسجدوبانیانوته چي نیت یې داصلاح اواخلاص دی منافقان ویل اوددوئ وجوړکړې مسجدته مسجد ضرارویل حرام اوګناه ده داتولې خبرې په دغه متولی کې داسي دي چي ترڅودی توبه ونه کاږي اودآمدنی اوخرڅ حساب صفانکړي له ځانه دخیانت الزام لیري نکړي ترهغودی دمتولي جوړېدوورنه دی اودعزل (ایسته) کېدوور دی فقط.

سودخورمسلمان دمسجدمتولي کېدای شي ،که نه

سوال : (۵۵۱) سودخورمسلمان دمسجدمتولي کېدای شي ،که نه ؟ که سودخورمتولي وي نودمسلمانانولپاره دده دعزل کولوحق شته ،که نه ؟ (۳۰۲۲/ ۱۳۴۲هج)

ځواب : دتولیت په اړه شرعي حکم دادی چي که دی خائن وي نودی دې له تولیت څخه لیري کړل شي ،ځکه چي دخائن متولي پرېښوول جائزنه دي که دی خائن نه دی اودتولیت کارونه په ښه توګه ترسره کوي اوپه دې کې هیڅ خیانت دده ثابت نه دی که څه هم دی سودخوردی نولیري کول دده ضروري نه دی اودی متولي پاته کېدای شي ،ځکه چي دتولیت بنسټ پرامانتداري دی یعنی متولي دي داسي شخص وتاکل شي کوم چي امانتداروي اودتولیت کارپه امانتداری سره په ښه طریقه

Maktaba Tul Ishaat.com

کولای شي په شامي کې راغلې دي قال فی الاسعاف ولایولی الامین قادربنفسه اوبنائبه الخ(۱)

دمسجداونورولپاره ځومره متولیان پکاردي ؟

سوال : (۵۵۲) یومسجدله ډیرې مودې راهسي جوړیږي په دغه مسجدکې دځوتوتویومکان هم وقف دی دځوکسانونداارادہ ده چي دمسجداووقف شویو مکانونولپاره یویادوه کسان متولیان جوړکړل شي اوډیرومسلمانانوخوښه داده چي دمسجداووقف شویومکانونواهتمام وداسي پنځوکسانوته وسپارل شي کوم چي معتبراوامانتدارويي اوانتظام کوي اودآمدنی اوخرځ حساب کتاب لیکي په دغودواړوډلوکې عوام دچاملګرې وکړي ؟ (۱۳۱۱/ ۱۳۳۷هج) ځواب: یوسړی دی متولی اومهتمم جوړکړل شي یادوه یاځلور،پنځه شرعًا ټول صحیح دی اماداضروري دی چي ځوک متولي وي هغه په امانتداروي ، حساب ، کتاب به صفاساتي اودآمدنی اوخرځ حساب به لیکي اودهغه ځارنه به کوي.

دانګریزانوسره دمینې ځرګندونه کوونکي دمسجدمتولي جوړېدل

سوال : (۵۵۳) (الف) دمسجدمتولي لپاره څه شرطونه دي ؟

(ب) آیاداسي شخص متولي کېدای شي کوم چي داسلام له حکمونویومخ ناپوه وي دانتظامي کارونوصلاحیت نلري دعمرزیاتره برخه یې وانګریزانوته په شرابوورکولوکې تېره کړې ده اودانګریزانوسره ددوستی اومیني ځرګندونه کوي مسلمانان دخلافت له مسئلې اوترک موالات له هځونې منع کوي دمسجد مال بې ځایه مصرفوي ؟

(ج) آیاداسي سړی دمسجدمتولي تاکل کېدای شي کوم چي مسئله خلافت اوترک موالات داسلام داحکامو خلافت نښیي ؟ (۵۵۷/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: (الف) دمسجدمتولي بایدزیات صالح دیندار، پرهیزګاراومتقی وي که له ده څخه کوم ډول خیانت یافسق ځرګندشي نودی ورددې دی چي له تولیت څخه بهل شي په درمختارکې راغلې دي دینزع وجوبًا (بزازیه) لوالوقف (درر) فغیره بالاولی غیر

(۱) ردالمحتار: ۴۲۱/۳)، کتاب الوقف - مطلب فی شروط المتولی.

مأمون اوعاجزًا اوظهربه فسق کشرب خمرونحوه (۱) اوپه شامي کې راغلې دي قال فی الاسعاف لایولی الامین (۲) اوبل ځای دی وان الناظراذافسق استحق العزل الخ (۲)

(ب) کوم څوک چې داسلام له احکامواوانتظامي کارونوناخبره وي هغه ددې ورته دی چې دمسجد متولي وتاکل شي دکفاروسره مینه کول اوپرحرام کارددوئ مرسته کول حرام اوګناه ده مسلمان سړی بایدله داسي ناروااوحرام کارونوڅخه پرهېزوکړي قال الله تعالی : لاتتخذوالمؤمنون الکافرین اولیاء (۳) یاایهاالذین آمنوالاتتخذواالذین اتخذوادینکم هزوًا ولعبًا من الذین اوتوا الکتاب من قبلکم والکفاراولیاء (۴) ولاتعاونواعلی الاثم والعدوان (۵)

(ج) دخلافت مسئله داسلام داحکاموخلاف بلل دناخبرتیاله امله دی فقط.

دمسجددمتولیانوعمل بایدڅرنګه وي

سوال: (۵۵۴) دمسجد دمتولیانوعمل بایدڅرنګه وي ؟ اوپردې دلمانځه اوروژې پابندي لازمه ده اوکه نه ؟ (۱۴۹۳/۴۴-۱۳۴۵)

ځواب : دروژې اولمانځه پابندي پرهرمسلمان لازمه ده اودمسجد متولیان باید زیات دشریعت دحکمونوخیال ساتوونکی اواهتمام کوونکی وي.

دمسجدومتولیانواوقوم ته په اتفاق سره کارکول پکاردی

سوال: (۵۵۵) یوقوم له شپږواووکالوراهسي دجامع مسجد دوقف پرجائداد قبضه کوونکی دی حساب ، کتاب وکوم مسلمان ته نه ورکوي دجامع مسجد ډیرې روپۍ پې وخوړې یومولوي صاحب دفیصلې کولولپاره راوغوښتل شوهغه پوه کړودې قوم په دې وجه مولوي صاحب وواهی آیادمسجددکوم داسي قوم ملکیت دی که وتولومسلمانانوته هردول حق حاصل دی ؟ کوموخلکوچي مولوي صاحب ووهی دهغوئ لپاره شرعی سزاڅه ده ؟ (۱۲۷۴/۱۳۴۲هج)

(الدرمع الرد (۴۲۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب یاثم بتولیة الخائن ط رشیدیه.
(۲) ردالمحتار (۴۲۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی شروط المتولی ط رشیدیه.
(۳) سورة آل عمران آیت: ۲۸ (۴) سورة مائده آیت: ۵۷ (۵) سورة مائده آیت: ۲)

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : جامع مسجد یا اوقاف دمسجد چاملک نه دی دملکیت دعوی په دې کې باطله ده اما داوقافو انتظام ومتولیانو ته سپارل کیږي په دې کې دعامو خلګولاس وهنه نه ده پکارکه متولیان دوکه اوخیانت کوي نودوئ مجرمان دي اوکه کوم شخص یاقوم مسجددځان ملک بولي نوپه دې ویناددوئ ملک نه ګرځي ددوئ وینالغوه اوعبثه ده ، اولمونځ په دې کې صحیح دی ونومورې مولوي صاحب ته نه ووپکارچي دمتولیانوپه انتظام کې یې لاس وهنه کړی وای اودمتولیانودازیاتوب دی چي مولوي صاحب یي وواهی په هرحال دوئ ته پکاردی چي توبه وکاږي اومعافي ځیني واخلي اوپه آئنده کې په امانت داری سره دتولیت کارترسه کړي اوعام مسلمانان دمسجدله خبراخستلو اوسمولومنع نکړي کوم څه چي دوئ په مسجد کې صرفوي هغه منع نکړي اوپه اتفاق سره دی دمسجد کارکوي فقط .

دښاردقاضي دمسجددتولیت دعوی کول دکمیټې دموجودیت په صورت ومتولي ته اړتیانشته

سوال : (۵۵۲) (الف) دښارقاضي دشاهی جامع مسجددمتولي کېدودعوی کړې ده حال داچي کوم چادی متولی نه دی جوړکړی نودی دمسجداودهغه دوقف شویودکانونومتولي کېدای شي ،که نه ؟

(ب) که ددې اسي مسجد پردکانونوکمیټه مقرره شي انتظام کوي نوبیاهم ومتولي ته اړتیاشته ،که نه ؟

(ج) که کوم متولي په انتظاماتوکې دننه دکمیټې په خلاف دمالک په حیث تصرف وکړي ددکانونودکرایې پانې پخپل نامه ولیکي اودخیانت هم اندېښنه وي نوهغه متولي کېدای شي ،که نه ؟ (۵۷۸/ ۱۳۴۵هج)

خواب : (الف) دښاروقاضی ته په دې وجه چي دی دښارنکاح خوان (نکاح ترووونکی) دی اونکاحوې ترلای شي دجامع مسجداودهغه دوقف شویود کانونو دتولیت هیڅ حق نشته دمتولي جوړولوحق اصلا ووقف کوونکې ته دی بیادده ووصي ته کوم چي دده ځای ناستی دی اوکه داصورت نه وي نومسجد وال اولمونځ کوونکې دمسجدمتولي تاکلی شي لکه چي په درمختارکې راغلې دي ولایة نصب القیم الی الواقف ثم لوصیة لقیامه مقامه وفی الشامی ثم ذکرعن التاتارخانیة ماحصله ان اهل المسجدلواتفقواعلی نصب رجال متولیًا لمصالح المسجد

فعند المتقدمين يصح الخ(۱)

(ب) په داسي حالت کې همدغه دکمېټي غړې (ممبران) متوليان دي وکوم بل متولي ټاکلوته اړتيانشته.

(ج) په داسي حالت کې دی متولي مه جوړوئ اودکوم متولي چې خيانت ښکاره شي هغه دعزل کولووړدی ،ځکه نوداسي شخص په هيڅ حال کې متولي مه جوړوئ.

خپلي وقف کوونکونوی مسجدجوړ کړنوپه زاړه مسجدکې ددوئ تولیت پرځای پاتي دی ، که نه ؟

سوال : (۵۵۷) څوکسانویوه مځکه رانیوله مسجدیې پرجوړکړ،امام اومؤذن یې مقررکړل ترلسو ،دوولسوکلونوتولووقف کوونکوپه اتفاق سره پکې لمونځ اداکړ، دمسجددآمدنې لپاره یې جائدادرانیوی دمسجدپه نامه یې کړله دوئ څخه څینوکسانودمسجددلیري والې له کبله بل مسجد جوړکړ، اودمخکني مسجداوقاف اوس هم پرځپل ځای دی اودهغه مخکني مسجدوالاددوهم مسجدخلګ داوقافوله حقوقوڅخه ښل بولې اووایې چې موږمتوليان پخپله خوښه تاکوستاسوحق دجلامسجدجوړولوپه وجه ختم شوآیادمخکني وقف کوونکوحق ساقط دی ،که پاته ؟(۱۳۴۴/۱۳۴۰هج)

خواب : دمخکني مسجدوالودنوې مسجدوجوړوونکوته داویل چې اوس ستاسوهیڅ حق دمخکني مسجددتولیت اوانتظام نه شوپاته غلط دی ددوئ حق دنورومتوليانوپه ځیرقائم اوباقي دی.

کوم څوک چې پخپله مځکه کې مسجدجوړ کړي دهغه له تولیت څخه دایستلوهیڅوک حق نلري

سوال : (۵۵۸) آیادمخکې مالک کوم چې پخپله مسجدجوړوي اوپخپله مهتمم اومتولی قبضه کوونکی اوتصرف کوونکی اوترمسجدلاندې مملوکه مځکوسرکاري معامله اودخپلې ځلوردبوالی اداکوي څوکسان ددیرومسلمانانوپه خلاف دی له دې څخه لیري کولای شي ،که نه ؟(۱۱۲۲/۴۲-۱۳۴۷هج)

خواب : کوم څوک چې پخپله مځکه کې مسجدجوړوي هغه دمسلمانانوکومه کوچنۍ یاغټه ډله ددې مسجدله تعمیراهتمام اوتولیت څخه نشي ایستلای دمسجدترجوړښت وروسته به باني دمسجدمتولي اومهتمم وي اوکله چې دمخکې مالک مسجدتعمیرکړی اوداووایې چې

(۱) الدرروالرد(۴۴۸/۳) کتاب الوقف ، مطلب الافضل فی زماننانصب المتولی بلا اعلام القاضی الخ ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

مادامسجد کړیاپه جماعت سره پکي لمونځ شروع شي نوهغه مسجدګرځي په درمختارکې راغلې دي ویزول ملکه عن المسجد والمصلی بالفعل ای بالصلوة فیه ۱۰) (شامی) وبقوله جعلته مسجد عندالثانی وعلیه الفتوی (۱) (درمختار) اوپه شامی کې راغلې دي ففی النهرعن القنیة جعل وسط داره مسجداواذن للناس بالدخول والصلوة فیه ان شرط معه الطریق صارمسجدافی قولهم جمیعاوالا فلاعندابی حنیفة رحمه الله وقالا یصیرمسجداویصیرالطریق من حقه من غیرشرط الخ (۱) والافلا عندابی حنیفة رحمه الله وقالایصیرمسجداویصیرالطریق من حقه من غیرشرط الخ (۱) (شامی ۳/ ۳۷۹) وایضا فی الدرالمختارجعل الواقف الولایة لنفسه جازبالاجماع وکذالولم یشترط لاحدفالولایة له عندالثانی (ابی یوسف رح) وهوظاهرالمذهب (۲)

په چنده دمسجدجوړوونکې دمسجدباني اووقف کوونکي نه دی

سوال : (۵۵۹) که کوم سړی له دوویشتوکلونوراهسي چنده اوخیراتونه ټول کړي مسجد جوړکړي اوهمدی ترمرګه انتظام کوونکی وي که کوم مسلمان دی لیري کړي بل متولي ټاکلی شي ،که نه ؟ که خلګ چنده ورکوي اوپرمتولي ددرغوالزام ولګیږي چې دروپو حساب یې نه دی ورکړی نوڅه حکم دی ؟ (۱۳۴۲/۳۲۳هج)

ځواب : دفقهې مسئله داده چې کوم څوک دمسجدباني اووقف کوونکی وي هغه یادهغه اولاددتولیت حقداران وي اوکوم څوک چې له خلګوچنده اخلي په مسجدکې یې لګوي هغه په حقیقت کې باني اووقف کوونکی دهغه مسجدنه دی نوپه موجوده صورت کې چې زیاتره مسلمانان کوم څوک زیات وړوبولي هغه دې متولی جوړکړي.

دمسجددنړولواختیارومتولي ته کله وي ؟

په چنده دجوړشوی مسجدمتولي به څوک وي ؟

سوال : (۵۶۰) (الف) آبادمسجدنړول پرهغه ځای دکانونه جوړول اوسربېره ورباندي مسجد جوړول روادي ،که نه ؟

(۱) الدرو الشامی (۴۰۵/۳) کتاب الوقف ،مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۲) الدرمع الشامی (۴۲۱/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی اشتراط الواقف الولایة لنفسه ط رشیدیه.

(ب) که دچندې په روپو د مسجد مخکه دکوم شخص پرنامه رانیول شي اوپه هغې کې مسجد هم دچندې په روپو جوړشي په دې صورت کې به متولي څوک وي؟
(ج) ومتولی ته دمسجد نړولو اختیار کله وي؟
(د) آیامکمل (بشپړ) مسجد دآئنده ګټې لپاره نړول روادي؟ کله چې دنړولو غرض دخپل عیال اوبچیانولپاره دآمدنی دیوصورت راایستل وي؟ (۷۲۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب: (الف) پخوانی اوآبادمسجدنړول لاندې دکانونه جوړول اوسربېره مسجد جوړول شرعًا صحیح نه دی کماصرہ به الشامی وغیره.
(ب) دتولیت حق دهغه چادی دچاپه روپوچې مسجد جوړشوهغه که دمخکې رانیوونکی (دچاپه نامه چې کاغذشو) متولي وتاکي نوهغه به متولي کنې نه به وي.

(ج) کله چې مسجدزوړاومات شي اودنړېدواند ېښنه وي هغه وخت صحیح دی چې زوړمسجدونړوي له نوی له نوې سره کلک اومضبوط تعمیروکړي خوترلاندې ددکانونوجوړولوبیاهم اجازه نشته.
(د) داسې کول صحیح نه دي فقط.

دسنیانواوشیعه ګانودواړوپه استعمال کې مسجدانتظام به دچاوي؟

سوال (۵۲۱) یومسجدچې له پخوازمانې څخه داهل سنت والجماعة اوشیعه ګان دواړې ډلې استعمالوي دده انتظام اونورهم ددواړوډلوپه چنده کیږي دده بانې معلوم نه دی چې سنی ووکه شیعه اوس له څه مودې څخه یوه ډله خپل حق قائموي دوهمه ډله له دې مسجدڅخه ایستل غواړې خوپه دواړوډلوکې یوه ډله هم ومسجدپرېښوولوته آمده نه ده دشراوفسادختمولولپاره بایدڅه فیصله وشي؟ (۱۳۴۱/۲۴۴۳هج)

خواب: په دې صورت کې دې ددغه مسجددبانې اووقف کوونکې معلومات وشي که څه هم دکاغذونوپه وسیله وي یادمخکنې تعامل په وسیله له دې معلوماتووروسته چې کوم څوک ددغه مسجدباندې اووقف کوونکی ثابت شي ددې انتظام به دهغه سره سمې ډلې په قبضه اواهتمام کې وي فقط.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجدپه وقف سرای کي دمتولي ېله کرايې هستوګنه کول

سوال : (۵۲۲) دیومسجدپه څلوردیوالی کي دننه دهغه دمرستې په ملکیت سره یومکان دی چي په څلوېښت روپۍ کرایه باندي یې غوښتنه کیږي داپه کرایه نه ورکوي دمسجدمتولي دېچیانوسره پکي اوسېدل غواړي اومیاشتني څلوېښت روپۍ مسجدته زیان رسوي داجائزدی ،که نه ؟(۱۳۴۱/۵۰۱ھ)

خواب : کوم کارچي دوقف لپاره زیات ګټوروي هغه خپلول ضروری دی اووقف ته تاوان رسول صحیح نه دي نوکه مسجددغه مکان وکرایې ته اړتیالري نودمتولي صاحب لپاره داکارصحیح نه دی اوکه دمسجداړتیاورته نشته اومتولي وهلته هستوګنې ته اړدی یاپه وقف کي کوم داسي شرط شته نوداصحیح دی لکه چي په شامی اونوروکي راغلې دي : مراعاة غرض الواقفین واجبة (الشامی : ۳/ ۴۷۴) کتاب الوقف ط رشیدیه) اوداهم دفقهې په کتابونوکي شته : ویفتی بکل ماهواظهر.

سوال : دمسجدوځنګ ته دمتولي کوردی ددغه کوردیوال متولي جوړکړی اوکله چي دمتولي له دیوال سره دمسجدځلوردیوالي هم ننبتې وه ،ځکه متولي یوه لویشت مخکه دمسجددچوترې په دغه دیواله کي راوسته اوخپلووارثانوته هم ددې خبرې څرګندونه وکړه داجائزدی ،که نه ؟ که ددومره مخکې بیعه په مسجدکي ولګوي نوجائزبه وي ،که نه ؟(۱۳۴۲/۱۲۴۱هج)

خواب : په درمختارکي راغلې دي : فیجب هدمه ولوعلی جدارالمسجدوفی الشامی: (قوله ولوعلی جدارالمسجد) مع انه لم یؤخذمن هواء المسجدشیئًا ونقل فی البحرقبله: ولایوضع الجذع علی جدارالمسجدوان کان من اوقافه آهـ قلت وبه علم حکم مایصنعه بعض جیران المسجدمن وضع جذوع علی جداره فانه لایحل ولودفع الاجرة الخ(۲) (شامی) له دغه عبارت څخه څرګندیږي چي په پوښتل شوې صورت کي هیڅ صورت دجوازنشته پرته له دې چي دغه دېوال ونړوي دمسجدمخکه وروباسي بیادي دیوال

(۱) الدرالمختارمع الشامی ۳/ ۴۴۰ ،کتاب الوقف مطلب ، سکن المشتری دارا لوقف ط رشیدیه.
(۲) الدروالرد ۳/ ۴۰۲) ،کتاب الوقف فی آخرمطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه

پرخپله مخکه جوړکړی.

دمسجدپه څلوردېوالی کي دمتولي سرای جوړل

سوال: (۵۲۴) دمتولی لپاره دمسجدپه څلوردېوالی کي مکان جوړول صحیح دي ،که نه ؟کلیوال یې منع کوي چي دامال دمسجددی ؟(۳۲/۱۱۴۲ - ۱۳۳۳هج)

خواب: دمتولي دخپلې هستوګنې لپاره دمسجدپه وقف مخکه کي کورجوړول صحیح نه دی دامخکه وقف ده دمتولي ملک نه ده.

سوال: (۵۲۵) دیومسجدپه څلوردیوالي کي څه ځای دی په دې کي متولي اودکلي قاضی دخپلې هستوګنې لپاره کورجوړول غواړي صحیح دی ،که نه ؟(۳۲/۱۲۱۸ - ۱۳۳۳هج)

خواب: کومه مخکه چي دمسجدپه څلوردېوالی کي دننه ده هغه دمسجدله اوقافوڅخه ده په دې کي دکوم متولي اوکلیوال لپاره دمالک په حیث تصرف کول صحیح نه دی اوخپل دهستوګنې سرای پکي جوړول جائزنه دی.

دمسجدګړی دمتولي دخپل ځان لپاره استعمالول

سوال: (۵۲۶) دمسجدمتولي دخپل کوردنبائسته کولولپاره دمسجدګړی اوپردې کارولای شي چي پکي کوم دیني مصلحت هم نشته(۳۳/۱۸۵۲ - ۱۳۴۳هج)

خواب: صحیح نه دی.

دمسجدشیان که متولي پخپله استعمالوي

سوال: (۵۲۷) دمسجدمتولي دمسجدشیان چي دمسجدترخرڅ زیاتوب وي پخپله کارولای شي ،که نه ؟(۷۳۱/ ۱۳۴۳هج)

خواب: کوم کوم شی چي دمسجدپه کارراتلای شي هغه خودمسجدلپاره کښیږدي اوکه کوم داسي شی وي چي دمسجدکوم کارورسره اړنه دی اوپه بازارکي هغه بیعه لري نوهغه خرڅ کړي قیمت دمسجدپه اړتیاووکي صرف کړي یاکه داسي سپک شی دی نودهغه دفقیرانوته دورکولواجازه هم په ځیني روایاتوکي راغلي ده ،ځکه نوکه دمسجدپوزی (چټایاني) زړې اوبې کاره شي نودهغوخرڅول دمسجدتیل اونورپه اخستل یاوکوم ناوسه ته ورکول ددواړواجازه فقهاؤ کړې ده.

Maktaba Tul Ishaat. com

کمافی الخلاصة : بواری المسجداذاصارت خلقةً واستغنی اهل المسجد عنهاوقدبسطهاانسان ان کان الذی بسطهاحیافهی له وان مات ولاوارث له قال فی الفتوی ارجوان لابأس ان یدفع اهل المسجدالی فقیروینتفعوابثمنهافی شراء حصیرآخروکذالوکان الذی بسطهاحیایفعل ذلک (۱) (خلاصة ۴/ ۴۲۲)

دمسجد دمتولی لپاره که وقف کوونکی کومه برخه مقرره کړي ده نوهماغه دده حق دی اوکه يې دده لپاره کومه حصه نه ده ايښې اودمسجد په اړه کوم وقف دی چې انتظام يې متولی کوي نوپه داسي صورت کې به ومتولی ته اجرمثل ورکول کيږي چې خوراک يې دده لپاره حلال دی کمافی الشامی وفی الخلاصة وللمتولی ان یأکل بالمعروف کمااان الامام یأکل من بیت المال (۲) (۴/۴۱۱) فقط.

متولي دمسجدروپۍ په قرض اخستلای شي ، که نه ؟

سوال : (۵۲۸) دمسجد متولی دمسجدروپۍ دخپلې کومې اړتیالپاره په قرض اخستلای شي ، که نه ؟ (۱۳۲۵/ ۱۳۴۰هج)

خواب : ددې دجوازمې کوم روایت نه دی لیدلی خوداضرورشته چې که چادمسجدروپۍ استعمال کړې نوضمان ورباندي لازم دی اوبېرته ورکول ددې ضروري دی اوکه په مسجدکې فعلاضرورت نه دی اوداا طمینان وي چې دقرض په اخستوهغه روپۍ نه ضائع کيږي اودمسجدداړتیاپرمهال سمدستي اداکېدای شي اوبیرته به ورکول شي نوددې ګنجائش شته (۳) لنډه داچې دمسجدروپۍ ضائع نشي اودمسجدداړتیاپرمهال دمسجددکارونوتاوان نه وي فقط.

دمتولیانودمسجدداوقافوله آمدنۍ څخه پخپله خوړل اوقوم پرې خوروول

سوال : (۵۲۹) دزید ، عمر ، خالداونوروپه ځارنه کې دمسجد په لاندینۍ برخه کې مکانونه اودکانونه له اوقافوڅخه وي چې په آمدني يې دوقف کوونکې دغوښتنې په خلاف دغه کسان

(۱) خلاصة الفتاوی مع المجموعة ۴/۴۲۵ ۴۲۲/ کتاب الوقف ، قبل الفصل الخامس ، مطبوعة نول کشورلکنو.
(۲) خلاصة الفتاوی مع المجموعة ۴/۴۱۱/ کتاب الوقف ، قبل الفصل الثالث ، مطبوعة نول کشورلکنو.
(۳) مګردغه اطمینان دقاضی په قضاء سره دقرض اخستوپه صورت کېدای شي سعیداحمد پالنپوري.

دوډی پخه کړي پخپله يې هم خوري اوخپل قوم هم پرې خوروي اوتحفې اونذرانې هم له دې څخه ورکوي ددوئ لپاره داسي کول جائزدي ،که نه ؟ ددوئ لپاره په دنیاکې شرعًا څه سزاده ؟(۵۹۲/ ۱۳۳۹هج)

خواب : دمسجد داوقافوآمدني داډول په ناروا طریقه لګول حرام دي اوخرڅوونکې ګنهګاراوظالمان دي په اخیرت کې به دوئ نیول کیږي اوپه دنیاکې ددوئ سزاداده چې دوئ عزل کړای شي اوددغه بې ځایه صرف کړې آمدني ضمان ددوئ پرذمه دی فقط.

دمتولي په ذمه چې دمسجد کومې روپۍ واجبې دي دهغه دمعافولوحق هیڅوک نلري

سوال : (۵۷۰) په شمله کې دقطب خان په نامه مسجدیومخکنی متولی دشملې له مسلمانانوداغوښتنه کوي چې دمسجد کومې روپۍ دده په ذمه دي هغه دالله تعالی لپاره راوبخښي ،ځکه چې دهغه روپیوداکولووس نلري آیادشملې مسلمانان یانوې متولیان دااختیارلري چې دمسجددمخکنې متولي په ذمه واجبې شوې روپۍ وروبخښي ؟(۸۳۳/ ۱۳۳۵هج)

خواب : دشملې له مسلمانانواونوې متولیانوڅخه وچاته داحق شرعًا نشته اوجائزنه دی چې دغه دمسجدروپۍ وروبخښي ، د معافولووهیچاته هیڅ حق نشته کله چې مخکنی متولي یادده زامن ددغه روپیوداادکولووس پیداکړي دوئ ددغه مسجدروپیوداداکولوړمواردی قال فی الدرالمختار: یفتی بالضمان فی غضب عقارالوقف وغصب منافعه اواتلافهاالخ وکذایفتی بکل ماهوانفع للوقف الخ(۱)

دمسجددد کانونوپه آمدني دمسجداړتیاوې نه پوره کوونکي متولي حکم

سوال : (۵۱۷) یوسړی مسجد جوړکړکله چې وفات شوکوم وارث یې پاته نشو لمونځ کوونکوپه رأیه له هغه وخته تراوسه پرلپسې متولیان تاکل کیږي ددې مسجد په اړه

(۱) الدرمع الشامی(۴۳۹/۴ ۴۴۰) کتاب الوقف ،مطلب اذاآجر المتولی بغبن فاحش کان خیانة ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

وقف شوې دکانونه دي چې آمدني يې نژدې شپږديرش روپۍ دي خوموجود متولي صاحب دمسجد اړتياوې په پوره توګه نه اداکوي دپوښتنې په جواب کې وايې چې دغه آمدني په بل دخيرپه کارکې صرفوم داسي کول جائزدي ،که نه ؟ اوداسي سړی متولي پربښوول روادي ،که نه ؟ (۱۷۱۱/ ۱۳۴۳هج)

خواب : دذکرشوې مسجدآمدني ددې مسجدله اړتياووپرته په بل دخيرپه کارکې صرفول روانه دي اوکوم متولي چې داسي کوي چې ددغه مسجددکانو نوآمدني په دغه مسجد کې نه صرفوي هغه خائن دی بايدليرې کړل شي اوبل امانتدارشخص متولي ټاکل پکاردي کذفی الدرالمختارکتاب الوقف فقط.

دمتولي لپاره دمسجددکان کرايه کمول روادي ،که نه ؟

سوال : (۵۷۲) دزيدسره دمسجددکان نژدې له شپږوکالوراهيسي دمياشتې په شپږروپۍ کرايه ووخونژدې له يوه کال څخه دزيداودمسجدمتولي ترمينځ خبره ترمقدمې رسېدلې ده دکرايې نه ورکولوپه وجه کله چې محکمې دمتولي دغوښتنې سره سمه فيصله وکړه نوکومه دعوی چې متولي دمياشتې ددولسو روپۍ کرايه کړې ده دهغې په سبب محکمې فيصله وکړه نوزيدله متولي څخه دفيصلې غوښتنه کوي يعنی کرايه کمول غواړي دمتولي لپاره کمول روادي ،که نه ؟ (۳۴۰۲/ ۴۶ - ۱۳۴۷هج)

خواب : که ددکان کرايه دمياشتې شپږروپۍ مقرره شوې وه اومتولي دمياشتې ددولسوروپيوپه حساب پرزيدعارضه وکړه اوحکومت فيصله وکړه نوپه دې صورت کې دمتولي لپاره کمول روادي خوځومره روپۍ دکرايې چې دکرايه دارپه ذمه واجبې دي اوځومره چې په مقدمه کې لګېدلې دي په هغه کې هيڅ کمی کول روانه دی چې په دې کې دمسجدنقصان دی اوله دې څخه زياتې وصولول هم صحيح نه دي فقط.

متولي مصلحۃً دمسجددکان وکمې کرايې اداکوونکې ته ورکولای شي

سوال : (۵۷۳) ديوه مسجدپه اړه څودکانونه دي په دې کې مسلمان حلوايې هم کرايه دارشته اوس دمسجدمتولي په تحريک ددکانونودکرايې نيلام ددريو کلونولپاره وشودلطيف په نامه ورورکوم چې دمسجدممبر(غړی) هم دی دده بولی دمياشتې دپنځه اويارويپيووه اودحلوايې بولی دمياشتې دسلوروپيووه متولي اوممبرانودلطيف په نامه په پنځه اويارويپيونيلام ختم کړچې ورځخه ددريوکلونوپه موده کې دمسجدنهه سوه روپۍ تاوان وشوچې له املې يې مسلمانان غمجن اواعتراض کوونکې دي متولي داعذربيانوي چې حلوايې دودان (لوګې) جوړوي چې ورځخه ودانۍ توره اوخرابيږي آيادمتولي اوممبر انودغه کارصحيح اودمنلوړدی ؟ (۱۷۲۰/ ۱۳۴۳هج)

خواب : که دمتولي صاحب اوممبرانوداعذدنېک نیت په اساس وي اودمسجد ددکان مصلحت په همدې کې وي نوددوئ عذردمنلووړدی اوددوئ غاړې خلاصې دي فقط.

دمسجدوقف شوی مکان که متولي خرڅ کړي نوڅه حکم دی

سوال : (۵۷۴) زیدپخپل ژوندکې خپل ځاني مکان اوڅومره سامان چې په دې مکان کي ووومسجدته یې ورکړپه داسي حال کې کله چې هوښ اوحواس یومخ پرځای اوصحیح ووخوپه دې شرط چې ترڅوزیداوودده بنځه زوندي وي ترهغوبه پخپله استعمالوي دزیداودزیددبنځې تروفات وروسته به ټول سامان اومکان دمسجدملکیت وي اوس چې کله زیداوودده بنځه وفات شونوجرګې لومړی کوم څه سامان چې په دې مکان کې ووخرڅ کړاوله هغه وروسته یې پرمکان قبضه وکړه دمسجدپه ملکیت کې ورکړله دې وروسته یودډیرعمر حافظ دقرآنکریم چې دمسجدامام هم دی متولي وټاکي اودمکان مالک یې کړاوداخبره وشوه چې ددې څومره کرایه راځي هغه دمسجدپه رڼا یانورضروري سامان کې لګول کیږي خوڅه موده وروسته متولي دغه مکان دځان وبلی خرڅ یې کړاوڅومره روپۍ چې ددې مکان حاصلې شوې وي هغه یې تولې پخپل کارراوستلې اوپرمسجدیې یوه روپۍ هم ونه لګوله په داسي حال کې ددغه متولي په هکله څه حکم دی ؟ اودخرڅولوپرمهال پراسنادوچې کوموخلګو دستخطونه (امضاوې) وکړي دهغوئ لپاره څه حکم دی ؟ (۳۳۷۲/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

خواب : په درمختارکې راغلې دي: فاذاتم ولزم لایملک ولایملک ولایعارولا یرهن الخ (۱) اوپه درمختارکې دي: شرائط الواقف معتبرة اذالم تخالف الشرع (۲) اوپه شامي کې راغلې دي : قوله لایملک ای لایکون مملوکا لصاحبه ولایملک ای لایقبل

(۱) تنویرالابصارمع الشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب فرق ابویوسف رحمه الله بین قوله موقوفة الخ ط رشیدیه.

(۲) الشامی (۳۹۵/۳) کتاب الوقف ، مطلب شرائط الواقف معتبرة اذالم تخالف الشرع ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

التملیک لغیره بالبیع ونحوه الخ (۱) یعنی دوقف له صحیح کېدوورسته نه دوقف کوونکې په ملک کې راتلای شي اونه دبیعې اونوروپه وسیله کوم بل څوک ددې مالک کېدای شي په همدې وجه دغه مکان کوم چې دمسجدلپاره وقف شوی وونودادمسجدملک دی متولي یابل څوک دمالک په حیث پکې تصرف نشي کولای ،ځکه نومتولي چې دغه پرمسجدوقف شوی مکان خرڅ کړدهغه قیمت یې پخپل مصرف کې راوړی داشرعًا روانه دی دابیع (سودا) صحیح نه شوه اودمکان رانیوونکی ددې مکان مالک نه شوبلکي مکان اوس هم پرمسجدوقف اودمسجدملک دی داسي خائن متولي لیري کړئ کوم امانتدارشخص متولي وټاکئ اوکوموخلګوچې پراسنادولاس لیک اوګواهي ورکړه اوچاچې اسنادولیکل یایې په دې کې کوم دول مرسته وکړه که ودغه خلګوته مسئله معلومه وای اوسره دمسئلې له خبرتیادوئ داسي کاروکړنو دوئ ټول فاسقان اوګنهګاران شول دوئ باید توبه وکاږي اودغه وقف شوی مکان درانیوونکې له قبضې وباسي دمسجدپه قبضه اوتصرف کې ورکړي اوامانتدارمتولي وټاکي هغه ته یې باید وسپاري کنې دوقف دضائع کېدوګناه به پرټولووي اونوموړی متولي چې ترڅودغه مکان (سرای) درانیوونکې له قبضې ونه باسي اودمسجدپه قبضه کې یې ورنکړي دی له کورنۍ ببل کړئ اوکوم مسلمان دې له ده سره هیڅ دول اړیکې نه ساتي اوددې په غم اوښادي کې دې شراکت نه کوي فقط.

دارتیاپرمهال متولي دیومسجدآمدني پربل مسجدلګولای شي ،که نه ؟

سوال: (۵۷۵) زیددوومسجدونومتولی دی اوددواړومسجدونووقف جلا ، جلادی په همدې ښارکې یومسجداسي هم شته چې دهغه لپاره هیڅ وقف نشته نوزید که ددغودواړومسجدونوله وقف څخه په دغه درېیم مسجدکې صرف کړي نوروادی ،که نه ؟ دغه رنګه ددغودواړو مسجدونومال چې وقف یې ببل دی دارتیاپرمهال دیوه مسجدمال دبل مسجدپه ارتیاووکې لګول روادي ،که نه ؟ (۱۵۷۴/۱۳۴۵هج)

جواب: ددغوداوړومسجدونوداوقافوله آمدني څخه په کوم درېیم مسجدکې لګول روانه دي غه رنګه کله چې ددغودواړومسجدونوبانیان اووقف کوونکې جلا ،جلا دي نودیوه مسجدله دني څخه په بل مسجدکې لګول دفقهي له څرګندونوسره سم روانه دی لماقی درالمختاراتحد

(۱) الشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب مهم فرق ابو یوسف رحمه الله بین قوله موقوفة ط رشیدیه.

دمسجددوقف شوې جائدادله آمدني څخه متولي وچاته څه روپۍ ورکولای شي ، که نه ؟

سوال : (۵۷۶) (الف) دمسجد متولي دمسجد دوقف شوې جائدادله آمدني څخه وکوم مسافریااړشخص ته څه روپۍ ورکولای شي ، که نه ؟

(ب) له داسي آمدني څخه وکوم اړمسلمان ته قرض ورکولای شي ، که نه ؟

(ج) په کوم بل مسجد یامدرسه کې هم څه لګولای شي ، که نه ؟ (۳۲۷۹/ ۴۲ ۱۳۴۷هج)

خواب : (الف) نشي يې ورکولای (ب) داهم ناروادی. (ج) نشي يې کولای فقط.

دموجودمتولي په رأيه عمل کول ضروري دی

سوال : (۵۷۷) په نجيب آبادکې ديوه مسجد متولي وايستی څوکسان متوليان شول اوپه همدې مسجدکې يعنی دمسجد په اړه يوه حجره ده دهغې ومخته سائبان دی په هغه کې مدرسه تجويدالقرآن ده ددغومتوليانووښوونکې ته يې خبرتياورکړې ده چې يادحجرې اونوروکرايه اداکوي کنې مدرسه پورته کړي ددې په اړه څه حکم دی ؟(۳۲/۲۳۴ - ۱۳۳۳هج)

خواب : کوم خلګ چې اوس دمسجد متوليان دي ددوئ درأيې سره سم بايدعمل وشي که دوئ کرايه وغواړې نوکرايه به ورکوي ويفتی بکل ماهوانفع للوقف (۲) فقط.

---

(۱) الدرمع الشامی (۴۰۸/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی نقل انقاض المسجد ونحوه ط رشيديه.

(۲) الدرالمختارمع الشامی (۴۴۰/۳) کتاب الوقف ، مطلب سکن المشتری دارالوقف ط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجدد کمیټی۔ دمسجدپه مخکه کې له مدرسې جوړولوڅخه منع کول

سوال : (۵۷۸) موږدمسجدرفع الزمان دانتظام آمدني اودمسجد ځارنه له قانوني حملوڅخه دژغورلولپاره یودرخواست دآګري داولسوال په وسپله وکمیټه ته وسپاری خودمتولیانوپه حیث قبضه تراوسه زموږده یوه روپۍ دیارلس آندې دمیاشتې موږپخپله جمع کووکمیټی ته یې ورکووکمیټی صرف ددغوجمع شویوروپیوپه حواله کې داخستلولپاره ده اودمتولیانوپه حیث ټول خدمتونه موږکووچې پکې کمیټی هیڅکله لاس وهنه نه ده کړې دمسجدپه اړه شاړه مخکه ولاړه وه په هغې کې موږمدرسه جوړه کړه چې په دې کې به دقرآنکریم اوحدیثوزدکړه کیږي څه ودانی پاته ده اوس دآګری دمسلمانانوکمیټی له مدرسې جوړولوڅخه منعه کوي مدرسه پوره کېدوته نه پرېږدي آیاپه داسي حال کې دوئ ته داحق شته ،که نه ؟ (۱۲۵۲/ ۱۳۴۵هج)

خواب : کله چې تاسوددغه مسجدآمدني ، مصرفونه اونورکمیټه ته وسپارل نواوس کمیټی والامتولیان شول ددوئ په رأیه اومشوره تعمیراونورباید وشي ،څکه نودغه کمیټی والادغه ودانی منع کولای شي کذافی کتب الفقه فقط .

متولي کلپوال دمسجدله تعمیرڅخه نشي منع کولای

سوال : (۵۷۹) یومسجد جوړېږي دهغه وقف دومره کفایت نه کوي چې یودم ددې تعمیروکړل شي نوتعمیردې پوره شي اوس متولي وکوم بل مسلمان ته اجازه نه کوي چې خپلې ځاني روپۍ پکې ولګوي کارتمام کړي متولي دبل چانه نغدې روپۍ قبلوي نه خښتې ،نه ختې ،نه مزدورنوآیااوس نورمسلمانان شرعًا مجبوردي چې دمتولي بې اجازې پکې کوم کارونکړي ؟ (۲۸۳/ ۴۴ - ۱۳۴۵هج

خواب : دمتولي لپاره داسي کول نارواديله کلپوالوڅخه چې کوم څوک ددغه په ودانی اوسمون کې مرسته کوي هغوئ بایدمنع نکړل شي اوکه متولي دانه مني اودمسجددتعمیراوپوره کېدوپه ځنډسره دکلپوالوحرج دی اودوئ ته ددې تکلیف دی نودوئ پخپله ،پخپلوروپیواوچنده ددغه مسجدتعمیراوتکمیل کولای شي متولي دمنع کولوحق نلري [واماأهلهاای اهل المحلة

فلهم ان یهدموه ویجددوا بناءه ولیس لورثته منعهم من نقضه والزیادة فیه الخ(۱)

دخوکسانودمسجدله متولي څخه حساب غوښتل

سوال: (۵۸۰) یوه کوچنۍ ډله دجامع مسجدله متولیانوڅخه دجائدادپه حساب اخستلوبدنظمي خورول غواړي حال داچي ترننه دجامع مسجدانتظام په ډیره ښه طریقه چلیږي اوهیڅ ډول خرابي په انتظام کې نه ده پېښه شوې اول دجامع مسجدهیڅ جائدادهم نه وومګردموجوده متولیانوپه کوشش اوس دجامع مسجدښه ډیرجائدادشته آیاپه موجوده حال کې کوچنۍ ډله دجامع مسجددحساب کتلوحق لري؟ (۸۴۲/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

خواب: حساب کول دحاکم اوقاضی کاردی وهرسړی ته داحق نشته په درمختار کې راغلې دي: لاتلزم المحاسبة فی کل عام ویکتفی القاضی منه بالاجمال لومعروفابالأمانة(۲)

دمسجدله متولي څخه دخیانت روپۍ اخیستل

سوال: (۵۸۱) یوسړی دمسجدمتولي دی څومره آمدني دمسجددجائدادچي راځي هغه پخپله رأیه دمسجدپه ارتیاووکې صرفوي خوله صرفولوورڅه چي اندازًا له کاله کومې څلوېښت ،پنځوس روپۍ پاتیږي دهغوحساب نه ورکوي کلېوال مجبورشوېل متولي یې وتاکی خومخکنی متولی نه وهغه ته ددې حساب ورکړی دی اونه یې روپۍ ورکړې آیاله دغه متولي څخه دعدالت په وسیله دتولوکلونوپاتي روپۍ وصولې کړو،که نه؟ بینوا توجروا (۴۰۳/ ۱۳۳۵ه)

خواب: که پرمخکنی متولي دخیانت شک دی نوحکومت ته دې مراجعه وشي چي له دغه متولي څخه دمسجددآمدنۍ اوخرڅ حساب واخلي څومره دمسجد روپۍ چي ورسره ومونديې شي هغه ځینې واخلي اوکوم بل امانتدار،صالح سړی متولي وتاکئ فقط.

---

(۱) الشامی(۴۰۵/۳) کتاب الوقف، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

(۲) الدرمع الشامی(۴۲۲/۳) کتاب الوقف، مطلب فی محاسبة المتولی وتحلیفه ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجددآمدنی (عائد) اودهغه دمصرفونوبیان

دمسجددآمدنی اومصرفونوخوحکمونه

سوال : (۵۸۲) ددهلي دجامع مسجدانتظام دشوری په ذریعه وي اودجامع مسجددشوری ومجلس ته په لاندي ډول آمدني راځي دجامع مسجددکانو نوکرایه دجامع مسجددشاړومځکودتهکداری کرایه اونوردآمدنی له دغه ټولوډولوچي څومره روپی راځي هغه په لاندینې کارونوکې خرڅیږي.

(الف) دمسجددکارکوونکوتنخواه ،امام ، مؤذن ، چوکیدار اونور.

(ب) دڅاه په وسیله دمسجدپه تالاب کې داودس داوبوبندوبست.

(ج) دلمونځ کوونکواوزیارت کوونکومسلمانانولپاره دڅینبلوداوبوبند وبست.

(د) دفرش ، مصلیٰ ،دری ،تاټ اوددننې اوبهرني فرش سامانونه.

(هه) دمامورینوپه وسیله دمسجدصفایې اوشاوخوادمسجدپاکول دجاروووهو ونکوپه وسیله.

(و) ددین زدکړه کوونکوطالبانووظیفې اودنورومدرسوطالبان چې دعربي زدکړه هم کوي اودنوروفنونوطالبان اوداټول مسلمانان دي.

(ز) دبرښنا(بجلی) خرچې.

(ح) دخاوردتېلوخرڅ.

(ط) دسائبان اومسجددټاټونوخرڅ.

(ی) دخاورولوښې رانیول ، خم ، کوزه ،انجوره ، اونور.

(ک) دجامع مسجددجائدادټکس(مالیه)

(ل) داوبودنل (نلکی) محصول.

(م) دجامع مسجددجائداددکرایې اونوروپه اړه مقدمي.

(ن) دجامع مسجد تعمیراوترمیم.
(س) دمسجد په اړه جائداد تعمیراوترمیم اونور.
(ع) داوبوګرمولولپاره دلرګیواونورو خرچې.
(ف) دجامع مسجد دد فترپه اړه خرچې.
(ص) ددهلی دیتیم خانې مرسته.
(ق) دنوې مسلمانانو خرچې چې په جامع مسجد کې اسلام قبول کړي.
(ر) دمسکینانواوناوسو مرسته دنغدوروپیواوجاموپه وسیله.
(ش) ددهلی دښاردنوروځینومسجدونوپه تعمیراوترمیم کې مرسته.
(ت ، ث ، خ) دروژې دمیاشتې خرچې مثلا (ایخی) چې دروژه مات اوتراویحوپرمهال هره ورځ راوړل کیږي اودختم په ورځ دشیرینۍ وپشل اوحافظ صاحب ته هدیه ورکوی.
(ذ) دجامع مسجد دمامورینوانعام.
(ض) دځوکیدارانواوپاکوونکودوردی (خاصوجامو) خرچې.
(ظ) داتشبازی دګولیو (داورمرمی) خرچې په رمضان کې دروژه مات او پښلمې پروخت چلول کیږي.
(غ) جمعة الوداع (دروژې دمیاشتې آخرنۍ جمعه) په ورځ دخبمو ،تاټونواوفر شواونورو خرچې (۱۳۴۲/۱۰۹۴هج)

ځواب : (الف) روادی (ب) روادی ،(ج) روادی ، (د) روادی (ه) روادی (و) دغه خرچې دپوښتنې اوتحقیق وړدي دغه دطالبانووظیفې دجامع مسجدله آمدني څخه ولې اوله کله څخه اړوندي دي اوآیاکومه مدرسه دجامع مسجد په اړه هم شته چې خرچې یې دجامع مسجدله آمدني څخه ورکول کیږي.
(ز) دابې ضرورته معلومیږي.

Maktaba Tul Ishaat. com

(ح) خاص په مسجد کې دخاورودتېلوله رناڅخه تراوسه پورې پرهیزکول مناسب دي ،ځکه چې بدبویه تېل په مسجد کې سوځل مکروه دي.

(ط) روادی (ع) روادی (ف) روادی.

(ص) داپه ګنجائش پورې اړه لري اوکه خاص دجامع مسجدداړتیاووترپوره کولووروسته څه پاته شي نوداهم جائزکېدای شي.

(ق) که ګنجائش وي نوداهم صحیح دی.

(ر) دمسجد په آمدني دمسکېنانواونورومرسته اصلا دتفصیل اوغورغوښتنه کوي اماکومې خرڅې چې دکوم وقف سره له کلونوڅخه تړاولري اوله دې سره سم عمل راروان دوی نوپه یوه وجه دادجوازمصرف کېدای شي.

(ش) دامسئله تفصیل غواړي اودزیاتوب آمدني پرکېدوددې جوازاړه لري یاداچې مخکنی رواج ددې دجوازلپاره دلیل کېدای شي.

(ت ، ث ، خ) داهم دمخکني عمل په دلیل سره پرجوازحمل کیدای شي اوپه دې کې دواوړې خرڅه خوجوازته زیاته نژدې ده اودشیریني وېشلواودحافظ په هدیه کې تامل اوشک دی.

(ذ) جائزدی (ض) صحیح دی ، (ظ) صحیح دی فقط (۴) صحیح دی.

دمسجدروپۍ په مسجدکې لګول پکاردي

سوال: (۵۸۳) یوسړی دمسجددودانولواوترمېم لپاره څه روپۍ ورکړي اوس ځینې خلک له دغوروپیوڅخه څه روپۍ نوردخیرپه کارونوکې لګول غواړې داجائزدی ،که نه ؟(۱۳۳۵/۷۳۸هج)

ځواب: دغه روپۍ دمسجد په مسجدکې بایدولګولې شي په بل کارکې یې لګول صحیح نه دي کمافی عامة کتب الفقه فقط.

که چادمسجدلپاره په دې ویناروپۍ ورکړې چې په غوره مصرف کې یې ولګوي نودغه روپۍ بایدچیري ولګول شي

سوال : (۵۸۴) دمسجددسامان دخوندی کولولپاره دروازه لګول روادي ،که نه ؟ اوبندول یې څرنګه دي ؟ یوچاپه دې ویناومسجدته روپۍ ورکړې چې په بهتر مصرف کې یې صرفې کړي اوپه مسجدکې درې اړتیاوې پېښې دي (الف) دمؤذن مقررول (ب) په دننه مسجدکې دسامان خوندي کولولپاره دروازې لګول (ج) دباندي پرمسجدځلوردبوالي راګرځول شرعًا دغه روپۍ چیري لګول مناسب دي ؟ که دمؤذن دټول کال دتنخواه خرڅ موجودوي خوپه دې وبره مؤذن نه مقررول چې راروان کال به خرڅ له کومه وي څرنګه دی ؟ (۱۱۱۲/ ۳۳ - ۱۳۳۴هج)

خواب : دمسجددسامان دخوندي کولوپه غرض ددروازولګول صحیح دي اودلمانځه له وخټونوپرته ددروازوټرل هم صحیح دي اودمؤذن مقررول له شعائرواودمسجدله لوازموڅخه دي مؤذن ضرورمقررول پکاردی اماکه ببله مؤذن تاکلوهم داذان تاوان نه وي اوکوم څوک دالله رب العزت درضالپاره دغه خدمت کوي نوبیادځلوردبوالي اودروازې کارمخکې وکړي لنډه داچي داټول کارونه ضروري اومناسب دي دارتیااوحاجت سره سم چې څرنګه وس وي ودې کړل شي ، شرعًا په دې اړه کومه تنګي نشته اوکله چې دمؤذن دټول کال دتنخواه فعلا بندوبست کېدای شي نوهغه وکړي دراروان کال فکرمه کوئ.

دمسجدله آمدني څخه ولمونځ کوونکوته روژه مات ورکول یاپه روژه کې دقرآنکریم پرختم شیرینې وېشل

سوال : (۵۸۵) دیوه مسجدآمدني دهغه دهرې ورځې دارتیاوولهٔ خرڅ څخه ډیره زیاته وي نوپه دغه زیاتوب آمدني په داسي صورت کې چې دوقف کوونکي شرط معلوم نه وي دمفتی اونصیحت کوونکې تنخواه اوددا سي مدرسې خرڅ چې پکې عربی ، فارسي ،اردواوحساب ښوول کیږي شرعًا اداکېدای شي ،که نه ؟ اوپه زیاتوب آمدني ولمونځ کوونکوته روژه مات ورکولای شي ،که نه ؟ وحافظانوته دنذرانې په توګه څه روپۍ ورکولای شي ،که نه ؟ داسي آمدني څخه شیرینې وېشل هم شرعًا روادي ،که نه ؟ (۲۳۲۴/ ۳۲ - ۱۳۳۳هج)

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : دمسجدداوقافوآمدني په بيان شوهومصرفونوکې لګول روانه دي ددغه مسجدآئنده اړتياووليپاره کښېښوله شي اوکه په کوم ضروري کارکې پرته له مسجد څخه ولګول شي نودقرض په توګه دې ولګول شي.

سوال : (۵۸۶) دمسجددجائدادله آمدني څخه متولي دلمونځ کوونکوروژه مات اونورراوړلای شي ،که نه ؟(۳۲/۲۱۳۹-۱۳۳۳هج)

خواب : دادول خرڅې دقف کوونکې له شرط پرته روانه دي.

ديوه وقف آمدني په بل وقف کې لګول

سوال : (۵۸۷) (الف) آيادیوه مسجدروپۍ په بل مسجدلګول دارتياپرمهال روادي ،که نه ؟

(ب) ديوه مسجدروپۍ په مدرسه عربيه يادمدرسې روپۍ په مسجدلګول روادي ،که نه ؟

(ج) يادکوم مسجدپه آمدني نوې مدرسه جوړول اوجاري کول صحيح دي ،که نه ؟(۳۵/۵۴۳-۱۳۳۶هج)

خواب : قال فی الدرالمختار: اتحدالواقف والجهة وقل مرسوم بعض الموقوف عليه بسبب خراب وقف احدهماجازللحاكم ان يصرف من فاضل الوقف الآخرعليه لانهماحينئذكشئ واحدوان اختلف احدهمابأن بنى رجلان مسجدين اورجل مسجداومدرسة ووقف عليهمااوقافالايجوزله ذلک الخ(۱) ددې حاصل دادي چې که وقف کوونکی اوجهت دوقف يوواوپه دوئ کې ديوه آمدني کمه شوه چې ددې داوقافوچې کومې وسېلې وي خرابې شوي نودحاکم لپاره صحيح دي چې ديوه وقف زياتوب آمدني پربل وقف صرف کړي ،ځکه چې هغه دواړه په دې صورت کې ديوه شی په څيردی اوکه وقف کوونکی دوه وويياجهت دوقف بدل شي دارازچې دووکسانودوه مسجدونه جوړکړل يايوه سړی مسجداومدسه جوړکړل اوددوئ لپاره څه وقف کړي نوديوه زياتوب آمدني پربل لګول صحيح نه دي اوشامی ويلې دي چې که ديوه مسجداوقاف بېلابېل وي مثلا څودکانونه دي نوکه يو دکان په دوئ کې

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴۰۸/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی نقل انقاض المسجدونحوه ط رشيديه.

خراب شي نودبل دکان په آمدني دده سمول اوترميم کولای شي اوبيايې نقل کړی دی ومن اختلاف الجهة ماذاکان الوقف منزلين احدهما للسکنی والآ خرللا ستغلال فلايصرف احدهماللآ خر(۱) اودارازپه درمختارکې دامضمون راغلې دي: چې که يومسجدويران شي اودهغه دآبادولوهيڅ صورت باقي نشي پاته نودهغه سامان په بل مسجدکې صرفول صحيح دي (۲) له دې څخه دامعلوم شوچې که اول مسجدويران نشونودهغه سامان يادهغه زياتوب آمدني په بل مسجدنشي لګولای نوداول اودوهم سوال جواب له بيان شوې عبارت څخه څرګندشوچي ديوه آبادمسجدروپی په بل مسجدکې صرفول صحيح نه دي اودارازپه بله مدرسه اونوروکې يې هم لګول صحيح نه دي اوددرېيم سوال جواب دادی چې دکوم مسجدپه آمدني نوې مدرسه نشي قائمولای لکه چې له بيان شوې عبارت څخه ښکاري.

سوال: (۵۸۸) ديوه مسجدروپی پربل مسجدلګول روادی ،که نه ؟ (۱۴۷/ ۱۳۱۵هج)

خواب: په زياته اړتياکې دقرض په طريقه واخستل شي نوصحيح دی په دې شرط چې په دغه دوهم مسجدکې زياتوب آمدني وي چې دغه وخت دمسجدورته اړتيانه وي فقط.

سوال: (۵۸۹) ديوه مسجدلپاره يوسړی څه روپی ورکړې کومې چې دده له سکه ورورسره موجودې دي دمسجدمتولي پخپله خوښه ددې مسجدسمول اونورغواړې اوله چاسره چې روپی پرتې دي هغه دغه په بل مسجدکې لګول غواړې دارواديي ،که نه ؟ (۱۸۲۳/ ۱۳۳۸هج)

خواب: په بل مسجدکې ددغوروپيوبدلول دروپی ورکوونکې دخرګندونې په خلاف روانه دی

(۱) مخکنی حواله.

(۲) قوله: وعن الثانی الخ جزم به فی الاسعاف حيث قال: ولوخرب المسجدوما حوله وتفرق الناس عنه لايعودالی ملک الواقف عندابی يوسف رحمه الله فيباع نقضه بأذن القاضی ويصرف ثمنه الی بعض المساجد (الشامی (۳/ ۴۰۶) کتاب الوقف، مطلب فيمالوخرب المسجداوغيره طرشيديه)

Maktaba Tul Ishaat. com

اماکه کوم داسي صورت وي چي په هغه مسجدکې ضرورت نه وي اومتولي ددې ضائع کول غواړي مثلا په داسي کارونوکې لګول غواړي چي هغه ضروري نه وي یاپه اسراف کې داخل اونارواوي نوبیاپخپله هغه سړی چي ورسره روپۍ پرتې دي ددغه مسجد په اړتیاووکې دې صرفې کړي اوکه کوم صورت هلته نشي کېدای نوبیادمجبوري په صورت کې یې په بل مسجدلګولای شي فقط.

سوال : ۵۹۰) (الف) دیوه مسجدله متولی سره دمسجدوقف روپۍ پرتې دي هغه روپۍ وبل مسجدته ورکول روادي ،که نه ؟

(ب) یادقرض په توګه په بل مسجدکې لګول روادي ،که نه

(ج) دمسجدروپۍ په مدرسه کې لګول څرنګه دي ؟(۱/ ۱۳۴۳هج)

خواب : (الف ، ترج) کومې روپۍ چي دیوه خاص مسجددي ترڅوچي هغه مسجدآبادوي اوهلته حالاضرورت وي یاپه آئنده کې داړتیاګمان وي نودغه روپۍ بایدپه هماغه مسجدکې ولګول شي په بل مسجدیامدرسه کې لګول ددې صحیح نه دي اونه قرض ورکول صحیح دي خوکه دغه روپۍ دمسلمانانو په چنده دکوم خاص مسجدلپاره جمع شوې وي اوهلته حالاضرورت نشته نوددغوچنده ورکوونکوپه اجازه دغه روپۍ په بل مسجدیامدرسه کې لګېدای شي.

دیوه مسجدروپۍ په بل مسجدکې لګول

سوال : (۵۹۱) په فتح پورکې داسلامیه مدرسې دمسجدیوه مناره نړېدلې ده زیددهغې دجوړښت لپاره وعمرمتولي ته څلورسوه روپۍ ورکړي خوهغه په دغوروپونشي جوړېدای آیادمدرسې ومتولي ته دزیدپه اجازه یاببله اجازه داحق شته چي دغه روپۍ دبل مسجدپه ودانۍ کې ولګوي ؟(۱۳۴۲/۲۲۹۴هج)

خواب : دغه روپۍ په هماغه کارکې لګول پکاردي دکوم لپاره چي زیدورکړې دي اوښکاره خبره ده چي داسي کارونه په چنده کیږي کله چي کارشروع شي امکان لري چي هغه وخت نوردخیرکارکوونکي ددې دپوره کولوفکروکړي دمسجد ونواونورکارونه دارازکیږي له مخکې څخه پوره روپۍ چیرې جمع وې.

دیوه مسجدچنده په بل مسجدکې لګول

سوال: (۵۹۲) چنده چې دیوه مسجدلپاره شوې ده هغه په بل مسجدکې لګېدای شي .که نه ؟(۳۲/۱۱۵۴-۱۳۳۳هج)

ځواب: دچنده ورکوونکوپه اجازه په بل مسجدکې لګېدای شي دهغوئ له اجازې پرته صحیح نه دی خو(یعنی داهم شرط دی) چې کله حالاپه دې مسجدکې ورته اړتیانشته اوپه آئنده کې هم دکومې اړتیاپېښېدوګمان نه وي.

دیوه مسجدډیره زیاته آمدني په بل مسجدیامدرسه کې دضرورت پرمهال لګول

سوال: (۵۹۳) په بمبۍ کې یومسجدډیرنړېدلی دی اودبمبۍ جامع مسجدد خپل جائدادونواواوقافودآمدنۍ له کبله له خپلواړتیااوحاجتونوډیرزیات مستغنی اومال لروونکې دي که خدای مه کړه دجامع مسجدوودانۍ ته کوم زیان ورسیږي نوسره دتعمیراوسمون ډیرې زیاتې روپۍ دده سره پاتېدای شي ددغه نړېدلې مسجدسره دزیاتې سرمایې (پانګې) دنه شتون په وجه ددې متولي که دجامع مسجدله متولیانوڅخه کوم چې دقوم اودوخت دحاکم له لورې پردغه تولیت مقرردی دارتیاپه اندازه مرسته وغواړي نوآیاشرعًا دجامع مسجدله سرمایې څخه مرسته رواکېدای شي ؟(۳۴۵/۱۱۸۰هج)

ځواب: فقهې روایتونه ددې پرنارواتوب دلالت کوونکې دي یعنی سره دمسجدله آبادوالې دهغه داوقافوآمدني په بل مسجدصرفول روانه دي اماکه اول مسجدناآبادشي اوویران شي نوبیاددې مسجدسامان اونورهم په بل مسجدکې لګول روادي په درمختارکې راغلې دي: اتحدالواقف والجهة وقل مرسوم بعض الموقوف علیه بسبب خراب وقف احدهما جازللحاکم ان یصرف من فاضل الوقف الآخروان اختلف احدهمابأن بنی رجلان مسجدین اورجل مسجداومدرسة ووقف علیهما اوقافلایجوزله ذلک الخ (۱) وفی الشامی قال الزیلعی وعلی هذاحصیرالمسجدوحشیشه اذا استغنی عنهمایرجع

(الدرالمختارمع الرد (۴۰۸/۳) کتاب الوقف ، قبل مطلب فی وقف المنقول تبعًا للعقارط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

الی مالکه عند محمد رحمه الله وعند ابی یوسف رحمه الله بنقل الی مسجد آخر الخ -
۱ خودځینو روایتونو په اساس دافتوی ورکول شوې ده چې که دکوم مسجد آمدني دومره زیاته ده اودومره سرمایه یې جمع شوې ده چې دغه مسجد و رته اړتیانلري نوکه زیاتوب آمدني په بل مسجدیامدرسه کې داړتیاپه وجه ولګول شي نوداجائزدی ،ځکه چې کله آمدني ډیره وي نو په هغه کې دتغلب (ناروا قبضې کولو) احتمال شته اوهغه به ضائع شي له دې ځخه ښه دی چې دکوم مسجدیامدرسې په کارراشي فقط.

دمسجدله آمدني ځخه وامام ، مؤذن ،مفتي اونصبحت کوونکې اونوروته تنخواه ورکول

سوال : (۵۹۴) دآګری دجامع مسجد په شاوخواکې څه دوکانونه دي چې ښه زیاته آمدني لري ددغې آمدنی مصرفونه لاندې دي دمسجدتعمیر، دامام ،مؤذن ، مفتی ، نصبحت کوونکې اوفرش هوارووونکې تنخواه ، درناخرځ ،دده دآمدنی دولاس ته کولواودمسجددنورو کارونولپاره یوه محکمه قائمه ده دمحکمې دمامورینو تنخواګانې هم له دې آمدني ځخه ورکول کیږي اوپه همدې آمدني یوه مدرسه چلیږي خوداصل باني هیڅ شرط معلوم نه دی په دې صورت کې دغه خرڅې روادي ،که نه ؟ (۳۲/۵۷۴- ۱۳۳۳هج)

خواب : بیان شوې خرڅې جائزدی قال فی الدرالمختار: ویبدء من غلته بعمارته ثم ماهواقرب لعمارته کامام مسجدومدرّس مدرسة یعطون بقدرکفایتهم ثم السراج والبساط کذلک الی آخرالمصالح الخ(۲)

سوال : (۵۹۵) دمسجددکرایې اونورولهٔ آمدني ځخه دامام تنخواه مقررول روادي ،که نه ؟ (۲۰۲۲/ ۱۳۴۳هج)

خواب : جائزدي فقط.

دمسجددمال خرڅول اودهغه قیمت وامام ته ورکول

سوال : (۵۹۶) زهٔ دتجارانو په مسجدکې امامت کوم وماشومانوته سبقان ویل زماپرذمه دي اوزمادمعاش لپاره کومه مستقله آمدني نشته اودکلهوالو حال کمزوری دی دلته چې کومه مذبح خانه (دحیوانانو دحلالېدوځای) دی په هغه کې چې څومره ګامښې حلالیږي دهغوئ ښکرونه له ډیرې مودې دمسجد په نامه دي تل چې خرڅ شي دمسجد په اړتیاووکې لګیږي اوس

(۱) الشامی (۴۰۷/۳) کتاب الوقف ، مطلب فیمالوخرب المسجد اوغیره ط رشیدیه.
(۲) الدرالمختارمع الرد(۴۱۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب: یبدأ من غلة الوقف بعمارته ط رشیدیه.

څومره ښکرونه جمع دی ټول خلګ دا اراده لري چې موږ دغه ښکرونه دمسجد وامام ته ورکووا وفعلا مسجدورته ضرورت هم نلري آیادمسجدوامام ته یې ورکول روادي .که نه ؟(۷۴۲/ ۱۳۳۷هج)

خواب : ټول ورکوونکي که پردې اتفاق لري چې ددغوښکرونوقیمت دی دمسجدوامام ته ورکول شي نوداصحیح دی دغه رازترڅپتیازیات تپل خرڅ کړي دمسجد د کوزو . صفونواوابوګراموللرګیواودمسجدپه نورواړتیاووکې لګول صحیح دي فقط .

آیادمسجدپه مال دمسجدلپاره تجارت کول روادي ؟

سوال : (۵۹۷) دکلپوالویادمسجددمتولي لپاره دمسجدپه وقف مال دمسجددترقی لپاره تجارت کول روادي ،که نه ؟(۱۳۲۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : روانه دی ـــ۱ فقط .

دمسجدپه روپیوخپل کاروبارکول

سوال : (۵۹۸) له یوچاسره دمسجدروپی جمع دي که دی په دغوروپیوتجارت وکړي اوګټه پخپله واخلي اواصل روپی دمسجدوي نوداروادی .که نه ؟(۵۵۸/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب : روانه دی ـــ۲ فقط .

سوال : (۵۹۹) (الف) زیددیوه مسجدله روپوڅخه دوه سوه روپی اخلي تجارت په کوي اوڅه موده وروسته اصل سره له دووزره روپوګټې دمسجدپه نامه جمع کوي خوبکرکوم چې دکانداردی دمسجدنڑدې نهه سوه روپی الي په خپل تجارت کې یې لګوي اویوکال وروسته نهه سوه روپی بهرته ورکوي دبکرپه هکله شرعًا څه حکم دی ؟

---

۱) قال فی البحرالرائق : وفی الغنیة ولایجوزللقیم شراء شئ من مال المسجد لنفسه ولاالبیع له وان کان فیه منفعة ظاهرة للمسجد (البحرالرائق ۴۰۱/۵ ، کتاب الوقف)

۲) مخکنی حواله

Maktaba Tul Ishaat. com

(ب) نوموړی بکرداخترترلمانځه وروسته دچندې لپاړه دمسجدلپاره په مسجدکې جمع کوي اوپخپل نوم سل روپۍ چنده رااخلي وروسته په حساب کتلو معلو میږي چې بکرصرف پنځه روپۍ چنده ورکړې ده شرعًا په دې اړه څه حکم دی ؟ آیابکردمسجدممبر(غړی) پاتېدای شي ؟ کله چې دی ومسجدته دلمانځه لپاره هم نه راځي ؟(۲۲۸/ ۱۳۴۱هج)

ځواب : (الف) بکرچې دمسجداخستې پوره روپۍ بهرته ورکړي نودده غاړې خلاصې شوې.

(ب) اودسلوروپیودورکړې وعده کولوپرځای پنځه روپۍ ورکول هم دمؤا خذې باعث نه دی اوګناه نه ده چې له اهله پرده ملامتیاوویله شي یادممبر کېد وو ړونه بلل شي اماجماعت اوتراویح پرېښوول اودمسجدروپۍ لګول داکارونه دسنت اواحتیاط په خلاف دي که څه هم دمسجددروپیوله بهرته ورکولو وروسته دده غاړې خلاصې شوې خودمسجدروپۍ اخستل داحتیاط په خلاف دي دفقهې په کتابونوکې لیکلې دي چې متولي امانتدارسړی جوړول پکاردي کوم چې دتولیت کارپه امانت سره ترسره کولای شي اوخائن سړی متولي جوړول نه دي پکارنوکه بکرخائن نه دی اودمسجدروپۍ نه ضایع کوي نودی متولي اوممبرکېدای شي فقط

دمسجدمال دجلسې په رڼااونورکې کارول

سوال : (۲۰۰) داګری په جامع مسجدکې یوه جلسه وشوه په دې کې دمسجدله مامورینوڅخه کارواخستل شواوپه رڼااونوروچې کومه خرڅه وشوه هغه یې داوقافو له ډلې څخه واخسته اوددې جلسې باندې یوممبر(غړی) دی پردې دوممبرانواعتراض وکړیوڅلورم ممبرچې پررڼاڅومره خرچه راغلې وه له ځانه اداکړه دمسجدله ملازمینوڅخه کاراخستل صحیح دي ،که نه ؟ اودوقف له مال څخه بیان شوې خرڅې کول صحیح دي ؟(۳۲/۱۷۸ - ۱۳۳۳هج)

ځواب : له دغومامورینوڅخه داکاراخستل خومنع نه دی خودرڼااونوروخرڅ دوقف له آمدنۍ څخه اخستل روانه دی هغه خرڅه دهغه ممبرپه ذمه ده کوم چې خرچه کړې ده اوکه کوم بل ممبرده له لورې پخپله اداکړه نوهیڅ پروانلري لنډه داچې دغه خرڅ

څومره ښکرونه جمع دی ټول خلګ دااراده لري چې موږ دغه ښکرونه دمسجد وامام ته ورکوواوفعلا مسجدورته ضرورت هم نلري آیادمسجدوامام ته یې ورکول روادي ،که نه ؟(۷۴۲/ ۱۳۳۷هج)

خواب : ټول ورکوونکي که پردې اتفاق لري چې ددغوښکرونوقیمت دی دمسجدوامام ته ورکول شي نوداصحیح دی دغه رازترڅېتیازیات ټبل خرڅ کړي دمسجد د کوزو ، صفونواوابوګراموللرګیواودمسجدپه نورواړتیاووکې لګول صحیح دي فقط.

آیادمسجدپه مال دمسجدلپاره تجارت کول روادي ؟

سوال : (۵۹۷) دکلبوالویادمسجددمتولي لپاره دمسجدپه وقف مال دمسجددترقی لپاره تجارت کول روادي ،که نه ؟(۱۳۲۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : روانه دی ـــ۱ فقط.

دمسجدپه روپیوخپل کاروبارکول

سوال : (۵۹۸) له یوچاسره دمسجدروپی جمع دي که دی په دغوروپیوتجارت وکړي اوګټه پخپله واخلي اواصل روپی دمسجدوي نودارواډی .که نه ؟(۵۵۸/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب : روانه دی ـــ۲ فقط.

سوال : (۵۹۹) (الف) زیددیوه مسجدله روپوڅخه دوه سوه روپی اخلي تجارت په کوي اوڅه موده وروسته اصل سره له دووزره روپوګټې دمسجدپه نامه جمع کوي خوبکرکوم چې دکانداردی دمسجدنڅدې نهه سوه روپی الي په خپل تجارت کې یې لګوي اویوکال وروسته نهه سوه روپی ببرته ورکوي دبکرپه هکله شرعًا څه حکم دی ؟

---

(۱) قال فی البحرالرائق. وفی القنیة ولایجوزللقیم شراء شئ من مال المسجد لنفسه ولاالبیع له وان کان فیه منفعة ظاهرة للمسجد(البحرالرائق ۴۰۱/۵، کتاب الوقف)

(۲) مخکنی حواله

Maktaba Tul Ishaat.com

(ب) نوموړی بکرداخترترلمانځه وروسته دچندې لپاړه دمسجدلپاره په مسجدکې جمع کوي اوپخپل نوم سل روپۍ چنده رااخلي وروسته په حساب کتلومعلو میږي چې بکرصرف پنځه روپۍ چنده ورکړي ده شرعًا په دې اړه څه حکم دی ؟ آیابکردمسجدممبر(غړی) پاتېدای شي ؟ کله چې دی ومسجدته دلمانځه لپاره هم نه راځي ؟(۱۳۴۱/۲۲۸هج)

ځواب : (الف) بکرچې دمسجداخستې پوره روپۍ بېرته ورکړي نودده غاړې خلاصې شوې.

(ب) اودسلوروپیودورکړې وعده کولوپرځای پنځه روپۍ ورکول هم دمؤذ خذې باعث نه دی اوګناه نه ده چې له اهله پرده ملامتیاوویله شي یادممبر کېدو وو ړونه بلل شي اماجماعت اوتراویح پرېښوول اودمسجدروپۍ لګول داکارونه دسنت اواحتیاط په خلاف دي که څه هم دمسجددروپیوله بېرته ورکولو وروسته دده غاړې خلاصې شوې خودمسجدروپۍ اخستل داحتیاط په خلاف دي دفقهې په کتابونوکې لیکلې دي چې متولي امانتدارسړی جوړول پکاردي کوم چې دتولیت کارپه امانت سره ترسره کولای شي اوخائن سړی متولي جوړول نه دي پکارنوکه بکرخائن نه دی اودمسجدروپۍ نه ضایع کوي نودی متولي اوممبرکېدای شي فقط

دمسجدمال دجلسې په رڼااونورکې کارول

سوال : (۲۰۰) داګری په جامع مسجدکې یوه جلسه وشوه په دې کې دمسجدله مامورینوڅخه کارواخستل شواوپه رڼااونوروچې کومه خرڅه وشوه هغه یې داوقافو له ډلې څخه واخسته اوددې جلسې باندې یوممبر(غړی) دی پردې دوممبرانواعتراض وکړیوڅلورم ممبرچې پررڼاڅومره خرچه راغلې وه له ځانه اداکړه دمسجدله ملازمینوڅخه کاراخستل صحیح دي ،که نه ؟ اودوقف له مال څخه بیان شوې خرڅې کول صحیح دي ؟(۱۳۳۳-۳۲/۱۷۸هج)

ځواب : له دغوماموریتوڅخه داکاراخستل خومنع نه دی خودرڼااونوروخرڅ دوقف له آمدنۍ څخه اخستل روانه دی هغه خرڅه دهغه ممبرپه ذمه ده کوم چې خرچه کړې ده اوکه کوم بل ممبرده له لورې پخپله اداکړه نوهیڅ پروانلري لنډه داچې دغه خرڅ دې پروقف نه اچوي اصل ذموراوضامن خرڅ کوونکی دی که بل ممبرضمان اداکړنوروادی.

دلمونځ کوونکودسامان دخوندي کولولپاره دمسجد په آمدني چوکيدارمقررول

سوال: (۲۰۱) (الف) دمسجدونودمتوليانوپه ذمه دامام، مؤذن اودانتظام له سامان پرته دلمونځ کوونکودشيانولکه دځپليو،سائبانونواونورودخوندي کولولپاره يوچوکيدارمقرورل ضروري دی،که نه؟

(ب) وهغه ته دمسجدله آمدني څخه تنخواه ورکول ضروري دي،که نه؟ (۵۵۷/ ۱۳۴۳هج)

خواب: (الف) داضروري نه دی خوکه دمتولي له طرفه وي نوځه پروانلري (ب) اودچوکيدارتنخواد مسجددآمدنی څخه ورکول صحيح دي.

سوال: ۲۰۲) دلته له مسجد څخه دلمونځ کوونکو ځپلی اوپائزاردجمعې په لمانځه کې غلاکيږي نوصرف دلمونځ کوونکودځپليودخوندي کولولپاره دمسجدپه روپيوملازم ساتل روادي،که نه؟ (۲۸۷/ ۱۳۴۵هج)

خواب: ښکاره داده چي که لمونځ کوونکې پخپله ددې اهتمام په چنده اونورونه نشي کولای نودمسجدله مال څخه ددغه ملازم تنخواه ورکول روادي خوزيات احتياط دادی چي لمونځ کوونکې پخپله چنده وکړي ددې بندوبست وکړي،څکه چي ځينوفقهاؤپه دې کې داشتباه څرګندونه کړې ده لکه چي په درمختارکې له بحرڅخه نقل دی: ويقع الاشتباه فی بوآب ومزملاتی قاله فی البحرقلت ولاترددفی تقديم بوآب ومزملاتی وخادم مطهرة الخ—(۱) فقط.

دمسجدپه آمدني دوعظ اونصيحت اونورولپاره کوم عالم مقررول

سوال: (۲۰۳) ديوه مسجدلپاره دوقف شوي جائدادآمدني دومره زياته وه چي دامام، مؤذن اونورودمسجددخادمانواونوردمصرفونوترپوره کيدوهم ښه ډيرې روپۍ پاتي دي دمسجدپه اړه له مخکې څخه يوه کوچنی کتابخانه هم وه کله چي دمسجدمتوليانووکتل چي پردغه مصرفونودرويږولګولوروسته هم روپۍ جمع پرتې وي نودوئ مناسب وبلله کتاب خانه يې هم پراخه کړه چي پکې دفقهې، حديثواوتفسيرونوغټ،غټ کتابونه هم راجمع کړي اودمسجدله امام پرته يوعالم په دې غرض مقررکړچي سهاروخت به دقرآنکريم تفسيردمسجدو لمونځ کوونکوته اوروي اودلمونځ کوونکوچي کومې مسئلې وي هره ورځ به دهغه پوښتنې هم کوي اودارازکومې،کومې استفتاګانې چي دده ومخته راځي دهغوئ جوابونه به ليکي اوکله،ناکله به لمونځ هم ورکوي اوکله، ناکله به وعظ هم کوي اوس ځيني خلګ داوايي چي ددغه مسجدپه آمدني

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴۱۲/۳) کتاب الوقف، مطلب فی قطع الجهات لأجل العمارة ط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat. com

کتابخانه پراخول نه دي پکارحال داچي له پخواڅخه کتابخانه موجوده وه صرف دلږوالي اوډيروالي فرق دی اووايي چي دشرعي حکمونواومسئلوښوونکی عالم ته ضرورت نشته حال داچي په دغه مسجد کې مسلمانان اومشرکان ډيرمامورين په ښو،ښوتنخواګانوکارونه کوي آن تردې چي دلمونځ کوونکو دڅپليودخوندي کولولپاره هم دوه کسان مزدوران دي اودمسجدډيرې روپۍ په بانکونوکې جمع دي اودمثال په ډول ددنيادظاهرڼاحاصلولولپاره له دومره پراخې اوغټ زړه څخه کاراخستل کيږي چي صرف په لس پنځوبتيوکارکېدی دهغوئ پرځای يې ځای پرځای ډيرزيات دبجلي بلپان لګولې دي حال داچي په تېره بياپه دغه زمانه کې دمسلمانانوله ظاهرڼاڅخه ډيرزيات وباطنی رڼاته اړتياده نوپه ظاهره دخلګوداحال دی چي دنوروضروري مصرفونوولورته هيڅ توجه هم نه کوي له هغوئ څخه يې سترګې پټې کړې اوددې پرځای يې داهمت اوجرأت وکړچي دامربالمعروف اونهی عن المنکررنګه فريضه ترسره کوونکي علماء دوجودڅخه دي مسجدپاک کړل شي نوارشادوفرمايې چي په مسئوله صورت کې دمسجدپه آمدني ديني کتابونه رانيول اودفيض روسولوپه غرض عالم مقررول روادي ،که نه ؟

(۱۳۴۵/۳۹۴هج)

خواب : په موجوده صورت کې ددينې ضروري کتابونورانيول اوکوم عالم دوعظ اونصيحت دقرآنکريم دتفسيراودضروري مسئلودبيان اوفتوی ورکولو په غرض مقررول روابلکي ضروري دي ،ځکه چي دغه کاردمسجددمعنوي ودانولواودوقف کوونکې له غرض سره سم دی ،ځکه چي ښکاره ده چي دوقف کوونکې غرض همداوي چي دکوم کارلپاره ده وقف کړی دی هغه آمدني دې همېشه دهغه په بقاء اوترقي کې صرفوي اودآخرت دثواب حاصلېدل پرلپسې جاري وي: لان

قصد الواقف صرف الغلة مؤبدا ولاتبقى دائمة الابالعمارة۔۱ (شامی) اوله دې څخه څه مخکې په شامی کې راغلې دي قوله ثم ماهواقرب لعمارته ای فان انتهت عمارته وفضل من الغلة شئ يبداء بماهواقرب للعمارة وهوعمارته المعنوية التی هی قيام شعائره الخ ــ (۱) (شامی ۳/ ۳۷۲، کتاب الوقف) له دې څخه معلوم شولکه چې ظاهري ودانی دوقف ضروري ده اوپه دې سره دوقف بقاء متصوره ده دارازمعنوي ودانی هم اودشعائروقائمول هم ضروري دي اوښکاره ده چې دنوموړي عالم په وجودسره چې کومه ګټه ددغه مسجدولمونځ کوونکواونوروته رسيږي اودخلګودينې اړتياوي پوره کيږي هغه پټې نه دي په دې لمونځ کوونکودقرانکريم دترجمې اوتفسيراورول ،دلمانځه اونوروپه مسئلوپوښتنې کوونکې خبرول وسوالونوته جوابونه ويل اوددينې کتابونومطالعه کول له هغوئ څخه استفاده کول اومخلوق ته ګټه رسول دغه ټول کارونه دوقف کوونکې اودهغه مرسته کوونکولپاره دډيرلوئ اجراوثواب باعث دي اوداصدقه جاريه ده.

لنډه داچې ددې په رواکېدوکې په بيان شوې صورت سره (چې دوقف شوې جائداداآمدني له ضروري مصرفونوڅخه ډيره زياته ده) وهيڅاته شک نشي کېدای په دې کې دمسجدآبادي کومه چې معنوي ودانی ده حاصله ده دمسجدروښانتياوپه لمونځ کوونکوکې ترقې له دې څخه حاصل دي چې داټول له معنوي ودانولوڅه دي چې اړتيايې له پورتنې عبارت څخه څرګنده ده اودوقف کوونکې له غرض سره سم دی چې مراعات ساتل يې شرعًا لازم اوواجب دي کماصرف به فی الشامی ومراعاة غرض الواقفين واجبة فقط.

دمسجدمال په تعزيه اودرېيمه اونوروکې لګول روانه دي

سوال : (۲۰۴) په اوديپورکې دمعمارانودوه مسجدونه دي له تردر غو مسجدو نو لاندې څورلس ، پنځلس دکانونه دي چې دکاله نژدي يونيم زرروپی راځي له هغوئ څخه اندازه نېمه آمدني خوپه مسجدونوصرفيږي اوپاته نيمې روپی دقوم خلګ په تعزيه (ماتم) جوړولوکې صرفوي اودمحرم په درېيمه ډوډی پخه کړي دکورنی خلګ پرې خوروي دغه دوقف دمال روپی دکورنی لپاره خوړل روادي ،که نه ؟ (۳۰۰/ ۱۳۴۵هج)

(۱) الشامی (۳/ ۴۱۲ ـ ۴۱۳) کتاب الوقف . مطلب يبدا، بعد العمارة بماهو اقرب الهاط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب: دغه دکانونه پرمسجدوقف دي ددوئ ټوله آمدني بايد پرمسجدولګيږي په تعزيه اودمحرم په دربيمه کې ددې لګول يومخ حرام دي بلکه دغه زياتوب آمدني هم دمسجدلپاره ښوول پکاردي ترڅوپه آئنده کې دمسجدپه دکانونواو نوروکې ترقي وکړله شي يابل کوم مکان اونوررانيول شي دهغه کرايه په مسجدکې ولګول شي دکورنۍ خلګ خورول اودربيمه دشريعت په خلاف کې لګول ددې حرام اوناروادي فقط.

دمسجدپه آمدني دمسجدښکلا اونقشونه کول

سوال: (۲۰۵) دسهارنپوردجامع مسجدپرلويه دروازه چي کومې نقشې شوې دي په هغه دجامع مسجددجائدادله آمدني څخه خرچه شوې ده دغه مصرف په ناضروري ګڼلودسهارنپورزياتره مسلمانان خواشيني اوناخوښ دي داخرڅ روادی ،که نه؟ (۲۸۱۷/ ۱۳۴۰هج)

خواب: مسئله داده چي پخپل حلال مال داسي تکلفات کول صحيح دي اود وقف له مال څخه صحيح نه دي خوکله چي دوقف له آمدني څخه ډيرې روپۍ جمع شوې وي اودتعميراونوروپه ځيرضروري اړتيآووڅخه زياتوب وي نوصحيح دی کماصرح به فی الدرالمختاروالشامی (قوله الااذاخيف) بأن اجتمعت عنده اموال المسجد وهومستغن عن العمارة والافيضمنهاکمافی القهستانی عن النهاية ـــــا فقط.

دوقف په آمدني اوبه ګرمول

سوال: (۲۰۶) يوجائداددمسجدلپاره وقف دی خودوقف پانه وجودنلري له مخکې څخه دادکوزو،پوزيو، رڼا، دامام په تنخواه اواوبه ګرمولوپه انتظام کې لګيدي خواوس ځيني خلګ وايې چي په اوبه ګرمولوکې دوقف مال لګول روانه دي تاسوتفصيلې خواب راته وليکئ چي آياداصحيح دي ،که نه؟ (۷۸۷/ ۴۴- ۱۳۴۵هج)

خواب: داغلط دي دوقف په آمدني دمسجدبيان شوې ټولې اړتياوې پوره کول صحيح دي داوبوګرمولولپاره، سکاره اولرګي په دغه آمدني رانيول لکه چي له مخکې څخه جائزدي اوپه داسي حال کې چي دوقف کوونکې شرطونه معلوم نه وي داحکم دی چي لکه څرنګه له مخکې څخه صرفېدې هغه رازدي وکړل شي فقط والله تعالی اعلم.

(۱) الشامی (۱/ ۴۸۷) کتاب الصلوة، مطلب کلمة لاباس دليل علی ان المستحب غيره ط رشيديه.

دمسجد په روپوورځپانې اورسالي رانیول

سوال : (۲۰۷) دمسجد په روپودعامومسلمانانولپاره ورځپانې (اخبارونه) اورسالې رانیول ضحیح دي ،که نه ؟(۲۸۰۳/۱۳۴۰هج)

خواب : صحیح نه دي.

دمسجدداوقافودمقدمومصرفونه پرمسجددي ،که نه ؟

سوال : (۲۰۸) دمسجد دجائداددوصولولواولاس ته راوړلولپاره چې کومې مقدمې وي په هغوئ کې له قانون سره سم اوبې قانونه هرډول مصرفونه کیږي ببله ددې ددعوې په ګټلوکې ډیرمشکل پیښیږي دغه مصرفونه پرمسجدر اتلای شي ،که نه ؟(۱۴۸۷/۱۳۳۸هج)

خواب : دمسجدداوقافوپه اړه چې کومې مقدمې اونوروي دهغوئ خرڅې دي هم دغه داوقافوله آمدني څخه پوره کړلې شي په شامي کې راغلې دي مسجدله اوقاف مختلفه وولاباس للقیم ان یخلط غلتهاکلهاوان خرب حانوت منهافلا بأس بعمارته من غلة حانوت آخرلان الکل للمسجدولوکان مختلفًا لان المعنی یجمعهما الخ ـ۱ فقط.

دمسجدمال دمسجدپه مقدمه کې صرفول څرنګه دی ؟

سوال : (۲۰۹) ومسجداومسجدوالوته دتاوان رسولوپه غرض پرمسجددرو غودعوی وشوه اوس دمسجدد پیروي لپاره (کومه چې رښتینې ده) روپۍ نشته دیومعتبرلمونځ کوونکې سره دهمدې مسجدله مخکښ چندي څخه څه روپۍ امانت پرتې دي ددې په مقدمه کې صرفول دمسجددمخالفینوڅخه دڅان خلاصولولپاره شرعًا روادي ،که نه ؟(۱۳۴۹/۴۶-۱۳۴۷هج)

(۱) الشامی(۴۰۸/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی نقل انقاض المسجد ونحوه طرشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب: په اوس وخت دقرض په توګه دغه روپۍ صرف کېدای شي بیادې مسلمانان چنده وکړي دادې راجمع کړي کومې چې سوکه ، سوکه په هوسایې سره راجمع کېدای شي فقط والله تعالی اعلم.

دمسجدپه آمدني دمسجدګرشوې مځکه راخلا صول

سوال: (۲۱۰) دساهااوسېدوونکوڅه دکښت مځکه دکلې دمسجدلپاره وقف کړې وه سیدانودغه وقف شوې مځکه ددریوزروپه بدل ګروکړه اوس که دمسجدپه سرمایه کومه چې خوندي ده ګرومځکه راخلاصه کړله شي نوشرعًا رواده ،که نه ؟ (۱۳۴۳/۴۸۴هج)

خواب: دانښکاره خبره ده چې د[الوقف لایملک ولاملک ـ ۱] په حکم ددغې مځکې په ګرورکول روانه وواوکومې روپۍ چې په ګروورکوونکوپردې وا خستي هغه ددوئ په ذمه دي اوهم پردوئ لازم دي چې دغه روپۍ اداکړي ګرو مځکه راخلاصه کړه خوکله چې دانشي کېدای نوددغه وقف دراخلاصولولپاره دمسجدپه خوندي روپوګرومځکه راخلا صول اوددې مځکوآمدني په مسجد کې لګول صحیح دي فقط.

دمسجددودانۍ لپآره ورکړې روپۍ دمسجدپه نوروکارونوکې لګول

سوال: (۲۱۱) (الف) یوسړی دمسجددترمیم اوپوزیواونورولپاره روپۍ ورکړې هغه دمسجدپه نالۍ اودمسجدپه اړه په مکان کې لګول روادي ،که نه ؟

(ب) چې دمسجدتبل خرڅ کړواوبوګرمولولپاره لرګې رانیولای شي ،که نه ؟ (۱۳۴۳/۳۰۵هج)

خواب: (الف) دمسجددترمیم ، پوزیواونورولپاره چې کومې روپۍ راغلې دي اوخاص په مسجد کې ودې ته اړتیانه وي نودهغه دمسجدپه نالۍ اودمسجد په اړه دمکان په تعمیرکې لګول صحیح دي.

(ب) اودارازدزیاتوب تبل په خرڅولواوبوګرمولولپاره لرګې رانیولای شي فقط.

(۱) الدرمع الرد(۴۰۲/۳) کتاب الوقف ط رشیدیه.

دمسجدپه روپیودرانیول شوې دکان حکم

سوال : (۶۱۲) الله بخش دوصیت دپاڼې په وسپله وخپلې لوراوزوم ته داوصیت وکړچې دړې زره روپۍ دمسجدتیارولواووروسته دنوروکارونولپاره ودوئ دواړوته ددړې ایمانوپه مخکې اقرارلیکم چې که دغه دواړه نوموړې پورتنې شرطونه عملي نکړي نودکورنۍ دړې ایمان دې دلیک سره سم دړې زره روپۍ دمسجدبرخه پخپل اختیارولګوي دالله بخش لوراوزوم دوصیت ترسره کولو لپاره دکورنۍ ودړې ایمانوته روپۍ وسپارلې په دې موده کې کریم بخش ترجامع مسجدلاندې دیوه دکان درانیولوارادە وکړي (په دې غرض چې دغه دکان به دمسجدپه زینو(پوړیو) کې ورشامل کړل شي) اوهغه دوکان یې رانیوی خودحکومت له لورې دمنعې حکم ددې خبرې راغی چې دوکان دې په زینه کې ورګډنګړل شي ددوکان قیمت له وقف مال څخه اداکړل شوپه دې حالت کې دغه دوکان وقف بلل کیږي ،که نه ؟(۱۳۳۵/۹۵۳هج)

خواب : دغه دوکان خودمسجد دګټې لپاره دمسجدپه روپیورانیول شوی دی ،څکه نودغه دوکان پرمسجدوقف دی.

پربل وقف لګېدلې دمسجدمال ومسجدته بېرته ورکول ضروري دي

سوال : (۶۱۳) یوه ټوټه مځکه چې دمسجداوکمیټۍ په نامه رانیوله شوه مسجددخپلې برخې دوه زره روپۍ اداکړي اوپاته دوه زره روپۍ یې په بېلابېلو قرضواخستواداکړل شوې چې اداینه مسجدله خپل لورې وخت ناوخته تریوزر زیاته کړې ده اوس ټولې دړې زره روپۍ دمسجدله لورې اداشوې دي اونهه سوه روپۍ دخلافت فنډپاته دي اوس صرف په نهه سوه روپۍ کې دکمیټۍ غړې نیمه وبشل غواړي په دې کې شرعًا څه حکم دی ؟(۱۳۴۵/۱۴۷۰هج)

خواب : کله چې هغه ټوټه دمځکې دمسجداوکمیټۍ په نامه رانیول شوه نوکمیټۍ چې ددغې ټوټې نیمه وویشي یوکې مدرسه اونورجوړولای شي اوځو مره روپۍ چې دمسجدله لورې زیاتوب ورکول شوې هغه دې ومسجدته بېرته ورکړي فقط.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسجدپه روپیودمسجدلپاره مکان رانیول

سوال : (۲۱۴) یومسجددی چي دقبلې ولورته دپراخولوارتیالري نوددغه پراخو لوپه خای کې دیوه سړی کوردی هغه سړی وایې چي زمالپاره بل کورجوړکړئ نوبه زه له دې کوره ووزم آیادمسجد په روپیوددده مکان پورته کول اودده لومړی مکان په مسجد کې ورګډول صحیح دي ،که نه ؟(۱۳۳۵/۳۲۹هج)

خواب : صحیح دی فقط.

دمسجددونوزیاتوب آمدني داسلام په خپرونه اودفتنوپه مخنیوي کې لګول

سوال : (۲۱۵) دځینومسجدونوپه اړه داوقافوآمدني (عائد) دمسجدترارتیاوو ډیره زیاته وي په لکونوروپی جمع وي اوپه زیاتره ځایونوکې په فضولیاتو(بې فائدې) بلکي په نارواکارونوکې لګیږي دمسجدپه هغه وخت یاپه آئنده کې په ښکاره کومه ارتیانه وي اوزیاتره ځایونه داهم لیدل شوې دي چي په مسجدونو کې زیاتره لمونځ کوونکې نه وي یاډیرلږوي نوپه دې صورت کې دغه زیاتوب روپی داسلام په خپرونه اوداسلام په تبلیغ اودارتداددفتنودمخنیوي لپاره لګول روادي ،که نه ؟ اوداسي مدرسې قائمول کومې چي دمرتدکېدودفتنې دمخنیوي لپاره ضروري یاقائمې شوې مدرسې کومي چي داکارکوي یاهغوئ دارتداددفتنې دمخنیول اوداسلام په تبلیغ کې مرسته کوي دغه زیاتوب روپی وربانديي لګولای شو،که نه ؟ اودوقف کوونکې لپاره چي دغه روپی جمع وي ګتورې دي که دارتداددفتنې په مخنیوي کي زیاته ګټه اودثواب خبره کومه ده ؟ کله چي دغه دارتدادفتنه دجهل اوناپوهی په وجه راغلې ده اومسلمانان له دیني پوهې یومخ غافله روان دي په تېره بیاعواموډله په دوئ کې زیاتره داسي دي چي له اسلام اودیني ارتیاووڅخه هم ناخبره دي ودې ته سخته ارتیاده چي کوچنی مدرسې چي یکي صرف دلمانځه ،روژې اوددېیني ارتیاووتعلیم ورکول کیږي قائمې شي اواستاذان وټاکل شي چي په کلیوکې تعلیم ورکړي اوداسلام دخپرونې کارترواخستل شي که شریعت دزیاتوب روپیوپه دغه کارکې دلګېدواجازه وکړي نوپه اوس وخت ډیرې زیاتې روپی دمسلمانانوسره شته چي دوئ یې په دې کارکې په لګولوراضي دي په دې شرط چي علماء داسلام ددې اجازه وکړي داسلام مخالفین دخپل مذهب دخپرونې لپاره په لکونو روپی لګوي

اودمسلمانانوحال معلوم دی بل استاذان ، مبلغین (تبلیغ کوونکې) اومنتظمین دومره غنیان نه دي چې بېله عوضه دې داخدمت ترسره کړي بیاعرض دی چې کومې روپۍ دمسجدونودمتولیانوسره جمع دي که دوئ دغه روپۍ دنوروښارونوپه مسجدونوچې پکې اړتیاشته اوپه هغوئ کې لګول مخکې دي دغه زیاتوب روپۍ ونه لګوي اوپه دغوضرورتونو(یعنی داسلام په خپرونه اودارتداددفتنې په مخنیوي اونوروکې په لګولوراضي وي نوبیاپه دغواړتیاووکې لګول روادي ،که نه ؟بینواتوجروا(۲۷۸۵/۱۳۴۱هج)

خواب : په بیان شوې حالت کې دمسجدونوداوقافوزیاتوب روپۍ چې ورته نه اوس دمسجدونواړتیاشته اونه آئنده ګمان شته لکه چې دکلونو ،کلونوله لیدو اوتجربې څخه ښکاري داسلام په خپرونه اودارتداددفتنې په مخنیوي اود مسلمانانوپه پېښوکې لګول صحیح دي اوداسلام دشعائروپه قائمولوکې لکه مدرسې جوړول اوبقاء دمدرسوکومې چې دتبلیغ اوداسلام دخپرونې لپاره قائمې شوې وي یادي ددغه آمدني لګول صحیح دي اوکه څه هم دفقهې له قواعدواوروایتونوسره سم دیوه مسجدزیاتوب امدني کله چې هغه ددغه مسجدله اړتیاووڅخه ډیره زیاته وي اودهغه ځای په اعتباربېکاره وي تروسه پورې په نورومسجدونوکې لګول پکاردي خوکله چې داسي نه کیږي اودمسجدونومتولیان داسي نه کوي نوبیاپه بیان شوې دینې کارونواودوئ ته ورته کې لګول ددې دحدیثواودفقهې دروایتونواودمحقیقینوعلماؤله څرګند ونوسره سم صحیح دی بلکې دغه مصرفونه که رامخکې کړل شي نوداغراضو اومقصدونوپه اعتباربه لیرې خبره نه وي په فتح القدیرکې راغلې دي ولواجتمع مال للوقف ثم نابت نائبه من الکفرة فاحتیج الی مال لدفع شرهم قال الشیخ الامام (محمدبن الفضل) ماکان من غلبة وقف المسجد الجامع یجوز للحاکم ان یصرفه الی ذلک علی وجه القرض اذالم تکن حاجة للمسجد الیه۔۱

عن ابی وائل قال : جلست مع شیبه علی الکرسی فی الکعبة فقال : لقدجلس هذا المجلس عمر فقال لقدهممت ان لا ادع فیهاصفراء ولابیضاء الاقسمته قلت ان

(۱) فتح القدیر شرح الهدایة ۵/۴۵۰ کتاب الوقف ، الفصل الاول فی المتولی مطبوعة رشیدیه پاکستان.

Maktaba Tul Ishaat .com

صاحبیک لم یفعلاً قال : هما المرءان اقتدی بهما۔(۱) (بخاری شریف : ۲۱۷) وقال ابن الصلاح الامرفیهاای فی کسوة الکعبة کل سنة فیقسمهاعلی الحاج ۔ (۲) (عمدة القاری داشباه په حاشیه حموی کې راغلي دي: لایصرف القاضی الفاضل من وقف المسجد قیل ویعارضه مافی فتاوی الامام قاضی خان فی ان الناظرله صرف فائض الوقف الی جهات بربحسب مایراه الخ۔(۳)

نومعلوم شوچې په بیان شویومهم مصرفونوکې دذکرشویواوقافوآمدني صرفر فول دیادشوې اړتیاله امله صحیح دی اوددې وقرض بللوته هم اړتیانشته کله چې ودې ته په آئنده کې هم داحتیاج ګمان نشته اوهرکله چې دادول اسلامي اودینې اړتیاوې پېښې شي نودعلماء اودمسجددمتولیانوپه خوښه دغه آمدني په بیان شویومصرفونوکې صرفولای شي فقط والله تعالی اعلم.

تصویب : دمولاناا شرف علی تهانوی صاحب له خوا: جواب صحیح دی اودجواب ددغه جزاحتیاطادوهم ځل راګرځول ضروري دي چې عوام دي یوځای پربل ځای نه قیاسوي کله چې داسي پېښه وشي نوله علماؤځخه دي هغه حکم پوښتنه کوي : لیکوونکی اشرف علی استوګن په دهوبند کې.

دمسجدونوداوقافوآمدني دمسلمانانوپه پېښو، جګړواومرسته کې صرفول

سوال : (۲۱۲) بسم الله الرحمن الرحیم: څه وایې ددین علماء اومفتیان دشرع متین ددې مسئلې په هکله چې یومسجددی چې پکې روپۍ وقف دي اوددې دوقف صورت داسي دی چې وقف کوونکي په یوه کمپنۍ کې برخه واخسته وقف یې کړه چې دمیاشتې آمدني یې جمع کېده سوکه ، سوکه هغه له اصل ځخه زیاته شوه یادهغه سره برابره یاکمه شوه په داسي حالت کې خاص ودغه مسجدته

(۱) الجامع الصحیح للبخاری ۱/ ۲۱۷ ،باب کسوة الکعبة ،کتاب المناسک.

۔۲ وقال ابن الصلاح الامرفیهاالی الامام یصرفه فی مصارف بیت المال بیعا وعطاءً واحتج بماذکره الازرقی ان عمرکان ینزع کسوة البیت کل سنة فیقسمهاعلی الحاج (عمدة القاری ۹/ ۲۳۷کتاب المناسک ،باب کسوة الکعبة مطبوعة رشیدیه باکستان)

(۳) شرح الحموی علی الاشباه والنظائرمخ، ۱۴۸القاعدة الخامسة من الفن الاول تصرف الامام علی الرعیة منوط بالمصلحة.

اودهغه ځای ونورومسجدونوته حالااړتیانه وي بلکي په آئنده کې هم ترډیرې مودي ارتیانه معلومیږي که دغه زباني برخي (کومې چې له اصلوبرخوځخه زیاتي شوې دي) خرڅې کړوپه هغه مهم کاریعنی دبلقان دجګړې ترکي زخمیانو، یتیمانو اوکونډواودترکي لښکرپه مرسته کې یې صرفې کړونوپه محمدي شرع کې روادی ،که نه ؟ دارنګه دمسجدپه نوم کوم خاص جائدادوقف نشته بلکي دکمپنۍ هغه برخې کومې چې مشترکي وي وقف دي حالاچې دآمدني کومې روپۍ دي دهغوئ په دې کارکې ورکول روادي که داصل وقف په آمدني چې کومې برخې رانیول شوي هغه خرڅې کړوپه دې کارکې یې ورکول روادي ؟ یادواړه صورتونه روادي یاناروا؟ بینواتوجروا(۱۹۸۷/ ۲۹-۱۳۳۰هج

خواب : په پوښتل شوې صورت کې دبیان شوې وقف زیاتوب آمدني دیادې شوې ځګړې دزخمیانواویتیمانوپه مرسته کې صرفول شرعًا صحیح اوجائزدي اوهغه برخې کومې چې وروسته دوقف شوې په آمدني رانیول شوې دهغوئ خرڅول اوپه هلال احمر(سره میاشت) کې دچندې صرفول هم صحیح دي.

دحدیثواوفقهې روایتونه په دې اړه رانقل شوې دي له ځینوځخه معلومیږي چې دمسجدداوقافوله آمدني ځخه چې کوم څه دمسلمانانوپه پښنوا وجګړوکې صرف کړل شي هغه باید دقرض په توګه وي اوله ځینوروایتونوځخه معلومیږي چې دقرض له قیده پرته صحیح دي.

نوکله چې دومره اندازه روپۍ دیادشوې وقف له آمدني جمع شوې دي چې ورته مسجدنه حالاکوم حاجت لري اونه مآلا ورته اړتیامعلومیږي اودزخمیانود مرستې اړتیاچې په اوس وخت څومره مهمه اوضروري ده هغه پته نه ده په داسي حالت کې ببله ددې چې صرف کړل شوي روپۍ قرض وبلل شي دغه آمدني دترک دجنګ دزخمیانوپه مرسته کې صرفول جائزبلکه ضروري دي په فتح القدیرکې راغلې دي ولواجتمع مال الوقف ثم نابت نائبة من الكفرة فاحتيج الى مال لدفع شرهم قال الشيخ الامام محمدبن الفضل ماكان من غلة وقف المسجد الجامع يجوزللحاكم ان يصرفه الى ذلک على وجه القرض اذالم تكن حاجة للمسجد اليه ـ۱ عن واصل عن ابى وائل قال قال جلست مع شيبة على الكرسى فى الكعبة فقال لقد جلس هذا المجلس عمر فقال لقد هممت ان لاادع فيهاصفراء ولابيضاء الاقسمته

(۱) فتح القدیر۵/ ۴۵۰کتاب الوقف ، فصل الفصل الثانی فی الموقوف علیه مطبوعة المكتبة النورية الرضوية باكستان.

Maktaba Tul Ishaat. com

قلت ان صاحبیک لم یفعلا فقال هماالمرآن اقتدی بهما ـ(۱) (بخاری شریف : ۱/ ۲۱۷) وقال ابن الصلاح الامرفیها(ای فی کسوة العکبة) الی الامام یصرفه فی مصارف بیت المال بیعًاعطاءً احتیج بماذکره الازرقی ان عمررضی الله عنه کان ینزع کسوة البیت کل سنة فیقسمهاعلی الحاج ـ۲(عمدة القاری ۴/ ۲۰۴) داشباه په حاشیه حموي کي راغلی دي : لایصرف القاضی الفاضل من وقف المسجد قیل ویعارضه مافی فتاوی الامام قاضی خان فی ان الناظرله صرف فائض الوقف الی جهات بربحسب مایراه الخ ـ ۳) (القاعدة الخامسة من الفن الاول ۱/ ۱۲۰ مصری)

له دغوعبارتونوڅخه څرګندي چي په موجوده اړتیاووکې یعنی دترک دجګړې دزخمیانواویتیمانوپه مرسته کې دمسجدداوقافودغه زیاتوب آمدني چي مسجدنه ورته حالااړتیالري اونه یې په آئنده کې ګمان شته صرفول روادي اوکوموفقهاؤچي داقیدلګولی دی چي په نوائبواوپېښوکې دې په قرض ورکول شي دهغه منشاء داده چي که کوم وخت ددغه مسجدڅه اړتیاپېښه شي نوداروپی دې بیرته واخستل شي په مسجدکې دصرفې کړل شي خوکله چي آمدني ددغواوقافوهمېشه دومره وي چي که بالفرض په آئنده کې ددې مسجدکوم حاجت وي نودآئنده آمدني دهغه لپاره کفایت کوي نوبیاودغه صرف کړل شوېوروپوته دقرض ویلوړتیانشته لکه چي دبخاری ، عمدة القاری اودحموي دعبارتونو منشاده والله تعالی اعلم لیکوونکی عزیزالرحمن عفی عنه دمدرسي عربیې دیوبند مفتی.

الجواب صحیح : بنده محمدعفی عنه الحواب صواب محمدانورعفی الله عنه ددارالعلوم دیوبندمدرس.

دمسجدزیاتوب آمدني دماشومانوپه زده کړه یاتبلیغ کې لګول

سوال : (۲۱۷) په شمله کې یوه کمېټی ده دهغه اراکین (غړې) داکوشش کوي چي کوم مسجدونه داسي دي چي آمدني یې کفایت کوي اوڅه روپی پاتیږي دغه زیاتوب روپی که په نوروکارونویاپه کوم مکتوب کې دناوسوماشومانوپه زدکړه اوتبلیغ اونوروکې ولګووآیادمتولي لپاره زیاتوب آمدني په داسي کارونوکې لګول صحیح دي ،که نه ؟ (۷۳/ ۴۲ ـ ۱۳۴۷هج)

(۱) صحیح البخاری ۱/ ۲۱۷ کتاب المناسک ،باب کسوة الکعبة.
(۲) عمدة القاری ۷/ ۱۲۲ کتاب الحج ،باب کسوة الکعبة ، مطبوعة زکریادیوبند.
(۳) حاشیة الاشباه والنظائر للحموی ص: ۱۴۸ ، مطبوعة نول کشورلکنو.

ځواب : دمسجد وبوچي کومه آمدني وي هغه دهماغه مسجدله اوقافو څخه وي دغه آمدني بايد په همدې مسجد کې ولګول شي فقهاؤځرګندونه کړې ده چې ترڅوهغه مسجدآبادوي ويران شوی نه وي ترهغه دهغه آمدني په کوم بل مسجد کې لګول صحيح نه دي اوپه کومه مدرسه اومکتب کې دهغه لګول صحيح نه دي اونه په کوم قامي کاراوتبليغ کې يې لګولای شي په درمختارکې راغلې دي : اتحدالواقف والجهة وقلّ مرسوم بعض الموقوف عليه بسبب خراب وقف احدهما جازللحاکم ان يصرف من فاضل الوقف الآخرعليه وان اختلف احدهمابأن بنی رجلان مسجدين أورجل مسجداومدرسة الخ لايجوزله ذلک الخ۔۱ ښکاره ده چې دلته دوهم صورت دی کوم چې داختلاف دی ،ځکه نوپه دې کې ديوه وقف آمدني په بل وقف کې لګول صحيح نه دي فقط.

دمسجدپه زياتوب روپوځاه تيارول

سوال : (۲۱۹) دراندیرپه مسجدکې درنااسباب ترکافي کېدوزيات دي خوپه دغه مسجدکې ترحدزياته آمدني شته چې په آئنده کې دبې ځايه مصرفېدواند ښښنه ده ،ځکه متولي اراده لري چې درنايوه برقي انجن اوبرقي پنکې راوغوښتل شي داروادي ،که نه ؟(۳۲/۳۳۵-۱۳۳۳هج)

ځواب : دهوااورنابندوبست دمسجدله اړتياووڅخه دی اودمسجدله آمدني څخه ترحدزياتې روپۍ شته چې که صرفې نکړلې شي نودضائع کېدواوبې ځايه دلګېدووېره ده ،ځکه نوپه دغوروپيودهوااورنالپاره دبرقي انجن انتظام کول صحيح دي په هغه صورت کې

(۱) الدرمع الشامی(۴۰۸/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی نقل انقاض المسجد و نحوه ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat .com

چې دمسجددمال دضائع کېدواوبې ځایه صرفېدواندېښنه وي فقهاؤځینې ناضروري شیان بلکې فضولیات مثلا دمسجد په نقش کې صرفول رواکړي دي نوپه یادشویواړتیاووکې په اولی درجه صرفول صحیح دي وضمن متولیه لوفعل النقش اوالبیاض الااذاخیف طمع الظلمة فلابأس به کمافی الدرالمختار (وقوله الا اذاخیف) الخ بأن اجتمعت عنده اموال المسجدوهومستغن عن العمارة والا فیضمنهاکمافی القهستانی عن النهایة۔۱ (شامی ۱/۴۴۲)

خواب : هیڅ ضرورت دحاکم واجازې ته نشته ،دمحلې انصاف داره خلک او متولیان دغه کارکولای شي فقط.

دمسجدپه زیاتوب آمدني مدرسه جوړول

سوال : (۲۲۰) دمسجدآمدني (عائد) دومره زیاته ده چې حالااوپه آئنده کې ورته اړتیانشته اودضائع کېدووېره یې ده په دغه آمدني که مدرسه جوړه کړل شي نودحاکم واجازي اومنظوري ته اړتیاشته ،که نه؟ (۱۱۸۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

دمسجدپه زیاتوب آمدني مدرسه قائمول

سوال : دیوه شاهی مسجدله اړتیاووڅخه دومره روپۍ زیاتیږي چې په یوه عربي مدرسه چلېدای شي اوبیاهم زیاتیږي اوپه همدې فکرهغوڅارکوونکوپه دې مسجدکې یوه عربي مدرسه قائمه کړه چې دښاروالوله لورې انتخاب شوې دي خودوقف کوونکې شرطونه یومخ معلوم نه دي په دې صورت کې ددوئ دافعل روادی ،که نه ؟ اوپه آئنده کې داسي مدرسه قائمه ساتل کېدای شي ،که نه ؟ (۳۲/۴۹۳-۱۳۳۳هج)

خواب : ددغوممبرانو(غړیو) دافعل روادی اوپه ظاهره دوقف کوونکې دغرض په خلاف نه دی اوکله چې آمدني ددغه مسجدمسجدله اړتیاووڅخه دومره زیاتوب ده چې دمدرسې له مصرفونوروسته هم زیاتیږي اودمسجدپه اړتیاوو کې تنګي نه راځي نوپه داسي حال کې که دغه زیاتوب آمدني په دیني مدرسه کې ونه لګول شي نوددې دضائع کېدویابې ځایه دلګېدواندېښنه ده ،ځکه نواجراء کول ددې مدرسې اوپه آئنده کې قائم ساتل ددې روابلکې

(۱) الدرالمختاروردالمحتار(۱/ ۴۸۷) کتاب الصلوة ، مطلب کلمة لابأس دلیل علی ان المستحب غیره الخ ط رشیدیه.

ضروري دی فقط.

سوال : (۲۲۲) دیوه مسجدداوقافوآمدني دومره ده چې دهغه له ضروري اړتیاوو بلکې بیلابیلې ناضروري هم په ښه ډول پوره کیږي اوبیاهم زیاتوب روپۍ وي ددې مسجدمتولي زړه داغواړي چې یومذهبي درس ځای چې پکې صرف ددین زدکړه وي قائم شي اوهغه زیاتوب روپۍ ددغې مدرسې په اړتیاووکې ولګول شي نوآیادمسجدزیاتوب روپۍ په دیني مدرسه کې خرڅول صحیح دي ؟ (۱۴۴۶/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : کله چې به هغه مدرسه ددې مسجدپه اړوندوي اودمسجداوقافوآمدني دومره زیاتوب ده چې دمسجدله مصرفونوڅخه ډیره زیاته ده اوامکان لري چې یووخت به یې څوک وخوري ،ځکه ددې مسجدپه اړه دقرآن ،حدیثواوفقهې دزدکړې لپاره مدرسه قائمول صحیح دي ،ځکه چې دوقف کوونکې دغرض په خلاف دانه دي اودزیاتوب آمدني له ضایع کېدوڅخه غوره دادی چې دخیرپه کارکې ولګیږي وقدصرح الفقهاء ان مراعاة غرض الواقفین واجبة (الشامی ۳/ ۴۲۴کتاب الوقف) وانه یفتی بکل ماهوانفع للوقف۔۱(درمختار، شامی).

سوال: (۲۲۳) که دکوم مسجدداوقافودومره آمدني وي چې دهغه له مصرفونوپوره کېدووروسته دومره زیاتیږي چې په زرګونووي اودمسجدورته اړتیانه وي اووقف کوونکی دامام ،مؤذن اونورولە خرڅوپرته په کوم بل دخیرپه کاري دصرفولولپاره امراونهی هم نه وي کړې نواوس په دغه سرمایه دبل مسجدترمیم کول یااسلامي مدرسه روانول روادي ،که نه ؟(۱۲۸۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : په داسي حال کې چې سرمایه ددغه مسجددومره زیاته ده چې ددې مسجدنه ورته حالا ضرورت شته اونه په آئنده کې ګمان ددې شته نودبل په ترمیم کې ددې لګول صحیح دي اودارازدیني مدرسه جاري کول په دې صحیح دي ،ځکه چې دوقف کوونکې دغرض مراعات ساتل لازم دي اوښکاره ده چې غرض دوقف کوونکې کوم چې ثواب دی په دې صورت کې په احسنه طریقه حاصل دی فقط.

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۴۰) کتاب الوقف، مطلب سکن المشتری دارالوقف ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسجدپه آمدني دمسجددمدرسې پوراداکول

سوال : (۲۲۴) دجامع مسجد متولي زيددکلې دعامومسلمانانوپه ګډون يوه ودانۍ رانيوله په هغې کې يې اسلامي مدرسه جاريه کړه ، وروسته دمدرسې ودانۍ وجامع مسجدته وقف کړه په حکومت کې يې رسمي کړه وروسته دمخکې له مالک سره دمدرسې دمخکې په هکله څه جګړه وشوه چې پکې څه روپۍ په پورواخستل شوې دمخکې له مالک سره يې روغه وکړه پوښتنه داده چې دجامع مسجدله دوکانونوڅخه که متولي دمسلمانانوپه اجازه دغه پور اداکړي نوروادی ،که نه ؟ (۲۰۸/ ۱۳۴۳هج)

خواب : کله چې دغه مدرسه دجامع مسجدله اوقافوڅخه شوه نوددغه جامع مسجددوکانونودکرايې په روپودغه پوراداکول روادي خوپه دې کې اختلاف دی ،ځکه زيات احتياط دادی چې جلا چنده وکړي پورپه اداکړي قال فی ردالمحتار مسجدله اوقافومختلفة لابأس للقيم ان يخلط غلتهاکلهاوان خرب حانوت منهافلابأس بعمارته من غلة حانوت آخرلان الکل للمسجدولوکان مختلفالان المعنی يجمعهماآه ومثله فی البزازية تأمل۔۱ (شامی) فقط.

دمسجدروپۍ پرمدرسه لګول

سوال : (۲۲۵) دمسجدپه غولې کې دشمال پرلوريوحوض دی اودحوض وارخ ته دشمال پرلوربيت الخلاء (تشی) اوغسل خانې اونوردي دبيت الخلاء ، غسل خانوانوروپربام باندي يومتولي پخپل نوم يوه مدرسه قائمه کړه نورو متوليانوڅه ورته ونه وويل ، منع يې ونکړه نژدې له پنځوکلونوراهيسي دامدرسه جاري ده اوورځ په ورځ پرمخ تله تردې چې دعربي کتابونواستاذانوپر مسجدسربېره درس ورکاوی له دې وروسته يې دتالاب پرنيمه برخه بام جوړکړ په مدرسه کې يې داخل کړدمسجدزړې سرتنجي په مدرسه کې استعماليږي اودارازدمدرسې ترميم يعنی مات چت اودېوالونه اونورسپينول اورنګ ، دبيت الخلاء اوغسل خانونلونه اوداوبوڅښلومنګيان داټول اودرنامصرف داټولې خرچې دمسجدله روپوداصل متوليانوپه موجوديت کې جاري وي اودی اوس دغه مدرسه دخرڅ دنه کافي (بس) کېدوله املـه

(۱) الشامی (۴۰۸/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی وقف المنقول تبعاللعقارط رشيديه.

نژدي ونړېدو ته ده مسجد ډيرې روپۍ لري آمدني يې ترخرڅ ډيره زياتوب ده آيا دغه مسجد روپۍ پردغه مدرسه باندي بهله قرض لګولای شي ،که نه ؟ که بهله قرض نشي لګولای نوپه قرض يې وربانديې لګولای شي ،که نه ؟ (۱۷۱۷/ ۱۳۴۰هج)

خواب : په دې صورت کې له روايتونومعلوميږي چې زياتوب آمدني دمسجدپرمدرسه اونورودخيرپرکارونودې په قرض ولګول شي اوله ځينې روايتونوڅخه معلوميږي چې بهله قرض وربانديې لګول هم صحيح دي قال الشيخ الامام (محمدبن الفضل) ماكان من غلة وقف المسجد الجامع يجوزللحاكم ان يصرفه الى ذلک على وجه القرض اذالم تكن للمسجد حاجة اليه الخ (۱) (فتح القدير) اوداشباه په شرح حموي کې دي قال بعضهم الذى فيمالايصرف القاضى الفاضل من وقف المسجدوقيل ويعارضه مافى فتاوى الامام قاضيخان فى ان الناظرله صرف فائض الوقف الى جهات برحسب مايراه (۲) دحموي له دغه عبارت څخه څرګندديې چې دمسجدزياتوب آمدني دخيرپه کارونوکې بهله قرض هم صرفول صحيح دي فقط.

دمسجدپه روپودمسجداړونه مدرسه ترمېمول

سوال : (۲۲۲) دجامع مسجددجنوب ولورته دهوال مات کړڅه نوره مځکه يې په ګډه کړه اودهغه نوم يې مدرسه کښنوددمسجدتول سامان په همدې مدرسه کې ښوول کيږي اوښځې په همدې کې دجمعې لمونځ اداکوي دمسجدپه روپوددغې مدرسې ترمېم کول روادي ،که نه ؟ (۲۰۴/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

خواب : کومه مدرسه چې دمسجداړونده ده اودمسجددمصلحتونولپاره ده دهغې تولې خرڅې هم دمسجددوقف په اړونددي ،ځکه نودمسجدپه سرمايه ددې ترمېم کېدای شي اوهمدغه حکم دڅاه اواستنجادڅايونوهم دی فقط.

---

(۱) فتح القدير شرح الهداية ۵/ ۴۵۰، كتاب الوقف ،الفصل الاول فى المتولى چاپ رشيديه پاكستان.

(۲) شرح الحموى على الاشباه والنظائرمغ ۱۴۸القاعدة الخامسة من الفن الاول، تصرف الامام على الرعية منوط بالمصلحة.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسجدروپۍ وامام ته په قرض ورکول

سوال: (۲۲۷) دیوه مسجدآمدني دمسجدمتولیانوزیداوبکربېله سوده په بېنک کې جمع کړې دي زیدوپنځه سوه روپوته اړتیالري اوشل روپۍ به دمیاشتې اداکوي که په دې مینځ کې دمسجدکوم دول اړتیاپېښه شي نوان شاء الله سمدستي به انتظام وکړي پاته روپۍ به اداکړي اوزیدبه خپل جائدادپه حکومت کې ورولیکي ترڅودمسجدروپۍ تلفی نشي داصورت روادی ،که نه ؟ (۲۲۴۱/ ۱۳۴۳هج)

خواب: دفقهې په کتابونوکې دوقف مال په قرض ورکول روانه دي لیکلې خوکه متولیان پخپله ذمواري قرض ورکړي اوپخپله دقرض دادینې ذموارو اوجائدادپه حکومت کې ورولیکي چې دمسجدروپودضائع کېدووېره نشي پاته اوبیایې اداهم کړي نوامیددی چې دابه رواوي اومتولیان به ګنهګارنه وي لکه چې په شامي کې راغلې دي: للمتولي اقراض مال المسجدبأمرالقاضی الخ (۱) نوپه اوس زمانه کې خوقاضی نشته ،ځکه دجائدادپه وسېله دې اطمینان وکړل شي فقط.

سوال: (۲۲۸) دیوه مسجدروپۍ جمع دي له هغه ځخه دمسجدامام وروپوته اړدی که دی خپل مکان مسجدته په ګروورکړي اوروپۍ واخلي اودامام له تنخواځخه میاشت په میاشت داپورپرې کیږي په څه موده کې به دمسجدروپۍ هم اداشي اودامام مکان به هم وساتل شي هغه مکان دیوه هندوسره ګرودی دلته ټول خلک داغواړې چې دمسجدروپۍ ورکړي مسجدپخپل نامه مکان ګروکړي دارواډي ،که نه؟(۲۴۲/ ۱۳۴۳هج)

خواب: په داسي صورت کې که دمسجدمتولیان ونومورې امام ته دمسجدله جمع شویوروپوځخه قرض ورکړي په داسي طریقه چې دمسجدروپوضائع کېدواندېښنه نه وي نوپه دې کې دجوازګنجائش شته اوس قرض ورکړي بیایې دامام له تنخواځخه میاشت پرمیاشت کاټوي اوداطمېنان لپاره دده مکان ګروکړي فقط.

(۱) الشامی (۴/ ۳۷۹) کتاب القضاء، مطلب للقاضی، اقراض مال الیتیم ط رشیدیه.

دمسجدروپی وکوم عزتمن مسلمان ته په قرض ورکول

سوال : (۲۲۹) دمسجدونوداوقافوروپی په حکومتي خزانه کې خوندي دي اوځومتولیان وربانديي مقرردي آیادغه روپی کوم عزتمن مسلمان دضامن او اطمینان ورکولووروسته دمتولیانوپه اجازه په قرض (پور) اخستلای شي ،که نه ؟ (۱۵۹۲/ ۱۳۴۳هج)

خواب : داوقافودآمدني روپی دمتولیانولپاره په قرض ورکول صحیح نه دي دفقهي په کتابونوکې همداسي لیکلې دي اوکه کوم متولي قرض ورکړي نوهغه ذمواردد دوصولودی اوکه یې بیرته ورنکړي نومتولي به له ځانه اداکوي فقط

دمسجدپه روپودعاموخلکودفائدې لپاره رسی ،سولاغه اونورانیول

سوال : (۲۳۰) دمسجددځاه لپاره رسی ، سولاغه دمسجدپه روپودعاموخلکو داستفادې لپاره رانیول روادي ،که نه ؟ یعنی دمسجدروپی صرف دمسجدپه اړتیاووکې لګیدای شي که عام خلک هم استفاده ځیني کولای شي ؟ (۲۴۲۲/ ۱۳۴۰هج)

خواب : دمسجدروپی خاص بایددمسجدپه اړتیاووکې مصرف شي ، اماکلپوال که له ځانه سولاغه اورسی یادهغوئ قیمت په مسجدکې ورکړي په دې غرض چې په مسجدکې هم په کارراځي اوعام خلک هم ځیني استفاده کوي نوداصحیح دی فقط.

په مسجدکې دنل لګولوپه غرض دورګډیوروپوپه مسجدکې دوکان جوړول

سوال : (۲۳۱) یوسړی ښه ډیرې روپی په مسجدکې دنل لګولوپه غرض ورکوي اوداوعده کوي چې دغه روپی دې صرف په دې کارکې ولګول شي که نوره اړتیاشي نوزه پخپله په دې کارکې چې ځومره لګیږي نوري ورکوم خوبل سړی په دغه روپودبرې رانیسي مسجدماتوي په یودوکان جوړولودغه صرفوي آیاداډول تصرف دوکیل لپاره کول روادي ،که نه ؟ (۲۲۲۵/ ۱۳۳۷هج)

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : دغه روپۍ ددوکان پرجوړولوصرفول صحیح نه دي (۱) اومسجدماتول پکي دوکان جوړول هم روانه دی کذافی الدرالمختاروالشامی (۲) فقط.

دمسجدروپۍ خوړل

سوال : (۲۳۲) یوسړی دمسجدروپۍ وخوړي دده په هکله څه حکم دی اودغه سړی دجامع مسجدممبر (غړی) کېدای شي ،که نه ؟ (۱۸۹۸/ ۱۳۳۸هج)

خواب : دغه سړی چي کومې روپۍ دمسجدخوړلې دي هغه دده په ذمه دي ددې اداکول پرده لازم دي اوداسي سړی دممبراومتولي جوړېدوورنه دی فقط.

دمسجدپرآمدني زکوة واجب نه دی

سوال : (۲۳۳) دمسجدپرروپوزکوة شته ،که نه ؟ (۲۰۰/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب : دمسجدپرروپوزکوة واجب نه دی ،ځکه چي دزکوة واجبدولپاره ملکیت شرط دی اودابنکاره ده چي ددغوروپوکوم مالک نشته.

دمسجدروپۍ له خائن څخه اخستل وامانتداره سړی ته يې ورکول

سوال : (۲۳۴) څومسلمانانوپه امانتدارګڼلويوسړی دمسجدمتولي جوړکړی ووکله چي له ده څخه دمصرفونوحساب وغوښتل شونوده له حساب ورکولو څخه ډډه وکړه اودمسجدله روپوورکولوڅخه يې انکاروکړکه دی له غوښتلووروسته دمسجدروپۍ ورنکړي نودحکومت په وسیله ورڅيني اخستل اوکوم امانتدارسړی ته سپارل روادي ،که نه ؟ (۱۹۷۳/ ۱۳۳۸هج)

---

(۱) شرط الواقف کنص الشارع (الدرمع الرد(۳/ ۴۵۲) کتاب الوقف ، مطلب فی قولهم شرط الواقفین کنص الشارع ط رشیدیه.

(۲) وبه علم ان الفتوی علی قول محمدرحمه الله فی آلات المسجد وعلی قول ابی یوسف رحمه الله فی تأبید المسجد (الدرمع الرد(۳/ ۴۰۷) کتاب الوقف ، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه)

خواب: بېشکه چې څرنګه کېدای شي دمسجد هغه روپۍ له ده څخه واخلئ دکوم بل امانتدار سړی سره يې کېږدئ فقط.

دامانتدار هندوسره دمسجدروپۍ ښوول څرنګه دي؟

سوال: (۲۳۵) دامانتدار هندو سره دجامع مسجدروپۍ ښوول روادي ،که نه ؟ (۸۴۶/ ۴۶ - ۱۳۴۷هج)

خواب: پرهندوکه اطمېنان وي نوله ده سره هم دمسجدروپۍ ښوول صحيح دي اوکه په وجه دتعصب اوضدکوم چې په دې زمانه کې دهندوانو دمسلمانانو دمذهب اومذهبي کارونو سره دی له ده څخه واخلي دکوم امانتدارمسلمان سره يې کېږدي نودازيات مناسب دي لنډه داچې داکارهم دحاکمانوپه وسېله بايدوشي ترڅودمسجدروپۍ ضائع نشي فقط.

دمسجددتعمېرروپۍ دمدرسې پرتعمېرلګول

سوال: (۲۳۶) (الف) يوسړی څه روپۍ دمسجددودانولولپاره اېښې دي خوپه دې کلي کې دارتياپه اندازه مسجدونه شته اوپه دې کلي کې انګريزي ښوونځی له څه مودې شته هغه دخلګوعقېدي ورخرابي کړي دي له دوو، درېيو کلونوراهيسي مدرسه عربيه قائمه شوې ده خوتراوسه دمدرسې عربيه ودانۍ جوړه شوې نه ده په دې صورت کې که هغه روپۍ دکوم چې په مسجد کې دصرفولو اراده ده دمدرسې په ودانولوکې صرفې کړونوڅه پرواخوبه نلري ؟ اوپه دې کې به زيات ثواب وي که دمسجدپه ودانولوکې ؟

(ب) که دمسجددودانولويې نذرمنلی دی نوبياحکم بدليږي ،که نه ؟ (۱۰۱۷/ ۱۳۴۰ هج)

خواب: (الف) په دې کې هيڅ پروانه معلومېږی اودثواب زياتوب داخلاص اوحاجت له زياتوب سره اړه لري: انماالاعمال

Maktaba Tul Ishaat.com

بالنيات ولكل امرئ مانوى الحديث(۱)

(ب) بياهم څه حكم نه بدليږي داله هغو كارونو څخه نه دى چې نذريې لازم اوواجب الاداء وي(۲)

(۱) عن عمربن الخطاب رضى الله عنه يقول: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: انماالاعمال بالنيات وانمالامرئ مانوى فمن كانت هجرته الى دنيايصيبهااوالى امرأة ينكحهافهجرته الى ماهاجراليه (صحيح البخارى ۱/۲ باب كيف كان بدء الوحى)

(۲) قال فى الشامى: وفى البدائع ومن شروطه ان يكون قربة مقصودة فلايصح النذربعيادة المريض وتشييع الجنازة والوضوء والاغتسال ودخول المسجدومس المصحف والاذان وبناء الرباطات والمساجدوغيرذلک وان كانت قريبا الاانهاغيرمقصودة اه (ردالمحتار(۳/ ۷۳) كتاب الايمان، مطلب فى احكام النذرط رشيديه)

دمسجددزړواوماتوشیانوبیان

دامام لپاره دمسجدقرآنکریم کښېښودل اوزیاتوب قرآنونه ومدرسوته ورکول یاخرڅول چې قیمت یې په مسجدکې صرف کړي .

سوال : (۲۳۷) په دې ملک کې درواج دی چې کله کومه پېښه مثلا ناجوړي اونوروي نوعمومًا دصدقواوخیراتونوڅخه پرته قرآنکریمونه هم ومسجدته وقف کول کیږي اوامام هغه دڅان سره ږدي وچاته یې دویلولپاره نه ورکوي اوس ډیرقرآنونه جمع شوې دي اوس ددې ارتیادالله رب العزت په فضل سره ومدرسوته هم نشته دغه قرآنونه کښېښودل شي که ولیري مدرسوته وقف کړل شي که یې خرڅ کړو ، قیمت یې دمسجد په مصرفونوکې ولګوو؟ (۳۲/۲۷۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب : کوم قرآنکریم چې کوم مسجدته وقف کړل شي دهغه بل ځای ته نقلول صحیح نه دي اوامام ته دااختیارنشته چې دمسجدولمونځ کوونکوته یې دویلو لپاره نه ورکوي ،ځکه چې په دې صورت کې دوقف کوونکې غرض فوتیږي هغه داچې نالوستې اووقف کوونکې ته ثواب ورسیږي که امام ځوک وویلوته نه پرېږدي نوګنهګاریږي هوددې حفاظت ضرورکوئ داسي نه چې په الماري کې بند کړي قلف ورولګوي اوددغوقرآنونوخرڅول هم روانه دی ،ځکه چې داستفادې وړدی کمافی الشامی (۳/ ۳۷۲) لووقف المصحف علی المسجدای بلا تعیین اهله یختص بأهله المترددین الیه (۱) وفیه : یستوی فی الانتفاع به الغنی والفقیر(۲) وفی : ص : ۳۸۲نقلا عن فتح القدیر: واعلم ان عدم جوازبیعه الااذاتعذرالانتفاع به انماهوفیمااذاوردعلیه وقف الواقف (۳) له دغوعبارتو نو ځخه ځرګندشوچي دقرآنکریم

(۱) الشامی (۳/۴۱۲) کتاب الوقف مطلب فی نقل کتب الوقف من محلهاط رشیدیه.
(۲) الشامی(۳/۴۱۱) کتاب الوقف ، مطلب فی حکم الوقف علی طلبة العلم ط رشیدیه.
(۳) الشامی(۳/ ۴۱۹) کتاب الوقف مطلب فی الوقف اذاخرب ولم یکن عمارته ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

نقلول یا خرڅول دوقف په صورت کې روانه دی فقط.

دمسجد په نامه وقف شوې کتابونه مدرسې ته ورکول

سوال: (۲۳۸) یوه سړی په یوه کلي کې یوخاص مسجد ته خپله کتب خانه وقف کړه نوروته یې هم ترغیب ورکړهغوئ دثواب کارپه بللوکتابونه پکې داخل کړل خودهغه ځای اوسیدوونکې دومره خواننده (لوستي) اوکتاب کتوونکې نه دي چې دغه علمي کتابونه وګوري یاددوئ قدراواحترام وکړي تراوسه دکتاب خانې داحال دی چې دموږکانواوینوښکارده اوبې فیضه دیوه سړی دکورپه الماریوکې قلف پراته دي ،ځکه چې په مسجدکې ځای نه ووپه داسي صورت کې آیادارواوی چې کومه مدرسه عربیه ته دهغه ځای دمدرس په ذمواري هرکال کتابونه ورکړواودروژې له میاشتې مخکې یې بېرته ځیني اخلوترڅواصل مقصدهم فوت نشي اودوقف مقصدهم حاصلیږي؟ (۱۳۴۱/۹۲هج)

خواب: دفقهې په کتابونوکې داڅرګندونه شته چې دوقف کوونکې غرض په پام کې نیول ضروري دي ،ځکه نوکله چې په مسجدکې دغه کتابونه په کارنشي راتلای نووکومې مدرسې ته دزدکړې ، درسولواومطالعې په غرض ورکول اوله خلاصېدوورسته ځیني بیرته اخستل اوهمدارنګه کول صحیح دي ددرمختار په کتاب الوقف کې راغلې دي : وان وقف علی المسجد جازویقرء فیه ولایکون محصوراعلی هذاالمسجدالخ (۱) وفیه روایات اٰ خروفی الشامی : علی انهم صرحوابأن مراعاة غرض الواقفین واجبة الخ (۲) (شامی ۳/ ۴۲۳) فقط.

دمسجداودهغه دسامان په اړه څوحکمونه

سوال: (۲۳۹) (الف) دکوم مسجد دآبادېدوچې کوم صورت نه وي دهغه سامان په بل مسجدکې لګول روادي ،که نه؟

(۱) الدرمع الشامی (۳/۴۱۱) کتاب الوقف ، مطلب متی ذکرللوقف مصرفا الخ ط رشیدیه.
(۲) الشامی (۳/۴۲۴) کتاب الوقف ، مطلب مراعاة غرض الواقفین واجبة ط رشیدیه.

(ب) دمسجددخراب شوې بام تیران خرحول چې قیمت به یې په مسجدکې ولګووځنګه دی؟

(ج) دمسجددځځېدوله امله دمسجدتیران (چې یومخ روغ دي) خرځول وسوریوته ته کانې یابل شی ورکول روادي، که نه؟ (۴۴/۳۴۲-۱۳۴۵هج)

ځواب: (الف) دنړېدلې مسجدداباددوچې کوم صورت نشته دهغه باید حفاظت وشي اودسامان یې په بل مسجدکې لګول صحیح دي.

(ب) داسي کول صحیح دي (ج) روادی.

دآبادمسجدسامان بل مسجدته وړل صحیح نه دي

سوال: (۲۴۰) یومسجدچې ابادوي دهغه دښکلاسامان په بل مسجدکې کارولای شو، که نه؟ (۲۷۲۷/۱۳۳۷هج)

ځواب: دیوه آبادمسجدسامان بل مسجدته ورکول اوکارول صحیح نه دی خوکه اړتیااومجبوریت وي نوپروانلري.

سوال: (۲۴۱) دیونړول شوې مسجدسامان، خښتې اونوربل مسجدته په بیع یابې بیعې ورکول روادي، که نه؟ په داسي حال کې چې دلومړی مسجدمحله آباده ده که چادیوه مسجدسامان پربل لګولی وي نوځه کول پکاردي؟ (۲۲۱۲/۱۳۴۱هج)

ځواب: قال فی ردالمحتار: لکن علمت ان المفتی به قول ابی یوسف رحمه الله نه لایجوزنقله ونقل ماله الی مسجدآخرکمامرعن الحاوی نعم هذاالتفریع انمایظهرعلی ماذکره الشارح من الروایة الثانیة عن ابی یوسف رحمه الله وقدمناانه جزم بهافی الاسعاف وفی الخانیة رباط بعیداستغنی عنه المارة وبجنبه رباط آخرقال السیدالامام ابوشجاع تصرف غلته الی الرباط الثانی کالمسجداذاخرب واستغنی عنه اهل القریة فرفع ذلک الی القاضی فباع الخشب وصرف الثمن الی مسجدآخرجازالخ (۱) وایضا فیه (قبل سطور) جزم به فی الاسعاف ولوخرب المسجدوماحوله وتفرق الناس عنه لایعودالی ملک الواقف عندابی یوسف رحمه الله فیباع نقیضه بأذن القاضی ویصرف ثمنه الی بعض المساجدالخ (۱) (شامی)

نومعلوم شوچې په هغه صورت کې چې مخکنی مسجد

(۱) الشامی (۴۰۷/۳) کتاب الوقف، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

آبادی اوکلپوال چې لمونځ کوونکې دي موجوددي نوددې مات شوی سامان په بل مسجد کې لګول صحیح نه دی اوکه ولګول شونوددې سامان قیمت په لومړی مسجد کې لګول پکاردي.

دیوه مسجدپوزې اونوربل مسجدته ورړل

سوال: (۲۴۲) دیوه مسجد پوزي اونوریوسړی بل مسجد ته یوورړل یویې ویران کړبل یې آبادکړداکارروادی ،که نه ؟ اوددا سي شخص لپاره څه سزاده یوسړی وایې چې دیوه مسجد سامان بل مسجدته ورړل صحیح دي داصحیح دی ،که نه ؟ (۲۲۵۳/ ۱۳۳۸هج)

خواب: که کوم مسجدیومخ ویران اونا آبادشي نودهغه سامان : پوزې اونوربل مسجدته ورړل صحیح دي اوکه اول مسجدویران نه دی نوبیادهغه سامان پوزې اونوربل مسجدته ورړل صحیح نه دی کذافی کتب الفقه نوکوم سړی چې دارواپو لي هغه خطادی هغه ته پکاردی چې کومې پوزې اونوریې بل مسجدته وړې دي هغه بهرته همدې مسجدته راوړي اوهیڅ سزااوتعزیردده لپاره نشته فقط.

دیوه مسجدمصلي بل مسجدته ورکول

سوال: (۲۴۳) له همېشه څخه په یوه مسجدکې دجمعې لمونځ کیدی چې دهغه لپاره له بمبې څخه مصلی په اتیاروپی راوړلې خواوس په دوهم مسجدکې دجمعې لمونځ شروع شوپه اول کې نه کیږي که شرعًا رواوي نودغه مصلی به دوهم مسجدته ولیږو؟ (۲۵۸۳/ ۱۳۳۷هج)

خواب: کومې مصلي چې یومسجدته ورداخلي شي هغه بل مسجدته ورړل صحیح نه دي که څه هم هلته دجمعې لمونځ اوس نه کیږي ،ځکه چې مسئله داده چې که یومسجدیومخ ویران اونا ابادشي چې هیڅوک لمونځ کوونکی هلته پاته نشي نوهغه وخت ددغه مسجدسامان بل مسجدته ورړل صحیح دي اوترڅوچې دغه مسجدآبادی اوپه دې کې پنځه وخته لمونځ کیږي نوددې سامان بل مسجدته ورړل صحیح نه دی

کذافی الدرالمختاروالشامی(۱) فقط.

سوال: (۲۴۴) په یوه مسجدکې جای نمازونه (مصلې) تراړتیازیاتې دي نوهغه په بل مسجدکې په کارراتلای شي که کوم شخص پخپل کورکې پردې لمونځ کولای شي؟ (۲۵۲۲/۱۳۴۲هج)

خواب: چې دکوم مسجدمصلي دي په هماغه مسجدکې بایداستعمال شي بل مسجداوکورته یې مه وړئ کله چې اول مسجدودان دی اولمونځ پکې کیږي.

دمسجدصفونه اونورسامان عبدګاه ته وړل اوکارول یې

سوال: (۲۴۵) دجامع مسجدپوزې، صفونه، فرشونه[۲] اونورسامان عبدګاه ته وړل اوهلته کارول اوداستعمال اوړتیاترسره کېدووروسته سمدستي وجامع مسجدته رارسول روادي،که نه؟ که روانه وي نوکوم لمونځونه چې پردغوصفو نواونوروشوې دي هغه لمونځونه صحیح دي،که نه؟ (۳۵/۳۵۲-۱۳۳۲هج)

خواب: دفقهاؤدځرګندونواودفقهې له قواعدوښکاریږي چې دجامع مسجدسامان فرشونه، صفونه اونورعبدګاته وړل اواستعمالول صحیح نه دی قال فی الشامی: سبل مصحفا فی مسجدبعینه للقراءة لیس له بعدذلک ان یدفعه الی آخرمن غیراهل تلک المحلة للقراءة الخ(۲) وفی الدرالمختارومثله فی الخلاف المذکورحشیش المسجدوحصره مع الاستغناء عنهماوکذاالرباط والبئراذالم ینتفع بهمافیصرف وقف المسجدوالرباط والبئروالحوض الی اقرب مسجداورباط اوبئراوحوض الیه الخ(۳)

---

(۱) فی الدرالمختار: ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجداعندالامام والثانی وبه یفتی وفی الشامی: لکن علمت ان المفتی به قول ابی یوسف رحمه الله نه لایجوزنقله ونقل ماله الی مسجدآخرکمامرعن الحاوی جزم به فی الاسعاف ولوخرب المسجدوماحوله وتفرق الناس عنه لایعودالی ملک الواقف عندابی یوسف رحمه الله فیباع نفیضه بأذن القاضی ویصرف ثمنه الی بعض المساجدالخ (الدرالمختارمع الشامی (۳/۴۰۲-۴۰۷)، کتاب الوقف، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه)

(۲) الشامی (۳/۴۱۱) کتاب الوقف، مطلب متی ذکرللوقف مصرفا لابدان یکون فیهم تنصیص علی الحاجة ط رشیدیه) (۳) الدرالمختارمع الشامی (۳/۴۰۷) کتاب الوقف، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره.

Maktaba Tul Ishaat.com

څرګندونه دي وي چې دفقهې دکتابونومفهوم معتبروي کماصرح به فی الدرالمختاروالشامی (۱) نوکله چې فقهاء داقیدلګوي چې دیوه مسجد سامان بل مسجدته وړل اواستعمالول هغه وخت صحیح دي چې اول مسجدویران شي اوهغه ته اړتیاپاته نشي نوله دې څخه معلوم شوچې که ودغه مسجدته دکوم چې سامان دی اړتیاشته اودغه مسجدودان اوآباددی نودده سامان وبل مسجداونوروته وړل داستعمالولوپه غرض صحیح نه دی سره له دې ټولوکه عاریة یې دجامع مسجدسامان عیدګاه ته یووړل اوپردغوصفونویې لمونځ وکړنولمونځ صحیح شواماداسي کول نه ووپکارفقط.

دیوه مسجدزیاتوب سامان بل مسجدته ورکول څنګه دي ؟

سوال : (۲۴۶) په یوه کلې کې څومسجدونه دي څینې ودان اوځینې ناآباددي په یوه آبادمسجدکې کوزې ، فرشونه ، تبل ،دبرې اوخښتې تراړتیازیات دي دیوه بل کلې په مسجدکې ددغوشیانوضرورت شته نوپه هغه مسجدکې ددغوشیانو لګول روادي ،که نه ؟اوپه بیعه یې ورکولای شوکه نه ؟(۳۲/۱۳۹۷-۱۳۳۴هج

ځواب : دآبادمسجدسامان په بل مسجدکې لګول فقهاؤنارواليکلی دی اماوکوم شی ته چې حالاپه دغه مسجدکې یومخ اړتیانه وي اوآئنده دکومې اړتیا پیښیدوامیدنه وي نوداخرځولای شي اودخرڅ کړل شوې شی قیمت په هماغه آبادمسجدکې لګول پکاردي.

سوال : (۲۴۷) په یوه مسجدکې سامان ، فرشونه اونورډیردي اوپه بل مسجدکې سامان نشته نوکه له اول مسجدڅخه څه سامان دوهم مسجدته راوړل شي نوڅنګه به وي ؟(۲۸۸۰/ ۱۲۴۳هج)

ځواب : داخودفقهې په کتابونوکې لیکلې دي چې یومسجدویران اوناآبا دشي اوخلک هغه پرېږدي نوبیادهغه سامان بل مسجدته نقلولای شي بېله دې روانه دي ،ځکه چې ښکاره ده چې دیووقف سامان پربل وقف نشي لګولای په وقف کې داډول ټول تصرفات منع دي ،ځکه نوپه پوښتل شوې صورت کې کله چې اول

(۱) فی الدرالمختار: لان مفاهیم الکتب حجة وفی الشامی: وفی شرح التحریرعن شمس الائمة الکردری ان تخصیص الشئ بالذکرلایدل علی نفی الحکم عماعداه فی خطابات الشارع فامامافی متفاهم الناس وعرفهم وفی المعاملات والعقلیات فیدل آه (الدروالرد(۱/ ۲۸) کتاب الطهارة ، مطلب فی دلالة المفهوم ط رشیدیه).

مسجد آبادی وبل مسجد ته یې ورکول روانه دی فقط والله تعالی اعلم.

دیوه مسجد سامان وبل مسجد ته ورکول کله صحیح کیږي

سوال: (۲۴۸) په یوه مسجد کې اذان اوجماعت هیڅ شی نه کیږي څه موده کیږي چې د سیلۍ په وجه هغه مسجد شهید شو اوس ددې مسجد متولي غواړي چې ددغه مسجد نیران . ستنې اونورځومره شیان چې دي وبل مسجد ته (چې هلته اذان اوجماعت کیږي) ورکول راودي ،که نه ؟ اوددغه بل مسجد متولي چې دغه شیان خرڅ کړي پخپل مسجد کې یې لګولای شي ،که خاص همدغه شیان ولګوي ؟ (۲۸/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: حنفی فقهاؤداڅرګندونه کړې ده چې مسجدیومځ ویران وي اودهغه دودانبدوکوم صورت نه وي نودهغه سامان پربل مسجدلګول صحیح دي که خاص همغه سامان لګوي یاهغه خرڅوي قیمت یې پکې لګوي خواول مسجدچې ویران شودهغه حکم هم مسجدګرځېدلی دی اوهغه به تل ترتله مسجدوي ،ځکه دغه مځکه بایدداسي خوندي کړله شي چې حیوانان اونورورنشي اوبې ادبي یې ونشي په درمختارکې راغلې دي: ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عندالامام والثانی ابدا الی قیام الساعة وبه یفتی (الی ان قال) فیصرف وقف المسجد والرباط والبئروالحوض الی اقرب مسجداورباط اوبئراوحوض الیه الخ (۱) وفی الشامی ولوخرب المسجدوما حو له وتفرق الناس عنه لایعودالی ملک الواقف عندابی یوسف رحمه الله فیباع نقضه باذن القاضی ویصرف ثمنه الی بعض المساجدالخ(۱)

دمسجددناکاره سامان حکم

سوال: (۲۴۹) دمسجدبېکاره سامان څه په وکړو ؟ (۳۲/۱۸ - ۱۳۳۳هج)

ځواب: دمسجدبېکاره سامان خرڅ کړئ قیمت یې پرهمدې مسجدولګوئ فقط

سوال: (۲۵۰) په یوه کلي کې له ډیرې مودې راهیسي یودچادروجوړشوی مسجدووچې کلبوالوپوخ

(۱) الدرو الشامی (۴۰۲/۳) کتاب الوقف ، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

جوړکړی دی اوس دمسجد مخکنی سامان مثلا جادرونه ، ستنې اونورچې په هیڅ صورت کې په پخه ودانۍ کې نشي کارېدای که دغه سامان خرڅ کړي قیمت یې دمسجد په نوې ودانۍ کې لګول صحیح دی ،که نه ؟(۳ ۱۰۹/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : دهغه مخکنې سامان خرڅول اوقیمت یې په دغه نوې ودانۍ کې لګول صحیح دي کذافی الشامی وغیره(۱) فقط.

دمسجددزاړه سامان حکم

سوال : (۲۵۱) دمسجدزوړسامان څه په کول پکاردي استعمالول یې روادي ،که نه ؟(۴۲۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : داخرڅ کړئ قیمت یې پرمسجدولګوئ اودمشتري (رانیوونکې) لپاره یې استعمالول صحیح دي.

سوال : (۲۵۲) دمسجدمتولي دمسجدزاړه فرشونه یامات شوې لرګې اونورخرڅولای شي چې نوې فرشونه اونوررانیسي اوکه یې نه شي خرڅولای ؟ اوزوړسامان پخپل استعمال کې راوستلای شي ،که نه ؟ اونوروارولمونځ کوونکوته یې احساناورکولای شي ،که نه ؟(۴۲۱/ ۱۳۴۱هج)

ځواب : دغه زوړسامان خرڅ کړئ قیمت یې پرمسجدصرف کړئ احسانایې وچاته ورکول یاببله قیمت څخه پخپله کارول روانه دی.

دمسجدزاړه شیان په مدرسه کې لګول صحیح نه دي

سوال : (۲۵۳) دمسجدشیان چې زاړه اومات شي په دینومدرسوکې لګول روادي ،که څه کول پکاردي ؟(۱۹۱۰/۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب : په مدرسه کې یې لګول صحیح نه دي ددې قیمت په همدغه مسجدکې بایدولګول شي.

دیوه مسجدتیرپربل مسجدښوول

سوال : (۲۵۴) یوتیرچې دیوه مسجدپه نامه تاکل شوی ووخودمسجدپه ودانولوکې خنډدي اوس یوبل مسجدتیاردی پرهغه مسجدتیردتبادلې په توګه لګول غواړې روادي ،که نه ؟(۲۸۷۸/۱۳۴۲هج)

(۱) مخکنی حواله.

ځواب: دفهقي له روایتونوسره سم دغه تبادله صحیح نه ده په شامي کې راغلې دي:
ولایجوزنقله ونقل ماله الی مسجدآخر.....وهوالفتوی حاوی القدسی واکثر المشائخ علیه مجتبی وهوالاوجه (شامی) وفیه بعداسطر: بخلاف انقاضه لماقدمناعنه قریبا من ان الفتوی علی ان المسجدلایعودمیراثاولایجوزنقله ونقل ماله الی مسجدآخرالخ(۱) (شامی)
اوښکاره خبره ده چې یادشوی تیردیوه مسجدپه نوم په تاکلوسره دهمدې مسجدلپاره وقف شواوددې مسجدمال شواودغه مسجدویران شوی هم نه دی ترڅوپکې دغه اختلاف ګنجائش وي فقط.

دمسجددزړوتیرانواونورپه خرڅولونوې رانیول

سوال: (۲۵۵) یومسجدمخکې تنګ ووځینې وختونه به دلمونځ کوونکودډیر بنست په وجه وخلګوته سخت تکلیف وو ،ځکه یې له مسلمانانوڅخه څه مخکه رانیوله دمسجددپراخولولپاره یې وقف کړه اوس دوهم خل مسجدپراخ کړل شواوس دمخکنې مسجدسامان مثلا تیران ، لرګې اونوردپراخوالې په وجه په دې کې نشي راتلای اوپه بنووولوضائع کیږي په داسې صورت کې که داخرڅ کړو اوددې په قیمت نورتیران ، لرګې اونوررانیسوپه دغه مسجدکې یې لګول روادي ،که نه ؟ (۱۴۸۳/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: په یادشوې حالت کې ددغه مسجدسامان اواسباب مثلا تیران ، لرګې اونورکوم چې اوس دمسجدله پراخولوورسته دده په کارنشي راتلای خرڅ کړئ چې دهغوئ په قیمت نورلرګې ، تیران اونوررانیسئ په مسجدکې یې لګول صحیح دي ،ځکه چې دداسې نه کولوپه صورت کې ددغه مخکنې سامان دضائع کیدوّاوخرابیدووپره ده اوضائع کول ددوئ صحیح نه دي فقط.

دمسجدمات شوې تیران خرڅول قیمت یې پرمسجدلګول صحیح دي

سوال: (۲۵۲) دیوه مسجدتیران اولرګې دماتیدواوزړیدوله املهدمسجدپه بنه نه دي نودغه

(۱) الشامی (۴۰۲/۳-۴۰۷) کتاب الوقف ، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

تیران اولرکي دمسجد پردوکان اوحجره ښوولای شو،که نه ؟ په شرح وقایه کې لیکلې دي ونقضه یصرف الی عمارته اویدخرلوقت الحاجة الیها وان تعذر صرفه الیهابیع وصرف ثمنه الیها (۱) دامسئله صحیح اومفتی به ده که څه حکم دی ؟ (۳۲/۱۰۹۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب : په شرح وقایه کې لکه څنګه چې ددې مسئلې په اړه لیکلې دي هماغسي صحیح اومفتی به دی په درمختاراوشامی اونوروکې هم دارازدي نوپه موجوده حالت کې دغه تیران لرګي اونورخرڅ کړئ قیمت یې دمسجددضروري مصرفونولپاره کښیږدئ په دوکان اوحجره کې یې کارول صحیح نه دي دمسلمانانولپاره ددې رانیول هیڅ پروانلري ،ځکه چې په دې کې دمسجدګټه ده که خرڅ یې نکړي اوڅوک یې رانه نیسي نودمسجد تاوان دی دانبه نه دی.

دمسجدزاړه لرګي رانیول پخپل کورکې یې کارول صحیح دي

سوال : (۲۵۷) که دمسجدزاړه لرګي اوتیران خرڅ کړي قیمت یې دهمدې مسجد په نوې ودانۍ کې ولګوونوصحیح دی ،که نه ؟اولرګي اوتیران رانیوونکی یې پخپل کورو کې لګولای شي ،که نه ؟(۴۷۷/۱۳۳۷هج)

ځواب : چې زاړه لرګي اوتیران خرڅ کړي دهغوئ قیمت په نوې ودانۍ کې لګول صحیح دي اودرانیوونکې لپاره یې پخپل کورکې ددغولرګیواوتیرانولګول صحیح دي.

سوال : (۲۵۸) ومافضل من تعمیرالمسجدمن الخشب وغیره فبیعه اواستعماله فی الدورجائزام لا؟(۳۲/۱۴۹۳-۱۳۳۳هج)

ځواب : بیعه لمصارف ذلک المسجدجائزواستعماله للمشتری فی داره جائز:

ترجمه : دسوال (۲۵۸) دمسجدله ودانۍ زیاتوب شیان لکه لرګي اونورخرڅول اودهغوئ استعمال په کورونوکې روادی ،که نه ؟

---

(۱) شرح الوقایة مع حاشیة عمدة الرعایة ۲/۴۱۲کتاب الوقف ومایتعلق بتعمیرالمسجد.

خواب : ددې سامان خرڅول ددغه مسجد د مصرفونو لپاره روادی اودرانیوو نکې لپاره يې پخپل کورکې استعمال روادی.

دمسجدزړې پنکې یابورۍ وبل مسجدیامدرسې ته ورکول

سوال : (۲۵۹) دمسجدزړې پنکې یازړې بورۍ اونورپه بل مسجدیامدرسه یا دمسافروپه کارونوکې لګولای شو؟ (۳۲/۲۲۳-۱۳۳۳هج)

خواب : دغه شیان خرڅ کړئ قیمت يې ددغه مسجددکارونولپاره کښېږدئ وبل مسجدیامدرسې یادمسافروپه کارونوکې مه ورکوئ اوکوم سامان چې دسوځلوورډی هغه دمسجد دحمام اواوبوپه ګرمولوکې استعمال کړئ.

دیوه مسجدکوزې اوبورۍ دارتیاپرمهال وبل مسجدته په عاریت (خواست) ورکول

سوال : (۲۲۰) له کوم مسجد څخه بورۍ یاکوزې دارتیاپرمهال بل مسجدوالا په خواست اخستلای شي چې وروسته بیرته هماغه مسجدته ورکړي مثلا دیوه مسجدلپاره لوټې اوکوزې داودس لپاره په عاریت واخلي وروسته هغومره یاترهغه زیاتې رانیسي ورادایې کړي؟ (۹۸۲/۱۳۳۸هج)

خواب : دفقهاؤله څرګندونې سره سم دیوه مسجد سامان: لوټې، بورۍ اونور وبل مسجدته ورل صحیح نه دي اوکه يې په غلطۍ سره داسي وکړل نودهغه په بدل کې نورسامان: کوزې اونورودغه مسجدته ورکول پکاردي یاکه خاص هماغه کوزې اونورموجودوي نوبایدهماغه بیرته ورکول شي فقط.

دیوه مسجدترارتیازیاتې کوزې اوصفونه بل مسجدته ورل

سوال : (۲۲۱) په یوه مسجدکې کوزې اوصفونه ترارتیازیات دي په بل مسجد کې نشته نوآیاله اول مسجد څخه ودوهم ته انتقالول روادي؟ (۲۰۳/۱۳۳۸هج

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : ترڅوچي کوم مسجدويران نشي ترهغوددہ کوزي ،صفونه اونوروبل مسجد ته ورل صحيح نه دي.

دمسجدله ودانۍ دزياتوب سامان حکم

سوال : (۲۲۲) دمسجد دتعميرلپاره سامان رانيول شوله تعميرورو سته څه سامان زيات شواوس دغه کوم سړی پخپل ځاني کارکې لګولای شي ،که نه ؟ (۲۰۷۳/ ۴۶ - ۱۳۴۷هج)

خواب : که دغه سامان دچندې ياوقف په روپونه دی رانيول شوی بلکي سائل پخپلوځاني روپودمسجدلپاره رانيولی دی نوپه دې صورت کې رانيوونکی داپخپل ځاني کارکې لګولای شي اوکه دغه سامان دچندې يادوقف په روپورانيول شوی دی اواوس په مسجدکې ودې ته اړتيانشته نوداخرڅ کړئ قيمت يې پرمسجدولګوئ اورانيوونکی دغه سامان پخپل کارکې لګولای شي

سوال : (۲۲۳) يومسجددزړېدواوماتېدوله امله له نوې سره جوړکړل شوکوم سامان چي زيات شوکه هغه خرڅ کړوقيمت يې په همدې مسجدکې لګول روادي ،که نه ؟ اودمشتري (رانيوونکي) لپاره داروادي ،که نه چي دغه سامان خنبتې ،لرګي اونورپخپل کارکې ولګوي ؟ (۳۲/۱۲۹۲ - ۱۳۳۳هج)

خواب : دغه مسجدزيات سامان خرڅ کړئ قيمت يې پرهمدې مسجدلګول صحيح دي اودمشتري لپاره داحلال دي داپخپل کارکې لګول روااوصحيح دي

دمسجدله نړولوورو سته دهغه دبام اوديوالونوخاوره په لاره کې اچول

سوال : (۲۲۴) يومسجدشهيدکړل شواوس دهغه دبام اودېوالونوخاوره چي له تعميرڅخه زياته شوه پرعام سړک اچول روادي ،که نه ؟ (۲۰۷۲/ ۱۳۳۹هج)

خواب : پرعام سړک اونوروځايونوددغه زياتوب خاورې اچول روادي فان الضرورات تبيح المحظورات (۱) فقط.

(۱) قواعد الفقه ص: ۸۹، القاعدة: ۱۷۰.

دمسجدترارټیازیات شیان رانیول ، خرڅول اونېلامول

سوال : (۲۲۵) (الف) دمسجدډبرې ، لرګي اونورکه خرڅ کړوقیمت يې پرهمدې مسجدصرف کړونوشرعًا صحیح دی ،که نه ؟

(ب) درانیوونکې لپاره دمسجدشیان رانیول اوپخپل تصرف کې راوړل صحیح دي .که نه ؟

(ج) آیادمسجدشیان هرمذهب والارانیولای شي اوپخپل تصرف کې يې راوړلای شي ؟

(د) اویادشوې شیان نیلامولای شي ،که نه ؟ (۳۲/۱۹۸۳-۱۳۳۳هج)

خواب : (الف) شرعًا داسي کول صحیح دي.

(ب) درانیوونکې لپاره صحیح دي چې دمسجدشیان چې دکوموشرعًا خرڅول صحیح دي رانیسي پخپل کوم کارکي يې صرف کړي.

(ج) هرمذهب والايې رانیولای شي اوپخپل تصرف کې يې راوړلای شي.

(د) لیلامول يې هم روادي.

دمسجدشیان استعمالول اوپه هغوئ کې ناروا تصرف کول

سوال : (۲۲۶) دمسجدشیان پخپل استعمال کې راوړل روادي ،که نه ؟ اویوسړی دمسجدبورۍ په څه وجه پرې کړلې نوددې څه حکم دی ؟ (۴۴/۵۲۴-۱۳۴۵هج)

خواب : دمسجدشیان پخپل کارکې مصرفول صحیح نه دي لکه چې دفقهې په کتابونوکې راغلې دي [الوقف لایملک ولایملک (الشامی ۲/ ۴۲۱ ، کتاب الوقف) اوپرې کول ددغې بورۍ روانه ووچاچې پرې کړې ده هغه ددې دقیمت ضامن دی هغه بایددې په قیمت بله بورۍ رانیسي ومسجدته يې ورکړي فقط.

دکوم خاص کارلپاره ورکړې روپۍ په بل مصرف کې صرفول

سوال : (۲۲۷) که دمسجددخېمواوتاټونولپاره چنده وشوه نوهغه دمسجدپه څلوردېوالۍ کې صرفول یاکوم سړی دبوریولپاره روپۍ ورکړي نوهغه ددېوې اوڅراغ لپاره لګول دارازکه څوک دکوم خاص کارلپاره ورکړي هغه په کوم بل مصرف کې چې زیاته اړتیاوي لګول روادي ،که نه ؟ (۲۹/۲۲۵-۱۳۳۰هج)

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : وکوم شی ته چې دمسجدزیاته اړتیاوي په هغه کې يې لګول صحیح دي فقط والله تعالی اعلم.

آیاامام دمسجدشیان پخپل کارکې لګولای شي ؟

سوال : (۲۲۸) (الف) ومسجدته زیات تېل راځي دهغه دخرابېدوهم اندېښنه ده آیاکه داتېل خرڅ کړودمسجدپه بله اړتیاکې يې صرفولای شو ؟

(ب) دمسجدامام ددغه مسجدشیآن تېل اونوراومات لرګي پخپل کارکې صرفولای شي ،که نه ؟(۱۹۲۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : (الف) چې دغه زیاتوب تېل خرڅ کړئ دمسجدپه نوروکارونوکې يې صرفول صحیح دي اوامام چې دمسجدانتظام ورته سپارل شوی دی داسي کولای شي.

(ب) نشي يې صرفولای فقط والله اعلم.

دمسجددخارووونکې لپاره دمسجدشیان دځان لپاره استعمالول صحیح نه دي

سوال : (۲۲۹) کوم سړی چې دمسجدحفاظت کوي دهغه لپاره دمسجدپوزې هوارول یاتېل سوځل صحیح دي ،که نه ؟ یاکوم لمونځ کوونکې ته دتېلوورلواجازه ورکول صحیح دي ،که نه ؟(۳۲/۴۲۳-۱۳۳۳هج)

خواب : صحیح نه دی.

دمسجدپه سولاغه اورسي دکوراوبه ډکي کي کورته وړل څنګه دي ؟

سوال : (۲۷۰) دمسجدپه سولاغه یارسي دکوراوبه ډکول صحیح دي ،که نه که دمسجدمتولي يې وپسي نوجائزدی ،که نه ؟(۲۱۵۳/ ۳۳-۱۴۳۴)

خواب : که ومسجدته دسولاغې اورسې ورکوونکې نیت دادی چې نورخلک هم په دې اوبه ډکې کړي یاامام اومتولي دخپل کورلپاره هم اوبه ډکې کړي نوصحیح دي کنې نه دی.

دمسجدزیاتوب تېل دامام دتنخوادادا کولوپاره خرڅول روادي

سوال : (۲۷۱) مسجد ته چې کوم تېل مسلمانان یعنی کلیوال درنالپاره رالیږي که هغه زیاتوب وي نو خرڅول یې چې دامام تنخوا په اداکړورواوي وکه نه ؟ یا په کوم بل کارکې دمسجد دې قیمت صرفولای شو ، که نه ؟ (۳۲/۲۰۴۳ - ۱۳۳۳هج)

خواب : زیاتوب تېل خرڅول چې دمسجد نورکارونه په وکړي صحیح دي اوښکاره داده چې که ضرورت وي نو دامام په تنخواه کې یې لګول هم روادي چې دا دمسجد له اړتیاووڅخه دي.

سوال : (۲۷۲) دمسجد زیاتوب تېل دامام حق دی که دد ې قیمت پرمسجد ولګول شي ؟ (۵۰۸/ ۱۳۴۳هج)

خواب : داخرڅ کړې پرهمدې مسجدیې قیمت ولګوئ دا دمسجد حق دی دامام حق نه دی.

دمسجدچادرونه بل ځای ته انتقالول څنګه دي ؟

سوال : (۲۷۳) دیوه مسجدچادرونه اونوروڅینولمونځ کوونکودغه چادرونه ترنړولووروسته نقل کړل بل ځای یې په یوچاځه مځکه وقف کړه اوداچادرونه یې هلته پکې ولګول اوهلته یې بل مسجد جوړکړنودمخکني زاړه مسجدچادرو نه بل ځای ته انتقالول روادي ، که نه ؟ اوهغه بل ځای شرعًا مسجدشواوکه نه ؟ (۲۰۵/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب : دغه چادرونه چې دزاړه مسجددي په همدې مسجدکې بایدولګول شي اودبل ځای مځکه هم مسجدشوه که هغه پتوي نودهغه لپاره نورسامان رانیسئ

دمسجددشیانوخرڅول دچاحق دی

سوال : (۲۷۴) (الف) په مسجدکې یوتاټ دی دهغه دخرڅولوحق دچادی ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

(ب) بهرنی خلګودمسجدلپاره دګلتوکوزې ورکړې وي دهغوئ دخرڅولوحق دمسجدوامام یا کلپوالوته شته که وکوم بل مسجدته دغه سامان ورکړو؟ (۷۷۳؟ ۴۶-۱۳۴۷هج)

ځواب: (الف) که دمسجدودې ته اړتیاده نودغه تاټ مه خرڅوئ اوکه ضرورت نشته نوداخرڅ کړی ددې قیمت دهمدې مسجد په اړتیاووکې صرف کړئ.

(ب) دغه کوزې کومې چې یوچامسجدته ورکړې دي داخرڅې کړئ قیمت یې دهمدې مسجد په اړتیاووکې مثلا دخاوروکوزو،یاسولاغو، رسۍ اوبوریو باندې صرف کړئ دمسجدامام یامتولي که داخرڅې کړي پرمسجدیې لګولای شي اودیوه مسجدسامان پربل مسجدلګول اوورکول روانه دي ترڅوچې اول مسجدآبادوي فقط.

دنړول شوې مسجدسامان خرڅول اوقیمت یې پرهمدې مسجد لګول صحیح دي

سوال: (۷۷۵) دنړول شوې مسجدسامان لکه تیران، تختې یادبرې اونورکه خرڅ کړل شي اوقیمت یې پرهمدې مسجدولګول شي نوروادی،که نه؟ اودالوقف لایملک په مصداق خرڅول یې صحیح دي،که نه؟ (۲۲/۸-۱۳۳۳هج)

ځواب: ددغه سامان خرڅول قیمت یې په مسجدکې لګول صحیح اوروادي اودابیع صحیح ده الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد۲/ ۴۲۱، کتاب الوقف) څخه خارجه ده فقط.

دمسجددنړول شوې برنډې اوحجرې سامان خرڅول اومسجدپوخ په جوړول

سوال: (۷۷۶) په یوه کلي کې مسجدوبرنده اوحجره دمسجددي دکلپوالود ناوسۍ له امله دغه مسجد، حجره اوبرنده ډیرزاړه شوې دي که یوځوورځې دغه رازوي نوټول سامان به یې خراب شي که دبرنډې اوحجرې سامان خرڅ کړي وربانډي مسجدپوخ جوړکړي نوشرعًا روادی،که نه؟ (۴۱۸/۳۵-۱۳۳۶هج)

ځواب : په داسي حال کې چې په څه موده کې به ددغې حجرې اوبرنډې سامان یومخ خراب اوضائع شي اوپه ښه به نه وي دارواډي چې دغه سامان خرڅ کړې مسجدوربانډي پوخ جوړکړي بیاچې کله وس وي حجره اوبرنډه جوړې کړي هکذا افتی به الفقهاء فی موضع الضرورة وخوف الضیاع(۱) فقط.

داوبووړې مسجدسامان کوم ځای صرف کړو

سوال : (۲۷۷) یومسجدډریاب اوبوبووړی دهغه سامان اونورپراته دي کلپو الونډي مسجدونه جوړکړې دي اوپه هغوئ کې ودې سامان ته اړتیانشته نود غه سامان په مدرسه اسلامیه کې لګولای شو،که نه ؟(۳۲/۸۲۲-۱۳۳۳هج

ځواب : په نډې مسجدونوکې یې لګول پکاردي که اوس ورته اړتیانشته نودهغوئ لپاره یې خوندي کړئ ترڅودا ړتیاپرمهال په کارراشي یایې خرڅ کړئ په نډي مسجدونوکې یې ولګوئ په مدرسه کې یې مه لګوئ.

سوال : (۲۷۸) دعثمان ساګرتالاب دلته جوړیږي څوکلې غرقیږي په هغوئ کې یومسجدهم غرقیږي اوس مورپرلږواتن جلا بل کلی جوړوواوپه هغه کې یوپوخ مسجدهم جوړوواياددغه نو ې مسجدپه تعمیرکې دهغه غرقېدوونکې مسجدډ برې اونورلګولای شو،که نه ؟(۲/۳۵-۱۳۳۲هج)

ځواب : کوم مسجدچې غرقیږي یاغرقېدوونکی دی دهغه سامان ،ډبرې اونورپه نوې مسجدکې لګول صحیح دي کذافی الشامی(۲)

---

(۱) قال فی ردالمحتار: سئل شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلواوتداعی مسجدهاالی الخراب وبعض المتغلبة یستولون علی خشبه وینقلونه الی دورهم هل لواحدلاهل المحلة ان یبیع الخشبه بأمرالقاضی ویمسک الثمن لیصرفه الی بعض المساجداوالی هذاالمسجدقال نعم (الشامی ۳ / ۴۰۷کتاب الوقف . مطلب فی نقل انقاض المسجدونحوه ط رشیدیه

(۲) قال فی الشامی: کالمسجداذاخرب واستغنی عنه اهل القریة فرفع ذلک الی القاضی فباع الخشب وصرف الثمن الی مسجدآخرجاز(شامی ۳ / ۴۰۷کتاب الوقف ، مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال : (۲۷۹) پومسجد چې دریاب دیرنژدې ورته راغلی دی اوس یقینادغه مسجد به ونړوي یوبه یې سي ددغه مسجدنړول شرعًا صحیح دی ، که نه ؟ (۲۳/ ۳۵-۱۳۳۶هج)

خواب : که ددغه مسجد په دریاب کې دغرقېدووبره وي نوددې سامان پورته کول چې په بل مسجد کې یې ولګوئ صحیح دی.

ددریاب داوبووړې مسجدلرګي اوخښتې استعمالول

سوال : (۲۸۰) یومسجد ددریاب اوبویووړی دهغه لرګي اوخښتې راکښل پکاردي اوکنه ؟ اوله راکښلووروسته دهغه لرګي اونورپخپل استعمال کې راوړلای شي ، که نه ؟ (۲۳۷/ ۲۹-۱۳۳۰هج)

خواب : دده لرګي اوخښتې اونورسامان یادهغوئ قیمت باید په کوم بل مسجد کې ولګول شي پخپله یې استعمال نکړي فقط واللہ تعالی اعلم.

دنړېدلې مسجدسامان بل مسجدته وړل

سوال : (۲۸۱) اسباب اوسامان مسجدفهمېدم رابه قضایی قاضی فروخته قیمتش بمسجدثانی صرف کردن جائزاست یانه ؟ (۱۰۷۳/ ۳۵-۱۳۳۶هج)

جواب : اگرمسجدی ویران شودوصورت آبادی اومتعذرشودسامان اوفروخته بمسجدثانی صرف کردن جائزباشدومسجداول راهم محفوظ داشته شودکه آن زمین هم مسجداست وتاقیامت مسجدخواهدماندحرمت آن نگاه داشته شودوازسوء ادبی محفوظ کرده شود.

دسوال (۲۸۱) ترجمه : دقاضی په فیصله دنړول شوې مسجدسامان اواسباب خرڅول اوقیمت یې په بل مسجد کې لګول روادی ، که نه ؟

ځواب : که مسجدویران شي اودهغه دآبادولوکوم صورت نه وي نوپه داسي صورت کې ددې سامان خرڅول قیمت یې په بل مسجد کې لګول روادي اواول مسجددې هم خوندي کړل شي . ځکه چې هغه ځای هم مسجددی اوترقیامته به مسجدوي دهغه دعزت هم خیال وساتئ اوله بې ادبی ځخه یې خوندي کړئ.

سوال : (۲۸۲) یومات ، زور، نړېدلی ،بې بامه اوناآبادمسجدچې په سلګونو کلونوپکې اذان اولمونځ نه دی شوی دیوه هندوزمینداړپه مځکه کې واقع دی اوددووسووکلونوځخه زیات وخت کیږي اوس په مسجدکې نړېدل دپخوخښتو دېوالونه اومات فرش باقي دی چې ورباندې په سلګونوونې اوازغي اونور راشنه شوې دي ومسجدته نژدې دکوم مسلمان کورنشته دهندوانوآباداوپوخ مندرشته دویرانې په وجه دمسجدپه ځلوردېوالي کې شپه اوورځ حیوانان ګرځي اوسپي اوسوران اونورې مرداری اوبولې کوي چې له امله یې دمسجد سپکاوی کیږي اودمسجدآبادولودکوشش په صورت دمسلمانانواوهندوانوتر مینځ دغټ فسادجوړېدوقوي احتمال دی آیاددغه مسجدخښتې که راواخلود مسلمانانوپه کلې کې بل نوی مسجدودان کړواودزاړه مسجدخښتې په دې کې ولګوونوشرعًا روادی ،که نه ؟(۲۸۲۴/ ۱۳۳۷هج)

خواب: شرعي مسئله داده چې کوم ځای یوځل مسجدشي هغه تل ترتله مسجد وي مسلمانانوته ترخپله وسه ددې په خوندي کولوکې کمی نه دي کول پکار ،ځکه ضروري ده چې که هغه مسجدنشي آبادېدای دهغه ځلوردېوالي داسي جوړه کړئ چې دننه حیوانان اونورنشي ورتلای اوبې عزتي یې نه وي اوکومې خښتې چې له دغه کارځخه یاتوب شي هغه پهبل مسجدکې ولګوئ فقط.

دنړېدلې مسجدتعمیرضروري دی ،که نه ؟

سوال : (۲۸۳) په لهبولي کې دوه مسجدونه له پنځوسو ،شپېتوکلونوراهیسي وویوپوخ بل خام.، دخام مسجدپنځویشت دېرش کلونه کېږي چې شهېدشوی ووتراوسه پرهماغه حال دی پرته له مځکې اوځای بلکه کومه نښاني نشته اوبې عزتي یې هرډول کیږي اوپه ځای کې عمومادرې ، ځلورلمونځ کوونکې وي اوس دغه نړېدلی مسجدتول پوخ جوړکړوکه صرف ځلوردېوالي یې ورجوړه کړووي ترو؟ (۱۰۰۵/ ۱۳۳۹هج)

خواب : مسئله داده چې کوم ځای یوځل مسجدشي هغه همېشه مسجدوي ،ځکه چې ضروري ده دغه نړېدلی مسجدجوړکړئ که حالاوس نه وي نوفعلایې ځلوردېوالي ورباندې

Maktaba Tul Ishaat. com

جوړه کړئ چې له بې ادبۍ څخه خوندي شي بیاچې کله وس وي هغه وخت یې تعمیر کړئ فقط.

دمسجدمات شوې جاروکان اوزاړه فرشونه خرڅول

سوال : (۲۸۴) په مسجدکې زاړه جاروکان اوزاړه فرشونه جمع کیږي دهغوئ خرڅول صحیح دي ،که نه ؟(۲۵۸۲/۱۳۴۰هج)

خواب : چې کله دمسجدودوئ ته اړتیانشي پاته نوکه یې خرڅولای شئ نوخرڅ یې کړئ قیمت یې په مسجدکې لګول صحیح دی.

دمسجدپه زیاتوب خښتومدرسه جوړول

سوال : (۲۸۵) دمسجدلپاره خښتې جوړې شوې وي دمسجدټول کارخلاص شواوڅه خښتې زیاتوب شوې په دې مدرسه جوړول صحیح دي ،که نه ؟ (۴۲۰/۱۳۴۱هج)

خواب : کومې خښتې چې دمسجدزیاتې شوې دي که په مسجدکې یې ولګولو ته اړتیانشته نوداخرڅې کړئ ددې قیمت بایدپه همدې مسجدکې ولګوئ خواه که دمدرسې لپاره رانیول شي یایې کوم بل څوک رانیسي فقط.

دمسجددخښتواوتیرانوحکم

سوال : (۲۸۶) (الف) یومسجدله نوې سره جوړیږي په هغه کې څه تیران زیاتوب دي چې دمسجدپه کارنه دي هغه که خرڅ کړونوپه کوم مصرف کې یې ولګوو؟

(ب) دمسجدوبنیادته نژدې یوځاه دی کوم چې صرف دمسجدپه غرض کیندل شوی وواوس کلهوال له دې څخه استفاده کوي په دې صورت کې ددغه ځاه ترمهم په خښتوکېدای شي ،که نه؟

(ج) په یوه مشترکه مځکه کې مسجدودان کړل شویوشربک ومسجدته دخپلې مځکې په ورکولوراضي نه دی

که دده له مرګه وروسته دده وارثان دغه مځکه په خوښۍ ومسجدته ورکړي نولمونځ په دغه مسجد کې کول روادي ،که نه ؟(۱۰۳۹/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : (الف) زاړه تیران ،تختې چې دمسجد په کارنه وي خرڅول دهغوئ قیمت دمسجد په اړتیاووکې صرفول روادی کذافی کتب الفقه.

(ب) کېدای شي.

(ج) دده له مرګه وروسته چې کله دده وارثانو اجازه وکړه نو دامسجد شولمونځ پکې بې له کراهیته صحیح دی اومخکې په دې کې لمونځ مکروه ووفقط.

سوال : (۲۸۷) دیوه مسجد دلرګو، خښتو اونورو استعمال په بل مسجد کې صحیح دی ،که نه ؟ دمسجد تراړتیازیات سامان خرڅېدای شي ،که نه ؟ (۴۱۰/ ۳۳- ۱۳۳۴هج)

ځواب : په بل مسجد کې یې لګول صحیح نه دي اوزیاتوب بېکاره سامان خرڅول قیمت یې په همدې مسجد کې لګول صحیح دی.

دمسجدخښتې په خپل کور کې لګول اودمسجدپرمځکه قبضه کول

سوال : (۲۸۸) دیوه مسجد کلېوالوخښتې پخپله مشترکه بنګله (مانۍ) کې ولګولې اودمسجد پرمځکه یې هم قبضه کول غواړې شرعًا څه حکم دی ؟ (۲۲۹/ ۱۳۳۵هج)

ځواب : دمسجد خښتې اونورسامان وقف دی اودوقف څوک مالک نشي کېدای نوکوموخلکوچې دمسجدخښتې پخپله مشترکه مانۍ کې ولګولې هغوئ ګنهګارشول دوئ ته پکاردي چې دومره اندازه خښتې یادهغوئ قیمت ومسجدته ورکړي اودمسجد پرمځکه دچاقبضه کول نه صحیح کیږي هغه هم وقف ده الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد۲/ ۴۲۱کتاب الوقف) دوقف په ملک کې دنه راتلوپه اړه څرګند حکم دی فقط.

دمسجددتعمېرلپاره تیارکړیوخښتودخرڅولوحکم

سوال : (۲۸۹) دهمیرپوراوسېدوونکو۲۲کاله کیږي چې دوئ بتۍ دخښتویې دمسجد جوړولوپه غرض په چنده کولولګولې دي بتۍ ترننۍ ورځې پورې موجودې دي خودناوسې له املې مسجد جوړنه شوځه خلک وایې چې نیمې خښتې خرڅ کړي

Maktaba Tul Ishaat.com

کوچنی مسجد جوړکړي اوله چنده ورکوونکوڅه دڅوکسانو دارأیه خوښه نه ده هغوئ وایي دخښتوو خرڅولوته اړتیانشته که تاسو مسجد نشئ جوړولای نوموړیي دمسجد له خښتو خرڅولو دمسجدوجوړولوته آمده یوخواوله ډله دخښتو پرخرڅولو ضد کوي په دې صورت کې څه وکول شي ؟ (۱۸۵، ۱۳۴۱هج)

ځواب: په دې صورت کې دمسجد دخښتو خرڅول صحیح نه دي اودکومې ډلې چې دارأیه ده چې دمسجد خښتې مه خرڅوئ اودوئ دمسجدوجوړولوته آمده دي هغوئ پرحق دي ددوئ رأیه بایدومنل شي اودادهغه بلې ډلې ضداونفس دی چې وایي خښتې خرڅې کړئ کوچنی مسجد جوړکړئ فقط.

دنړېدلې مسجددخښتواوسامان حکم

سوال: (۲۹۰) دمات شوې مسجد خښتې اونورپربل مسجدلګول صحیح دي ،که نه ؟ (۱۳۶۹/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: دنړېدلې مسجدخښتې اونورسامان خرڅ کړئ ترخپله وسه بایددهمدې مسجدپه اړتیاووکې ولګول شي که هغه مسجدیومخ ویران اوبېکاره شوی دی نوهغه وخت په بل مسجدکې هم لګېدای شي کذافی الشامی وغیره.

سوال: (۲۹۱) دیوشاړ،نړېدلې اوویران مسجدخښتې اونوردبل مسجدپه ترمیم کې لګول صحیح دي ،که نه ؟ اوکه دنړېدلې مسجدخښتې دبل مسجدپه فرش جوړولوکې استعمال شوې وي نودناروالې په صورت کې اوس څه کول پکاردي ؟ (۲۲۴/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دویران اونړېدلې مسجدخښتې په بل مسجدکې لګول صحیح دي کله چې دویران مسجدآبادی اووډانېدوکوم صورت نه وي کذافی الدرالمختار والشامی فقط.

سوال: (۲۹۲) مسجدی غیرآباویران شده است اگرسامان آن رابمسجددیگر منتقل نه کنندخوف ضیاع داردآیاسامان اوبه مسجددیگرنقل کردن جائزاست یانه ؟ (۱۲۲۵/ ۱۳۴۱هج)

جواب: نقل سامان مسجد غیرآبادبرمسجددیگرجائزاست فقهاء آن رابه ضرورت جائزداشته اندلیکن آن زمین مسجد تاابد مسجد خواهد ماند

حفاظت وبقاء آن ضروري است لان الفتوى على تأبيد المسجد كذا في الشامي (۱)

دسوال (۲۹۲) ترجمه: يومسجدناآباداوويران ولاړدی که دده سامان بل مسجدته نقل نکړونودضائع کېدووبره يې ده نوآياددې سامان وبل مسجدته نقلول روادي وکه نه؟

ځواب: ددغه ناآبادمسجدسامان وبل مسجدته نقلول روادي فقهاؤدضرورت له کبله ددې اجازه کړې ده له دې سره به ددغه مسجدمځکه همېشه مسجدوي اوده دخوندي کولواوباقي پاتېدوانتظام کول ضروري دي په شامي کې راغلې دي چې فتوى دمسجددهمېشه مسجدکېدوده.

سوال: (۲۹۳) دخورجي مشرمحمدمصطفى خان يومسجدپه ځنګل کې جوړکړ ،ځکه چې په دغه ځنګله کې دحيوانانوبازارلګېدی خوځوورځې وروسته هغه بازارختم شواومسجدويران شودليرى والي په وجه څوک لمانځه نه ورځي هلته جوارګرخمارکوي ياحيوانان ځروونکې پکې حيوانان پنډه وي نوددغه مسجد سامان پربل مسجدلګولای شو،که نه؟ (۱۷۰۳/۱۳۴۲ه ج)

ځواب: مسئله دأده چې کوم ځای يوځل مسجدشي هغه همېشه مسجدوي لان الفتوى على تأبيد المسجد (الشامي ۲/ ۴۲۹کتاب الوقف) نودده دمسجدوا لي ابطال يعنى چې دامسجدنشي پاتي روانه دى امافقهاؤداليکلې دي چې کوم مسجدويران شي اودهغه دآبادېدوکوم صورت نه وي نودهغه سامان پربل مسجدلګول روادي خوداول مسجدځلوردهوالي دي داسي جوړه کړله شي چې له بې ادبۍ څخه خوندي شي هکذا في الدرالمختاروالشايم (۲) فقط.

سوال: (۲۹۴) يومسجدچې په هدېره کې دى شهېدشودهغه خښتې په بل مسجدکې لګولای شو،که نه؟ (۳۷۹/۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب: دهدېرې چې کوم مسجدشهيدشوى دى اوويران دى هغه خښتې اونورسامان په بل

---

(۱) الشامي (۴۰۷/۳) کتاب الوقف مطلب فيمالوخرب المسجد اوغيره ط رشيديه.

(۲) قال في البحروبه علم ان الفتوى على قول محمدرحمه الله في آلات المسجدوعلى قول ابى يوسف رحمه الله في تأبيدالمسجد (الدرمع الرد (۴۰۷/۳) كتاب الوقف مطلب فيمالوخرب المسجد اوغيره ط رشيديه.

Maktaba Tul Ishaat. com

مسجد کې لګول روادي خوددغې هدیري دمسجد مخکه به هم خوندي کوئ پردې شاوخوادبوال ووهئ چې بې ادبي یې ونه شي ،څکه چې کومه مخکه مسجد شي هغه همېشه مسجدوي دهغه بې ادبي کول په هیڅ وخت صحیح نه ده ددې پام وکړئ فقط.

سوال : (۲۹۵) دکوم ویران مسجد خښتې په کوم بل آبادمسجد کې لګولای شو ،که نه ؟ اودویران مسجدسره چې کومه حجره ده دهغې خښتې هم په بل مسجد کې لګېدای شي ،که نه ؟ (۱۳۴۱/۴۰۸هج)

خواب : دویران (چې دآبادېدوهیڅ امیدیې نه وي) مسجدخښتې اونورپه بل آبادمسجد کې لګول صحیح دي اوکوومه ویرانه حجره چې دویران مسجد په اړه ده ددې خښتې هم په بل آبادمسجل کې لګول صحیح دي ،څکه چې همدغسي خوداضایع کیږي په همدې وجه فقهاء رحمهم الله اجمعین دجوزافتوی ورکړې ده فقط.

دمسجدترارټیادزیات سامان څوحکمونه

سوال : (۲۹۲) دمسجدمال چې په مسجد کې ورته ارټیانشته وبل مسجدته نقلول روادي ،که نه ؟ مثلا دمسجدتیران زیات شول په مسجد کې ودغوتیرانو ته ارټیانشته نوپه بل مسجد کې ورته ضرورت دی په هغه مسجدکې دغه تیران دمتولي په رأیه لګول صحیح دي ،که نه ؟ اودنامسلمانوپه لاس دمسجدشیان خرڅول صحیح دي ،که نه ؟ اودمسجدشی په مسجد کې خرڅ کړل شي که په بازارکې ؟ که دمسجدتیران ،خښتې اوچونه له آبادشوې مسجدڅخه زیاتوب شي اوهغه بل مسجدپه بیت الخلاء (تتی) اوغسل خانوکې یادهمدې مسجدپه غسل خانه اوپای خانه کې صرف کړي نوروادی ،که نه ؟ اوکه دکورپه غسل خانه یاپای خانه کې ولګول شي نوروادی ،که نه ؟ (۱۳۳۷/۸۸۴هج)

خواب : ددغه مسجدهغه سامان چې ورته په دې مسجد کې ارټیانشته داخرڅ کړئ قیمت یې په همدې مسجد کې بایدولګوئ اورانیول ددغه سامان دهرمسلمان اونامسلمان لپاره صحیح دي اوخواه که دمسجدپه څلوردېوالي کې خرڅ شي یاپه بازاراونورکې تول صحیح دي اودمسجدزیاتوب سامان لکه خښتې ،چونه ، اونوردهمدې مسجدپه غسل خانه اوپای خانه اونورو کې لګول صحیح دي اوپخپل کورکې یې لګول بېله رانیولوصحیح نه دي هودرانیوونکی لپاره صحیح دي.

دویران مسجدخښتې په بل مسجدکې کارول صحیح دي

سوال : (۲۹۷) یومسجدنړېدلی دی چې دجوړېدوامیدېې نشته اودمسجد خښتې خرابیږي که دغه خښتې وبل جوړېدوونکې مسجدته ورکول روادي ،که نه ؟ (۳۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : دغه خښتې په بل مسجدکې لګول صحیح دي هیڅ پروانلري خوداضروري ده چې ویران مسجدخوندي کړل شي اوشاوخواورباندي دېوال راوګرځول شي چې ددې ځای بې ادبي ونشي دابه همېشه مسجدوي فقط.

سوال : (۲۹۸) یومسجدله آبادۍ څخه پرځه واټن باندي په داسي ناابادځای کې واقع دی چې په پسرلي کې تړې لاندي درياب بهیږي شاوخوادېوالونه ېې نړېدلې دي دباندي دفرش نوم نشته دننه فرش مات شوی دی دسپیانواوچغالانو مرداری پکې پرتي دي ګنبده ېې نړېدلې ده خښتې داسي خوړې ،وړې پرتې دي چې یابه ېې خلګ یوسي اویابه دکوم کارپاته نشي په داسي حال کې دیادشوې مسجدخښتې په کوم بل مسجدکې لګېدای شي ؟ (۱۳۷۵/ ۱۳۴۳هج)

خواب : په داسي حال کې ځینې فقهاؤاجازه کړې ده چې دده خښتې دې دبل مسجدپه تعمیرکې ولګول شي خوکله چې شرعي حکم دادی چې کوم ځای مسجدشي هغه همېشه مسجدوي .ځکه نودغه مځکه خوندي کول اواحترام ېې لازم دی پوخ یاخام دېوال ورباندي راوګوځئ ترڅومرداري اونورورونه لوېږي فقط.

په خاص صورت کې دمسجدخښتې په مدرسه کې لګول روادي

سوال : (۲۹۹) زمورږپه ښارګوټي کې څومسجدونه نړېدلې اوویران ولاړدي چایودېوال اودچایونیم دېوال اودچاصرف بنیادپاته دی تردې چې ددوئ مځکې خلګوپخپلوکښتوکې ګډې کړې دي اوخښتې ېې هم وړې دي اود مسجدو نوداباد پدوامکان نشته دداسي مسجدونوپاته خښتې په مدرسه اسلامیه کې کومه چې دمسجدپه حدودوکې دننه ده لګول روادي ،که نه ؟ (۱۸۹/ ۱۳۳۷هج)

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب: په داسي حال کې په مدرسه کې ددغو خښتو لګول صحیح دی.

دوقف کوونکي دغرض په خلاف خښتې لګول

سوال: (۷۰۰) دشیرکوټ جامع مسجد تنګ وو دمسجد څخیزته حکومتي سړک دی اولویدیزته یې دیوه هندو شاړه مځکه وه کومه چې اوس دمسجد په نامه رانیول شوې ده اووشمال ته یې یودرې دروازې وال مکان دي اوجنوب ته یې دهمدې مکان والامځکه ده اوله دې وروسته نوره مځکه هم پرته ده زید دمسجد وشاته په مځکه کې څه خښتې دمسجد دخلوردېوالې لپاره ایښې وي ځینو مسلمانانو په دغو خښتو دمسجد په غولې کې برنډه دزید بې اجازې شروع کړه آیادزید بې اجازې دکلې ځیني مسلمانان یاکه ټول کلهوال وغواړي دغه خښتې دمسجد په برنډه کې لګولای شي کله چې زید خښتې دمسجد دخلوردېوالې په غرض وقف کړي دي اوزید اوس هم انکارکوي؟ (۲۲۲۱/ ۱۳۳۸هج)

خواب: په دې کې دوقف کوونکي دنیت اوغرض خیال ساتل ضروري دي په بل ځای کې دغه خښتې لګول روانه دي خوکه هغه کارونه وشي دکوم لپاره چې یې خښتې ایښې وي نوددغه مسجد په بل کارکې که دکلهوالو په خوښه ولګول شي نوصحیح دی.

دمسجد ډبرې په مکان کې لګول

سوال: (۷۰۱) یومسجد په مکان (کور) کې دننه دی اوډیرمات شوی دی دهغه ترمیم نشي کېدای دهغه ډبرې په کوریاکوم بل مسجد کې لګولای شي اوکه نه؟ (۱۴۲۴/ ۱۳۴۰هج)

خواب: دغه مسجد دهمیشه لپاره مسجد پرېښوول ضروري دي ددې مسجد والی هیڅکله نشي باطلېدای کمافی الشامی ان الفتوی علی قول ابی یوسف رحمه الله فی تأبید المسجد (الشامی ۳/ ۴۰۷کتاب الوقف) اوترخپل وسه دغه مسجد ترمیمول ضروري دي اوکه نشي کېدای نوددغه مسجد خوندي کول ضروري دي خوپه کورکې یې لګول صحیح نه دي.

دمسجدډبرې په امام بارګاه کې لګول

سوال : (۷۰۲) په یوه ښارکې یوشاهی مسجدله زړې آبادۍ څخه دباندې ویران ولاړدی له هغه څخه ځینو خلګوڅه ډبرې راوایستلې په بله ودانۍ کې یې ولګولې یعنی یوه امام بارګاه (دشیعه ګانو عبادتخانه) جوړیږي په هغه کې دمسجدډبرې استعمال کړلې شوې دمسجدډبرې په امام بارګاه کې لګول روادي ،که نه ؟ (۲۱۲۵/ ۱۳۳۷هج)

خواب : دمسجدډبرې په امام بارګاه کې لګول صحیح نه دي دایومخ حرام اوناروادي فقط.

دمسجدتراړتیازیاتې شمعې خرڅول

سوال: (۷۰۳) ومسجدته یوچادومره شمعې ورکړلې چې ترضرورت ډیرې زیاتې دي که تراړتیازیاتې شمعې خرڅې ک ړوقیمت یې دمسجدپه نوروکارونوکې ولګوونوروادی ،که نه ؟ (۲۰۲/۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب : په پوښتل شوې صورت کې زیاتوب شمعې خرڅې کړئ قیمت یې دمسجد په نورو مصرفونوکې صرفول روادي فی الشامی سئل شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلواوتداعی مسجدهاالی الخراب هل لواحدلاهل المحلة ان یبیع الخشب بأمرالقاضی ویمسک الثمن لیصرفه الی بعض المساجداوالی هذاالمسجد؟ قال نعم (۱) له دې عبارت څخه معلومیږي چې دمسجدسامان په وخت کې دزیاتوب تراتیایادمسجددویرانېدوپه صورت کې خرڅول اودهغه قیمت په نورو مصرفونودهمدې مسجدکې صرفول روادي فقط.

(۱) الشامی (۴۰۷/۴) کتاب الوقف ، مطلب فی نقل انقاض المسجد ونحوه ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat. com

دمسجددچندې په اړه مسئلې

ومسجدته چنده ورکوونکې ددې مالکان دي ، که نه

سوال : (۷۰۴) (الف) کوموخلګوچې دمسجددودانولولپاره چنده ورکړې ده دوئ وس ددې مالکان دي ، که نه ؟

(ب) دچندې روپۍ له ورکولوڅه موده وروسته بهرته اخستلای شي ، که نه ؟

(ج) اوکوموخلګوچې دمسجدجوړولولپاره روپۍ ورکړې دي له هغوئ څخه دوهم ځل واجازې اخستلوته اړتیاشته ، که نه ؟ (۳۲/۱۲۵۴-۱۳۳۳هج)

خواب : (الف) ترڅوچې دغه روپۍ په ودانولواونورکې صرف شوې نه وي ورکوونکې ددې مالکان دي.

(ب) ددوهم سوال جواب هم له اول جواب څخه څرګندې یعنی که دغه روپۍ موجودې دي صرفې شوې نه دي نوبیرته یې اخستلای شي.

(ج) کله چې دغوخلګودکوم مسجداونورولپاره چنده ورکړې ده نوپه دې کې دلګولولپاره دوهم ځل واجازې اخستوته اړتیانشته.

دزوئ په واده کې ومسجدته دورکړیوروپوثواب شته ، که نه ؟

سوال : (۷۰۵) زیددخپل زوي واده وکړاوچیري چې ورا (جنج) ولاړه دهغه ځای ومسکینانوته یې جامې اونغدې روپۍ دشهرت اونامه لپاره ورکړي اومسجد ته هم فرش اوڅه نغدې روپۍ ورکړي اوامام اومؤذن ته یې هم روپۍ ورکړي نوکومې چې مسجدته ورکړي دهغه ثواب شته ، که نه ؟ (۱۳۳۵/۱۵۵۰هج)

خواب : که دالله لپاره ومسجدته ورکړي نوثواب شته اوچي دنامه ځان نبوونې اواورولولپاره ورکړي نوثواب نشته په حدیث شریف کې راغلې دي انماالا عمال بالنیات(۱)

دمسجدلپاره په زوراوجبرچنده اخستل

سوال : (۷۰۲) یوقوم یومسجداوځاه جوړول غواړې اوځومالداروکسانوداپلان تیارکړی دی چي له ټولې کورنۍ څخه دې په جبرچنده واخستله شي په داسي مقرروشویوروپودورکړې څخه انکاري شي هغه دې له کورنۍ څخه وایستل شي په داسي مسجدکې لمونځ روادی ،که نه اوپه دې کې مرسته کول ثواب دی ،که عذاب ؟اوددا سي خلګوپه هکله څه حکم دی ؟(۱۳۳۸/۹۲۸هج)

خواب : دمسجدودانول الله رب العزت داهمان نبنه نبوولې ده لکه چي ارشاددی: انمایعمرمساجدالله من آمن بالله الا یة (۲) نومسلمانان بایددمسجدپه مرسته کې پخپله خوښه اوشوق برخه واخلي اوبایدترخپله وسه پورې دده په مددکولوکي کمی ونکړي اخیرپه خپلوښادیواوغمونوکې اړتیاووافضولیاتو کې په پراخ زړه تروس زیاتي مصرفوي نودمسجدپه ودانولوکې څه روپۍ ورکول ولې زوراوجبربولي ؟ بلکي پکارداسي دي چي کومې څه روپۍ دمسلما نانوپه ذمه ددوئ له وس سره سمې مقررې شي هغه په رضا، شوق اواخلاص سره دالله رب العزت دکورپه ودانولوکې ورکړي ترڅوپه اخرت کې دوئ ته پوره ،پوره ثواب ورکول شي اوپه جنت کې به ددې په بدل کې مانۍ ورکولې شي رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلې دي [من بنی لله مسجدابنی الله له بیتافی الجنة (۳) یعنی چاچي دالله جل جلا له لپاره مسجد جوړکړاوپه هغه کې کوم ډول مرسته اوشرکت وکړالله تعالی دده لپاره په جنت کې مکان جوړوي فقط.

---

(۱) عن عمربن الخطاب رضی الله عنه: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: انماالاعمال بالنیات وانمالامرئ مانوی فمن کانت هجرته الی دنیا یصیبهااوالی امرأة ینکحهافهجرته الی ماهاجرالیه (صحیح البخاری ۱/ ۲باب کیف کان بدء الوحی)

(۲) سورة توبه آیت: ۱۸

(۳) عن عثمان رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من بنی لله مسجدابنی الله له بیتافی الجنه متفق علیه (مشکوة المصابیح ص: ۲۸،باب المساجدومواضع الصلوة)

Maktaba Tul Ishaat. com

په چنده کولوپوخ مسجدله نوې سره ودانول

سوال: (۷۰۷) زمونږ په ځای کې یو مسجد دی په دې کې ولمونځ کوونکو ته هیڅ ډول تکلیف نشته خودځوکلیوالورأیه داده چې مسجدشهیدکړوله نوې سره یې جوړکړو چې اندازاځلورزره مصرف ورباندې راځي اوموجوده روپۍ صرف دوولس سوه دي اوپاتې اتوپښت سوه روپۍ به دسوال په صورت له خلګوڅخه واخستل شي اودپاتې روپووصولول ډیرمشکل دي اودغه جمع شوې روپۍ ببله اړتیاصرفول په اسراف کې داخلې دي اوکه نه ؟ ،ځکه چې دمسجدله نوې سره جوړولوته هیڅ اړتیانشته (۳۲/۱۹۷۴-۱۳۳۳هج)

ځواب: دردالمحتارپه وقف کې راغلې دي : وفی ط عن الهندیة مسجدمبنی ارادرجل ان ینقضه ویبنیه احکم لیس له ذلک لانه لاولایة له مضمرات الاان یخاف ان ینهدم ان لم یهدم تاتارخانیة وتاویله ان لم یکن البانی من اهل تلک المحلة واماالهلهافلهم ان یهدموه ویجددوابناء ه الخ (۱) نوکوم خلګ چې له نوې سره مسجدجوړول غواړي که کلهوال دي اوپه چنده کولومسجدجوړول غواړي نوداصحیح دی.

ددوومسجدنوچنده یوځای غونډول

سوال: (۷۰۸) یوځای دوه مسجدونه دي اودواړه نامکمل دي ځایې خلګ پکې چنده ورکوي آیاددواړوچنده بایدجلا ،جلا شي که یوځای ؟ که څوک چنده ورکوونکې داووایې چې داچنده دفلاني مسجدده نوپه بل مسجدکې صرفېدا ی شي ،که نه ؟ (۲۰۱/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: کوم خلګ چې مشترکه چنده دمسجدونولپاره ورکړي هغه په دواړو مسجدونوکې لګېدای شي اوځوک چې خاص دکوم یوه مسجدلپاره چنده ورکړي هغه په هماغه مسجدکې بایدولګیږي.

دمسجدپه چنده کې دشلوروپووعده کولوورسته پنځه روپۍ ورکول

سوال: (۷۰۹) دزیددمسجدپه ودانولوکې دشلوروپوورکووعده کړې وه اوپنځه روپۍ یې هم هغه وخت ورکړې وي اواوس سره له وس درلودوله پاتې پنځلسوروپوورکولوڅخه انکارکوي دقیامت په ورځ به زیددداسي کولوپه وجه نیول کیږي ،که نه ؟ (۳۲/۵۷۵-۱۳۳۳هج)

(۱) الشامی (۴۰۵/۳) کتاب الوقف ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

خواب : پرزید هیخ مواخذه اونویکه نشته فقط.

دیوه مسجددپمپ لپاره جمع کړل شوې روپۍ دبل مسجدپه اړتیاکې صرفول

سوال : (۷۱۰) په مسجد الف کې وپمپ ته ضرورت دی ددې لپاره څه روپۍ راغونډې کړلې شوې دي کومې چې تراوسه دورکوونکوسره دي اوومسجدب ته سخته اړتیاپیښه شوې ده چې دده متولي دمسجدمخکې دیوه کافرسره دخورلس سوه روپوپه بدل په ګروکولوخپل ایمان خراب کړچې ورباندې محکمه شروع ده ،څکه نوکومې روپۍ چې دمسجدالف دپمپ لپاره جمع شوې وې هغه دمسجدب په دغه اړتیاکې لګول اوداسې بدلون کول روادی ،که نه ؟ (۲۲۹۲/ ۱۳۴۳هج)

خواب : په دې صورت کې ورکوونکې هغه روپۍ کومې چې دوئ دمسجدالف دپمپ لپاره راغونډې کړې دي دمسجدب په اړتیاکې صرفولای شي اودابدلون صحیح دی ،څکه چې تراوسه دغه روپۍ دورکوونکوله ملکه وتلې نه دي ،څکه نوکله چې بله مهمه اړتیاله دې څخه پیښه شوه نوددې روپوپه بله دینې اړتیاکې صرفول صحیح دی فقط.

دمسجددډوال لپاره راجمع کړلې شوې چنده دمسجدپه غسل خانواوحماموکې لګول

سوال : (۷۱۱) (الف) که دمسجددډوال لپاره چنده راغونډه کړله شوه له دې وروسته په کومه وجه هغه ډوال جوړنکړل شونودغه روپۍ دهمدې مسجدپه غسل خانواوحمامونوکې صرفولای شي ،که نه ؟ که روانه وي نودغه چنده ورکوونکوپه اجازه په کوم بل مسجدکې صرفولای شو؟

(ب) دیوه مسجدزیاتوب خښتې دیوه کورپه پراویزکې لګولې شوې دي اوس دغه پراویزاوکاږوهمدغه خښتې په مسجدکې ولګوله که دپراویزله مالکه ددې قیمت واخلوپه مسجدکې ولګوو (۲۰۱۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

Maktaba Tul Ishaat. com

خواب : (الف) ددې مسجد په حمام اوغسل خانو کې ددغوروپولګول صحیح دي اوپه بل مسجد کې يې لګول صحیح نه دي خودچنده ورکوونکوپه اجازه داهم صحیح دي.

(ب) همدغه خښتې کومې چې په پراویزکې کارول شوې دي وکاږئ اوپه مسجد کې يې ولګوئ ،ځکه چې دغه خښتې وقف دي ددوئ عوض اخستل صحیح نه دی اماکه همدغه خښتې دمسجد په کارنه راځي بلکې ددوئ دخرڅولواراده وي نوبیادکورله مالکه قیمت اخستل اوپه مسجد کې صرفول صحیح دي فقط.

دمسجددروازولپاره په ورکول شویوروپوباندي منارې جوړول

سوال : (۷۱۲) یوه سړی دمسجدپردروازړودمصرفونولپاره څه روپۍ ورکړي متولي پرمنارودديلګول غواړي روادی ،که نه ؟(۱۵۵۲/ ۱۳۴۳هج)

خواب : دکوم کارلپاره چې چاروپۍ ورکړې دي هغه بایدپه هماغه کارولګول شي خودده په اجازه دمسجد په نورو کارونوکې هم لګول صحیح دي.

دنوې مسجد دودانولولپاره راغونده شوې چنده دجامع مسجد په ترمېم کې لګول

سوال : (۷۱۳) محلې والوپه دې غرض چنده راجمع کړه چې په محله کې نوی مسجدودان کړي هغه روپۍ تراوسه امانت پرتې څه موده وروسته ددوئ دامشوره شوه چې په دې محله کې نوی مسجدجوړول فائده نلري اووجامع مسجدته دروپوسخته ارتیاده دغه روپۍ هلته ورکولای شي چنده ورکوونکې ټول په دې کارخوښ دي دغه روپۍ په جامع مسجدکې لګېدای شي ،که نه ؟ (۲۳۲۲/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

خواب : په دې صورت کې دغه روپۍ دجامع مسجد په ترمېم اونورکې لګول صحیح اوروادي.

ومسجدته دروپوورکولوترارادە وروسته دمسجدپرځای په ځاه کې لګول

سوال : (۷۱۴) که یوسړی دمسجدلپاره څه روپۍ ورکول غواړې اوبیادی همدغه روپۍ دمسجد پرځای په ځاه کې مصرف کړي نوروادی ،که نه ؟ (۲۱۱۸/ ۱۳۴۳هج)

خواب : دغه روپۍ پرځاه صرفول صحیح دي ،ځکه چي دغه سړی چي ترڅودغه روپۍ په مسجدکې لګولې نه دي ترهغودادده ملک دی ،ځکه داپه ځاه کې هم صرفولای شي.

دیوه مسجدچنده دبل مسجدددوکان په جوړولوکې ورکول

سوال : (۷۱۵) دمسجدپرچوتره (تنګاچه) باندي دبام داچولولپاره یوسل لس روپۍ راغونډې شوې خوپردې بام اچول امکان نلري ،ځکه چي حکومت اجازه نه کوي یوبل مسجددناوسوپه محله کې واقع دی دهغه یودوکان ډیرزورشوی دی آیاددغې تنګاچي جمع شوې چنده ددغه بل مسجددوکان په ترمیم کې لګول روادي .که نه ؟ (۱۵۰۵/ ۴۲ - - ۱۳۴۷هج)

خواب : کومې روپۍ چي ددغه دلمانځ دتنګاجې لپاره جمع شوې دي دادې دهمدې دارتیالپاره جمع کښیښوول شي اوکله چي ممکن شي ددې بام دې جوړکړل شي اوکه داسي نشي کېدای بیاهم دي دغه جمع شوې روپۍ دهمدې تنګاچې لپاره کښیښوولې شي ،ځکه چي روپۍ ورکوونکوچي کوم څه ورکړې دي دهمدې لپاره یې ورکړې دي دبل مسجددوکان دودانولولپاره بایدنوې چنده وشي فقط.

دمسجددودانۍ لپاره کړې چنده ومسکینانوته ورکول

سوال : (۷۱۲) یوه سړی دمسجددودانولولپاره له خلګوڅخه چنده واخسته بیایې ټوله پخپلوارتیاووکې ولګوله اوس دی داغواړې چي دغه روپۍ له خانه وفقیرانوته ورکړي که دمسجدودانولوپرځای یې وناوسوته ورکړي نوروادی ،که نه ؟ (۱۸۲/ ۱۳۳۵هج)

خواب : دچنده ورکوونکوڅخه په پوښتنه کولومعلومېدای شي که هغوئ اجازه وکړي نووغریبانوته ورکول کېدای شي که په هغه مسجدکې اوس نشي لګېدای وکوم ته چي چنده ورکول شوې وه نووچنده ورکوونکوته یې بیرته ورکول پکاردي که داسی کول ګران وي اوچنده ورکوونکې نشي معلومېدای نوبیایې وکوم یوه یازیاتوارو خلګوته دصدقه کړئ فقط والله تعالی اعلم.

دمسجدلپاره دوراوالوورکړې روپۍ په هدیره کې لګول

Maktaba Tul Ishaat. com

سوال : (۷۱۷) دیوه مسجد څه روپی جمع دي هغه دارنګه دي چي کومه وراراځي هغه دخپل وس سره سم دمسجد دخرڅ لپاره څه روپی ورکوي دغه روپی دمسجد په خرڅ کې ولګیږي یادمسجد وخادمانوته ورکړلې شي بل مسجد کې دغه روپی لګېدای شي ،که نه په هدیره کې څاه جوړیږي په هغې کې دغه روپی لګېدای شي ،که نه ؟ ۱۲۹۵/ ۱۳۳۹هج)

خواب : دمسجد روپی دهمدې مسجد په اړتیاووکې لګول پکاردي اودمسجد په اړتیاووکې دامام اومؤذن تنخواهم داخله ده ددوئ خدمت هم دقاعدې سره سم دمسجد په آمدني سره کولای شي اوپه بل مسجد کې یادهدیرې په څاه کې یې نشي لګولای فقط.

دمسجدچنده په نوروکارونوکې لګول

سوال : (۷۱۸) دمسجد چنده په نوروکارونوکې لګولای شو ،که نه ؟ (۳۵۰/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

خواب : کومه چنده چي دمسجدلپاره غونډه کړل شي هغه بایددمسجد په کارونو کې ولګول شي اوپه نوروکارونوکې نشي لګېدای فقط.

دمسجدچنده په خیرات ،نذر، مدرسواونوروکې ورکول

سوال : (۷۱۹) کومه چنده چي دمسجددخرڅولپاره مثلا دامام اومؤذن تنخواه ،لوته اوتېل رانیولواودمسجدجوړولولپاره جمع کړل شوې ده په کوم بل مصرف کې مثلادمسافروپه مرسته ،خیرات ،نذرداسلامي مدرسوپه چنده اونوروکې یې لګول روادي ،که نه ؟(۹۴۹/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : کومې روپی چي دمسجددارتیایامسجدودانولولپاره جمع کړلې شي هغه په نورومصرفونومثلا دمسافروپه مرسته اونوروکي صرفول دچنده ورکوونکوله اجازې پرته صحیح نه دي ،ځکه چي دچندې روپی ترڅوپه هغه کارکې لګېدلې نه وي دکوم لپاره چي چنده ورکول شوې وي دچنده ورکوونکو په ملک کې وي نوددوئ له اجازې پرته ددوئ تعیین په خلاف په نورومصرفونو کې لګول صحیح نه دي فقط.

ومسجدته چنده ورکوونکې خپلې روپی بیرته اخستلای شي ،که نه ؟

سوال: (۷۲۰) (الف) خالدله زیدځخه دیوه مسجددخرڅ لپاره څه روپۍ اخستې وي بیادغه روپۍ خالددمسجدپه ضروري تعمیرکې ونه لګولې بلکي دځان په اړتیاووکې یې ولګولي بیاځه موده وروسته اوس خالدهم هغه روپۍ ددې مسجدپه ضروري کارونوکې لګول غواړي خوزیداوس داوایې چې هغه کال تازماروپۍ په مسجدکې ونه لګولې اوس زماروپۍ په مسجدکې مه لګوه ماته یې بیرته راکړه زیددغه روپۍ بیرته اخستلای شي، که نه؟

(ب) اوس ترمنع کولووروسته خالددغه روپۍ دزیدله اجازې پرته په مسجدکې لګولای شي، که نه؟ (۳۲/۲۲۴۲-۱۳۳۳هج)

خواب: (الف) دغه روپۍ زیدبیرته اخستلای شي.

(ب) اوس دزیدترمنع کولووروسته دخالدلپاره دغه روپۍ په مسجداونورو کې صرفول صحیح نه دي فقط.

دامام لپاره دمسجدله چندې څخه څه روپۍ په خپله اړتیاکې کارول

سوال: (۷۲۱) یوځای څه روپۍ دمسجدچندې دیوه امام صاحب سره پرتې وي له هغه څخه څه روپۍ امام پخپل ضرورت کې ولګولې اوپاتې یې چنده ورکوونکوته بېرته ورکړي اوکومې روپۍ چې یې مصرف کړي دهغه له ورکولوڅخه انکارکوي شرعًا په دې اړه څه حکم دی؟ (۳۲۴/ ۱۳۴۳هج)

خواب: په دې صورت کې چې کومې روپۍ نومورې امام صاحب کارولې دي دهغواداکول پرده لازم اوواجب دي اودچندې ورکوونکوله اجازې پرته دده لپاره دغه روپۍ بنوول ناروااوحرام دي که یې دی ورنکړي نودحرام کارکوونکې اوګنهګاردی.

په مسجدکې دورکول شویوروپوحقدارڅوک دی

سوال: (۷۲۲) دیوه مسجدلپاره یوه بهرني سړی پنځه روپۍ ورکړي وي هغه وخت په مسجدکې کوم مستقل امام نه وواندازایوه هفته (اونۍ) وروسته په دې مسجدکې مستقل امام وتاکل شودغه پنځه روپۍ ددې امام حق دي که دمسجدپه لوتو (بدنیو)، فرشونواونوروکې ولګول شي؟ (۷۳۰/ ۱۳۴۳هج)

خواب: پنځه روپۍ کومې چې دنومورې امام له راتګ مخکې کوم شخص ومسجدته ورکړې دي هغه ددې امام حق نه دی دغه روپۍ دمسجددي دمسجدپه کارونولکه سولاغه، رسۍ، لوته، صفونواونوروکې دې ولګول شي فقط.

دکافرومسجدته دصدقې ورکولوشرعًا څه حکم دی

Maktaba Tul Ishaat. com

سوال : (۷۲۳) دکفاروصدقه که دوئ دمسلمانانوومسجدونوته راوړي نودغه صدقه موږمسلمانان اخستلای شو،که نه ؟ مثلا یوه هندوپخپل کوم مصیبت کې دخدای په نامه یواوښ نذرومانی اوهغه اوښ یې ویوه مسجدته ورکړاسي صدقه دمسلمانانولپاره اخستل اودهغې خوړل صحیح دي ،که نه ؟ (۲۱۰۳/ ۴۶ - ۱۳۴۷هج)

خواب : که دغه هندوهغه اوښ ومسجدته ورکړی دی نوداخرځ کړئ ددې قیمت په مسجدکې ولګوئ دلمونځ کوونکوله دې څخه خوراک صحیح نه دی اوکه دلمونځ کوونکولپاره یې ورکړی دی لکه چې روژه مات اونوردلمونځ کوونکو لپاره په مسجدکې ورکوي نوددې خوراک ددوئ لپاره صحیح دی فقط.

دمسجددمیوولیلام اودمشرک دچندې حکم

سوال : (۷۲۴) (الف) دیوه مسجدپه غولې کې دمیوې ونې دي اودغه درختې دمسجدپه ملک کې دي کله چې ونې میوه وکړي نوهغه لیلامیږي دغه لیلامول روادي ، که نه ؟

(ب) غیرکتاب مشرک په مسجدکې څه ورکول غواړي نودمسجدمتولي یې اخستلای شي ،که نه ؟

خواب : (الف) داړازلیلام کول شرعاروادی اوکومې روپۍ چې له دې حاصلیږي هغه دې په مصالحودمسجدکې ولګولې شي قال فی الحاوی غرس فی المسجد اشجاراتثمران غرس للسبیل فلکل مسلم الاکل والافتباع لمصالح المسجد انتهی (۱) اوپه فتاوی قاضی خان کې راغلې دي: مسجدفیه شجرة التفاح الخ الصحیح انه لایباح لان ذلک صارللمسجدیصرف الی عمارة المسجد(۲)

(ب) اخستلای یې شي فقط.

---

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۴۵۵/۳) کتاب الوقف ، مطلب استاجردارا فیهااشجارط رشیدیه.

(۲) الفتاوی الخانیة مع الهندیة ۳۱۰/۳ ، ۳۱۱کتاب الوقف ، فصل فی الاشجار.

دکمپنۍ آمدني دمسجدپه ودانولوکې لګول

سوال : (۷۲۵) دیوې کمېټې آمدني (عائد) وکورکورته دغنمو په اوړوورکولو راځي اوس یومسجد چې نامکمله پروت دی دده په ودانولوکې دکمېټې آمدني دکمېټې دارکانو (غړیو) په اتفاق سره لګېدای شي ،که نه ؟ (۱۷۱۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : داسي آمدني دمسجد په ودانولوکې لګول صحیح دی فقط.

دمسجدلپاره وقف کړې روپۍ ېیرته اخستل

سوال : (۷۲۶) ځینو خلګو څه روپۍ دمسجد دترمېم لپاره وقف کړې وي اوس دغه روپۍ ېیرته اخستل غواړي اخستلای یې شي ،که نه ؟ (۹۳۳/۳۲- ۱۳۳۳هج)

خواب : ترڅوچې دغه روپۍ دمسجد په ترمېم کې لګېدلې نه وي دچندې شرېکان اوچنده ورکوونکې یې ېیرته اخستلای شي تراوسه ملک ددوئ دی دروپوو قف خوکېږي نه ،خکه نوترلګېدومخکې دمالکانوملک باقي پاتی دی

دانګریزې زدګړه کوونکومسجدته چنده ورکول

سوال : (۷۲۷) دیوه مسجدوودانولوته اړتیاده ،ځکه ټولو کلېوالوچنده ورکړه اونواب سلطان احمدخان صاحب اودده زوئ آفتاب احمدخان صاحب چې دآله آباددستري محکمې وکیلان دي اودعلی ګړه په یونېورستۍ کې یې زده کړې ده دوئ وچنده ورکولوته آمده دي ځیني کلېوال وایې چې ددوئ چنده صحیح نه ده دشرېعت له مخې دعلی ګړه دیونیورستۍ له زده کوونکو څخه چنده اخستل شرعًا څه پروالري ،که نه ؟ (۱۳۳۵/۴هج)

خواب : دنومورو چنده په مسجد کې لګول صحیح ده ددغو خلګو ګمان غلط دی کوم چې له دغوصحبانو څخه دچندې اخستلو نه صحیح کېدوویناکوي فقط والله تعالی اعلم.

دغرېبانولپاره راغونډه کړې چنده په مسجدکې لګول

سوال : (۷۲۸) که دتبې په وباء کې کلېوالوچنده راغونده کړه چې په مسکېنانو اوناوسوبه دوډۍ وخوروله چندې راجمع کېدووروسته دمسجدمولوي صاحب وویل چې دغه روپۍ دمسجد په ودانولوکې ولګوئ داسي کول روادي ،که نه ؟ (۱۱۵۸/ ۱۳۳۷هج)

خواب : که دچنده ورکوونکو خوښه وي نوهیڅ پروانلري فقط.

په مسجدکې دنامناسبه مال دلګولوبیان

Maktaba Tul Ishaat.com

له خپل اومشترک مال څخه دودان کړې مسجدحکم

سوال : (۷۲۹) یوسړی وفات شوده ښځه اوځه وارثانونورهم دي خوده ښځې وهیڅ وارث ته هم برخه ورنکړه اوکوندې په دغه مال اوروپوچي پکي دوارثانو حق هم ورګډوو پوخ مسجد جوړکړپه دې مسجدکې لمونځ کیږي ،که نه ؟ (۱۲۱۸/ ۳۳ - ۱۳۳۴هج)

ځواب : په دې مسجدکې لمونځ صحیح کیږي خودخدای په کورکې داسي شکمن اوګډمال لګول الله رب العزت نه قبلوي لکه چي په حدیث شریف کې راغلي دي: ولایقبل الله الا الطیب(۱) اوس میرمني ته پکاردي چي دکوم ، کوم چاحق ددې پرذمه دی هغه وراداکړي یایې په وپخښي ترڅوددې غاړې خلاصې شي اومسجدهم پاک اوصفاشي فقط.

دحج لپاره په جمع کړیوروپوباندي مسجدجوړول

سوال : (۷۳۰) یومېرمني له خلګوڅخه په غوښتنه څه روپۍ دحج لپاره جمع کړې خوپه کومه وجه حج ته نه ولاړه اوس داغواړي چي په دغوروپویومسجد جوړکړم نوددې لپاره داسي روادي ،که نه ؟اودغه مال پاک دی ،که نه ؟(۱۵۳۱/۱۳۳۵هج)

ځواب : هغه روپۍ ددغې میرمني په ملک کې راغلي که په دغوروپومسجد جوړکړي نوروادی په دې کې هیڅ ناوړتیانشته.

یادونه : واحقرته په دې کې تامل دی ،ځکه چي میرمن کله په داسي وخت کې درپومالکه شوه چي پرحج قادره وه نوحج پردې فرض شواوس که داپخپله حج نه شي کولای نوبایدبل څوک حج بدل ته ولیږي که په مسجدکې یې ولګولې نوحج بدل ته څوک لیږل به ددې پرذمه وي بنده محمدشفیع عفی الله عنه.

دسرسایې اونوروواجبوصدقوروپۍ دمدرسې په ودانولوکې لګول

سوال : (۷۳۱) دمدرسې په ودانۍ کې دصدقه فطر(سرسایې) روپۍ لګول روادي که ددې لپاره بله چنده وشي ؟ځینې خلګ همداسي غواړې(۱۸۲۸/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

ځواب : دسرسایې روپۍ دمدرسې په ودانولوکې لګول صحیح نه دي ،ځکه چي په سرسایه اونوروواجبوصدقوکې تملیک دفقیرضروري دی اوپه ودانۍ کې په لګولو تملیک نشي کېدای

---

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من تصدق بعدل تمرة من کسب طیب ولایقبل الله الا الطیب فان الله یتقبلها بیمینه ثم یربیهالصاحبهاکمایربی احدکم فلوه حتی تکون مثل الجبل (الجامع الصحیح للبخاری ۱/ ۱۸۹ کتاب الزکوة ،باب الصدقة من کسب طیب)

،خکه نودمدرسې ودانولولپاره دې بېله چنده وشي لکه چې دځینوښاغلیورأیه ده اوهمدغه صحیح ده اودسرسایې روپۍ بایدداسلامي مدرسوپرطالبانوو لګولې شي فقط.

دقربانۍ اوعقیقې دځرمنوقیمت اونورې واجبې صدقې په مسجدکې لګول

سوال : (۷۳۲) (الف) دصدقو، خیراتونو، زکوة اودقربانۍ اوعقیقې دځرمنو روپۍ اونورپه مسجدکې لګول روای ،که نه ؟ هغه که ودانول وي اوکه نورمصر فونه.

(ب) په دغوروپوکه مسجدودان شي نوپه داسي مسجدکې لمونځ څنګه دی ؟ یعنی لمونځ کاملیږي که نېمګړی ؟ یاکه دثواب په کمولی سره ؟

(ج) دمسجدپه ودانولوکې بایدځنګه مال ولګول شي ؟ (۱۷۲۸/ ۲۹ - ۱۳۳۰هج

خواب : (الف ، ج) دزکوة اودقربانۍ دځرمنواوټولوواجبوصدقودمسجدپه ودانولوکې لګول دتملیک له حېلې پرته لګول روانه دي نفلي صدقې اوخیراتو نه په مسجدکې لګولای شي په مسجدکې بایدحلال مال ولګول شي اوداپورته معلومه شوه چې په کوم مسجدکې حرام مال ولګول شي په هغه کې لمونځ سره له کراهیته کیږي نومعلوم شوچې ثواب کمیږي اصل لمونځ اداکیږي په شامي کې راغلې دي قال تاج الشریعة امالوانفق فی ذلک مالا خبیثا اومالاسببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الا الطیب فیکره تلوښ بیته بما لایقبله (۱) فقط والله تعالی اعلم.

دزکوة روپۍ دمسجدپه ودانۍ کې لګول

سوال : (۷۳۳) دمسلمانانویوه ناوسه ډله ده ددوئ مسجدخام دی په باران کې ډیرځخیږي دوئ بې دوس نه درلودوله امله پوخ نشي جوړولای دیوه سړی سره دزکوة روپۍ شته دغه روپۍ په مسجدکې لګېدای شي ،که نه ؟ (۱۷/ ۱۳۴۰هج

خواب : دزکوة روپۍ دمسجدپه ودانۍ کې لګول صحیح نه دي یعنی په دې سره زکوة نه اداکیږي اوبیابه زکوة ورکوي خودجوازیوه حېله فقهاؤدالیکلې ده چې دزکوة روپۍ دې اول ویوداسي شخص ته ورکول شي چې دنصاب مالک نه وي بیادې له خپل طرفه دغه روپۍ دمسجدپه تعمیرکې ولګوي داسي روادي فقط

(۱) الشامی (۱/ ۴۸۷) کتاب الصلوة مطلب کلمة لاباس دلیل علی ان المستحب غیره الخ.

Maktaba Tul Ishaat. com

دقربانی دخرمنوروپی په مسجدکې لګول

سوال: (۷۳۴) یوپخوانی مسجدچې ویجارپروت دی لمانځه ته هم څوک نه ورځي یومخ زوړشوی دی دکلې مسلمانانویوبل نوی مسجدودان کړنوپه دې صورت کې دلومړنی مسجدترمیم زیات ضروري دی که دغه نوی آبادول ضروري دی ؟ په جماعت کې دبیلتون راتلواند ښښنه ده اودقربانی دخرمنو روپی دمسجدپه ودانولو کې لګول څنګه دي ؟ (۲۱۰۱/ ۴۶-۱۳۴۷هج)

خواب: مخکنی مسجدچې ویجارپروت دی دهغه ترمیمول اوآبادول روابلکې ضروري دی اوداعذرچې ددې په ابادولودجماعت ماتیدووېره ده داداسې عذر نه دی چې ددې له کبله دی ابادنکړل شي امادقربانی دخرمنوقیمت دمسجدپه ودانولواوترمیم کې لګول روانه دي.

دقربانی دخرمنوروپی دمسجدپه ارتیاووکې لګول

سوال: (۷۳۵) که دمسجددمتولي سره دقربانی دخرمنوروپی جمع وي اوهغه دمسئلې څخه دناخبرتیاله امله دمسجدپه ارتیاووکې دغه دقربانی دخرمنورو پی ولګوي نودمسئلې ترمعلومیدووروسته دمسجدله خانګړې آمدنی څخه په دغه دقربانی دخرمنولګولې روپی بیرته ورکوي که به له خپل خانه اداکوي ؟ (۳۹۸/ ۱۳۳۸هج)

خواب: له خپل خانه به یې اداکوي فقط.

دحکومت په روپومسجدجوړول

سوال: (۷۳۶) شاه اکبریوخای ښه په زړه پورې مسجدجوړکړی دی حالاددغه مسجدمتولي اولمونځ کوونکې دناوسی اوپه دوه لاسه کیدوله امله ددې ترمیم نشي کولای ،څکه نوحکومت پخپله خوښه ددې مسجدودانول غواړي که څه هم دیرش څلوښت زره روپی صرفې شي آیاپه دغوروپودمسجدترمیم روادی ؟ (۲۱۴/ ۴۶-۱۳۴۷هج)

خواب: ددې غوره صورت دادی چې حکومت دغه روپی ومسلمانانوته ورکړي هغوئ یې پخپله ددې مسجدپه ترمیم کې ولګوي په هرحال که حکومت پخپله هم ددې ترمیم وکړنوپه دې کې هم کومه تنګي نشته فقط.

سوال: (۷۳۷) په یوه کلې کې یومسجددی چې ډیرویران اووېجارشوی دی مسلمانان ددې دجوړولووس نلري په موجوده حال کې ددې دزړنګیدووېره ده آیاددې دترمیم لپاره مسلمانان وحکومت ته خواست کولای شي ؟ اودحکومت ددغه مسجدودانول خوبه

دشرعي په خلا ف نه وي ؟ کله چي تولیت اودننې بندوبست ددغه مسجد به دمسلمانانوپه لاس کې وي اومذهبي کارونه به دقانون سره سم په دې کې جاري اوپرخای وي اودودانولوپه وجه به حکومت هیڅ ډول قبضه یاپه مذهبي کارونوکې مداخله نه کوي (۲۱۸/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

خواب : که واقعهٔ حال همداسي وي لکه چي په سوال کې يې يادونه شوې ده اوحکومت به پرته له ترمیمولواوجوړولونورهیڅ مداخله ددغه مسجد په انتظاماتوکې نه کوي نوپه حکومت ترمیمول هیڅ پروانلري.

دفوج په سرمایه دجوړشوې مسجدحکم

سوال : (۷۳۸) یومسجدکوم چي مخکې فوجي مسلمانانوودان اوآبادکړی ووچي پکې لمونځ کېدی اوس ځینې خلک اعتراض کوي چي دامسجدسرکا ري دی اودفوج په سرمایه (پانګه) جوړشوی دی ،څکه نوجمعه اوجماعتونه په دې کې روانه دي په دې اړه شرعي حکم څه دی ؟ (۳۲۲۴/ ۱۳۴۰هج)

خواب : دجمعې اونورلمونځونه په دې کې صحیح کیږي ،څکه چي ښکاره ده چي دغه مسجدفوجي مسلمانانوودان کړی دی که څه هم مخکه به حکومت ورکړې وي فقط.

دکوم پیرپه نامه دوقف شوې جائدادآمدني په مسجدیامدرسه کې لګول

سوال : (۷۳۹) دکوم پیریابزرګ په نامه چي کوم جائدادیامخکه وقف شوې وي دهغه آمدني بایدچیري ولګول شي ؟ اوپه مسجداومدرسه کې لګېدای شي ،که نه ؟ (۱۲۱۹/ ۱۳۳۵هج)

خواب: دوقف شرطونه په پا م کې نیول ضروري دي نووقف کوونکې چي کوم مصرف مقررکړی دی له هغه سره سم په هماغه مصرف کې بایددغه آمدني ولګول شي دوقف کوونکې له څرګندونې پرته په مسجداومدرسه کې يې نشي لګولای شرائط الواقف کنص الشارع(۱) (شامی وغیره)

دریااونامه لپاره ورکړې روپۍ په مسجدکې لګول

سوال : (۷۴۰) کله چي کوم څوک په کوم واده کې درواج سره سم دخپلې خورکره پخې وربېجې راوړي نوټول کلیوال راجمع کړي هغوئ ته ښکاره کوي ترڅوخلک دده تعریف وکړي اوټول په مسجدونوکې یوه ، یوه دوې ،دوې روپۍ ورکوي له دې څخه هم غرض داوي چي خلک يې وستایې آیا دمسجدمتولي دغه روپۍ په مسجدکې ولګوي ،که نه ؟ که يې ښېرته ورکړي ؟ (۲۴۸۲/ ۱۳۴۰هج)

خواب : که دورکوونکې نیت صفانه وي بلکې دریا ،فخراونامه وي نوده ته په دې ورکولوکې ثواب نشته اماد مسجد دمتولي لپاره ددغوروپواخستل اوپه مسجدکې لګول صحیح دي اوښېرته

(۱) الدرالمختار(۳/ ۴۵۲) کتاب الوقف ، مطلب فی قولهم: شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه .

Maktaba Tul Ishaat. com

باید ورنکړي فقط.

دبلمانځه یاکافردجوړکړې مسجدحکم

سوال: (۷۴۱) څه وایې علماء ددین ددغومسئلوپه اړه: مسئله: که کوم بې لمانځه پخپل مال مسجدجوړکړي نوپه هغه کې لمونځ کول روادی ،که نه ؟ اوپه دې کې په لمونځ کولوبه دمسجدثواب ورکول کیږي ،که نه ؟ اوددې مسجدحکم به دمسجدوي که بل مثلا دکورونواونوروداراز دکافردنصراني ، هندواوشیعه دجوړکړې مسجد څه حکم دی ؟ اودارازله دغوټولوڅخه چندہ اخستل څنګه دي ؟(۱۳۳۸/۴۰۰هج)

ځواب: دبې لمانځه دجوړکړې مسجددمسجدحکم لري اولمونځ پکې صحیح دی اونصراني . هندواونوردکوموپه نزدچې مسجدجوړول دثواب کارنه وي ددوئ دجوړکړې مسجدمسجدنه دی اوکه دوئ دادثواب کاربولي نومسجدګرځي اوله دغوټولوچنده اخستل هم صحیح دی اودشیعه جوړکړی مسجدمسجد دی.

دمزارونوپه آمدني مسجدجوړول څنګه دی ؟

سوال: (۷۴۲) په مزارونوکې چې کوم خلګ روپۍ ورکوي په دغوروپومسجد جوړول روادی ،که نه ؟(۱۰۲/۴۷-۱۳۴۷هج)

ځواب: که دمسجدلپاره کوم بهل ځای وي اودروپۍ ورکوونکوخوښه وي نودغه روپۍ دمسجدپه ودانولوکې لګېدای شي.

دناروغه پرلاس ترلې اودنذرروپۍ په مسجدکې لګول

سوال: (۷۴۳) که کوم شخص دخپل حیوان په ناروغۍ کې داسي ووایې چې که دابنه شونوزه به دومره روپۍ دالله په نامه ورکوم نودغه روپۍ په مسجدکې لګېدای شي ،که نه ؟ اوکومې روپۍ چې دناجوړه پرلاس ترل کیږي هغه په مسجدکې لګېدای شي ،که نه ؟(۱۳۳۸/۲۰۱هج)

ځواب: دغه روپۍ ومسکینانوته ورکول پکاردي په مسجدکې یې لګول صحیح نه دي هوکومې چې دنذرپه صیغه نه وي لکه دناروغ پرلاس ترل نوده ته اختیاردی که یې په مسجدکې لګوي اوکه یې وناوسوته ورکوي.

دقصابانودحلا لولومزدوري په مسجداوهدیره کې ورکول

سوال: (۷۴۴) زمونږپه ښارکې دذبیحې دمزدورۍ په اړه قصابانوداپرېکړه کړې ده چې نیمې روپۍ به په مسجدکې لګوواونیمې به دهدیرې په کارراوړواو مخکې به دغه روپۍ دهدیرې وفقیرته ورکول کېدې په دې صورت کې څه کول پکاردي ؟(۱۳۳۴-۳۳/۱۷۰۷هج)

ځواب: ددغوروپو په مسجدکې لګول صحیح دي اوپه هدیره کې یې لګول هم صحیح دي خنګه چې

دقصابانو (کوم چې دد غوروپوورکوونکې دي) خوښه وي هماغسې کول پکاردي کومه فیصله چې دذوئ په خوښه پخپل مینځ کې شوې ده په هغه کې شرعًا هیڅ حرج نشته همداسې دې وکړل شي چې نیمی روپی په مسجد کې ولګول شي اونیمي دهدبرې په کاررااوستل شي یاکه وفقیرته دورکولورأیه وي نوهغه ته دې ورکړي فقط.

دقرض په روپومسجدجوړول

سوال : (۷۴۸) (الف) دقرض په روپومسجد جوړول صحیح دي ،که نه ؟

(ب) دمسجد غټې ،غټې ګنبدې اومناري جوړول څنګه دي ؟ (۳۱۸/ ۱۳۴۵هج

خواب : (الف) صحیح دي (ب) صحیح دي.

دجرېمې روپۍ په مسجد کې دلګولوحکم

سوال : (۷۴۶) په جرګه کې ویوسړی ته دجرم کولوله امله ویل کیږي چې دجرېمې په توګه لس ،یاشل روپۍ مثلا په مسجد کې ورکړه داسې روپۍ په مسجد کې لګول یادځاه په جوړولوکې لګول روادي ،که نه ؟ (۷۵۷/ ۱۳۳۸هج)

خواب : جرمانه په شرېعت کې صحیح نه ده ،ځکه نودجرېمې په توګه له دغه مجرم څخه په جبر (زور) روپۍ اخستل اودمسجد اوځاه په ودانولوکې لګول صحیح نه دي فقط.

دنکاح ترلودمزدوري په مسجد کې ورکول

سوال : (۷۴۷) که نکاح تروونکی دنکاح ترلومزدوري پخپل مصرف کې نه راوړي بلکې دمسجد په تېلواوپوزیوکې ولګوي نوروادي ،که نه ؟ (۱۰۹۹/ ۱۳۳۸هج)

خواب : که پخپل کارکې لګوي اوکه يې ومسجد ته ورکوي دواړه صحیح دي.

دبانسکوب (سپنما) اوسرکښې په آمدني مسجدجوړول

سوال : (۷۴۸) دبانسکوب اوسرکښې په آمدني (عائد) دمسجد ترمیم اونورکول روادي ،که نه ؟ (۴۴/۳۴ - ۱۳۳۵هج)

خواب : بایدله داسې ناروا آمدني څخه مسجد خوندي کړل شي ، لان الله طیب لایقبل الا الطیب فیکره تلویث بیته بما لایقبله (۱) انتهی ملخصامن الشامی فقط.

که پرچا دبدکارشک وي دهغه روپۍ په مسجد کې لګول څنګه دي ؟

سوال : (۷۴۹) دیوه سړی حالت ډیرخراب وودیرناوسه سړی وودخوراک لپاره یې دودی هم نه شوای

(۱) الشامی (۱/ ۴۸۷) کتاب الصلوة ، مطلب: کلمة لاباس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه)

Maktaba Tul Ishaat.com

موندلی اوس له څوورځوخخه دی دیوبنګالي بابوسره مزدورشوی دی له همدې وخته حال داسي شوي دی چي هیڅ یوه میاشت داسي نه تېریږي چي پکي پنځه شپږسوه روپۍ نه رالیږي له باوري وسیلوخخه معلومه شوې ده چي هغه بابو دد غه سړی سره بدفعلي کوي په دې وجه هغه بابوده ته داروپۍ ورکوي اوس دغه سړی یومسجدزمونږپه کلي کې جوړول غواړي نودغه روپۍ په مسجدکې لګولوته پرېږدو ،که نه ؟ (۲۷۵/۱۳۳۵هج)

ځواب : په داسي آوازواورېدوپه خبرونودنومونږ پرآمدني دحرمت حکم شرعًا نشي کېدای اودی دمسجدله ودانولوخخه نشي منع کېدای خوده ته داپکاردي چي په مسجدکې له حلا ل مال پرته نورمال ونه لګوي ،ځکه چي راغلې د ي : انمایقبل الله الطیب(۱) یعنی الله رب العزت صرف پاک قبلوي اونورخلګ دې پرده بدګماني نه کوي: ان بعض الظن اثم(۲) یعنی ځینې ګمان ګناه وي فقط.

دجاروووهوونکې مسلمان روپۍ په مسجدکې لګول

سوال : (۷۵۰) کله چي دمسجدونوودانولوپه چنده کې ددې ځای خاکروب (جاروووهوونکې) کلمه ویوونکې ،لمونځ ګذاره ، دروژې پابندمسلمان نغدې روپۍ پټې ورکوي ځان دثواب ګټلوحقدارګرځول غواړې آیاددغوخلګوورکړې چنده ددې ورده چي دخیرپه کارکې ولګیږي اوکه نه ؟ (۸۳۱/۱۳۳۵هج)

ځواب : دجاروووهوونکې مسلمان ، لمونځ کوونکې ،دروژې اولمانځه پابند چنده اخستل اوپه مسجدکې لګول صحیح دي اوجاروووهونکی دچندې ورکولو په وجه بېشکه داجراوثواب حقدارګرځي قال الله تعالی: انمایعمرمساجدالله من آمن بالله والیوم الآخرالآیة(۳) وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم من بنی لله مسجدابنی الله له بیتافی الجنة (الحدیث) (۴) څرګندونه دې وي چي دجاروووهولوکسب کول ددې سبب نه دی چي دده روپۍ په مسجدکې ونه لګولې شي بلکي کله چي دی مسلمان دی اوپه نېک نیت اواخلا ص سره دمسجد مرسته کوي نوبېشکه دالله رب العزت اودهغه درسول صلی الله علیه وسلم له وعدې سره سم دثواب اوجنت حقداردی.

---

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله طیب لایقبل الا الطیب ...(ص. ۲۴۱ .کتاب البیوع . باب الکسب وطلب الحلال (۲) سورة حجرات آیت: ۱۲ (۳) سورة توبه آیت: ۱۸ (۴) عن عثمان رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من بنی لله مسجدابنی الله له بیتافی الجنة متفق علیه (مشکوة ص: ۶۸ . باب المساجد ومواضع الصلوة . کتاب الصلوة).

دغیرو په ټکټونولاس ته راتلوونکې روپۍ په مسجد کې لګول

سوال: (۷۵۱) دغیرو په مېله کې چې کومې روپۍ په ټکټ وصولې او جمع شي هغه په مسجد کې لګول څنګه دي؟ (۴۸۲/ ۱۳۳۸هج)

خواب: صحیح نه دي، څکه چې کوم مال په ناروا اوشکمنه طریقه لاس ته راوړل شي دهغه په مسجد کې لګول منع دي کمافی الشامی قال تاج الشریعة امالوانفق فی ذلک مالا خبیثا اومالا سببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الا الطیب فیکره تلویث بیته بمالایقبله الخ(۱) (شامی ۱/ ۴۴۲هج) فقط.

سوال: (۷۵۲) دپهلوانانودغیرو نظاره کوونکوڅخه چې دټکټونوکومه آمدني راځي ددغود مسجد په تعمیرکې لګول روادي، که نه؟ (۱۸۷۲/ ۱۳۳۵هج)

خواب: داسې روپۍ په مسجد کې لګول روانه دي مسجد دخدای کوردی په دې کې صرف پاک مال لګېدای شي په خبیث اوشکمن مال دده ودانېدل نشي کېدای دلهواولعبو، تماشواولوبو په وسیله چې دبېلابېلومذهبونوله خګلوکومې روپۍ اخستل شوې دي خبیث اومردارکسب دی اوپه خبیثو اسبابووصولې شوې دي ددې مصرف مسجدنه دی قال تاج الشریعة: امالوانفق فی ذلک مالا خبیثا سببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الاالطیب فیکره تلویث بیته بما لایقبله انتهی شرنبلالیة(۲) (شامی) وفی الدرالمختار: ان الملاهی کلهاحرام الخ(۳)

دشوره دآمدني روپۍ په مسجد کې لګول څنګه دي

سوال: (۷۵۳) که دشوره دآمدني روپۍ دمسجد په ترمیمولوکې ولګوي نوڅه حکم دی؟ (۱۲۱/ ۱۳۳۷هج)

خواب: په شامي کې دي: قال تاج الشریعة: امالوانفق فی ذلک مالا خبیثا سببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الاالطیب فیکره تلویث بیته بما لایقبله الخ(۴)

---

(۱) الشامی (۱/۴۸۷) کتاب الصلوة مطلب: کلمة لاباس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه.
(۲) الشامی (۱/ ۴۸۷) کتاب الصلوة مطلب: کلمة لاباس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه.
(۳) الدرالمختار مع الشامی (۵/ ۲۴۵) کتاب الحظر والاباحة قبل فصل فی اللبس
(۴) الشامی (۱/ ۴۸۷) کتاب الصلوة مطلب: کلمة لاباس دلیل علی ان المستحب غیره.

Maktaba Tul Ishaat. com

له دې روایت څخه معلوم شوچې حرام اومکروه آمدني په مسجد کې لګول روانه دي نورله پوښتنې څخه دامعلومه نشوه چې دشوره له آمدني څخه څه مراددي که دامرادوي چې شوره قلمي (۱) اونورکومه چې خلګ خرڅوي دهغه روپۍ په مسجد کې لګول څنګه دي ؟ نوددې څواب دادی چې صحیح دی اوکه دامرادوي چې په آتش بازۍ (توشکو) اونوروکې چې کومه شوره ډکیږي دهغه دآمدنۍ پوښتنه ده نوهغه نارواده فقط.

دهډوکودتجارت په روپوپه ودان کړې مسجدکې لمونځ صحیح دی

سوال : (۷۵۴) یوشخص زیددهډوکوتجات کاوی ددغه تجارت په روپوده یو مسجدجوړکړپه دغه مسجدکې لمونځ صحیح دی ،که نه ؟ له دې مخکې دپوښتوونکې دبنګو، شرابواوافیونو (تاریاقو) اونورودوکان وودې دناروااومنع والي په اورېدویې سمدستي دوکان پرېښوداوتوبه ګارشودشرابو ددوکان سرمایه پنځه سوه روپۍ دده سره موجودې دي په اوس وخت چې کومه سرمایه اوروپۍ دحلا ل اوهډوکودتجارت له سائل سره دي په هغوکې دغه دشرابوپنځه سوه روپۍ هم ورکړې شوې دي داڅرنګه ځینې ببلې کړلې شي ؟

ځواب : په دې صورت کې چې کوم مسجدزیددهډوکودتجارت په روپوودان کړی دی داشرعي مسجددی ،لمونځ پکې صحیح دی اوپنځه سوه روپۍ کومې چې دشرابودتجارت ورکړې شوې دي هغه دې ببلې کړي پرفقیرانواومسکینانو دې صدقه کړي اودببلولوصورت دادی چې له موجوده روپوڅخه دې پنځه سوه روپۍ په دې فکرکولوببلې کړي چې داروپۍ په بدله کې دهغوروپودي کومې چې دشرابوله قیمته ورکړې شوې دي اودادې جلا کړي صدقه دې کړي فقط

دهندواومسلمان ګډه چنده په مسجدکې لګول

سوال : (۷۵۵) که په اولسوالۍ اونوروکې کوم صندوخ کښېودل شي په هغه کې هرسړی هندواومسلمان روپۍ اچوي نوددواسي ګډوودوروپوپه مسجدکې لګول جائزدي ،که نه ؟ (۱۳۴۰/۱۹۴۹هج)

ځواب : داسي ګډوډي روپۍ په مسجدکې لګول صحیح دي.

(۱) شوره قلمی : دسپین خلبدوونکې شپږارخیزې څانګې خوندیې تریووي اوخوله یخوي شوره دمخکې پرمخ په سپین رنګ دقدرت له لورې یخ شوی وي چې بیایې په یوه څانګړې طریقه صفاکوي الخ (کتاب الادویه المعروف به مخزن مفردات ۲/ ۲۵۸)

په حرامورو پورانیولې شیان په مسجد کې ورکول مکروه دي

سوال : (۷۵۶) که زید دانګریزي باجې په آمدني (عائد) فرش ، دری اوددیوال ساعت (ګړۍ) رانیسي په مسجد کې یې ورکړي نوپرداسي فرش لمونځ اوددې ساعت په مسجد کې ښوول روادي ،که نه ؟ (۱۳۴۰/۲۵۲۹هج)

خواب : په شامي کې راغلې دي : قال تاج الشريعة امالوانفق فی ذلک مالا خبيثا سببه الخبيث والطيب فيكره لان الله تعالى لايقبل الاالطيب فيكره تلوبث بيته بما لايقبله (۱) نومعلوم شوچې له حرامې آمدني څخه په مسجد کې دبيان شويوشيانوورکول اوښوول مکروه دي اولمونځ که څه هم اداکيږي خومکروه دی کمافی ارض المغصوبة فقط.

دګډوډاوشکمن مال په مسجد کې کارول صحيح نه دي

سوال : (۷۵۷) زيددبوي دمې اوناچ ګړي زوئ دی دده ګټه شکمنه ده په باجه . ډول اونورووهلويې ګټلې ده دده روپۍ دمسجدپه اړتياووکې لګېدای شي .که نه ؟ (۴۰/ ۳۲ ۱۳۳۳هج)

خواب : دمسجداودمسجددارتياوولپاره بايدپاک اوحلال مال واخستل شي اوولګول شي مردارواوشکمن مال په مسجد کې مه لګوئ نودزيدآمدني خومشتبه اوشکمنه ده اوله حراموا وحلا لوګډوده ده .خکه نوپه مسجد کې دې ونه لګول شي.

سوال : (۷۵۸) يوسړی سوداګري کوي په تېره بيادانګريزي شيانواودده آمدني له بيلا بيلوسيلوڅخه ده مثلا دمانيودکرايوروپې دي اوتهکه هم اخلي خوپه دوکان کې دتجارت له ډېرسامان پرته دخنزيرغوښه اوهرډول ولايتي شراب هم خرڅوي اوهمدغه شخص دمسجددکومې برخې ترميم يادڅاه جوړول ياد اسلامي مدرسې دخرڅ لپاره څه روپۍ ورکول غواړي ددې سړی له آمدني څخه په دغوکارونوکې روپۍ لګول روادي ،که نه ؟ که دده روپۍ په دغوکارونوکې ولګول شي نوڅه خرابي پېښيږي ؟ اوله يادوشويوشيانوڅخه دکوموشيانو رانيول اوخرڅول منع دی ؟ (۳۲/ ۲۰۳۷ - ۱۳۳۳هج)

خواب : دخنزيردغوښې اووازګواونوروهرډول شرابوددې تولوشيانورانيول اوخرڅول قطعي حرام دي اوپه ځينې صورتونوکې باطل دي اودتصوير(عکس) تاش اونوروحرام کړل شويورانيول اوخرڅول هم ناروادي لنډه داچې ددې شخص آمدني له حلا لواوحراموڅخه ګډه وډه ده .خکه نوکوم څه چې دی پرمسکينانوصدقه کړي دمسکينانولپاره دهغه اخستل صحيح دي اوپه مدرسواونوروکې دطالبانوپه خرڅ کې يې کارول هم صحيح دي

(۱) ردالمحتار (۱/ ۴۸۷) كتاب الصلوة مطلب كلمة لابأس دليل على ان المستحب غيره الخ

Maktaba Tul Ishaat. com

به مسجد کې داسې شکمن مال بایدونه لګول شي داګناه به ددغه ورکوونکي وي اوپه داسې مسجد کې لمونځ صحیح دی اوددا سې ځاه اوبه څښل روادي.

دحلا لواوحرامورو پودمالک په ودان کړې مسجد کې لمونځ کول

سوال: (۷۵۹) په یوه محله کې یومسجد ډیرزوړدی اوله همېشه څخه دجمعې لمونځ په دې کې کړې اوس یوه سودخورتاجریونوی مسجدودان کړی دی اوغواړي چې دجمعې لمونځ په همدی مسجد کې اداسي په دې صورت کې دجمعې لمونځ په کوم مسجد کې وکړل شي اوکوم مسجد چې دسودپه روپوجوړ شوی دی په هغه کې لمونځ روادی ،که نه ؟ اودغه سودخورسړی تجارت هم کوی (۷۲/۳۲-۱۳۳۳هج)

خواب: دسودپه روپوکه مسجدجوړشوی وي نولمونځ پکې مکروه دی خودکوم سړی آمدني چې له تجارت څخه هم وي نودابه ګنل کیږي چې ده په مسجد کې دتجارت دآمدني روپی لګولی دی په دې کې لمونځ صحیح دی اودجمعې لمونځ په دواړومسجدونوکې چې موکوم مسجد خوښ وی هلته وکړئ داهم صحیح دی چې په دواړوکې یې وکړئ نبه دادی چې صرف یوځای دجمعې لمونځ وي کوم مسجد چې زیات پراخ وي اوپه حلا ل مال ودان شوی وي په اتفاق سره په هغه کې نول دجمعې لمونځ کوئ په خپل مینځ کې اختلا ف کول بددی قال فی الشامی : امالوانفق فی ذلک مالا خبیثا سببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الاالطیب فیکره تلوبث بیته بما لایقبله الخ (۱) فقط.

دوهم ځل په حلالوروپودمسجدودودانولوسره مخکښ مرداري لیږي کیږي

سوال: (۷۲۰) ویوې ډمې ته یې یوه مشترکه مخکه ورکړه دې پکې مسجدودان کړدې مې تروفات وروسته دډیرې مودې دتېرېدولهامله ددغه مسجدنوم اونښان هم نه شوپاته دمشرک وارثانوچې دابې وارثه اوشاړه ولیده دوهم ځل یې قبضه وربانديي وکړه له دې وروسته یوه مسلمان دمشرک ووارثانوته څه روپی ورکړي په دوئ ددې مخکې قباله ولیکله اوپخپله یې له نوې سره مسجد ودان کړنوپه داسي صورت کې دامسجدشو ،که نه ؟ اودلمونځ کوونکولمونځو نه به پوره ،پوره اداشي که به څه نیمګړتیاپکې وي ؟ (۳۲/۱۵۷۴-۱۳۳۳هج)

خواب: په پوښتل شوې صورت کې چې کوم مسجددوهم ځل کوم مسلمان پخپله په حلا لوروپوودان کړاوس هغه ناولتیاکومه چې مخکې دډمې په حرامه آمدني ودانولوسره پکې زاغلې وه پاتې نشوه لمونځ بېله کراهیته پکې صحیح دی اودامسجدشو. مسلمان دې په لمونځ کولوسره تامل نه کوي اودادې آبادکړي چې اجرعظیم پرورکول کیږي قال الله تعالی انمایعمرمساجدالله من آمن بالله والیوم الآخرواقام الصلوة

(۱) ردالمحتار (۱/۴۸۷) کتاب الصلوة کلمة لاباس دلیل علی ان المستحب غیره الخ ط رشیدیه.

وآتی الزکوة ولم یخش الا الله الآیة (۱) کوم مشرک که خپله مخکه دمسجد لپاره ورکړي اوکوم یوياخو کسان مسلمان کوموته چې مشرک مخکه ورکړي ده دغه مخکه وقف کړي نوداوقف صحیح شواومسجدورباندي جوړيږي اودډمې (ناچګړي) له لورې دمخکې وقف کول دمسجدلپاره هم صحیح دي یعنی دغه وقف صحیح دی نورنودودانولوچې کومه مرداري وه هغه په بدلولوسره پورته شوه اوکه په اصل مخکه کې کومه ناولتیادډمې دملک له کبله راغلې وي نوهغه هم اوس په دوهم ځل قباله ورباندي لیکلو څخه پورته شوه لنډه داچې په اوسني حالت کې دامسجددی اولمونځ پکې صحیح دی.

دګړې ،وډې آمدنۍ مالک دااقرارکول چې ما له حلا ل ماله چنده ورکړې ده اعتبارلري ، که نه

سوال : (۷۲۱) په یوه کلي کې یومسجدځه موده کیږي چې په چنده راغونډولو جوړشواوتراوسه پکې جماعت کیدی اوس په تحقیق سره داخبره معلومه شوې ده چې ځینې چنده ورکوونکې داسې هم دي چې دهغوئ تجارت دکښت اوسود له آمدني ګډ ،وډدی خودوئ دپوښتنې په ځواب کې اقرارو کړچې دچندې روپۍ مولە حلا ل مال څخه درکړې دي اوس دغه مسجد دمسجد حکم لري ،که نه ؟اودچنده ورکوونکې وینامعتبره ده ،که نه ؟(۳۲/۲۲۱۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب : دغه مسجددمسجدپه حکم کې دی اوپه داسې صورتونوکې چې دچاګټه له حلا لواوحرامو ګډ ،وډه وي بېله پوښتنې هم دهغه صدقه اوهدیه قبلول صحیح دي ولې چې بایددمسلمان په هکله همداسې ګمان وشي چې دی له حلا ل مال څخه صدقه کوي وپوښتنې اوتحقیق ته اړتیانشته اوکله چې دپوښتنې اوتحقیق وروسته دی هم دا اقرارکوي چې ماله حلا ل ماله درکړې ده نوپراصل بناء کولوله امله دغه مال حلا ل بلل کیږي لنډه داچې ددې مسجدپه مسجدوالي کې هیڅ شک نشته.

سوال : (۷۲۲) یوهندومسلمان شواوله اسلام راوړلومخکې یې سوداخستی خوروسته یې پرېښوداودیوډمې (بدچلندې) سره یې نکاح وکړه اودجامو تجارت پخپلوروپوکوي اووایې چې زمامال ددمې له مال څخه ببل دی خوددې نورهیڅ ګواه نشته په دې اړه دده قول معتبردی ،که نه ؟ اوله ده څخه دمسجد ودانولولپاره چنده اخستل اوده پرجوړکړې جای نماز(مصلی) لمونځ کول جائزدی ،که نه ؟(۳۹/۱۲۱۰-۱۳۴۰هج)

ځواب : په دې اړه دده ووینا ته اعتبارورکول له ده څخه چنده اخستل اودمسجد په ودانولوکې یې ګول صحیح دي اولمونځ په دې مسجد کې صحیح دی اوپردغه مصلی لمونځ کول روادي فقط.

(۱) سورة توبه آیت: ۱۸

Maktaba Tul Ishaat.com

دحرامو کټه کوونکې روپۍ دمسجد په چنده ورکړول څه حکم لري ؟

سوال : (۷۲۳) عمر د مسجد د ترمیمولو او نورو لپاره وچنده غونډه ولوته اړووپه هغه کې یوه روپۍ ددم (ډول وهوونکې) نارینه یا ښځې شامله شوه په جمع شوې چنده کې ګډه شوه له خبرتیاورسته که دغه روپۍ بېرته ورکړي نوله دغه غونډوشویوروپوڅخه یوه روپي بېرته ورکړي که به خاص هماغه روپي کومه چې له دم اونوروڅخه اخستل شوې ده هغه به ورکوي ؟ (۱۳۳۵/۱۱۲۹هج)

ځواب : که دحرامې ګټې څخه دکېدونکې کبله دده روپي بېرته ورکول شي نویوه روپي دې بېرته ورکړل شي خاص هغه روپي ضرورنه ده کومه چې ده په چنده کې ورکړې وه فقط.

په حرامه ګټه رانیولي جائداددخیرپه کارکې لګول

سوال : (۷۲۴) یوې مېرمنې نارواډنده کوله اواوس له پنځسلو ،شپارسو کلونوراهیسې دې داکارپرې اینبی دی اوپه دوکانداري خپله شپه صباکوي اوس داخپل جائداد دکوم خیرپه کارکې لګول غواړي یعنی په مسجد یامدرسه کې دارواډی ،که نه ؟ (۱۳۳۵/۱۱۵۴هج)

ځواب : کوم جائدادچې دې په حرامورو پورانیولی دی دهغه دکوم خیرپه کارمسجد ، مدرسه اونورو کې لګول صحیح نه دي (۱)

دمسجدپه غسل خانو، نالۍ ، اونوروکې دحرام دلګولوحکم

سوال : (۷۲۵) دانباله په قولي اردوکې یوه بدچلنده مېرمن ده داغواړي چې زه خپل حرام مال دکوم خیرپه کارکې ولګوم آیادغه مال دکوم خیرپه کارکې لګېدای شي ،که نه ؟ یوسړی وایي چې غسل خانې اوتشناب (تتی) نالۍ په جوړېدای شي داصحیح دي ،که نه ؟ (۱۳۴۳/۱۳۲۲هج)

ځواب : دداسي شکمن اوحرام مال حکم دادی چې وهغوخلګوته له کوموڅخه چې دغه مال اخستل شوی دی یادهغوئ ووارثانوته یې بېرته ورکول امکان نلري نودادې پرفقیرانو اومسکېنانوصدقه کړل شي په مسجد کې یادمسجد په اړه نالۍ اوغسل خانوکې ددې لګول روانه دي.

دسودپه روپوپه ودان کړې مسجدکې لمونځ کول

سوال : (۷۲۷) (الف) که څوک دسودروپۍ دمسجد په ودانۍ کې خرڅوي نوپه دې مسجد کې لمونځ کول روادي ،که نه ؟

(ب) که څو کسان په ګډه مسجدجوړکړي اوله دوئ څخه دغه ودان شوی مسجد یوشخص دنورو شریکانوپه نامه وقف کړي

---

(۱) قال تاج الشریعة : امالوانفق فی ذلک مالا خبیثااومالا سببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الاالطیب فیکره تلوبث بیته بما لایقبله آه (ردالمحتار(۱/ ۴۸۷) ، مطلب کلمة لابأس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه.

نو داوقف صحیح دی ، که نه ؟(۱۲۴۴/ ۳۳ـ۱۳۳۴هج)

خواب : (الف) لمونځ اداکیږي خومکروه دی.

(ب) مسجد دالله رب العزت لپاره باید وقف شي نه دنورو شرېکانو لپاره فقط.

دسودخورې چنده په مسجد کې جادرونه درول

سوال : (۷۲۷) خای وال خلک دسودکاروبارکوي اوله سودپرته نورهیڅ کارد دوئ نشته ددوئ په چنده دمسجد په غولې کې چادرونه درول روادي ، که نه ؟(۳۴۲۹/ ۴۲ـ۱۳۴۷هج)

خواب : که په مسجد کې ارتیاده نودمسجد سامان ځادرونه اونوردي دقرض په روپو واخستل شي بیادي په قرض کې ددغو خلګوروپی ورکولې شي اوددوئ په روپودې قرض اداکړل شي فقط

دسودپه قرض له کارکوونکوڅخه دمسجدلپاره ډبرې رانیول

سوال : (۷۲۸) دوو کسانو له یوتاجرڅخه قرض (پور) په سودواخست اوتجارت په کوي له دوئ څخه دمسجد دفرش لپاره ځلوارخیزه ډبرې (کانې) رانیولې دي ددغو ډبرو په مسجد کې لګول روادي ، که نه ؟(۱۱۲۹/ ۱۳۳۵هج)

خواب : دغه ځلوارخیزه ډبرې په مسجد کې نصب (درول) صحیح دي.

دمسجد جائداددرانیولولپاره دبینګ څخه سوداخستل

سوال : (۷۷۹) یومسجدچې ورسره لګېدلی یووقف جائدادهم شته دده متولي دجائدادپه زیاتوب آمدني یوبل جانداداخلي خودمسجدزیاتوب روپی دهغه جائداددرانیولولپاره کافي نه دي ،ځکه نورې روپی یې له بینګ څخه په سودو اخستې بیاکه دغه دسودروپی دمسجدپه امدني اداشي اویایې دمسلمانانوپه چنده اداکړي آیاشرعا درازد جائداددزیاتولواجازه شته ،که نه ؟(۱۲۵۷/ ۱۳۳۵هج)

خواب : درازاجازه نشته.

دګروپه بدل یادسودپه قرض مسجدجوړول

سوال : (۷۷۰) دسودروپی چې په قرض واخلي مسجدپه ترمېمول روادي ،که نه ؟ یامخکه په ګروورکړي قرض واخلي په دغه قرض مسجد جوړول روادی ،که نه ؟(۳۹۹/ ۳۵ـ۱۳۳۶هج)

خواب : په سودقرض اخستل یادقرض په بدل مخکه په ګروورکول چې پکې مرتهن (ګرواخستوونکی) دګروله مخکې څخه استفاده کوي که څه هم ګناه ده اماکومې روپی چې په قرض واخستل شوې هغه حلالې دي دمسجدپه جوړولو کې دهغوئ لګول صحیح دي فقط.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمسجد په ودانۍ کې دسوددروپودلګولوحکم

سوال : (۱۷۱) دمسجد په تعمیرکې دسودروپۍ اودشرابودتپکې دآمدنۍ روپۍ لګول روادي ،که نه ؟ اوپه غسل خانه اوګیرچاپیره دېوال کې یې لګول څنګه دي ؟ (۳۲/۱۲۲۱ - ۱۳۳۳هج)

خواب : په مسجدکې بایدحلا ل مال ولګول شي دسودروپۍ اودشرابودتپکې روپۍ په مسجدکې لګول حرام اومنع دي دارازدمسجدپه اړه مثلا غسل خانه ،دېوال اونورو کې لګول ددې حرام دي داتول کارونه بایدپه حلا ل مال وشي قال تاج الشریعة: امالوانفق فی ذلک مالا خبیثا سببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الاالطیب فیکره تلوثبیته بما لایقبله(۱).

سوال : (۷۷۲) دسوداخستوونکې روپۍ په مسجدکې لګول اوددہ دکورډوډۍ خورل صحیح دي ،که نه ؟(۳۲/۲۴۸ - ۱۴۳۳هج)

خواب : ددہ نه ډوډۍ صحیح ده اونه یې روپۍ په مسجدکې لګول صحیح دي.

سوال : (۷۷۳) کوم مسجدچې دسودپه روپوودان کړل شي اودمسجدمخکه دسودپه روپورانیول شي په دې کې لمونځ صحیح دی ،که نه ؟ (۴۲/۱۷۷ - ۱۳۴۷هج)

خواب : په مسجدکې روپۍ لګول اوشکمن مال لګول مکروه اومنع دی په شامی کې راغلې دي: قال تاج الشریعة: امالوانفق فی ذلک مالا خبیثا اومالاسببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الاالطیب فیکره تلوثبیته بما لایقبله شرنبلا لیة (۲) (شامی ۱/ ۴۴۲) نورلمونځ په دې کې اداکیږي اودغه ځای وقف شومسجدوګرځېدی اودحرام مال صرفولوله امله چې کومه ګناه وشوه اومسجدپه حرام مال ککړشوددې دپا کوالي اوداکرهیت اوګناه ختمولو دې دغه صورت خپل کړل شي چې څومره مال په دغه مسجدکې صرف شوی دی هغومره اندازه حلا ل مال ددې په بدل پرفقیرانوصدقه کړئ اوتوبه وکاږئ فقط.

دشرابوپه آمدني (عائد) مسجدودانول

سوال : (۷۷۴) یوه مسلمان سړی چې دشرابوکاروبارکوي دمسجدودانولواراده وکړه څه دېوال یې هم جوړشوچې ددې سپمي علماء کرامودی منع کړچې ستامال پاک نه دی مسجدجوړول یې پرېښودل اوځه ورځې وروسته مړشودده زوئ هغه ناجوړشوی مسجدویوبل چاته هبه کړهغه قرض اخلي په دې مسجد کې یې صرفوي یعنی ددې په ودانولوکې اوله خپلې ګټې دغه

(۱) الشامی کتاب الصلوة مطلب کلمة: لابأس دلیل علی ان المستحب غیره الخ.

قرض اداکوي دارنګه مسجد جوړول روادي ، که نه ؟ (۸۲۵/ ۳۳ـ۱۳۳۴هج)

خواب : په شامي کې راغلې دي : قال تاج الشريعة : امالو انفق فی ذلک مالا خبيثا ومالاسببه الخبيث والطيب فيكره لان الله تعالى لايقبل الاالطيب فيكره تلوښ بيته بما لايقبله الخ (۱) لنډ يزدادی چي په مسجد کې مردارمال ياله پاک اوناپاک څخه ګډوډ مال لګول مکروه دي ، ځکه چي الله رب العزت پاک اوحلا ل مال قبلوي نوده کورککړول مکروه دي په داسي مال سره چي الله تعالى هغه نه قبلوي فقط .

سوال : (۷۷۵) (الف) يوه سړی دشرابو په آمدني يومسجد جوړکړاوځه اندازه دپوال يې راپوته کړکله چي ده ته معلومه شوه چي په داسي روپومسجد جوړول صحيح نه دي نودامسجديې نيمګړی پرېښودادی وفات هم شواوس دغه مځکه دده دوارثانو په ملک کې راتلای شي ، که نه ؟ اوخرڅول ياچاته بخښل ددې صحيح دي ، که نه ؟ که دادمسجد په حکم کې ده ؟ اومسجداوس نيمګړی اوناخوندي دی ؟

(ب) که کوم شخص دميت له وارثانودغه مسجدرانيسي اوله نوې سره يې جوړ کړي نوصحيح دی ، که نه ؟

(ج) که کوم شخص دشرابو په تجارت روپی وګټلې اوپه دغوګټلوروپودغلې اوکپړوتجارت کوي نوپه دغوروپوداسړی مسجد جوړولای شي ، که نه ؟ دناروا والې په صورت کې دی له بل چاڅخه قرض واخلي مسجد جوړکړي اوبياپخپلو ورسره روپو قرض اداکړي نودرازمسجد جوړول صحيح دي ، که نه ؟ (۳۲/۱۰۲۰ـ۱۳۳۳هج)

خواب : (الف) په مسجد کې بايدحلا ل مال ولګول شي اوتعميردمسجد په حلال اوطيب مال سره کول پکاردي په حرام مال مسجدودانول حرام دي په حديث شريف کې راغلې : ولايقبل الله الا الطيب (الحديث (۲) په شامی کې دي : قال تاج الشريعة : امالو انفق فی ذلک مالا خبيثا ومالاسببه الخبيث والطيب فيكره لان الله تعالى لايقبل الاالطيب فيكره تلوښ بيته بما لايقبله الخ (۳) نوپکاردي چي څومره دپوالونه په حرام اوخبيث مال جوړشوي دي هغه پورته کړي په حلا ل مال دغه

---

(۱) الشامی (۱/ ۴۸۷) كتاب الصلوة : مطلب كلمة : لاباس دليل على ان المستحب غيره ط رشيديه . (۲) عن ابی هريره رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من تصدق بعدل تمرة من كسب طيب ولايقبل الله الا الطيب فان الله يتقبلها بيمنه ثم يربيها لصاحبها كمايربی احدكم فلوّه حتى تكون مثل الجبل (الجامع للبخاری ۱/ ۱۸۹ كتاب الزكوة ، باب الصدقة من كسب طيب)

(۳) الشامی (۱/ ۴۸۷) كتاب الصلوة : مطلب كلمة : لاباس دليل على ان المستحب غيره الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

مسجدودان کړی اوخوندی کول ددې مسجدضروري دي خرڅول اوچاته بخښل ددې صحیح نه دي اودوارثانوپه ملک کي نشي راتلای الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد ۴۲۱/۲ کتاب الوقف)

مسئله مشهوره ده.

(ب) داخوپورته معلومه شوه چې خرڅول اوچاته بخښل ددې روانه دي پاتي نورکه په دغه حیله څوک دوارثانوله قبضې وباسي له نوې سره جوړکړي اوپوره بې کړي نوداډیرښه دي اوکاردثواب دی.

(ج) اول صورت ناروادی اماکه قرض واخلي اومسجدپه جوړکړي نوداروادی بیاکه دغه قرض په حرامورووپواداکړي نوداګناه دده په غاړه ده په هرحال په مسجدکې په داسي حیلوسره هم حرامې روپۍ مه لګوئ.

دشرابودتېکې اخستوونکې دمسجدلپاره خښتې ورکول

سوال: (۷۷۶) یوسړی دشرابوتېکه اخلي اوزمینداري ، کښت اودکانداري اونورهم کوي وده ته دمسجدلپاره دخښتوپه هکله وویل شوده وویل چې زه په حلا لورووپوبولک خښتې اخلم مسجدته یې درلیږم داسي خښتې په مسجدکې لګول روادي ،که نه ؟ (۱۲۵۸/۱۳۳۵هج)

ځواب: داسي خښتې په مسجدکې لګول صحیح دي(۱)

دخنزیراونوروتېکه اخستوونکې په روپودمسجدلپاره پردې جوړول

سوال: (۷۷۷) په یوه مسجدکې دپردوجوړولولپاره څه چنده شوې وه تراوسه لاجوړې شوې نه وي چې یوه مسلمان (کوم چې دخنزیرانواونوروتېکه اخلي) وویل چې پردې ددغه چندې په روپومه جوړوئ زه یې پخپلوروپوجوړوم ځني خلګووویل چې داروپۍ ښې نه دي دخنزیردتېکې دي خویوه مولوي صاحب وویل چې هیڅ پروانلري لنډه داچې دهمدې تېکه دارپه روپوپردې جوړې کړل شوي ددغوپردوپه مسجدکې لګول روادي ،که نه ؟اوچاچې په دغوروپوجوړې کړې دهغه په هکله څه حکم دی ؟ (۵۸۰/۱۳۳۵هج)

(۱) وفی الهندیة: ولایجوزقبول هدیة امراء الجورلان الغالب فی مالهم الحرمة الا اذاعلم ان اکثرماله حلا ل بان کان صاحب تجارة اوزرع فلا باس به لان اموال الناس لاتخلوعن قلیل حرام فالمعتبرالغالب وکذ اکل طعامهم (الفتاوی العالمغیریة ۳۴۲/۵ ، کتاب الکراهیة ، الباب الثانی عشرفی الهدایا والضیافات).

ځواب : ددغو پردو په مسجد کې څړول حرام دي اوچاچي ددې اجازه کړې ده هغه ګنهګارشو توبه دې وکاړي په حدیث شریف کې راغلې دي: ان الله طیب لایقبل الا الطیب (۱) اوپه شامی کې راغلې دي: قال تاج الشریعة: امالوانفق فی ذلک مالا خبیثا ومالاسببه الخبیث والطیب فیکره (ای تحریما) لان الله تعالی لایقبل الاالطیب فیکره تلویث بیته بما لایقبله آه شرنبلالیة (۲) اوښکاره ده چې په خبیث مال جوړې شوې پردې دتلویث المسجد بمالا یقبله (۲) حاصل دي ،ځکه نو تحریمي مکروه دي کوم چې په معنی دحرام دي.

دغلا حکومتي سامان په مسجد کې لګول

سوال : (۷۷۸) څه فتوی ورکوي علماء کرام دلاندې مسئلې په هکله: ننه ، صبا چې پرکومو خنګلونو دحکومت فبضه کړې ده په هغوئ کې خوپرځینو حکومت جبري قبضه کړې ده اوځینې دآبادی له اړوندووتلي ووچې پکې هرډول لرګي شته یعنی دیا. شاتراش بیاړاونوردهریوه لرګي پرې کولوجرېمه حکومت بېله ، بېله مقرره کړې ده په تېره بیاددیارسخته قانوني سزامقرره شوی ده اوس یوه سړی بیاړپه اجازه سره اودیاریې بېله اجازې پرې کړل مسجدیې جوړکړاوس یې ددغه مسجد په انګړکې دغلا تختي لګولی دي په تېره بیادکشمیردښارونومسجد ونه په بېله اجازي غوخ کړل شویولرګوودانیږي اوس دعلماء کرامو په خدمت کې ډیرپه ادب سره عرض دی چې په داسي مسجدونوکي لمونځ روادی ،که نه اوکه مکروه دی ؟ دکتابونوپه حوالوبیان راته وکړئ. (۵۷۵/۴۴_۱۳۴۵هج)

ځواب : ددا سي لرګوپه مسجد کې لګول له کراهیته خالي نه دي دشرعې له مخې قطعا داحتیاط خلاف دي نوپه دې صورت کې حکم دادی چې کوم مسجدونه څخکې جوړکړل شوې دي

---

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله طیب لا یقبل الا طیبا الحدیث (مشکوة مصابیح ص: ۲۴۱/ کتاب البیوع ،باب الکسب وطلب الحلال)

(۲) الشامی (۱/ ۴۸۷) کتاب الصلوة مطلب: کلمة لا باس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

په هغوئ کې دې لمونځ خووکړل شي خوپه آئنده کې په داسي معاملوکې وپوره احتیاط ته اړتیاده ،ځکه چې دداډول څنګلونوله کوموځخه چې لرګي غوځ کړل شوي دي شرعا دوه حیثیته دي ددوئ څرګندحقیقت دادی چې دکفارودغلبې اواستیلادله املې پردوئ دهغوئ ملکیت ومنل شي لکه چې دفقهې په کتابونوکې څرګندونه ده چې : واذاغلبوا علی اموالناوالعیاذبالله واحرزوهابدارهم ملکوها ولناان الاستیلاء وردعلی مال مباح فینعقد سببا للملک الخ(۱) (هدایه ربع ثانی) نوپه دې اعتباردغه تصرفات دبل په ملک کې بلل کیږي چې ناروالی یې نبکاره دی په تبره بیاپه داسي حال کې چې ددې عمل کوونکې قانوني مجرمان ګرځول شوي دي.

اوداهم ویل کیږدای شي چې داسي شیان تراستیلاءلاندې راتلای هم نشي ،ځکه چې کوم شیان مخکې له استیلاء ځخه خارج ووپرهغوئ دکفارودغلبې پرمهال هم داستیلاء تصور نشي کیږدای لنډه داچې احتیاط په همدې کې دی چې پرمسجدونو داسي شکمن مال صرف نکړل شي دفقهې په کتابونوکې څرګندونه راغلې ده چې په کوم مال کې دپاک اوناپاک دواړواحتمال وي دهغه په مسجدکې لګول مکروه دي کمافی الشامی : قال تاج الشریعة : امالوانفق فی ذلک مالا خبیثا ومالاسببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الاالطیب فیکره تلویث بیته بما لایقبله انتهی(۲) فقط.

دجرېمې روپۍ په مسجدکې لګول صحیح نه دي

سوال : (۷۷۹) یوه سړی دیوې بودۍ مېرمنې سره زناوکړه وروسته ترخبرتیاخلګوپرده ددې زناپه بدل کې جرمانه ولګوله یاکوم بل ډول دنیوي فساددده وکړچې له کبله یې خلګوپرده جرمانه کیښودله نودغه دجرېمې روپۍ په مسجدکې یادمسجدپه ودانۍ کې یاداودسوپه اوبواونورو کې لګول صحیح دي ،که نه ؟ اوپه مسجدکې څنګه روپۍ باید ولګول شي ؟ ددې لنډیزدآیاتونو اوحدیثونو او معتبروکتابونوپه حوالوراته ولیکئ الله رب العزت دې تاسوته دخیربدله درکړي(۳۴۸/ ۲۹_۱۳۳۰هج)

ځواب : په مسجدکې بایدحلا لې روپۍ ولګولې شي قال علیه الصلوة والسلام ان الله طیب لایقبل

(۱) الهدایة ۲/ ۵۸۱ کتاب السیر، باب استیلاء الکفار.
(۲) الشامی (۱/ ۴۸۷) کتاب الصلوة ، مطلب: کلمة لابأس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه.

الا الطیب (۱) اوجرمانه لګول خوشرعا نارواده نودجرېمي دداسي مال دمالک له خوښې پرته په مسجد کې لګول یادداودسوپه اوبوکې لګول صحیح نه دي فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۷۸۰) که جرګه یوزناکاره دزناپه وجه جرمانه کړي نودغه جرېمه په نېک کارمثلا دمسجد په تعمیراونوروکې لګول روادي، که نه؟ (۳۵۵/ ۲۹-۱۳۳۰هج)

خواب: په مال سره دچاجرمانه کول په شریعت کې روانه دي نوکومې روپۍ چې په جرمانه کې اخستل کیږي باید څښتن ته یې ېېرته ورکړي اوکه هغه پخپله خوښه دمسجد په ودانۍ کې ولګوي نوروادي فقط والله تعالی اعلم.

شراب خرڅوونکې چې دکوم مسجدتعمیرنېمګړی پرې ایښي وو نو دده له مړینې وروسته که دده وارثان ومسجدته هبه کړي

سوال: (۷۸۱) یوه شراب خرڅوونکې په شپږ پوره کې دیوه مسجدودانول پیل کړل کله چې یې څه دېوالونه دمسجد پورته کړل نوده ته معلوم شوچې دشرابودتجارت په روپومسجدجوړول صحیح نه دي نوده دمسجدجوړول بس کړل، ځکه نوترډیره مودې دامسجدهمداسي نیمګړی ووپه دغه موده کې دغه شراب خرڅوونکی هم وفات شواوس یوبل شراب خرڅوونکې دغه نیمګړی مسجددوفات شوې له ترکې څخه په ګټلوددده له وارثانوڅخه دهبې (بخښنې) په وسیله ولاس ته کړاوپه قرض باندې یې بشپړاوپوره کړنوداد مسجد په حکم کې شو، که نه؟ اوپه دې کې په لمونځ کولودمسجدثواب ورکول کیږي، که نه؟ (۸۷۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب: اصلي مسجدمخکه ده که مخکه دمسجدلپاره وقف کړله شوه یاهغه له مخکې څخه دمسجدلپاره وقف وه نوداشرعي مسجدشوددېوالونواوبام په شکمن اوحرام مال جوړولوسره دمسجدمسجدوالی نه باطلیږي که څه هم داصحیح نه دي چې دمسجدپه ودانۍ کې حرام اوشکمن مال ولګول شي کمافی الشامی: قال تاج الشریعة: امالوانفق فی ذلک مالا خبیثا ومالاسببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الاالطیب فیکره تلویث بیته بما لایقبله الخ (۲) په هرحال داخومنع دی چې دمسجد تعمیرپه حرام اوشکمن

---

۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله طیب لا یقبل الا طیبا الحدیث (مشکوة لمصابیح ص: ۲۴۱/ کتاب البیوع، باب الکسب وطلب الحلال)

۲) الشامی کتاب الصلوة مطلب: کلمة لا بأس دلیل علی ان المستحب غیره طرشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

مال وشي ودانوونکی په داسي صورت کې ګنهګاريږي اوتعميرددده قبول نه دی خودحرام مال لګولوپه وجه دمسجدمسجدوالی نه باطليږی نوکه وفات شوې دغه مخکه دمسجد لپاره وقف کړې وه نودوارثانوتصرف په دې کې روانه دی اوهبه صحيح نه شوه اوکه وفات شوې لاتراوسه دغه مخکه وقف کړې نه وه اونه له مخکې څخه هغه دمسجد لپاره وقف شوې وه اوبيياده خپله اراده بدله کړه اودمسجد جوړښت يې په دې وجه پرېښودنوبيا دوارث هبه کول صحيح شوامادموهوب له (چاته چې هبه وشوه) دغه مسجدجوړول اوپه قرض اخستوتعميرکول صحيح شولنډه داچې دااوس شرعي مسجدشواوپه دې کې په لمونځ کولودمسجدثواب ورکول کيږي قال فی الدرالمختار: ومحله المال المتقوم الخ ای بشرط ان يكون عقارااومنقولا فيه تعامل (۱) (شامی) وركنه الالفاظ الخاصة كارضی هذه صدقة موقوفة مؤبدة الخ(۱)(درمختار) فقط.

دډمې خپل جائدادومسجدته وقفول

سوال : (۷۸۲) که کومې ډمې (بدچلندې) ميرمنې ته په ميراث کې څه جائدادرسېدلی وي اووفات شوې هم ډمه وه اوله مړينې څخه پنځه ،شپږکاله مخکې يې له خپلوتولو ګناهونوتوبه وکښه اومريده شوه خپل جائدادکوم چې په ميراث کې ورغلی دی هغه يې ومسجدته وقف کړاوقف صحيح دی ،که نه ؟ اوددې آمدنې په مسجد کې لګېدای شي ،که نه ؟(۱۳۳۷/۲۳۳۹هج)

خواب : دغه وقف صحيح دی ،ځکه آمدنې ددې په مسجد کې لګول صحيح دي لکه چې په شامی درېيم ټوک کتاب الوقف کې راغلې دي : (قوله وشرطه شرط سائرالتبرعات)افادا ن الواقف لا بدان يكون مالكا له وقت الوقف ملكا باتا ولوبسبب فاسد الی ان قال وصح قف ماشراه فاسدابعد القبض وعليه القيمة للبائع الخ(۲)

دډمې په مال مسجدجوړول

سوال : (۷۸۳) ديوې ډمې سره دناچ اوغزلودآمدنی روپی جمع دي آياداپه دغوروپو مسجدجوړولای شي ،اوحج ته په تلای شي ،که نه ؟(۱۳۳۳-۳۲/۲۱۷۱هج)

(۱) الدرمع الرد(۳/ ۳۹۳) كتاب الوقف. قبل مطلب ، قديثبت الوقف بالضرورة.
(۲) ردالمحتار(۳/ ۳۹۴) كتاب الوقف ، شرائط الوقف.

خواب : یاده شوې آمدني حرامه ده دداسي حرام مال حکم کله چې اصل مالکان معلوم نه وي دادی چې پرناوسوصدقه کړل شي اوثواب ددې صدقې دمالکانودی په داسي حرام مال مسجد جوړول صحیح نه دی اوپه داسي مال حج کول صحیح نه دي اودحج ثواب نشته اوپه حدیث شریف کې راغلې دي: لایقبل الله الا الطیب (۱) یعنی الله رب العزت صرف پاک مال قبلوي.

دډمې مال په مسجداونورودخیرپه کارونوکې لګول

سوال : (۷۸۴) له هغو مېرمنوڅخه چې دهغوئ کارله زناوناچ اوغزلوپرته بل نشته چنده اویوموټی اوړه کوم چې هره ورځ ددوئ له لورې دخیرات په توګه راځي دغه اخستل اوپه لاندینیو کارونوکې لګول روادي ،که نه ؟

دمسجدونوودانول اونوردیتیمانوتربیه دپې وارثه مړوتجهیزاوتکفین دعلماء اسلام دعوت (۱۱۳۷/ ۳۳- ۱۳۳۴هج)

خواب : داسي حرامې روپۍ په مسجدونوکې لګول صحیح نه دي فقیران اویتیمان اونو ر په ځینې حالتونوکې ددې روپومصرف وي یعنی کله چې ومالکانوته رسول ناممکن وي نولنډه داچې اول خودې داسي روپۍ اواوړه وانه اخستل شي اوکه واخستل شي نوپه مسجدکې یې مه لګوئ پرناوسواومسکینانوپې صرف کړئ فقط.

دډمې پخپله ګټه رانیولي سرای دمسجدداړتیاوولپاره وقف کول

سوال : (۷۸۵) یوې ډمې پخپله حرامه ګټه یوکورواخست اوددې دآمدنۍ یې دمسجدپه اړتیاووکې دلګېدلولپاره یولیک ولیکی وڅوباوري کسانوته یې وسپاری اوهغوئ ته یې دخرڅولواوګروښوولواختیارورنکړدداسي مکان آمدني دمسجدپه اړتیاووکې لګول شرعًا صحیح دی ،که نه ؟ (۷۹۵/ ۱۳۳۷هج)

---

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله طیب لا یقبل الا طیبا الحدیث (مشکوة المصابیح ص ۲۴۱، کتاب البیوع ،باب الکسب وطلب الحلال)

Maktaba Tul Ishaat.com

ځواب : دوقف دصحیح کېدولپاره داضروري دي چې وقف کوونکی دوقف کړې سرای مالک وي که څه هم دفاسدې بیعې په ډول مالک شوی وي لکه چې په شامي (دریم ټوک کتاب الوقف) کې راغلې دي : قوله وشرطه شرط سائرالتبرعات افادان الواقف لابدان یکون مالکاملکا باتاولوبسبب فاسدالخ(۱) نوښکاره ده چې کله دغې ډمې له خپلې حرامې ګټې دغه سرای رانیوی دادې مکان مالکه شوه که څه هم په فاسده طریقه شوه نووقف کول ددې کوردمسجدداړتیاوولپاره صحیح شواوآمدې ددې ضروري ده چې دمسجد په اړتیاووکې صرفه کړله شي کماهوحکم الاوقاف فقط.

ډډمې ودودان کړې مسجدحکم

سوال : (۷۸۲) یوځای یوې ډمې یومسجدجوړکړی دی اوتراوسه ددې مسجدمتولیان دهغې ډمې خپلوان دي اوځای والوخلګوپه دې کې لمونځ کول پرې اینبې دي چې له کبله یې مسجداوس یومخ ویران دی په داسې صورت کې دغه مسجدچندې په روپوددې ډمې له خپلوانواخستل روادي ،که نه ؟ اودارازپه موجوده حال کې لمونځ کول په دې مسجد کې روادی ،که نه ؟ (۱۳۰۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : په دې کې شک نشته چې دالله رب العزت په لاره کې دوقف کولولپاره وحلالې ګټې اوپاک مال ته اړتیاده وقف کوونکی باید حلا له ګټه وقف کړي په تېره بیادمسجد په خیربرکتمن شی کې خونورهم واحتیاط ته اړتیاده خودوقف دصحیح کېدولپاره ددې شرط نشته په همدې وجه ډډمې ودان کړی مسجدوقف کول صحیح شوپه تېره بیاکله چې په یقیني توګه داهم معلوم نه دی چې دغه مسجد خاص په حرامه ګټه ودان شوی دی قال فی الدرالمختار: وشرطه شرط سائرالتبرعات ، شامی تردې لاندې رانقل کړې دي: افاد ان الواقف لابدان یکون مالکا له وقت الوقف ملکاباتاولوبسبب فاسد(۲) په هرحال کله چې یادشوی وقف صحیح شونواوس به هغه همېشه وي : لان الوقف لایجوزالا مؤبدا(۳) په تېره بیادمسجدپه اړه خوصفا ،صفا څرګندونې شتون لري چې کوم یوځل مسجدوګرځیدترقیامته به

(۱) الشامی(۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف ، شرائط الوقف ط رشیدیه .
(۲) الدرمع الشامی(۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف ، شرائط الوقف ط رشیدیه .
(۳) الفتاوی الخانیة مع الهندیة ۳/ ۳۰۵ کتاب الوقف ، فصل فی مسائل الشرط فی الوقف.

مسجدوي په البحرالرائق کې راغلې دي : وقال ابويوسف رحمه الله : هو مسجدابدا الى قيام الساعة لايعودميراثا ولايجوزنقله ونقل ماله الى مسجد آخرسواء كانوايصلون فيه اولا وهوالفتوى كذافى الحاوى القدسى وفى المجتبى واكثرالمشائخ على قول ابى يوسف رحمه الله ورجح فى فتح القديرقول ابى يوسف رحمه الله بانه الاوجه(۱) اوپه شامي کې راغلې دي: ان الفتوى على قول ابى يوسف رحمه الله فى تابيدالمسجد(۲) لنډه داچي کله دغه ودان شوى مسجديوځل مسجدوګرځيدنواوس چاته نه ددې دخرڅولواختيار شته اونه درانيولو، خلګوته پکاردي چې پکې لمونځونه کوي اوداآبادکړي که بل مسجدجوړول ضروري وي نوبيله چنده وکړئ په کومه بله مځکه کې مسجدجوړکړئ.

سوال : (۷۸۷) يوې ډمې يومسجدپخپل مال جوړکړى ووچې ورباندې عالمانوفتوى ورکړه چې په دغه مسجدکې لمونځ روانه دى اوس دغه مسجدويران پروت دى ډمه داخرڅولاى شي ،که نه ؟ اومسلمانان دارانيولاى شي ،که نه ؟ (۱۴۴۳/۳۲_۱۳۴۳هج)

ځواب : که مځکه ددغه مسجدله مځکې څخه وقف وه اوډمې يواځې تعميرددې پخپل مال کړى دى نوددې دېوالونه اوچت پورته کړي مځکه خالي کړئ اوپه حلال مال چنده اونورووددې نوې تعميروکړئ دغه مځکه دمسجدنشي خرڅېداى اوداصورت هم په دې کې په موجوده حال کې دلمانځه درواکېدوکېداى شي چې ددې ددېوالونواوبام قيمت وډمې ته ورکړئ يعنى څومره مصرف چې دې کړى دى هغه دې مسلمانان دې ته ورکړي بيالمونځ په دې کې صحيح دى فقط.

سوال : (۷۸۸) يوې بدچلندې ښځې پخپله نا پاکه ګټه يومسجدجوړکړى ووځه موده آبادوووروسته ويران کړل شواوتراوسه ويران دى اوس دادطالبانوداستوګنې ياکتاب خانې لپاره په کارراوړل صحيح دي ،که نه ؟(۲۱۹/۴۴_۱۳۴۵هج)

ځواب : دامسجدشوى وواوس داتل مسجدپرېښوول ضروري دي اود طالبانوداستوګنې ياکتاب خانې لپاره جوړول صحيح نه دي لان الفتوى على تأبيد المسجد(الشامى ۲/ ۴۲۹کتاب الوقف)قوله وشرطه سائرالتبرعات افادان الواقف لابدان يكون مالكا له وقت الوقف ملكاباتا

(۱) البحرالرائق ۵/ ۴۲۱کتاب الوقف . فصل فى احكام المساجد(۲) الشامى (۳/ ۴۰۷)کتاب الوقف مطلب فيمالوخرب المسجداوغيره طرشيديه.

Maktaba Tul Ishaat.com

ولوبسبب فاسدالخ (۱) (شامی کتاب الوقف) له دې څخه معلوم شوچې دفاسد ملک وقف کول هم صحیح دي نوکله چې داخای وقف شونومسجدوګرځید اومسجد تل مسجد پربښوول ضروري دي فقط.

دزناپه آمدني رانیولي جائداداوګډه مسجدته وقف کول

سوال : (۷۸۹) یوې ښځې دزناپه دنده څه جائداداودسرو ،سپینوزروګډې ولاس ته کړي وي که داخپل جائداداوګډه ومسجدته وقف کړي نووقف صحیح دی لکه چې په شامی کې راغلې دي چې که دجائدادمالک په فاسدملک سره هم مالک شونووقف کول دده صحیح دي الفاظ دهغه دادي: ولوبملک فاسدالخ (۲) نوپه دې صورت کې دمسجد په اړتیاووکې ددغووقف شویومکانونوآمدني صرفول صحیح دي اوګډه خرڅه کړي دهغه په قیمت هم مکان اومځکه واخلي پرمسجدیې وقف کړي اوبیادې دوقف ټوله آمدني پرمسجدولګوله شي فقط.

دزناپه آمدني په ودان کړیومسجدونوکي لمونځ کول څنګه دي

سوال : (۷۹۰) (الف) کوم مسجدونه چې دزناپه روپوودان کړل شوې وي په هغوئ کې لمونځ صحیح دی ،که نه ؟

(ب) ددغومسجدونوپه هکله شرعاځه حکم دی ؟ دارازدمسجدونوسره مځکه هم وقف کړل شوې ده نودهغې حاصل خوړل روادي ،که نه ؟ (۱۹۲۳/ ۳۳_۱۳۳۴هج)

---

(۱) الشامی (۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف ، شرائط الوقف ط رشیدیه.

(۲) مخکنی حاله.

(ب) وقف صحیح کیږي اودغه مسجدونه ګرځي خوحرامې روپۍ پکې لګوونکی ګنهګاریږي اوددغومځکودحاصلاتوخوړل دبدل له اداکولوپرته ښه نه دی.

سوال: (۷۹۱) یومسجدبدچلندې مېرمنې جوړکړی وواوس دکلې مسلمانان یې ابادول غواړي په دې مسجدکې لمونځ کول صحیح دي ،که نه ؟ مخکې ستافتوی دجوازراغلې وه چې وربانډی ناجائزویوونکې اعتراض لري آیاپه دې کې لمونځ صحیح دی .که نه ؟(۱۰۷۴/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: قال فی الشامی قوله وشرطه شرط سائرالتبرعات افادان الواقف لابدان یکون مالکا له وقت الوقف ملکاباتا ولوبسب فاسد الخ(۱) له دې څخه معلومه شوه چې که په فاسد سبب سره هم څوک دیومځکې مالک شي اوهغه وقف کړي نوداسي مځکه وقف کیږي نوکه دغه مځکه دمسجدلپاره وقف کړله شي نودامسجدګرځي اوداهم شرعي حکم دی چې په مسجدکې بایدحلا ل اوپا ک مال صرف کړل شي اوحرام مال په مسجدکې لګول حرام دي په حدیث شریف کې راغلې دي: ان الله طیب لایقبل الاالطیب (الحدیث) (۲) اوپه شامی کې راغلې دي: قال تاج الشریعة: امالوانفق فی ذلک مالا خبیثا ومالاسببه الخبیث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الاالطیب فیکره تلوث بیته بما لایقبله الخ (۳) (شامی ۱/ ۴۴۲) لنډه داچې هغه مسجدچې پکې حرام مال صرف کړل شوی وي دهغه حکم دادی چې دحرام مال صرفوونکې په هکله داکاردکراهت اوګناه باعث دی اماولمو نځ کوونکوته کومه ګناه نشته ددئ لمونځ اداکیږي ،ځکه چې کله وقف صحیح شونودا مسجدشوفقط.

دزناله آمدني اداکړې کرایه په مسجدکې لګول

سوال: (۷۹۲) دمسجدپه وقف شوې سرای کې کرایه داریوه زناکاره ښځه ده اودزناله آمدني څخه داکرایه اداکوي دغه روپۍ په مسجدکې ولګول شي ،که نه ؟(۳۲۰/ ۱۳۴۳هج)

---

(۱) الشامی(۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف: شرائط الوقف.

(۲) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله طیب لا یقبل الا طیبا الحدیث (مشکوة المصابیح ص ۲۴۱/ کتاب البیوع ،باب الکسب وطلب الحلال)

(۳) الشامی (۱/ ۴۸۷) کتاب الصلوة مطلب: کلمة لا باس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

خواب : دامام صاحب رحمه الله له مذهب سره سم دااجاره صحیح ده اوکرایه ددې حلا له ده اوصاحبین (امام محمداوامام ابویوسف رحمهماالله) داسې اجاره مکروه بولي خودبیان شوې کرایې وآمدني ته دوئ هم حرامه نه وایې اماځه کراهیت اوخباثت پکې خامخاشته ،ځکه په مسجدکې ددې لګول ښه نه دي.

دنرښځي روپۍ په مسجدیاعیدګاه کې لګول

سوال : (۷۹۲) یونرښځی یعنی غزلی اوسندري ویوونکی پخپل ګټلی مال عیدګاه جوړوي په دې کې دعاومسلمانانولمونځ صحیح دی ،که نه ؟ (۱۸۷۰/ ۳۲-۱۳۳۴هج)

خواب : دحرامې آمدنۍ په روپو دمسجداوعیدګاه ترمیم اوجوړښت مه کوئ.

دهندویابنګي مال په مسجدکې لګول

سوال : (۷۹۳) دهندواوبنګي په مال مسجدودانول روادي ،که نه ؟ (۲۲۷/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : دهندویابنګي مال (که دوئ درکړي) په مسجدکې لګول صحیح دی که څه هم وقف کول ددوئ ومسجدته صحیح نه دی خوکه دچندې په توګه دیادشويوکفارومال په مسجدکې ولګول شي نوصحیح دی.

په مسجدکې دصرف شوې مال مردارکېدل په شاهدانوثابتېږي

سوال : (۷۹۴) کوم مسجدچې په نا پاک مال جوړشوی وي نودمال دناپاکوالي دثبوت لپاره وځومره شاهدانوته اړتیاده ؟بینواتوجروا (۵۳۰/ ۱۳۳۸هج)

خواب : داکاردقضاء اوشهادت په اړوندنه دی نوکه کوم شخص ووایې چې زما مال حلال اوپاک دی نوپه کومه شاهدي ودې ته نا پاک نشی ویل کېدای اوکومه شاهدي ددې په مقابل نه اورېدل کیږي ،ځکه چې دقضاء سره داهسیځ تراونلري فقط.

سوال : (۷۹۵) کومه مېرمن چې بدچلنده وي ګواکي مخکې دچاپه نکاح کې پاته شوې وي که دامسجدودان کړي نوددې مال به پاک بلل کیږي اوکه نا پاک ؟ دناپاکوالي دثبوت لپاره دشاهدانواعتبارشته ،که نه ؟ (۵۳۳/ ۱۳۳۸هج)

خواب : کله چې دغه ښځه مخکې دچاپه نکاح کې هم وه اودې په حلا له طریقه هم آمدني ولاس ته کړه نوداګمان کول صحیح نه دی چې دې به دمسجد په ودانۍ کې حرام مال لګولی وي بلکې باید همدغه ګمان وکړوچې دې په حلا ل مال مسجدجوړکړی دی ،ځکه چې مسلمان دالله رب العزت په کورکې حرام مال نه لګوي اودمال نا پاک کېدل په شاهدانونشي ثابتېدای فقط.

دمندر (بتخانې) چنده په مسجد کې لګول

سوال: (۷۹۲) دبوه مندرلپاره خلوښت زره دمیاشتې چنده کیږي له دې څخه لس روپۍ دچنده ورکوونکو په اجازه په مسجد کې صرفېدای شي ،که نه ؟(۱۲۸۵/۱۳۴۰هج)

خواب: دغه روپۍ په مسجد کې لګول صحیح دي.

دمسجدد کوترو قېمت په مسجد کې لګول

سوال: (۷۹۷) دکوترو ګندګي ناپاک دي ،که نه ؟اوپه مسجد کې چې کومې کوترې اوسیږي دهغوئ په خرڅولو قېمت ددوئ په مسجد کې لګول څنګه دی ؟(۸۹۵/۱۳۳۵ه

خواب: دکوترو ګندګي مردارنه دي اودمسجد دکوترو قېمت په مسجد کې لګول صحیح دي فقط.

بېله پخولودمردارد څرمنورانیول ،خرڅول اوددا سي تجارت ګټه په مسجد کې لګول

سوال: (۷۹۸) دمردارد څرمني رانیول ،خرڅول روادي ،که نه ؟اوله داسي تجارت څخه چې کومه ګټه وي دهغې په مسجد یاعیدګاه کې لګول صحیح دي ،که نه ؟۳۲/۱۵۵ـ۱۳۳۳هج)

خواب: دمردارودڅرمني رانیول اوخرڅول بېله دباغته اوپخولوروانه ده باطل ده نوداسي روپۍ په مسجد اوعیدګاه کې لګول صحیح نه دي په حدیث شریف کې راغلي دي ان الله طیب لا یقبل الا الطیب (الحدیث) (۱) فقط.

دبل خښتې بېله اجازې په مسجد کې لګول روانه دي

سوال: (۷۹۹) په ملک پورکې دوه مسجدونه دي اوهلته یوپوخ مشترک سرای وودهغه په نږدودهغه خښتې مسجد والودنورو شرېکانوله خوښې پرته په مسجد کې ولګولې آیا په دې مسجد کې لمونځ روادی ؟(۸۲/۱۳۳۸هج)

خواب: دبل چاخښتې بېله اجازې په مسجد کې لګول روانه دي ترهغوئ چې ومالکانوته ددې بیعه ورنکړله شي یابې هغوئ وبخښي برلګوونکودبندګانودحق مواخذه شته اولمونځ په دې مسجد کې صحیح دی خودغصب شوې مخکې په ځیرلمونځ په مکروه دی ترڅوچې یې قېمت ادانکړي یاهغوئ معافي ونکړي فقط.

ددیارلسم توک پای ته درسېدونېټه: ۱۹ ذی قعده ، ۱۴۳۰ هج

بمورخه ۸نومبر ۲۰۰۹ء یوم الاحد

ستاسو ددعاګانو محتاج مترجم محمد ابراهیم خلیل

اوکمپوزکوونکی سفر محمد عابد

---

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله طیب لا یقبل الا طیبا الحدیث (مشکوة المصابیح ص: ۲۴۱/ کتاب البیوع ،باب الکسب وطلب الحلال)

Maktaba Tul Ishaat.com